روضة الصالحين

پښتو شرح د

رياض الصالحين



شارح
مولانا محمد حسین صدیقي
د احاديثو استاذ جامعه بنوريه سائټ کراچي

د کتاب خصوصيات

- مکمل احاديث
- د راويانو حالات
- احاديثو باندې اعراب
- د احاديثو لفظي ترجمه
- د احاديثو تشريح
- د احاديثو لغوي تحقيق
- د احاديثو فوائد
- د احاديثو نمبر
- د پښتو ژبې درسم الخط لحاظ

پښتو ترجمه
مفتي محمد يعقوب نائل
د دار العلوم حقانيې فاضل او متخصص

جدید مکتبہ رشیدیہ
جادۂ میوند سرچوک کابل 0782690850 | محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور 091-2580074



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

روضة الصالحين

۲

پښتو شرح د

رياض الصالحين

شارح

مولانا محمد حسين صديقي

د احاديثو استاذ جامعه بنوريه سائټ کراچي

پښتو ترجمه

مفتي محمد يعقوب نائل

د دار العلوم حقانيه فاضل او متخصص

د کتاب خصوصيات

- مکمل احاديث
- د راويانو حالات
- احاديثو باندې اعراب
- د احاديثو لفظي ترجمه
- د احاديثو لغوي تحقيق
- د احاديثو تشريح
- د احاديثو فوائد
- د احاديثو نمبر
- د پښتو ژبې د رسم الخط لحاظ

جديد مکتبه رشيديه

جاده ميوند سرچوک کابل | محله جنګي قصه خواني پشاور

0782690850 | 091-2580074

دکتاب نوم: روضة الصالحين پښتو شرح د رياض الصالحين (دويم جلد)

شارح: مولانا محمد حسين صديقي

پښتو ترجمه: مولانا محمد يعقوب نائل

مخونه: ۴۸۰

دچاپ زيار: مولانا سيد محمد پرواني

دچاپ کال: جولائی ۲۰۲۰ء بمطابق ۱۳۹۸

ناشر

جديد مکتبه رشيديه

محله جنگی قصه خوانی پشاور 091-2580074

دکتاب ترلاسه کولو ځايونه

(۱) پشاور	(۷) غزنی	(۱۳) لوګر
(۲) اکوره ختک	(۸) مزارشريف	(۱۴) خوست
(۳) کويته	(۹) جلال آباد	(۱۵) کابل
(۴) فارياب	(۱۰) قندهار	(۱۶) جاده سرچوک
(۵) پروان	(۱۱) بغلان	(۱۷) ګرديز پکتيا
(۶) کندوز	(۱۲) لشکرګاه	(۱۸) هرات

(۱۹) تخار (۲۰) پکتيکا

دمضامينو فهرست

مضمون صفحه

باب النفقة على العيال: ۴۸

باب الإنفاق مما يحب ومن الجيد: ۵۶

باب إكرام أهل بيت رسول الله ﷺ وبيان فضلهم: ۱۱۲

باب توقير العلماء والكبار وأهل الفضل: ۱۱۶

باب زيارة أهل الخير ومجالستهم وصحبته ومحبتهم: ۱۲۷

باب الرجاء: ۱۸۴

باب فضل الرجاء: ۲۱۷

باب الجمع بين الخوف والرجاء: ۲۲۱

باب فضل البكاء من خشية الله تعالى وشوقاً إليه: ۲۲۵

باب النهي عن البخل والشح: ۳۴۲

باب الورع وترك الشبهات: ۳۷۳

باب فضل الإختلاط بالناس وحضور جُمَعِهِم وجماعاتهم، ومشاهد الخير: ۳۸۶

باب التواضع وخفض الجناح للمؤمنين: ۳۸۸

باب تحريم الكبر والإعجاب: ۳۹۷

باب العفو والإعراض عن الجاهلين: ۴۲۲

باب احتمال الأذى: ۴۲۷

باب حفظ السّر: ۴۵۹

باب الوفاء بالعهد وإنجاز الوعد: ۴۶۴

باب المحافظة علی ما اعتاده من الخير: ۴۶۸

باب الوصية بالنساء

د ښځو سره ښه سلوک کوئ!

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ" د خپلو ښځو سره په ښکلي او ښکه طريقه ژوند تېروئ! [النساء:۹]

تشريح: په دې آيت کې ښځو او خاوندانو ته خاص خطاب دى، ځکه چې ډېر ځله خاوند خپله ښځه نه خوښوي چې د زوجيت حقوق ادا کړي او نه يې پرېږدي چې طلاق ورکړي، مطلب دا چې که ښځه دې خوښه نه وي، طبيعت دې ورسره نه چلېږي، نو اوس په دې بې چاره ظلم مه کوئ! که ګوزاره کېدى شي ګزاره وکړئ! کنه نو طلاق ورکړئ چې د بل چا سره نکاح وکړي او خپل ژوند په سکون سره تېر کړي

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ" او تاسو به هيڅکله انصاف ونه کړئ د خپلو ښځو په مينځ کې، اګر که ډېر حريصان هم شئ. "فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ" بس يو طرفته دومره مه مائل کېږئ چې هغه بله معلقه؛ زوړنده پاتې شي. "وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا" او که تاسو موافقت او اصلاح کوئ او د الله ﷻ نه وېرېږئ؛ نو بې شکه چې الله ﷻ معافي کوونکي او رحم کوونکى ذات دى. [النساء:۲۹]

تشريح: "أن تعدلوا بين النساء" مطلب دا چې که د کوم کس په نکاح کې د يو نه زياتې ښځې وي، په هغه باندې د دې ښځو په باره کې عدل، مساوات او انصاف فرض دى، که وېرېږي چې زه به انصاف ونه کړى شم؛ نو بيا هغه ته د يو نه زياتې نکاح کول جائز نه دي، لکه په قرآن کريم کې چې ارشاد دى "فإن خفتم أن لاتعدلوا فواحدة" چې که هغه ته خطر وي چې انصاف به ونه کړى شم؛ نو په يوه نکاح اکتفاء پکار ده، فقهاء فرمايي چې د برابري او مساوات نه ظاهري مساوات او برابري مراد ده، مثلاً شپه تېرول، د ژوند تېرولو طريقه، نفقه وغيره، پاتې شو د زړه تعلق، نو په دې کې برابري شرط نه دى، ځکه چې دا د انسان په وس کې نه ده، لکه څرنګه چې په يو حديث کې دي: "اللهم هذا قسمي فيما أملك فلاتلمني فيما تملك ولا أملك" يا الله! دا تقسيم او برابري هغه دى چې زما په طاقت کې دى، نو کوم شى چې زما په اختيار کې نشته او زما د (وس او طاقت) نه خارج وي، ستاسو په اختيار کې وي، لکه د زړه ميلان نو په دې زما مؤاخذه مه کوئ!

"فلا تميلوا كل الميل فتذروها كالمعلقة" تاسو پوره يوې ښځې ته ميلان مه کوئ چې يوه ښځه خپله کړئ او بله زوړنده پرېږدئ! نه يې خپلوئ او نه يې پرېږدئ، په ظاهري اعتبار سره يو طرفته ميلان حرام دى، هغه چې ستا په وس کې وي، په داسې شيانو کې مساوات او برابري فرض دى، په دې وجه په يو حديث کې ارشاد دى چې د کوم کس دوه ښځې وي او په دې کې مساوات او برابري نه کوئ، بلکې يوې ښځې ته پوره ميلان کوئ، نو د قيامت په ورځ به په دې حالت کې راپورته شي چې د هغه يو طرف به وچ پوچ؛ فلج وي

ښځه د چپې پوښتۍ پيدا ده:

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْراً" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د ښځو سره ښه رويه کوئ؛ "فَإِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ" ځکه چې ښځه د پوښتۍ څخه پيدا شوې ده، "وَإِنَّ أَعْوَجَ مَا فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ" او په پوښتيو کې پورتنۍ پوښتۍ ډېره کږه ده، "فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ" که ته غواړې چې هغه سيده کړې، نو ماته به يې کړې، "وَإِنْ تَرَكْتَهُ، لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ، فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ" که هغه پرېږدې نو هغه به همېش کږه وي، ښځو ته د نېکۍ وصيت وکړئ؛ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية في الصحيحين: الْمَرْأَةُ كَالضِّلَعِ إِنْ أَقَمْتَهَا كَسَرْتَهَا" او د صحيحينو په روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ښځه په شان د پوښتۍ ده، که سيده کول يې وغواړې؛ نو ماته به شي، "وَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا، اسْتَمْتَعْتَ وَفِيهَا عِوَجٌ" او که ته د هغې نه فايده اخيستل غواړې، نو فايده به ترې واخلې؛ خو په داسې حال کې چې هغه به کږه وي.

"وفي رواية لمسلم: إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ، لَنْ تَسْتَقِيمَ لَكَ عَلَى طَرِيقَةٍ" او د مسلم په روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ښځه د پوښتۍ څخه پيدا شوې ده، هغه تاته په يوه طريقه هم نه سيده کېږي، "فَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيهَا عِوَجٌ" که فايده ترې اخيستل غواړې؛ نو په داسې حال کې ترې فايده اخله چې هغه به کږه وي، "وَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهَا كَسَرْتَهَا، وَكَسْرُهَا طَلَاقُهَا" او که ته هغه سيده کول غواړې؛ نو ماته به يې کړې او د هغې ماتول طلاق دی.

"قوله: عَوَجٌ: هُوَ بِفَتْحِ الْعَيْنِ وَالْوَاوِ" عوج په فتحې د عين او واو سره دی.

لغوي تحقيق:

استوصوا: امر دی، باب يې استفعال دی، وصيت کول

اقمتها: "أقامه إقامةً" ددې معنی ده: درېدل، پاتې کېدل.

تشريح استوصوا بالنساء خيراً: د ښځو سره ښه سلوک کوئ؛ ددې دوه مطلبه کېدلې شي: (۱). د ښځو په بابت زما وصيتونه قبول کړئ او په دې باندې عمل وکړئ؛ (۲) تاسو ځينې د ښځو سره د ښکلي سلوک بابت وصيت طلب کړئ؛ بهرحال دواړو حالاتو کې مطلب دا دی چې ښځې فطري طور کمزورې وي کم عقل، او کج فطرت، په دې وجه د عفوا و درگزر معامله ورسره کوئ!

ښځه د چپه پښتۍ څخه پيدا ده، دا فطري امر دی:

"فإن المرأة خلقت من ضلع" بې شکه ښځه د پوښتۍ نه پيدا شوې ده، ځينې علماء ددې مطلب دا بيانوي چې حواء عَلَيْهَا السَّلَامُ د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د چپه پوښتۍ څخه پيدا وه، ځينې نور علماء وايي: د نبي کريم ﷺ په دې ارشاد کې يوې حکيمانه تشبيه ته اشاره ده چې د ښځې مثال د پوښتۍ دی، چې په ظاهري نظر خو کږه ليدل کېږي، خو په حسن او صحت کې د پوښتۍ لپاره دغه کوږوالی غوره او بهتر دی.

"فإن ذهبت تقيمها كسرتها" كه ته غواړې چې هغه سيده كړې، نو ماته به يې كړې، دغه شان د ښځې حالت هم دى، ځينې دا خيال كوي چې په دې كې د ښځې مذمت بيان شوى دى. ليكن حقيقت دا دى چې دا كوږوالى د ښځې يوه فطري تقاضا ده، ځكه هغه هم په دې فطري تقاضو باندې پرېږده؛ هغه به سيده كوه چې ته يې د خپل طبيعت موافق د جوړېدو كوشش كوې

ښځې د غلامانو په څېر مه وهئ!

"وعن عبدالله بن زمعة ﷺ: أنه سمع النبي ﷺ يخطب" د عبد الله بن زمعه ﷺ روايت دى، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې خطبه يې ويل "وذكر الناقة والذي عقرها" هغه د صالح ﷺ د اوښې او د هغه كس ذكر وكړو چې اوښه يې زخمي كړې وه، "فقال رسول الله ﷺ: إذ انبعث أشقاها، انبعث لها رجل عزيز" او د ﴿إِذِ انبَعَثَ﴾ آيت تفسير يې وفرمايلو، كله چې دغې اوښې ته داسې كس ورغلو چې زيات بد معاش و. "عارم منيع في رهطه" كوم چې د خپلوى په حمايت ځان مضبوط كړى و. "ثم ذكر النساء، فوعظ فيهن" بيا نبي اكرم ﷺ د ښځو په باره كې نصيحت وكړو. "فقال: يعمد أحدكم فيجلد امرأته جلد العبد" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: ولې په تاسو كې يو كس خپله ښځه وهي، لكه څنګه چې غلام وهلى شي؟ "فلعله يضاجعها من آخر يومه" بيا كېدى شي چې په همدغه شپه ورسره كورولى وكړي، (يعني په بې رحمى سره د ښځې وهل پكار نه دي، ځكه چې ستا زړه د دوى سره ارامېږي، "ثم وعظهم في ضحكهم من الضرطة" بيا نبي اكرم ﷺ د آواز والا هوا د وتلو په وجه د خندا په باره كې وفرمايل "وقال: لم يضحك أحدكم مما يفعل؟" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: انسان په داسې كار پورې ولې خاندي چې خپله يې كوي؟ متفق عليه.

"والعارم: بالعين المهملة والراء: هو الشرير المفسد" عارم: شرپسند او فسادي سړي ته وايي، "وقوله: انبعث: أي قام بسرعة" هغه په تېزۍ سره اوچت شو.

لغوي تحقيق:

انبعث: د دې معنى ده تېزول، برانګېخته كول

الضرطة: "ضرط ضرطاً" باب ضرب يضرب دى، د دې معنى ده: هغه هوا چې آواز ورسره وي

عارم: باب نصر ينصر او ضرب يضرب دواړو څخه راځي، معنى يې ده: بد اخلاقه كېدل

تشريح "يعمد أحدكم فيجلد امرأته جلد العبد" تاسو خپلې مېرمنې داسې وهئ لكه څرنګه چې غلام وهلى شي، مطلب دا چې داسې مه كوئ" په دې جمله كې يوې نفسياتي مسئلې ته اشاره ده، هغه دا چې كوم سړى د خپلې مېرمنې نه جنسي خوند حاصلوي؛ نو هغه ته دا مناسب نه دي چې خپله مېرمن داسې ووهي لكه څنګه چې غلامان وهلى شي، شريعت د داسې حركت نه په سختۍ سره منع فرمايلې ده، بلكې حكم كوي چې په ښه خندا او خوشحالۍ سره وخت تېر كړئ.

د يو شيخ عجيبه واقعه:

"لم يضحك أحدكم مما يفعل؟" تاسو ولې په هغه کار پورې رشخند وهئ چې په تاسو کې خپله موجود دي، ملا علي قاري رحمه الله ددې روايت لاندې يوه عجيبه واقعه ليکل شوې ده. د حاتم په نوم يو محدث تېر شوی دی، هغه ته يوه ښځه د مسئلې د پوښتنې لپاره راغله، دغه وخت د هغې ښځې نه باد ووتلو. ښځه ډېره شرمنده شوه، عالم پرې پوه شو، خو هيڅ يې ونه ويل، بلکې ځان يې ورته کوڼ کړو، پوښتنه يې وکړه: اې ښځې! خبره تېزه کوه، زه ستا غږ نه اورم، هغه ښځه مطمئنه شوه چې دا کوڼ دی، اواز نه اوري، وروسته شيخ حاتم رحمه الله فکر وکړو چې که دغې ښځې ته معلومات وشو چې زه کوڼ نه يم؛ نو څومره افسوس به کوي، په دې وجه هغه د ځان نه د تل لپاره کوڼ جوړ کړو.

علامه طيبي رحمه الله فرمايي: سړی بايد فکر وکړي چې کله هم په چا کې کوم عيب ووينې: نو په خپل ګريوان کې دې سوچ وکړي چې زه هم ددې عيب نه پاک نه يم، نو په بل چا پورې ولې وخاندم

د راوي عبد الله بن زمعه رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عبد الله رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې زمعه دی، د مور نوم يې قريبه ده چې د ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها خور وه، د قريشو مشرې کورنۍ سره يې تعلق درلود، پلار يې زمعه د بدر په جنګ کې د مشرکانو له خوا مړ شو، عبد الله رضي الله عنه د مکې د فتحې نه لږ وړاندې مسلمان شو، د ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها د خور زوی ؤ، په دې وجه به د رسول الله ﷺ سره ډېر کېنستلو.

وفات په ۳۵ هجري کې د يزيدي حکومت په جنګ جمل کې وفات شو.

مرويات د احاديثو په کتابو کې يې صرف دغه يو حديث موندل کيږي، په دې باندې د بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله اتفاق دی.

که په چا کې بد عادتونه وي: نو ښه خصلت به هم پکې وي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ مومن دې د خپلې مومنې ښځې څخه کرکه نه کوي، "إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ" که د خپلې ښځې نه يوه خبره خوښه نه کړي، نو بله خبره به يې خوښه رشي. "أَوْ قَالَ: غَيْرَهُ" راوي وايي: او يا يې ددې په شان بله داسې کلمه وويل. رواه مسلم

"وقوله: يَفْرَكْ: هُوَ بفتح الياء وإسكان الفاء وفتح الراء ومعناه: يُبْغِضُ" دا قول چې "يفرك" په فتحې د (ي) او په سکون د (ف) سره دی او په فتح د (ر) سره دی، ددې معنی ده: بغض او حسد کول. "يقال: فَرِكَتِ المرأةُ زَوْجَهَا، وفَرِكَهَا زَوْجُهَا، بكسر الراء يفرَكُها بفتحها: أَيْ أَبْغَضَهَا، والله أعلم" لکه ويل کيږي؟ چې ښځې د سړي سره دښمني وکړه او سړي د ښځې سره دښمني وکړه، يعنې بغض او کينه يې ورسره شروع کړه، نور الله جل جلاله ښه پوهيږي

لغوي تحقيق:

لايفرك: فرك فركاًباب سمع يسمع دی، ددې معنی ده بغض او عنادساتل. دا جمله د ښځې او خاوند ترمينځ بغض عنادساتلو پاره استعماليږي

په حديث کې يوه حکيمانه نکته:

تشريح "ان کره منهاخلقاًرضي منهاآخر" په حديث کې يوه ډېره ښکلې عجيبه نکته بيانيږي هغه دا چې که په يو کس کې يو طرفته يوه خامي او بد عادت وي، نو بل طرفته به پکې څه نا څه خوبي او ښه عادت هم وي، خاوند ته نصيحت دی چې که په ښځه کې کوم کمی محسوس شي؛ نو بايد هغه نظر انداز کړی شي او د هغې په ښه والي نظر واچول شي، که ددې حکيمانه نکتې نظر خيال وساتل شي؛ نو فکر نه کوم چې بيا به په کوم کور او کلي کې جګړې او فسادونه جوړ شي، ملا علي قاري رحمه الله يوه ډېره د خوند خبره ليکلې: هر هغه څوک چې د خپل ذوق او مزاج موافق ملګری ځانته ګوري؛ نو دی به دا سې هيڅکله پيدا نه کړی شي، غلی به ځانته ناست وي، ملګری به ورسره نه وي، د حديث څخه معلوميږي چې که يو طرفته په انسان کې خامي وي؛ نو بل طرفته به خامخا پکې کمال وي، ترغيب ورکول شوی چې انسان بايد په کمال باندې نظر وساتي او بدو اخلاقو ته زيات ونه ګوري

د ښځو سره ښه کوئ!

"وعن عمرو بن الأحوص الجشمي رضي الله عنه: أنه سمع النبي ﷺ في حجة الوداع يقول بعد أن حمد الله تعالى، وأثنى عليه وذكّر ووعظ" د عمرو بن احوص جشمي رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي رسول الله ﷺ د حجة الوداع په موقع: الله جل جلاله د حمد او ثناء وروسته وعظ او نصيحت کې وفرمايل: "ثُمَّ قَالَ: أَلَا وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْراً" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل خبردار! د ښځو په باره کې ښه رويه کوئ "فَإِنَّمَا هُنَّ عَوَانٍ عِنْدَكُمْ لَيْسَ تَمْلِكُونَ مِنْهُنَّ شَيْئاً" دا ښځې ستاسو په قيد کې دي او تاسو يې مالکان نه يئ، "غَيْرَ ذَلِكَ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ" مګر دا چې هغوی په ښکاره بد کاري وکړي، "فَإِنْ فَعَلْنَ فَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ" که چېرته په دوی کې تاسو د عزت خلاف کوم کار وليدو؛ نو د سزا په توګه د هغوی نه خپلې بسترې لرې کړئ! "وَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْباً غَيْرَ مُبَرِّحٍ" او لږه لږه يې وهلی هم شئ، "فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً" که دوی ستاسو خبره ومنل، نو بيا د وهلو او تکولو لپاره لار مه ګورئ! "أَلَا إِنَّ لَكُمْ عَلَى نِسَائِكُمْ حَقّاً، وَلِنِسَائِكُمْ عَلَيْكُمْ حَقّاً" خبردار! ستاسو هم په ښځو حقونه شته او د ښځو هم په تاسو حقونه شته، "فَحَقُّكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ مَنْ تَكْرَهُونَ" په ښځو باندې ستاسو حق دا دی چې د کومو کسانو سره ستاسو نه لګيږي، هغوی سره به تعلق نه ساتي، ستاسو بسترو ته دې هغوی نږدې نه راپرېږدي، "وَلَا يَأْذَنَّ فِي بُيُوتِكُمْ لِمَنْ تَكْرَهُونَ" بل دا چې ستاسو کورته به هغه کس هم نه داخليږي چې په تاسو بد لګيږي، "أَلَا وَحَقُّهُنَّ عَلَيْكُمْ أَنْ تُحْسِنُوا إِلَيْهِنَّ فِي كِسْوَتِهِنَّ وَطَعَامِهِنَّ" خبردار! د هغوی حق په تاسو دا دی چې تاسو هغوی ته ښکلې جامې واغوندئ، او ښکلی خوراک ورته راوړئ! "رواه الترمذي وقال: حديث حسن صحيح" دا حديث ترمذي روايت کړی دی او ويلې يې دي چې دا حديث حسن

صحيح دی، "قوله ﷺ: عوان: أيْ: أسِيرَاتٌ جَمْعُ عَانِيَة، بِالْعَيْنِ الْمُهْمَلَةِ، وَهِيَ الأَسِيرَةُ" دا قول چې عوان معنی يې ده: بندي سرى، عانية: بندي ښځه، "والعاني: الأسير" او عاني بندی سړی، "شَبَّهَ رسولُ الله ﷺ المرأةَ في دخولها تَحْتَ حُكْمِ الزَّوْجِ بالأسيرِ" نبي اکرم ﷺ ښځه د بندي سره مشابه کړه، ځکه چې هغه د خاوند د حکم لاندې ده. "وَالضَّرْبُ المبَرِّحُ: هُوَ الشَّاقُ الشَّدِيدُ" د "الضرب المبرح" معنی: سخته سزا ورکول. "وقوله ﷺ: فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً: أيْ: لَا تَطْلُبُوا طَرِيقاً تَحْتَجُّونَ بِهِ عَلَيْهِنَّ وَتُؤْذُونَهُنَّ بِهِ، والله أعلم" د (فلا تبغوا عليهن سبيلا) معنی دا ده: چې د وهلو لپاره بهانې مه لټوئ چې هغوی ته تاسو تکليف رسوئ، نور الله ﷻ ښه پوهيږي.

لغوي تحقيق:

لايوطئ: باب افعال دی، ددې معنی ده: پايمالول، تر پښو لاندې کول

عوان: جمع د عانية ده ددې معنی ده قيدي، بندي

تشريح "واضربوهن ضرباً غيرمبرح" داسې ډېمه وهئ چې د هغې په بدن نخښه ښکاره شي يا يې هډوکي مات شي، اګر چې شريعت د ضرورت ما تحت د ښځو وهلو اجازه ورکړې ده، ليکن په قرآن او حديثو کې يو حکيمانه نصيحت دی چې تر ټولو اول هغې ته بايد وعظ وکړی شي، که په دې هم کار ونه شي، نو په دويم ځل "فاهجروهن في المضاجع" باندې بايد عمل وشي چې د هغې سره ځملاستل پرېږده، که په دې هم کار ونه شي؛ نو په دريم ځل: "واضربوهن" بيا يې ووهئ، ليکن وهل هم په اعتدال سره ورکړئ

په ښځو د خپل عصمت او د خاوند د مال حفاظت ضروري ده:

"لايوطئن فرشكم من تكرهون" ستاسو بسترې ته دې هغه کسان نه پرېږدي چې تاسو يې نه خوښوئ، مطلب دا چې د خاوند په عدم موجودګئ کې به د خپل عصمت او د خاوند د مال حفاظت کوي، کور ته به داسې کسان نه پرېږدي چې خاوند يې نه خوښوي، اګر چې هغه يې خپلوان ولې نه وي

د راوي عمرو بن احوص رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عمرو رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې احوص دی، د کلاب قبيلې سره يې تعلق درلود، ځکه هغه ته کلابي هم ويل کيږي، دا قبيله جشمي ته منسوب ده، علامه ابن الاثير رحمه الله فرمايي: ماته پته نشته چې کلاب قبيله څنګه جشمي ته منسوب شوې ده، ځکه چې ددې دواړو ترمنځ هيڅ تعلق نشته

مرويات دوه حديثونه ترې روايت شوي دي

په خاوند باندې د ښځې څه حق دی؟

"وعن معاوية بن حيدة رضي الله عنه، قَالَ: قُلْتُ: يَارَسُولَ الله، مَا حَقُّ زَوجَةِ أحَدِنَا عَلَيهِ؟" د معاويه بن حيدة رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې ما وويل: يا رسول الله ﷺ: په سړو باندې د ښځې څه حقونه دي؟ "قَالَ: أنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَتَكْسُوهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ته چې کوم خوراک کوې، هغه خوراک دوی ته ورکړې، (يعنې داسې نه چې ته خپله ښه خوراک کوې او هغې ته بېکاره خوراک ورکوې، او کومې جامې چې ته

اغوندې هغې ته يې هم ورکوه؛ يعنې که د ګران قيمت جامې وي او که ارزانه وي، هغې ته يې هم ورکوه، "وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلَا تُقَبِّحْ" هغه په مخ مه وهه او هغې ته کنځلې مه کوه؛ "وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ" او جدا کوه يې مه مګر د کور دننه؛ (که ضرورت راشي، نو د خپلې بسترې نه يې جدا کړه؛ "حديثٌ حسنٌ رواه أبو داود وقال: معنى: لَا تُقَبِّحْ: أي: لا تقل: قبحكِ الله" دا حديث حسن دی. امام ابوداود روايت کړی دی او ويلي يې دي چې د لاتقبح معنی دا ده: داسې مه وايه چې الله ﷻ دې مخ بد رنګ کړه؛

لغوي تحقيق:

لاتقبح: "قبح قبحاً وقبوحاً" باب فتح يفتح دی. "قبح الله عن الخير" د دې معنی ده: الله ﷻ دې يې د خير نه محرومه کړي، د چا بدې بيانول

تشريح "حق زوجه" د خاوند حق دا دی چې د هغه کوم وس وي، د هغې مطابق خوراک او څښاک به ښځې ته ورکوي، دغه شان د ژوند ضروري شيان به هم ورته راوړي. "لاتضرب الوجه" په مخ يې مه وهه د نافرمانه ښځې د سمولو لپاره شريعت خاوند ته اجازه ورکړې ده. ليکن په دې کې يې د اعتدال توصيه هم کړې ده. په مخ يې د وهلو څخه منع فرمايلې ده. ځکه چې مخ اشرف الاعضاء دی

په څلورو ځايونو کې ښځه وهل جائز دي:

په فتاوی قاضي خان کې دي چې شريعت په څلورو ځايونو کې د ښځې وهلو اجازه ورکړې ده: (۱) که د خاوند د مرضۍ سره سم ښځه سنګار نه کوي، نو خاوند يې وهلی شي، (۲) په فرضي احکامو کې کوتاهي کول، مثلاً لمونځ او روژه نه ادا کوي؛ نو وهل يې جائز دي، (۳) د خاوند بې اجازې له کوره وځي، په داسې وخت کې يې هم وهل جائز دي، (۴) خاوند يې کوروالي ته وغواړي او هغه انکار وکړي؛ نو په داسې وخت کې يې هم وهل جائز دي

کور به نه پرېږدي:

"ولاتهجروا الافي البيت" ښځې به نه پرېږدې؛ مګر په کور کې، مطلب دا چې که ښځو ته د جداوالي تنبيه ورکول مقصود وي، نو يا خو دې بستره ترې جدا کړي، يا دې د کوټې نه بهر چېرته څملي. خو داسې دې نه کوي چې کور ورته پرېږدي

د راوي معاويه بن حيده رحمة الله عليه حالات:

اصل نوم يې معاويه رضي الله عنه دی، د بصرې اوسېدونکی وو، بيا خراسان ته منتقل شو. زيات وخت د هغه څخه يې زوی حکيم بن معاويه روايتونه نقل کوي، د وفات تاريخ او مرويات يې معلوم نه دي

په تاسو کې غوره کس هغه دی چې خپلو مېرمنو ته ښه وي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَاناً أَحْسَنُهُمْ خُلُقاً" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کامل مؤمنان هغه دي چې اخلاق يې ښکلي وي. "وَخِيَارُكُمْ

خيارکم لنسائهم" په تاسو کې غوره سړي هغه دي چې د خپلو ښځو سره ښه سلوك کوي. " رواه الترمذي، وَقَالَ: حديث حسن صحيح " دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او فرمايي چې دا حديث حسن او صحيح دی

لغوي تحقيق:

خيارکم: د "خير" جمع ده، ددې معنى ده: د يو شي فضيلت په بل باندې ورکول

کامل مؤمن:

تشريح: اکمل المؤمنين ايماناً: په تاسو کې غوره او کامل ايمان والا هغه کس دی د چاچې اخلاق ښه وي، ځکه چې د چا اخلاق ښکلي شي نو داسې کس د نورو خلکو سره هم په ښکلي اخلاقو ملاقات ونه کوي ،لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ د کامل ايمان والا وو نو اخلاق يې هم ښکلي وو ،ددې خبرې ګواهي په قرآن کريم کې الله ﷻ څه په دې شکل ورکړېده: وانك لعلى خلق عظيم: او بې شکه چې ستاسو اخلاق ډېر ښکلي دي په دې بنياد ښځې کمزورې او ضعيفې وي هغوی د شفقت او مهرباني زياتې مستحقې دي په دې وجه انسان ته پکار دي چې د خپل کورو الاؤ سره په شفقت او احسان معامله وکړي.

د ښځو وهلو ممانعت

"وعن إياس بن عبد الله بن أبي ذُباب رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ: لَا تَضْرِبُوا إِمَاءَ الله" د اياس بن عبد الله بن ابي ذباب رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. د الله ﷻ بندګانې مه وهئ: "فَجَاءَ عُمَرُ رضي الله عنه إِلَى رسولِ الله ﷺ، فَقَالَ: ذَئِرْنَ النِّسَاءُ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ" عمر رضي الله عنه نبي اکرم ﷺ ته راغلو او وې فرمايل يا رسول الله ﷺ ښځې په خپلو سړو باندې زياتې زړورې شوي دي، "فَرَخَّصَ فِي ضَرْبِهِنَّ" بيا نبي اکرم ﷺ د ښځو په وهلو کې رخصتي ورکړه، "فَأَطَافَ بِآلِ رَسُولِ الله ﷺ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ" د نبي اکرم ﷺ کورو الا مېرمنو ته ډېرې ښځې راغلې چې د خپلو خاوندانو شکايت يې کولو، "فَقَالَ رَسُولُ الله ﷺ: لَقَدْ أَطَافَ بِآلِ بَيتِ مُحَمَّدٍ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل په تحقيق سره د محمد ﷺ اهل بيت ته ډېرې زياتې ښځې راغلې چې د خپلو خاوندانو څخه يې شکايت کولو، "لَيْسَ أُولَئِكَ بِخِيَارِكُمْ" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل دا غوره خلك نه دي. رواه أبوداود بإسناد صحيح.

"قوله: ذَئِرْنَ: هُوَ بِذَالٍ مُعْجَمَةٍ مَفْتُوحَةٍ، ثُمَّ هَمزَةٍ مَكْسُورَةٍ، ثُمَّ رَاءٍ سَاكِنَةٍ، ثُمَّ نُونٍ، أي: اجْتَرَأْنَ" دا قول چې "ذئرن" دی، نو دا په ذال معجمه فتحې سره دی، بيا همزه مکسوره ده، بيا "را" ساکنه ده، بيا "نون" دی، معنى يې ده: زړور کېدل، "قوله: أَطَافَ: أي: أَحَاطَ" او دا قول چې اطاف معنى يې ده احاطه يې وکړه يعنې راغلې

لغوي تحقيق:

ذئرن: "ذئر" باب سمع يسمع دی، ددې معنى ده غوسه کېدل، وېرېدل، نفرت کول، غوسه کېدل

تشريح "لاتضربوا إماء الله" د الله ﷻ وينزې مه وهئ، اګر چې هغوى تاسو ته لږ تکليف درکوي او د طبيعت خلاف کار مو وکړي، ځکه چې په تاسو کې غوره سړى هغه دى چې د خپلو مېرمنو لپاره ښه وي، ليکن ددې سره سره د ادب په توګه شريعت د وهلو اجازه ورکړې ده.

د ايت او حديث ترمينځ تطبيق:

يشكون ازواجهن: د خپلو خاوندانو شکايت يې کولو.

سوال: په قرآن کې هم دي: "واضربوهن" يعنې د قرآن کريم نه د وهلو اجازه معلومېږي، ليکن په حديث کې مطلقاً د وهلو منع معلومېږي، ددې څه تطبيق څه دى؟

جواب: ددې تطبيق داسې کېدلى شي چې: د قرآن کريم د آيت نازلېدو نه وړاندې رسول الله ﷺ مطلقاً د ښځو وهلو نه منع فرمايلې وه، نتيجه يې دا شوه چې خو ورځې وروسته ښځې په خپلو خاوندانو باندې جراتمندې شوې، بيا رسول الله ﷺ د وهلو اجازه ورکړه، په تائيد کې د قرآن کريم آيت نازل شو، ليکن بيا چې کله د ښځو له طرفه د خاوندانو د وهلو شکايتونه شروع شول، بيا رسول الله ﷺ اخرينى حکم دا جاري کړو چې وهل د ضرورت مطابق مباح دي، خو که صبر او تحمل وشي، نو دا به ښه وي، ځکه چې هغوى هم انسانان دي.

د راوي اياس بن عبد الله بن ابي ذباب رضي الله عنه حالات:

د دوس قبيلې اياس سره يې تعلق درلود، ځينو د مزينه قبيلې ته منسوب کړى دى، ليکن اکثرو عالمانو دوس قبيلې ته ترجيح ورکړې ده، د مکې اوسېدونکى ؤ، ابن منده او ابو نعيم په خپل مينځ کې اختلاف کړى دى چې هغه ته د رسول الله ﷺ سره د صحابيت شرافت حاصل دى او که نه؟ د ځينو په نزد حاصل دى او ځينې يې نفي کوي، صرف يو روايت ترې نقل دى.

ښه مېرمن غوره متاع ده

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أنَّ رَسُولَ الله ﷺ قَالَ: الدُّنْيَا مَتَاعٌ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ټوله دنيا د ګټې او فايدې شى دى "وَخَيْرُ مَتَاعِهَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ" بيا په ټوله دنيا کې د فايدې غوره شى نېکه او صالحه مېرمن ده. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

متاع: هر هغه فاني شى چې د لږ وخت لپاره ترې فايده حاصله شي او بيا فنا شي.

تشريح "خير متاعها المرأة الصالحة" د دنيا په ټولو شيانو کې غوره شى نېکه مېرمن ده.

د دنيا په ټولو شيانو کې د کومو نه چې فايده حاصلولى شي، په دې کې ښه شى نېکه مېرمن ده، مطلب دا چې چې که يو طرفته پاکه مېرمن د دنيا په کارونو کې مرسته درسره کوي، دغه شان د آخرت په کارونو کې هم درته مرسته کوي.

باب حق الزوج عَلَى المرأة

په مېرمن باندې د خاوند حق

"قَالَ اللّـٰه تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ" سړي مشران او ذمه وار دي په ښځو باندي. "بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ" په دې وجه چې الله ﷻ بعضو ته په بعضو نورو باندې فضيلت ورکړی دی. "وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ" او په دې سبب چې دوی په خپلو ښځو باندې خپل مالونه خرچ کوي. "فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ" بس صالحې او ديندارہ ښځې او تابعداره ښځې. "حَافِظَاتٌ لِلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ" او د الله ﷻ په حفاظت سره د خاوند په غير موجودگۍ کې د هغه د شيانو او د فايدو خيال وساتي [النساء:۳۴].

تشريح: "الرجال قوامون على النساء" سړي په ښځو باندې حاکمان دي، ځکه چې د نظام چلولو لپاره حاکم او امير ته ضرورت وي، د ملکي نظام لپاره پاچا ته ضرورت دی، دغه شان د کورني نظام لپاره هم يو پاچا او حاکم ته ضرورت دی، ددې چې نظام صحيح وچلېږي، د کور نظام به هغه وخت صحيح چلېږي چې سړي حاکمان وي، بيا الله ﷻ حکم وکړو چې: "عن تراض منهما وتشاور" د کورني نظام چلولو لپاره ځان ښودنه پکار نه ده، بلکې د خپلې مېرمنې سره صلاح او مشوره پکار ده.

"بما فضل الله به بعضهم على بعض" په دې بنياد چې الله ﷻ ځينو ته په ځينو نورو فضيلت ورکړی دی، سړي به ولې حاکمان وي، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې په زياتو سړو کې الله تعالى کامل عقل، ښايسته تدبير، پراخ علم ايښې وي.

"وبما أنفقوا من أموالهم" دوی چې خپل مالونه په خپلو مېرمنو خرچ کوي، په دې بنياد سړي په خپلو مېرمنو حاکمان دي چې دوی خپل مالونه په خپلو مېرمنو خرچ کوي، نفقه، خرچه او مهر وغيره ورکوي، "فالصالحات قانتات" د نېکو مېرمنو يو څو صفتونه بيانېږي: اول دا چې دوی به نېکې وي، "قانتات" الله ﷻ چې د سړو په مېرمنو باندې کوم حقونه عائد کړي دي هغه حقونه دغه مېرمنې په صحيح توگه ادا کوي، "حافظات" ددې نه مراد دا دی چې خپل عصمت، عفت، عزت د خاوند د مال او اولاد خيال ساتي، ددې حفاظت کوي، "للغيب" که خاوند په کور کې نه وي، بيا هم د خپل خاوند رازونه او پټې خبرې، هغه مالونه چې د خلکو له سترگو بې پټ ساتل پکار دي، ددې حفاظت کوي، "بما حفظ الله" الله ﷻ ددې ښځو مرسته کوي، کنه نو نفس او شيطان هر وخت ورته په دې انتظار وي چې کله به يې دوکه کړو

"وأما الأحاديث فمنها حديث عمرو بن الأحوص السابق في الباب قبله".

د خاوند په خپه کېدو پرښتې هم ورباندې لعنت وايي

"وعَن أبي هريرة ؓ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّـٰه ﷺ: إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَلَمْ تَأْتِهِ" د ابو هريره ؓ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې خاوند خپله ښځه کټ ته وغواړي او هغه را نشي، "فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا، لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ" خاوند ترې خفه ويده شي، پرښتې به په دې ښځه لعنت

راليږي تر څو چې سهار شوی نه وي. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

"وفي رواية لهما: إِذَا بَاتَتِ الْمَرْأَةُ هَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا" په بل روايت کې داسې دي: کله چې يوه ښځه خاوند بستره پرېږدي او شپه تېره کړي، "لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ" پرښتې به تر سهاره په دغه ښځه لعنت وايي.

"وفي رواية قَالَ رَسُولُ اللّٰه ﷺ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَتَأْبَى عَلَيْهِ" په بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم دی په هغه ذات چې زما ساه د هغه په لاس کې ده، داسې کس نشته چې خپله ښځه خپلې بسترې ته راوغواړي او ښځه يې انکار وکړي، "إِلَّا كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ سَاخِطاً عَلَيْهَا" مګر هغه ذات چې د آسمانونو دپاسه دی، هغه به ترې ناراضه وي، "حَتَّى يَرْضَى عَنْهَا" تر هغه پورې چې خاوند يې راضي کړی نه وي.

لغوي تحقيق:

لعنتها: "لعن لعناً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: د الله ﷻ د رحمت نه لرې کېدل، د نېکۍ نه لرې کېدل، ديکه ورکول.

د حيض حالت هم عذر نه دی:

تشريح: "فلم تأته" د خاوند په بلنه رانشي، که ددې کوم شرعي عذر نه وي؛ نو بيا خاته خبره ده، ليکن د خاوند په راتللو سره به راخي، ددې حديث په شرحه کې علماء فرمايي چې: د حيض حالت هم عذر نه دی، ځکه چې په دې صورت کې اګر چې جماع نشي کېدلی، مګر د جماع لوازم (چې مچو يا بدن د بدن سره مږل دي) خو کولی شي، خو کولی شي، په داسې حالت کې د شرمګاه نه علاوه د باقي جسم څخه فايده حاصلولی شي.

د سهار قيد اتفاقي دی:

"فبات غضبان" شپه په داسې حال کې تېره کړي چې خاوند يې خپه وي، محدثين فرمايي چې د شپې قيد اتفاقي دی، دا قيد يې ځکه ذکر کړو چې عمومي طور داسې کېږي، خو که د ورځې يې هم ځاته راوغواړي او انکار وکړي، نو بيا هم باعث د عتاب دی.

"حتى تصبح" په بل روايت کې دي: "حتى ترجع" ددې حديث نه علماوو عجيبه نکته راويستلې ده، هغه دا چې په شريعت کې خاوند ته څومره اهميت حاصل دی، د هغه د جنسي تسکين په خاطر د الله ﷻ پرښتې هم خفه کېږي، اوس که چېرته ديني مسئله راشي او په دې کې خاوند د خپلې مېرمنې نه ناراضه شي؛ نو بيا به يې څومره اهميت او مقام وي.

ښځه به د خاوند بې اجازې نفلي روژه هم نه نيسي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه أيضاً: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ، قَالَ: لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ښځې ته جائز نه دي چې خاوند يې په کور کې

وي او هغه روژه ونيسي، مګر دا چې خاوند ورته د روژې نيولو اجازه ورکړي. "وَلاَ تَأْذَنَ فِي بَيْتِهِ إِلاَّ بِإِذْنِهِ" دا هم ورته جائز نه دي چې د خاوند بې اجازې د هغه کور ته د داخلېدو لپاره اجازت ورکړي مُتَّفَقٌ عَلَيهِ وهذا لفظ البخاري

لغوي تحقيق:

لا تأذن: "أذن إذناً إليه وله" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: خبرې ته غوږ ايښودل، اجازه ورکول

نفلي روژې به نه نيسي:

تشريح: "لايحل لإمرأة أن تصوم" د خاوند بې اجازې به نفلي روژه هم نه نيسي، علماوو ددې روژې نه نفلي روژه مراد کړې ده، په بل روايت کې راځي "ومن حق الزوج على زوجته أن لا تصوم تطوعاً إلا بإذنه وإن فعلت لم يقبل" په مېرمن باندې د خاوند حق دا هم دی چې مېرمن به د خاوند بې اجازې روژه نه نيسي، که چېرته بې روژې ونيولې، نو داسې روژې بې نه قبليږي، "شاهدٌ" د شاهد معنی ده: حاضر، علامه نووي رحمه الله فرمايي: که چېرته خاوند په کور کې نه وي، چېرته په سفر تللی وي؛ نو اوس ورته جائز دي چې نفلي روژې ونيسي، "ولا تأذن في بيته إلا بإذنه" د خاوند بې اجازې به چاته د کور اجازه نه ورکوي، د خاوند اجازه ضروري ده، برابره خبره ده چې صريحي وي او که ضمني وي، مثلاً کور ته ميلمانه راځي؛ نو د هغوی اکرام د خاوند په نشتون کې هم کولی شي، ددې اجازه ضمني وي

د هر مشر څخه به د لاندې خلکو په اړه پوښتنه کيږي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قَالَ: كلكم رَاعٍ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې هر يو کس نګران دی، "وَكُلُّكُمْ مَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" او د هر يو کس نه به د هغه د ماتحتو پوښتنه کولی شي، "وَالأَمِيرُ رَاعٍ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ" بادشاه د خپل رعيت ذمه وار دی، سړی د خپل کورنۍ ذمه وار دی، "وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ زَوْجِهَا وَوَلَدِهِ" ښځه د خپل خاوند د کور او اولاد د حفاظت ذمه واره ده، "فَكُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" غرض دا چې په تاسو کې هر کس ذمه وار دی او د هر ذمه وار د لاس لاندې چې څومره رعيت وي، د هغې په باره کې به ترې پوښتنه کولی شي مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

راع: "رعي يرعي" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: مشري کول، سياست کول

تشريح: "رعيته" هغه چاته ويل کيږي چې د يو مشر او قومندان لاندې وخت تيروي، لکه ويل کيږي چې د فلانکي هيواد ولس.

"الأمير راع الخ" علامه خطابي رحمه الله فرمايي: دا حديث ډېر زيات اهميت لري، په دې حديث کې

حکم ورکول شوی چې حاکم وي او که ملازم وي، سړی وي او که ښځه وي، ټول به د خپل کار په اعتبار سره ذمه واران وي.

د انسان نه به د هغه د اعضاوو په باره کې هم پوښتنه کيږي:

ځينې علماء ددې حديث لاندې داسې تشريح کوي: هر سړی ذمه وار دی تر دې پورې چې د خپل بدن د اندامونو پوښتنه به هم ترې کيږي، د قيامت په ورځ به د هر سړي نه د هغه د اندامونو په باره کې پوښتنې کيږي چې تا ته مې لاس، پښې، سترګې او غوږونه درکړي وو، په دې باندې تا څه وکړل.

خاوند چې غږ وکړي، ميرمن به ورته لبيک وايي

"وعن أبي علي طلق بن علي ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: إِذَا دَعَا الرَّجُلُ زَوْجَتَهُ لِحَاجَتِهِ" د ابو علي طلق بن علي ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کله چې خاوند خپله د خپل حاجت او تقاضې پوره کولو لپاره راوغواړي، "فَلْتَأْتِهِ وَإِنْ كَانَتْ عَلَى التَّنُّورِ" نو هغې ته پکار ده چې خاوند ته راشي، اګر چې هغه په تنور باندې ولاړه وي او ډوډۍ پخوي، "رواه الترمذي والنسائي، وَقَالَ الترمذي: حديث حسن صحيح" دا حديث امام ترمذي او نسائي روايت کړی دی، امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي: دا حديث حسن او صحيح دی.

لغوي تحقيق:

دعا: "دعا دعاءً" ددې معنی ده: اواز کول، غږ کول.

تشريح "وإن كانت على التنور" اګر چې هغه په تنور ولاړه وي، مطلب دا چې خاوند کله هم خپلې ميرمنې ته اواز وکړي، هغې ته پکار ده چې سمدستي پرې لبيک ووايي، اګر چې په خبره منلو کې ورته ظاهري نقصان وي، بلکه دا چې سمدستي به غږ ورکوي او راځي به، ځکه چې که هغه په تنور ولاړه وي؛ نو په څو دقيقو کې به فارغه شي، څو شريعت وايي چې که ډوډۍ يې پرې اچولې وي او خاوند ورته آواز وکړي، بيا هم ډوډۍ په خپل ځای پرېښودل پکار دي او سمدستي خاوند ته ځان ورسوي.

د راوي طلق بن علي ﷺ حالات:

اصلي نوم يې طلق ﷺ دی، د پلار نوم يې علي دی، کنيت يې ابو علي حنفي دی، يمامي دی، هغه ته طلق بن ثمامه هم ويل کيږي، د يمامه د وفد سره يو ځای راغلی وو.

مرويات څوارلس حديثونه ترې نقل دي، ځينې وايي: په دې څوارلسو کې يو هم په بخاري او مسلم کې نشته.

که غير الله ته سجده جائز وای، نو ښځو به خاوندانو ته سجدې کړې وای

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ قَالَ: لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که چېرته ما چا ته د سجدې حکم کولی، "لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا"

نو ما به ښځو ته حکم کړی وای چې خپلو خاوندانو ته سجده وکړي، "رواه الترمذي، وَقَالَ: حديث حسن صحيح" دا حديث ترمذي روايت کړی دی او ويلي يې دي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغوي تحقيق:

يسجد: "سجد سجوداً" ددې معنی ده: عاجزي او خاکساري کول، ښکته کېدل، پوزه په ځمکه اېښودل.

تشريح "لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها" ما به ښځو ته حکم ورکړی وای چې خپلو مېړونو ته سجدې وکړي، مطلب دا چې د سړو په خپلو مېرمنو باندې دومره حقونه واجب دي چې که غير الله ته سجده جائز وای، نو شريعت به ښځو ته امر کړی وو چې خپلو خاوندانو ته سجده وکړي، خو د رسول الله ﷺ په شريعت کې غير الله ته سجده مطلقاً حرامه ده، ددې وجې به ښځه خپل خاوند ته سجده نه کوي، خو د خاوند اطاعت به ضرور کوي.

خاوند چې راضي وي، ښځه به جنت ته ځي

"وعن أم سلمة رضي الله عنها، قالت: قَالَ رسولُ الله ﷺ: أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ" د ام سلمه رضي الله عنها روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کومه ښځه چې مره شي په داسې حال کې چې: "وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الْجَنَّةَ" خاوند يې ترې راضي وي، هغه به جنت ته داخلېږي، "رواه الترمذي، وَقَالَ: حديث حسن" دا حديث امام ترمذي روايت کړی او فرمايي: دا حديث حسن صحيح دی.

تشريح: "زوجها عنها راضٍ" خاوند ترې راضي وي، په دې حديث کې داسې ښځو ته خوشخبري او زېری اورول شوی چې د اسلامي احکاماتو سره د خپل خاوند اطاعت کوي، اګر چې ځينې خبرې ورته ښې نه لګېږي، ليکن بيا هم اطاعت کوي؛ نو داسې ښځو ته د جنت زېری اورول شوی دی، ليکن هغه خبرې چې د شريعت خلاف وي، په داسې خبرو کې به د خاوند اطاعت هم نه کوي.

د جنت حوره څه وايي؟

"وعن معاذ بن جبل رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: لاَ تُؤْذِي امْرَأَةٌ زَوْجَهَا فِي الدُّنْيَا" د معاذ بن جبل رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په دنيا کې چې کومه ښځه خپل خاوند ته تکليف ورکوي، "إلاَّ قَالَتْ زَوْجَتُهُ مِنَ الحُورِ العِينِ لاَ تُؤْذِيهِ قَاتَلَكِ اللهُ" نو د جنت حورې ورته وايي چې الله جل جلاله دې تا برباده کړي، خپل خاوند مه تنګوه! "فَإنَّمَا هُوَ عِنْدَكِ دَخِيلٌ يُوشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا" دا خو ستا سره يو څو ورځې مېلمه دی او ډېر زر به ستا نه جدا شي او موږ ته به راشي، "رواه الترمذي، وَقَالَ: حديث حسن" دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او فرمايي چې دا حديث حسن صحيح دی.

لغوي تحقيق:

دخيل: خپل ځان پردي قوم ته منسوب کول، جمع يې "دخلاء" راځي.

تشريح "قالت زوجته من الحور العين" د هغه جنتي مېرمن حور العين به ووايي: په داسې حال کې چې هر جنتي ته به په جنت کې ګڼ شمېر مېرمنې ورکول شي، کومې ښځې چې به دنيا کې خاوندان ناراضه کوي، د جنت کومې مېرمنې چې الله ﷻ هغه ته نصيب کوي، هغوی به ورته ووايي الله ﷻ دې تا هلاکه کړي، هغه ته تکليف مه ورکوه، ځکه چې دا ځنګه ستا خاوند دی، دغه شان زما خاوند هم دی.

په بل روايت کې دي چې: "لعن الملائکة لعاصية الزوج" پرښتې په هغه مېرمن لعنت وايي چې د خپل خاوند خبره نه مني.

سوال جنتي حورو ته د دې خبرو معلومات څنګه کيږي؟

جواب اولنی ځواب دا دی چې الله ﷻ هغوی ته اطلاع ورکړې ده.

د ښځو د فتنو نه ځان وساتئ!

"وعن أسامة بن زيد رضي الله عنهما، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً هِيَ أَضَرُّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ" د اسامه بن زيد ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما څخه وروسته به د سړو لپاره لويه فتنه "مِنَ النِّسَاءِ" د ښځو په شکل کې وي (يعني د سړو لپاره به د ښځو نه زياته بله فتنه نه وي). مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

اضر: د اسم تفضيل صيغه ده، ډېر زيات تکليف ورکوونکی.

شريح د ښځو فتنې تر ټولو فتنو زياتې خطري دي، په بل حديث کې راځي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د ښځو فتنه د شيطان د فتنې نه زياته ده، ځکه چې الله تعالى فرمايي: د شيطان چلونه کمزوري دي، خو د ښځو په باره کې فرمايي: د ښځو چلونه زيات لوی دي. "إن کيدکن عظيم".

علماء فرمايي چې په ښځو کې خواهشات او د دنيا حرص د سړو په مقابله کې زيات وي، بل طرف سړي ښځو ته طبعي ميلان کوي، د ښځو په مينه کې داسې راګير شي چې بيا د حلالو او حرام تميز ترې ورک شي، لکه يو کس ويلي دي چې که ښځې نه وای، نو سړي به ټول جنتيان وو، ليکن ځينې ښځې نېې هم وي، ټولې ښځې خرابې نه وي، ځينې ښځې خپل خاوندان آخرت ته متوجه کوي او د آخرت په طلب کې يې مشغول ساتي

باب النفقة على العيال

په خپلې کورونی باندې خرچه کول

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ" شيدې ورکوونکو ښځو ته به په بدل کې د ماشوم پلار خوراک ورکوي، "وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ" د رواج مطابق به جامه ورکوي. [البقرة:۲۳۳]

تشريح: "وعلى المولود له" دلته د لفظ 'ولد' په ځای 'مولود' (يعني هغه کس چې ماشوم يې پيدا

شوي وي، لفظ ذکر کړو، په دې کې حکمت دی، هغه دا چې د بچي خوراك څښاك په پلار دی. اګر چې ماشوم د مور پلار دواړو څخه پیدا شوی دی، خو ددې ماشوم نسبت پلار ته کیږي، په دې وجه پوره نفقه او خرچه به د پلار په ذمه وي.

"رزقهن وكسوتهن بالمعروف" که د ماشوم مور د خاوند په نکاح کې وي يا عدت تیروي، نو تر هغه پورې به ددې خوراك، جامې او د ژوند ضروريات د ماشوم په پلار وي، که هغه ښځه ددې خاوند په نکاح کې نه وي، نو اوس به ددې ماشوم د شيدو معاوضه هم د پلار په ذمه وي، ددې وجې د ماشوم په پلار ددې ښځې خرچه وغيره دي.

"بالمعروف" دا خرچ او خوراك به په شرعي او معروفي طريقې سره وي، که ښځه او خاوند مالداره وي؛ نو د مالدارانو خرچه به ورکوي، که غريبانان وي؛ نو د غريبانانو خرچه به ورکوي. د امام کرخي او ابن همام په نزد به په خرچه کې د خاوند حالت ته کتل کیږي، که هغه مالدار وي؛ نو د مالدارانو خرچه به ورکوي او که غريب وي نو د غريبانانو خرچه به ورکوي.

"وَقَالَ تَعَالَى" او الله ﷻ فرمايي: "لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ" پراخى والا به د خپل طاقت مطابق خرچ کوي، "وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ" او په چا چې رزق تنګ شي، هغه ته پکار ده چې الله ﷻ څومره ورکړې وي، د هغې مطابق خرچه وکړي. [الطلاق:۷]

تشريح: "لينفق ذوسعة من سعته" دلته د ښځې د خرچې بيان دی، ابن همام رحمه الله فرمايي: په خرچه کې به د خاوند حالت ته کتل کیږي، که هغه مالداره وي؛ نو د مالدارانو خرچه به کوي، اګر چې ښځه غريبه وي او که غريب وي؛ نو د غريبانانو خرچه به کوي، اګر چې ښځه مالداره وي، ښځې ته اعتبار نشته، هغه که مالداره وي او که غريبه وي، دغه راز که چيرته دواړه مالداران وي؛ نو د مالدارانو خرچه به کوي، د خاوند حال معتبر دی او که خاوند غريب وي، نو د غريبانانو خرچه به ورباندې کوي.

"لايكلف الله نفساً إلا ما آتاها" الله ﷻ يو نفس هم نه دی مکلف کړی، مګر د هغه د طاقت په اندازه، مطلب دا چې که خاوند غريب وي او الله ﷻ پرې حکم ولګوي چې که هر څه وي، خو خرچه به د مالدارانو کوي، داسې نه ده شوې او نه يې داسې کړي چې مالداره خو دی، ليکن الله ﷻ ورباندې حکم ولګوي چې بس هرڅه وي، خرچه به د غريبانانو کوي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَمَا أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ" تاسو چې د الله ﷻ په لار کې کوم شی خرچ کوئ، د هغې ښه بدله به درته ملاويږي. [سبأ:۳۹]

تشريح: څوك چې د الله ﷻ په لار کې خرچ کوي، ددې بدله الله ﷻ يا په دنيا کې ورکوي يا په اخرت کې، يا يې په دنيا او اخرت دواړو کې ورکوي، خو دا هغه وخت چې نيت يې خالص د الله ﷻ د رضا لپاره وي، که داسې نه وي؛ نو بيا هيڅ هم نشته، بلکې ددې په بدل کې به ورته عذاب ملاويږي.

د جابر رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې نېك عمل وکړي دا صدقه ده، په خپلې کورنۍ خرچه کول صدقه ده، څه چې خرچ کوي، ددې لپاره يې خرچ کوي چې خپل

عزت او ناموس وساتي، دا هم صدقه ده او څوك چې د الله ﷻ د حكم مطابق خرچ كوي، نو الله ﷻ په خپله ذمه دا خبره اخيستې ده چې د هغې بدله به زه وركوم، ليكن كه هغه خرچه په فضولو كارونو كې وي يا په په غير شرعي ځايونو كې خرچ شي، نو ددې بدله بيا نشته.

په ځان باندې خرچ كول هم صدقه ده

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: دِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي رَقَبَةٍ" د ابو هريره ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه دينار چې ته يې د الله ﷻ په لار كې صدقه كوې او هغه دينار چې ته يې د غلام په آزادولو كې صدقه كوې، "وَدِينَارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِينٍ، وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ" او هغه دينار چې تاسو يې په مسكينانو باندې خرچ كوئ او دغه شان هغه دينار چې تاسو يې په خپلې كورنۍ خرچ كوئ؛ "أَعْظَمُهَا أَجْرًا الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ" په دې ټولو كې لوى اجر والا هغه صدقه ده چې تاسو يې په خپلې كورنۍ او خاندان خرچ كړئ؛ رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

اجر: "أجر اجراً" باب نصر ينصر او ضرب يضرب دواړو څخه دى، ددې معنى ده: بدله وركول

تشريح "ديناراً أنفقته في سبيل الله" يو دينار چې د الله ﷻ په لار كې خرچ كړې

تر ټولو اول بايد په ځان باندې خرچ وكړي:

په حديث كې د خرچ كولو ترتيب ښودل شوى دى، په دې شرط چې كه هغه كس غريب وي، نو تر ټولو اول دې په ځان او خپلې كورنۍ باندې خرچ وكړي، "أعظمها أجراً" ددې اجر او ثواب به تر ټولو زيات وي، ځكه چې دا خرچ په هغه ضروري دى، باقي نور مصرفونه نفلي دي، ظاهره خبره ده چې د فرض او واجب ثواب د نفل نه زيات دى

كه مالداره وي؛ نو بيا په څلورو ځايونو كې خرچ كول واجب دي:

امام رازي رحمه الله فرمايي: كوم كس چې صاحب نصاب وي، په هغه باندې څلورو ځايونو كې خرچ كول واجب دي:

(۱) په خپل ځان او هغو خپلوانو باندې خرچ كول چې خرچ او خوراك يې په تا باندې واجب دى

(۲) په كال ختمېدو باندې فرضي زكات وېستل

(۳) كله چې كفار په مسلمانانو باندې يرغل وكړي، نو په داسې حالت كې د مقابله كوونكو مجاهد سره مرسته واجب ده.

(۴) په مجبور باندې خرچ كول، هغه مجبور چې داسې حد ته رسېدلى وي چې د لوږې يا تندې وجې يې ساه په وتلو وي، نو په داسې حالت كې په هغه باندې خرچه كول واجب دي

تر ټولو لومړى خرچ د خپلې كورنۍ څخه شروع كړه!

"وعن أبي عبد الله ــــ ويقال له: أبو عبد الرحمان ثوبان بن بُجْدُد مولى رسول الله ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: أفضل

يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ" د ابو عبد الله چې هغه ته ابو عبد الرحمن ثوبان بن بجد هم ويل کيږي، کوم چې د رسول الله ﷺ غلام وو، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل هغه روپۍ غوره ده چې انسان يې خرج کوي "دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ، وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى دَابَّتِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ" هغه دينار دی چې انسان يې په خپل خاندان باندې خرج کړي او هغه دينار چې په خپله اسپه يې د الله ﷻ په لار کې خرج کړي، "وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ" او هغه دينار چې په خپلو ملګرو يې د الله ﷻ په لار کې صدقه کوي غوره دي رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

سبيل: لاره، يا خلاص سړك، جمع يې "سبل" راځي، د "سبيل" لفظ اطلاق په جهاد، طالب علم او حج، بلکې ټولو هغو اومرو باندې کيږي چې الله ﷻ يې امر کړی دی

تشريح ددې حديث تشريح تقريبا علماء هغه بيانوي چې ددې نه وړاندې حديث کې ذکر شوه، يعنې تر ټولو اول خرچه په خپل ځان او خاندان باندې وکړي، بيا که ددې نه زياتي شي، په نورو خلکو دې خرج کړي، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: دلته واو د ترتيب لپاره دی چې تر ټولو اول په خپل ځان او کورنۍ باندې خرج وکړي، بيا په خپلو څارويو باندې خرچه وکړي

د کنز العمال رحمه الله ليکوال ګڼ شمېر حديثونه په دې مضمون کې روايت کړي دي چې که سړی خپله ضروري خرج کوي؛ نو تر ټولو اول دې په ځان خرچه وکړي بيا دې په خپل خاندان باندې خرج وکړي، که ددې نه اضافه شي نو بيا دې په خپلوانو خرج وکړي، که اضافه شي نو بيا دې په نورو باندې خرج کړي

که د ځان نه زيات غريب سړی ووينې يا خپله محتاجه وي، خو په صبر وس لري او په الله ﷻ کامله بروسه ساتي، بيا هم په ځان بل وړاندې کړي؛ نو دا د کامل ايمان نخښه ده، د داسې خلکو په باره کې قرآن کريم کې هم آيت نازل شوی دی "وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ" **ترجمه**: د دوی صفت دا دی چې دوی نور خلك په ځانونو باندې وړاندې کوي، اګر چې خپله هم ضرورتمند وي

په بچيانو باندې خرج کولو کې هم اجر دی

"وعن أم سلمة رضي الله عنها، قالت: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، هَلْ لِي أَجْرٌ فِي بَنِي أَبِي سَلَمَةَ أَنْ أُنْفِقَ عَلَيْهِمْ" د ام سلمه ؓ روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ د ابو سلمه کوم بچي چې ماته پاتې دي، په هغوی به ماته ثواب ملاويږي؟ "وَلَسْتُ بِتَارِكَتِهِمْ هَكَذَا وَهَكَذَا إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ؟" ځکه چې زه هغوی اخوا دېخوا ګرځېدو ته نه پرېږدم؟ "فَقَالَ: نَعَمْ، لَكِ أَجْرُ مَا أَنْفَقْتِ عَلَيْهِمْ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل هو! ولې نه کوم څه چې ته پرې خرج کوې، تا ته به يې اجر ملاويږي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

اجر: "أجر اجراً واجاراً" باب ضرب يضرب او نصر ينصر دی، ددې معنی ده: بدله ورکول، مزدوري ورکول

تشريح: "قلت يارسول الله ﷺ! ام سلمه رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ د نکاح نه وړاندې د ابوسلمه په نکاح کې وه، د ابو سلمه نه يې څلور بچيان شوي وو، عمر، زينب، درة او محمد.

ايا زما په بچو به د خرچ له وجې ماته ثواب ملاويږي؟

"هل لى فى بنى أبى سلمة اجر؟" که زه د ابوسلمه په بچو خرچ کوم، په دې کې به ماته اجر وي؟ په دې حديث کې محدثين دوه احتماله بيانوي: اول دا چې ام سلمه رضي الله عنها د ابوسلمه د هغو بچو په باره کې پوښتنه کوي چې د هغې له بطن/ خېټې وو، دا د ابو سلمه رضي الله عنه حقيقي بچيان وو، هغې به دغو ماشومانو ته خرچه ورکول. په دې باندې رسول الله ﷺ وفرمايل چې "لك أجر ما أنفقت عليهم" هو! بالکل تاته به په دې ماشومانو باندې د خرچ کولو ثواب ملاويږي.

دويم احتمال دا هم کېدی شي چې: د ابو سلمه رضي الله عنه نکاح د ام سلمه رضي الله عنها نه وړاندې د بلې ښځې سره شوې وه چې د هغې نه يې بچيان پاتې شوي وو، په دې صورت کې به د ام سلمه رضي الله عنها دغه بچيان ناسکه اولاد شي، اوس ام سلمه رضي الله عنها ددې بچيانو په باره کې پوښتنه کوي: ايا ماته په دې ماشومانو باندې د خرچ کولو له وجې ثواب ملاويږي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: "لك ما أنفقت عليهم" هو! بالکل تاته به ثواب ملاويږي.

په خرچ کې به مقصود د الله ﷻ رضا وي

"وعن سعد بن أبى وقاص رضي الله عنه فى حديثه الطويل الّذى قدمناه فى أول الكتاب فى باب النيّة" د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه روايت دی، هغه حديث چې د نيت په باب کې د کتاب کې په اول کې مخکې تېر شو، "أنّ رسول الله ﷺ، قَالَ لَهُ: وإنّكَ لَنْ تُنفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللهِ إلاّ أُجِرْتَ بِهَا" رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د الله ﷻ د رضا لپاره چې څومره يا څنګه خرچ هم کوئ، د هغې اجر او ثواب به درته ملاويږي. "حتّى مَا تَجْعَلُ فى فِيْ امرأتِك" تردې چې هغه مړۍ چې ته يې د خپلې ښځې په خوله کې ږدې، ددې ثواب به هم درته ملاويږي مُتّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

تبتغي: "إبتغى و تبتغي الشئ": ددې معنی ده: طلب کول

تشريح "تبتغي بها وجه اللّـه": په دې سره به مقصود صرف د الله ﷻ رضا وي، په دې حديث کې اصولي قاعده ذکر کېږي چې په هر عمل کې به صرف د يو الله ﷻ تعالی رضا مقصود وي، که داسې نه وي؛ نو دا عمل بيا الله ﷻ ته منظور نه دی.

اجر به د نيت په اندازه ملاويږي:

"تجعل فى فِيْ إمرأتك" د ښځې په خوله کې مړۍ اېښودلو کې هم ثواب شته. دا حديث په مسلم کې په دې الفاظو سره نقل دی: "حتى اللقمة تجعلها فى فِيْ امراتك" تر دې چې هغه لقمه چې ته يې د خپلې ښځې په خوله کې ورکوې په هغې کې هم ثواب دی، په ځينو روايتونو کې دي چې "وفى بضع أحدكم صدقة" د ښځې

سره په کوروالي کولو کې هم د يوې صدقې اجر دی، صحابه کرامو ﷺ چې ددې وجه معلومه کړه؛ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: "أرءيتم‌ان وضعهافي حرام" ايا خبر راکړئ چې که همدغه کوروالی په حرام ځای (زنا) کې وکړي، نو په دې کې به گناه وي او که نه؟ صحابه کرامو ﷺ وفرمايل: ولې نه! په حلال ځای کې کوروالي کولو کې اجر او ثواب دی.

په دې ټولو کارونو کې بايد صرف د الله ﷻ رضا مقصود وي او د حلالو طريقو خيال او لحاظ بايد وساتل شي، په دې ټولو کې ثواب شته او که هم دغه کارونه په ناجائزه طريقه وکړی شي، بيا گناه ده، په دې وجه د نبي کريم ﷺ ارشاد دی چې: "إنما الأعمال بالنيات" د اعمالو بنسټ په نيتونو باندې دی.

په خپلې کورنۍ خرچ د ثواب په نيت پکار دی

"وعن أبي مسعود البدري ﷺ، عن النبيّ ﷺ قَالَ: إذَا أنفقَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةً" د ابو مسعود بدري ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې يو کس په خپلې کورنۍ باندې خرچه وکړي، "يَحْتَسِبُهَا فَهِيَ لَهُ صَدَقَةٌ" او دی يې ځانته پکې ثواب گڼي، نو دا هم صدقه ده (او د صدقې اجر به ورته ملاويږي) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

يحتسبها: "إحتسب إحتساباً" ددې معنی ده: شمارل، حسابول

اصول او ضوابط:

تشريح په حديث کې يوه قاعده کليه بيانيږي: هغه دا چې ترڅو صحيح او خالص نيت نه وي تر هغه به په دې کارونو کې اجر نه وي، مثلاً د لوږې په حالت کې خوراك کول، اوس که يو کس د الله ﷻ په حکم نظر وساتي چې هغه: "کلوا" خورئ؛ نو په داسې صورت کې به د الله ﷻ حکم هم پوره شي او لوږه به يې هم ختمه شي، که چېرته د نيت څخه بغير خوراك وکړی شي؛ نو خېټه خو به يې ډکه شي، ليکن د ثواب نه به محرومه پاتې شي، همدغه خبره دلته هم ده چې: که يو کس په خپلو بچيانو او خاندان باندې خرچ کوي، نو که په دې کې يې د ثواب نيت وي، ثواب به ورته ملاو شي او خېټه به يې هم ډکه شي او که صرف خېټه ډکول مقصود وي، نو صرف همدا مقصد به حاصل شي خو د ثواب نه به محرومه شي، "على أهله" علماء فرمايي: په لفظ د (اهل) کې خپله ښځه هم داخله ده او خپلوان هم داخل دي، لکه څرنگه چې دوه سوه يو نوي نمبر حديث کې تېر شو چې د ښځې نه علاوه په نورو خپلوانو خرچه هم په سړي واجب ده.

نفقې ته صدقه ولې ويل کيږي؟

"فهوله صدقة" دا د هغه لپاره صدقه ده.

سوال: د ښځې او بچيانو خرچه په سړي واجب ده، نو دا څرنگه صدقه شوه؟

جواب: د صدقې لفظ عام دی، دا نفلي او واجب دواړه ته شامل دی، مثلاً: فقهاء فرمايي: "صدقة البقر" د

صدقې نه مراد زكات دى چې فرض دى. علامه مهلب رحمه الله فرمايي: د ښځې نفقه واجب ده. ليکن صدقه ورته د ثواب په خاطر ويل شوي، که واجب يې ورته ويلې واى، نو بيا به سړي دا فکر کولو چې واجب ده؛ نو ځکه شريعت ورته لفظ د صدقې استعمال کړو، په دې کې دې طرفته اشاره ده چې په دې نفقه کې د صدقې ثواب هم شته.

د ګناه لپاره دا کافي ده چې سړى د ماتحتو رزق ضايع کړي

"وعن عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْماً" د يو سړي د ګناهګار کېدو لپاره دا هم پوره ده چې "أَنْ يُضَيِّعَ مَنْ يَقُوتُ" چې د چا د رزق ذمه وار شي؛ خو ذمه واري يې پوره نه کړي. "حديث صحيح رواه أبوداود وغيره" دا حديث صحيح دى، امام ابوداود رحمه الله روايت کړى دى.

"ورواه مسلم في صحيحه بمعناه، قَالَ: كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْماً" او امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کې هم روايت کړى. فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د سړي د ګناهګار کېدو لپاره دا هم کافي ده چې "أَنْ يَحْبِسَ عَمَّنْ يَمْلِكُ قُوتَهُ" چې د چا روزي دده په ذمه وي او دى د هغه روزي بنده کړي.

لغوي تحقيق:

يقوت: "قات يقوت" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: رزق، کفالت، خوراکه.

تشريح "كفى بالمرء إثما أن يضيع من يقوت" د سړي د ګناهکار کېدو لپاره دا هم کافي ده چې د کومو خلکو حقونه پرې واجب دي، هغه حقونه ضايع کړي. لکه څرنګه چې په مخکې حديثونو کې ذکر شو چې په سړي باندې د بال بچ نفقه او خرچه لازم ده، په دې کې هغه ته ثواب ملاويږي. ليکن ددې برعکس که هغه په دې کفالت او ذمه وارۍ کې غفلت وکړي، هغوى ته خرچه ورنه کړي، نو په داسې صورت کې به ګناهګار وي.

"كفى بالمرء إثما" د سړي د ګناهګار جوړېدو لپاره دا کافي ده، مطلب دا چې که دده د ګناهګار بدو لپاره په عملنامه کې بل هيڅ ګناه نه وي، نو دغه يوه ګناه چې هغه کړې ده، يعنې د بچو حق نه ادا کوي، دا ګناه يې هم جهنم ته د داخلېدو لپاره کافي ده. "عمن يملك قوته" د کومو خلکو خوراک چې د هغه په ذمه دى. علماء فرمايي چې دا لفظ عام دى، په دې کې د بچيانو نه علاوه خادم، مزدوران وغيره ټول شامل دي. هغه چې د خوراک ذمه وار يې شي، ټولو ته دا حديث شامل دى. بايد چې خپل وخت ضايع نه کړي. فلله در القائل

إلا الذين والدنيا كميزان تاجر ...... إذا غط منه كفة علت الأخرى

خرچ کوونکوته پرښتې دعاګانې کوي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أن النبي ﷺ، قَالَ: مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: داسې ورځ نه تيريږي چې خلک پکې سهار کوي، مګر دا چې دوه

پرښتې ځمکې ته راښکته کېږي، "فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقاً خَلَفاً" نو په دې پرښتو کې يوه داسې دعا کوي چې اې الله! خرچ کوونکي ته ښه بدله ورکړې! "وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكاً تَلَفاً" او بله پرښته خيرا کوي چې اې الله! بخيل سړی هلاك کړې! مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

تلفاً: "تلف تلفاً" د دې معنی ده: هلاکېدل، برباد بدل.

تشريح په بل روايت کې دي چې: کله لمر راخېژي، نو هر سهار دوه پرښتې اعلان کوي چې د انسانانو او پېريانو نه علاوه ټول مخلوق يې اوري، هغوی وايي: خپل رب ته متوجه شئ! لږ شی د پر ښه دی د هغو ډېرو شيانو څخه چې انسان د دوی په ذريعه د الله ﷻ نه غافله کېږي.

په کنز العمال کې يو روايت دی چې: په اسمان کې دوه پرښتې دي، د دوی وظيفه هم دغه ده چې يوه پرښته دعا کوي، وايي: اې الله! خرچ کونکي ته ثواب ورکړې او دې بهترينه بدله ورکړې، بله پرښته دعا کوي: اې الله! بخيل سړی هلاك کړې.

"يصبح العباد" د کنز العمال د عبارت نه دا خبره معلومه شوه چې صرف سهار او مابام پرښتې دعا نه کوي، بلکې هر وخت په دعا کې مشغولې وي، "الله اعط منفقاً خلفاً" اې الله! خرچ کونکو ته بدله ورکړې، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې ارشاد دی: "وما انفقتم من شئ فهو يخلفه" تاسو چې څه هم د الله ﷻ په لاره کې خرچ کوئ الله ﷻ به ددې بدله درکوي، دغه شان په بخاري کې روايت دی چې: "انفق يا ابن آدم انفق عليك" اې د آدم عليه السلام اولاده! خرچ کوه! په تاسو به خرچ وکړی شي.

مال نه خرچ کونکو ته پرښتې خيرا کوي:

"اللـه أعط ممسكاً تلفاً" صاحب د فتح الباري ليکلي چې کله کله د مال بربادي خپله په مال کې وشي او کله داسې هم وشي چې د مال مالک ترې فوت شي او مال ترې پاتې شي، کله کله دا بربادي د نيکو اعمالو د ضايع کېدو په صورت کې وي يعني هغه د مال په حرص کې دومره داخل شي چې نور نيک عملونه ترې پاتې شي.

پورتنی لاس د لاندې لاس څخه غوره دی

"وعنه، عن النَّبيِّ ﷺ، قَالَ: اليَدُ العُلْيَا خَيْرٌ مِنَ اليَدِ السُّفْلَى" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پورتنی لاس د لاندينې لاس څخه ډېر غوره دی، "وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ" او د ورکولو شروع د هغه چا نه کوه چې ستا تر پالنې لاندې وي، "وَخَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنىً" غوره صدقه هغه ده چې د مالدارۍ نه پس وي، "وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللهُ" او کوم کس چې د سوال نه خان ساتل غواړي، الله ﷻ به هغه د سوال نه بچ کړي، "وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللهُ" او کوم کس چې خان بې پروه کول غواړي، الله ﷻ به يې بې پروا کړي. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

تعول: "عال عولاً عيالةً" بال بچ پرورش او کفالت.

تشريح "اليد العليا" پورتنى لاس د لاتديني لاس څخه غوره دى، په بل روايت کې د پورتني لاس څخه مراد: "اليد المنفقة" خرچ کونکى لاس دى او د: "اليد السفلى" نه: "اليد السائلة:" سوال کوونکى لاس مراد دى

"خير الصدقة ماکان عن ظهر غنىً" تر ټولو غوره صدقه هغه ده چې د نفس غنى پکې وي، مطلب دا چې ټول مال مه خرچ کوئ چې بيا به په خپله فقير شئ، بلکې دومره خرچ وکړئ چې ددې نه وروسته هم مالداري پاتې شي، تر ټولو اول يې په خپلو بچيانو باندې خرچ کوئ، ځکه چې د دوى نفقه په تاسو واجب ده.

سوال: د حديث نه معلومه شوه چې سړى بايد دومره خرچه وکړي چې څومره يې وس وي، دومره خرچ دې نه کوي چې هيڅ شى ورسره پاتې نه شي، ليکن د تبوك په غزا کې ابوبکر صديق ﷛ خپل ټول مال د الله ﷻ په لار کې خرچه کړى ؤ او نبي کريم ﷺ ترې قبول کړو، ددې وجه څه وه؟

جواب محدثين ددې ځواب داسې ورکوي چې که د خرچ کوونکي په الله ﷻ باندې داسې بروسه وي چې د هغه پوره باور وي چې نن الله ﷻ راکړه؛ سبا سهار به يې هم هغه لوى الله راکوي، نو که داسې کس خپل ټول مال خرچ کړي، بيا جائز دي، ليکن بيا هم د ځان سره دومره پرهېښودل پکار دي چې سبا بل کس ته لاس ونه نيسي

باب الإنفاق مِمَّا يحبُّ ومن الجيِّد

د غوره مال خرچ کولو بيان

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى" الله ﷻ فرمايي: "لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ" هيڅکله به تاسو کاملې نيکى ته ونه رسېږئ "حَتّٰى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ" تردې چې تاسو نه خوښ مال د الله ﷻ په لار کې خرچ نه کړئ! [آل عمران:۹۲]

تشريح "البر" معنى ده: انعام، جنت، ښه کول، احسان کول، رښتيا ويل، د عبد الله بن مسعود ﷛، ابن عباس ﷠ او د مجاهد ﵀ په نزد دلته ترې جنت مراد دى

"تنفقوا" خرچ کړئ، مفسرين ﵏ فرمايي د خرچ نه نفلي صدقې او زکات مراد دي، "مما تحبون" (من) په عربى ژبه کې د تبعيض لپاره راځي، يعني ځينې مال، مطلب دا چې ټول مال مه خرچ کوئ، بلکې دومره مال خرچ کړئ څومره چې ستاسو په طاقت کې وي او ښه مال خرچ کوئ؛ په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې هر مال ښه وي په هغې کې د خپل وس مطابق خرچ کوئ؛ نه داسې چې کوم مال خراب وي، هغه د الله ﷻ په لار کې خرچ کړئ، او کوم چې ښه وي، هغه د ځان سره پاتې کړئ، حسن بصري ﵀ ددې آيت لاندې ليکي چې: هغه که هر څه وي: اګر چې د خورما يوه تو ته ولې نه وي، خو

شرط دا دی چې نيت به خالص وي، په دې سره به هم الله تعالى لوی اجر ورکړي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ" اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، د الله ﷻ په لار کې يې د هغه پاك مال نه خرچ کوئ چې تاسو کسب کړي دي، "وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ" او د هغه مال نه هم چې موږ يې تاسو ته د ځمکې نه راوباسو. د ناپاك مال اراده مه کوئ چې ددې نه تاسو يې خرچ کړئ! [البقرة:۲۶۷].

تشريح: "من الطيبات" د طيبات نه مراد حلال شيان دي، لکه څرنګه چې په حديث کې راځي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې حرام مال وګټي او بيا ددې نه صدقې وباسي، داسې صدقې نه قبليږي، په حرام مال کې برکت نه وي. کوم مال چې د خان نه وروسته پرېږدي هغه جهنم ته د داخلېدو ذريعه ده، عذاب په بد شي (حرام مال) نه شي ختمولی، بلکې بد شی به په ښه شي ختموئ، ناپاك په ناپاك نه ختميږي.

"ماکسبتم" تاسو چې څه ګټئ، ددې نه مراد مال دی، ځينې علماء فرمايي: ددې نه د بچي ګټل شوی مال مراد دی، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "أولادكم من طيبات أكسابكم فكلوا من أموال أولادكم هنيئا" ستاسو بچي ستاسو د ګټې دي، تاسو د خپلو بچيانو ګټل شوي مالونه په مزې سره خورئ!

"ومما أخرجنا لكم من الأرض" امام ابوحنيفه رحمه الله ددې نه استدلال کوي چې په عشري ځمکه کې عشر واجب دی، يعنې کوم کښت چې د ځمکې نه شين کيږي، په دې کې لسمه حصه واجب ده، په لفظ د (اخرجنا) کې دې ته اشاره ده چې که ځمکه ونه کرل شي، بيا پکې عشر نشته، په خلاف د تجارتي مالونو چې که په دې کې ګټه نه وي شوې، بيا هم زکات پکې فرض دی، په دې شرط چې کال پرې تېر شوی وي، "ولا تيمموا الخبيث منه تنفقون" د حرامو، ناپاکو شيانو نه د صدقې ورکولو نيت مه کوئ! سهل بن حنيف رضي الله عنه فرمايي: ځينو خلکو به په عشر کې خراب مال راوړلو، نو د هغوی په حق کې دا ايت نازل شو.

خو دا حکم صرف د عشر سره خاص نه دی، بلکې عام دی: کله چې هم سړی خرچ کوي، بايد غوره مال خرچ کړي چې ددې نه په وړاندې ايت کې هم ددې ذکر راغلی دی: "لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون" تاسو هيڅکله کامله نېکي نه شئ ترلاسه کولی تر څو چې تاسو غوره شيان د الله ﷻ په لار کې خرچ نه کړئ!

ابو طلحه رضي الله عنه خپل باغ وقف کړو

"عن أنس رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ أَبُو طَلْحَةَ رضي الله عنه أَكْثَرَ الْأَنْصَارِ بِالْمَدِينَةِ مَالًا مِنْ نَخْلٍ" د انس رضي الله عنه روايت دی، فرمايي په انصاري صحابه کرامو رضي الله عنهم کې د ابو طلحه رضي الله عنه سره د خورما زيات مال وو، "وَكَانَ أَحَبُّ أَمْوَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرَحَاءَ" او بيا زيات خوښ مال ورته د بير حاء د خورماوو باغ وو، "وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ" دا باغ نبوي جومات ته مخامخ وو او رسول الله ﷺ به ورته تشريف راوړو، هلته به يې اوبه وڅښلې چې زياتې خوږې اوبه يې وې، "قَالَ أَنَسٌ: فَلَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ" انس رضي الله عنه فرمايي: کله

چې دا آیت نازل شو "لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ" تاسو کاملې نیکۍ ته نه شئ رسېدلی!، "حَتَّىٰ تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ" تر څو چې تاسو خپل خوښ مال د الله ﷻ په لار کې خرچ نه کړئ! "قَامَ أَبُو طَلْحَةَ إِلَىٰ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ: يَا رَسُولَ الله" ابو طلحه رضی الله عنه راپاڅېدو او نبي اکرم ﷺ ته راغلو، ورته یې وفرمایل: یا رسول الله ﷺ! "إِنَّ اللهَ تَعَالَىٰ أَنْزَلَ عَلَيْكَ: لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ" الله ﷻ په تاسو باندې دا آیت نازل کړی دی چې تاسو تر هغه پورې کاملې نیکی ته نه شئ رسېدلی، "حَتَّىٰ تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ" تر څو پورې چې هغه مال خرچ نه کړئ کوم چې تاسو ته زیات خوښ دی، "وَإِنَّ أَحَبَّ مَالِي إِلَيَّ بَيْرَحَاءُ" او ماته زما زیات خوښ مال د بیر حاء باغ دی، "وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلَّهِ تَعَالَىٰ، أَرْجُو بِرَّهَا" او دا باغ د الله ﷻ لار کې صدقه دی، زه د الله ﷻ نه د ثواب امید لرم، "وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللهِ تَعَالَىٰ، فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللهِ حَيْثُ أَرَاكَ اللهُ" او دا به د الله ﷻ سره ذخیره وي، یارسول الله ﷺ! دا مال خرچ کړئ په کوم ځای کې چې ستاسو خوښه وي او په کوم ځای کې چې یې تاسو ته الله ﷻ ښیي، "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: بَخٍ! ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ، ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ" نبي اکرم ﷺ وفرمایل: واه واه! دا خو ډېر زیات ګټور مال دی، دا خو ډېر زیات ګټور مال دی، "وَقَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ، وَإِنِّي أَرَىٰ أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْأَقْرَبِينَ" نبي اکرم ﷺ وفرمایل: اې ابو طلحه رضی الله عنه! تا چې څه وویل، ما واورېدل، خو زه غواړم چې دا مال په خپلوانو تقسیم کړې! "فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ: أَفْعَلُ يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَسَمَهَا أَبُو طَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ، وَبَنِي عَمِّهِ" نو ابو طلحه رضی الله عنه وویل: یا رسول الله ﷺ! همداسې به وکړم څنګه چې تاسو وایئ، بیا ابو طلحه رضی الله عنه هغه مال په خپلوانو او د تره په زامنو کې تقسیم کړو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"قوله ﷺ: مَالٌ رَابِحٌ: رُوِيَ فِي الصَّحِيحَيْنِ "رَابِحٌ وَرَايِحٌ": بِالْبَاءِ الْمُوَحَّدَةِ وَبِالْيَاءِ الْمُثَنَّاةِ، أَيْ: رَايِحٌ عَلَيْكَ نَفْعُهُ" دا قول د رسول الله ﷺ چې (مال رابح) په صحیحنو کې هم په دې الفاظو (رابح او رایح) سره روایت شوی دی، په "ب" موحده او "ي" مثناة سره، ددې معنی ده: ګټه به یې تاته رسیږي، "وَبَيْرَحَاءُ: حَدِيقَةُ نَخْلٍ، وَرُوِيَ بِكَسْرِ الْبَاءِ وَفَتْحِهَا" د بیرحاء معنی ده: د خورما باغ، دا روایت په کسرې او فتحې د "ب" سره نقل شوی دی.

د صحابه کرامو رضی الله عنهم دیني جذبه:

تشریح: په دې حدیث کې د دیني جذبې او کامل ایمان ذکر دی، د صحابه کرامو په زړونو کې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ اطاعت او د قیامت په ورځ د اوچتو درجو حاصلېدو لپاره جذبې وې چې صرف د یو آیت په اورېدو سره ابوطلحه رضی الله عنه سمدلاسه محبوب باغ د الله ﷻ په لار کې وقف کړو. دا کار یوازې ابو طلحه رضی الله عنه نه دی کړی، بلکې ددې آیت د نزول وروسته چې د کوم صحابي سره خوښ مال ؤ، هغه به یې د الله ﷻ په لار کې وقف کړو.

مثلاً: عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمایي: کله چې ماته ددې آیت د نازلېدو معلومات وشو، نو په ټولو هغو شیانو مې فکر وکړو چې الله ﷻ ماته راکړي وو، ما په دې ټولو شیانو کې وکتل، ماته زیات خوښ مال زما وینزه وه چې زیاته راته ګرانه وه، د هغې نوم مرجانه وه، هغه مې سمدستي آزاده کړه، ددې نه وروسته ما د هغې سره نکاح هم کولی شوه، خو نکاح مې هم خوښه نه کړه، هغه مې د خپل غلام نافع رحمه الله سره په نکاح کړه.

دغه شان عمر ﷺ ابو موسى اشعري ﷺ ته يو خط ولېږلو چې په جلولاء (ځاى) كې كومه ښځه وينځه وې ماته يې واخله؛ كله چې هغه وينځه عمر ﷺ ته راغله، نو هغه ددې آيت په اوريدو سره سمدستي آزاده كړه

دغه شان د زيد بن حارثه ﷺ يوه اسپه وه چې زياته ورته ګرانه وه، كله چې دا آيت نازل شو، نو هغه سمدستي اسپه د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضره كړه او هغه قبوله كړه، اسامه ﷺ ته يې وركړه، دغه شان عبد الله بن عمر ﷺ په غريبانانو باندې چيني بوره تقسيمول، يو خادم يې ورته وويل صيب! كه ددې په ځاى ډودى وركړې، نو ډېره به ښه نه وي؟ عبد الله ﷺ وفرمايل چې د الله ﷻ ارشاد دى "لن تنالوا البرحتى تنفقوا مما تحبون" ما ته بوره زياته خوښه ده، نو ځكه يې زه د الله ﷻ په لار كې تقسيموم، دغه شان نورې واقعې هم دي چې د اوږدوالي له وېرې يې دلته نه شو ليكلى

باب وجوب أمره أهله وأولاده المميزين وسائر من في رعيته بطاعة الله تعالى ونهيهم عن المخالفة وتأديبهم ومنعهم من إرتكاب مَنْهِيٍّ عَنْهُ

خپلې كورنۍ او خپلوانو ته د الله ﷻ د اطاعت حكم كول او په دوى كې هر يو ته ادب ښودل او د منع شويو شيانو نه د منع بيان

"قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ" خپل كوروالا ته د لمانځه حكم كوه؛ "وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا" او خپله هم پرې پابند او سېږه؛ [طه:۳۲]

تشريح: أهلك: د اهل نه مراد ښځه، بچي او نژدې خپلوان دي، ځينې ترې قوم مراد اخلي، د ځينو په نزد په ټوم مسلمان ترې مراد دى، د كومو نه چې ماحول او معاشره جوړېږي، كله چې دا آيت نازل شو، نو رسول الله ﷺ به هره ورځ د سهار لمانځه لپاره د علي ﷺ او فاطمې ﷺ كور ته تشريف وړلو، اواز به يې كولو چې: "الصلوة الصلوة" دغه شان صاحب قرطبي ﷫ ليكلي دي چې كله به د عروه بن زبير ﷺ نظر د مالداره خلكو په دولت پرېوتلو؛ نو سمدلاسه به كور ته لاړو، كور والا ته به يې د لمانځه دعوت وركولو او بيا به يې دغه پورتنى آيت تلاوت كړو، دغه شان كله چې به عمر فاروق ﷺ د شپې تهجدو لمانځه لپاره پاڅېدلو، نو خپل كوروالا به يې هم پاڅول او دغه آيت به يې ورته تلاوت كړو

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا" اې هغو كسانو چې ايمان مو راوړى دى، ځانونه او خپل كور والا د جهنم د اور نه بچ كړئ؛ [التحريم:۶]

تشريح: ددې آيت د نزول وروسته صحابه كرامو ﷺ عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ! موږ څرنګه كولى شو چې خپل كوروالا د جهنم د عذابه خلاص كړو؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: دوى ته د داسې كارونو حكم كوئ چې الله ﷻ پرې خوشحالېږي او د داسې كارونو څخه يې منع كوئ چې الله ﷻ منع كړي دي، علي ﷺ د نبي كريم ﷺ نه ددې آيت په باره كې پوښتنه وكړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل

خپل کور والاته د خير خبرو دعوت ورکوئ، مفتي محمد شفيع رحمه الله فرمايي: ددې آيت نه ثابته شوه چې په هر سړي باندې فرض دي چې خپل کور والاته د شرعي حکمونو، حلالو او حرامو تعليم ورکړي او بيا په دې باندې د عمل کوشش هم وکړي.

موږ صدقې نه خورو

"عن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: أخذ الحسن بن علي رضي الله عنهما تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ فَجَعَلَهَا في فِيهِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې حسن رضي الله عنه د علي رضي الله عنه زوی د صدقې يوه خورما راواخيسته او په خوله کې يې واچول، "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: كِخْ كِخْ، إِرْمِ بِهَا" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل (کخ کخ) دا کار مه کوه، دا خورما وغورځوه؛ "أَمَا عَلِمْتَ أنَّا لاَ نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ!؟" ته معلومه نه ده چې موږ د صدقې مال نه خورو؟ مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"وفي رواية: أنَّا لاَ تَحِلُّ لَنَا الصَّدَقَةُ" په بل روايت کې دي: زموږ لپاره صدقې خوړل جائز نه دي

"وقوله: كِخْ كِخْ، يقال: بإسكان الخاء، ويقال: بكسرها مَعَ التنوين" دا قول چې (کخ کخ) په سکون د "خ" او په کسرې د تنوين سره ويل کيږي، "وهي كلمة زجر للصبي عن المستقذرات، وكان الحسن رضي الله عنه صبياً" دا د زجر او منع کولو کلمه ده چې د ماشوم لپاره ويل کيږي، ددې لپاره چې د يو کار څخه منع شي او حسن رضي الله عنه دغه وخت ماشوم وو.

لغوي تحقيق: لاتحل: "حل حلولاً" عليه أمر الله" د الله جل جلاله حکم واجب کېدل، کوم شی حلالېدل.

تشريح "كخ كخ: إرم بها" دا لفظ د (کخ) هغه مهال ويل کيږي چې يو ماشوم په خوله کې داسې شی واچوي چې هغه ماشوم ته تاوان کوي، کخ معنی ده: وغورځوه؛ "أما علمت أنا لا نأكل الصدقة" ته پته نشته چې موږ د صدقې مال نه خورو، د نه خوړلو وجه په يو بل روايت کې شته: "أوساخ أموال الناس" دا د خلکو د مالونو خيرې وي

د ماشوم تربيت بايد په ماشوموالي کې سم وشي:

"أما علمت" دا جمله هغه وخت استعمالېږي چې مخاطب د يو واضح امر مخالفت کوي، برابره خبره ده چې مخاطب ددې واضح امر څخه بې خبره ولې نه وي، يعنې دا امر د دومره وضاحت باوجود ستا څخه پټ دی او ته ددېنه بې خبره يې، ددې نه معلومه شوه چې د مور پلار په ذمه واري کې دا خبره داخله ده چې د ماشوموالي نه د خپلو بچيانو تعليم او تربيه شروع کړي او د غلطو کارونو څخه يې منع کړي.

د بنوهاشم نه پنځه کورنۍ مراد دي:

"لاتحل لنا الصدقة" موږ ته صدقه خوړل جائز نه دي، دلفظ د (لنا) نه مراد بنو هاشم دي، په دې کې پنځه قسمه خلک داخل دي: (۱) بنو هاشم، (۲) د جعفر رضي الله عنه اولاد، (۳) د عقيل رضي الله عنه اولاد، (۴) د عباس رضي الله عنه اولاد، (۵) او د حارث بن عبد المطلب اولاد، دوی ټولو ته زکات اخيستل جائز نه دي.

بسم الله ووایه او خپل طرفنه خوراك كوه !

"وعن أبي حفص عمر بن أبي سلمة عبد الله بن عبد الأسد ربيب رسول الله ﷺ، قال: كُنْتُ غُلاَماً فِي حِجرِ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ" د ابو حفص عمر بن ابي سلمه عبد الله بن عبد الاسد ؓ نه روايت دی چې د رسول الله ﷺ پرکتی وو او د ام سلمه ؓ زوی وو، فرمايي چې زه ماشوم وم، د رسول په پالنه کې وم او زما لاس په کاسه کې د خوراك لپاره اخوا دېخوا گرځېدلو، "فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ: يَا غُلاَمُ، سَمِّ اللهَ تَعَالَى، وَكُلْ بِيَمِينِكَ، وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ" نبي اکرم ﷺ راته وفرمايل: اې ماشومه! د الله ﷻ نوم واخله او په ښي لاس سره خوراك كوه او د هغه طرف نه خوراك كوه كوم چې تاته نژدې وي، "فَمَا زَالَتْ تِلْكَ طِعْمَتِي بَعْدُ" هغه فرمايي ددې نه پس به زما د خوراك دغه طريقه همدغه وه. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"وَتَطِيشُ: تدور في نواحي الصحفة" د تطيش معنى ده: چې د خوراك لپاره په كاسه كې لاس اخوا دېخوا وړل راوړل.

لغوي تحقيق:

تطيش: "طاش طيشاً" ددې لغوي معنى ده: عقل ختمېدل، غشى په نخښه نه لگېدل، د عقل د كمزورى له امله په يوه خبره نه پوهېدل. دلته يې معنى ده: لاس په كاسه كې تاوېدل او راتاوېدل.

تشريح "ياغلام" دلته هم رسول الله ﷺ وفرمايل: "يا غلام" معلومه شوه چې ماشوم ته بايد د ماشوموالي څخه تعليم او ښكلې تربيه وركړل شي.

د بسم الله ويلو حكم:

"بسم الله" ويل سنت دي، د څينو په نزد مستحب ده، لكه څرنگه چې په بل روايت كې راځي "إذا أكل أحدكم طعاماً فليقل بسم الله فإن نسي في أوله فليقل بسم الله في أوله وآخره" كله چې په تاسو كې خوراك شروع كړي، بايد بسم الله په سر كې ووايي، كه په سر كې ترې هېره شي، نو بيا دې داسې ووايي چې: "بسم الله اوله وآخره" د بسم الله ويلو سره په ډوډى كې بركت راځي او شيطان ملعون منډې وهي، علماء فرمايي چې بايد پوره "بسم الله الرحمن الرحيم" ووايي او كه صرف بسم الله ووايي نو هم كافي ده.

خوراك په ښي لاس پكار دى:

"وكل بيمينك" په ښي لاس خوراك كوه! د اكثره علماوو په نزد (كل) صيغه د امر ده او امر د وجوب لپاره وي، په بل حديث كې دي چې: "إذا أكل أحدكم فليأكل بيمينه وإذا شرب فليشرب بيمينه فإن الشيطان يأكل بشماله ويشرب بشماله" كله چې په تاسو كې څوك خوراك كول غواړي، نو هغه دې په ښي لاس خوراك كوي او چې اوبه څښي؛ نو په ښي لاس دې اوبه څښي، ځكه چې شيطان په چپ لاس خوراك كوي او په چپ لاس اوبه څښي.

يوه عبرتناکه واقعه:

يوه واقعه نقل شوې ده چې يو کس د رسول الله ﷺ په وړاندې په چپ لاس خوراک کولو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل په ښي لاس خوراک کوه؛ هغه انکار وکړو، وې ويل زه په ښي لاس خوراک نه شم کولی، رسول الله ﷺ د بد دعا په توګه وفرمايل آئنده هم په ښي لاس خوراک ونه کړې. روايت دی چې دغه سړي بيا خپل ښی لاس خولې ته نږدې نه کړو، مطلب دا چې لاس يې شل شو، په بل روايت کې دي چې يوې ښځې په چپ لاس خوراک کولو، نو رسول الله ﷺ ورته بد دعا وکړه، هغه ښځه د طاعون په مرض مړه شوه.

خپل مخامخ ځای ځخه خوراک کوه!

"کل مايليك" حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي که مخې ته يو قسم خوراک وي، نو بيا به خپل طرف ته خوراک کوې، که ګڼ شمېر خوراکونه مخې ته پراته وي، بيا د خپلې خوښې خوراک د بل ځای نه خوړل هم د حديثو ځخه ثابت دي، د خپل وړاندې ځای نه خوراک کولو وجه په حديث کې ذکر ده چې د خوراک په مينځ کې برکت نازليږي، مينځنی حصه بايد تر آخره پورې پاتې شي، ددې لپاره چې د برکت نزول تر آخره پورې وي.

د راوي عمرو بن ابي سلمه رضي الله عنه مختصر حالات:

دا د ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها زوی دی چې د لومړي خاوند ابو سلمه ځخه پيدا شوی وو، د هجرت نه دوه کاله وړاندې پيدا شوی وو، هغه وخت چې ابو سلمه او ام سلمه رضي الله عنهما په حبشه کې اوسېدل په خپلو وړونو کې تر ټولو مشر وو، کله چې د رسول الله ﷺ نکاح د ام سلمه رضي الله عنها سره وشوه، نو دی په دغه وخت کې ماشوم وو، ددې نه وروسته هغه د رسول الله ﷺ په پرورش کې راغلو، هغه د رسول الله ﷺ او خپلې مور ام سلمه رضي الله عنها ځخه روايتونه نقل کوي.

هر کس د حاکم ماتحت دی

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: سمعت رَسُولَ اللهِ ﷺ، يقول: كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي، فرمايل يې هر سړی چې په تاسو کې راعي (شپونکی نګران او ذمه وار) شي، د هر مشر ځخه به د ماتحتو په باره کې پوښتنه کيږي "الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" امام يعني حاکم ذمه وار دی او د هغه نه به د ماتحتو په باره کې پوښتنه کيږي، "وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" او سړی شپونکی دی او دده ځخه به يې د کورنۍ په باره کې پوښتنه کيږي، "وَالمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْؤُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا" او ښځه هم شپونکی ده د خپل خاوند د کور په باره کې او ددې نه به هم د خپلو ماتحتو په باره کې پوښتنه کيږي. "وَالخَادِمُ رَاعٍ فِي مَالِ سَيِّدِهِ وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" او خادم هم شپونکی دی، د خپل مشر د مال په باره کې به ترې پوښتنه کيږي، "فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" غرض دا چې په تاسو کې هر يو کس شپونکی دی او ستاسو هر يو ځخه به د خپلو ماتحتو په باره کې پوښتنه کولی شي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

مسؤول: "سال سؤالاً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: غوښتل، که "المسؤلية" شي، نو معنی يې ده: ذمه واري.

تشريح ددې حديث پوره تشريح په حديث دوه سوه پنځه اتيا (۲۸۵) کې تېره شوې ده

داوه/۷ کالو په عمر کې په ماشوم لمونځ شروع کړئ!

"وعن عمرو بن شعيب، عن أبيه، عن جده ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ" د عمرو بن شعيب نه روايت دی هغه يې د خپل پلار نه روايت کوي هغه يې د خپل نيکه نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خپلو بچيانو ته د لمانځه حکم کوئ، کله چې هغوی د اوه ۷ کالو شي، "وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا، وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ" او کله چې د لسو کالو شي او بيا هم لمونځ نه کوي، نو بيا يې ووهئ! "وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ" او په لسم کال د هغوی کټونه او بسترې سره جدا کړئ! حديث حسن رواه أبوداود بإسناد حسن دا حديث حسن دی، امام ابوداود په حسن سند سره روايت کړی

لغوي تحقيق:

مروا: "أمر أمراً وإمارةً" ددې معنی ده: حکم ورکول، که امارةً شي، نو بيا يې معنی ده: مشري او اميري کول.

تشريح "مروا أولادکم بالصلوة" خپلو بچيانو ته په لمانځه سره امر وکړئ، که يو طرفته په دې جمله کې د لمانځه اهميت معلومېږي چې بايد د اوه کالو نه په ماشوم لمونځ شروع کړي، نو بل طرفته دا هم معلومېږي چې بايد ماشوم د ماشومـوالي نه دين ښودنه شروع کړي، هغه ته تنبيه ورکړي، ځکه چې د ماشوموالي د علم په باره کې مشهوره ده چې: "العلم في الصغر کالنقش على الحجر" هغه علم چې په ماشوموالي کې زده شي، په ذهن کې داسې پاتې کېږي لکه په کاڼي چې کرښه وشي، لکه يو شاعر وايي:

والطفل يحفظ ما يلقى والا .... ينساه إذ قلبه کالجوهر الصافي

ترجمه: ماشوم هره هغه خبره يادوي چې د هغه په وړاندې وشي او هغه بېخې نه هېروي، د هغه زړه د صفا جوهر په څېر وي.

"بالصلوة" لمونځ ورته وښيئ، علماء فرمايي چې صرف يو لمونځ نه! بلکې د دين نور احکام، لکه: روژه اخلاق وغيره ددې تعليم هم بايد ورته وشي او ددې عادت يې جوړ شي. "واضربوهم عليها وهم ابناء عشر" او د لسو کالو په عمر کې هغوی ووهئ کله چې په لمونځ کې سستي کوي، علماء فرمايي چې د تهذيب او تربيت په خاطر ماشوم ته مناسبه سزا ورکول پکار ده.

د ماشومانو بسترې جدا کړئ !

"وفرقوا بينهم في المضاجع" او د دوی بسترې سره جدا کړئ: يعنې کله چې دوی د لسو کالو شي نو د دوی بسترې سره جدا کړئ: ځانته به يې په جدا کټ کې څملوئ: اګر چې دوی سکنې خويندې او وروڼه وي.

علامه طيبي رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې يو طرفته د لمانځه حکم دی، بل طرفته د بسترو جدا کولو حکم دی، اشاره ده دې خبرې ته چې لمونځ په حقوق الله کې راځي او بسترې جدا کول په حقوق العباد کې راځي، دغه شان په دوه جملو کې ماشومانو ته د پوره دين تربيت ورکولو حکم وشو.

د راوي عمرو بن شعيب رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عمرو، د شعيب بن محمد بن عبد الله بن عمرو بن العاص زوی وو، هغه عموماً د خپل پلار او سعيد بن المسيب رضي الله عنه نه روايت نقل کوي، د حديثو په کتابونو کې دا سند په کثرت سره موندل کيږي، په (ابيه) کې ضمير عمرو ته راجع دی او د (ابيه) مصداق شعيب دی، د (جده) په ضمير کې دوه احتماله دي: اول دا چې د دې مرجع عمرو دی چې مصداق يې محمد دی، يعنې شعيب د عمرو نيکه محمد نه روايت کوي، دويم احتمال دا دی چې: د (جده) مرجع ابيه دی، اوس د (جده) مصداق عبد الله بن عمرو شو چې د شعيب نيکه دی، مطلب دا شو چې شعيب د خپل نيکه عبد الله نه روايت کوي، د دې احتمالاتو په بنسټ په سند کې هم اختلاف پيدا شو چې ايا دا سند قابل د احتجاج دی او که نه، صحيح خبره دا ده چې دا سند قابل د احتجاج دی، او د حسن په درجه کې دی، اصحاب السنن او امام احمد وغيره محدثينو دا سند قبول کړی دی.

ماشومانو ته لمونځ وښيئ !

"وعن أبي ثُرَيَّةَ سَبْرَةَ بن مَعبدٍ الجُهَنِيِّ رضي الله عنه، قال: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" د ابو ثريه سبرة بن معبد جهني رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "عَلِّمُوا الصَّبِيَّ الصَّلَاةَ لِسَبْعِ سِنِينَ" په ماشومانو باندې لمونځ زده کړئ، کله چې هغوی د اوه ۷ کالو شي، "وَاضْرِبُوهُ عَلَيْهَا ابْنَ عَشْرِ سِنِينَ" او کله چې د لسو کالو شي او لمونځ نه کوي، نو بيا يې پرې ووهئ: "حديث حسن رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن" دا حديث حسن دی، امام ابوداود او ترمذي روايت کړی دی او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن دی، "ولفظ أبي داود: مُرُوا الصَّبِيَّ بِالصَّلَاةِ إِذَا بَلَغَ سَبْعَ سِنِينَ" او د ابوداود الفاظ دا دي خپلو بچيانو ته د لمانځه حکم کوئ کله چې د اوه ۷ کالو شي

لغوي تحقيق:

علموا: "علموه تعليماً وعلاماً لصنعة غيرها" باب سمع يسمع دی، د دې معنی ده: پوهېدل، مقصد ته رسېدل، حقيقت ته رسېدل

تشريح "علموا الصبي" په اولنې روايت کې لفظ د (مروا) دی او دلته لفظ د (علموا) دی، محدثين

فرمايي چې دلته مخاطب سرپرست، مشر او پوه سړی دی، ماشوم نه دی. څکه شريعت په مختلفو عنوانانو سره بچيانو ته د تربيت ورکولو طريقې وښودلې. "الصبي" علامه نووي رحمه الله فرمايي مراد صرف ماشوم نه دی، بلکې ماشومه هم په دې حکم کې داخله ده. "واضربوه عليها عشر سنين" په څينو رواياتو کې لفظ د "ثلاثة عشر" راغلی دی، ليکن "عشر سنين" په کثرت سره راغلی دی، څکه علماء لس کلنی والاقول ته ترجيح ورکوي

ماشومانوته دعاګانې پکاردي:

د ظاهري تربيت سره سره علماء فرمايي چې بايد سړی خپلو ماشومانو ته د دعاګانو اهتمام هم وکړي، لکه څرنګه چې دا زموږ د مشرانو او اسلافو طريقه وه، عباس بن عبد المطلب خپل ماشوم تميم ته وفرمايل چې:

تموا بتم فصار واعشرة .... يارب واجعلهم كراماً بررة

د تميم په واسطه دوی پوره کسان شو، اې الله! دوی ټول ښه او شريف خلك جوړ کړې "يا رب زكهم وتم الثمرة" اې الله! د دوی تزکيه وکړې او ميوه يې زياته کړې

د راوي ابوثريه سبرة بن معبد رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې سبرة رضي الله عنه دی، ابو ربيع يا ابو ثريه يې کنيت دی، د پلار نوم يې معبد دی. د اسلام په اړه يې مؤرخينو په پوره يقين سره داسې خبره نه ده ليکلې، البته د قرائنو نه معلوميږي چې په پنځمه هجري کې مسلمان شوی و، څکه چې په خندق کې يې شرکت کړی و، د مکې په فتحه کې د رسول الله ﷺ سره وو، فرمايي چې مکې ته د داخلېدو نه وړاندې يې د متعې اجازت ورکړو، ليکن کله چې بيرته بهر راووتلو، نو بيا يې منع وفرمايل، په حجة الوداع کې شريك شوی دی، په مدينه منوره کې اوسېدلو، کوټه او د اوسېدو ځای يې د مدينې منورې په جهينه محله کې وه، د ژوند په آخري سلګيو کې ذي المروه ته منتقل شو.

وفات د امير معاويه رضي الله عنه په زمانه کې وفات شو.

مرويات ټولس/ ۱۹ حديثونه ترې نقل دي، په دې کې يو حديث په مسلم کې دی او باقي يې د سنن په کتابونو کې دي.

باب حق الجار والوصية بِهِ

د ګاونډي حق

"قَالَ اللّٰـهُ تَعَالَىٰ" الله جل جلاله فرمايي "وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً" او د خپل رب عبادت کوئ، هيڅوك ورسره شريك مه جوړوئ "وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ" د مور پلار، خپلوانو، د يتيمانو، مسکينانو او نږدې ګاونډيانو سره، "وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ

أَيمانُكُمْ" او د لرې ګاونډيانو سره او په څنګ کې درسره ناست ملګري او د مسافرو او د هغو غلامانو چې ستاسو ښي لاسونه يې مالکان شوي. ددې ټولو سره ښه سلوك او ښه رويه ساتئ" [النساء:۳۶]

تشريح "واعبدوا الله" د الله ﷻ عبادت کوئ، د عبادت معنى ده د خپلې عاجزۍ او کمزورۍ اظهار کول. "ولاتشركوا به شيئاً" يو ځل رسول الله ﷺ معاذ رضی الله عنه ته وفرمايل اې معاذ! تاته پته ده چې د الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې څه حق دی؟ د معاذ رضی الله عنه په غوښتنه رسول الله ﷺ وفرمايل د الله ﷻ په خپلو بندګانو دا حق دی چې دوی د الله ﷻ سره شريك جوړ نه کړي

"وبالوالدين إحساناً" د مور پلار سره ښه کوئ! په ګڼ شمېر روايتونو کې د مور پلار سره د ښه سلوك حکم شوی دی، په يو روايت کې راغلي دي چې د الله ﷻ رضا او خوشحالي د پلار په خوشحالۍ کې پټه ده، د الله ﷻ نارضائيت د پلار په ناراضتيا کې پټ دی

"واليتامى والمساكين" د يتيمانو او مسکينانو سره ښه سلوك کوئ! نبي کريم ﷺ وفرمايل د يتيم سرپرستي کوونکی او زه به د قيامت په ورځ يو ځای يو، نبي کريم ﷺ په خپله شهادت او مينځنۍ ګوتې سره اشاره وکړه، "والجارذي القربى" د خپلوانو او ګاونډيانو سره ښه سلوك کوئ! "والجار الجنب" د لرې ګاونډيانو سره ښه سلوك کوئ، ځينو مفسرينو ليکلي دي چې "جار ذي القربى" نه مراد هغه ګاونډيان دي چې د کور سره نژدې وي او "الجار الجنب" نه مراد هغه ګاونډيان دي چې ستا د کور نه لرې وي، په دې کې د ابن عباس رضی الله عنهما دويم قول دی، فرمايي چې "جارذي القربى" نه مراد مسلمان ګاونډی دی او د "جار الجنب" نه مراد غير مسلم کافر ګاونډی دی

"والصاحب بالجنب" په څنګ کې درسره ناست ملګرې، دا بياعام دی، که د لږ وخت لپاره درسره ناست وي او که د ډېر وخت لپاره درسره ناست وي، په دې کې ټول داخل دي، مثلاً په جهاز کې درسره ناست وي، که په بس او موټر کې درسره ناست وي يا ريل ګاډي کې درسره ناست وي، ددې ټولو سره ښه سلوك پکار دی

"وابن السبيل" مسافر چې هر ډول مسافر وي، د هغه سره بايد ښه سلوك وشي، "وماملكت أيمانكم" ددې نه مراد وينځې او غلامان دي، په دې کې نوکران، ملازمين او مزدور کار ټول شامل دي، مطلب دا چې دغو ټولو ته په وخت تنخوا ورکول پکار دي او د طاقت نه زيات بوج پرې اچول پکار نه دي

جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام به د ګاونډي په حق کې زيات تاکيد فرمايلو

"وعن ابن عمر وعائشة رضى الله عنهما قالا: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ" د عائشې رضی الله عنها روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل جبرئيل عليه السلام به ماته د ګاونډيانو په باره کې زيات وصيتونه کول. "حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ" تردې چې زما ګومان پيدا شو چې کېدی شي ګاونډی زمونږ سره په ميراث کې شريك شي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

سيورثه: "ورث ميراثاً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده ميراث وړل، وارث جوړېدل

تشريح "ما زال جبرائيل عليه السلام" په دې جمله کې کثرت ته اشاره ده، په لفظ جبرئيل عليه السلام سره اشاره ده دې خبرې ته چې دا حکم د الله جل جلاله له طرفه وو.

"بالجار حتی ظننت أنه سيورثه" د ګاونډي په باره کې زما دا خيال پيدا شو چې هغه به وارث جوړېږي.

علماوو ليکلي دي چې لفظ د (جار) اطلاق په کافر او مسلمان، نېک او فاسق، دوست او دښمن ټولو باندې کيږي، په ابن ماجه کې يو روايت دی، د ابن عمر رضي الله عنهما په کور کې يوه چيلی ذبحه شوه، نو هغه څو څو ځله په تاکيد سره وفرمايل: يهودي ګاونډي ته يکې څه ورکړئ! "سيورثه" څو څو ځله يې په تاکيد سره د ګاونډي په حق کې زيات حکمونه بيان کړل، اوس دومره پاتې وو چې ګاونډی په ميراث کې شريک شي، په هره ممکنه طريقه د هغه د احسان او نېکی تاکيد راغلی دی.

ګاونډي ته د ډالۍ ورکولو تاکيد

"وعن أبي ذر رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: يَا أَبَا ذَرٍّ، إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً، فَأَكْثِرْ مَاءَهَا" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل: اې ابوذر رضي الله عنه! کله چې ته شوروا پخه کړې، نو اوبه يکې زياتې کړه "وَتَعَاهَدْ جِيرَانَكَ" او د ګاونډيانو خيال پکې وساته! رواه مسلم.

"وفي رواية له عن أبي ذر قال: إن خليلي ﷺ أَوْصَانِي: إِذَا طَبَخْتَ مَرَقاً فَأَكْثِرْ مَاءَهَا" د ابو ذر رضي الله عنه په بل روايت کې دي، فرمايي چې زما ملګري رسول الله ﷺ ماته وصيت وکړو چې کله ته شوروا پخه کړې؛ نو په هغې کې اوبه زياتې کړه: "ثُمَّ انْظُرْ أَهْلَ بَيْتٍ مِنْ جِيرَانِكَ، فَأَصِبْهُمْ مِنْهَا بِمَعْرُوفٍ" بيا د خپلو ګاونډيانو خيال ساته، هغوی ته يې په ښه شان سره ورلېږه!

لغوي تحقيق:

تعاهد: ددې معنی ده: امر کول، حفاظت کول، امر منل.

فأصبهم: "أصاب السهم" په نخښه باندې غشی لګېدل.

شوروا زياته کړه او ګاونډيانو ته يې ورکړه!

"يا أبا ذر إذا طبخت مرقة" اې ابوذر رضي الله عنه! کله چې شوروا پخوې، نو اوبه يې زياتې کړه! معلومه شوه چې ګاونډيانو ته پکار دي چې په خپلو کې يو بل ته ډالۍ ولېږي، که نور څه نه شي کولی، نو دومره خو کولی شي چې څه يې باندې کړي وي، په هغې کې اوبه زياتې کړي، تر څو شوروا يې زياته شي. هغوی ته به شوروا ورولېږي، ګاونډی که مسلمان وي او که کافر وي، بيا هم صله رحمي پکار ده.

هغه کس مسلمان نه دی چې ګاونډی ترې تکليف وي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أن النبي ﷺ قَالَ: وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ، وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ، وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ!" د ابو هريره رضي الله عنه روايت

دی. فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم په الله! هغه کس مومن نه دی قسم په الله هغه کس مومن نه دی. قسم په الله! هغه کس مؤمن نه دی! "قِيلَ: مَنْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟" يو کس وويل: يا رسول الله ﷺ څوک؟ "قَالَ: اَلَّذِي لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ!" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: هغه کس مومن نه دی چې ګاونډيان يې د شر څخه په امن کې نه وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"وفي رواية لمسلم: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ" او د مسلم په روايت کې دي چې هغه کس به جنت ته داخل نه شي د کوم کس د شر څخه چې ګاونډيان محفوظ نه وي. "اَلْبَوَائِقُ اَلْغَوَائِلُ وَالشُّرُورُ" دا بوائق معنى ده: دوکه او شر فساد کول

لغوي تحقيق:

بوائقه: د "بائقة" جمع ده، ددې معنى ده: شر او فساد، جنګ جګړې کول

تشريح: "الذى لايؤمن جاره بوائقه" هغه چې دده د لاسه ګاونډي ته تکليف رسيږي، محدثين فرمايي چې اعلى درجه دا ده چې په يو روايت کې هم ذکر دي: "فليكرم جاره: يا: فليحسن الى جاره" چې د ګاونډيانو احترام وساتي. يا د هغه سره احسان وکړي او که دا اعلى درجه نېکي نه شي کولی. نو بيا خو کمه درجه حاصلولی شي. هغه دا چې په ګاونډيانو ظلم مه کوئ، د هغوی سره شرارتونه مه کوئ. "لايدخل الجنة" ددې نه معلومه شوه چې ګاونډيانو ته تکليف رسول دومره لويه ګناه ده چې ددې په وجه انسان د جنت نه محروميږي.

يو ګاونډی دې د بل ګاونډي ډالۍ سپکه نه ګڼي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ، لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا" د ابو هريره ﷺ روايت دی. فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې مسلمانانو ښځو! په تاسو کې دې يوه ګاونډۍ ښځه بله ګاونډۍ سپکه نه ګڼي چې هغې ته څه په تحفه کې ورولېږي او هغه يې سپک وګڼي. "وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ" اګر چې دا ډالۍ: پسه د ښېنګرې په شان وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

تشريح: "يا نساء المسلمات" په اصل کې عبارت داسې دی: "يا أيها النساء المسلمات" په بل روايت کې دي: "يا نساء المؤمنين، لاتحقرن جارة لجارتها" يوه ګاونډۍ دې د بلې ګاونډۍ ډالۍ سپکه نه ګڼي، ددې حديث نه معلومه شوه چې ګاونډي ته وخت په وخت هديې او ډالۍ لېږل پکار دي، مالدار سړی به يې د خپل حيثيت مطابق لېږي او غريب سړی به يې د خپل حيثيت مطابق لېږي. که غريب يې: نو دا غم مه کوه چې څه ورولېږم، د مبالغې په طور فرمايي چې که د پسه ښکه، د ښېنګرې په اندازه ولې نه وي، محدثين فرمايي چې که يو طرفته په حديث کې ددې خبرې ترغيب دی چې هرڅه وي لېږل يې پکار دي: نو بل طرفته ددې خبرې ترغيب هم دی چې هر څه وي، قبلول يې پکار دي. انکار يې پکار نه دی.

په حديث کې ولې يوازې ښځوته خطاب وشو؟

"يانساء المسلمات" اې مسلمانانو ښځو!

دا ځکه چې په ښځوکې عمومي طور عادت دا وي چې هغوی هديې او ډالۍ سپکې ګڼي. تحفه چې معمولي کمزورې وي، نو دا به خبرې شروع کړي، په بل روايت کې دي چې "يا نساء المومنين" اې د مسلمانانو ښځو!

"ولوفرسن شاة" اې مسلمانانو ښځو! يوې بلې ته هديه لېږئ! اګر چې د چيلۍ د ښنګرې په شان وي

يو ګاونډی دې بل ګاونډی د لرګي ښخولو څخه نه منع کوي

"وعنه: أن رسول الله ﷺ، قال: لَا يَمْنَعْ جَارٌ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَةً فِي جِدَارِهِ" د ابو هريره رضی الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل په تاسو کې دې يو ګاونډی بل ګاونډی ددې څخه نه منع کوي چې هغه خپل لرګی د بل په ديوال ښخ کړي. "ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ: مَا لِي أَرَاكُمْ عَنْهَا مُعْرِضِينَ" بيا به ابو هريره رضی الله عنه فرمايل په تاسو باندې څه چل شوی دی چې تاسو د دې خبرې نه مخ‌ونه اړوئ! "وَاللهِ لَأَرْمِيَنَّ بِهَا بَيْنَ أَكْتَافِكُمْ" قسم په الله! چې زه به دا خبره ستاسو د اوږو ترمنځ وغورځوم، يعنې دا خبره به زه خامخا کوم او تاسو ته به يې اوروم. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"رُوِيَ (خَشَبَهُ) بِالْإِضَافَةِ وَالْجَمْعِ. وَرُوِيَ (خَشَبَةً) بِالتَّنْوِينِ عَلَى الْإِفْرَادِ" دا قول چې خشبه په اضافة سره نقل شوی دی بنا بر جمع او په خشبةً تنوين سره هم نقل شوی دی بنا بر افراد. "وقوله: مَا لِي أَرَاكُمْ عَنْهَا مُعْرِضِينَ: يعني عَنْ هٰذِهِ السُّنَّةِ" او دا قول چې څه شوي دي په تاسو باندې ددې څخه چې اعراض کوئ يعنې ددې سنت څخه مخ‌ونه اړوئ؟

لغوي تحقيق:

ان يغرز: "غرز غرزاً" باب ضرب يضرب دی، معنی يې ده: لرګی ښخول

تشريح "لايمنع جار جاره ان يغرزخشبة في جداره" يو ګاونډی دې بل ګاونډی په ديوال کې د لرګي ښخولو څخه نه منع کوي، "لايمنع جار جاره" دا ځينې حکمونه د استحباب لپاره دي، ځينې علماء فرمايي چې د وجوب لپاره دي، عموماً دغه شان په کلي کې وي چې د دوه ګاونډيانو ترمينځ سيمتي ديوال وي، د دواړو جدا جدا ديوالونه نه وي، په روايت کې ترغيب ورکول شوی چې که د ميخ يا لرګي ښخولو ضرورت په ديوال کې پيدا شي، نو هغه بايد منع نه کړي.

ګاونډي ته تکليف رسول منع دي

"وعنه: أن رسول الله ﷺ، قال: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ" د ابو هريره رضی الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په الله جل جلاله او په ورځ د آخرت ايمان لري. هغه دې

ګاونډيانو ته ضرر نه رسوي، "وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ" او کوم کس چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ايمان لري، هغه دې د خپل مېلمه عزت وکړي، "وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَسْكُتْ" او کوم کس چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ايمان لري، هغه دې د خير خبره کوي او يا دې چوپ شي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

فلايؤذي: "أذى إيذاءً" ضرر او تکليف رسول

څوک چې ګاونډي ته تکليف رسوي، هغه رسول الله ﷺ ته تکليف ورکوي:

"فلايؤذي جاره" ګاونډي ته تکليف مه ورکوئ" د ترغيب په توګه نبي کريم ﷺ وفرمايل چې کوم کس ګاونډي ته تکليف رسوي، هغه ماته تکليف رسوي او چا چې ماته تکليف راکړو، هغه الله ﷻ ته تکليف ورکړو، په دې وجه رسول الله ﷺ په خپلو دعاګانو سره د بد ګاونډي څخه پناه غوښتې ده. "اللهم انی اعوذبك من جار السوء فی دار المقامة" اې الله! زه په تا سره د بد ګاونډي نه پناه غواړم

د مېلمه عزت کوه!

"فليكرم ضيفه" سمره رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم ﷺ به د مېلمه د مېلمستيا حکم فرمايلو، د مېلمه عزت دا دی چې په روڼ تندي او په ښکلي اخلاقو سره به د هغه مېلمه پالنه کوي، په يو بل روايت کې دي چې بايد په مخه ښه لپاره د مېلمه سره د کور تر دروازې پورې لاړ شي

ښه خبره کوه او يا چوپ کېنه!

"فليقل خيراً أو ليسكت" يا د خير سمه خبره کوه او يا چوپ کېنه، په بل روايت کې دي چې يو صحابي پوښتنه وکړه چې د جهنم نه د نجات ذريعه څه ده؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل خپله ژبه بنده وساته او زيات وخت په خپل کور کې کېنه او په خپلو ګناهونو ژړا کوه! په بل روايت کې دي چې زيات وخت جهنم ته د داخلېدو ذريعه ژبه او شرمګاه ده.

مؤمن ګاونډي سره ښه سلوک کوه!

"وعن أبي شُرَيْحٍ الخُزَاعِيِّ رضي الله عنه: أن النبي ﷺ، قَالَ: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، فَلْيُحْسِنْ إِلَى جَارِهِ" د ابو شريح خزاعي رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ايمان لري، بايد هغه د ګاونډيانو سره ښه چلند وکړي، "وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ" او کوم کس چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ايمان لري، بايد هغه د مېلمه قدر او عزت وکړي، "وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَسْكُتْ" او کوم کس چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ايمان لري، بايد هغه د خير خبره وکړي او يا چوپ شي، "رواه مسلم بهذا اللفظ، وروى البخاري بعضه" امام مسلم رحمه الله په دې الفاظو سره روايت نقل کړی دی او امام بخاري رحمه الله په ځينو نورو الفاظو سره روايت کړی دی.

د ګاونډيانو حقونه:

تشريح: "من کان يؤمن بالله واليوم الاخر" کوم کس چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ايمان لري، هغه ته پکار ده چې د خپل ګاونډي سره ښه سلوک وکړي، څومره تاکيد وفرمايل شو چې د ګاونډي حق بايد ادا کړل شي، حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې يو روايت نقل کړی ی چې د ګاونډيانو شپږ حقونه دي

د ګاونډيانو شپږ حقونه دي:

چې بيمار شي، پوښتنې ته به ورځي
چې مړ شي، جنازې ته به يې ورځي
که قرض وغواړي، قرض به ورکوي
که جامو ته يې ضرورت شي، نو جامې به ورکوي
که خوشحالي ورباندې راشي، نو تبريکي به ورکوي

که چېرته کوم غم ورباندې راشي؛ نو غمرازي به ورسره کوي، خپل کور به دومره اوچت نه جوړوي چې هوا يې بنده شي، د خپل سالن په واسطه هغه ته تکليف مه رسوه؛ چې ګاونډي ته د سالن بوی ورسيږي، نو بيا هغه ته هم څه ورلېږه.

"فليکرم ضيفه" د مېلمه اکرام کوه؛ مېلمه رحمت وي، د علي رضي الله عنه په باره کې راځي: يو ځل يې ژړل، چا ترې پوښتنه وکړه چې صيب! ولې ژاړې؟ وې ويل: د پوره اوه/ ۷ ورځو راهيسې موږ کره مېلمه نه دی راغلی، وېرېږم چې زما نه خو به الله ﷻ ناراضه نه وي، الله ﷻ خو به زما د اهانت او سپکاوي اراده نه وي کړې.

ښه خبرې وکړه، کنې چوپ کېنه!

"فليقل خيراً أو ليسکت" يا خو دې ښې خبرې کوي او يا دې چوپ کېني، په بل روايت کې دي چې کوم کس خپله ژبه په قابو کې وساتي، الله ﷻ د هغه عيبونه پټوي او کوم کس چې غوسه ونه کړي، داسې کس به الله ﷻ د عذابه وساتي او کوم کس چې د الله ﷻ په دربار کې بخښنه وغواړي، الله ﷻ د هغه عذر قبلوي، د سليمان عليه السلام نه نقل دي چې هغه به فرمايل که خبرې کول سپين زر وي، نو خاموشي او چوپ پاتې کېدل سره زر دي

د کوم ګاونډي دروازه چې درسره نزدې وي، هغه زيات حقدار دی

"وعن عائشة رضى الله عنها، قالت: قلت: يا رسول الله، إن لي جارين، فإلى أيهما أهدي؟" د عائشې رضي الله عنها روايت دی، ما وويل چې يا رسول الله ﷺ! زما دوه ګاونډيان دي، کوم يو ته هديه ورکړم؟ " قال: إلى أقربهما منك باباً" نبي اکرم ﷺ وفرمايل د کوم ګاونډي دروازه چې درسره نزدې وي، هغه ته هديه ورکړه، رواه البخاري

لغوي تحقيق:

أهدي: مضارع أهدى إهداءً إلى فلان كذا ددې معنى ده هديه او ډالۍ لېږل

د ګاونډيتوب حد څومره دی؟

تشريح: د الترغيب والترهيب د يو روايت څخه معلومېږي چې د ګاونډيتوب حد تر څلوېښت کورونو پورې دی. د علامه منذري رحمه الله روايت دی چې يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او وې ويل يا رسول الله ﷺ ما په فلانکي کلي کې قيام کړی دی. کوم ګاونډی چې زما سره ډېر زيات نږدې دی، هغه تر ټولو ماته زيات تکليف راکوي. ابوبکر، عمر او علي رضي الله عنهم يې واستول. هغوی ګاونډي د کور په دروازه ودرېدل او اعلان يې وکړو چې د ګاونډيتوب حد تر څلوېښتو کورونو پورې دی او هغه سړی به جنت ته داخل نه شي چې د چا د لاسه يې ګاونډی پرېشان خپه وي

ددې حديث نه معلومه شوه چې سړي ته پکار ده چې خپل ګاونډي ته هديې او ډالۍ ولېږي. که ددې طاقت يې نه وي چې ټولو ته يې ورکړي، نو چې د کوم ګاونډي دروازه ورسره نږدې وي، هغه ته دې ولېږي، ځکه چې هغه تر ټولو وړاندې دی

تر ټولو غوره ګاونډی هغه دی چې ستا خير غواړي

"وعن عبدالله بن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: خَيْرُ الأَصْحَابِ عِنْدَ اللهِ تَعَالَى خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د الله ﷻ په نزد غوره ملګري هغه کسان دي چې د خپلو ملګرو سره ښه وکړي. "وَخَيْرُ الْجِيرَانِ عِنْدَ اللهِ تَعَالَى خَيْرُهُمْ لِجَارِهِ" او د الله ﷻ په نزد غوره ګاونډيان هغه دي چې د خپلو ګاونډيانو سره ښه سلوک کوي. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن" دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او فرمايي چې دا حديث حسن دی

تشريح: "خيرهم لصاحبه" غوره انسان هغه دی چې د خپل ملګري خير وغواړي. د ملګري خير غوښتل دا دي چې د هغه سره د دين په کارونو کې مرسته کوي. د غلطو کارونو څخه يې ساتي. "وخير الجيران عند الله تعالى خيرهم لجاره" د الله ﷻ په نزد تر ټولو غوره ګاونډی هغه دی چې د بل ګاونډي لپاره خير غواړي. ښه ګاونډی جوړېدل هم نېکمرغي ده. د الترغيب والترهيب په روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل د سړي په نېکمرغۍ کې دا خبره شامله ده چې د هغه کور پراخه وي. ښه ګاونډی ولري. ښه سوارلی ولري. په حديث کې د خير نه مراد د ګاونډي حق ادا کول دي. تفصيل يې په درې سوه ديارلسم حديث کې تېر شو

باب بر الوالدين وصلة الأرحام

د مور پلار او خپلوانو سره ښه سلوک کول

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي "وَاعْبُدُوا اللهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً" د الله ﷻ عبادت وکړئ او هيڅوک ورسره شريك مه جوړوئ او د مور پلار سره ښه سلوك كوئ. "وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى" د خپلوانو - مسكينانو او له نژدې ګاونډيانو سره ښه سلوك كوئ "وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ" او د لرې ګاونډيانو سره ښه سلوك كوئ او په سنګ کې د رسره ناست ملګري سره ښه سلوك كوئ او د مسافرو سره او د غلامانو سره ښه سلوك كوئ [النساء:۳۶]

تشريح: (واتقوا الله) د الله ﷻ څخه ووېرېږئ" د الله ﷻ نه په څکه وېرېږو چې هغه زموږ رب دی، دا څکه چې هغه لوی ذات انسان په ډېر عجيبه انداز سره پيدا کړی دی. د هغه څخه په څکه وېرېږو چې ټول صفات يې کامل دي. هيڅ ډول نقصان او عيب پکې نشته

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: ﴿وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ﴾ او وېرېږئ د هغه الله ﷻ څخه چې تاسو ترې سوالونه کوئ او تاسو د خپلوی خيال وساتئ![النساء:۱]

(الذي تساءلون به) دا الله ﷻ هغه لوی ذات دی چې تاسو د هغه واسطه يو بل ته ورکوئ او سوالونه ترې کوئ: د خپلو حقونو او صله رحمی) مثلاً تاسو وايئ چې د الله ﷻ په خاطر . (والارحام) او خپلوانو سره د رشتې ختمولو نه ځان وساتئ، د (الارحام) لفظ عطف په لفظ الله باندې دی، بيا برابره خبره ده که هغه خپلوان د پلار له طرفه وي او يا که د مور له طرفه وي. ددې ټولو خيال به ساتې، په حديثونو کې د صله رحمی او خپلوی حقوق ادا کولو ډېر زيات تاکيد راغلی دی. وروسته به يې تاسو ووايی. د الارحام نه همدغه صله رحمي مراد دی. (الارحام) د (رحم) جمع ده، په اصل کې بچه دانی ته ويل کيږي. په کوم ځای کې چې د ماشوم پيدايش کيږي، همغه ځای ته رحم ويل کيږي. په دې وجه د تعلقاتو حقوق پوره کولو او د صله رحمی حقوق ادا کولو او ددې څخه مخ اړولو څخه په قطع رحم سره تعبير کيږي

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَالَّذِينَ يَصِلُونَ مَا أَمَرَ اللهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ﴾ او دا داسې خلك دي چې خپلې رشتې او خپلوی داسې روغې ساتي څنګه چې الله تعالی ورته د خپلوی پاللو حکم کړی دی﴾[الرعد:۲۱]

د مؤمنانو په خصلتونو کې يو خصلت دا دی چې هغوی ته د تعلقاتو او خپلوی حقونو لحاظ ساتلو حکم شوی دی: نو دوی به ددې لحاظ ساتي او دا حقونه به پر ځای ادا کوي. د جمهورو مفسرينو رحمهم الله په نزد ددې آيت مطلب دا دی چې د الله ﷻ حکم يعنې خپلوي دې وساتل شي، بايد خپلوي برې نه کړل شي. د صله رحمی لحاظ ساتلو حکم په ګڼ شمير آياتونو او حديثونو کې راغلی دی. په بېلا بېلو عنوانونو کې يې ذکر شوی دی، په يو روايت کې دي چې: رسول الله ﷺ وفرمايل "نسبونه وپېژنئ" ددې

لپاره چې د خپلوي خيال وساتي، په رشته داري ساتلو سره خپل مينځ کې مينه محبت، عمر کې برکت او په مال کې برکت پيدا کيږي، ځينې مفسرين ددې آيت داسې تشريح کوي : دا خلك د ايمان سره عمل صالح هم پيوسته کوي او ځينې مفسرين يې داسې معنی کوي چې دا خلك په رسول الله ﷺ باندې ايمان او په قرآن کريم باندې ايمان راوړلو سره سره په مخکينيو پيغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او په کتابونو باندې هم ايمان لري.

(وَقَالَ تَعَالَى) الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا﴾ او مونږ انسان ته ددې خبرې حکم کړی دی چې د خپل مور پلار سره ډې ښه سلوك کوي. [العنكبوت:۸]

"ووصينا الانسان" د وصيت معنی ده : کوم کس کوم نېک عمل طرفته متوجه کول او هغه ته ترغيب ورکول، "بوالديه إحساناً" احساناً مصدر دی، ددې معنی ده : خوبي، ښه خصلت، نېکي، مطلب دا چې الله ﷻ انسان ته ددې خبرې وصيت کړی دی چې د مور پلارسره ښه سلوك وکړي، مولانا روم رحمه الله فرمايي :

خدمت مادر پدر کن صبح وشام ...... تاکه باشي در دو عالم نېک نام

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ" او ستا رب ددې خبرې فيصله کړې ده چې عبادت به نه کيږي مگر د هغه يو ذات، (وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا) او بل ددې خبرې يې هم حکم کړی دی چې د مور پلار سره به ښه سلوك کوئ، "إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا" که چېرته تاسو ته په دې مور پلار کې يو يا دواړه بوډاتوب ته ورسيږي نو مه وايئ ورته د (اف) نکئ او مه يې رټئ. "وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا" او وايه دوی ته ښايسته خبره، (وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ) او ښکته کړه وزرې د رحمت دوی ته، "وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا" دا خبره په دعا کې ووايه چې اې الله ﷻ زما په مور پلار رحم وکړې لکه څنګه چې هغوی په وړوکوالي کې زما تربيه او پالنه کړې وه. [الإسراء:۲۳-۲۴]

امام قرطبي رحمه الله فرمايي چې الله ﷻ په دې آيت کې د مور پلار خدمت او ادب احترام او د هغوی سره ښه سلوك کولو حکم د خپل عبادت سره نژدې ذکر کړی دی، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې د الله ﷻ د عبادت څخه وروسته ستره نيکي د مور پلارسره ښه سلوك او د هغوی ادب او احترام کول دي، بل دا چې د مور پلار ادب او احترام واجب دی.

مجاهد رحمه الله فرمايي چې د آيت کريمه مطلب دا دی: که مور پلار کمزوري شي، تردې پورې چې هغوی ته د تش اودس ماتي يا ډك اودس ماتي وينځلو ضرورت پيښ شي نو بيا به هم د اف قدرې لفظ د خولې څخه نه وباسئ، بلکې ښه په ادب او احترام سره يې د زړه نه اودس ماتي پاک کړه لکه څرنګه چې ستا صفايي او پاکوالی يې په ماشوموالي کې کولو، علي رضي الله عنه فرمايي که چېرته په بې ادبی کې د (اف) نکې نه لاندې بل کوم داسې لفظ وای چې په هغې کې بې ادبي پرته وای؛ نو هغه به هم الله ﷻ حرامه کړې وه، د حسن رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه چې د مور پلار د نافرماني حد څه دی؟ هغه وفرمايل چې هغوی د خپل مال دولت نه محروم ساتل، ملاقات ورسره نه کول او هغوی ته په بد نظر کتل. قولاکريم

احسن رحمه الله فرمايي: ددې آيت مطلب دا دی چې هغوی ته په ښه لقب سره آواز کوه، مثلاً پلار جانه، نيکه، مورې او داسې خوږې کلمې، هغوی ته کله هم په خپلو نومونو آواز مه کوئ، کله چې درته آواز وکړي نو داسې ورته وايه چې: زه حاضر يم.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله جل جلاله فرمايي: "وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ" موږ انسان ته ددې خبرې وصيت او حکم کړی دی چې هغه به د مور پلار سره ښه سلوك کوي، "حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ" دده مور ده لره د تکليف دپاسه په تکليف په ګېډه وګرځولو، "وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ" او دوه کاله يې د هغې شيدې ورودلې، (دا ښه سلوك د همدې وجې دی) اوس زما شکر او د مور پلار شکر اداکړه. [لقمان:۱۴]

مفسرين رحمهم الله فرمايي چې په دې آيت کې الله جل جلاله د مور پلار حق اداکولو او د هغوی شکر ادا کولو حکم کړی دی، ددې حکمت دا بيان شوی دی چې همدې مور يې دغه بچی په خپله خيټه ډېر په محنت سره پوره نهه مياشتې ګرځولی دی او د هغه حفاظت يې کړی دی، د همدې حمل له وجې يې مور تکليف دپاسه تکليف زغملی دی، بيا چې کله ماشوم پيدا شو نو پوره تر دوه کالو پورې يې ورته شيدې ورکړې دي، دا لاخاتته بل لوی زحمت دی، د مور مينه زياته وي او حق يې هم زيات دی، نو څکه شريعت د مور حق وړاندې ښودلی دی.

وفصاله في عامين: امام شافعي رحمه الله، امام ابو يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله ماشوم ته د شيدو ورکولو موده پوره دوه کاله ښيي او هم دغه مسلك د جمهورو احنافو رحمهم الله دی.

ان اشکرلي ولوالديك: زما شکر اداکړئ او د خپل مور پلار شکر اداکړئ. مطلب دا شو چې د الله جل جلاله شکر اداکړئ چې هغه خالق دی، مالك دی او رازق دی، تاسو يې پيدا کړي يئ، مالك دی تا ته رزق درکوي، د مور پلار شکر اداکوه، څکه چې دغې دنيا ته ستا د راتلو ظاهري سبب او ذريعه هم دغه مور پلار دي، دوی ته د خير دعاګانې کوه.

تر ټولو غوره عمل

"وعن أبي عبد الرحمان عبد الله بن مسعود رضي الله عنه، قَالَ: سألتُ النبي صلى الله عليه وسلم: أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ تَعَالَى؟" د ابو عبدالرحمان عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه: اې د الله تعالى رسوله! الله جل جلاله ته کوم عمل ډېر خوښ دی؟ قَالَ: ((الصَّلاةُ عَلَى وَقْتِهَا نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې په خپل وخت لمونځ کول الله جل جلاله ته ډېر زيات خوښ دي))، قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ ما بيا ووبيل چې بيا کوم يو؟ قَالَ: ((بِرُّ الْوَالِدَيْنِ)) نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د مور- پلار سره ښه سلوك کول)) قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ ما ووبيل چې بيا کوم يو قَالَ: ((الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ)) نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د الله جل جلاله په لار کې جهاد کول)) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

الجهاد: "جهد" (باب فتح يفتح) کوشش، محنت کول، پوره وس او طاقت صرف کول، په اصطلاح کې القتال مع الکفار ته وايي.

تشريح تر ټولو غوره عمل په خپل وخت لمونځ کول دي. د مسلمان او کافر ترمينځ فرق کونکي لمونځ دی.

د مور - پلار سره نيکي کول عقلاً ثابت دي

"ثم أي؟ قال: برالوالدين" د مور - پلار سره نيکي، فقيه ابوالليث رحمه الله فرمايي که چېرته قرآن او سنت د مور پلار سره نيکي کولو حکم نه وی کړی بيا به هم عقلاً دا خبره ثابته وه چې د دوی حق ادا کول ضروري دي، دا خو څه چې الله ﷻ په تورات انجيل زبور او قرآن کې د دې حکم نازل کړی دی، الله ﷻ خپله رضا او خوشحالي د مور - پلار په خوشحالي پورې تړلې ده او ناراضګي يې د مور - پلار په ناراضتيا پورې پيوسته کړې ده.

که پلار غلام وي په اخيستلو سره يې آزاد کړه!

وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: ((لا يجزي ولد والدا)) د ابي هريره رضي الله عنه نه روايت دی. فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي يو اولاد هم د خپل مور - پلار پوره حق، بدله نه شي ورکولی ((إلا أن يجده مملوكا فيشتريه فيعتقه) خو کله چې خپل مور - پلار د غلامی په حالت کې ووينې. بيا يې بايد لومړی واخلي او بيا يې آزاد کړي (په داسې حالت کې بيا پوره بدله او حق ادا کولی شي)) رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

لا يجزى: جزى يجزي، باب ضرب يضرب، په معنی د بدلې ورکولو سره

ايا په اخيستو سره پلار ازاديږي او که آزادول غواړي؟

که چېرته داسې صورت پيښ شي چې زوی يې پلار واخلي نو آيا پلار په اخيستلو سره آزاديږي او که نه په مستقل عبارت سره يې آزادول ضروري دي؟ دې باره کې دوه مذهبه نقل شوی دی اول مذهب د اهل ظواهرو دی، دوی وايي چې صرف په اخيستو سره نه آزاديږي، بلکې په مستقل عبارت سره يې آزادول ضروري دي، دويم مذهب د جمهورو علماوو رحمهم الله دی چې پلار په اخيستلو سره سمدستي آزاديږي، مستقل آزادولو ته ضرورت نشته، په دې حکم کې اصول او فروع ټول داخل دي

د اهل ظواهرو دليل:

په دې حديث کې ذکر شو چې: فيشتريه فيعتقه: کله چې واخيستل شي، نو بيا به يې آزاد کړي

د جمهورو دليل

عن رسول الله ﷺ قال: من ملك ذارحم محرم فهو حر نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د ذي رحم محرم مالك شي نو هغه به آزاد وي

اهل ظواهروته ځواب

د دې حديث په "فيعتقه" کې (ف) د سبب لپاره ده، اوس به د حديث معنى داسې شي چې زوى خپل پلار د چا په غلامۍ کې ووينې، نو هغه دې د آزادېدو لپاره واخلي. مطلب دا شو چې د اخیستلو وروسته د دې خبرې ضرورت نشته چې هغه ته وويل شي چې ته آزاد يې بلکې خالص په اخيستلو سره هغه آزاد شو.

صله رحمي وکړئ او د مېلمه عزت وکړئ !

وعنه أيضاً ﷺ: أن رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، د ابو هريره ﷺ نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کسچې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت باندې ايمان لري هغه ته پکار ده چې د خپل مېلمه عزت وکړي. وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ او کوم کس چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت باندې ايمان لري هغه ته پکار ده چې د خپلو خپلوانو سره صله رحمي وکړي او تعلق ورسره پيدا کړي، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، فَلْيَقُلْ خَيْراً أَوْ لِيَصْمُتْ او کوم کس چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت باندې ايمان لري هغه ته پکار ده چې ښه خبره وکړي او يا بايد چوپ پاتې شي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

فَلْيَصِلْ: د امرصيغه ده، وصل يوصل باب ضرب يضرب، په معنى د جوړېدلو سره، پيوسته کول.

تشريح دا حديث په "باب الحث على إكرام الجار والضيف" کې تېر شوى دى، په دې حديث کې د درې خبرو پوره کولو اهميت بيان شوى دى، په دې کې تر ټولو اول د مېلمه احترام دى چې د هغه راتلل د الله ﷻ له لورې خپل خاته د رحمت باعث وګڼل شي.

دويم دا چې د خپلوانو سره ښه سلوک کول. د خپلوۍ خيال ساتل، د تعلق او رشتې ختمولو څخه ځان ساتل.

دريم دا چې بايد انسان د خير خبرې وکړي، له بدو ردو څخه ځان وساتي، په يو بل روايت کې راځي د سړي د اسلام په خوبۍ ښه والي کې دا هم راځي چې د بې فايدې خبرو څخه ځان وساتي.

څوک چې خپلوي کوي الله ﷻ د هغه خيال ساتي

"وعنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى خَلَقَ الْخَلْقَ حَتَّى إِذَا فَرَغَ مِنْهُمْ قَامَتِ الرَّحِمُ" د ابو هريره ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل بې شکه الله ﷻ ټول مخلوق پيدا کړو، کله چې ترې فارغ شو: نو په دې حالت کې رشته داري د الله ﷻ په دربار کې حاضره شوه (فَقَالَتْ: هَذَا مُقَامُ الْعَائِذِ بِكَ مِنَ الْقَطِيعَةِ) او وې ويل په دې موقع باندې ما ته د خپلولۍ ختمولو نه د پناه غوښتلو اجازت شته (قَالَ: نَعَمْ، أَمَا تَرْضَيْنَ أَنْ أَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ، وَأَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ؟) الله ﷻ به ورته فرمايي هو! آيا ته په دې خبره راضي نه يې چې کوم کس تا وصل کوي زه به هغه کس وصل کړم او کوم کس چې تا پرې کوي او تعلق ختموي، زه به

هغه کس پرې کړم؟ (قَالَتْ: بَلَى) رشته دارئ ووېل اې الله: ولې نه: په دې راضي يم. (قَالَ: فَذَلِكِ لَكِ) الله ﷻ ورته ووېل چې ستا په معامله به هم داسې وي. ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ((اقْرَؤُوا إِنْ شِئْتُمْ: ﴿فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ﴾ بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: که ستاسو خوښه وي نو دا آيت ولولئ چې ترجمه يې دا ده: اې منافقانو! ستاسو نه دا خبره لرې نه ده که تاسو ته حکومت په لاس درشي نو په ځمکه کې به فساد جوړ کړئ او تعلق به پرې کړئ. «أُولَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ» دا هغه خلق دي په کومو چې الله ﷻ لعنت کړی دی، ګونګيان او د دوی سترګې يې ړندې کړې دي﴾ [محمد: ۲۲-۲۳] مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

وفي رواية للبخاري: فَقَالَ اللهُ تَعَالَى، او د بخاري په يو روايت کې دي چې الله ﷻ خطاب کوي صله رحمی ته او ورته وايي: ((مَنْ وَصَلَكِ، وَصَلْتُهُ)) کوم کس چې تا سره وصل کوي او جوړوي دې زه به هغه وصل او جوړ کړم (وَمَنْ قَطَعَكِ، قَطَعْتُهُ) او کوم کس چې تا پرې کوي زه به هغه پرې کړم

لغوي تحقيق:

العائذ: صيغه د اسم فاعل ده، "عاذ يعوذ" باب نصر ينصر، معنی يې ده: پناه غوښتل، لازم کېدل او پيوسته کېدل

تشريح «فهل عسيتم إن توليتم أن تفسدوا في الأرض وتقطعوا أرحامكم أولئك الذين لعنهم الله فأصمهم وأعمى أبصارهم»

ترجمه اې منافقانو! ستاسو څخه ددې اميد کېدی شي چې که تاسو مشران شوئ نو په هيواد کې به شر او فساد جوړ کړئ او خپلوي به پرې کړئ؟ بس هم دغه خلك دي په کومو چې الله ﷻ لعنت کړی دی او د دوی غوږونه يې کاڼه کړي او سترګې يې ورته ړندې کړې دي

په بخاري شريف کې يو روايت دی چې الله ﷻ صله رحمی ته وفرمايل: کوم کس چې تا سره نښلوي او صله رحمي کوي، هغه کس به زه وصل کړم او څوك چې تا پرې کوي هغه به زه پرې کړم، معلومه شوه چې د خپلوی خيال نه ساتل د الله ﷻ د ناراضی سبب دی، په يو بل روايت کې دي چې د خپلوی په معامله کې د خپلوانو د تعلق ختمولو خيال مه ساته! که هغوی ستا سره تعلق ختموي خو ته ورسره تعلق مه خرابوه؛ بلکې کوشش کوه چې تعلق ورسره کلك وساتې

دام ولد خرڅول

«فهل عسيتم إن توليتم أن تفسدوا» په دې آيت کې هم په تعلق ختموونکي باندې لعنت ويل شوی دی، ددې وجې عمر ﷺ ام ولد (هغه وينزه چې د څښتن بچی ترې پيدا شي) خرڅول حرام ګڼلي دي، ځکه چې د ماشومانو څخه يې مور خرڅه شي نو بيا د مور او ماشومانو ترمنځ تعلق ختميږي او په همدې باندې لعنت ويل شوی دی، خلاصه دا چې چېرته هم داسې يو عمل وشي چې هغه د تعلق ختمېدو باعث جوړيږي هغه حرام دی او موجب د لعنت دی

د مور سره بايد زياته نېکي وشي

وعنه ﷺ قَالَ: جاءرجل إلى رَسُول الله ﷺفقَالَ: يَارَسُول الله، مَنْ أَحَقُّ النَّاس بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ ته يو کس راغلو او وې فرمايل: اې د الله تعالى رسوله، کوم کس زما د ښه سلوك د ېر زيات حقدار دی، (يعنې چې زه ورسره ښه سلوك او ښه رويه وکړم)؟" قَالَ: أُمُّكَ قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟قَالَ: أُمُّكَ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟قَالَ: أُمُّكَ!" نبي کريم ﷺ وفرمايل ستا مور، بيا مې ترې پوښتنه وکړه چې بيا څوك؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: ستا مور، ما بيا پوښتنه وکړه چې بيا څوك؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل ستا مور "قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟قَالَ: أَبُوكَ" ما بيا پوښتنه وکړه چې بيا څوك؟ نبي کريم ﷺ په څلورم ځل وفرمايل ستا پلار))مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

"وفي رواية: يَارَسُول الله! مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ الصُّحْبَةِ؟" په يو بل روايت کې دي، يو صحابي راغلو او وې ويل: اې د الله تعالى رسوله؛ کوم کس زما د ښه سلوك او ښه چلن زيات حقدار دی چې زه ورسره ښه سلوك وکړم؟قَالَ: ((أُمُّكَ، ثُمَّ أُمُّكَ، ثُمَّ أُمُّكَ))نبي کريم ﷺ وفرمايل: ستا مور، ستامور، ستامور (ثُمَّ أَبَاكَ)بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل چې ستا پلار (ثُمَّ أَدْنَاكَ أَدْنَاكَ) بيا ددې پسې چې کوم کس درته نژدې او بيا په هغه پسې چې څومره درته نژدې وي)).

لغوي تحقيق:

احق:صيغه د اسم تفضيل باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: په حق خبره کې غالب کېدل، هغه ددې نه زيات حقدار دی

ترکيب: "وَالصَّحَابَةُ: بمعنى: الصحبة" او لفظ د الصحابة معنی ده ملګرتيا،وقوله: "ثُمَّ أَبَاكَ،هكذا هُومنصوب بفعل محذوف،أي: ثُمَّ بِرَّ أَبَاكَ" او دا قول چې (ثم أباك) دا منصوب دی، په فعل محذوف سره، اصلي عبارت داسې دی: (ثم بر أباك، وفي رواية: ثُمَّ أبوك،وهذا واضح" او په يو بل روايت کې داسې هم دي (ثم أباك) او دا بيا ډېر زيات واضح دی

تشريح

د مور حق د پلار څخه درې درجې زيات دی

په دې حديث کې د مور حق او د مور سره احسان کولو حکم درې ځله بيان شوی دی، اشاره ده دې خبرې ته چې د مور حق او درجه د پلار څخه درې درجې زياته ده، ځکه چې په حديث کې د مور ذکر درې ځله شوی دی، د پلار د حق ذکر په څلورم ځل وشو

د مور درجه ولې درې ځله ده؟

ددې بنيادي وجه دا ده چې مور درې ځله داسې تکليفونه برداشت کوي چې پلار ترې نه خبر هم نه وي، اول د حمل مشقت، دويم د بچي د زېږېدلو تکليف، دريم د شيدې ورکولو تکليف، په دې وجه

علماء كرام رحمهم الله فرمايي كه چېرته يو كس داسې وي چې هغه د ډېرې ناداري او غريبي له امله د مور -پلار دواړو سره احسان او ښه سلوك نه شي كولى نو د مور حق مخكې دى. تر ټولو اول به د مور حق ادا كوي. د كنز العمال په يو روايت كې دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل د ښه سلوك او احسان ابتداء او پيل د خپلې مور څخه وكړه. دد ښه وروسته پلار سره، بيا د خور سره، بيا د ورور سره، بيا الاقرب فالاقرب (په ترتيب سره د خپلوانو خيال وساته) بيا د خپلوانو سره بيا د ګاونډيانو سره. بيا د ضرورتمندو سره.

ناكامه دى هغه كس چې مور - پلار يې وي او جنت ته لاړ نه شي

"وعنه، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: رغِم أنفُ، ثُمّ رَغِمَ أنفُ، ثُمّ رَغِمَ أنْفُ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دى. فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايي: پوزه دې خړه شي، پوزه دې خړه شي، پوزه دې خړه شي. (مَنْ أدرَكَ أبويه عِندَ الكِبَرِ أحَدهُما أوْكِلَيهمَا فَلَمْ يَدْخُلِ الجَنَّةَ) د هغه كس چې مور - پلار دواړه، يا يو ژوندى وي تر بوډاتوب پورې او دى د هغه په وجه جنت ته داخل نه شي)) رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

رغم: ددې عمومي ترجمه داسې كيږي: پوزه دې په خاورو خړه شه! خو دلته كنايه ده د ذلت، خوارۍ او نامراده كېدو څخه.

د مور - پلار سره په بوډاوالي كې احسان

(من أدرك أبويه عند الكبر) مطلب دا دى چې د مور - پلار خدمت په هر وخت كې كول پكار دي، خو كوم وخت چې هغوى بوډاګان شي؛ نو په داسې وخت كې د مور - پلار خدمت زيات ضروري وي. د هغوى زيات خدمت او ښه اخلاق ورسره كول پكار دي، هغوى په خپل حال پرېښودل پكار نه دي. كه په داسې زمانه كې د هغوى خدمت وشي؛ نو د هغوى په خاصو دعاګانو سره سړى جنت ته داخلېدى شي، نو ځكه په پورتني حديث كې تېر شو چې هغه سړى زيات بدبخته او نا مراده دى چې دومره په اسانۍ سره جنت ګټل كيږي خو هغه دا قيمتي وخت ضايع كړي.

تعلق پرې كوونكي سره د صله رحمى فضيلت

"وعنه رضي الله عنه: أن رجلاً قَالَ: يَارَسُولَ الله، إنَّ لِي قَرابَةً أصِلُهُمْ وَيَقْطَعُونِي" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دى. فرمايي چې يو كس رسول الله ﷺ ته راغلو او وې ويل: اې د الله تعالى رسوله! زما څه خپلوان دي زه ورسره خپلوي ساتم او دوى زما سره خپلوي ختموي. (وَأُحْسِنُ إلَيهِمْ وَيُسِيئُونَ إلَيَّ) زه ورسره ښه سلوك كوم او دوى زما سره بد كوي. (وَأحْلُمُ عَنهُمْ وَيَجْهَلُونَ عَلَيَّ) زه هغوى ته ډېر صبر كوم ليكن زما سره د كم عقلۍ كارونه كوي. فَقَالَ: ((لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ، فَكأنَّمَا تُسِفُّهُمُ المَلَّ)) كه چېرته ته داسې يې لكه څنګه چې ته وايې. داسې ده چې ته د هغوى خولې ته ګرمه ايره اچوې. (وَلاَ يَزَالُ مَعَكَ مِنَ الله ظَهِيرٌ عَلَيْهِمْ مَا دُمْتَ عَلَى ذَلِكَ) او همېشه به ستا سره د الله ﷻ له طرفه مرسته وي تر څو پورې چې ته په دې حالت كې يې)) رواه مسلم.

"وَتُسِفُّهُمْ: بضم التاء وكسر السين المهملة وتشديد الفاء، (وَالْمَلُّ) بفتح الميم، وتشديد اللام وَهُوَ الرَّمَادُ الحَارُّ" د «وَتُسِفُّهُمْ الملّ» معنى ده: گرمه ايره خولې ته اچول "أَيْ كَأَنَّمَا تُطْعِمُهُمُ الرَّمَادَ الحَارَّ" لکه په دوی باندې چې گرمي ايرې خوري، "وَهُوَ تَشْبِيهٌ لِمَا يَلْحَقُهُمْ من الاثم بِمَا يلحَقُ آكِلَ الرَّمَادِ الحَارِّ مِنَ الأَلَمِ، وَلَا شَيْءَ عَلَى هَذَا المُحْسِنِ إِلَيهِمْ، لكِنْ يَنَالُهُمْ اثْمٌ عَظِيمٌ بِتَقْصِيرِهِم فِي حَقِّهِ، وَادْخَالِهِمُ الأَذَى عَلَيهِ، وَاللهُ أعلم" په حديث کې د گرمي ايرې يا شگې سره په دې وجه مشابهت ورکړل شوی دی چې په دې طريقه د گناه له وجې هغوی ته څه راپيښيږي نو هغوی ته به د گناه تکليف وي ښه سلوك والا ته څه تکليف نشته او احسان هيرونکی او حق ضائع کوونکی او ددې په وجه به تعلق ختمونکي خلك ډېر گناهگار وي.

لغوي تحقيق:

تسفهم: اسف اسفافاً: استف الدواء، دارو د سفوف؛ پوډرو په شکل کې خوړل. الملّ: ملّ يملّ، ملاً باب نصر ينصر او سمع يسمع، معنى يې ده: د غم يا ناروغۍ څخه دردېدل

په خوله کې گرمه خاوره اچولو څخه مطلب نه دی

"تسفهم الملّ" ته د هغه په خوله کې گرمي خاورې اچوې، مطلب دا چې هغوی ستا خپلوان دي، هغوی ستا د احسان او نېکۍ شکريه نه ادا کوي، هغوی دا يو ناجائز کار کوي، ددې مثال داسې دی لکه ستا ورکړل شوي شيان د هغوی په خېټو کې د گرمي خاورې په څېر دي، خلاصه دا چې ستا د خپلوانو له لورې د خپلوی کاټ کېدلو گناه د گرمې خاورې سره تشبيه ورکول شوی دی.

ځينې نور شارحين وايي: مطلب دا دی چې ته ورسره احسان کوې، تعلق ورسره جوړوې هغوی يې درسره ختموي؛ نو دا داسې شوه لکه هغوی دې ملامتيا ته جوړوې؛ خو خبر نه دې چې خپل نفسونه به درباندې ملامته کړي، لکه يو کس چې گرمه شگه وخوري نفس يې سمدستي ملامته کوي چې دا څه کوې؟ دغه شان دلته هم دغسې دي چې د دوی نفسونه دوی ملامته کوي چې هغه درسره څه کوي او ته ورسره څه کوې؟ هغه درسره ښه کوي او ته ورسره بد کوې او ځينو نورو شارحينو دا حديث په مجازي معنى باندې اخيستی دی او ويلي يې دي چې دا کنايه ده ددې نه چې ستا د هغوی سره نيکي کول لکه چې د هغوی مخونه توروي، لکه څرنگه چې گرمه ايره د چا په مخ واچول شي او د هغه مخ تور کړي

په خپلوی ساتلو سره رزق فراخه کيږي

"وعن أنس ﷺ: أن رسُول الله ﷺ قَالَ: من أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ" د انس ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: څوک چې دا غواړي چې د هغه رزق فراخه شي (وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ) او د هغه په ژوند کې برکت پيدا شي. (فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ) نو هغه ته پکار ده چې صله رحمي وکړي؛ يعنې د خپلو خپلوانو سره تعلق وساتي)) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

لغوي تحقيق:

ينسأ: باب افعال دی، "أنسأ الشئ" د كوم شي پرېښودلو حكم وركول، كار پرېښودل، "ومعنى ينسأ لَهُ فِي أثرِهِ، أي: يؤخرله في أجلهِ وعمرِهِ" د "ينسأله في أثره" معنى دا ده چې د هغه په ژوند كې به بركت واچول شي او اوږد ژوند به يې نصيب شي

كله چې د انسان عمر پوره وي، نو په ژوند كې د بركت څه معنى؟

تشريح في أثره: اثر د پښو نخښې ته وايي، په عربو كې دا د ژوند څخه كنايه ده.

يبسط له في رزقه وينسأله: په رزق كې فراخي حاصله شي او عمر يې زيات شي

سوال: د هر سړي عمر او رزق په تقدير كې ليكل شوى دى، هر سړي ته به دومره رزق او عمر ملاوېږي څومره يې چې په تقدير كې ليكل شوى وي، په دې كې نه كمى كيږي او نه زياتوالى. لكه په قرآن كريم كې چې دي "إذا جاء أجلهم لا يستأخرون ساعة ولا يستقدمون" كله چې د دوى د ژوند نېټه ختمه شي، نو بيا يو ساعت نه وروسته كيدى شي او نه مخكې كېدى شي؟

جواب په عمر كې بركت ته اشاره ده، عمر به هم دومره وي څومره چې ليكل شوى وي، خو په دې عمر كې به داسې بركت ورته واچول شي چې بل انسان يو كار په كلونو كې كوي، هغه به يې په مياشتو كې كوي، لكه دا خبره زموږ په مشرانو علماوو رحمهم الله كې كتلى شو چې هغوى په لږ وخت كې څومره زيات كارونه كړي دي، (مثلاً مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله څومره په لږه زمانه كې زيات تصنيفات، تاليفات، تصوف، درس، تدريس، حكمت، طب، تبليغ او نصيحت وغيره كړي دي.)

دويم جواب: د هغه كارنامې به تر ډېرې مودې پورې پښه چليږي.

دريم جواب: د هغه اولاد به زيات وي چې د هغه سلسله نسب به تر ډېره موده پورې چليږي. بهر حال د حديث مطلب دا دی: كوم كس چې صله رحمي كوي د هغه په عمر او رزق كې به الله ﷻ بركت واچوي، په كنزالعمال كې د علي رضي الله عنه څخه نقل دي كوم كس چې د څلورو خبرو ذمه واري واخلي، زه هغه ته د څلورو خبرو ذمه واري اخلم، لومړى: كوم كس چې صله رحمي كوي د هغه عمر به زيات شي، دويم: خپلوان به يې عزت كوي، دريم: د هغه په رزق كې به بركت او پراخي راځي او څلورم جنت ته به داخل شي

دابوطلحه رضي الله عنه د باغ كيسه

"وعنه قال: كَانَ أبُو طَلْحَةَ أكْثَرَ الأنْصَارِ بِالْمَدِينَةِ مَالاً مِنْ نَخْلٍ، وَكَانَ أحَبُّ أمْوَالِهِ إلَيْهِ بَيْرَحَاءَ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي په مدينه منوره كې تر ټولو صحابه كرامو د خورما لوى باغ د ابوطلحه رضي الله عنه و، (وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ، وَكَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَدْخُلُهَا، وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ) او دا باغ نبوي جومات ته مخامخ و او رسول الله ﷺ به دغه باغ ته داخليدو او د هغې اوبه به يې څښلې چې زياتې خوږې به وې، "فَلَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ:

﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّوْنَ﴾ كله چې دا آيت نازل شو چې تاسو به تر هغې كاملې نيكۍ ته ونه رسيږئ تر څو پورې چې هغه څه د الله ﷻ په لاره كې خرچ نه كړئ كوم څه چې تاسو ته ډېر خوښ دي. [آل عمران: ۹۲] "قَامَ أَبُو طَلْحَةَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ!" ابو طلحه ﷛ رسول الله ﷺ ته راغلو او ورته يې وفرمايل اې د الله تعالى رسوله! "إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ: ﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّوْنَ﴾ وَإِنَّ أَحَبَّ مَالِي إِلَيَّ بَيْرَحَاءُ" بې شكه الله ﷻ فرمايي: تاسو به هيڅكله كاملې نيكۍ ته ونه رسيږئ تر څو پورې چې تاسو ته خوښ مال د الله ﷻ په لاره كې خرچ نه كړئ او ماته ډېر زيات خوښ مال زما د بيرحا، د خورما باغ دى (وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلّٰهِ تَعَالَى، أَرْجُو بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللهِ تَعَالَى، فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللهِ، حَيْثُ أَرَاكَ اللهُ) او دغه د بيرحا، باغ د الله ﷻ په لاره كې صدقه دى، زه اميد ساتم چې الله ﷻ به ددې اجر ماته راكړي او زه يې د الله ﷻ سره ذخيره كول غواړم، يعنې ددې اجر د الله ﷻ نه غواړم، نو تاسو ته اختيار دى او څنګه چې ستاسو خوښه وي استعمال يې كړئ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ((بَخٍ! ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ، ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ نو رسول الله ﷺ وفرمايل واه، واه! دا خو ډېر زيات ګټور مال دى، دا خو ډېر زيات ګټور مال دى!، وَقَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ، وَإِنِّي أَرٰى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْأَقْرَبِيْنَ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: تاسو چې څه وويل هغه ما واوريدل خو زه دا خبره بنه ګڼم چې تاسو دا باغ د خپلو خپلوانو په مينځ كې تقسيم كړئ))، فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ: أَفْعَلُ يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَسَمَهَا أَبُو طَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ وَبَنِي عَمِّهِ، ابو طلحه ﷛ وويل: اې د الله تعالى رسوله! داسې به وكړم څنګه چې تاسو وايئ بيا ابو طلحه ﷛ هغه باغ په خپلوانو او د تره په زامنو كې تقسيم كړو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وسبق بيان ألفاظه في باب الإنفاق مما يحب، ددې خبرې بيان مخكې په باب د انفاق كې تير شو.

لغوي تحقيق:

فضعها: د امر صيغه ده، باب فتح يفتح، يو شى كېښودل

تشريح ددې حديث د الفاظو تشريح په (باب الانفاق مما يحب) كې تير شوى دى، "فقسمها أبو طلحة في أقاربه وبني عمه" ابو طلحه ﷛ خپل باغ په خپلوانو او د تره په زامنو كې تقسيم كړو، دا حديث هم مخكې تير شوى دى، علامه نووي رحمه الله دلته دا حديث دويم ځل ددې لپاره ذكر كړى دى چې انسان ته پكار ده كله چې هم صدقه او خيرات وغيره كوي نو تر ټولو وړاندې يې بايد په خپلوانو كې تقسيم كړي، هغوى ته يې بايد وركړي، لكه څرنګه چې ابو طلحه ﷛ خپل باغ په خپلوانو او د تره په زامنو كې تقسيم كړو. مولانا روم رحمه الله فرمايي

لن تنالوا البر حتى تنفقوا ...... هر چه دارى صرف كن در راه او

د مور - پلار خدمت غوره جهاد دى

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قَالَ: أَقْبَلَ رَجُلٌ إِلَى نَبِيِّ اللهِ ﷺ فَقَالَ: أُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ أَبْتَغِي الْأَجْرَ مِنَ اللهِ تَعَالَى" د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷠ نه روايت دى، فرمايي چې يو كس رسول الله ﷺ ته مخامخ راغلو او ورته يې وويل اې د الله تعالى رسوله! زه ستاسو سره بيعت كول غواړم په هجرت او

په جهاد کولو، په دې سره زه د خپل رب نه اجر غواړم، قَالَ: ((فَهَلْ لَكَ مِنْ وَالِدَيْكَ أَحَدٌ حَيٌّ؟نبي کريم ﷺ وفرمايل: آيا ستا د مور - پلار څخه کوم يو ژوندی شته؟)) قَالَ: نَعَمْ، بَلْ كِلَاهُمَا هغه کس ووېل: هو! بلکې دواړه ژوندي دي، قَالَ: ((فَتَبْتَغِي الأَجْرَ مِنَ اللهِ تَعَالَى؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: آيا ته اجر لټول غواړې؟)) قَالَ نَعَمْ هغه کس ووېل: هو!. قَالَ: ((فَارْجِعْ إِلَى وَالِدَيْكَ، فَأَحْسِنْ صُحْبَتَهُمَا نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل خپل مور - پلار ته واپس لاړ شه! او د هغوی سره ښه سلوك کوه)) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وهذا لَفْظُ مسلم. دا الفاظ د مسلم دي

"وفي رواية لَهُمَا: جَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَأْذَنَهُ فِي الجِهَادِ" د بخاري او مسلم په يو روايت کې دي: چې يو کس رسول الله ﷺ ته راغلو، د نبي کريم ﷺ نه يې جهاد ته د تللو اجازت وغوښتلو، فَقَالَ: ((أَحَيٌّ وَالِدَاكَ؟نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: آيا ستا مور - پلار ژوندي دي؟" قَالَ: نَعَمْ" هغه کس ووېل: هو! " قَالَ: فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د هغوی خدمت کول ستا جهاد دی.

لغوي تحقيق: "أبايعك بايعه مبايعة" باب مفاعله دی، معنی يې ده: د اخيستلو او خرڅولو معامله کول، خپل منځې معاهده او ترون کول.

دلته نفلي جهاد مراد دی

په شرح السنة کې ليکلي دي چې د دې حديث حکم د نفلي جهاد پورې متعلق دی. د کوم انسان مور - پلار چې مسلمانان ژوندي وي، په دې صورت کې د مور او پلار د اجازې څخه بغير نفلي جهاد ته تلل جائز نه دي، که فرضي جهاد شروع شي نو بيا په داسې صورت کې د مور - پلار اجازې ته ضرورت نشته، بلکې که هغوی خپل اولاد د فرضي جهاد څخه منع کوي نو بيا به يې هم خبره نه مني او که چېرته مور - پلار مسلمان نه وي بلکې کافران وي، نو بيا که نفلي جهاد وي او که فرضي جهاد وي، په دواړو صورتونو کې د مور - پلار اجازې ته ضرورت نشته، په دې حديث باندې علماء کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ دا خبره هم قياس کړې ده چې لکه څرنګه په نفلي جهاد کې د مور - پلار اجازې ته ضرورت شته نو د غه شان په نورو نفلي عباداتو کې هم د مور - پلار اجازې ته ضرورت شته

خدمت مادر وپدر کن اختيار .... تا شوی از مال ودولت بختيار

د تعلق ختموونکي سره صله رحمي کول

"وعنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: لَيْسَ الوَاصِلُ بِالمُكَافِئِ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د نيکئ په نيکئ سره بدله ورکوونکي خپلولي پالونکی نه دی. "وَلَكِنَّ الوَاصِلَ الَّذِي إِذَا قَطَعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا" بلکې صله رحمي او خپلوي پالونکی دا دی چې که هغه ستا سره خپلولي ختموي نو ته به کوشش کوې چې د هغه سره خپلوي ختمه نه کړې. رواه البخاري.

ترکيب: "وَقَطَعَتْ: بِفَتْحِ القَافِ وَالطَّاءِ، وَرَحِمُهُ: مَرْفُوعٌ" لفظ د قطعت په فتح د قاف او په طاء سره دی او لفظ د "رحمه" مرفوع دی.

لغوي تحقيق:

المكافئ: "كافأ يكافئ" باب مفاعله دی، معنی يې ده چاته بدله ورکول، د کوم سړي سره د هغه په کار کې مرسته کول

صله رحمي کولو والا سره صله رحمي کول بدله ده

دا خبره واضحه ده چې کوم کس ستا سره صله رحمي کوي او بيا ته هم د هغه سره صله رحمي وکړې نو دا صله رحمي نه شوه، دې ته د احسان بدله وايي، اصل صله رحمي دا ده چې کوم کس ستا سره تعلق ختموي او ته بيا هم د هغه سره ښه معامله ساتې، ښه اخلاق او تعلق ورسره ساتې نو دې ته صله رحمي وايي، په يو حديث کې راځي چې رسول الله ﷺ وفرمايل اې خلکو! زه تاسو ته د دنيا او د آخرت ښکلي اخلاق وښيم؟ صحابه کرامو وويل ولې نه! اې د الله تعالی رسوله! وې فرمايل کوم کس چې په تا باندې ظلم کوي ته هغه معاف کړې، کوم کس چې تاته څه نه درکوي، ته هغه ته څه نا څه ورکړې او کوم کس چې ستا سره تعلقات ختموي ته د هغه سره تعلقات وساتې، په در منثور کې يو روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې دا خوښوي چې د قيامت په ورځ د هغه اوچتې بنګلې او مقامات وي، نو هغه ته پکار ده چې کوم کس په هغه باندې ظلم کوي هغه معاف کړي او څوک چې هغه ته څه نه ورکوي هغه دوی ته څه نا څه شی ورکړي او څوک چې ورسره تعلق نه ساتي هغه ورسره تعلقات جوړ کړي

څوک چې صله رحمي کوي هغه به الله ﷻ جوړساتي

"وعن عائشة، قالت: قال رسول الله ﷺ: الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالعَرْشِ تَقُولُ: مَنْ وَصَلَنِي، وَصَلَهُ اللهُ" د عايشې رضي الله عنها روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: رحم به تر عرشه پورې زوړند وي او وايي کوم کس چې ما پالي؛ نو الله ﷻ دې هغه کس وپالي او جوړ دې يې کړي، "وَمَنْ قَطَعَنِي، قَطَعَهُ اللهُ" او کوم کس چې ما ختموي الله ﷻ دې هغه پرې او ختم کړي. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

معلقة: "علق الشئ بالشئ وعليه ومنه" معنی يې ده: يو شی زوړندول، "علق" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: مينه او محبت کول.

تشريح: "الرحم معلقة بالعرش" رحم به تر عرش پورې زوړند وي، ددې حديث تشريح شارحين داسې کوي رحم به د رحمن ذات عرش نيولی وي او وريورې زوړند به وي، د پرهېکېدو څخه به په الله ﷻ سره پناه غواړي، په يو روايت کې داسې الفاظ دي "إن الرحم اخذت بقائمة العرش تقول من وصلني وصله الله ومن قطعني قطعه الله: صله رحمي په عرش پورې زوړنده ده او هغه وايي: اې الله: څوک چې ما پيوسته کوي هغه پيوسته کړې او څوک چې ما پرې کوي هغه پرې کړې، مطلب دا چې څوک صله رحمي کوي هغه الله ﷻ خپل رحمت سره پيوسته کوي او څوک چې قطع تعلق کوي هغه الله ﷻ د خپل رحمت نه پرې کوي، نو صله رحمي واجب او تعلق ختمول حرام دي، دلته دا سوال پيدا کېږي چې صله رحمي څرنګه داسې خبرې

كوي حال دا چې هغه خو يو بې نفسه شي دى. خبرې نه شي كولى؟ خواب دا دى چې الله ﷻ ته هيڅ كار محال او ناممكن نه دى. په هغې كې به ادراك او د خبرو طاقت پيدا كړي او رحم به دغه خبرې وكړي

خپلوانو ته وينزه وركولو كې زيات ثواب دى

"وعن أم المؤمنين ميمونة بنتِ الحارث رضى الله عنها: أَنَّهَا أَعْتَقَتْ وَلِيدَةً وَلَمْ تَسْتَأْذِنِ النَّبِيَّ ﷺ" د ام المؤمنين ميمونة بنت الحارث ﷺ نه روايت دى چې هغې يوه وينزه ازاده كړه. خو د رسول الله ﷺ څخه يې اجازت وانخيستلو. فَلَمَّا كَانَ يَوْمُهَا الَّذِي يَدُورُ عَلَيْهَا فِيهِ، كله چې د هغې نمبر (وار) راغلو او نبي كريم ﷺ تشريف راوړو. "قَالَتْ: أَشَعَرْتَ يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي أَعْتَقْتُ وَلِيدَتِي؟" ميمونه ﷺ وفرمايل: اې د الله تعالى رسوله! تاته معلومه ده چې ما خپله وينزه آزاده كړه؟ قَالَ: ((أَوَفَعَلْتِ؟)) نبي كريم ﷺ وفرمايل دا كار دې رښتيا كړى دى؟ (قَالَتْ: نَعَمْ) هغې ووېل: هو! "قَالَ: أَمَا إِنَّكِ لَوْ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لِأَجْرِكِ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل كه چېرته تا دغه وينزه خپلو ماماګانو ته وركړې واى نو په دې كې به ستا لپاره زيات اجر واى. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

آيا مېرمن د خاوند بې اجازې صدقه كولى شي؟

تشريح "ولم يستاذن النبى ﷺ" د نبي كريم ﷺ نه يې اجازه وانخيسته. ددې نه علماوو رحمهم الله ددې خبرې استدلال كړى دى چې كه چېرته مېرمن د يو شي مالكه وي نو هغې ته جائز دي چې د خاوند بې اجازې صدقه وكړي. دغه ډول هر هغه شي چې د هغې ښځې بې مالك وي ليكن خاوند مېرمن ته اجازه وركړې نو بيا هم په دې كې صدقه وركولى شي. اعتقت وليدتي، ما يوه وينزه آزاده كړه. د پورتني حديث څخه معلومه شوه چې غلام يا وينزه صدقه كول د آزادى څخه زيات غوره دي. په يو روايت كې نبي كريم ﷺ ارشاد مبارك دى چې د جهنم څخه د خلاصي عمل دا دى چې غلام يا وينزه ازاده كړى شي

ايا خپلوان ته په صدقه وركولو كې زيات ثواب دى؟

"كان أعظم لأجرك" ستا لپاره به په دې كې زيات ثواب وي، دا ځكه چې پرديو ته به صدقه وركولو كې صرف يو ثواب دى. هغه هم يوازې د صدقې وركولو او بس. خپلوانو ته په صدقه وركولو كې دوه ثوابه دي يو د صدقې ثواب او دويم د صله رحمى ثواب. لكه څرنګه چې په يو روايت كې راغلي دي "الصدقة على المسكين صدقة وعلى ذى الرحم صدقة وصلة" په مسكين باندې صدقه كول يو ثواب لري او خپلوانو باندې صدقه كول دوه اجره لري: يو د صدقې او بل د صله رحمى خيال ساتل

دام المومنين ميمونه ﷺ حالات:

اصل نوم يې ميمونه ﷺ وه، د قريشو قبيلې سره يې تعلق درلود، د پلار نوم يې حارث دى، د مور نوم يې هند بنت عوف ده، د ميمونې ﷺ لومړى نكاح د مسعود بن عمرو بن عمير ثقفي سره شوې وه. بيا د ابورهم سره وشوه، په اوومه هجري كې ابورهم وفات شو؛ نو له هغه وروسته نبي كريم ﷺ په نكاح كړه. كله چې رسول الله ﷺ عمرې ته تشريف يوړو. نو په اوومه هجري كې د احرام په حالت كې:

رسول الله ﷺ نکاح ورسره وشوه، دا د رسول الله ﷺ آخري نکاح وه. د رسول الله ﷺ دا تر ټولو آخرينۍ مېرمن وه، د هغې په باره کې عايشه ﷺ فرمايي: (إنهاكانت اتقانالله وأوصلنا للرحم) ميمونه ﷺ به په مونږ کې تر ټولو زياته د الله ﷻ نه وېريده او صله رحمي به يې کول

وفات دا عجيبه اتفاق وو چې په کوم ځای کې يې نکاح شوې وه په همغه ځای کې وفات هم شوه، ابن عباس ﷺ يې جنازه وکړه.

مرويات د هغې څخه د روايت شوي حديثونو شمار تر شپږ څلوېښتو پورې دی

د مشرکې مور - پلار سره به هم ښه سلوک کوی

"وعن أسماءَ بنتِ أبي بكر الصديق رضي الله عنهما، قَالَتْ: قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ رسولِ اللهِ ﷺ" د اسماء بنت ابي بکر ﷺ روايت دی، فرمايي چې ماته يوه ورځ زما مور کور ته راغله، په داسې حال کې چې هغه مشرکه وه، "فَاسْتَفْتَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قُلْتُ: قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ رَاغِبَةٌ، أَفَأَصِلُ أُمِّي؟" ما د رسول الله ﷺ څخه د هغې په باره کې پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! يوه ورځ زما مور رانه راغله چې يو شی يې راڅخه غوښتلو. آيا زه د هغې سره ښه سلوک کولی شم؟ "قَالَ: نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل هو! د خپلې مور سره ښه سلوک کوه؛ مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"وَقَوْلُهَا: رَاغِبَةٌ، أيْ: طَامِعَةٌ عِنْدِي تَسْأَلُنِي شَيْئاً" دا قول چې "راغبة" ددې معنی ده: زما څخه يې څه غوښتل. "قِيلَ: كَانَتْ أُمُّهَا مِنَ النَّسَبِ، وَقيل: مِنَ الرَّضَاعَةِ، وَالصحيحُ الأول" چا ويلي دي چې دا يې نسبي مور وه او چا ويلي دي چې نه بلکې رضاعي مور يې وه. ليکن اولنی خبره صحيح ده.

لغوي تحقيق: فاستفتيت: "استفتى استفتاءً العالم في المسئلة" د يو عالم څخه فتوی غوښتل

راغبة ددې معنی ده: غوښتل.

تشريح: قدمت علي: زما کره راغله، دادصلح حديبيه زمانه، د اسماء ﷺ دمورنوم قتيله بنت عبدالعزي وو، ابن حجر رحمه الله فرمايي چې دانه وې مسلمانې شوې خکه ابوبکر ﷺ طلاق هم ورکړ، هغې خپل لور اسماء ﷺ د مکې غواړې، پنيروغيره راوړي وو، کله چې هغه راغله نو اسماء ﷺ کور ته نه راپرېخوه، خپلې علاتي خور عائشه ﷺ ته يې قاصدواستولوچې دمشرك ښځې کور ته راتلونل څنګه دي؟نبي کريم ﷺ ورته اجازه ورکړه چې کور ته دې راداخله کړي

د اسماء ﷺ په سوال د قران کريم ايت نازل شو:

امام خطابي رحمه الله فرمايي: ددې حديث نه معلومه شوه چې د کافرانو خپلوانو سره هم بايد سړی صله رحمي وکړي، لکه څرنګه چې د مسلمان رشته دار سره صله رحمي کيږي. په بل روايت کې دي چې: کله اسماء ﷺ د مسئلې معلومولو لپاره قاصد ولېږلو، نو دغه وخت دا ايت نازل شو "لا ينهاكم الله عن الذين لم يقاتلوكم في الدين ولم يخرجوكم من دياركم" الله ﷻ تاسو د هغو خلکو سره د احسان او صله رحمي څخه نه منع کوي چې ستاسو سره د دين په باره کې نه جنګيږي او نه يې له کورونو څخه وباسي

د راوي اسماء بنت ابي بكر ؓ حالات:

اصل نوم يې اسماء ؓ ده، لقب يې ذات النطاقين دی، د پلار نوم يې ابوبكر ؓ دی، د مور نوم يې قتيله ده، د هجرت په اوه ويشتم كال په مكه كې پيدا شوه، د زبير بن عوام ؓ سره يې نكاح وشوه، په ايمان راوړونكو كې اتلسم نمبر ده، نبي كريم ﷺ چې مدينې منورې ته هجرت وكړو، نو ابوبكر ؓ هم ورسره وو، نبي كريم ﷺ د غرمې په وخت كې د ابوبكر ؓ كور ته تشريف يوړو، هغه ته يې وويل چې د هجرت حكم شوی دی، اسماء ؓ خوراكه وغيره ورته تياره كړه او په توښه دان كې يې ورته بنده كړه، په نطاق باندې ښځې خپلې ملاگانې تړي، هغه يې څيرې كړو او په يوه ټوټه يې د توښه دان خوله وتړل، دا هغه شرافت او افتخار دی چې اسماء ؓ ته حاصل شو، ددې وروسته په ذات النطاقين باندې مشهوره شوه، اسماء ؓ ډېر حجونه كړي دي، اولني حج يې د رسول الله ﷺ سره كړی دی

وفات: هغې به دعا كول چې تر څو د عبد الله بن زبير ؓ مرگ ونه وينم، تر هغې دې الله ﷻ ما ته مرگ نه راكوي، كله چې عبد الله بن زبير ؓ شهيد شو، ددې نه يوه هفته وروسته د جمادى الاولى په درېم او يا يم ۷۳ كال وفات شوه.

مرويات: يو سل شپږ پنځوس ۱۵۶ حديثونه ترې نقل دي، دوه ويشت حديثونه په صحيحينو كې دي، په ديارلسو كې بخاري او مسلم متفق عليه دي، پنځه په بخاري كې او څلور په مسلم كې دي

ايا ميرمن خپل خاوند ته زكات وركولی شي؟

"وعن زينب الثقفية امرأة عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وعنها، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ: تَصَدَّقْنَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ" د زينب ثقفيه (چې د عبد الله بن مسعود ؓ ميرمن وه) څخه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې د ښځو ډلې! تاسو صدقه وركوئ، اگر چې ستاسو د كالو څخه وي. "قَالَتْ: فَرَجَعْتُ إِلَى عبد الله بن مسعود، فقلتُ لَهُ: إِنَّكَ رَجُلٌ خَفِيفُ ذَاتِ الْيَدِ" زينب ثقفيه ؓ فرمايي عبد الله بن مسعود ؓ ته راغلم او ورته مې وويل: ستا لاس تنگ دی (يعنې غريب يې) "وَإِنَّ رَسُولَ الله ﷺ قَدْ أَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ فَأْتِهِ فَاسْأَلْهُ" او رسول الله ﷺ موږ ته د صدقې حكم كړی دی، پوښتنه ترې وكړه، "فَإِنْ كَانَ ذَلِكَ يُجْزِئُ عَنِّي وَإِلَّا صَرَفْتُهَا إِلَى غَيْرِكُمْ" كه دا صدقه زه تاسو ته دركړم، نو په دې به زما غاړه خلاصه شي او كه نه وي، نو بيا به بل چا ته صدقه وركړم، "فَقَالَ عبدُ الله: بَلِ ائْتِيهِ أَنْتِ، فَانْطَلَقْتُ، فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ الأَنْصَارِ بِبَابِ رسولِ الله ﷺ حَاجَتِي حَاجَتُهَا" عبد الله ؓ وفرمايل: تاسو خپله لاړه شئ، هغه لاړه چې وې كتل د انصارو ښځې د رسول الله ﷺ په دروازه باندې ناستې وې او كومه مسئله چې ما راوړې وه د هغې مسئلې لپاره دوی هم ناستې وې، "وَكَانَ رَسُولُ الله ﷺ قَدْ أُلْقِيَتْ عَلَيْهِ الْمَهَابَةُ" رسول الله ﷺ ته الله ﷻ ډېر زيات رعب وركړی وو، په دې وجه موږ همت نه شو كولی چې رسول الله ﷺ ته داخل شو، "فَخَرَجَ عَلَيْنَا بِلَالٌ، فَقُلْنَا لَهُ: ائْتِ رَسُولَ الله ﷺ، فَأَخْبِرْهُ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ بِالْبَابِ تَسْأَلَانِكَ" موږ په دې حالت كې وو چې بلال ؓ راووتلو، موږ خبر وركړو چې رسول الله ﷺ ته لاړ شې او ورته ووايه چې دوه ښځې په دروازه ناستې دي، ستاسو نه د يو شي په باره كې پوښتنه كوي. "أَتُجْزِئُ الصَّدَقَةُ

عَنْهُمَا عَلَى أَزْوَاجِهِمَا وَعَلَى أَيْتَامٍ فِي حُجُورِهِمَا؟" ايا مونږ چې خپلو سړو ته صدقې ورکړو او يا هغو يتيمانو ته چې زمونږ په غيږو کې دي؛ نو په دې سره به زمونږ غاړې خلاصې شي؟" وَلَا تُخْبِرْهُ مَنْ نَحْنُ، فَدَخَلَ بِلَالٌ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَسَأَلَه" ليکن دا خبره ورته مه وايه چې مونږ څوک يو؟ بلال ﷺ رسول الله ﷺ ته داخل شو، پوښتنه يې ترې وکړه، "فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَنْ هُمَا؟ قَالَ: امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَزَيْنَبُ" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل هغه دواړه څوک دي؟ بلال ﷺ ورته وويل: يوه انصاري ښځه ده او بله زينب ﷺ ده، "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: أَيُّ الزَّيَانِبِ هِيَ؟" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: کومه زينب ده؟ "قَالَ: امْرَأَةُ عَبْدِ اللهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: لَهُمَا أَجْرَانِ" بلال ﷺ ورته وفرمايل: د عبد الله بن مسعود ﷺ مېرمن ده، نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: د هغې لپاره به دوه اجرونه او ثوابونه وي، "أَجْرُ الْقَرَابَةِ وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ" يو اجر به د خپلولۍ او بل اجر به د صدقې له وجې وي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

تصدقن: "تصدق" باب تفعل دی، ددې معنی ده: خيرات او صدقې، نفلي او فرضي دواړو ته شامل دي.

الله ﷻ رسول الله ﷺ ته رعب ورکړی وو:

تشريح: قد القيت عليه المهابة: ددې جملې تشريح محدثين کرام رحمهم الله داسې بيان کړې دي چې الله ﷻ د رسول الله ﷺ په ذات اقدس کې داسې هيبت او رعب اچولی وو، چې خلک به ترې مرعوب کېدل، يرېدل به، د رسول الله ﷺ بې انتهاء قدر او احترام ساتلو، دا نعمت الله ﷻ دوی ﷺ ته ورکړی وو، دغه رعب او هيبت الله ﷻ د رسول الله ﷺ عزت او احترام لپاره ذريعه جوړه کړېوه

يارب صل وسلم دائماً أبداً::: على حبيبك خير الخلق كلهم

ولا تخبره من نحن: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خبر مه ورکوه چې مونږ څوک يو؟ سوال دا دی: کله چې دغو صحابياتو رضي الله عنهن د نوم اخيستلو نه منع کړی وو، نو بيا ولې بلال ﷺ د دوی نوم واخيستلو؟ ځواب دا دی چې: رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې دوی څوک دي؟ نو بلال ﷺ ورته نومونه واخيستل، ځکه چې د رسول الله ﷺ د حکم تعميل واجب دی.

مېرمن خپل خاوند ته زکات ورکولی شي او که نه؟

زينب ﷺ او نورو انصاري صحابياتو چې کومه مسئله معلومه کړه، هغه دا وه چې ايا مېرمن خپل خاوند ته يا خاوند خپلې مېرمنې ته زکات ورکولی شي او که نه؟ ددې وضاحت د فقهاوو په نزد څه دی؟ حاصل دا دی چې: د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد که مېرمن خپل خاوند ته يا خاوند خپلې مېرمنې ته زکات ورکړي؛ نو دا ناجائز ده، ځکه چې دواړه عادتاً په منافعو کې شريکان وي، دوی دواړه د يو بل د مال څخه فايده اخيستلی شي، ليکن د امام ابو يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد ښځه خاوند د يو بل نه زکات اخيستلی شي او دليل يې دغه مذکور حديث دی

د امام صاحب رحمه الله له طرفه ځواب:

امام صاحب رحمه الله دغه مذكور حديث په نفلي صدقه باندې حمل كړى دى، ددې نه فرضي زكات مراد نه دى

د راوي زينب د ابن مسعود مېرمنې حالات:

اصل نوم يې زينب رضي الله عنها ده، په رائطه باندې مشهوره وه، قبيله يې ثقيف وه، نكاح يې د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه سره شوې وه، خپله عبد الله رضي الله عنه زيات شتمن نه ؤ، دغې مېرمنې به جامې گنډلې او څه چې به يې وگټل هغه به يې په خپل خاوند او بچيانو خرچه كولې، يو ځل يې وفرمايل چې زه خو په تاسو باندې خرچه كوم په دې كې زما څه فايده ده؟ عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وفرمايل نه خپله خاته داسې صورت راوباسه چې په هغې كې تاسو ته نقصان نه وي، نو هغې د نبي كريم ﷺ نه پوښتنه وكړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل. په خپلو بچيانو او خاوند باندې خرچه كوه، په دې كې به تاته ثواب ملاويږي

وفات د وفات په باره كې يې تحقيقي خبره معلومه نه ده

مرويات پوره اته حديثونه ترې نقل دي، په دوه حديثونو كې يې بخاري او مسلم متفق عليه دي

نبي عليه السلام د صله رحمى حكم كوي:

"وعن أبي سفيان صخر بن حرب رضي الله عنه في حديثه الطويل في قصة هرقل: أَنَّ هِرَقْلَ قَالَ لأَبِي سُفْيَانَ: فَمَاذَا يَأْمُرُكُمْ بِهِ؟ يعنى النبي ﷺ" د ابو سفيان صخر بن حرب رضي الله عنه روايت دى، (د هرقل په كيسه كې چې اوږد حديث دى) هرقل بادشاه ابو سفيان رضي الله عنه ته ووېل: تاسو ته دغه كس (نبي اكرم ﷺ) د څه خبرې حكم كوي. "قَالَ: قُلْتُ: يقول: اعْبُدُوا اللَّهَ وَحْدَهُ، وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً" ابو سفيان رضي الله عنه ورته ووېل. موږ ته حكم كوي چې د يو الله جل جلاله عبادت وكړئ او شريك ورسره مه جوړوئ، "وَاتْرُكُوا مَا يَقُولُ آبَاؤُكُمْ، وَيَأْمُرُنَا بِالصَّلاَةِ" او هغه خبرې پرېږدئ چې ستاسو پلرانو به كولې او موږ ته د لمانځه په باره كې حكم كوي، "وَالصِّدْقِ" او د رښتيا ويلو، "وَالعَفَافِ" او د پاكدامنى، "وَالصِّلَةِ" او د صله رحمى مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

تشريح "في حديثه الطويل في قصة هرقل" دا اوږد روايت د بخاري په شروع كې موجود دى "اعبدوا الله وحده" يوازې د الله جل جلاله عبادت كوئ، د هغه سره شريك مه جوړوئ، "ويأمرنا بالصلاة والصدق والعفاف والصلة" د بخاري په يو روايت كې دي چې: "يأمرنا بالصلوة والصدقة والصدق" علماء فرمايي چې كه يوطرفته په دې حديث كې د لمانځه حكم دى، نو بل طرفته د مكارم اخلاق يعنې ښكلي اخلاقو تعليم موجود دى، مسلمان دې ته وايي چې د توحيد او رسالت د اقرار وروسته به عباداتو باندې پابند شي او په ځان كې شايسته اخلاق پيدا كړي

د نبي كريم ﷺ پېشګويي:

"وعن أبي ذر رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِنَّكُمْ سَتَفْتَحُونَ أَرْضًا يُذْكَرُ فِيهَا الْقِيرَاطُ" د ابو ذر رضي الله عنه روايت دى. فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ډېر زر به تاسو يوه داسې خمكه فتح كړئ چې هلته به قيراط ډېر ذكر كولى شي، "وفي رواية: سَتَفْتَحُونَ مِصْرَ وَهِيَ أَرْضٌ يُسَمَّى فِيهَا الْقِيرَاطُ" په يو روايت كې داسې هم دي: ډېر زر به تاسو مصر فتحه كړئ او هغه داسې خمكه ده چې هلته لفظ د قيراط ډېر ډېر ويل كېږي. "فَاسْتَوْصُوا بِأَهْلِهَا خَيْرًا، فَإِنَّ لَهُمْ ذِمَّةً وَرَحِمًا" نو تاسو د هغوى سره نيكي كوئ، خكه چې د هغوى سره ښه تعلق، ذمه واري هم ده او د خپلولى تعلق هم دى، "وفي رواية: فإذا افتتحتموها، فأحسنوا إلى أهلها، فإن لهم ذمة ورحماً" او په يو روايت كې داسې هم دي چې كله تاسو هغه ښار فتحه كړئ: نو تاسو د هغې علاقې خلكو سره ښه سلوك كوئ. خكه چې د هغوى سره د ښه تعلق ذمه واري هم ده او د خپلولئ تعلق هم دى، "أَوْقَالَ: ذِمَّةً وَصِهْرًا" يا يې داسې وويل: د ښه تعلق ذمه واري هم ده او خسرګني هم شته. رواه مسلم

"قَالَ العلماء: الرَّحِمُ: الَّتِي لَهُمْ كَوْنُ هَاجَرَ أُمِّ إِسْمَاعِيلَ ﷺ مِنْهُمْ، وَالصِّهْرُ: كَوْنُ مَارِيَةَ أُمِّ إِبْرَاهِيمَ ابْنِ رَسُولِ اللهِ ﷺ مِنْهُمْ" په حديث كې چې د مصريانو سره د كوم تعلق ذكر دى، هغه د هاجرې په نسبت سره دى. خكه چې هغه مصريه وه، د خوسرګنى په رشته كې اشاره ماريه قطبيه رضي الله عنها ته ده چې د نبي كريم ﷺ د زوى ابراهيم رضي الله عنه والده ده.

لغوي تحقيق:

القيراط: يوه سكه، مخصوص وزن.

البلاد: ښار او هېواد.

تشريح "يذكر فيها القيراط" په دې كې د قيراط ذكر دى، كه چېرته په عربو كې يو طرفته درهم او دنانير چلېدل، نو بل طرفته قيراط هم يوه سكه وه، قيراط د دانق نيمايي وي، دانق د درهم شپږمې حصې ته ويل كېږي، د قيراط زيات استعمال په مصر كې كېدلو، "ستفتحون مصر" نژدې ده چې تاسو به مصر فتح كړئ، دا د نبي كريم ﷺ پېشګوئي وه كومه چې ډېره زر څرګنده شوه، د عمر فاروق رضي الله عنه په خلافت كې مصر فتح شو، په مصر باندې د مسلمانانو حكومت راغلو

د مصريانو د خسرګنى رشتې نه مطلب څه دى؟

"فإن لهم ذمة وصهراً" د هغه ځاى خلكو سره زموږ ذمه واري او خپلوي ده، د ذمه وارى نه مراد د اسماعيل عليه السلام مور هاجره ده، خكه چې هغې هم د مصر سره تعلق درلود او د خسرګنى تعلق داسې دى چې د ابراهيم رضي الله عنه مور ماريه قبطيه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ زوجه هم د مصر وه.

اې فاطمې رضي الله عنها! خپل ځان د جهنم نه وساته!

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: لما نزلت هذه الآية: ﴿وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ [الشعراء: ۲۱۴] دعا رسول الله ﷺ قُرَيْشًا فَاجْتَمَعُوا

فَعَمَّ وَخَصَّ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې کله دا آيت نازل شو چې "وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ" اخپل نږدې رشته داران ووېروئ) نو نبي كريم ﷺ قريش راغوند کړل. تول عام او خاص يو ځای جمع شول. وَقَالَ: يَابَنِي عَبْدِ شَمْسٍ، يَابَنِي كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، يَابَنِي مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: اې د عبد شمس اولاده! اې د كعب بن لوی اولاده! اې د بني مرة بن كعب اولاده! تاسو خپل ځانونه د جهنم له اوره وساتئ! "يَابَنِي عَبْدِ مَنَافٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ" اې بني عبد مناف خپل ځانونه د جهنم څخه وساتئ! "يَابَنِي هاشم، أنقذوا أنفسكم من النار، يَابني عبد المطلب، انقذوا أنفسكم من النار" اې د بني هاشم اولاده! ځانونه د جهنم څخه بچ كړئ! اې د بني عبد المطلب اولاده! ځانونه د جهنم له اوره بچ كړئ! "يَا فَاطِمَةُ، أَنْقِذِي نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ. فَإِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئاً" اې فاطمې! خپل ځان د جهنم څخه بچ كړه! ځكه چې زه تاسو د جهنم نه نشم خلاصولی. "غَيْرَ أَنَّ لَكُمْ رَحِماً سَأَبُلُّهَا بِبِلَالِهَا" زه صرف د رشته داری حفاظت كولی شم، يه همدې تړاو ددې تعلق له وجې تاسو ته خبر دركوم. رواه مسلم

"قوله ﷺ: بِبِلَالِهَا: هُوَ بفتح الباء الثانية وكسرها، وَالبِلَالُ: الماءُ. ومعنى الحديث: سَأَصِلُهَا، شَبَّهَ قَطِيعَتَهَا بالحَرَارَةِ تُطْفَأُ بالماءِ وهذهِ تُبَرَّدُ بالصِّلَةِ" د بلل معنی: لوندوالی، په حديث كې د قطع رحمی تشبيه د گرمی سره وركول شوې ده چې په اوبو سره ختميږي، دغه شان د صله رحمی سره د قطع رحمی گرمي ختميږي

لغوي تحقيق:

سأبلها بلها: په اوبو سره لوند پدل، يخول

كعب بن لؤی څوك دی؟

تشريح: "كعب بن لؤی أنقذوا أنفسكم من النار" كبن لؤی د پيغمبر ﷺ په دويم پشت كې داخل نيكه گان دي، دا د غالب بن مهر زوی وو، د ځينو په نزد د مهر لقب قريش وو، د ځينو په نزد د نضر بن كنانه لقب قريش وو، نو د يو قول مطابق د قريشو سلسله ابتداء د مهر څخه شروع شوې ده، خلاصه دا چې نبي كريم ﷺ د دغې قبيلې خلك راوغوښتل او دوی ته يې دعوت وركړو چې د جهنم نه ځان وساتئ! "مرة بن كعب، انقذوا أنفسكم من النار" مره بن كعب هم د قريشو د يو خاندان نيكه وو، "فإني لا أملك لكم من الله شيئاً" زه تاسو د الله ﷻ له عذابه نه شم خلاصولی. ځيني محدثين فرمايي: دا قول د رسول الله ﷺ د قرآن كريم د ارشاد مطابق وو، "قل لا أملك لنفسي نفعاً ولا ضراً إلا ماشاء الله، قل فمن يملك لكم من الله شيئاً إن أراد بكم ضراً أو أراد بكم نفعاً"

په دنيا كې به ضرور صله رحمي كوم:

"إن لكم رحماً سأبلها ببلالها" ستاسو سره زما خپلوي ده، په دې وجه به زه ستاسو سره خامخا صله رحمي كوم. "ببلالها" شرعاً ددې نه مراد د خپلوی تعلقات دي، په دنيا كې د خپلوانو سره به تعلق، د دوی مرسته، د دوی په غم او خوشحالی كې شريكيدل تول رشته درسره پالم، ليكن د آخرت له عذابه مو نه شم ساتلی. ځيني

محدثين فرمايي "بِلالها" دا د بلل جمع ده، معنى يې ده لوندېدل، عرب د احسان او نېکى کولو لپاره دا لفظ استعمالوي، علماء ددې څخه استدلال کوي اگر چې خپلوان مشرکان او کافران وي، بيا هم د دوی سره صله رحمي پکار ده.

زما ملګري الله جَلَّ جَلَالُهُ او نېکان خلک دي

"وعن أبي عبد الله عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قَالَ: سمعت رَسُول الله ﷺ جِهاراً غَيْرَ سِرٍّ" د ابو عبد الله عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې په زوره يې ويل، نه په کلاره، " يَقُولُ: إنَّ آل بَني فُلاَن لَيْسُوا بأوْليَائِي، إنَّمَا وَلِيِّيَ اللهُ وَصَالِحُ المُؤْمِنِينَ" زما ملګري او خپلوان د فلانکی قبيلې خلک نه دي، بلکې زما ملګري او دوست خو الله جَلَّ جَلَالُهُ او نېکان صالحان مؤمنان دي. "وَلكِنْ لَهُمْ رَحِمٌ أبُلُّهَا بِبِلاَلِهَا" ليکن د هغوی سره زما رشته داري ده، نو دغه به باقي ساتم او د هغې حفاظت به کوم مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، واللفظ للبخاري

لغوي تحقيق:

جِهاراً: جهر جهراً باب فتح يفتح دی، ددې معنى ده اعلان کول، څرګندول

تشريح "جِهاراً غير سِرٍّ" په واضحه الفاظو سره، محدثين فرمايي چې نبي کريم ﷺ په خپل ارشاد کې په صراحت سره نوم اخيستى وو، ليکن راوي هغه نوم حذف کړو، ځکه چې ظاهرا ددې نوم په ظاهرولو کې د فتنې او فساد وېره وه.

راوي چې د کوم سړي نوم پرېښود هغه څوک دی؟

خينو په دغه ځای کې د ابو لهب نوم اخيستی دی، خينو نورو د ابو سفيان نوم ياد کړی دی او خينو حکم بن ابي العاص ښودلی دی، خينې نور فرمايي چې ددې نه کوم خاص فرد مراد نه دی، بلکې پوره قوم او قبيله ترې مراد دی، مثلاً قريش يا بنو هاشم يا د نبي کريم ﷺ د تره زامن.

"لَيْسُوا بأوْليَائِي" نبي کريم ﷺ دا خبره واضحه کړه چې زما مرسته زما د خاندان سره په دې وجه نه ده چې هغوی زما خپلوان دي او يا مي روحاني او باطني تعلق ورسره دی! بلکې په دې بنسټ مي مرسته ورسره ده چې هغوی صرف زما خپلوان دي، ددې نه علاوه پاتې روحاني او باطني تعلق مي يوازې د مؤمن او صالح مسلمان سره دی. اگر چې هغه زما خپلوان نه وي، خينې شارحين وايي: ددې نه مراد ابو بکر رضي الله عنه دی او خينو علي رضي الله عنه هم مراد اخيستی دی.

جنت ته د داخلېدو په عملونو کې صله رحمي هم ده

"وعن أبي أيوب خالد بن زيد الأنصاري رضي الله عنه: أنَّ رجلاً قَالَ: يَا رَسُول الله، أخبرني بعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الجَنَّةَ، وَيُبَاعِدُني مِنَ النَّارِ" د ابو ايوب خالد بن زيد انصاري رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې يو کس د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! ماته داسې عمل وښيه چې زه د هغې په وجه د جهنم نه لرې شم او جنت ته داخل

شم. "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: تَعْبُدُ اللهَ، وَلَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئاً" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل ته: خپل رب عبادت کوه او شريك ورسره مه جوړوه، "وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ" لمونځ کوه او زکات ورکوه، "وَتَصِلُ الرَّحِمَ" صله رحمي کوه، يعنې د خپلوانو سره خپلوي مه پرې کوه، بلکې خپلوي ورسره ساته. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

تعبد: "عبادة وعبودة" د يو الله ﷻ عبادت کول

تشريح "أخبرني بعمل يدخلني الجنة" ماته داسې عمل وښيه چې جنت ته پرې داخل شم. د دې صحابي ﷺ په سوال کولو سره رسول الله ﷺ څو عملونو ته اشاره وکړه. په دې کې دې طرف ته اشاره ده چې جنت محض يوازې په ارمانونو او سوچونو نه حاصليږي. تر څو چې ايمان او اعمال ورسره شريك نه شي. "تقيم الصلاة" لمونځ قائم کړه. په ځانګړې ډول لمونځ په خپل وخت ادا کړه. څوك چې لمونځ نه کوي د هغه په دين کې هيڅ حصه نشته. "وتؤتي الزكاة" زکات ورکوه. زکات فرض دی، منکر يې کافر دی او نه ورکوونکی ګناهګار او فاسق دی. "وتصل الرحم" او صله رحمي کوه.

پنځه اعمال چې د غرونو په اندازه ثواب لري:

فقيه ابو الليث رحمه الله فرمايي: پنځه عملونه داسې دي چې که يو سړی دوام او استقامت ورباندې وکړي، نو د الله ﷻ له طرفه به ورته د غرونو په اندازه ثواب ملاو شي او په رزق کې به يې هم وسعت پيدا شي

(۱) صدقه ورکول، اګر چې لږه وي، (۲) صله رحمي باندې مداومت کول. اګر چې لږ وي، (۳) د الله ﷻ په لاره کې جهاد کول، (۴) همېش په اودس کې اوسېدل، (۵) د مور - پلار خدمت او احترام کول

د راوي ابو ايوب خالد بن زيد ﷺ حالات:

اصل نوم يې خالد ﷺ دی، کنيت يې ابو ايوب دی، د خزرج په قبيله کې د نجار خاندان سره تعلق لري، پوره سلسله نسب يې داسې دی: خالد بن زيد بن کليب بن ثعلبة بن عبد عوف خزرجي. په بيعت عقبة کې د مسلمانانو سره شريك وو، مدينې منورې ته د راتلو وروسته به رسول الله ﷺ د دوی په کور کې اوسېدلو. د نبي کريم ﷺ سره يې په ټولو غزاګانو کې شرکت کړی دی. د فقيه صحابه وو څخه شمارل کېدو، کله چې به يې په خپل مينځ کې په څه مسئله اختلاف شو، نو ده ته به يې رجوع کول

خپنې ځانګړې صفتونه پکې وو: د رسول الله ﷺ سره مينه، ايمان غيرت، حق خبره کول. حيا او شرم پکې بيخي زيات وو، په رواياتو کې راځي: هغه چې به کله لمبل، نو څلورو طرفونو ته به يې څادر پرده کول

وفات په درې پنځوسمه هجري کې کله چې د يزيد بن معاويه د کومندې لاندې يې په قسطنطنيه (ترکي) باندې حمله کوله لپاره روان شونو په لاره کې عام وباخوره شوه د بر خلک له دې

ويا شهيدان شو. د دوی ﷺ هم انتقال په دې وباء کې ووشو. د انتقال نه وروسته د قسطنطنيه ديوال سره نژدې يې دفن کړ.

مرويات يو نيم سل ۱۵۰ حديثونه ترې نقل دي، او ۷ حديثونه يې متفق عليه دي. بخاري په يو حديث کې او مسلم په دوه حديثونو سره منفرد دي.

په خورما يا ندې روژه ماتول سنت دي

"وعن سلمان بن عامر ﷺ عن النبي ﷺ قَالَ: إِذَا أَفْطَرَ أَحَدُكُمْ، فَلْيُفْطِرْ عَلَى تَمْرٍ فَإِنَّهُ بَرَكَةٌ" د سلمان بن عامر ﷺ روايت دی. فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کله چې په تاسو کې يو کس روژه ماتوي. نو بايد چې په خورما يې ماته کړي. ځکه چې په دې کې برکت دی "فَإِنْ لَمْ يَجِدْ تَمْراً، فَالمَاءُ، فَإِنَّهُ طَهُورٌ" که چېرته خورما پيدا نه کړي، نو بيا دې يې په اوبو سره ماته کړي. ځکه چې په اوبو کې طهارت او صفائي ده. "وَقَالَ: الصَّدَقَةُ عَلَى المِسكِينِ صَدَقَةٌ، وَعَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل په مسکين باندې صدقه کول يو اجر لري او په خپلوانو باندې صدقه کول دوه اجره لري. "صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ" يو د صدقې اجر او بل د صله رحمي اجر. رواه الترمذي، وَقَالَ: ((حديث حسن)).

لغوي تحقيق:

افطر: "أفطر إفطاراً" باب ضرب يضرب دی، روژه ماتول

د ابن قيم رحمه الله په نزد خورما باندې د روژې ماتولو وجه:

"فليفطر على تمر" کوم کس چې روژه ماتول غواړي، هغه دې په خورما ماته کړي، که خورما ونه وي، نو بيا دې په اوبو ماته کړي. ددې مشهوره وجه علامه ابن القيم رحمه الله په کتاب (طب النبوي ﷺ) کې بيان کړې ده "وفي فطر النبي ﷺ من الصوم على التمر او الماء تدبير لطيف جداً فان الصوم يخلي المعدة من الغذاء فلا يجد الكبد فيها ما يجذبه وترسله الى القوى والاعضاء والحلو اسرع شئ وصولاً الى الكبد واحبه اليها ولا سيما ان كان رطباً فيشتد قبولها له فتنفع به هي والقوى فان لم يكن التمر فحلاً أنه وتوذيته فان لم يكن فحسرات الماء تطفي لهيب المعدة وحرارة الصوم فتنتبه المعدة للطعام وماجده بشهوة" **ترجمه**: روژه ماتې کې د رسول الله ﷺ عادت دا ؤ چې يا به يې روژه په خورما ماتول. يا به يې په اوبو ماتول. په دې کې يو قسم لطافت او عجيبه نکته ده. هغه دا چې د روژې په حالت کې معده د خوراک نه خالي وي، جگر ته داسې خوراک نه ملاوېږي چې هغه يې خاڼته جذب کړي او نورو اندامونو ته يې ولېږي، په داسې وخت کې خوږ شئ (شربت، خورما، شيريني) معدې او زړه ته په ډېرې تيزۍ سره ورځي، په زړه باندې هم خوږ شی ښه لګيږي، بيا خصوصاً کله چې خوږه او ښايسته خورما وي. نو بيا خو يې په ډېر شوق سره معده قبلوي، په داسې حال کې به نورو اندامونو زيات ته پوره قوت حاصل شي، که داسې خوراک په لاس درنشي، نو د اوبو يو څو غړپه وکړئ، په دې کې فايده دا ده چې د معدې ګرمې ورسره ختمه شي. ددې نه وروسته انسان ډوډۍ خوړلو ته په شوق کيني او په اشتهاء خوراک کوي

"الصدقة على المسكين صدقة وعلى ذي الرحم ثنتان" په مسکين باندې صدقه يو ثواب لري، په

خپلوانو باندې صدقه کول دوه ثوابه لري، يو د صدقې ثواب دی او بل د صله رحمی ثواب دی په حديثونو کې ددې ترغيب راغلی دی، که يو انسان زيات ثواب غواړي: نو په خپلوانو دې صدقه وکړي

د راوي سلمان بن عامر رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې سلمان رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې عامر دی، د اوس بن جعد ضبي قبيلې سره يې تعلق درلود، بصري صحابي دی، د ځينو اسماء الرجال عالمانو په نزد د ضبي قبيلې ځخه دی، دغه حديث د دوی ځخه بغير بل چا نه دی روايت کړی

مرويات: ديارلس حديثونه ترې روايت شوي دي، صرف يو حديث يې په بخاري کې دی

د مور- پلار په مطالبه ښځې ته طلاق ورکول:

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: كَانَتْ تَحْتِي امْرَأَةٌ، وَكُنْتُ أُحِبُّهَا، وَكَانَ عُمَرُ يَكْرَهُهَا، فَقَالَ لِي: طَلِّقْهَا" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې زما په نکاح کې يوه ښځه وه، ما ورسره زياته مينه کول. خو زما پلار عمر رضي الله عنه هغه ښځه نه خوښول. نفرت يې ترې درلود، يوه ورځ يې راته وويل هغه طلاقه کړه "فَأَبَيْتُ، فَأَتَى عُمَرُ رضي الله عنه النَّبِيَّ ﷺ، فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ" ما انکار وکړو، عمر رضي الله عنه نبي اکرم ﷺ ته راغلو او ټوله کيسه يې ورته واوروله. "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: طَلِّقْهَا" نبي اکرم ﷺ وفرمايل هغه طلاقه کړه! رواه أبو داود والترمذي، وَقَالَ: ((حديث حسن صحيح)).

لغوي تحقيق:

يكرها: "كره يكره" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده يو شی نه خوښول.

د شرعي وجې ځخه بغير ښځه طلاقول جائز نه دي:

تشريح: "وكان عمر يكرها فقال لي طلقها" عمر رضي الله عنه ته هغه خوښه نه وه، ما ته يې د طلاق ورکولو حکم وکړو، علماء فرمايي چې ددې ښځې له لاسه به عمر رضي الله عنه ته کوم تکليف رسېدلی وي، يا به کومه بله معقوله وجه وي چې عمر رضي الله عنه هغې ته د طلاق ورکولو حکم وکړو او نبي کريم ﷺ هم ورته وفرمايل طلاق ورکړه! خو که داسې کوم تکليف نه وي او نه ځه بله معقوله وجه وي چې په هغې سره طلاق ورکول شي، هسې به مور- پلار ضد کوي او بچي ته به وايي چې طلاق ورکړه: په داسې صورت کې د مور- پلار خبره منل ضروري نه دي، د طلاق ورکولو په صورت کې به د ښځې خاوند ګناهګار وي، ځکه چې طلاق خامخا د کومې شرعي وجې ځخه بغير ورکول مکروه تحريمي دي، د نکاح مقصد يو ځای والی اتفاق دی، بې اتفاقي او جداوالی يې مقصد نه دی

ولې ابن عمر رضي الله عنهما د پلار خبره ونه منل؟

سوال: ابن عمر رضي الله عنه ولې د خپل خبره ونه منله چې نوبت ديته راورسيدلو چې نبي کريم ﷺ ته عمر رضي الله عنه خبره وکړه؟

جواب ابن عمر رضي الله عنه په دې خبره کې شکې ؤ چې که يو طرفته د پلار خبره منل ضروري دي، نو بل طرفته د طلاقو د قباحت په باره کې ورته د رسول الله ﷺ قول مخې ته پروت دی، عمر فاروق رضي الله عنه چې په کومه وجه د طلاق ورکولو حکم کولو، هغه وجه ابن عمر رضي الله عنه ته د خپلې ښځې سره د مينې له وجې معلومه نه وه، خو کله چې رسول الله ﷺ ورته حکم وکړو، نو بيا يې سمدستي طلاق ورکړو

پلار د جنت مينځنى دروازه ده

"وعن أبي الدرداء رضي الله عنه: أن رجلاً أتاه، فَقَالَ: إنَّ لي امرأةً وإنَّ أُمّي تَأْمُرُني بِطلاَقِهَا؟" د ابو درداء رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې يو کس ماته راغلو، راته يې وويل اې ابو درداء رضي الله عنه! زما يوه ښځه ده، مور مې راته وايي چې خپله ښځه طلاقه کړه، اوس زه راغلى يم چې زه څه وکړم؟ "فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُول الله ﷺ، يقول الوَالِدُ أوْسَطُ أبْوَابِ الجَنَّةِ" ابو درداء رضي الله عنه فرمايي: ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې پلار د جنت مينځنى دروازه ده. "فَإنْ شِئْتَ، فَأَضِعْ ذَلِكَ البَابَ، أَو احْفَظْهُ" که ته غواړې نو دا دروازه ضايع کړه او که خوښه دي وي نو حفاظت يې وکړه؛ "رواه الترمذي، وَقَالَ: حديث حسن صحيح" دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی

لغوي تحقيق:

فَاضِع: د امر صيغه ده، باب ضرب يضرب دی، ددې معنى ده: ضايع کول، ختمول

د مور - پلار د تابعدارى حد:

تشريح: "وان أمي تامرني بطلاقها" زما مور ته ماته امر کوي چې خپله ښځه طلاقه کړه، علماء فرمايي چې کوم کارونه شرعاً واجب وي او والدين ددې نه منع وکړي، نو په داسې صورت کې د والدينو خبره منل حرامه ده، مثلاً: د فرضي حج څخه يې منع کوي يا د ضرورت په اندازه فرضي علم څخه يې منع کوي، په داسې وخت کې به د دوی اطاعت نه شي کولی، دغه شان کوم کارونه چې شرعاً حرام وي او مور پلار يې د کولو حکم وکړي، نو بيا هم د مور خبره منل ناجائز دي، بغير د کومې شرعي وجې څخه ښځې ته طلاق ورکول مکروه تحريمي دي، خلاصه دا چې خالص د مور- پلار د ضد له وجې ښځې ته طلاق ورکول پکار نه دي، ترڅو چې کومه شرعي وجه ظاهره شوې نه وي

"يقول: الوالد أوسط أبواب الجنة" پلار د جنت په دروازو کې مينځنى او غوره دروازه ده، په دې جمله کې د ابو درداء رضي الله عنه مقصد دا دی چې: که شرعا په مېړمن کې هغه خبرې موجودې وي چې د هغې له وجې ښځې ته طلاق ورکول کيږي، نو اوس هغې ته طلاق ورکړه او خپل پلار خوشحال کړه، که ته خپلې مېرمنې ته طلاق نه ورکوې، نو پلار به دې ناراضه شي، د جنت دروازه به دې بنده شي، په دې حديث کې اشاره ده دغې خبرې ته چې د مېرمنې په مينه او محبت باندې به د مور - پلار اطاعت او تابعدارى ته ترجيح ورکولی شي

د والد په مفهوم کې والده هم داخله ده:

"يقول: الوالد" دلته د والد په مفهوم کې والده هم داخله ده، ځکه چې دلته لغوي معنی مراد ده يعنې اولاد زېږوونکی، په دې اعتبار سره د والد اطلاق په مور - پلار دواړو باندې کيږي. لکه ځرنګه چې د والدين تثنيه صيغې نه مور - پلار دواړه مراد کېدلی شي. په دې اعتبار د والد اطلاق هم په دواړو کيږي.

خاله د مور قائم مقام ده

"وعن البراء بن عازب رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قال" د براء بن عازب ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "الخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الأُمِّ" ترور د مور په منزله ده. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح" دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او فرمايي چې دا حديث حسن صحيح دی

"وفي الباب أحاديث كثيرة في الصحيح مشهورة" په دې باب کې زيات مشهور حديثونه دي. "مِنْهَا حديث أصحاب الغار، وحديث جُرَيْجٍ وقد سبقا، وأحاديث مشهورة في الصحيح حذفتها اختصاراً" ځينې ددې نه لکه د غار والا ملګرو حديث. دغه شان د جريج حديث چې دا مخکې تېر شوي دي. "وَمِنْ أَهَمِّهَا حديث عمرو بن عَبَسَة ﷺ الطَّوِيلُ المُشْتَمِلُ عَلَى جُمَلٍ كَثِيرَةٍ مِنْ قَوَاعِدِ الإِسْلَامِ وَآدَابِهِ" د ډېر زيات اهم حديث د عمرو بن عبسه ﷺ دی چې زيات اوږد دی. د زياتو جملو نقل دی، په هغه کې د اسلام قاعدې او آداب بيان شوي دي. "وَسَأَذْكُرُهُ بِتَمَامِهِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى فِي بَابِ الرَّجَاءِ، قَالَ فِيهِ" ډېر زر ده چې دا حديث که د الله ﷻ خوښه وي په باب د الرجاء، کې به يې پوره ذکر کړو. په هغې يې فرمايلي دي: "دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ بِمَكَّةَ - يعني: فِي أَوَّلِ النُّبُوَّةِ - فقلتُ لَهُ: مَا أَنْتَ؟" زه نبي اکرم ﷺ ته راغلم په داسې وخت کې چې په مکه مکرمه کې وو، دا د نبوت اول وخت ؤ چې هغه ته ورکول شوی ؤ، نو ما ورته ووېل: تاسو ځوک يئ؟ "قَالَ: نَبِيٌّ، فَقُلْتُ: وَمَا نَبِيٌّ؟" نبي اکرم ﷺ راته وفرمايل: زه نبي يم، نو ما بيا ورته ووېل- نبي ځوک وي؟ "قَالَ: أَرْسَلَنِي اللهُ تَعَالَى" نبي اکرم ﷺ راته وفرمايل: د الله ﷻ رالېږل شوی استازی يم، "فقلت: بِأَيِّ شَيْءٍ أَرْسَلَكَ؟ قَالَ: أَرْسَلَنِي بِصِلَةِ الأَرْحَامِ، وَكَسْرِ الأَوْثَانِ" نبي اکرم ﷺ راته وفرمايل: زه الله ﷻ ددې خبرې سره رالېږلی يم چې صله رحمي به کوم او بوتان به ماتوم، "وَأَنْ يُوَحَّدَ اللهُ لاَ يُشْرَكُ بِهِ شَيْءٌ" بل دا چې الله ﷻ يو وګڼئ او شريک ورسره مه جوړوئ! "وَذَكَرَ تَمَامَ الحَدِيث. والله أعلم" بيا يې ټول حديث ذکر کړو، نور الله ﷻ ډېر ښه پوهيږي.

لغوي تحقيق:

منزلة: خپله معنی يې د شکته کېدو ځای ته وايي، دلته يې معنی: په قائم مقام سره کيږي

تشريح: د خاله درجه هم د مور په شان وي، د يوې ونې دوه شاخونه وي. يوه د مور په ځېر وي او بله د ترور په شان وي، لکه ځرنګه چې انسان د خپلې مور قدر کوي، دغسې به د ترور / خاله قدر هم کوي، په خانګړې ډول کله چې مور وفات شي، نو بيا خو به يې بېخي خيال ساتي.

مكمل حديث

مكمل حديث دا دی: "عن البراء رضي الله عنه قال اعتمر النبي ﷺ في ذي القعدة فأبى أهل مكة أن يدعوه يدخل مكة حتى قاضاهم على أن يقيم بها ثلاثة أيام فلما كتبوا الكتاب كتبوا: هذا ما قاضى عليه محمد رسول الله ﷺ فقالوا لا نقر بها فلو نعلم أنك رسول الله ما منعناك لكن أنت محمد بن عبد الله قال أنا رسول الله وأنا محمد بن عبد الله ثم قال لعلي امح رسول الله! لا، والله لا أمحوك أبداً، فأخذ رسول الله، وليس يحسن يكتب فكتب هذا ما قاضى عليه محمد بن عبد الله لا يدخل مكة سلاح إلا في القراب وأن لا يخرج بأحد إن أراد أن يتبعه، وأن لا يمنع أحدا من أصحابه أراد أن يقيم بها، فلما دخل ومضى الأجل أتوا عليا، فقالوا: قل لصاحبك أخرج عنا فقد مضى الأجل، فخرج النبي ﷺ ابنة حمزة يا عم يا عم! فتناولها علي فأخذ بيدها وقال لفاطمة دونك ابنة عمك احمليها، فاختصم فيها علي وزيد وجعفر فقال علي أنا أحق بها وهي ابنة عمي وخالتها تحتي وقال زيد ابنة أخي، منها حديث أصحاب الغار" دا حديث په باب الاخلاص کې تېر شوی دی، په دې کې د صله رحمی په وجه الله ﷻ له عذابه انسان خلاصوي. دغه شان د ابن جريج حديث چې په باب "فضل ضعفة المسلمين" کې تېر شوی دی، دغه شان حديث د عمرو بن عبسه په باب الرجاء کې تفصيلا راروان دی، چې کله د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې تاسو کومې خبرې ته رالېږل شوي يئ؟ نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: زه الله ﷻ صله رحمی ته رالېږلی يم او بل دا چې بتان مات کړم.

باب تحريم العقوق وقطيعة الرحم

د مور-پلار نافرمانۍ او خپلوۍ پرې کول حرامه ده

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ" اې منافقانو ستاسو نه دا هيله کېدی شي چې که تاسو ته څه مشري په لاس درشي، نو تاسو به په ځمکه کې فساد جوړ کړئ او صله رحمي به پرې/ قطع کړئ، "أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ" بس دا هغه کسان دي چې الله ﷻ پرې لعنت ويلی دی، کاڼه کړي يې دي او د دوی سترګې يې ړندې کړي دي. [محمد: ۲۲-۲۳]

تشريح: "فهل عسيتم إن توليتم أن تفسدوا في الأرض" د (تولي) دوه معناګانې دي: لومړی اعراض کول، دويم اقتدار او حکومت ته وايي، خينې مفسرين چې ابو حيان رحمه الله پکې شامل دی، لومړی معنی اخيستې او مطلب يې داسې بيان کړی دی چې: که تاسو د شرعي حکمونو څخه اعراض وکړو چې په هغې کې د جهاد حکم دی، نو ددې اعراض نتيجه به دا شي چې تاسو به د جاهليت په طريقو روان شئ او په ځمکه کې به فساد جوړ کړی او قطع رحمي به شروع کړئ، لکه څرنګه چې به د جاهليت په زمانه کې داسې کېدل.

خينې نور مفسرين چې علامه آلوسي بغدادي رحمه الله او علامه قرطبي رحمه الله پکې شامل دي، دوی دويمه معنی اخيستې ده، ددې ايت مطلب به دا شي چې که تاسو ته حکومت او چوکۍ په لاس درشي؛ نو ددې نتيجه به دا شي چې تاسو به په ځمکه کې فساد جوړ کړئ او رشتې به ختمې کړئ،

خلاصه دا چې په دې آيت کې د صله رحمی ختمولو سخت وعيد راغلی دی چې ددې له امله په ځمکه کې فساد جوړ شي، "أولئك الذين لعنهم الله" يعنې کوم خلك چې په ځمکه کې فساد جوړوي او صله رحمي ختموي، په داسې خلکو د الله ﷻ لعنت دی، دوی يې د خپل رحمت نه لرې کړي دي

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې "وَالَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللهِ مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ" او هغه کسان چې د الله ﷻ وعدې د مضبوطوالي وروسته ماتوي، "وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ" او دوی پرې کوي هغه چې الله ﷻ يې د وصل کولو حکم کړی دی، ايعنې د صله رحمی حکم الله ﷻ کړی دی او دوی يې ماتوي "وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ أُولَئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ" او دوی په ځمکه کې فساد کوي، بس هغه کسان دي چې لعنت پرې راليږل کيږي او د دوی لپاره به د اوسېدو بد او ناکاره ځای وي [الرعد:۲۵]

تشريح: "والذين ينقضون عهد الله من بعد ميثاقه" هغه خلك چې د الله ﷻ سره کړې وعده ماتوي، ددې نه مراد هغه وعده ده چې الله ﷻ په عالم ارواح کې: "الستُ بربكم" ايا زه ستاسو رب نه يم؟ ددې په ځواب کې د ټولو خلکو روحونو، هغه که کافر وي او که مسلمان وي، ټولو په يو اواز وويل "قالوا بلى" هو ای الله! زمونږ رب ته يې، ليکن بيا چې دنيا ته راغلل، نو کفارو او مشرکانو د الله ﷻ سره په زرګونو دروغو شريکان جوړ کړل، "ويقطعون ما أمر الله به أن يوصل" دا خلك هغه تعلقات ختموي چې الله ﷻ يې د جوړولو حکم کړی، هغه حکم کوي چې صله رحمي وکړئ، مفسرين ليکي چې ددې نه د الله ﷻ او بنده ترمنځ هم تعلقات مراد کېدلی شي، يا د انسان او پيغمبر ترمينځ تعلق مراد کېدلی شي چې د هغه اطاعت به کولی شي، ليکن بنده هغه تعلق ختم کړی او ددې نه هغه تعلق هم مراد کېدلی شي چې د خلکو ترمنځ وي

په ګڼ شمېر روايتونو کې راغلي چې د صله رحمی ختمولو وبال په انسان باندې د اخرت نه علاوه دنيا کې هم پرېوځي، په يو حديث کې راځي چې: د کومې نېکۍ اجر په تېزۍ سره انسان ته ملاوېږي هغه صله رحمي ده او د کومې ګناه سزا او وبال چې انسان ته په تېزۍ سره ملاوېږي، هغه د صله رحمی ختمولو ظلم دی، "ويفسدون في الأرض" يعنې پورته ذکر شوې خبره چې څوك نه مني، ددې په وجه دنيا کې جنګ او فسادونه کوي، همدې ته فساد ويل کيږي، "أولئك لهم اللعنة ولهم سوء الدار" لعنت د الله د رحمت نه لرې والي ته وايي، ظاهره خبره ده چې کوم انسان د الله ﷻ د رحمت نه لرې شي، نو بيا پکې باتې څه شو، دا تر ټولو لوی عذاب او لوی مصيبت دی

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي "وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا" او ستا رب فيصله کړې ده چې عبادت به نه کوئ مګر صرف د يو الله ﷻ عبادت به کوئ، د مور - پلار سره به ښه سلوك کوئ "إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا" که چېرته بوډاتوب ته ورسيږي په دوی دواړو کې يو او يا دواړه، نو دوی ته به د خولې نه (اف) قدرې لفظ هم نه وباسئ! "وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا" او د دوی سره نېکلي او ښايسته خبرې کوه! "وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ" د نرمي او مهربانۍ وزرې د دوی لپاره

ښکته کړه! "وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيراً" او په دعا کې داسې ووايه! يا الله ﷻ! ته په دوی باندې رحم وکړې لکه څنګه چې په ورو کوالي کې زما تربيت کړی دی. [الإسراء: ۲۳-۲۴].

د مور پلار نافرمانۍ لويه ګناه ده:

"وعن أبي بكرة نُفَيع بن الحارث ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ((أَلا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الكَبَائِرِ؟)) ثلاثاً" د ابو بکره نفيع بن حارث ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو په ګناهونو خبر درنه کړم چې د ټولو نه لويه ګناه کوم ده؟ دا يې درې ځله وفرمايل: "قُلْنَا: بَلَى، يَا رَسُولَ الله، قَالَ: ((الإِشْرَاكُ بِالله، وَعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ" مونږ وويل: يا رسول الله ﷺ! ولې نه! نبي اکرم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ سره شريک نيول. د مور پلار نافرماني کول. "وكَانَ مُتَّكِئاً فَجَلَسَ، فَقَالَ: أَلا وَقَوْلُ الزُّورِ وَشَهَادَةُ الزُّورِ" د دروغو خبرې کول او د دروغو شاهدي ادا کول. "فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى قُلْنَا: لَيْتَهُ سَكَتَ" مُتَّفَقٌ عَلَيهِ نبي کريم ﷺ بيا بيا دا جمله تکراروله تردې چې مونږ په زړه کې ارمان وکړو چې کاش! رسول الله ﷺ چوپ شي

لغوي تحقيق:

أنبئكم: ددې معنی ده: خبر ورکول.

تشريح "ألا أنبئكم بأكبر الكبائر؟" ايا زه تاسو ته لوی ګناهونه ونه ښيم؟ ټولو صحابه کرامو ﷺ وفرمايل: ولې نه! دلته د درې لويو ګناهونو ذکر دی، علماء ليکي چې لوی ګناهونه په يو مقدار کې منحصر نه دي، چېرته چې خاص عدد ذکر دی، هلته هم حصر مقصود نه دی، په کبيره او صغيره ګناهونو باندې علماوو مستقل کتابونه ليکلي دي

لويه ګناه کومه ده؟

علماوو په ګناهونو کې دغه پنځه ګناهونه کبيره شمارلي دي. لومړی چې په قرآن او حديث کې پر هغې وعيد راغلی وي، دويم چې په کوونکي د الله ﷻ له لوري لعنت رالېږل شوی وي، دريم: په کومه ګناه چې حد مقرر شوی وي، مثلاً: زنا، غلا، تهمت وغيره . . . څلورمه هغه ګناه چې مسلمانانو ته پکې زيات ضرر وي، مثلاً: کوم فوجي د مسلمانانو راز د کافرانو فوجيانو ته ووايي، پنځم هغه واړه ګناهونه چې اصرار ورباندې وشي.

تر ټولو لويه ګناه د الله ﷻ سره شريک جوړول دي:

الإشراك بالله: د الله ﷻ سره شريک جوړول، په ذات يا صفاتو کې د الله ﷻ سره شريک جوړول تر ټولو لويه ګناه ده، قرآن کريم کې راځي "إن الله لايغفر أن يشرك به ويغفر ما دون ذالك لمن يشاء" الله ﷻ شرک نه بخښي او ددې نه علاوه چې چاته يې کومه ګناه خوښه شي بخښي يې. "عقوق الوالدين" د مور پلار نافرماني لويه ګناه ده، خو علماء وايي: د مور پلار په مباح کارونو کې خبره منل واجب دي او د ګناه په کارونو کې يې اطاعت حرام دی.

"شهادة الزور" د دروغو شاهدي ورکول هم په لويو ګناهونو کې شمارل کيږي، وجه دا ده چې په دې دروغ وويل شو، دا خاتته حرام کار دی، بل ددې دروغو په وجه د يو مسلمان ورور مال ناحقه وخوړل شي، دا دويمه لويه ګناه ده يا په دې دروغو سره حرام حلال کړي يا حلال حرام وګرځوي، ددې وجوهاتو له وجې په دروغه شاهدي د لويو ګناهونو ښخه وشمارل شو

په دروغو قسم کول هم ستره ګناه ده

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما، عن النبيّ ﷺ قَالَ: الكَبَائِرُ: الإشْرَاكُ بِاللهِ، وَعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل لوی ګناهونه دا دي: ازل د الله جل جلاله سره (نعوذ بالله) شريک جوړول، دويم د مور - پلار نافرماني کول، "وَقَتْلُ النَّفْسِ، وَاليَمِينُ الغَمُوسُ" بې ګناه مسلمان وژل او په دروغه قسم کول رواه البخاري

"اليمين الغموس: التي يحلفها كاذباً عامداً" يمين غموس دې ته وايي چې په دروغه قسم وخوړل شي، "سميت غموساً، لأنها تغمس الحالف في الإثم" او دې ته غموس ځکه ويل کيږي چې قسم خوړونکی په ګناه کې غوپه وهي

لغوي تحقيق:

اليمين: ددې جمع "ايمن او ايمان" راځي، باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده قسم کول

تشريح "الإشراك بالله" د الله جل جلاله سره څوک شريکول، په ايماني اصولو کې اصل شی په الله تعالی باندې ايمان دی، بيا د الله جل جلاله سره په ذات يا صفاتو کې شريک جوړول شرک ګڼل شوی، علامه ابن القيم رحمه الله د شرک دوه قسمونه ښودلي دي: لومړی قسم يې لوی شرک دی، يعنې باطل معبودان د رب العالمين سره په ذات کې برابر ګڼل، بې له توبې دا شرک نه معاف کيږي، دويم وړوکی شرک يعنې رياکاري، چاته د ځان ښودلو لپاره عمل کول يا په غير الله قسم خوړل، دلته لومړی قسم شرک مراد دی

"عقوق الوالدين" د مور پلار نافرماني کول، د مور پلار خبره منل، اطاعت يې کول، احسان ورسره کول، دې باره کې ګڼ شمېر ايتونه راغلي دي، په دې وجه د مور پلار نافرماني کول په اتفاق د عالمانو لويه ګناه ده

"وقتل النفس" ناحقه قتل کول، کله چې ناحقه قتل وشي، نو الله جل جلاله پرې سخت ناراضه کيږي، په داسې سړي باندې لعنت راوريږي، د قيامت په ورځ به مقتول قاتل د غاړې نه نيولی وي او د الله جل جلاله دربار ته به يې پيش کړي، وايي به چې اې الله! دده نه پوښتنه وکړه چې زه يې په څه وجه قتل کړی وم؟

قسم په درې قسمه دی:

فقهاء کرام فرمايي چې قسم په درې قسمه دی يمين لغو، يمين غموس او يمين منعقد، يمين لغو د امام صاحب رحمه الله په نزد هغه ته ويل کيږي چې يو کس په تېره شوي زمانې کې په يو خلاف واقع کار باندې قسم وکړي، دده پوخ يقين وي چې دا کار هم داسې دی چې زه يې څنګه وايم، حالانکې هغه

کار داسې نه وي، د داسې قسم کولو نه کفار، شته او نه ګناه، د امام شافعي رحمه الله په نزد يمين لغو هغه قسم ته ويل کيږي چې بې اختياره د خولې څخه ووځي.

يمين منعقده: په مستقبل کې په يو کار کولو يا نه کولو قسم کولو ته وايي، مثلاً: يو کس ووايي: سهار به زه بازار ته ځم، اوس کې لاړ نه شي، نو حانث به شي، پداسې صورت کې به په هغه باندې کفاره لازم شي، که بازار ته لاړ نه شي، نو کفاره پرې نشته.

يمين غموس: دې ته ويلې شي چې په ماضي زمانه کې په يو داسې کار باندې قسم وکړي چې هغه ورته معلوم وي چې داسې نه دي شوي خو هغه ووايي چې داسې شوي دي، مثلاً: زيد قتل نه دی کړی او هغه ته پته هم شته چې واقعي زيد قتل نه دی کړی او دی بيا هم قسم کوي چې زيد قتل کړی دی، د احنافو په نزد د داسې قسم کفاره نشته، توبه به وباسي، ځکه چې غموس د غمس څخه اخيستل شوی دی او غمس غوپې ته ويل کيږي، داسې قسم کوونکی په دنيا او اخرت کې په ګناه کې غوپه وهي. ليکن د شوافعو رحمهم الله مسلك دا دی چې په داسې قسم هم کفاره شته.

د بل سړي مور پلار ته کنځل مه کوئ، هغه به ستا مور پلار ته کنځل وکړي

"وعنه أن رسول الله ﷺ، قال: مِنَ الكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيهِ!" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په لويو ګناهونو کې يوه ګناه دا هم ده چې سړی خپل مور پلار ته کنځل وکړي، "قالوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَهَلْ يَشْتُمُ الرَّجُلُ وَالِدَيهِ؟" صحابه کرامو پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! داسې به هم څوك وي چې خپل مور پلار ته کنځل کوي؟ "قَالَ: نَعَمْ، يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ، فَيَسُبُّ أَبَاهُ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: هو! ولې نه! کله چې يو کس د بل کس پلار ته کنځل وکړي، نو هغه بل کس به هم دده پلار ته کنځل وکړي، "وَيَسُبُّ أُمَّهُ، فَيَسُبُّ أُمَّهُ" همدارنګه يو کس به د بل کس مور ته کنځل وکړي نو دا بل کس به هم دده مور ته کنځل وکړي. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"وفي رواية: إِنَّ مِنْ أَكْبَرِ الكَبَائِرِ أَنْ يَلْعَنَ الرَّجُلُ وَالِدَيهِ!" په بل روايت کې دي چې د لويو ګناهونو څخه دا هم ده چې يو کس په خپل مور پلار باندې لعنت ووايي، "قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، كَيفَ يَلْعَنُ الرَّجُلُ وَالِدَيهِ؟" چا وويل: يا رسول الله ﷺ! څنګه به يو کس په خپل مور پلار باندې لعنت وايي؟ "قَالَ: يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ، فَيَسُبُّ أَبَاهُ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: که يو کس د بل مور پلار ته کنځل کوي، نو هغه بل کس به دده مور پلار ته کنځل کوي، "وَيَسُبُّ أُمَّهُ، فَيَسُبُّ أُمَّهُ" او که مور ته يې کنځل کوي؛ نو هغه بل کس به هم دده مور ته کنځل کوي.

لغوي تحقيق:

شتم: "شتمة" باب ضرب يضرب او نصر ينصر دواړو څخه راځي، ددې معنی ده: کنځل کول.

تشريح "يسب أمه فيسب أمه" دی د هغه مور ته کنځل کوي، نو هغه به دده مور ته کنځل وکړي. ددې حديث نه دوه خبرې معلومې شوې: خپل مور پلار ته کنځل کول او سپکې سپورې ورته ويل لويه ګناه ده، دويم: د بل مور پلار ته کنځل کول يا سپکې ورته کول چې په بدله کې هغه تاته کنځل يا سپکې

کوي، نو دا هم په لويه ګناه کې داخل ده، ځکه چې ته د هغه مور پلار ته کنځل ونه کړې، نو هغه به ولې ستا مور پلار ته کنځل وکړي، لهذا ته خپله مور پلار ته د کنځلو باعث وګرځيدلې، نو دا داسې شو لکه ته چې خپله خپل مور پلار ته کنځل کوې او هغوی ته سپکې وايې، ځينو علماوو ددې نه يوه بله مسئله مستنبط کړې ده، هغه دا چې کوم کس د بوې ګناه ذريعه او سبب وګرځي، نو دا هم په دې ګناه کې برابر شريك دی.

د صله رحمی ختموونکی به جنت ته نه داخليږي

"وعن أبي محمد جبير بن مطعم ﷺ: أن رسول الله ﷺ قال: لَايَدْخُلُ الجَنَّةَ قَاطِعٌ" د ابو محمد جبير بن مطعم ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه کس به جنت ته داخل نه شي چې صله رحمي پرې کوي، "قَالَ سفيان في روايته: يعني: قَاطِعَ رَحِمٍ" په يو روايت کې سفيان وايي: ددې نه مراد صله رحمي ختمونکی دی مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

قاطع: "قطع يقطع قطعاً" ددې معنی ده: پرې کول، مقصد يې صله رحمي ختمول دي

تشريح "لايدخل الجنة قاطع" صله رحمي يعني خپلوۍ ختمونکی جنت ته نه داخليږي، دلته سوال دا دی چې خپلوۍ ختمول لويه ګناه ده، خو مؤمن به خامخا جنت ته داخليږي، په صله رحمی ختمولو سره سړی نه کافر کيږي؟ ځواب دا دی چې د حديث مطلب دا دی: کوم کس چې صله رحمي ختمول حلال وګڼي، نو په داسې حال کې به سړی کافر شي، ځکه چې حرامو ته يې حلال وويل يا دا مطلب دی چې خپلوۍ ختمونکی به اول جنت ته داخل نه شي، اګر چې وروسته داخليدی شي

د راوي جبير بن مطعم ﷺ حالات:

اصل نوم يې جبير ﷺ دی، کنيت يې ابو محمد دی، د پلار نوم يې مطعم قريشي دی، صحيح قول دا دی چې جبير ﷺ د فتح مکې او صلحه حديبيه ترمينځ مسلمان شو، د حنين په غزا کې شريك شو، په واپسی کې د رسول الله ﷺ سره وو، د علم الانساب ستر ماهر وو، دغه علم يې د ابوبکر ﷺ نه حاصل کړی وو، عمر ﷺ ته چې به کله د نسب په باره کې د تحقيق ضرورت شو، نو د ده ځخه به يې پوښتنه کول، اګر چې هغه خپله مشر او سردار وو، ليکن د تکبر بوی هم پکې نه وو، د قريشو په هوښيارانو خلکو کې شمار وو

وفات په اوه پنځوسمه هجري کې وفات شو او په مدينه منوره کې دفن شو

مرويات شپېته روايتونه ترې نقل دي، په دې کې شپږ روايتونه متفق عليه دي، په يو يو روايت سره بخاري او مسلم منفرد دي

الله ﷻ دغه شپږ شيان حرام کړي دي

"وعن أبي عيسى المغيرة بن شعبة ﷺ، عن النبي ﷺ، قال: إِنَّ اللهَ تَعَالَى حَرَّمَ عَلَيْكُمْ: عُقُوقَ الأُمَّهَاتِ" د ابو عيسی مغيرة

بن شعبه ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل بې شکه الله ﷻ په تاسو د مور پلار نافرماني حرامه کړې ده، "وَمَنعاً وهَاتِ" او شومتيا کول. "وَوَأْدالبَنَاتِ" او لورګانې ژوندی ښخول. "وكَرِهَ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ" بې ځايه او فضول خبرې کول. "وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ" او زيات سوالونه کول. "وَإِضَاعَةَ المَالِ" او د مال ضائع کول مُتَّفقٌ عَلَيهِ

"قوله: مَنْعاً، مَعنَاهُ: مَنْعُ مَا وَجَبَ عَلَيهِ" د منعاً معنی ده په هغه باندې واجب شيان نه ورکول. "وهَاتِ: طَلَبُ مَا لَيْسَ لَهُ" کوم شيان چې د هغه نه وي هغه غوښتل. "وَوَأْدَ البَنَاتِ، مَعنَاهُ: دَفْنُهُنَّ فِي الحَيَاةِ" د وأد البنات معنی ده لورګانې ژوندی ښخول. "وَ(قِيلَ وَقَالَ) مَعنَاهُ: الحَدِيثُ بِكُلِّ مَا يَسْمَعُهُ، فَيَقُولُ: قِيلَ كَذَا، وَقَالَ فُلاَنٌ كَذَا مِمَّا لاَ يَعْلَمُ صِحَّتَهُ، وَلاَ يَظُنُّهَا، وَكَفَى بِالمَرْءِ كَذِباً أنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ" د قيل او قال معنی دا ده هر هغه څه ويل چې نه يې اورې، لکه ويل کيږي چې داسې ويل شوي دي او فلاني داسې ويلي دي، حال دا چې نه يې اوريدلي وي او نه ددې خبرې د صحت په اړه ورته پته وي، نه يې پرې ګومان راځي او د سړي د دروغجن والي لپاره دا هم کافي ده چې کومه خبره اوري، بس هغه خلکو ته وايي. "وَ(إضَاعَةُ المَالِ): تَبذِيرُهُ وَصَرْفُهُ فِي غَيْرِ الوُجُوهِ المَأذُونِ فِيهَا مِنْ مَقَاصِدِ الآخِرَةِ وَالدُّنْيَا، وَتَرْكُ حِفْظِهِ مَعَ إمْكَانِ الحِفْظِ" يعنې شريعت چې په کوم ځای کې د خرج اجازه نه وي کړې، هلته مال خرج کول ضائع کولو شمارل کيږي، مثلاً ښکلې، زياتې کوټې، په کوژده او واده کې رسمونه او رواجونه پوره کول او ځان ښودنه پکې کول، يا د خپل مطلب حاصلولو پوره کولو لپاره پارټيانې کول، د مال د حفاظت وس يې وي بيا هم د مال حفاظت نه کوي، دا هم د مال ضائع کولو يو صورت دی. "وَ(كَثْرَةُ السُّؤَالِ): الإلحَاحُ فِيمَا لاَ حَاجَةَ إلَيْهِ" خامخا منت او زاري کول، عاجزي کول، د غريبي شکل جوړول او خپل عزت خرابول او داسې انداز اختيارول چې بنيادم پرې شرمېدلی ښکاري، ددې غوښتل سوال ګڼل کيږي او سوال بد کار دی

"وفِي البَابِ أحَادِيثُ سَبَقَتْ فِي البَابِ قَبْلَهُ كَحَدِيثِ: (وَأقْطَعُ مَنْ قَطَعَكِ)، وَحَدِيثِ: مَنْ قَطَعَنِي قَطَعَهُ اللهُ" په دې سلسله کې مخکې باب کې هم احاديث تېر شوي دي، يعنې د الله ﷻ دا قول: اې رشتې څوک چې تا ختموي، زه به يې کټ کړم يا د خپلولي والا حديث دی چې څوک يې کټ کوي، نو الله ﷻ به يې کټ کړي!

لغوي تحقيق:

وأد: وأد البنات معنی يې ده: لورګانې ژوندی ښخول.

دا حديث جوامع الکلم دی:

تشريح: ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: دا حديث د ښکلي اخلاقو په باره کې زيات اهميت لري، د جوامع الکلم څخه شمار دی، "إن الله حرم عليكم عقوق الأمهات" الله ﷻ په تاسو د مور پلار نافرماني حرامه کړې ده، علماء فرمايي: په دې حديث کې رسول الله ﷺ د شپږو کارونو څخه منع فرمايلې ده. لومړی د مور پلار نافرماني کول، د مور ذکر څکه په خصوصي توګه وشو چې مور د پلار په بدله کې زيانه کمزورې وي، په وړه پريشانی هم غمجنه وي، دويم لورګانې ژوندي ښخول، د جاهليت په زمانه کې

رواج دا ؤ چې لورګاني به يې ژوندۍ ښخولې، شريعت دا کار حرام کړو، د جينکيانو په ساتلو او ښه مناسب تربيت يې د جنت وعده شوې ده، دريم کار چې شريعت ترې منع کړې ده، هغه مال بې ځايه خرچ کول دي، هغه چې فضول خرچي ورته ويل کيږي، څلورم کار چې شريعت ترې منع کړې ده، فضول خبرې دي، يعنې داسې خبرې چې نه پکې د دنيا فايده وي او نه پکې د آخرت فايده وي، پنځم زيات سوال کولو نه هم شريعت منع فرمايلې ده، اصل خطاب صحابه کرامو ﷺ ته وو چې تاسو د رسول الله ﷺ نه زياتې پوښتنې مه کوئ؛ په دې سره رسول الله ﷺ پرېشانه کيږي، په قرآن کريم کې بل ځای هم الله فرمايي چې: "يا أيها الذين آمنوا لا تسئلوا عن أشياء إن تبد لكم" اې مؤمنانو! تاسو د رسول الله ﷺ نه زياتې پوښتنې مه کوئ، که ددې خبرې راز په تاسو څرګند شي، نو خفه به شئ؛ شپږم چې شريعت ترې منع کړې ده، هغه بې ځايه مال خرچ کول دي، بې ځايه مال خرچ کول اسراف هم دی او لويه ګناه هم ده، فضول خرچه انسان د شيطان ورور دی، په يو حديث کې راځي: د قيامت په ورځ به ددې پوښتنه هم کيږي چې مال دې د کوم ځای نه ګټلی وو او په کوم ځای کې دې خرچ کړی ؤ.

د راوي ابو عيسى مغيره بن شعبة رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې مغيره رضي الله عنه دی، کنيت يې ابو عبد الله دی، د پلار نوم يې شعبه بن ابي عامر دی، د غزوه خندق په کال پنځمه هجري کې مسلمان شو، په هم دې کال يې هجرت وکړو، په حديبيه کې او ددې نه وروسته په ټولو غزواتو کې شريک شوی ؤ، نبي کريم ﷺ په يوه خاصه سريه کې هغه او ابوسفيان رضي الله عنه طائف ته روان کړل، په دې جنګ کې يې ډېره بهادري وښودل، ويل کيږي چې کله رسول الله ﷺ دفن کېدو، نو دغه وخت يې خپله ګوتمه په قبر کې قصداً وغورځول، علي رضي الله عنه ورته وويل هغه ګوتمه راواخله، هغه قبر مبارک خلاص کړو او ګوتمه يې راواخيستله، د نبي کريم ﷺ څخه په ټولو کې اخرنی جدا کېدونکی صحابي مغيره بن شعبه رضي الله عنه ؤ.

بې انتهاء زيرک او هوښيار صحابي وو، قبيصه بن جابر فرمايي چې ما د مغيره رضي الله عنه سره ډېر وخت تېر کړی دی، دومره هوښيار او زيرک انسان وو چې که د يو ښار اته دروازې وي او په دې دروازو بهر ته راوتل مشکل وي؛ نو مغيره رضي الله عنه به بيا هم ددې نه په څه چل راوخي

وفات په پنځوسمه هجري کې په کوفه کې د طاعون مرض راغلو، په دې وباء کې د داويا کالو په عمر کې وفات شو [1]

مرويات د مروياتو شمېر يې تر يوسل درې دېرشو پورې رسيږي، په نهو روايتونو کې بخاري او مسلم متفق عليه دي او په يو حديث کې بخاري او په دوه کې مسلم منفرد دی

---

[1] نن سبا هم په ټوله نړۍ کې د کرونا ويروس په نوم يوه وباء خپره شوې ده چې د چين هېواد څخه يې سرچينه اخيستې ده، ټولې کفري نړۍ په شمول د اسلامي نړۍ هم په تېه درولې ده، هر سړی په خپل کور کې قرنطين/ ايسار دی. همدا مهال ددې کتاب په تصحيح کې مصروف يم ۲۹/۳/۲۰۲۰ تاريخ د يکشنبې ورځ، مفتي محمد يعقوب نائل

باب فضل بر أصدقاء الأب والأم والأقارب والزوجة وسائر من يندب إكرامه

د پلار د دوستانو سره د ښيګڼې فضيلت، د مور، خپلوانو، مېرمنې او ټولو هغو خلکو سره د ښيګڼې بيان چې اکرام يې مستحب دی

"عن ابن عمر رضي الله عنهما: أن النبي ﷺ قال: إن أبر البر" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په نېکيو کې لويه نيکي دا ده چې: "أن يصل الرجل ودّ أبيه" سړی د خپل پلار د ملګري سره صله رحمي وکړي

لغوي تحقيق:

وُدَّ: "الود" معنی دوستي او يارانه کول.

د مور - پلار د ملګرو سره هم ښه کول پکار دي:

تشريح "أن يصل الرجل ودّ أبيه" د مسلم په يو روايت کې ددې نه وروسته دا الفاظ راغلي دي چې (ان يولى) د پلار د مرګ وروسته، مطلب دا چې انسان ته پکار دي چې د خپل پلار احترام وکړي، د پلار د ملګرو خيال وساتي، بيا خاصکر کله چې پلار وفات شي، نو د هغه نه وروسته د پلار د ملګرو سره ښه سلوک پکار دی، محدثين فرمايي چې (ودّ ابيه) د پلار د ملګرو سره په ښېګڼه کې د مور ملګري په طريقه اولی داخلې دي چې د دوی سره هم بايد ښه انساني سلوک وشي

د ابن عمر رضي الله عنه د پلار د ملګري سره ښه کول

"وعن عبد الله بن دينار، عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما: أن رجلا من الأعراب لقيه بطريق مكة، فسلم عليه عبد الله بن عمر" د عبد الله بن دينار نه روايت دی، فرمايي چې عبد الله بن عمر رضي الله عنه سره يو اعرابي (کوچی) د مکې په لاره مخامخ شو، عبد الله رضي الله عنه ورباندې سلام واچولو، "وحمله على حمار كان يركبه" په هغه خره يې سپور کړو چې خپله ورباندې سپور و، "وأعطاه عمامة كانت على رأسه" هغه ته يې د خپل سر پګړۍ ورکړه کومه چې به هغه خپله په سر کول، "قال ابن دينار: فقلنا له: أصلحك الله، إنهم الأعراب وهم يرضون باليسير" ابن دينار وايي: موږ ورته ووېل اې عبد الله رضي الله عنه! الله ﷻ دې ستا اصلاح وکړي، دا خو اعرابي دي، دوی په لږ څه هم راضي کېږي، د دومره ډېر څه ورکولو څه ضرورت وو، "فقال عبد الله بن عمر: إن أبا هذا كان ودا لعمر بن الخطاب رضي الله عنه" عبد الله بن عمر رضي الله عنه وفرمايل: دده پلار زما د پلار (عمر رضي الله عنه) ملګری وو "وإني سمعت رسول الله ﷺ يقول: إن أبر البر" ما د نبي اکرم ﷺ نه اورېدلي دي چې په نېکيو کې لويه نيکي دا هم ده چې "صلة الرجل أهل ودّ أبيه" سړی د خپل پلار د ملګري سره صله رحمي وکړي.

"وفي رواية عن ابن دينار، عن ابن عمر: أنه كان إذا خرج إلى مكة كان له حمار يتروح عليه إذا مل ركوب الراحلة، وعمامة يشد

بِهَا رَأْسَهُ" د ابن دينار رحمه الله روايت دی چې د ابن عمر رضي الله عنهما نه يې نقل کړی، وايي: د ابن عمر رضي الله عنهما سره يو خر و، کله چې به يې مکې ته سفر کولو، په اوښ باندې به ستړی شو، نو د دمې لپاره به يې پر سپرېدلو، دغه وخت به يې په سر پګړی تړلو. "فَبَيْنَا هُوَ يَوْمًا عَلَى ذَلِكَ الْحِمَارِ إِذْ مَرَّ بِهِ أَعْرَابِيٌّ" نو يوه ورځ چې دی په خر باندې ناست و چې ناڅاپه پرې يو اعرابي تېر شو، "فَقَالَ: أَلَسْتَ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ؟" قَالَ: بَلَى. فَأَعْطَاهُ ابن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ورته وفرمايل: ايا ته فلانکي د فلانکي زوی نه يې؟ هغه وويل: هو (هغه يم)، نو عبد الله رضي الله عنه هغه ته خپل خر ورکړو، "فَقَالَ: ارْكَبْ هَذَا، وَأَعْطَاهُ الْعِمَامَةَ وَقَالَ: اشْدُدْ بِهَا رَأْسَكَ" عبد الله رضي الله عنه ورته وويل: په دې خر باندې سپور شه او دا پګړۍ واخله په خپل سر يې وتړه، "فَقَالَ لَهُ بَعْضُ أَصْحَابِهِ: غَفَرَ اللهُ لَكَ أَعْطَيْتَ هَذَا الْأَعْرَابِيَّ حِمَارًا كُنْتَ تَرَوَّحُ عَلَيْهِ، وَعِمَامَةً كُنْتَ تَشُدُّ بِهَا رَأْسَكَ؟" عبد الله رضي الله عنه ته د هغه خپلو ملګرو وويل: الله جل جلاله دې تاسو ته معافي وکړي، تا دغه اعرابي ته خر ورکړو په کوم چې تاسو سفر کولو او خپل پګړۍ دې ورکړو په کوم چې به تاسو خپل سر تړلو، دا ولې؟ "فَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ: إِنَّ مِنْ أَبَرِّ الْبِرِّ أَنْ يَصِلَ الرَّجُلُ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ بَعْدَ أَنْ يُوَلِّيَ" عبد الله رضي الله عنه ورته وفرمايل: تر ټولو غټه نېکي د پلار د مرګ نه پس د هغه د دوستانو سره ښه سلوک دی. "وَإِنَّ أَبَاهُ كَانَ صَدِيقًا لِعُمَرَ رضي الله عنه" او د دغه سړي پلار زما د پلار (عمر رضي الله عنه) ملګری وو.

"رَوَى هَذِهِ الرِّوَايَاتِ كُلَّهَا مُسْلِمٌ" دا ټول روايتونه د مسلم شريف دي

تشريح: لکه څرنګه چې مخکې تېره شوه چې د پلار د ملګرو سره بايد انسان ښه سلوک وکړي، په يو روايت کې د استشهاد په توګه ذکر شوي چې ابن عمر رضي الله عنهما يو کوچی وليدو، هغه ته يې صرف په دې وجه خپل خر او پګړۍ ورکړل چې هغه د عمر رضي الله عنه ملګری وو، دغه شان يوه واقعه ذکر ده چې يو خل ابن عمر رضي الله عنهما ابو هريره رضي الله عنه ته لاړو، ابن عمر رضي الله عنهما ورته وفرمايل: ته پوهېږې چې ولې زه دلته راغلم؟ بيا يې ورته وويل: ما د رسول الله ﷺ څخه خپله اورېدلي دي چې کوم کس غواړي د پلار سره په قبر کې صله رحمي وکړي، نو هغه ته پکار ده چې د خپل د ملګرو سره ښه سلوک وکړي او تاسو زما د پلار ملګري يئ.

بله واقعه په ابوداود شريف کې ذکر ده چې: ابو اسيد بن مالك بن ربيعه فرمايي: يو خل موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کې ناست وو چې د بنوسلمه قبيلې يوه کس د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، وې ويل: يا رسول الله ﷺ! که زما مور - پلار وفات شي، نو د هغوی سره په کومه طريقه ښه کولی شم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د هغوی لپاره د مغفرت دعاګانې کوه، هغوی چې د چا سره وعده کړې وي، هغه پوره کوه، د هغوی د خپلوانو سره ښه سلوک کوه، د هغوی د ملګرو احترام کوه، په الترغيب کې ددې وروسته دا هم نقل دي چې: هغه کس کله دا ارشاد واورېدو نو وې فرمايل: يا رسول الله ﷺ دا څومره ښکلې خبره ده، نبي کريم ﷺ وفرمايل: بيا نو په دې باندې عمل کوه.

د مور پلار مخ اړولو نه مراد څه دی؟

"بعد أن يولى" کله چې مور - پلار مخونه واړوي، محدثينو ددې جملې دا مطلب هم اخيستی چې کله مور چېرته په سفر لاړه شي او مستقل تلل هم مراد دي چې وفات شي، په ژوند کې چې د مور پلار سره ښه سلوك کوي، ممکنه ده چې کوم غرض به يې پکې وي، ليکن د مرګ وروسته خو بېخي اخلاص پاتې شي، هيڅ قسم غرض وغيره پکې نه وي.

د راوي عبد الله بن دينار رحمة الله عليه حالات:

اصل نوم يې عبد الله رحمه الله دی، د پلار نوم يې دينار دی، کنيت يې ابو عبد الرحمن دی، د قرشي العدوي قبيلې سره يې تعلق درلود، د ابن عمر رضي الله عنه غلام وو، زيات وخت د ابن عمر رضي الله عنه او انس بن مالك رضي الله عنه څخه روايت نقل کوي او د هغه څخه يې زوی عبد الرحمن، يحيى انصاري، سهيل او موسى بن عقبه وغيره حديثونه نقل کوي، په اتفاق د محدثينو ثقه راوي دی

وفات په يو سل اوه ويشتمه هجرى کې وفات شوی دی.

د مور پلار - د وفات نه وروسته د هغوی د خپلوانو سره ښه کول

"وعن أبي أُسيد - بضم الهمزة وفتح السين - مالك بن ربيعة الساعدي رضي الله عنه، قَالَ: بَيْنَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلَمَةَ، فَقَالَ: يَا رَسولَ اللهِ، هَلْ بَقِيَ مِنْ بِرِّ أَبَوَيَّ شَيءٌ أَبَرُّهُمَا بِهِ بَعْدَ مَوْتِهِمَا؟" د ابو اسيد مالك بن ربيعه ساعدي رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې موږ د رسول الله ﷺ سره په مجلس کې ناست وو، دغه وخت د بنو سلمه قبيلې يو سړی راغلو، وې ويل: يا رسول الله ﷺ د مور پلار د مرګ نه پس د هغوی پکار راتلونکې داسې نيکي شته چې زه يې وکړم او هغوی ته په کار راشي؟ "فَقَالَ: نَعَمْ، الصَّلاةُ عَلَيْهِمَا، وَالاسْتِغْفَارُ لَهُمَا، وَإِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِهِمَا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! د هغوی لپاره دعا غواړه او بخښنه ورته غواړه او هغوی چې د چا سره څه وعده کړې وي، نو هغه پوره کړه، "وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِي لا تُوصَلُ إلاَّ بِهِمَا، وَإكْرَامُ صَدِيقِهِمَا" او د هغوی په وجه چې ستا د چا سره څه خپلوي ده، د هغوی سره ښه سلوك کوه او د هغه د دوستانو ښه عزت کوه، دا داسې کارونه دي چې ته يې کوې؛ نو اجر به يې هغوی ته ملاويږي رواه أبو داود

لغوي تحقيق:

إنفاذ: "نفذ وانفذ: السهم الرمية" غشی د ښکار نه تېر ويستل، خپله وعده سر ته رسول

تشريح امام سيوطي رحمه الله د امام اوزاعي رحمه الله نه نقل کړي دي چې کوم کس د مور پلار په ژوند کې نافرماني وکړي، د وفات نه وروسته بايد هغوی ته د الله جل جلاله نه بخښنه وغواړي، که د هغوی په ذمه قرض وي، بايد قرض يې ادا کړي او بيا د مرګ وروسته وريسې ردې بدې ونه وايي، داسې کس په فرمانبردارو خيره منونکو کې شمارلی شي، کوم کس چې د مور پلار په ژوند کې خبره مني، خو پس له مرګه وريسې ردې بدې وايي او د هغوی قرضونه نه ادا کوي او هغوی ته د الله جل جلاله نه بخښنه هم نه غواړي، نو داسې کس نافرمانه دی، په کنز العمال کې يو روايت دی، په هغې کې دي چې کوم کس

نفلي صدقې کوي او د هغې ثواب مور پلار ته بخښي، په دې شرط چې مور پلار يې مسلمان وي، په داسې صورت کې به مور پلار ته هم ثواب رسيږي او صدقه کوونکي ته به هم پوره ثواب رسيږي او په دې کې به دده هيڅ کمی نه کيږي.

ځوک چې دا دعا ووايي: هغه د مور پلار حق ادا کړو

علامه عيني رحمه الله د بخاري په شرح کې نقل کړي دي چې: کوم کس به دا دعا ولولي "الحمد لله رب العالمين رب السماوات رب الارض رب العالمين وله الكبرياء في السماوات والارض وهو العزيز الحكيم، لله الحمد رب السماوات رب الارض رب العالمين وله العظمة في السموات والارض وهو العزيز الحكيم، هو الملك رب السماوات ورب الارض ورب العالمين وله النور في السماوات والارض وهو العزيز الحكيم"

ددې وروسته بايد داسې دعا وکړي: اې الله! ددې دعا ثواب زما مور پلار ته ورسوې، بس هغه د مور پلار حق ادا کړو.

د راوي ابو اسيد مالک بن ربيعه رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې مالك دی، ابو اسيد يې کنيت دی، د خزرج قبيلې سره يې تعلق درلود، نسب نامه يې داسې ده: مالك بن ربيعه بن بدن بن عامر بن عوف بن حارث، د هجرت نه مخکې مسلمان شوی وو، په ټولو غزاواتو کې شريک شوی دی، په بدر کې يې د شرکت کولو تذکره په بخاري کې هم شته، د مکې د فتحې په ورځ د بنو ساعده بيرغ د هغه په لاس کې وو، د وفات څخه لږ وړاندې يې د سترګو نظر ختم شوی وو.

وفات په اتلسمه هجري کې په مدينه منوره کې وفات شو، په بدري صحابه وو کې تر ټولو اخيري صحابي دی چې وفات شوی دی، د وفات په وخت کې يې عمر اته اويا/ ۷۸ کاله وو.

مرويات اته ويشت مرويات ترې نقل دي، څلور يې په بخاري او مسلم کې دي، په يو حديث باندې دواړه اتفاق دي.

نبي کريم ﷺ وزه حلاله کړه او غوښه يې د خديجې رضي الله عنها ملګرو ته ولېږل

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: مَا غِرْتُ عَلَى أَحَدٍ مِنْ نِسَاءِ النَّبِيِّ ﷺ مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ رضي الله عنها، وَمَا رَأَيْتُهَا قَطُّ"
عائشه رضي الله عنها فرمايي: د رسول الله ﷺ په مېرمنو کې ماته په يوې مېرمنې هم دومره غيرت نه راتلو، لکه څومره چې په خديجې رضي الله عنها باندې راتلو، ما هغه بالکل نه وه ليدلې، "وَلَكِنْ كَانَ يُكْثِرُ ذِكْرَهَا، وَرُبَّمَا ذَبَحَ الشَّاةَ، ثُمَّ يُقَطِّعُهَا أَعْضَاءً، ثُمَّ يَبْعَثُهَا فِي صَدَائِقِ خَدِيجَةَ" مګر هغه به رسول الله ﷺ ډېره زياته يادوله، کله چې به نبي کريم ﷺ وزه حلاله کړه، نو د هغې ملګرو ته به يې هم غوښه لېږل، "فَرُبَّمَا قُلْتُ لَهُ: كَأَنْ لَمْ يَكُنْ فِي الدُّنْيَا إِلَّا خَدِيجَةُ" او کله به ما نبي کريم ﷺ ته ويل: لکه په دنيا کې چې بله ښځه د يادولو نشته، "فَيَقُولُ: إِنَّهَا كَانَتْ وَكَانَتْ وَكَانَ لِي مِنْهَا وَلَدٌ" نبي اکرم ﷺ به فرمايل: هغه داسې او داسې وه او بل دا چې د هغې نه زما اولاد هم شوی دی. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية: وإن كان ليذبح الشاة" په بل روايت کې دي چې کله به يې کوم پسه حلال کړو. "فيهدي في خلائلها منها ما يسعهن" نو د هغې ملګرو ته به يې دومره لېږل چې د هغوی لپاره به کافي کېدل

"وفي رواية: كان إذا ذبح الشاة، يقول: أرسلوا بها إلى أصدقاء خديجة" په بل روايت کې دي چې کله به يې وزه حلاله کړه، نو ويل به يې چې د خديجې رضي الله عنها ملګرو ته يې ولېږئ

"وفي رواية: قالت: استأذنت هالة بنت خويلد أخت خديجة على رسول الله ﷺ، فعرف استئذان خديجة" په يو روايت کې دي چې عائشه رضي الله عنها فرمايي: د خديجې رضي الله عنها خور هاله بنت خويلد رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ په خدمت کې د حاضرېدو اجازت وغوښتلو، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته داسې معلومه شوه لکه خديجې رضي الله عنها چې اجازه غوښتې وي، "فارتاح لذلك، فقال: اللهم هالة بنت خويلد" نبي کريم ﷺ په دې وخت کې لږ وخت چوپ شو، بيا يې وفرمايل: اوهو! دا خو هاله بنت خويلد رضي الله عنها ده

"قولها: فارتاح: هو بالحاء، وفي الجمع بين الصحيحين للحميدي: (فارتاع) بالعين ومعناه: اهتم به" د (فارتاح) يعنې مضطرب يا سوچ کې پرېوتلو ته وايي، د حميدي کتاب جمع بين الصحيحين کې داسې راغلي دي او د (ارتاح) معنی ده: سوچ کول، آرام کول يا خاموش پاتې کېدل

لغوي تحقيق:

غرت: "غار يغار" د دې معنی ده: غيرت کول

د خديجې رضي الله عنها ځانګړې صفتونه:

"ماغرت على أحد" ما په بل چا دومره غيرت نه دی کړی، لکه څومره چې ما په خديجې رضي الله عنها کړی دی، په دې وجه چې رسول الله ﷺ د هغې سره زياته مينه وه، علماء يې وجه دا ښيي چې په خديجې رضي الله عنها کې يو څو ځانګړې صفتونه وو: يو دا چې په ښځو کې تر ټولو اول هغې په رسول الله ﷺ باندې ايمان راوړو، بل دا چې زيات عبادت به يې کولو، شپه به يې په عبادت رڼا کول، بل دا چې په دين يې خپل ټول مال خرج کړو

"وربما ذبح شاة": او کله کله به رسول الله ﷺ پسه حلال کړو، غوښنه به يې د خديجې رضي الله عنها ملګرو ته هم لېږل، دا د رسول الله ﷺ د مينې او محبت اثر وو چې د هغې د وفات وروسته هم رسول الله ﷺ د هغې د ملګرو سره ښه سلوک کول

"وكان لي منها ولد" او زما د هغې نه اولاده هم شوي دي، په دې جمله کې د خديجې رضي الله عنها نور زيات فضيلت ته اشاره ده چې په نورو امهات کې نه وو، هغه دا چې د نبي کريم ﷺ ټول اولاد د خديجې رضي الله عنها څخه وو، سېوا د ابراهيم رضي الله عنه چې هغه د ماريه قبطيه رضي الله عنها څخه پيدا شوی وو

د نبي کريم ﷺ او خديجې رضي الله عنها رفاقت / ملګرتيا:

د خديجې رضي الله عنها ټوله هغه زمانه چې د رسول الله ﷺ سره يې تېره کړې ده، څلرويشت کاله، شپږ مياشتې دي، تر څو چې خديجه رضي الله عنها ژوندۍ وه تر هغې رسول الله ﷺ بل واده نه دی کړی

جرير ﷺ په ټول سفر کې د انس ﷺ خدمت وکړو

"وعن أنس بن مالك ﷺ قال: خرجت مع جرير بن عبد الله البجلي ﷺ في سفر، فكان يخدمني، فقلت له: لا تفعل، فقال: إني قد رأيت الأنصار تصنع برسول الله ﷺ شيئاً" ﷺ روايت دی، فرمايي چې زه د جرير بن عبد الله بجلي ﷺ سره په سفر روان وم، سره له دې چې هغه ځغه په عمر کې کشر وم، خو هغه به زما خدمت کولو. ما ورته وويل: داسې مه کوه، "قال: إني قد رأيت الأنصار تصنع برسول الله ﷺ شيئاً" هغه وفرمايل: ما انصار صحابه کرام ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کې ليدلي دي چې د هغه خدمت به يې کولو، "آليت على نفسي أن لا أصحب أحداً منهم إلا خدمته" د هغې نه وروسته مې د ځان سره قسم کړی چې زه به د چا سره ملګرتيا نه کوم مګر دا چې زه به د هغه خدمت کوم. متفق عليه

لغوي تحقيق:

اليت: "الى إيلاء وتألي وائتلى" د دې معنى ده قسم کول

تشريح "فكان يخدمني" انس ﷺ فرمايي: په ټول سفر کې يې زما خدمت وکړو، اګر چې هغه په عمر کې زما ځغه مشر و او زه پرې کشر وم، پکار دا وه چې ما د هغه خدمت کړی وای. علماء ليکي: صحابه کرامو په زړونو کې د رسول الله ﷺ سره دومره مينه او محبت وو چې د هغه د خدمت سره سره يې د هغه د شاګردانو خدمت هم کولو.

يا رب صل وسلم دائماً أبدا ...... على حبيبك خير الخلق كلهم

لاتفعل: انس ﷺ فرمايي چې ما جرير ﷺ ته وويل: صيب! تاسو زما خدمت مه کوئ بلکې زه به ستاسو خدمت وکړم، ځکه چې زه ستاسو نه په عمر کې کم يم، په دې جمله کې د صحابه کرامو عاجزۍ ته اشاره ده چې هغوی به د ځان ځغه کشرانو خدمت هم کولو، په دې کې به هيڅ عيب نه ګڼلو

باب إكرام أهل بيت رسول الله ﷺ وبيان فضلهم

د رسول الله ﷺ د اهل بيتو عزت او د هغوي د فضيلت بيان

"قال الله تعالى" الله ﷻ فرمايي چې: "إنما يريد الله ليذهب عنكم الرجس أهل البيت" اې د اهل بيت خلکو! الله ﷻ د دې خبرې اراده لري چې ستاسو ځغه پليتي لرې کړي. "ويطهركم تطهيراً" او تاسو په ښه صفايي سره پاک کړي [الأحزاب:۳۳]

تشريح: په دې آيت کې د څو الفاظو معنى مختصره پېژندل پکار دي. يو لفظ د (رجس) دی، بل (اهل البيت) دی او بل (تطهيراً) دی. رجس په عربي ژبه کې ګڼ شمېر معناګانې لري. عذاب ته هم رجس ويل کېږي، بوتانو ته هم رجس ويل کېږي، نجاست ته هم رجس ويل کېږي، په آيت کې دغه اخيرنی معنى مراد ده. هر هغه شي چې طبيعت ترې نفرت کوي

"ويطهر" په دنيا کې د ګناهونو د ګندګی نه پاکېدل او په آخرت کې بخښنه نصيب کېدل. د اهل

بيت څخه مراد د عکرمه ، مقاتل او ابن عباس په نزد ازواج مطهرات دي، ځکه چې په سياق او سباق دواړو کې ازواج مطهرات ته خطاب دی، عکرمه به په بازار کې اعلان کولو چې ددې نه مراد ازاج مطهرات دي، ځکه چې دغه ايت د امهات المؤمنين په شان کې نازل دی او زه په دې خبره کې د خلکو سره مباهله کولو ته هم تيار يم

ځينې نور مفسرين لکه مجاهد او قتاده وغيره فرمايي چې ددې نه مراد علی ، فاطمه او حسنين مراد دي، ددې قول د ثبوت لپاره ابن کثير ګڼ شمير اقوال نقل کړي دي ليکن تحقيقي قول دا دی چې د اهل بيت نه مراد ازواج مطهرات هم دي، علی او فاطمه او حسنين هم مراد دي

"ويطهركم تطهيرا" دلته د پاکی نه مراد شرعي پاکوالی دی، تکويني پاکوالی مراد نه دی . تکويني پاکوالی د انبياوو شعار دی، هغوی خو معصوم وي، که د انبياوو څخه څه خطاء وشي، بيا هم هغوی ته صفا د معافی اعلان شوی دی، روافضو د جمهورو علماوو سره په دې آيت کې اختلاف کړی دوی وايي چې د اهل بيت نه مراد صرف د رسول الله اولاده او عصبات دي، بل په تطهير کې هغوی هم د انبياء عليهم السلام په څېر معصوم دي، دا دواړې خبرې د مفسرينو . محدثينو او فقهاوو د اقوالو مخالف دی

"وَقَالَ تَعَالَى" الله فرمايي: "وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ" او کوم کس چې د الله د شعائرو تعظيم کوي، نو دا کار د زړه د تقوا سره دی. [الحج:٣٢]

تشريح: شعائر جمع د شعيرة ده، علامې او دليل ته وايي، هغه چې د خاص مذهب يا جماعت علامه وي، شعائر هغو خاصو احکاماتو ته وايي چې په عرف کې د مسلمانانو علامه ګڼل کيږي. د حج اکثره احکام په دې کې داخل دي. "من تقوى القلوب" د الله د شعائرو تعظيم به هغه کس کوي چې په زړه کې يې تقوی او د الله ويره وي، د اکثره علماوو قول دا دی چې د تقوي ځای زړه دی. کله چې په زړه کې د الله ويره پيدا شي؛ نو ددې اثر د بدن په ټولو اعمالو او اقوالو باندې کيږي

نبي کريم ﷺ ځانه وروسته دوه شيان پرېښودل کتاب الله او اهل بيت

"وعن يزيد بن حيان، قال: انطلقت أنا وحصين بن سبرة، وعمرو بن مسلم إلى زيد بن أرقم ، فلما جلسنا إليه قال له حصين: لقد لقيت يا زيد خيرا كثيرا" د يزيد بن حيان روايت دی، فرمايي چې زه او حصين بن سبره او عمرو بن مسلم زيد بن ارقم ته لاړو، کله چې موږ کېناستلو ، نو حصين ورته وويل : اې زيده! تاسو خو ډېر زيات دولت موندلی دی، "رأيت رسول الله ﷺ، وسمعت حديثه، وغزوت معه، وصليت خلفه" ځکه چې تاسو رسول الله ﷺ ليدلی دی او حديثونه مو تري اورېدلي دي او د هغوی سره مو جهادونه کړي دي او لمونځونه مو ورپسې کړي دي، "لقد لقيت يا زيد خيرا كثيرا، حدثنا يا زيد ما سمعت من رسول الله ﷺ" تاسو ته خو ډېر زيات خير کثير رسېدلی دی، نو اوس تاسو موږ ته يو حديث بيان کړئ کوم چې تاسو د

رسول الله ﷺ نه اوربدلي دي، "قَالَ: يَا ابْنَ أَخِي، وَاللهِ لَقَدْ كَبِرَتْ سِنِّي، وَقَدُمَ عَهْدِي، وَنَسِيتُ بَعْضَ الَّذِي كُنْتُ أَعِي مِنْ رسول الله ﷺ، فَمَا حَدَّثْتُكُمْ، فَاقْبَلُوا، وَمَا لَا فَلَا تُكَلِّفُونِيهِ" نو زيد بن ارقم رضي الله عنه وفرمايل اې وراره! والله چې زه بوډا شوی يم، زما دور هم تېر شوی دی، حافظه مې هم کمزورې شوې ده، په دې وجه ما ته چې کومې خبرې يادې وې، نو هغه رانه هېرې شوې دي، کومې خبرې چې تاسو ته اوروم، هغه قبولې کړئ او کومې چې زه يې ونه بنيم د هغې په بنودلو اصرار مه کوئ، "ثُمَّ قَالَ: قَامَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَوْمًا فِينَا خَطِيبًا بِمَاءٍ يُدْعَى خُمًّا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَحَمِدَ اللهَ، وَأَثْنَى عَلَيْهِ، وَوَعَظَ وَذَكَّرَ، ثُمَّ قَالَ: أَمَّا بَعْدُ" بيا يې وفرمايل د مکې او مدينې ترمنځ يو تالاب او چينه وه چې (خم) نوم يې ؤ، رسول الله ﷺ هلته زمونږ ترمينځ ودرېدلو او خطبه يې وفرمايل، د ثناء او صفت او د نصيحت وروسته يې وفرمايل "أَلَا أَيُّهَا النَّاسُ، فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ رَسُولُ رَبِّي فَأُجِيبَ، وَأَنَا تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ" خبردار: اې خلکو! زه هم يو انسان يم، ډېر زر به ما ته د رب له خوا يو قاصد راشي چې زه به هغه قبول کړم، زه تاسو ته دوه زبردست شيان پرېږدم او زه د رخصت تلونکی يم، "أَوَّلُهُمَا كِتَابُ اللهِ، فِيهِ الْهُدَى وَالنُّورُ فَخُذُوا بِكِتَابِ اللهِ، وَاسْتَمْسِكُوا بِهِ" په هغې کې اول کتاب الله (د الله کتاب) دی، په دې کې هدايت او رڼا ده، نو تاسو په کتاب الله باندې منګولې ولګوئ او عمل پرې وکړئ! "فَحَثَّ عَلَى كِتَابِ اللهِ، وَرَغَّبَ فِيهِ" په کتاب الله باندې عمل کولو سره تېزې وفرمايل او ترغيب يې ورکړو، "ثُمَّ قَالَ: وَأَهْلُ بَيْتِي أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دويم شی زما اهل بيت دي، په دې معامله کې زه تاسو ته الله ﷻ يادوم، "فَقَالَ لَهُ حُصَيْنٌ: وَمَنْ أَهْلُ بَيْتِهِ يَا زَيْدُ، أَلَيْسَ نِسَاؤُهُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ؟ قَالَ: نِسَاؤُهُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ، وَلَكِنْ أَهْلُ بَيْتِهِ مَنْ حُرِمَ الصَّدَقَةَ بَعْدَهُ" حصين رحمه الله وفرمايل: اې زيد رضي الله عنه! اهل بيت څوک دي؟ ايا د رسول الله ﷺ مېرمنې يې اهل بيت نه دي؟ هغه وفرمايل: مېرمنې يې خو د رسول الله ﷺ اهل بيت دي، ليکن اهل بيت هغه هم دي چې زکات او صدقه ورته اخيستل حرام دي، (يعنې بني هاشم) "قَالَ: وَمَنْ هُمْ؟ قَالَ: هُمْ آلُ عَلِيٍّ وَآلُ عَقِيلٍ وَآلُ جَعْفَرٍ وَآلُ عَبَّاسٍ. قَالَ: كُلُّ هَؤُلَاءِ حُرِمَ الصَّدَقَةَ؟ قَالَ: نَعَمْ" حصين رحمه الله وفرمايل: دوی څوک دي؟ زيد رضي الله عنه وفرمايل د علي رضي الله عنه اولاده، د عقيل رضي الله عنه، د جعفر رضي الله عنه او د عباس رضي الله عنه اولاده، حصين رحمه الله وفرمايل: ايا په دې ټولو باندې صدقه حرامه ده؟ زيد رضي الله عنه وفرمايل: هو! په دې ټولو باندې صدقه حرامه ده. رواه مسلم

"وَفِي رِوَايَةٍ: أَلَا وَإِنِّي تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ" او په يو روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: خبردار! زه به تاسو کې دوه درانه شيان پرېږدم: "أَحَدُهُمَا كِتَابُ اللهِ وَهُوَ حَبْلُ اللهِ" يو پکې د الله ﷻ کتاب دی، يعنې قرآن کريم دی چې دا د الله ﷻ مضبوطه رسۍ ده، "مَنِ اتَّبَعَهُ كَانَ عَلَى الْهُدَى، وَمَنْ تَرَكَهُ كَانَ عَلَى ضَلَالَةٍ" کوم کس چې ددې تابعداري وکړي هغه به په هدايت باندې وي او کوم کس چې يې پرېږدي هغه به په ګمراهۍ باندې وي

لغوي تحقيق: اعی: "وعی: وعياً الشئ" ددې معنی ده: جمع کول، قبلول، غور او فکر کول، يادول.

ثقلين: "الثقل" د مسافر سامان، د هغه نوکران او مزدوران، اصل معنی يې ده: بوج.

تشريح "نسيت بعض الذی" ځينې رانه هېر شو، ددې نه معلومه شوه چې: څوک څومره مسئله ياده کړي،

په دې کې چې ترې څه هېر شي دا د عيب خبره نه ده، ځکه چې نه هېرونکې ذات صرف يو الله ﷻ دی.
د هغه نه هيڅ شی نه هېرېږي

"بماء يدعى خماً" خم د يوې چينې نوم دی، دې ته غدير خم هم ويل کېږي. اصل کې غدير د ډنډ اوبو ته ويل کېږي. ممکنه ده چې هلته به څه ډنډ وي، په دې مناسبت ورته غدير خم ويلی شي. "فينا خطيباً" د ځينو محدثينو په نزد دا خطبه د حجة الوداع وروسته په لاره کې ويل شوې ده، کله چې بې په غدير خم باندې پړاو واچولو، "وأنا تارك فيكم ثقلين" ثقل په اصل کې درونډ بوج ته ويل کېږي، د ثقيلن نه مراد کتاب الله او اهل بيت دي، دغو ته بې ثقلين ځکه وويل چې د دوی مرتبه او مقام اوچت دی

"فيه الهدى النور" په دې قرآن کې نور او هدايت دی، په دې باندې عمل کولو سره انسان ته لارې روښانه کيږي، انسان خپل مقصد ته پرې رسيږي، همدغه قرآن به د قيامت په ورځ انسان خپل منزل يعني جنت ته رسوي، "هوحبل الله من التبعه" دا يو رسی ده چې د دې اتباع به کوئ، د رسی نه مراد عهد، وعده او پرېکړه ده چې د الله ﷻ او د هغه د بنده ترمنځ ده، همدغه قرآن د الله ﷻ له طرفه يو عهد دی، لکه څرنګه چې په يو حديث کې د دې ذکر شوی دی "القرآن حجة لك أو عليك" يعنې قرآن شريف به يا ستا لپاره د خلاصون دليل وي او يا به په تا باندې د عذاب دليل وي، خلاصه دا چې په قرآن عمل کول د عذاب څخه د خلاصون ذريعه ده او عمل پرې نه کول د عذاب ذريعه ده.

"ولكن أهل بيته من حرم الصدقة بعده" د ابن قدامه رحمه الله په روايت د بنو هاشم لپاره فرضي صدقه يعنې زکات اخيستل حرام دي، که نفلي صدقه شي، نو هغه د اکثرو احنافو او شوافعو رحمهم الله په نزد حلاله ده، خو امام يوسف رحمه الله فرمايي: د نبي کريم ﷺ د آل لپاره صدقه، برابره خبره ده چې نفلي وي او که فرضي وي، اخيستل بې حرام دي، همدغه يو روايت د امام ابوحنيفه رحمه الله نه نقل دی او فتوی هم په دې باندې ده.

د راوي يزيد بن حيان رحمه الله حالات:

اصل نوم بې يزيد دی، د پلار نوم بې حيان دی، د تيمي قبيلې سره تعلق لري، د کوفې اوسېدونکی وو، تابعي دی، د اسماء الرجال زيات عالمان وايي: ثقه راوي دی، د مسلم او نسائي راوي دی، دوی تولو ترې روايات نقل کړي دي

د اهل بيتو عزت او احترام کول

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، عن أبي بكر الصديق رضي الله عنه -مَوْقُوفاً عَلَيهِ- أَنَّهُ قَالَ: ارْقُبُوا مُحَمَّداً ﷺ فِي أَهْلِ بَيْتِهِ" ابن عمر رضي الله عنهما د ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه دا قول نقل کړی دی چې د رسول الله ﷺ د اهل بيتو عزت او احترام ساتل د رسول الله ﷺ عظمت او عزت ساتل دي. رواه البخاري

"معنى ارقبوه: راعوه واحترموه وأكرموه، والله أعلم" معنی دا چې: خيال بې وساتئ، عزت او احترام بې وکړئ!

تشريح: "ارقبوا محمدا ﷺ في أهل بيته" د نبي كريم ﷺ د عزت او احترام خيال ساتل دا دي چې د نبي كريم ﷺ د كورنۍ عزت او احترام وشي. مطلب دا چې زما د نسبت خيال ساتلو په خاطر زما د اهل بيت د حقونو او عزت خيال وساتئ، ځكه چې د رسول الله ﷺ د كورنۍ د عزت او احترام خيال وساتئ، په حقيقت كې هغه د رسول الله ﷺ عزت او احترام وكړو. ځينې علماء فرمايي: د دې مطلب هم دغه دى لكه يو كس چې وفات شي، هغه وصيت وكړي چې زما د بچو خيال ساتئ، د هغوى د حقونو خيال ساتئ، نو دغه شان دلته هم داسې معامله ده.

باب توقير العلماء والكبار وأهل الفضل وتقديمهم على غيرهم ورفع مجالسهم وإظهار مرتبتهم

د علماوو، د فضيلت خاوندانو عزت كول او دوى په نورو مخكې كول، د دوى د مجلسونو د اوچتوالي او مرتبې بيان

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ" اې پيغمبره ﷺ دغو خلكو ته ووايه چې كوم كسان علم لري او كوم كسان چې علم نه لري، ايا دوى ټول برابر دي؟ "إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ" بالكل برابر نه دي، بس نصحيت خو پوه خلك اخلي [الزمر:۹].

تشريح: علماء د دې آيت مطلب داسې بيانوي: دلته استفهام انكاري دى. لكه څرنګه چې يو رښتينى سړى ووايي: ايا زه دروغ وايم؟ مطلب دا چې زما دروغ نه ويل ظاهره خبره ده، زه چېرته هم دروغ نه وايم، نو څكه په آيت كريمه كې فرمايي چې ايا عالم او جاهل برابر بدلى شي؟ مطلب دا چې د دې دواړو ترمينځ د اسمان او ځمكې فرق دى.

څوك د امامت زيات حقدار دى؟

"وعن أبي مسعودٍ عقبة بن عمرو البدري الأنصاري ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ" د ابو مسعود عقبة بن عمرو بدري انصاري ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خلكو ته به هغه كس امامت كوي چې په قرآن ښه پوهيږي، "فَإِنْ كَانُوا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً، فَأَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ" كه چېرته دوى به قرائت كې برابر وي، نو بيا به امامت هر هغه څوك كوي چې په سنتو باندې زيات پوهيږي. "فَإِنْ كَانُوا فِي السُّنَّةِ سَوَاءً، فَأَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً" كه دوى په سنتو كې برابر وي؛ نو بيا به هغه كس امامت كوي چې هجرت يې مخكې كړى وي، "فَإِنْ كَانُوا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً، فَأَقْدَمُهُمْ سِنًّا" او كه په هجرت كې هم برابر وي، نو بيا به هغه كس امامت كوي چې په عمر كې زيات وي، "وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِي سُلْطَانِهِ" ليكن يو كس به د بل امام په ځاى امامت نه كوي، "وَلَا يَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ عَلَى تَكْرِمَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ" او څوك به د چا په كور كې د هغه د عزت په ځاى نه كيني، مګر دا چې هغه اجازت وركړي، نو بيا كېښنستى شي. رواه مسلم

"وفي رواية له: ((فأقدمهم سلماً)) بدل ((سناً)): أي إسلاماً" په يو روايت کې د عمر په ځای داسې دي چې کوم کس چې په اسلام کې مخکې وي، "وفي رواية: يؤم القوم أقرؤهم لكتاب الله، وأقدمهم قراءة" په بل روايت کې داسې دي چې خلکو ته به هغه کس امامت کوي چې د قرآن کريم ښه تلاوت کوي او يا يې مخکې زده کړی وي، "فإن كانت قراءتهم سواء فيؤمهم أقدمهم هجرة" که چېرته په قرائت کې برابر وي، نو بيا به هر هغه کس امامت ورکوي چې هجرت يې مخکې کړی وي، "فإن كانوا في الهجرة سواء، فليؤمهم أكبرهم سناً" او که په هجرت کې برابر وي؛ نو بيا به هغه کس امامت ورکوي چې عمر يې زيات وي

"والمراد ((بسلطانه)): محل ولايته، أو الموضع الذي يختص به" که د سلطان نه مراد حاکم يا امير وي؛ نو مراد دا دی چې پردی کس به د قائم مقام جوړېدو ځخه بغير امامت او ولايت نه کوي. "وتكرمته: بفتح التاء وكسر الراء: وهي ما ينفرد به من فراش وسرير ونحوهما" او د (تکرمة) نه مراد هغه ځای چې بستره يا تخت پرې غوړېدلی وي او د خپل ځان لپاره يې خاص کړی وي.

لغوي تحقيق:

يؤم: "أم أماً وأمر، وتأمر، وائتم" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: قصد او اراده کول. د قوم امام او مقتدا جوړېدل

د امامت حقدار او ترتيب:

تشريح: "يؤم القوم اقراهم لكتاب الله وان كانوا في القراة سواء فاعلمهم بالسنة" د قوم امامت به هغه کس کوي چې د قرآن کريم ښه تلاوت کولی شي، که په دې کې برابر وي، نو بيا به هغه کس امامت کوي چې په سنتو زيات پوه وي، تر ټولو زيات د امامت حقدار څوک دی؟ په دې کې دوه مذهبه دي

(١) د امام شافعي رحمه الله مشهور قول، امام محمد رحمه الله، امام ابويوسف رحمه الله او سفيان ثوري رحمه الله په نزد د قرآن قاري په عالم باندې مخکې دی

(٢) دويم مذهب د امام ابوحنيفه رحمه الله، امام محمد رحمه الله، امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله دی، دوی وايي چې: عالم بالسنة به په قاري باندې سنت وي، خو په دې شرط چې دومره قرائت ولوستل شي چې جماعت پرې صحيح کېږي

د لومړي مذهب دليل:

په حديث کې راځي: "يؤم القوم أقرأهم لكتاب الله".

د دويم مذهب دليل:

په حديث کې راځي: "يؤم القوم أقرأهم لكتاب الله" دوی فرمايي: قرائت رکن دی چې په لمانځه کې د فرضيت حکم لري، په د علم چې ددې علم ضرورت په ټولو رکنونو کې کېږي، نقلي دليل دا دی چې رسول الله ﷺ په مرض الوفات کې ابوبکر رضي الله عنه امامت ته وړاندې کړو، هغه اعلم بالسنة وو، سره له دې

چې ابي بن کعب ﷺ هم موجود وو کوم چې د قرآن کريم ښکلی قاري وو. "فأعلمهم بالسنة" علامه طيبي رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد د احاديثو علم دی، بلکه خبره دا ده چې په صحابه کرامو کې به کوم قاري وو، هغه به عالم هم وو، ددې برعکس نن سبا معامله بدله ده، قاري به وي ليکن عالم به نه وي

فاقدمهم هجرة: که ټول سره په دې کې هم برابرشي نو بيا به هغه کس جمعې ته وړاندې کولی شي کوم چاچې هجرت وړاندې کړې وي. دابن ملك رحمه الله په نزد دا خبره د صحابه کرامو ﷺ په مهال وه ليکن اوس به د هجرت نه هجرت عن المعاصي مرادوي. يعنې څوك چې د ګناه نه څومره زيات لرې وي هومره به د امامت لائق وي، که په دې کې هم سره برابرشي، نو بياچې څوك څومره زيات عمروالاوي، هغه به وړاندې کولی شي، په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې کوم څوك چې په ت‌سر کې زيات عمروالاهغه دې امامت درکړي، او په ځينې رواياتو کې د (سنا) پرځای (اسلاما) لفظ راغلی دی، يعنې چې کوم چاچې څومره وړاندې ايمان راوړلې وي هغه بايد امام ته درکړي

"ولايؤمن الرجل الرجل في سلطانه" هيڅ کس دې د بل سړي د پاچاهۍ او مشرۍ په ځای کې امامت نه کوي، فقهاء فرمايي: که امام متعين وي؛ نو هغه دې وړاندې شي، اګر چې راتلونکی سړی د هغه نه زيات پوه او عالم وي، که دغه راتلونکی سړی د هغه امام نه زيات پوه او عالم وي او دی امامت ته وړاندې شي؛ نو د خلکو به د خپل امام نه کرکه او نفرت پيدا شي، که راتلونکی سړی خراب وي؛ نو د خراب سړي امامت پکار نه دی، علامه نووي رحمه الله فرمايي: امام الحی ته اختيار دی، که غواړي خپله دې امامت وکړي يا دې بل څوك وړاندې کړي، که راتلونکی سړی زيات عالم او شيخ القرآن والحديث وي، نو بيا مستحب دا ده چې هغه امامت ته وړاندې شي

"لايقعد في بيته على تكرمته إلا بإذنه" په کور کې به د هغه په ځانګړې ځای نه کښيني، (مثلاً تکيه، بالښت، استر يا ړدۍ) وغيره بې اينښې وي، د هغه بې اجازې به هلته څوک نه کښيني، مطلب دا چې که څوك د چا کره ميلمه شي، نو د کوروالا په بستره، ړدۍ وغيره به تر هغه پورې نه کيني تر څو چې کوروالا ورته اجازه نه وي کړې

په جماعت کې صفونه سيده کول، او جماعت ته د امام مخکې کولو بيان

"وعنه، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلَاةِ، وَيَقُولُ: اسْتَوُوا وَلَا تَخْتَلِفُوا، فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ" د ابو مسعود ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ به زموږ اوږې نيولې او فرمايل به يې: سيده ودرېږئ! که ستاسو د درېدو طريقه مختلفه وي؛ نو ستاسو زړونه به مختلف وي، "لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُوا الأَحْلَامِ وَالنُّهَى" او زما سره دې نږدې هغه کس ودرېږي چې هوښيار او صبر کونکی وي، "ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ" بيا په دوی پسې چې کوم کس نږدې وي بيا په هغوی پسې چې کوم کس نږدې وي. رواه مسلم

"وقوله ﷺ: ((لِيَلِنِي)) هُوَ بتخفيف النون وليس قبلها ياءٌ، وَرُوِيَ بتشديد النُّونِ مَعَ يَاءٍ قَبْلَهَا. وَالنُّهَى" دا قول چې "ليلني" په تخفيف د نون سره او مخکې ترې (ي) نه وي، په تشديد د نون سره هم روايت شوی دی چې

مخکې تري (ي) وي، معنى بې دا ده چې زما سره نزدې ودريږئ "العُقُولُ، (وَأُولُوا الأَحْلامِ) هُمُ البَالِغُونَ، وَقِيلَ أَهْلُ الحِلْمِ وَالفَضْلِ" العقول او اولو الاحلام بالغ خلك دي اوچا ويلي دي چې ددې نه مراد صبرناك او فضيلت والا خلك دي

لغوي تحقيق:

يمسح: ددې معنى ده لاس رابنكل، "مسح الله ما بك من علة" يعنې الله ﷻ دې ستا مرض ختم كړو، صحت بې درته دركړو

تشريح "يمسح اللـــه مناكبنا في الصلاة" رسول الله ﷺ به زموږ په اوږو باندې لاسونه رابنكل چې زموږ صفونه سيده شي، فرمايل به يې چې سيده ودريږئ په دې جمله كې د صفونو سيده كولو تاكيد شوى دى، نبي كريم ﷺ به خپله صفونه سيده كول، په دې وجه ابن حزم فرمايي كه صفونه سيده نه وي نو لمونځ فاسد دى، خو د جمهورو عالمانو رايه دا ده چې صف سيده كول د لمانځه په شرائطو كې داخل نه دي، لمونځ به يې وشي، ليكن د نقصان سره، ځكه چې د صفونو سيده كولو ذكر په ګڼ شمېر حديثونو كې راغلى دى، خيال ساتل يې پكار دي، په لمونځونو كې مو چېرته نقصان پيدا نه شي

"ليلني منكم أولوا الأحلام والنهى" زما سره به نزدې هغه كسان دريږي چې عاقل، بالغ او هوښيار وي

ددې مختلف وجوهات:

كه خليفه / نائب جوړولو ته ضرورت پېښ شي، نو خليفه/ امام به يې جوړ كړي، دويمه وجه دا ده چې كه د امام نه په قرائت وغيره كې څه سهو او غلطي وشي؛ نو هغه به غلطي ورته وښيي، دريم دا چې نبي كريم ﷺ خپل خان مخاطب كړى، وې فرمايل ددې لپاره چې تاسو زما څخه د صحيح لمونځ طريقه زده كړئ او بيا دغه طريقه تاسو نورو خلكو ته ورسوئ، د لومړيو دوه حكمتونو له وجې دا حكم اوس هم باقي دى.

هوښيار او بالغ به د امام سره نزدې ولاړ وي

"وعن عبد الله بن مسعود ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُوا الأَحْلَامِ وَالنُّهَى" د عبد الله بن مسعود ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما سره دې نزدې هغه كسان ودريږي چې د عقل او صبر والا خلك وي، "ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثَلاثاً" بيا په دې پسې هغه خلك دې چې د دوى پسې وي، دا كلمات بې درې ځله وفرمايل، "وَإِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الأَسْوَاقِ" او د بازار د هنګامو او شوري مجلسو څخه ځانونه وساتئ، رواه مسلم

لغوي تحقيق:

هيشات: "هوشات" ددې معنى ده: فتنه، اضطراب، د شپې حادثې، شور

تشريح "ليلني منكم أولوا الاحلام والنهى": "احلام" د "حلم" جمع ده، په "ح" باندې زبر او پيښ دواړه

ويل کيږي. ددې نه مراد بالغ انسان دی، "النهي" عقل ته ويل کيږي، "نهي" په اصل کې منع ته ويل کيږي، نو عقلمند هم د عقل په وجه د غلطو کارونو څخه منع کولی شي. څوک چې په غلط او صحيح نه پوهيږي دغسې کس ليونی وي، ولې نبي کريم ﷺ داسې حکم ورکړو؟ ددې وجه په مخکينې حديث کې ذکر ده. "هيشات" د "هيشة" جمع ده، ددې معنی ده "شور جوړول". څينې محدثين فرمايي چې ددې جملې او راندې جملې په خپلو کې هيڅ تعلق نشته، دا ځانته جمله ده، په دې جمله کې په کثرت سره بازار ته د تلو څخه منع راغلې ده، ليکن څينې نور محدثين فرمايي چې ددې جملې او ماقبل جملې په خپلو کې تعلق شته، مطلب دا چې: په جوماتونو کې داسې شور ونه کړئ لکه څرنګه چې يې په بازارونو کې کوئ.

په مجلس کې د خبرو حق مشر ته حاصل دی

"وعن أبي يحيى، وقيل: أبي محمد سهل بن أبي حثمة -بفتح الحاء المهملة وإسكان الثاء المثلثة- الأنصاري رضي الله عنه، قال: انطلق عبدُ الله بنُ سهلٍ ومُحيّصةُ بن مسعود إلى خيبرَ وهي يومئذٍ صلحٌ" د ابو يحيی يا ابو محمد سهل بن ابي حثمه انصاري او محيصه بن مسعود رضي الله عنهما د صلحې په زمانه کې خيبر طرفته لاړل، "فتفرّقا فأتى مُحيّصةُ إلى عبد الله بن سهل وهو يتشحّط في دمه قتيلاً، فدفنه" هلته دواړه جدا شول او واپسې کې چې محيصه رضي الله عنه د عبد الله بن سهل رضي الله عنه ځای ته راوسيدو، نو وينو کې يې لت پت وژل شوی وليدو، نو هغه يې ښخ کړو. "ثُمّ قدم المدينة فانطلق عبدُ الرحمان ابن سهل ومُحيّصةُ وحويّصةُ ابنا مسعود إلى النبيّ ﷺ" کله چې مدينې ته راغلو او عبد الرحمن بن سهل محيصه او حويصه د مسعود رضي الله عنهم زامن يې راجمع کړل او د نبي اکرم ﷺ په خدمت کې حاضر شول. "فذهب عبدُ الرحمان يتكلّم، فقال: كبّر كبّر وهو أحدثُ القوم، فسكت" هلته عبد الرحمن رضي الله عنه خبرې شروع کړې، نو نبي اکرم ﷺ وفرمايل: مشر خبرو ته پرېږده؛ عبد الرحمن رضي الله عنه هلك وو، نو چوپ شو. "فتكلّما، فقال: أتحلفون وتستحقّون قاتلكم؟...) وذكر تمام الحديث" نو محيصه او حويصه رضي الله عنهما دواړو حالات بيانول شروع کړه. بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو قسم کوئ او د قاتل حقدار جوړيږئ؟ دا حديث بخاري او مسلم پوره بيان کړی دی، دلته چې يې څومره د باب سره تعلق ساتلو، هغومره ذکر کړی شو. مُتّفقٌ عَلَيهِ

"وقوله ﷺ: ((كبّر كبّر)) معناه: يتكلّم الأكبر" دا قول چې کبر کبر! ددې معنی ده: مشر عمر والا خبرو ته پرېږده چې خبرې وکړي

لغوي تحقيق:

يتشحط: "شحط شحطاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده لونبې د کول، په وينه کې خروبېدل

د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د قسامت تشريح

تشريح په دې حديث کې د قسامت مسئله ذکر ده: که چېرته په کوم کلي يا محله کې مقتول وموندل شي، د قاتل درك نه وي، نو د امام صاحب رحمه الله په نزد به ددې محلې او کلي والا پنځوس کسان قاضي ته راوستل شي او ددې پنځوسو کسانو څخه به قسم اخيستل کيږي، قسم به داسې کوي

چې په الله ﷻ قسم نه ما دا سړی وژلی دی او نه پرې خبر يم چې چا وژلی دی. ددې پنځوسو کسانو انتخاب به د مقتول وارثان کوي، که ټولو قسم وکړو، نو بيا به په محلې والا باندې ديت واجب وي. په دې صورت کې به ددې خلکو څخه قصاص نه اخيستل کيږي، په دې پنځوسو کسانو کې چې څوک د قسم څخه انکار وکړي، هغه به زندان ته واچول شي، تر دې چې يا قسم وکړي او يا د قتل اقرار وکړي

په قسامت کې د امام شافعي رحمه الله او امام ملک رحمه الله مسلک

امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله فرمايي: د مقتول اولياء به قسم کوي. هغوی به وايي چې دغه قتل فلانکي کس کړی دی، که د مقتول وارثان د قسم څخه انکار وکړي، نو بيا به د محلې خلک قسم کوي، که چېرته کليوالو قسم وکړو چې نه موږ قتل کړی دی او نه قاتل پيژنو. په داسې حال کې به محلې والا خلک بري الذمه وي، نه به په دوی باندې ديت وي او نه به پرې قصاص وي. که د قسم کولو څخه انکار وکړي، نو بيا به پرې ديت واجب وي، "کبرکبر" په تاسو کې دې مشر سړی خبره وکړي، په دې کې امام نووي رحمه الله د حديث دومره حصه نقل کړې ده، څومره چې د موضوع سره متعلق وه، هغه دا چې په مجلس کې به هغه کس خبرې کوي چې مشر وي، په دې کې دومره وضاحت ضروري دی چې که چېرته په فضل، شرافت او عقل کې کشر تکړه مبارز وي؛ نو بيا به هم دغه مخکې کولی شي.

د راوي ابو يحيى ابو محمد سهل بن ابي حثمه رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې سهل دی، کنيت يې ابو محمد يا ابو يحيى دی، د پلار نوم يې ابو حثمه عبد الله بن ساعده دی، په دريمه هجري کې پيدا شو، په شروع کې په مدينه منوره کې اوسېدلو، بيا کوفې ته لاړو، د نبي کريم ﷺ د وفات په وخت يې عمر اته کاله وو

وفات د معصب بن عمير رضي الله عنه په زمانه کې په مدينه منوره کې وفات شو

مرويات تقريباً پنځه ويشت حديثونه ترې نقل دي، په ټولو باندې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله اتفاق کړی دی.

د قرآن کريم د حافظ فضيلت

"وعن جابر رضي الله عنه: أن النبيّ ﷺ كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ يعني في القَبْرِ" د جابر رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې نبي اکرم ﷺ به د احد په شهيدانو کې په يو قبر کې دوه سړي سره جمع کول، "ثُمَّ يَقُولُ: (أَيُّهُما أَكْثَرُ أَخذاً للقُرآنِ؟) فإذَا أُشيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ في اللَّحْدِ" بيا به نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دې دواړو کې کوم کس زيات قرآن کريم ياد کړی دی، کله چې به په دې دواړو کې يو کس ته پکې اشاره وشوه، نو هغه به يې په لحد کې مخکې کېښودلو رواه البخاري

لغوي تحقيق:

اشـ "أشا" إشارة" باب افعال دی، ددې معنی ده اشاره کول

تشريح "قدمه في اللحد" قبر په دوه قسمه دی يو لحد دی چې قبلې طرفته په قبر کې يو خانه کنده وويستل شي او بل شق قبر دی چې لاندې طرفته زيات وکنستل شي. په دې حديث کې د قرآن کريم د حافظ فضيلت او ترجيح بيان شوې ده، دغه شان د نورو خلکو، لکه عالمانو، اهل زهد او متقيانو د وړاندې کولو قياس به موږ ورباندې کړو، د قرآن کريم خدمت په دنيا کې هم د سرې په کار راځي او په آخرت کې هم، د مرګ نه وروسته خو د اعمال صالحه څخه بغير بل هيڅ شی ګټه نه ورکوي

په هر کار کې مشر وړاندې کول پکار دي

"وعن ابن عمر رضى الله عنهما: أن النبي ﷺ، قال: (أراني في المنام أتسوك بسواك" د ابن عمر رضي الله عنهما روايت دی هغه فرمايي چې نبي اکرم ﷺ وفرمايل: زه خپل ځان په خوب کې وينم چې مسواك وهم، "فجاءني رجلان أحدهما أكبر من الآخر، فناولت السواك الأصغر" په دې حالت کې ماته دوه سړي راغلل چې يو د بل نه مشر وو، نو ما هغه مسواك کشر ته ورکول غوښتل، "فقيل لي: كبّر، فدفعته إلى الأكبر منهما" نو ماته په خوب کې اواز وشو چې مشر ته يې ورکړه! ما بيا هغه مسواك مشر ته ورکړو. رواه مسلم مسندا والبخاري تعليقا

تشريح په دې حديث کې هم دغې خبرې ته اشاره ده چې بايد يو سړی کار شروع کوي؛ نو د مشر نه يې ابتداء کوي، لکه څرنګه چې په دې حديث کې ذکر شو چې نبي کريم ﷺ خوب وليد چې مسواك وهي، دوه کسان ورته راغلل، نو نبي کريم ﷺ هغه کشر کس ته مسواك ورکول غوښتل، ماته وويل شو چې مشر ته يې ورکړه، نو ما هغه مسواك مشر ته ورکړو.

د سپين ږيري مسلمان عزت کول

"وعن أبي موسى ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: إن من إجلال الله تعالى: إكرام ذي الشيبة المسلم" د ابو موسى اشعري ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل دا خبره هم د الله ﷻ په عزت کې داخله ده چې د بوډا مسلمان عزت وکړی شي، "وحامل القرآن غير الغالي فيه، والجافي عنه" او د الله ﷻ د حدودو پابندي کونکی يعنې قرآن باندې عمل کونکي ته دې عزت ورکړل شي، "وإكرام ذي السلطان المقسط حديث حسن رواه أبو داود" او د انصاف کوونکي پاچا عزت دې وکړی شي، دا حديث امام ابوداود رحمه الله روايت کړی او دا حديث حسن صحيح دی.

تشريح د سپين ږيري بوډا سړي د عزت خيال ساتل، په قرآن کريم باندې عمل کونکي سړي عزت خيال ساتل، او د عادل پاچا د عزت خيال ساتل په شريعت کې مطلوب دي

"وعن عمرو بن شعيب، عن أبيه، عن جده ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: ليس منا من لم يرحم صغيرنا" د عمرو بن شعيب نه روايت دی هغه يې د خپل پلار نه روايت کوي، هغه يې د خپل نيکه نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه کس زموږ د ډلې څخه نه دی چې زموږ په کشرانو شفقت نه کوي، "ولم يعرف شرف كبيرنا" او زموږ د مشرانو عزت ونه پيژني، "حديث صحيح رواه أبو داود والترمذي، وقال الترمذي: حديث حسن صحيح"

دا حديث صحيح دی، امام ابوداود او ترمذي روايت کړی دی. امام ترمذي رحمه الله فرمايي دا حديث حسن صحيح دی.

• "وفي رواية أبي داود: حَقَّ كَبِيرِنَا" د ابو داود رحمه الله په روايت کې دي چې زموږ د مشرانو حق ونه پيژني

تشريح: داسې کس کامل مسلمان نه شي چوړيدلی او نه زموږ په ډله کې حسابيږي چې زموږ په کشرانو رحم نه کوي او د مشرانو عزت نه کوي، په دې حديث کې سخته زورنه ده هغو خلکو ته چې بې ځايه کشران وهي او د مشرانو خيال نه ساتي

د خلکو سره د هغوی د مقام په اندازه لحاظ ساتل

"وعن ميمون بن أبي شبيب رحمه الله: أَنَّ عائشة رضي الله عنها مَرَّ بِهَا سَائِلٌ، فَأَعْطَتْهُ كِسْرَةً" د ميمون بن ابي شبيب روايت دی، فرمايي چې عائشې رضي الله عنها ته يو سوال کونکی راغی، د ډوډۍ يوه ټوټه يې ورکړه. "وَمَرَّ بِهَا رَجُلٌ عَلَيْهِ ثِيَابٌ وَهَيْئَةٌ، فَأَقْعَدَتْهُ، فَأَكَلَ، فَقِيلَ لَهَا فِي ذَلِكَ؟" بيا يو بل سوالگر راغی چې د هغه عجيبه جوړه وه، هغې کېنولو او خوراك يې پرې وکړو، د هغې څخه ددې فرق په باره کې پوښتنه وشوه. "فقالت: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: أَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ" نو هغې وفرمايل چې رسول الله ﷺ فرمايلي: د خلکو سره د هغوی د مرتبې موافق سلوك کوئ! "رواه أبوداود، لكن قال: ميمون لم يدرك عائشة. وقد ذكره مسلم في أول صحيحه تعليقاً" دا حديث امام ابوداود رحمه الله په خپل صحيح کې روايت کړی دی. ليکن امام نووي رحمه الله فرمايي چې دا روايت خو په ابوداود کې ذکر دی. ليکن د ميمون ملاقات د عائشې رضي الله عنها سره نه دی شوی. امام مسلم رحمه الله په خپل کتاب کې دا روايت معلق ذکر کړی دی. "فقال: وذكر عن عائشة رضي الله عنها قالت: أمرنا رسول الله ﷺ أن ننزل الناس منازلهم، وَذَكَرَهُ الحَاكِمُ أبوعبد الله في كتابه ((مَعْرِفَةُ عُلُومِ الحَدِيثِ)) وَقَالَ: هُوَ حديث صحيح" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: د هر کس مرتبه وپيژنئ او د هغې موفق ورسره سلوك ساتئ، امام حاکم رحمه الله په خپل کتاب معرفة علوم الحديث کې دا روايت ذکر کړی دی او وايي چې دا حديث صحيح دی.

لغوي تحقيق:

مر: "مريمر" باب نصر ينصر دی، تېرېدل، مزل کول

تشريح د عائشې رضي الله عنها ددې حديث نه معلومه شوه چې د خلکو مقام او مرتبه بايد رعايت شي او په همدې اعتبار بايد د دوی سره سلوك وکړی شي، کوم کس چې د کوم مقام او مرتبې والاوي، هغسې رعايت او معامله بايد ورسره وشي، که يو کس اوچت مقام او مرتبه لري، مثلاً شيخ القرآن والحديث وي، د هغه د مقام او مرتبې مطابق معامله ورسره کول پکار دي، د يو طالب سره د هغه د مقام او مرتبې لحاظ مطابق معامله کول پکار دي، نه داسې چې شيخ القرآن والحديث ته د يو طالب په نظر وکتل شي او يا يو طالب ته د شيخ القرآن والحديث په نظر وکتل شي

ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث په شرحه کې فرمايي: د پرښتو په باره کې الله ﷻ فرمايي: "ومامنا إلا له مقام معلوم" هرې پرښتې ته دلته زموږ سره يو معلوم مقام او مرتبه ده. په بل ځای کې ارشاد دی: "ورفعنا بعضهم فوق بعض درجٰت" يو ته مو په بل باندې فضيلت او درجه ورکړې ده. هر سړی ته هغه د درجې مطابق نظر او خيال ساتل پکار دي، يو مشر ته د کشر په نظر او کشر ته د مشر په نظر کتل پکار نه دي، که داسې وشي؛ نو ټول نظام به خراب وي، څکه خو په يو حديث کې دي چې کله معاملات غير اهل ته وسپارل شي؛ نو د قيامت د راتلو انتظار وکړئ.

د راوي ميمون بن ابي شبيب رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې ميمون رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې شبيب دی، بروزن حبيب، تابعي دی. اکثر اسماء الرجال والا په ثقه کې شمار کړی دی، وفات يې د درې اتيا کالو په عمر کې وشو.

د مجلس او شورئ خلک بايد عالمان او پرهېزګاران وي:

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: قَدِمَ عُيَيْنَةُ بنُ حِصْنٍ، فَنَزَلَ على ابْنِ أخِيهِ الحُرِّ بنِ قَيسٍ، وكَانَ مِنَ النَّفَرِ الَّذِينَ يُدْنِيهِمْ عُمَرُ رضي الله عنه" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روايت دی چې عيينه بن حصن رضي الله عنه مدينې ته راغلو او د خپل وراره سره مېلمه شو، د هغه نوم حر بن قيس رضي الله عنه و، دی د هغو خلکو څخه وو چې عمر رضي الله عنه به د خپل ځان سره نژدې کېنولو، د هغه مشوره ورکوونکی هم وو. "وكَانَ القُرَّاءُ أصْحَابَ مَجْلِسِ عُمَرَ وَمُشَاوَرَتِهِ كُهُولاً كَانُوا أَوْ شُبَّاناً" او د عمر رضي الله عنه په مجلس کې به د مشورې لپاره هغه خلک شاملېدل چې قرآن کريم يې زيات ويلی وو، برابره خبره ده چې زاړه وو او که ځوانان به وو. "فَقَالَ عُيَيْنَةُ لابْنِ أخِيهِ: يَا ابْنَ أخِي، لَكَ وَجْهٌ عِنْدَ هَذَا الأمِيرِ، فَاسْتَأذِنْ لِي عَلَيهِ، فَاسْتَأذَنَ لَهُ، فَأَذِنَ لَهُ عُمَرُ رضي الله عنه" عيينه رضي الله عنه يوه ورځ خپل وراره ته ووېل: ته د عمر رضي الله عنه خواته ځې، زما لپاره هم د شرکت اجازه وغواړه، هغه د عمر رضي الله عنه نه اجازه وغوښته، هغه ورته اجازه ورکړه، "فَلَمَّا دَخَلَ قَالَ: هِيْ يَا ابْنَ الخَطَّابِ، فَوَاللهِ مَا تُعْطِينَا الجَزْلَ، وَلاَ تَحْكُمُ فِينَا بِالعَدْلِ، فَغَضِبَ عُمَرُ رضي الله عنه حَتَّى هَمَّ أنْ يُوقِعَ بِهِ" کله چې عيينه رضي الله عنه راغلو، په مجلس کې يې ووېل: اې ابن خطاب! دا څنګه رويه ده؟ قسم په الله! نه دې موږ ته زيات مال راکړی دی او نه هم زموږ په باره کې انصاف کوې، د هغه په دې خايه شکايت عمر رضي الله عنه غوسه شو، دا خطره وه چې چېرته يې ونه وهي. "فَقَالَ لَهُ الحُرُّ: يَا أمِيرَ المُؤْمِنِينَ، إنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ لِنَبِيِّهِ ﷺ: خُذِ العَفْوَ وَأْمُرْ بِالعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الجَاهِلِينَ" نو سمدستي حر رضي الله عنه ووېل: اې امير المومنين رضي الله عنه! الله ﷻ خپل نبي ﷺ ته فرمايي چې خلکو ته معافي کوه او نېکې خبرې ورته کوه او د جاهلانو څخه مخ اړوه؛ "وَإنَّ هَذَا مِنَ الجَاهِلِينَ، وَاللهِ مَا جَاوَزَهَا عُمَرُ حِينَ تَلاَهَا عَلَيهِ، وكَانَ وَقَّافاً عِنْدَ كِتَابِ اللهِ تَعَالَى" دا سړی د جاهلانو څخه دی، په الله تعالى قسم چې کله عمر رضي الله عنه دا خبره واورېده، نو سمدستي چوپ شو، څکه چې هغه په قرآن باندې زيات عمل کوونکی وو. دا قول د عيينه رضي الله عنه دی. رواه البخاري

تشريح: ددې روايت څخه يو څو خبرې معلومې شوې. يو دا چې که د شورئ مجلس جوړېدل غواړې؛ نو خامخا بايد په دغه مجلس کې علماء او مشران مشائخ ناست وي، د دوی نه په هره مسئله

کې رایه او مشوره واخیستل شي، بل دا چې عمر ﷺ د ایت په اورېدو سره سمدستي ودرېد، ذره برابر مخکې نه شو، زموږ د زمانې د خلکو په څېر يې له خانه پکې تاويلات ونه کړل. کلك موحد او صحيح مسلمان هغه دی چې د ژوند ټول کړه وړه يې د قرآن کريم او د رسول الله ﷺ د حديثو سره سمون وخوري

چې مشر ناست وي، کشر به بې ضرورته خبرې نه کوي

"وعن أبي سعيد سَمُرة بن جُندب ﷺ، قَالَ: لقد كنت عَلَى عَهْدِ رَسُول الله ﷺ غُلاماً، فَكُنْتُ أحْفَظُ عَنْهُ، فَمَا يَمْنَعُنِي مِنَ القَوْلِ" د ابو سعيد سمره بن جندب ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې زه د رسول الله ﷺ په زمانه کې کم عمره هلك وم، ما به حديثونه يادول، نو زه به په خبرو بيانولو کې چا نه منع کولم، "إلاَّ أنَّ هاهُنَا رِجَالاً هُمْ أسَنُّ مِنِّي" غير له دې چې هلته ځيني مشران وو، د هغوی د عزت او مشرۍ له وجې به زه چوپ وم. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

تشريح: معلومه شوه چې که مشران ناست وي؛ نو کشرانو ته پکار نه دي چې بې ضرورته خبرې شروع کړي، يو خو په دې کې د مشرانو سپکاوی دی، بل دا چې په دې کې د کشرانو سپين سترګي توب ته اشاره ده، هو! که چېرته ضروري خبره کوي، نو بيا يې کولی شي، لکه حديث بيانول شو يا د کومې شرعي مسئلې په اړه پوښتنه وشي يا بل داسې شرعي عذر وي چې بيانول يې ضروري وي، نو بيا يې بيانول ضروري دي

د راوي سمره بن جندب ﷺ حالات:

اصل نوم يې سمره ﷺ دی، کنيت يې ابو سعد دی، د پلار نوم يې جندب بن بلال دی،ه، پلار يې په کم عمرۍ کې وفات شوی وو، مور يې مديني منورې ته راغله، دلته چې به کوم کس د نکاح پيغام ورلېږلو، نو هغې به دا شرط ورسره لګولو چې نکاح به درسره وکړم، په دې شرط چې زما او زما د زوی سمره ﷺ کفالت به کوې، په همدې شرط مرلي بن شيبان بن ثعلبة ورسره نکاح وکړه، سمره ﷺ د بدر په جنګ کې شريك نه شو، د احد په غزا کې چې کله يو وړوکي صحابي ﷺ ته رسول الله ﷺ اجازه ورکړه، نو ده هم وويل: يا رسول الله ﷺ! زه خو ددې صحابي څخه زيات طاقت لرم، په مقابله کې هغه وړوکي صحابي سمره ﷺ راوغورځولو، د احد په غزا کې شريك شو، ددې نه وروسته به په هره غزا کې شريکېدلو، د نبي کريم ﷺ تر ژوند پورې په مدينه منوره کې اوسېدلو.

وفات په څلور پنځوسمه هجری کې وفات شو، د وفات وجه يې دا وه چې د ډېرې يخنۍ له امله يې بدن جام شوی وو، د علاج لپاره به د ګرمو اوبو څخه ډك ديګ باندې کيناستلو، يو ځل په دې ګرم ديګ کېناستلو چې لاندې ولوېدلو او په ګرمو اوبو کې وفات شو، طبقات ابن سعد ليکلي دي چې: يوه ځل د رسول الله ﷺ سره ابو هريره ﷺ، سمره ﷺ او ابو محذوره ﷺ ناست وو چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې به يو کس په اور کې سوځي او مړ کيږي به، دغه پيش ګوئي د سمره ﷺ په حق کې ثابته شوه.

مرويات يو سل دري ډېرش حديثونه ترې روايت شوي دي، د بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله په

دوه حديثونو باندې اتفاق دی، بخاري رحمه الله په يو حديث کې او مسلم رحمه الله په څلورو حديثونو کې منفرد دی

د قيامت په ورځ به د الله جل جلاله لپاره مينه کوونکي د عرش تر سيوري لاندې وي

"وعنه: قال قال رسول الله ﷺ: ان الله تعالى يقول يوم القيامة: أين المتحابون بجلالي" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د قيامت په ورځ به الله جل جلاله ارشاد وفرمايي چېرته دي هغه خلک چې په خپلو کې به يې مينه صرف زما له خاطره کول، "اليوم اظلهم في ظلي يوم لا ظل الا ظلي. رواه مسلم" نن ورځ به زه هغوی ته په خپل سوري کې ځای ورکړم، داسې سوري چې ددې پرته به بل سوری نه وي

لغوي تحقيق:

بِجَلالِي: "جَلَّ جَلالاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: لوړ شان والا، لکه ويل کيږي چې "جل ثناءك" يا الله ستا شان اوچت دی

تشريح "اظلهم في ظلي يوم لا ظل إلا ظلي" نن به زه دغو خلکو ته د داسې سيوري ځای ورکړم چې بل سيوری به نه وي، محدثينو په دې مسئله کې بحث کړی ده چې د (ظل) سيوري نه مراد څه دی؟ ددې سيوري په باره کې درې قوله مشهور دي

لومړی: د (ظل) نه مراد د عرش سيوری دی، لکه څرنګه چې په ځينو رواياتو کې د عرش د سيوري ذکر راغلی دی، د الله جل جلاله د عرش سيوری، الله جل جلاله ته د سيوري نسبت کول د عظمت او تکريم په ډول دي

دويم: قول دا دی چې د سيوري نه مراد حفاظت او د الله جل جلاله خپل خاص رحمت دی، لکه څرنګه چې په يو حديث کې راځي "السلطان ظل الله في الأرض" په دنيا کې نيک او عادل پاچا د الله جل جلاله يو قسم سيوری دی، يعني د نيک او عادل پاچا په واسطه حفاظت کېدلی شي

دريم قول دا دی چې دا د رحمتونو او برکتونو څخه کنايه ده، لکه څرنګه چې په عربي ژبه کې راځي "عيش ظليل" په خوشحالۍ او مزو کې ژوند تېرول، نو دغه شان دلته به هم داسې وي، مطلب دا چې د قيامت په ورځ به دغو خلکو ته مختلف قسم راحتونه او نعمتونه نصيب کيږي

د ايمان څخه بغير به انسان جنت ته نه شي داخلېدی

"وعنه: قال قال رسول الله ﷺ: والذي نفسي بيده لا تدخلوا الجنة حتى تؤمنوا ولا تؤمنوا حتى تحابوا" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما دې قسم وي په هغه ذات چې زما روح د هغه په قبضه کې ده، تاسو به تر هغې جنت ته داخل نه شئ چې ايمان مو نه وي قبول کړی، تر هغې به مؤمنان نه شئ چې په خپلو کې مو مينه، محبت او ورورولي شروع کړې نه وي، "اولا أدلكم على شئ اذا فعلتموه تحاببتم؟ أفشوا السلام رواه مسلم" "ايا زه تاسو ته داسې عمل ونه ښيم چې تاسو هغه عمل وکړئ، نو په خپلو کې به سره مينه وکړئ؟ په خپل مينځ کې سلام خپور کړئ" دا حديث امام مسلم روايت کړی

لغوي تحقيق:

افشوا: "أفشى إفشآءً" د إفشاء معنى ده خپرول

تشريح "لا تدخلوا الجنة حتى تؤمنوا" جنت ته به تر هغه پورې داخل نه شئ چې ايمان مو قبول کړی نه وي، محدثين فرمايي چې دا خبره واضحه ده چې کافر به جنت ته داخل نه شي، جنت ته به ايمانداره خلك داخليږي، دا د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ فيصله ده.

"أفشوا السلام بينكم" په خپل منځ کې سلام اچول عام کړئ، په يو روايت کې دي بايد هر کس ته سلام وکړی شي، که ته هغه پيژنې او که يې نه پيژنې! سلام کولو سره انسان د شريعت تابع کيږي او په سلام کولو سره الله ﷻ د انسان نه راضي کيږي او په بدله کې ورته جنت ورکوي

څوك چې د بوډا عزت کوي، په بوډاتوب کې به د هغه عزت وشي

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَا أَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخاً لِسِنِّهِ" د انس ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم ځوان چې د يو کس عزت د بوډاوالي په وجه کوي، نو هغه چې کله خپله بوډا شي، "إِلاَّ قَيَّضَ اللهُ لَهُ مَنْ يُكْرِمُهُ عِنْدَ سِنِّهِ رواه الترمذي، وَقالَ: حديث غريب" نو الله ﷻ به دده لپاره داسې خلك مقرر کړي چې دده عزت به هم کوي، دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او وايي دا حديث غريب دی.

لغوي تحقيق:

قيض: "قيض" باب تفعيل دی، مقررول.

تشريح "من يكرمه عند سنه" داسې کسان به الله ﷻ پيدا کړي چې هغوی به ددې کس عزت کوي، مطلب دا چې څوك د يو بوډا مسلمان عزت وکړي، نو دی چې کله خپله بوډا شي، الله ﷻ به داسې خلك ورته پيدا کړي چې هغوی به ددې سړي عزت او احترام کوي، "هل جزاء الإحسان إلا الإحسان" د نيکی بدله نيکي ده، څوك چې څرنګه کار کوي د هغه سره به سبا همدغه شان کيږي، په دې حديث کې اشاره ده دې خبرې ته چې بايد د بوډا مسلمان سړي د عزت خيال وساتل شي، بل دا چې په دې سره د سړي په عمر کې الله ﷻ برکت اچوي.

باب زيارة أهل الخير ومجالستهم وصحبتهم ومحبتهم وطلب زيارتهم والدعاء منهم وزيارة المواضع الفاضلة

د نيکانو خلکو سره ملاقات کول، د هغوی ملګرتيا او ناسته پاسته اختيارول او د هغوی سره محبت کول او دعاء ترې غوښتل او د ښه ښه ځايونو زيارت کول

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ" کله چې موسى عليه السلام خپل ځوان

ملګري ته وويل: چې زه به همېش روان يم، "حَتّٰى أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا" تر هغه پورې چې د دوه
دريابونو د يو ځاى کېدلو مقام ته وي رارسېدلى، دغه مقام ته د رسېدو لپاره چې هر څومره موده ته
شي، زه به روان يم، تر اخري آيت پورې يې تلاوت کړو، "إِلٰى قَوْلِهٖ تَعَالٰى: قَالَ لَهٗ مُوسٰى هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلٰى" ترڅو چې تر
د الله ﷻ پورې چې: موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وويل: ايا زه ستاسو ملګرتيا کولى شم په دې شرط چې
"أَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا؟" ماته به هم خپل علم ښيئ کوم چې تاته ښودل شوى دى [الكهف: ۶۰-۶۶]

تشريح: په دې آيت کې د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ واقعه ذکر ده چې الله ﷻ موسى عليه السلام ته حکم ورکړو
چې لاړ شه! د خضر عليه السلام سره ملاقات وکړه، "وَقَالَ مُوسٰى لِفَتَاهُ" فتى: ځوان ته وايي، که د فتى نسبت خاص
سړي ته وشي، نو بيا ترې خادم مراد دى، دا خادم يوشع بن نون بن افرائيم بن يوسف عليه السلام دى، په
خپلوى کې د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ خوريى کېدلو، د دوى سره يو ماهى وو، کله چې د سمندر غاړې ته
ورسېدل، نو موسى عليه السلام د لږ دمې لپاره يو کاڼي ته تکيه ووهل او ويده شو، په دې دوران کې هغه
ماهى د يوشع عليه السلام له لاسه ټوپ ووهلو او سمندر ته ولوېدو، موسى عليه السلام له خوبه راويښ شو، د خان
سره يې وويل: کله چې موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ راويښ شي، نو بيا به ورته حال ووايم، کله چې راويښ شو، نو د
هغوى د ذهن نه خبره هېره شوه، دواړه روان شول، په لاره کې موسى عليه السلام خپل ملګري ته وويل: ووډې
راوړه چې وې خورو، دا وخت هغه ته ياد شو چې ماهى سمندر ته دننه شو، يوشع عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وويل
زمانه د شيطان په وجه هغه خبره هېره شوې وه، موسى عليه السلام ورته وويل: همدغه ځاى زمونږ منزل
مقصود دى، د خپلو پښو په نقشو واپس راروان شول، کله چې راورسېدل نو يو کس يې وليد، د هغه نوم
خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ وو، د هغه سره يې ملاقات وشو، موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وايي: ايا زه ستاسو ملګرتيا
کولى شم؟ تاسو ته چې الله ﷻ څه درښودلي دي هغه ماته بيان کړئ؟ هغه ورته وويل: تاسو زما سره د
ملګرتيا طاقت نه لرئ، موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وويل: که د الله ﷻ خوښه وي نو وس مې شته، خضر عليه السلام
موسى عليه السلام ته وويل: صحيح ده، خو په دې شرط چې تر څو ما درته بيان نه وي کړى، پوښتنې به نه
کوې، موسى عليه السلام او خضر عليه السلام دواړه روان شول او په کشتۍ کې کښېنستل، خضر عليه السلام کشتى
سورى کړه، موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وويل: دا څه کوې؟ خضر عليه السلام ورته وويل: ما درته نه دي ويلي چې ته
زما سره ملګرتيا نشې کولى، موسى عليه السلام ورته وويل: زما څخه خبره هېره وه، مه خفه کېږه، بيا دواړه
روان شول، په لار کې ورته خضر عليه السلام يو ماشوم مړ کړو، موسى عليه السلام ورته وويل: ماشوم بې ګناه دى،
ولې دې مړ کړو؟ خضر عليه السلام ورته وويل: ما درته نه دي ويلي چې زما سره ته ملګرتيا نه شې کولى؟
موسى عليه السلام ورته وفرمايل: که دا ځل مې درنه پوښتنه وکړه بيا مې د ځان سره مه ملګرى کوه، دوى
دواړه روان شول، په لاره کې يې يو دېوال وليد چې غورځېدو ته نږدې و، خضر عليه السلام هغه دېوال بې اجرته
جوړ کړو، موسى عليه السلام ورته وويل: ولې دې بې اجرته دېوال جوړ کړو؟ خضر عليه السلام ورته وويل: بس دغه
زما او ستا د فراق ځاى دى، اوس به درته د ټولو واقعاتو حال بيان کړم، هغه کشتى د دوه مسکينانو
وه، د سمندر په غاړه يو ظالم پاچا وو، هغه به په زوره له خلکو کشتى نيولې، نو ما ځکه هغه عيبجنه

کړه چې کښتۍ غصب نه کړي، کوم ماشوم چې ما قتل کړو، نو د هغه مور- پلار ښه خلک وو. خو په هغه ويره وه چې که ستر شي؛ نو مور پلار به هم دده د لاسه په غلطه لار روان شي. خکه مې هغه ماشوم مړ کړو، الله تعالی به دغه مور پلار ته بل اولاد ورکړي چې هغه به ډېر ښه او نېک وي او هغه دېوال د دوه يتيمانو وو، ددې دېوال لاندې يوه پټه خزانه وه، مونږ ووېل که دغه ماشومان لويان شي نو خپله خزانه به راواخلي، دغه کارونه ما د خپله خانه نه دي کړي، بلکې دا هر څه مې د الله ﷻ په خوښه کړي دي

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي "وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ" خان صبر کړه د هغو کسانو سره چې خپل رب رابولي، "بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ" صرف او صرف د دوی مقصود سهار او ماښام د الله ﷻ رضا ده [الكهف:۲۸].

تشريح: په دې آيت کې نبي کريم ﷺ ته ارشاد دی تاسو د هغو خلکو سره خان وشماری چې شپه او ورځ خپل رب ته چيغې کوي، د دوی مطلب صرف او صرف د خپل رب رضاء وي.

دام ايمن رضي الله عنها په وجه شيخينو رضي الله عنهما وژړل

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ أبوبكر لِعُمَرَ رضي الله عنهما بَعْدَ وَفَاةِ رسول الله ﷺ" د انس رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې يوه ورځ ابوبکر رضي الله عنه عمر رضي الله عنه ته د رسول الله ﷺ د وفات وروسته وفرمايل "انْطَلِقْ بِنَا إِلَى أُمِّ أَيْمَنَ رضي الله عنها نَزُورُهَا كَمَا كَانَ رَسُولُ الله ﷺ يَزُورُهَا" راځه چې ام ايمن رضي الله عنها ته لاړ شو. لکه څرنګه چې به رسول الله ﷺ د هغې زيارت ته تلو، "فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَيْهَا، بَكَتْ، فَقَالَا لَهَا: مَا يُبْكِيكِ؟" کله چې هغوی د هغې کور ته ورسېدل او ملاقات يې ورسره وشو. نو هغې وژړل. دواړو ووېل ولې ژاړې؟ "أَمَا تَعْلَمِينَ أَنَّ مَا عِنْدَ الله خَيْرٌ لِرَسُولِ الله ﷺ" ايا تا ته پته نشته چې د الله ﷻ سره څه دي هغه ټول د رسول الله ﷺ په حق کې زيات بهتر دي. "فَقَالَتْ: مَا أَبْكِي أَنْ لَا أَكُونَ أَعْلَمُ أَنَّ مَا عِنْدَ الله تَعَالَى خَيْرٌ لِرَسُولِ الله ﷺ" هغې ووېل د رسول الله ﷺ ډېر زيات اوچت مقام دی او د الله ﷻ په نزد چې څه دي هغه د رسول الله ﷺ لپاره ډېر ښه دي، "وَلَكِنْ أَبْكِي أَنَّ الْوَحْيَ قَدِ انْقَطَعَ مِنَ السَّمَاءِ، فَهَيَّجَتْهُمَا عَلَى الْبُكَاءِ" ليکن زه په دې ژاړم چې د اسمان له طرفه وحي بنده شوه، کله چې دوی دواړو دا خبره واورېده؛ نو د دوی دواړو زړونه هم راډک شول، "فَجَعَلَا يَبْكِيَانِ مَعَهَا" نو دوی دواړو هم د ام ايمن رضي الله عنها سره په ژړا شروع وکړه. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

فهيجتهما: "هيج تهييجاً" ددې معنی ده يو کس په يو عمل باندې تېزول، برانګېخته کول

د ام ايمن رضي الله عنها لنډه پېژندګلوي:

"انطلق بنا إلى أم أيمن" راځئ چې د ام ايمن رضي الله عنها کور ته لاړ شو، ام ايمن رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ د پلار عبد الله وينزه وه، تعلق يې د حبشې سره وو، کله چې نبي کريم ﷺ پيدا شو، نو دوی يې په شوق او ميرانه پرورش او پالنه وکړه، نبي کريم ﷺ هغه ازاده کړه او د زيد بن حارث رضي الله عنه سره يې نکاح وکړه،

ددې واقعې نه معلومه شوه چې د چا سره دې مينه وي؛ نو د هغه د وفات وروسته د هغه سره چې د چا ملاقاتونه کېدل او ملګرتيا يې ورسره وه، نو ددې خلکو سره هم مينه ساتل پکار دي، لکه څرنګه چې نبي کريم ﷺ د ام ايمن رضي الله عنها کور ته تشريف وړلو، کله چې رسول الله ﷺ وفات شو، نو بيا به ابوبکر صديق رضي الله عنه د هغې کور ته ورتلو

څوک چې د الله جل جلاله لپاره د چا سره مينه کوي، الله جل جلاله د هغه سره مينه کوي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ: أَنَّ رَجُلاً زَارَ أَخاً لَهُ في قَرْيَةٍ أُخْرَى" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو کس ورور په بل کلي کې وو، د هغه پوښتنې ته لاړو. "فَأَرْصَدَ اللهُ تَعَالَى عَلَى مَدْرَجَتِهِ مَلَكاً، فَلَمَّا أَتَى عَلَيْهِ، قَالَ: أَيْنَ تُرِيدُ؟" الله جل جلاله ورته يوه پرښته لارې ته راولېږل، کله چې دغه سړی هغه ځای ته راورسېدو په کوم ځای کې چې پرښته مقرر وه؛ نو پرښتې ترې پوښتنه وکړه چې اراده دې چېرته ده؟ "قَالَ: أُرِيدُ أَخاً لِي في هذِهِ القَرْيَةِ" هغه سړي ورته ووېل: په دې بل کلي کې مې يو ورور دی، د هغه پوښتنې ته روان يم. "قَالَ: هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا عَلَيْهِ؟" پرښتې ورته ووېل: ايا په تا يې څه احسان شته چې د هغې د شکريې ادا کولو په توګه ورشې؟ "قَالَ: لا، غَيْرَ أَنِّي أَحْبَبْتُهُ في اللهِ تَعَالَى، قَالَ: فَإنِّي رَسُولُ اللهِ إلَيْكَ" هغه ورته ووېل: نه؛ بلکې صرف په دې وجه ورځم چې الله جل جلاله رانه راضي شي، د الله جل جلاله د رضا لپاره ورځم، پرښتې ورته ووېل: زه د الله جل جلاله له لورې تاته رالېږل شوی يم، "بِأَنَّ اللهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيهِ" چې په دې خبره يې خبر کړم چې الله جل جلاله هم ستا سره مينه ساتي، لکه څنګه چې ته د الله جل جلاله د رضا لپاره ددې سړي سره مينه ساتې! رواه مسلم

"يقال: ((أَرْصَدَهُ)) لِكَذا: إِذَا وَكَّلَهُ بِحِفْظِهِ" دا لفظ هغه وخت استعمالېږي چې د چا ذمه واري ورته وسپارل شي. "وَ((المَدْرَجَةُ)) بِفَتْحِ المِيمِ وَالرَّاءِ: الطَّرِيقُ، ومعنى (تَرُبُّهَا): تَقُومُ بِهَا، وَتَسْعَى في صَلاحِهَا: لفظ د مدرجة په فتحې د ميم سره او (ر) سره دی، معنی يې ده: لاره او معنی د "تربها": حفاظت کول، سمول او برابرولو ته هم وايي

لغوي تحقيق:

أرصده لكذا: دا الفاظ هغه وخت استعمالېږي چې کله د هغه د حفاظت لپاره څوک مقرر کړی شي.

مدرجة: په "ميم" او "ر" باندې زبر ويلو سره ويل کېږي، ددې معنی ده لاره

تشريح د الله جل جلاله څومره لوی انعام او اکرام دی چې که يو کس صرف او صرف په دې خاطر د چا سره مينه کوي چې دغه کس د الله جل جلاله بنده دی، د هغه منونکی دی او د هغه په رسول ﷺ باندې ايمان لري، موحد مسلمان دی، صرف په دې خاطر ورسره مينه لري، نو الله جل جلاله به د خپل خاص لطف او کرم په واسطه د داسې کس سره هم مينه او محبت کوي چې خالص د الله جل جلاله د رضا په خاطر د خلکو سره مينه کوي

د چا ملاقات يا د مريض پوښتنې ته تلل

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَنْ عَادَ مَرِيضاً أَوْزَارَ أَخاً لَهُ فِي اللهِ، نَادَاهُ مُنَادٍ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كه چا د يو بيمار پوښتنه وكړه يا د الله جل جلاله د رضا لپاره د خپل ديني ورور ملاقات ته لاړو، نو يو اواز كونكی به اواز وكړي چې "بِأَنْ طِبْتَ، وَطَابَ مَمْشَاكَ، وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الجَنَّةِ مَنْزِلاً" تا ته دې د خوشحالۍ زيری وي، ستا تلل دې مبارك وي، تا خانته په جنت كې يو مقام جوړ كړو.

"رواه الترمذی، وقَالَ: ((حديث حسن))، وفي بعض النسخ: غريب" دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت كړی دی او فرمايي: دا حديث حسن دی او په بعضو نسخو كې يې د غريب حكم پرې لګولی دی.

تشريح: د يو مسلمان مريض پوښتنې ته تلل يا هسې د الله جل جلاله د رضا په خاطر د چا پوښتنې ته ورتلل خومره لوی اجر لري، مفت اجرونه دي چې خالص د الله جل جلاله انعام دی، كه فكر وشي چې په دې كې د الله جل جلاله نه څه فايده شته او نه كوم نقصان شته، پوښتنه هم موږ د يو بل كوو، بيا هم ثواب راكوي، نو معلومه شوه چې هم شير دی او هم شوروا ده.

اې معاذه رضي الله عنه! زما ستا سره مينه ده

"وعن معاذ رضي الله عنه، أن رسول الله ﷺ أخذ بيده وقال: يا معاذ رضي الله عنه! والله إني لأحبك، ثم أوصيك يا معاذ لا تدعن في دبر كل صلاة تقول" د معاذ رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ زما لاس ونيولو او وې فرمايل اې معاذ رضي الله عنه! ستا سره مينه لرم او زه تا ته د يو څو كلماتو وصيت كوم، هغه د هر فرض لمانځه وروسته وايه: "اللهم أعني على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك، حديث صحيح، رواه أبوداود والنسائي بإسناد صحيح" اې الله جل جلاله! زما مرسته وكړې چې زه ستا ذكر په ښكلې طريقه وكړم، شكر دې ادا كوم او په ښكلې طريقه دې عبادت كوم

لغوي تحقيق:

لاتدعن: "ودع ودعاً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: پرېښودل

تشريح "والله إني لأحبك" اې معاذ رضي الله عنه! په الله جل جلاله قسم چې زما ستاسو سره مينه ده، علماء فرمايي: نبي كريم ﷺ د خپلې خبرې د تاكيد لپاره قسم وكړو، دلته سوال دا پيدا كېږي چې بيا ولې رسول الله ﷺ قسم وكړو، څكه چې په ظاهر كې قسم خوړلو ته ضرورت نه وو؟ ځواب دا دی چې قسم خوړل جائز دي، اګر چې زيات ضرورت ورته نه وي، "لاتدعن في دبر الصلاة" د هر لمانځه وروسته دا كلمې وايه، په بل روايت كې "فلاتدع أن تقول في كل صلوة" جمله نقل شوې ده، د دواړو مفهوم او معنی قريب قريب ده، "اللهم أعني على ذكرك" دا ډېره جامع دعا ده، بايد هر سړی دا دعا ولولي، څكه چې رسول الله ﷺ په ډېر اهتمام سره معاذ رضي الله عنه ته وښودلې.

څوك چې ووايي: زما ستا سره مينه ده، په ځواب كې به ورته وايي "أحبك الله الذي أحببتني له"

"وعن أنس رضي الله عنه أن رجلاً كان عند النبي ﷺ فمر رجل به، فقال: يا رسول الله ﷺ! إني لأحب هذا، فقال له النبي ﷺ: (أعلمته؟) قال لا" د انس رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې يو كس د رسول الله ﷺ سره ناست وو، بل كس

وړاندې تېر شو، هغه ووېل يا رسول الله ﷺ! زه د دغه سړي سره مينه لرم. نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل هغه دې خبر كړى دى او كه نه؟ هغه كس ووېل نه "قال: (أعلمه) فلحقه فقال: إني أحبك، فقال أحبك الذي أحببتني له" رواه أبوداود، بسند صحيح" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل لاړ شه او هغه خبر كړه، هغه كس سمدستي پاڅېدو وريسې لاړو او ورته يې ووېل زه ستا سره مينه لرم. هغه كس ورته ووېل الله ﷻ دې ستا سره مينه وكړي چې د هغه په خاطر ته زما سره مينه ساتې

لغوي تحقيق:

أعلمته: "أعلمه" د دې معنى ده خبر وركول

تشريح د دې حديث مضمون وړاندې تېر شوى دى د چا سره چې ستا مينه وي، بايد هغه خبر كړې، په دې حديث باندې نبي كريم ﷺ د صحابه كرامو ؓ ښځه بالفعل عمل واخيستو، د دې لپاره چې مينه او محبت يو طرفه پاتې نه شي، بلكې دواړه طرف ته دوستي او مينه جوړه شي، بيا چې د دوستۍ كوم حقوق دي هغه دواړه طرف ادا كړى شي او ملګرتيا ته دوام وركړي

"فقال احبك الذي احببتني له: معلومه شوه چې كه څوك درته دمينې او محبت خبر تيا دركړي چې زه تاسره مينه او دوستي لرم، نو بايد چې په خواب كې ورله دغه جمله ووېل كېږي احبك الذي احببتني له چې الله ﷻ دې له تاسره مينه او محبت ووساتي چې هم دغه الله ﷻ لپاره تاسو ما سره مينه ساتئ

د ښه او بد ملګري مثال

"وعن أبي موسى الأشعري ؓ أن النبي ﷺ، قال: إنما مثل الجليس الصالح وجليس السوء، كحامل المسك ونافخ الكير" د ابو موسى اشعري ؓ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نېك ملګري او بد ملګري مثال د مشكو د خرڅونكي او په بټۍ كې د اور لګونكي په شان دى، "فحامل المسك: إما أن يحذيك، وإما أن تبتاع منه، وإما أن تجد منه ريحا طيبة" مشكو والا به يا څه خيله دركړي، يا به ترې څه واخلې كه په دې دواړو كې يو هم نه وي، نو بيا به هم په تا خوشبويي ولګېږي، "ونافخ الكير: إما أن يحرق ثيابك، وإما أن تجد منه ريحا منتنة" او د بټۍ والا به يا ستا كپړې وسوځوي، كنه د تريخ لوګي ښځه به يې هيڅكله بچ نه شي متفق عليه "يحذيك: يعطيك" د يحذيك معنى ده څه به دركړي

لغوي تحقيق:

"أن يحذيك" أحذاه إحذاء: د مال غنيمت حصه، هديه ورکول

منتنة: "تن الشئ" د دې معنى ده: يو شى بد بودار كېدل

تشريح ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة كې ليكلي په دې حديث كې د ښو خلكو سره ملګرتيا او ناسته او د بدو خلكو سره ملګرتيا او ناستې مثال وركول شوى دى، په مثال سره خبره ښه په ذهن كې راځي، ملا علي قاري رحمه الله زياتوي چې په دې حديث كې د دې خبرې خبرداري دى چې د نېكانو او ښو خلكو سره بايد ملګرتيا او مينه ولري، د بدو خلكو ښځه ځانونه وساتي

د ښو خلکو سره په ناستې کې د دنيا او اخرت ګټه ده:

مسير چوں مرا صحبت بجان عاشقاں آيد ... ہمیں بینم کہ جنت بر زمین از آسماں آید

يعني کله چې ماته د نيکو خلکو صحبت حاصل شي: نو ماته دومره خوند راکوي. لکه د اسمان نه چې جنت ځمکې ته را ښکته شوی وي

د ښځو سره د څلورو وجوهاتو له وجې واده کيږي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قال: تُنْكَحُ المرأةُ لأربع: لمالها، ولحسبها، ولجمالها، ولدينها" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د ښځې سره د څلورو وجو نه واده کيدی شي. يا به د هغې سره مال وي، په دې وجه به ورسره واده کولی شي او يا به د نسب په وجه ورسره واده کولی شي او يا به د حسن او جمال له وجې ورسره واده کولی شي او يا به د دين په وجه ورسره واده کولی شي. "فاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ" ته ورسره د دين په وجه واده کوه؛ ستا لاسونه دې په خاورو خړ شي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"ومعناه: أنَّ النَّاسَ يَقْصِدُونَ في العَادَةِ مِنَ المَرْأةِ هذِهِ الخِصَالَ الأرْبَعَ، فَاحْرَصْ أنْتَ عَلَى ذَاتِ الدِّينِ" ددې مقصد دا دی چې په عام عرف کې خلك د ښځې سره د څلورو وجو واده کوي. نو ته حرص وکړه چې د دين په وجه ورسره واده وکړې، "وَاظْفَرْ بِهَا، وَاحْرِصْ عَلَى صُحْبَتِهَا" تا ته د ښځې ديني اړخ مخې ته نيولو سره واده کول پکار دي، مال، ښايست، دولت او نسب د ازار باعث جوړيدی شي او دينداري صرف د رحمت باعث جوړيږي

لغوي تحقيق:

فاظفر: امر دی. "ظفر ظفراً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده کاميابيدل، يو شی ترلاسه کول

تشريح: "تنكح المرأة لأربع" د ښځو سره په دې څلورو وجو کې په يوه وجه واده ورسره کيږي، دا مطلب دا چې دا څلور وجې په خلور وجې عموما کيدی شي چې ددې وجې د ښځې سره واده کيږي. نو په دغو څلورو نکاح کې منحصرې نه دي، خلاصه دا چې که يو سړی د ښځې سره واده کول غواړي: که واده ورسره وکړم، شيانو کې عمومي نظر وي، يا خو ښځه مالداره وي چې سړی ورته پسخيږي. يا د نسب يعنې کيدی شي چې په پيسو يې قبضه واچوم او يا د حسن او ښکلا په وجه ورسره واده وکړي، خاندان په وجه ورسره نکاح کولی شي او يا د دينداری له وجې ورسره نکاح کولی شي

"فاظفر بذات الدين تربت يداك" خو نبي کريم ﷺ فرمايي: په دې څلورو شيانو کې دين ته ترجيح ورکړه؛ مطلب دا چې ديندارې او متدينې ښځې نکاح کړه؛ لاسونه دې په خاورو ککړ شه؛ ځينې خلك صرف دينداري ګوري، که د ديندارۍ سره باقي شيان هم وي، بيا خو "نور علی نور" ده، ليکن که يو طرفته په يوه ښځه کې دينداري وي او په بله ښځه کې دينداري نشته ليکن نسب او مالداري پکې وي، نو اوس به ديندارې ښځې مخکې وي، ددې سره به نکاح کولی شي. هغه بله ښځه به پرېښودلې شي. په دې حديث کې هم دغه ته اشاره ده. دغه شان په بل حديث کې هم دې طرفته اشاره ده "لاتزوجوا النساء لحسنهن فعسى حسنهن ان يرديهن ولاتزوجوهن لاموالهن فعسى اموالهن ان يطغيهن ولكن تزوجهن على الدين ولامراة جذماء سوداء ذات دين افضل".

د تربتْ يداك جملې مطلب:

ستا لاسونه دې په خاورو ککړ شي چې که تا دينداري پرېښوده او مالداري يا ښايست ته دې ترجيح ورکړه، لاسونه دې په خاورو ککړ شه؛ دذې لغوي معنى هلاکت او تباهي ده. ليکن په اصل کې يوه اصطلاح ده چې په حقيقت کې خيرې او بد دعاء مراد نه ده، بلکې په دې جملې سره ترغيب ورکول مقصود دي.

جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ هم د الله جَلَّ جَلَالُهُ د حکم پابند دى

"وعن ابن عباس رضى الله عنهما، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ لِجبريل: مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَزُورَنَا أَكْثَرَ مِمَّا تَزُورُنَا؟" د ابن عباس رضي الله عنهما روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وويل: اوس ځو خله ملاقات ته راځې؟ که ددې نه زيات د ملاقات لپاره راشې، نو څه شي دې منع کوي؟ "فَنَزَلَتْ: وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ" نو دا ايت نازل شو چې ترجمه يې دا ده: زموږ راتلل د الله جَلَّ جَلَالُهُ په حکم او د هغه د تابعدارى په وجه دي، "لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ" زموږ مخکې، وروسته او په مينځ کې چې څه دي د هغه په حکم سره دي، په ټولو معاملاتو کې د هغه په حکمت او مصلحت چليږو. [مريم: ۶۴] رواه البخاري.

لغوي تحقيق:

تزورنا: "زاره زيارة" باب نصر ينصر دى، معنى يې ده: ملاقات کول.

شان ورود:

تشريح يو ځل پوره څلوېښت ورځې جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر نه شو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: جبرئيل! تاسو ډېرې ورځې تيرې کړې، زړ راځې؛ په دې باندې الله جَلَّ جَلَالُهُ دغه ايتونه رانازل کړ، "وماننتزل إلا بأمر ربك" اې جبرئيل! نبي کريم ﷺ ته ووايه چې: زما تلل راتلل ټول د الله جَلَّ جَلَالُهُ په امر سره ترسره کيږي، د الله جَلَّ جَلَالُهُ د امر ذره برابر مخالفت نه شم کولى او زه د هغه د امر څخه بغير نه شم راتلى. "مابين أيدينا" کوم چې زموږ په وړاندې دي، ددې نه مراد آخرت دى، او "وما خلفنا" ددې نه مراد دنيا ده، او "ومابين ذالك" ددې نه مراد د دواړو شپېليو وهلو ترمنځ زمانه ده.

د مؤمن سره دوستي کوه په متقي باندې ډوډى خوره!

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه عن النَّبِيِّ ﷺ، قَالَ: لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِناً" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمان نه سيوا د بل چا په مجلس کې مه کېنه؛ "وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ" او د پرهيزګار سړي نه بغير دې ستا ډوډى بل څوک نه خوري، "رواه أبوداود والترمذي بإسناد لا بأس به" ددې حديث سند معتبر دى، ابوداود رحمه الله او ترمذي رحمه الله روايت کړى دى

لغوي تحقيق:

تقي: باب ضرب يضرب دى، پرهيزګار، تقوى دار.

تشريح په دې حديث کې دوه ډوله آداب بيانيږي لومړی دا چې ملګرتيا به نه کړې مګر د مؤمن مسلمان سره، په دې کې د ديندارو خلکو سره د دوستۍ ترغيب او د بې دينه خلکو څخه د ځان ساتلو ترغيب ورکول شوی دی، خدای دې نه کړي! که د غلطو خلکو سره دې دوستي جوړه کړه، نو د دوی د دوستۍ له وجې په کفر کې مبتلا نه شې، يا کم از کم د ګناهونو په ډنډ کې راګير نه شې او بل دا چې ستا ډوډی دې پرهېزګاره خلك وخوري

"ولا يأكل طعامك إلا تقي" ستا ډوډی به صرف نېک خلك خوري، محدثينو دا خبره صراحتاً کړې ده چې د ډوډۍ نه مراد ميلمستيا ده چې يعنې ميلمستيا به صرف تقوی داره سړي ته کوې، پاتې شو نفس خوراك يا ډوډی ورکول، نو د ضرورت په وخت يې د غير متقي څخه بغير کافر ته هم ورکولی شې، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې ارشاد دی: "ويطعمون الطعام على حبه مسكينا ويتيما وأسيرا" مفسرين فرمايي چې په دې آيت کې کوم بندي ذکر دی هغه کافر وو، د ضرورت پر مهال لکه د لوږې په وخت کافر ته هم ډوډی ورکولی شې، په يو روايت کې دي: يوې فاحشې ښځې يو سپي ته اوبه ورکړې، په دې وجه يې مغفرت نصيب شو، علماء فرمايي چې متقيانو ته ډوډی ورکول په حقيقت کې په نېکو اعمالو کې د يو بل سره مرسته ده، فاسق سړي ته ډوډی ورکول په حقيقت کې د فسق مرسته ده

سړی د خپل ملګري په دين وي

وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أن النبي ﷺ قال: الرَّجُلُ على دِينِ خَلِيلِهِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سړی د خپل ملګري په دين وي، "فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ" نو تاسو وګورئ چې دوستي يې د چا سره ده، "رواه أبو داود والترمذي بإسناد صحيح، وَقَالَ الترمذي: حديث حسن" امام ابو داود او امام ترمذي په صحيح سند سره روايت کړی او امام ترمذي وايي: دا حديث حسن دی

لغوي تحقيق:

يخالل: "خالل يخالل مخاللة" دوستي او ملګرتيا کول

تشريح "الرجل على دين خليله" سړی د خپل ملګري په دين باندې وي، مطلب دا چې د چا سره دوستي کول غواړې، نو تر ټولو مخکې فکر وکړه چې آيا د دغه کس سره دوستي کول غواړم، ښه متدين، متقي او مؤمن هم دی او که نه؟ هسې نه چې د داسې ملګري سره دې واسطه شي چې هغه بې دينه، بد اخلاقه او بې ايمانه وي، ددې اثر په سړي باندې هم کيږي، ځکه چې په سړي باندې د صحبت زيات اثرات پرېوځي.

د دوستۍ نه وړاندې پنځه خبرې دي:

امام غزالي رحمه الله فرمايي: د چا سره چې ملګرتيا کول غواړې، نو تر ټولو لومړی پکې پنځه خبرې لټوه. لومړی دا چې بايد هوښيار وي، ليونی نه وي، ځکه چې د کم عقل سره دوستي فضول ده. سفيان ثوري رحمه الله فرمايي: د کم عقل مخ ته کتل هم ګناه ده، دويم دا چې اخلاق يې ښه وي، دريم دا

چې فاسق نه وي، ځکه چې څوك د الله ﷻ تعلق نه ساتي، هغه به ستا سره څنګه تعلق وساتي، خلو دا چې بدعتي نه وي، د بدعتي سره د تعلق ختمولو حکم شوی، پنځم دا چې د دنيا حريص نه وي، بهر حال په حديث کې د غلطو خلکو سره په دوستی باندې سخت وعيد راغلی دی. ځکه چې د دوی سره ناستې له وجې په انسان کې هغه اثرات پيدا کيږي چې ستا په ملګري کې وي.

د قيامت په ورځ به د هغه چا سره يې چې مينه دې ورسره وي

"وعن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه: أن النبي ﷺ قال: المرءُ مع من أحبَّ" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سړی به د قيامت په ورځ د هغه چا سره وي د کوم کس سره يې چې مينه او محبت وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية: قيل للنبي ﷺ: الرَّجُلُ يُحِبُّ القومَ ولَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ؟" په يو روايت کې دي: يو کس د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ که يو کس د يو قوم سره محبت ساتي. ليکن د هغوی په شان عمل نه شي کولی. ددې باره کې ستاسو څه رايه ده؟ "قَالَ: الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل. سړی به د هغه چا سره وي د کوم چا سره يې چې مينه وي.

تشريح: "المرء مع من أحب" علماء فرمايي: که چا د يو عالم، بزرګ يا شيخ سره مينه وسائل، په آخرت کې به هم د هغه عالم او بزرګ سره وي، په دې حديث کې هغو خلکو ته زيری دی چې د علماؤ سره يې مخلصانه محبت وي، ان شاء الله چې په قيامت کې به هم د دوی په صف کې راپاڅي. لکه څرنګه چې د حديث نه معلومه شوه.

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د حديث ظاهري مفهوم په عموميت باندې دلالت کوي چې د قيامت په ورځ به انسان د هغه چا سره په صف کې راپاڅي چې ورسره مينه ساتي، ددې حديث تائيد به يو بل حديث سره هم کيږي په کوم کې چې ارشاد دی. "المرء على دين خليله" انسان د خپل ملګري په دين چليږي، نو په دنيا کې هم د هغه سره سم يو ځای وو، په آخرت کې به هم د هغه شان وي.

د ښو خلکو سره مينه ساتئ!

په دې حديث کې د يوې بلې لويې خبرې زيری هم ورکول شوی دی چې څوك د ښکو خلکو سره مينه کوي، د هغه خاتمه به په ايمان وي، ځکه چې د ښکو خلکو سره حشر هغه وخت کيږي چې کله په انسان کې ايمان وي، په يو بل ځای کې ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: "وقد ورد أن حلاوة الإيمان إذا دخلت قلباً لا تخرج منه أبداً ففيه إشارة إلى بشارة حسن الخاتمة" راغلي دي چې کله يو ځل د انسان په زړه کې د ايمان خوند داخل شي، نو بيا هغه خوند او مزه الله ﷻ واپس نه اخلي، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې خاتمه به يې په ايمان وي

د صحابي پوښتنه چې قيامت به کله راځي؟

"وعن أنس ﷺ: أَنَّ أعرابياً قَالَ لرسول الله ﷺ: مَتَى السَّاعَةُ؟" د انس ﷺ روايت دی، فرمايي يو کوچي د رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې قيامت به کله وي؟ "قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَا أَعْدَدْتَ لَهَا؟" رسول الله ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې د قيامت لپاره دې څه تيار کړي دي؟ "قَالَ: حُبَّ اللهِ ورسولهِ" هغه اعرابي وويل څه خاص عمل مې نه دی کړی، ليکن د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه لرم، "قَالَ: أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ته به د هغه چا سره يې چې مينه دې ورسره وي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وهذا لفظ مسلم

"وفي رواية لهما: مَا أَعْدَدْتُ لَهَا مِنْ كَثِيرِ صَوْمٍ، وَلَا صَلَاةٍ، وَلَا صَدَقَةٍ" په يو روايت کې دي ما خو ډېر تياری نه دی کړی چې ډېرې روژې مې نيولې وي يا مې لمونځونه کړي وي او نه مې ډېرې صدقې ورکړې دي.
"وَلَكِنِّي أُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ" ليکن دومره ده چې صرف د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه لرم.

لغوي تحقيق:

اعددت: "أعده للأمر" تياری کول

مينې سره اطاعت هم نصيب کيږي:

تشريح: "قال حب الله ورسوله" د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ مينه ددې صحابي ﷺ تر خولې پورې محدوده نه وه، بلکې د هغوی په زړونو کې د غرونو په څېر د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ مينه پخه شوې وه، کله چې مينه محبت وي، نو اطاعت ورسره خپله راځي، بله دا چې د الله ﷻ سره د چا مينه وي، نو د داسې کس سره الله ﷻ هم مينه کوي، ددې شاهدي په قرآن کريم کې شته "قل إن كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله" دوی ته ووايه چې که تاسو د الله ﷻ سره مينه غواړئ نو زما تابعداري وکړئ" الله ﷻ به ستاسو سره مينه وکړي، کوم کس ته چې دومره دولت حاصل شي، نو په دنيا او اخرت کې به کامياب وي، انسان چې د چا سره مينه شروع کړي، نو په مزه مزه دغه مينه د هغه په مال، دولت او اهل عيال باندې غالبه شي او بيا هغه يو کار د خپل محبوب د خوښې خلاف نه شي کولی

د رابعه بصريه رَحِمَهَا اللهُ شعرونه

تعصي الاله وانت تظهر حبه .... هذا العمرى في القياس بديع

ژباړه: ته د الله ﷻ نافرماني کوې او حال دا چې د هغه سره د مينې اظهار هم کوې، په خدای قسم چې داسې کارونه خو په قياس کې هم نشته

لوكان حبك صادقا لأطعته .... إن المحب لمن يحب مطيع

ژباړه: که ستا محبت رښتونی وي نو خامخا به ته د هغه تابعداري کول، ځکه چې مينه لرونکی په حقيقت کې د خپل محبوب تابعدار وي

په قيامت کې بې عمله ملګرى

"وعن ابن مسعود ﷺ، قَالَ: جاءرجلٌ إلى رَسُولِ اللّٰه ﷺ، فقَالَ: يَارَسُولَ اللّٰه ﷺ!" د عبد الله بن مسعود ﷺ روايت دى، فرمايي چې يو كس رسول الله ﷺ ته راغلو او وې ويل: يا رسول الله ﷺ! "كَيفَ تَقُولُ فِي رَجُلٍ أَحَبَّ قَوماً وَلَمْ يَلْحَقْ بِهِمْ؟" تاسو د هغه سړي په باره کې څه وايئ چې د يو قوم سره مينه لري ليکن د هغوى په شان عمل نه شي کولى او نه ورسره ناسته پاسته کولى شي؟ "فَقَالَ رَسُولُ اللّٰه ﷺ: الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: سړى به د هغه چا سره وي چې مينه يې ورسره وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

يلحق: "لحق لحقاً" باب سمع يسمع دى، ددې معنى ده: دوستي او ملګرى.

تشريح "ولم يحلق بهم" يعنې هغه انسان چې د خپلو محبوبو خلکو په شان نېك عملونه نه شي کولى، ليکن بيا هم ددغو نېکو خلکو سره دوستي لري، "المرء مع من أحب" نبي کريم ﷺ وفرمايل: قيامت په ورځ به سړى د هغه چا سره وي چې د چا سره يې مينه وي.

د قيامت په ورځ د يو ځاى کېدو مطلب:

سوال: يو انسان د چا سره مينه کوي، ايا د هغه سړي په شان به هغه ته هم هغه جنت ملاوېږي کوم چې محبوب ته ملاو شوى دى؟

جواب: ملا علي قاري رحمه الله ددې په ځواب کې فرمايي: د قيامت په ورځ به ورسره وي، ددې مطلب دا دى چې دغه اوچتې درجې والاخلك به دغه لاندې درجې والاخلکو ته راځي، بيا به دوى دواړه جنت په باغونو کې سيل کوي، هلته به د يو بل سره ملاقاتونه کوي، لاندې درجې والاخلك به پورتنى درجې والاخلکو ته دعوت او مېلمستيا هم کوي، په دې ټولو ساعتونو کې به ورسره وي، دا مطلب نه دى چې د مينې محبت په وجه به انسان ته هم هغه جنت ملاوېږي کوم چې پورتنى درجې (محبوب) خلکو ته ملاو شوى دى.

روحونه مختلفې لښکرې دي

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النَّبيِّ ﷺ، قَالَ: النَّاسُ مَعَادِنُ كَمَعَادِنِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ" د ابو هريره ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خلك د سرو زرو او سپينو زرو د کانونو په شان دي، "خِيَارُهُمْ فِي الجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الإِسْلَامِ إِذَا فَقُهُوا" څوك چې په جاهليت کې غوره وو هغوى په اسلام کې هم غوره دي، په دې شرط چې په دين کې پوه حاصله کړي، "وَالأَرْوَاحُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ، فَمَا تَعَارَفَ مِنْهَا ائْتَلَفَ، وَمَا تَنَاكَرَ مِنْهَا اخْتَلَفَ" او د (أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى) په ورځ روحونه او ساګانې د لښکرو په شکل کې يو ځاى وو، که هلته د چا خپل مينځ کې پېژند ګلوي وه، نو دلته به په دنيا کې سره مينه کوي او پېژند ګلوي به کوي او که هلته يې د يو بل نه کرکه او نفرت درلود، نو دلته به په دنيا کې هم د يو بل نه نفرت کوي. رواه مسلم

"وروى البخاري قوله: ((الأرواح .....)) الخ من رواية عائشة رضي الله عنها" دا حديث امام مسلم رحمه الله او امام بخاري رحمه الله روايت کړی دی، د «الأرواح» نه تر آخره پورې روايت يې د عائشې رضي الله عنها په حواله په خپل صحيح کې بيان کړی دی.

لغوي تحقيق: فقهوا "فقه فقهاً" په علم کې کامله پوهه

خلك د خزانو په شان دي:

تشريح: "الناس معدن كمعادن الذهب والفضة" خلك د سرو او سپينو زرو د خزانو په شان دي، معادن په خمکه کې هغې پټې خزانې ته وايي چې سره زر، سپين زر او ياقوت وغيره پکې پټ وي، په دې خزانو کې ځينې خراب شيان وي او ځينې اصلي، نو دغه شان خلك هم د اخلاقو او اعمالو په اعتبار مختلف دي، ځينې يې ښه اخلاق لري، ځينې يې بد اخلاق لري، "خيارهم في الجاهلية خيارهم في الاسلام اذا فقهوا" د جاهليت د زمانې غوره خلك به په اسلام کې هم غوره ګڼل کيږي، خو هغه وخت چې په دوی کې فقاهت راشي، په دې کې د کفارو او مشرکينو مشرانو ته خطاب دی، هغوی دي په دې خبره خان پوه کړي چې که د دوی په زړونو کې ددې خبرې شك وي چې که موږ اسلام قبول کړو، نو مشري او سرداري به رانه ختمه شي، داسې نه ده، بلکې په دې سره به د دوی عزت نور هم زيات شي، په اسلامي معاشره کې به د دوی فضيلت نور هم زيات شي؛ خو په دې شرط چې دوی به په دين کې پوه وي

په لښکرو سره د روحونو مطلب:

"الأرواح جنودٌ مجندة" ملا علی قاري رحمه الله ددې جملې په تشريح کې فرمايي: په عالم ارواح کې چې کله الله جل جلاله ټول روحونه د مهربانو په شان د خپل ربوبيت د اقرار لپاره راجمع کړل، نو هلته چې د کومو روحونو سره تعارف او مناسبت شوی ؤ، اوس دنيا ته د جسمونو راتلو وروسته هم د يو بل سره محبت کوي، کومو روحونو چې په عالم ارواح کې تعارف نه دی کړی، نو دنيا ته د راتلو وروسته هم دوی په خپلو کې تعارف نه وي او يو بل ته نا اشنا ښکاري.

په نورو الفاظو سره موږ داسې ويلی شو: په دنيا کې چې يې د کومو خلکو سره مينه وي، دا ددې خبرې علامه ده چې په عالم ارواح کې يې هم د دوی سره تعلق درلود، کوم خلك چې په دنيا کې سره دښمني ساتي، دا ددې خبرې دليل دی چې په عالم ارواح کې هم د دوی په خپلو کې دښمني وه.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژبه مباركه د اويس قرني رَحِمَهُ اللَّهُ تذكره:

"وعن أُسَيْرِ بن عمرو، ويقال: ابن جابر وهُوَ -بضم الهمزة وفتح السين المهملة- قَالَ: كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه إِذَا أَتَى عَلَيْهِ أَمْدَادُ أَهْلِ الْيَمَنِ سَأَلَهُمْ: أَفِيكُمْ أُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ؟" د اسير بن عمرو رحمه الله او هغه ته ابن جابر هم ويل کيږي، «دا په ضم د همزې او په فتح د سين سره دی» فرمايي چې: کله به عمر رضي الله عنه ته د يمن نه کوم امدادي فوج راغلو، نو د هغوی نه به يې پوښتنه کول چې په تاسو کې د اويس بن عامر رحمه الله په نوم کوم سړی شته؟ "حَتَّى أَتَى عَلَى أُوَيْسٍ رضي الله عنه، فَقَالَ لَهُ: أَنْتَ أُوَيْسُ ابْنُ عَامِرٍ؟ قَالَ: نَعَمْ" تر دې چې په يوه قافله کې اويس رحمه الله راغلو، نو عمر رضي الله عنه

ورته وفرمايل: تاسو اويس یئ؟ هغه ورته وويل: هو، زه اويس یم. "قَالَ: مِنْ مُرَادٍ ثُمَّ مِنْ قَرَنٍ" عمر
ورته وفرمايل: د مراد قبيلې یې، بيا په مراد کې د قرن قبيلې یې؟ "قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَكَانَ بِكَ بَرَصٌ فَبَرَأْتَ مِنْهُ
إِلَّا مَوْضِعَ دِرْهَمٍ؟" هغه ورته وويل: زه د همدې قبيلې یم. عمر ﷺ ورته وفرمايل: ايا په تاسو
ابرص (پيس) ناروغي نه وه چې بيا الله ﷻ تاته شفاء درکړه، خو اوس هم د يو درهم په اندازه باقي ده؟
"قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: لَكَ وَالِدَةٌ؟ قَالَ: نَعَمْ" هغه وويل: هو، همداسې ده. عمر ﷺ ورته وويل: آيا ستا مور شته؟
هغه ورته وويل: هو، شته. "قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ: يَأْتِي عَلَيْكُمْ أُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ مَعَ أَمْدَادِ أَهْلِ الْيَمَنِ مِنْ مُرَادٍ ثُمَّ
مِنْ قَرَنٍ كَانَ بِهِ بَرَصٌ، فَبَرَأَ مِنْهُ إِلَّا مَوْضِعَ دِرْهَمٍ، لَهُ وَالِدَةٌ هُوَ بِهَا بَرٌّ، لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ" عمر ﷺ ورته وويل: ما د رسول
الله ﷺ نه اوريدلي دي چې تاسو ته به اويس بن عامر رحمه الله د يمني امدادي فوځ سره راځي، هغه به د
يمن وي. بيا به په يمن کې د مراد کلي وي او په مراد کې به د قرن اوسيدونی وي، په هغه باندې به د
پيس مرض وي، هغه به شفاء موندلې وي، مگر د يو درهم په اندازه، دده به يوه مور وي چې ځان به
ښېګڼه به ورسره کوي، که د الله ﷻ په بروسه قسم وکړي، نو الله ﷻ به يې نه حانث کوي. "فَإِنِ
اسْتَطَعْتَ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ فَافْعَلْ، فَاسْتَغْفِرْ لِي فَاسْتَغْفَرَ لَهُ" اې عمره ﷺ که ستا طاقت وي چې د هغه نه د ځان لپاره د
الله ﷻ څخه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړې، نو داسې وکړه؛ عمر ﷺ ورته وويل: اوس تاسو ما ته د
الله ﷻ نه بخښنه وغواړئ، هغوی ورته دعاو کړه. "فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: أَيْنَ تُرِيدُ؟ قَالَ: الْكُوفَةَ. قَالَ: أَلَا أَكْتُبُ لَكَ إِلَى عَامِلِهَا
؟" عمر ﷺ ورته وويل: ستاسو اراده چېرته ده؟ هغه ورته وويل: کوفې ته ځم. عمر ﷺ ورته وويل: د
هغه ځای حاکم ته ستاسو په باره کې څه وليکم؟ "قَالَ: أَكُونُ فِي غَبْرَاءِ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيَّ" هغه ورته وويل: په
خاورو کې زما لپاره وخت تېرول د خلکو سره د ناستې او يو ځای والي څخه خوښ دي. "فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْعَامِ
الْمُقْبِلِ حَجَّ رَجُلٌ مِنْ أَشْرَافِهِمْ، فَوَافَقَ عُمَرَ، فَسَأَلَهُ عَنْ أُوَيْسٍ" کله چې دويم کال شو، نو د کوفې څخه يو شريف او مشر
سړی د حج په اراده راغلو، د عمر ﷺ سره د هغه ملاقات وشو، عمر ﷺ ترې د اويس رحمه الله په باره
کې پوښتنه وکړه چې هغه څنګه دی؟ "فَقَالَ: تَرَكْتُهُ رَثَّ الْبَيْتِ قَلِيلَ الْمَتَاعِ" هغه ورته وويل: زه چې کله راتلم
نو په داسې حال کې وو چې په يو وران کور کې د معمولي اسباب او سامان سره اوسېدلو. "فَأَتَى أُوَيْسًا
فَقَالَ: اسْتَغْفِرْ لِي، قَالَ: أَنْتَ أَحْدَثُ عَهْدًا بِسَفَرٍ صَالِحٍ، فَاسْتَغْفِرْ لِي" عمر ﷺ هغه شريف او مشر سړي ته وويل: تاسو
اويس ته لاړ شئ او د هغه نه دعا وغواړئ، هغه لاړو او د دعا غوښتلو عرض يې وکړو، نو اويس
رحمه الله ورته وويل: تاسو د نېک سفر څخه راغلي يئ، زما لپاره دعا وکړئ! "قَالَ: لَقِيتَ عُمَرَ؟ قَالَ: نَعَمْ
فَاسْتَغْفَرَ لَهُ، فَفَطِنَ لَهُ النَّاسُ، فَانْطَلَقَ عَلَى وَجْهِهِ" بيا اويس رحمه الله ورته وويل: ايا د عمر ﷺ سره مو ملاقات
شوی دی، هغه ورته وويل: هو! ددې وروسته يې ورته دعاء وکړه، بيا خلکو ته د هغه د مرتبې او شان
پته ولګېده او هغه مشهور شو، خو هغه په پټه ځای بدل کړو او هيچا ته معلومه نه شوه چې چېرته
لاړو. رواه مسلم

"وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ أَيْضًا عَنْ أُسَيْرِ بْنِ جَابِرٍ ﷺ: أَنَّ أَهْلَ الْكُوفَةِ وَفَدُوا عَلَى عُمَرَ ﷺ، وَفِيهِمْ رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ يَسْخَرُ بِأُوَيْسٍ" او د

مسلم په روايت کې د اسير بن جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې د کوفيانو يو ټولی عمر رضي الله عنه ته راغلو. په دې ټولي کې يو هغه کس هم وو چې په اويس رحمه الله به يې توقي کولې. "فَقَالَ عُمَرُ: هَلْ هَاهُنَا أَحَدٌ مِنَ الْقَرَنِيِّينَ؟ فَجَاءَ ذٰلِكَ الرَّجُلُ" عمر رضي الله عنه وفرمايل: آيا په تاسو کې د قرنيين کلي کوم سړی شته، دغه کس راغلو، "فَقَالَ عُمَرُ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَدْ قَالَ: إِنَّ رَجُلًا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهُ: أُوَيْسٌ، لَا يَدَعُ بِالْيَمَنِ غَيْرَ أُمٍّ لَهُ" بيا عمر رضي الله عنه وفرمايل: رسول الله ﷺ فرمايلي: يو کس به د يمن نه تاسو ته راځي، د هغه نوم به اويس رحمه الله وي، په يمن کې به يې صرف يوه مور پاتې شوې وي، "قَدْ كَانَ بِهِ بَيَاضٌ فَدَعَا اللهَ تَعَالَى، فَأَذْهَبَهُ إِلَّا مَوْضِعَ الدِّينَارِ أَوِ الدِّرْهَمِ" په هغه باندې به برګي مرض وي، هغه د الله جل جلاله نه سوال وکړو، نو الله جل جلاله ترې هغه مرض لرې کړو، صرف د يو دينار يا درهم په اندازه به پاتې وي، "فَمَنْ لَقِيَهُ مِنْكُمْ، فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ" په تاسو کې چې څوک ورسره ملاقات وکړي، هغه دې د ځان لپاره ترې دعاء وغواړي.

"وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: عَنْ عُمَرَ رضي الله عنه، قَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ: إِنَّ خَيْرَ التَّابِعِينَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ: أُوَيْسٌ" په يو روايت کې د عمر رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي: فرمايل يې: په تابعينو کې اويس رحمه الله د ټولو نه بهتر سړی دی، "وَلَهُ وَالِدَةٌ وَكَانَ بِهِ بَيَاضٌ، فَمُرُوهُ، فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ" د ده يوه مور ده او په ده باندې د برګي ناروغي وه، هغه ته امر وکړئ چې ستاسو لپاره د الله جل جلاله نه دعاء وغواړي.

"قوله: ((غَبْرَاءِ النَّاسِ)) بفتح الغين المعجمة، وإسكان الباءِ وبالمد: وهم فُقَرَاؤُهُمْ وَصَعَالِيكُهُمْ وَمَنْ لَا يُعْرَفُ عَيْنُهُ مِنْ أَخْلَاطِهِمْ" (غبراء الناس) په فتح د (غ) او په سکون د (ب) سره دی، ددې معنی ده: فقيران، مسکينان او فقيران خلک چې د هغوی شخصيت ونه پېژندل شي، "وَالْأَمْدَادُ: جَمْعُ مَدَدٍ: وَهُمُ الْأَعْوَانُ وَالنَّاصِرُونَ الَّذِينَ كَانُوا يُمِدُّونَ الْمُسْلِمِينَ فِي الْجِهَادِ" د (الامداد) معنی ده: د مسلمانانو په جهاد کې د کومک لپاره فوځي ډله.

لغوي تحقيق:

أن يستغفر: "إستغفر الله" معنی يې ده: د الله جل جلاله نه د خپلې ګناه بخښنه غوښتل.

يسخر: "سخر سخراً": توقي کول.

غبراء: "بنو الغبراء وبنو غبراء": مفلسين/ غريبان فقيران.

تشريح "له والدة هو بها بر" هغه د خپلې مور سره ډېر ښه سلوک کوي، مطلب دا چې په ټول خاندان کې يې هم دغه يوه مور پاتې ده، ددې نه علاوه يې نور څوک په يمن کې نشته، ددغې مور سره يې د ښه سلوک په وجه د نبي کريم ﷺ زيارت ونه شو کړی، که هغه د خپلې مور خدمت نه کولی او يا يې مور نه وای، نو خامخا به د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ملاقات ته راغلی و.

"فاذهبه إلا موضع الدينار أو الدرهم" په هغه د پيس (برګي) مرض وو، ليکن اوس ختم دی، صرف د يو درهم يا دينار په اندازه پاتې دی، راوي شکي دی چې رسول الله ﷺ درهم وفرمايل او که دينار يې وفرمايلو، په يو روايت کې دي چې: اويس قرني رَحِمَهُ اللهُ په خپله دعا کړې وه چې اې الله! زما د برګي لږ شان نخښه پاتې کړې چې هغه زه ګورم نو ستا نعمتونه يادوم او شکر پرې ادا کوم

غوره تابعي څوک دی، اويس قرني رحمه الله او که سعيد بن المسيب رحمه الله؟

"خير التابعين رجل يقال له أويس" تر ټولو غوره تابعي هغه دی چې نوم يې اويس دی، سوال دی: حديث نه معلوميږي چې تر ټولو غوره تابعي اويس قرني رحمه الله دی، ليکن امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي: تر ټولو غوره تابعي سعيد بن مسيب رحمه الله دی؟ خواب: دوی دواړه د ټولو تابعينو څخه غوره دي، خو هر يو په خپل اعتبار سره، د ديني علومو او شرعي احکاماتو د معرفت په اعتبار سره تر ټولو تابعينو سعيد بن مسيب رحمه الله غوره دی، د الله جل جلاله په نزد د ثواب په اعتبار سره اويس قرني رحمه الله غوره دی

د راوي اسير بن عمرو يا ابن جابر رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې اسير رضي الله عنه دی، د پلار په نوم کې يې اختلاف دی: خينو عمرو ښودلی دی او خينو جابر ښودلی دی، خينو ويلي دي چې د بصرې اوسېدونکي اسير پلار جابر وو او خينو نورو د کوفې اوسېدونکی اسير بن عمرو ښودلی دی، کله چې د رسول الله ﷺ وفات شو، نو د دوی عمر دغه وخت لس کاله وو او خينو ويلي دي چې يوولس کاله عمر يې وو

وفات: د حجاج بن يوسف په زمانه کې وفات شو

مرويات: صرف دوه حديثونه يې نقل دي

عمر رضي الله عنه! په دعا کې مې ياد ساته!

"وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه، قَالَ: اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ ﷺ في العُمْرَةِ، فَأَذِنَ لِي" د عمر بن خطاب رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه د عمرې اجازت وغوښتلو، ماته يې اجازه راکړه، "وَقَالَ: ((لاَ تَنْسَنَا يَا أُخَيَّ مِنْ دُعَائِكَ)) فَقَالَ كَلِمَةً مَا يَسُرُّنِي أَنَّ لِي بِهَا الدُّنْيَا" او راته يې وفرمايل: اې زموږ وروره! چې په دعا کې مو هېر نه کړې، عمر رضي الله عنه فرمايي: نبي اکرم ﷺ ماته داسې جمله وويل چې په دې باندې ماته داسې خوشحالي حاصله شوه چې ټوله دنيا يې د خوشحالۍ په مقابله کې هيڅ هم نه ده

"وفي رواية: وَقَالَ: أَشْرِكْنَا يَا أُخَيَّ فِي دُعَائِكَ" په يو بل روايت کې دي چې نبي اکرم ﷺ ماته داسې وويل اې وروره! په خپله دعاء کې مونږ شريک کړه

"حديث صحيح رواه أبو داود والترمذي، وَقَالَ: حديث حسن صحيح" دا حديث صحيح دی، امام ابوداود او امام ترمذي روايت کړی دی، امام ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح دی

لغوي تحقيق:

يسر: "سره سروراً" باب نصر ينصر دی، د دې معنی ده: خوشحاله کېدل

تشريح "لاتنسنا يا أخي من دعائك" اې زما وروره! په دعا کې مې هېر نه کړې! د دې څخه معلومه شوه چې کوم سړی حج ته ځي يا بل داسې ديني کار پسې سفر کوي، نو د دعا غوښتنه مستحب ده، ځکه چې داسې غائبانه دعاوې زر قبليږي، بيا چې يو سړی حج يا عمرې ته ځي؛ نو هلته د اجابت په ځای کې

ښځې زر دعاګانې قبليږي، ځينې علماء فرمايي: ددې نه معلومه شوه چې که يو کس د اجابت په مقام کې وي، هغه دعاګانې کوي، نو پکار ده چې صرف د ځان لپاره دعا ونه کړي، بلکې نورو مسلمانانو ته هم دعاګانې وکړي

د قباء د جوماټ فضيلت

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يزور قُبَاءً راكباً وماشياً" عبد الله بن عمر رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ به کله په سوارلۍ او کله پياده د قباء جوماټ ته تلو. "فَيُصَلِّي فِيهِ رَكْعَتَيْنِ" هلته به يې دوه رکعته لمونځ وکړو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَأْتِي مَسْجِدَ قُبَاءَ كُلَّ سَبْتٍ رَاكِباً وَمَاشِياً" په يو روايت کې داسې هم دي چې نبي اکرم ﷺ به د قباء جوماټ ته خامخا د هفتې (خالي) په ورځ تلو، خو کله به پياده وو او کله به سپور وو.

"وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُهُ" او عبد الله بن عمر رضي الله عنه به داسې کول

لغوي تحقيق:

فيصلي: "صلى صلاة" : دعا کول، لمونځ کول.

تشريح "مسجد قباء" دا جوماټ د اسلام تر ټولو لومړی جوماټ دی، ددې جوماټ په باره کې قرآن کريم کې داسې ارشاد دی: لمسجدٌ أسس على التقوى من أول يوم أحق أن تقوم فيه" بې شکه هغه جوماټ چې بنيادونه يې د لومړی ورځې څخه په تقوی اېښودل شوي دي، هغه ددې لائق دی چې په دې کې تاسو ودريږئ، د ابن عباس، عروه بن زبير، سعيد بن جبير او قتادة رحمهم الله په نزد د مسجد څخه مراد قباء دی.

د قباء په جوماټ کې د دوه رکعته لمونځ ثواب

"فيصلي فيه ركعتين" په دې جوماټ کې د دوه رکعتونو ثواب د يوې عمرې ادا کولو په برابر دی، لکه څرنګه چې ددې تصريح په يو بل حديث کې هم راغلې ده. "من تطهر في بيته ثم أتى مسجد قباء فصلى فيه صلاة فانه كأجر عمرة" کوم سړی چې په کور کې اودس وکړي، بيا د قباء په جوماټ کې لمونځ وکړي، نو هغه ته د يوې عمرې برابر ثواب ملاويږي، نبي کريم ﷺ ددې جوماټ سره ډېره مينه درلوده، څکه خويه نبي کريم ﷺ دغه جوماټ ته د تللو ډېر اهتمام فرمايلو او په دې کې به يې لمونځ هم کولو، د نبي کريم ﷺ تر وفات وروسته به شيخينو رضي الله عنهما او نورو صحابه وو په دې جوماټ کې د لمانځه زيات اهتمام کولو.

د اوسني قباء جوماټ کيفيت:

د قباء جوماټ نوی تعمير په ديارلس سوه اتيا هجري کې د شاه فيصل په زمانه کې وشو، په دې کې نهه ويشت ستنې دي، په دې ستنو باندې د چترۍ/ سايه بان په شکل چتونه دي، د جوماټ په مېنځ کې يو ښکلي محراب دی، په يو کاڼي يې قديم کوفي خط نقش کړی دی، په دې ليکل شوي دي "بسم الله الرحمن الرحيم: إنما يعمر مساجد الله، (الاية) أمر بعمارة مسجد قباء الشريف أبو يعلى احمد بن الحسن بن أحمد بن الحسن رحمه الله إبتغاء ثواب الله وجزيل عطائه على يد الشريف حسن المسلم ابن عبد الله في سنة خمس وثلاثين وأربعمائة.

د قبا، جوماتو او مديني منورې ترمنځ فاصله:

د دوه کیلو میټره څخه زیات فاصله لري، په اعتدال مزل کونکی سړی به تقریباً څلویښت دقیقو کې هلته ورسیږي.

باب فضل الحب فی الله والحث عَلَیهِ وإعلام الرجل من يحبه، أنه يحبه، وماذا يقول لَهُ إذا أعلمه

د الله ﷻ لپاره د محبت فضیلت، تاکید یې، د چا سره چې مینه وي، هغه کس دې پرې خبر کړي او هغه چې پرې خبرشي نو څه به ورته وايي؟

"قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي "مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ" محمد ﷺ د الله ﷻ رسول او استازی دی او کوم ملګري چې د هغه سره دي، "أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ" دوی ټول زیات سخت دي د کافرانو په باره کې او په خپل منځ کې زيات نرم دي [الفتح: ٢٩] "إلى آخر السورة" د سورت تر آخره پورې.

امام نووي رحمه الله د پوره آیت حواله وراندې کړې ده، پوره ایت داسې دی "مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا" [٢٩].

"محمد رسول الله" مفسرين رحمهم الله فرمايي: دلته يې د رسول الله ﷺ نوم مبارک ذکر کړو، په پوره قرآن شريف کې څلور ځايه د نبي کريم ﷺ نوم مبارک (محمد ﷺ) ذکر دی، عموماً نبي کريم ﷺ ته يې په اوصافو او القابو سره يادګېرنه شوې ده، لکه "يا أيها المزمل، يا أيها النبي" ددې په خلاف نورو انبياوو عليهم السلام ته يې په خپلو نومونو سره اواز کړی دی، مثلاً يا موسی، يا عيسی، وغيره... دا هم د رسول الله ﷺ په عظمت او فضيلت باندې دلالت کوي، ځينو مفسرينو دلته د نبي کريم ﷺ د نوم مبارک وجه دا ذکر کړې ده چې په صلحه حديبيه کې د سولې د ترون پرمهال د رسول الله ﷺ لقب (رسول الله) کټ کړی شو، د هغې په ځای محمد بن عبد الله وليکل شو چې دا کار په صحابه کرامو رضي الله عنهم ډېر سخت تمام شو، نو ځکه دلته الله ﷻ ذکر کړو چې د رسول الله ﷺ لقب مبارک (رسول الله) د کفارو په کټ کولو سره نه کټ کېږي او نه ختمېږي، بلکې تر قيامته پورې به په قرآن کريم کې "محمد رسول الله" ويل کېږي.

وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ: ددې ځای نه د صحابه وو د فضايلو ذکر دی چې د الله ﷻ په حکم پوره کولو کې په کفارو باندې سخت او په خپلو کې ورونه وو، دغه شان په قرآن کريم کې په بل ځای کې ارشاد دی: "أذلة على المؤمنين أعزة على الكافرين".

"تراهم ركعاً سجداً يبتغون فضلاً من الله ورضواناً" د صحابه وو يو بل ځانګړی صفت ذکر کوي چې عموماً د دوی حالات دغه دي، اې مخاطبه! که دوی ووينې نو ياېه الله ﷻ ته په سجده پراته وي او يا

به په رکوع کې وي. "سيماهم في وجوههم من أثر السجود" چې د لمانځه اثرات به د دوی په مخونو باندې ښکارند وي، د "سيماهم" نه هغه اثر مراد نه دی چې د سجدو په وجه په تندي باندې ښکاره شي. بلکې هغه انوارات او برکات مراد دي چې د يو متقي سړي په مخ باندې ظاهريږي. لکه څرنګه چې په يو روايت کې راځي "من كثر صلاته بالليل حسن وجهه بالنهار" کوم سړی چې د شپې د ېر لمونځونه کوي د ورځې به يې مخ روښانه وي.

"ذالك مثلهم في التوراة" د صحابه وو دغه تذکره په تورات او انجيل کې هم راغلې ده. "ليغيظ بهم الكفار" صحابه کرام ﷺ په شروع کې کمزوري وو، ليکن په مزه مزه په هغوی کې الله ﷻ قوت پيدا کړو، تردې چې اوس يې کفار وويني؛ نو حسد پرې کوي او غصه ورځي چې دوی څرنګه طاقتور شول، اوس زموږ سره مقابلې کوي. امام مالك رحمه الله فرمايي: څوك چې د صحابه وو د قوت نه سوځي او حسد ورسره کوي، هغوی ته به دغه د کافرانو وعيد ملاويږي. مطلب دا چې هغه به کافر کيږي. أعاذنا الله من ذالك، اللهم ارزقنا حبك وحب من يحبك.

"وعد الله الذين آمنوا وعملوا الصالحات" دلته په (منهم) کې (من) بالاتفاق بيانيه دی. يعنې د الله ﷻ له لورې مؤمنانو او نيک عمل کوونکو لپاره مغفرت او لوی اجر دی. ددې آيت تر ټولو اولنی مصداق صحابه دي. ځکه چې صحابه کرام ﷺ ټول عادلان دي. په دوی کې يو هم فاسق يا غير صالح نه وو. ځکه هغوی ﷺ ټول مغفور دي. ان شاء الله

دا نصارو صحابه وو فضيلت:

"وَقَالَ تَعَالَى : وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ" هغه خلك چې مدينې منورې ته د مهاجرينو نه مخکې تللي وو او د هغوی نه يې مخکې ايمان راوړی وو، "يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ" دوی ته چې کوم مهاجرين راځي. هغوی ورسره ډېره زياته مينه کوي [الحشر۹].

تشريح: "تبوّءوا" معنی يې ده: ځای، مرکز او د اوسېدو ځای. دلته د دار ايمان څخه مدينه منوره مراد ده. دلته يې د ايمان تشبيه د يو محفوظ او محکم ځای سره ورکړې ده چې په دې کې انسان پټيږي. "من قبلهم" يعنې د مهاجرينو نه وړاندې. مدينه چې دارالهجرت او دارالايمان دی، په دې کې مخکې انصار صحابه کرام ﷺ پاتې کېدل.

"يحبون من هاجر إليهم" دا د انصارو بل صفت دی. کومو خلکو چې هجرت وکړو. دغو انصارو به ددې مهاجرو سره مينه کول. قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمايي: دغو انصارو د مکې د مهاجرينو سره دومره مينه درلوده چې د يو يو مهاجر صحابي لپاره به ګڼ شمېر انصاري صحابه وو درخواست کولو چې مهاجر صحابي دې زموږ سره پاتې شي. تردې چې بيا به په قرعه اندازی باندې فيصله وشوه

په چا كې چې درې خبرې وي: هغه به د ايمان خوند څكي

"وعن أنس ﷺ، عن النبي ﷺ قال: ثلاث من كن فيه وجد بهن حلاوة الإيمان" د انس ﷺ روايت دى فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په كوم كس كې چې دغه درې صفات موجود وي هغه به د ايمان خوند وڅكي: "أن يكون الله ورسوله أحب إليه مما سواهما" اول دا چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ورته د دنيا او مافيها نه زيات خوږ وي، "وأن يحب المرء لا يحبه إلا لله" بل دا چې د يو كس سره مينه صرف او صرف د الله ﷻ د رضا لپاره كوي (بل څه غرض يې پكې نه وي) "وأن يكره أن يعود في الكفر بعد أن أنقذه الله منه كما يكره أن يقذف في النار" او بل دا چې كفر ته واپس كېدل ورته داسې سخت وي، لكه څنګه چې په اور كې د اچولو ورته سخت وي، (يعني لكه څنګه چې په اور باندې سوځېدل ورته سخت وي، دغه شان كفر ته واپس كېدل هم ورته سخت وي) متفق عليه

لغوي تحقيق:

انقذه: "نقذ ينقذ" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: خلاصون او نجات

تشريح: "حلاوة الايمان" د حلاوت نه مراد په طاعت او عبادت كې خوند، د الله ﷻ د رضامندۍ او خوشحالۍ په خاطر لوى تكليفونه زغمل، د ځينو علماوو په رايه حلاوت دې ته ويل كيږي چې ديني كارونو ته په دنيوي كارونو باندې ترجيح وركړي، بيا دغه حلاوت حسي وي او كه معنوي وي، دواړه طرف ته د علماوو اقوال شته.

"أن يكون الله ورسوله أحب اليه مما سواهما" د الله ﷻ سره مينه ځكه ضروري ده چې هغه رب العالمين ذات دى، منعم حقيقي دى، بشپړ نعمتونه د هغه له لورې دي، د نبي كريم ﷺ سره مينه ځكه چې هغه د روحاني نعمتونو او الهي علومو لپاره واسطه ده.

اوه/ ۷ كسان به د عرش تر سيورې لاندې وي

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ، قال: سبعة يظلهم الله في ظله يوم لا ظل إلا ظله" د ابو هريره ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اوه/ ۷ كسان به الله ﷻ د قيامت په ورځ تر خپل سيورې لاندې راولي، په دې ورځ به د الله ﷻ د سورې نه علاوه بل سورى نه وي، هغه اوه/ ۷ كسان دا دي "إمام عادل" عادل بادشاه، "وشاب نشأ في عبادة الله ﷻ" بل هغه ځوان چې خپله ځواني يې د الله ﷻ په عبادت كې تېره كړې وي، "ورجل قلبه معلق بالمساجد" بل هغه سړى چې زړه يې د جوماتونو سره لګېدلى وي، "ورجلان تحابا في الله اجتمعا عليه وتفرقا عليه" بل هغه دوه كسان دي چې په خپل مينځ كې صرف د الله ﷻ د رضا لپاره مينه او محبت كوي، په همدې يې جدايي وي او په همدې يې سره جمع كېدل وي، "ورجل دعته امرأة ذات حسن وجمال، فقال: إني أخاف الله" بل هغه سړى چې يوه ښايسته ښكلې ښځه ورته د زنا دعوت وركړي او هغه ورته ووايي: زه د الله ﷻ نه وېرېږم، "ورجل تصدق بصدقة، فأخفاها حتى لا تعلم يمينه ما تنفق

یمینه" بل هغه کس دی چې داسې صدقه ورکړي چې چپ لاس یې د ښي لاس څخه خبر نه شي چې په ښي لاس باندې یې څه شی ورکړي دي، "ورجل ذکر الله خالیاً ففاضت عیناه" بل هغه کس دی چې خاڼته د الله ﷻ ذکر کوي او د سترګو نه یې اوښکې بهیږي. متفق علیه

لغوي تحقیق:

نشاء: "نشاءونشاءً" وخت تېرول، خوانېدل.

فاضت: "فاض فیضاً" په کثرت سره بهېدل، د سترګو څخه د اوښکو توېدل.

تشریح: "سبعة یظلهم الله في ظله یوم لاظل الاظله": دا هغه اوه/ ۷ نېکان خلک دي چې د خپلو نېکو عملونو په وجه د قیامت په هغه سخته ورځ چې بل سوری به چېرته نه وي او لمر به یوه نیزه رانښکته شوی وي، دوی به د عرش تر سیوري لاندې وي، داسې خلکو ته به الله ﷻ خپل خصوصي رحمت وربه برخه کړي او د قیامت د سختیو څخه به یې وساتي.

د عرش تر سیورې لاندې به دوه اتیا کسان وي:

په دغه حدیث کې د اوه/ ۷ کسانو ذکر وشو چې د عرش سیوری ورته نصیب کیږي، لیکن په نورو حدیثونو کې ددې څخه علاوه د نورو ذکر هم شته چې هغه به نېک مرغه خلك وي کوم چې به د عرش تر سیوري لاندې درېږي، چې د دوی شمار وکړی شي نو تعداد یې دوه اتیا / ۸۲ قسمه خلکو ته رسیږي.

د الله ﷻ د رضا لپاره د مینه ساتونکو فضیلت:

"رجلان تحابا في الله" هغه دوه کسان چې خالص د الله ﷻ د رضا لپاره خپلو کې مینه ساتي، نو هغه کسان به د الله ﷻ د عرش تر سیورې لاندې وي، په هغو کسانو کې یو هغه ډول کسان دي چې خالص د الله ﷻ د رضا په خاطر خپلو کې سره مینه کوي، په یو روایت کې راځي چې: کوم خلك خالص د الله ﷻ د رضا په خاطر خپلو کې مینه کوي، د قیامت په ورځ به د الله ﷻ له لوري د نور څخه جوړ شوي منبرونو باندې ناست وي او د خلکو ننداره به کوي، په دوی باندې به انبیاء علیهم السلام او شهیدان هم غبطه کوي، په یو بل روایت کې دي چې: کوم کس خالص د الله ﷻ لپاره مینه ساتي او خالص د الله ﷻ لپاره بغض ساتي او د الله ﷻ لپاره ورکړه هم کوي او د الله ﷻ لپاره منع هم کوي، د داسې اعمالو خلك خپل ایمانونه تکمیل کوي، په یو بل روایت کې دي چې: کله د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې الله ﷻ ته کوم عمل ډېر خوښ دی؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل "أحب الأعمال إلى الله الحب في الله والبغض في الله" تر ټولو غوره عمل هغه دی چې خالص د الله ﷻ لپاره محبت وکړی شي او خالص د هغه په خاطر بغض وساتل شي.

د الله د رضا په خاطر مینه لرونکي به د عرش تر سیوري لاندې وي

"وعنه قال: قال رسول الله ﷺ: إن الله تعالى یقول یوم القیامة" د ابو هریره رضی الله عنه روایت دی، فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله ﷻ به د قیامت په ورځ دا اعلان وکړي "أین المتحابون بجلالي؟" چېرته دي زما

يَمِيْنُهُ" بل هغه کس دی چې داسې صدقه ورکړي چې چپ لاس يې د ښي لاس څخه خبر نه شي چې په ښي لاس باندې يې څه شی ورکړي دي. "وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِياً فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ" بل هغه کس دی چې خاڼته د الله ﷻ ذکر کوي او د سترګو نه يې اوښکې بهيږي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

نشأ: "نشأ ونشاءة" وخت تېرول، خوانېدل

فاضت: "فاض فيضاً" په کثرت سره بهېدل، د سترګو څخه د اوښکو توېدل

تشريح: "سبعة يظلهم الله في ظله يوم لاظل الاظله" دا هغه اوه/ ۷ نېکان خلک دي چې د خپلو نېکو عملونو په وجه د قيامت په هغه سخته ورځ چې بل سورې به چېرته نه وي او لمر به يو نيزه را ښکته شوی وي، دوی به د عرش تر سيورې لاندې وي، داسې خلکو ته به الله ﷻ خپل خصوصي رحمت وربه برخه کړي او د قيامت د سختيو څخه به يې وساتي

د عرش تر سيورې لاندې به دوه اتيا کسان وي:

په دغه حديث کې د اوه/ ۷ کسانو ذکر وشو چې د عرش سيورې ورته نصيب کيږي، ليکن په نورو حديثونو کې ددې څخه علاوه د نورو ذکر هم شته چې هغه به نېک مرغه خلک وي کوم چې به د عرش تر سيورې لاندې دريږي، چې د دوی شمار وکړی شي نو تعداد يې دوه اتيا / ۸۲ قسمه خلکو ته رسيږي

د الله ﷻ د رضا لپاره د مينه ساتونکو فضيلت:

"رجلان تحابا في الله" هغه دوه کسان چې خالص د الله ﷻ د رضا لپاره خپلو کې مينه ساتي، نو هغه کسان به د الله ﷻ د عرش تر سيورې لاندې وي. په هغو کسانو کې يو هغه ډول کسان دي چې خالص د الله ﷻ د رضا په خاطر خپلو کې سره مينه کوي، په يو روايت کې راغلي چې: کوم خلک خالص د الله ﷻ د رضا په خاطر خپلو کې مينه کوي، د قيامت په ورځ به د الله ﷻ له لورې د نور څخه جوړ شوي منبرونو باندې ناست وي او د خلکو ننداره به کوي، په دوی باندې به انبياء عليهم السلام او شهيدان هم غبطه کوي. په يو بل روايت کې دي چې: کوم کس خالص د الله ﷻ لپاره مينه ساتي او خالص د الله ﷻ لپاره بغض ساتي او د الله ﷻ لپاره ورکړه هم کوي او د الله ﷻ لپاره منع هم کوي، د داسې اعمالو خلک خپل ايمانونه تکميل کوي، په يو بل روايت کې دي چې: کله د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې الله ﷻ ته کوم عمل ډېر خوښ دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: "أحب الأعمال إلى الله الحب في الله والبغض في الله" تر ټولو غوره عمل هغه دی چې خالص د الله ﷻ لپاره محبت وکړی شي او خالص د هغه په خاطر بغض وساتل شي

د الله د رضا په خاطر مينه لرونکي به د عرش تر سيورې لاندې وي

"وعنه قال: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ به د قيامت په ورځ دا اعلان وکړي: "أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي؟" چېرته دي زما

د عظمت او جلال په خاطر په خپلو کې مينه ساتونکي خلک؟ "اَلْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي" نن ورځ زه دوی ته د خپل عرش
دي راشي نن ورځ زما د سوري نه علاوه هغوی ته بل هيڅ سوری نشته، زه به هغوی ته د خپل رحمت
سيوري لاندې ځای ورکړم. رواه مسلم

تشريح "أظلهم في ظلي يوم لا ظل إلا ظلي" نن ورځ به زه دوی ته د خپل سيوري لاندې ځای ورکړم، په
داسې ورځ چې هيڅ سوری به زما د سيوري څخه بغير نه وي. محدثينو په دې خبره بحث کړی دی چې:
ظل نه مراد څه دی؟ د سيوري په اړه درې مشهور قولونه دي. لومړی دا چې د ظل نه مراد د الله د عرش
سوری دی، لکه څرنګه چې په ځينو رواياتو کې د دې ذکر هم راغلی دی. د الله ﷻ له لوري د سيوري
نسبت د عظمت او تکريم په توګه دی. دويم قول دا دی چې د دې نه مراد د الله ﷻ حفاظت او رحمت
دی. لکه څرنګه چې په يو روايت کې راځي "السلطان ظل الله في الارض" په دنيا کې نيک پاچا د الله ﷻ د
لوري سيوری دی، يعنې د پاچا په واسطه حفاظت کېدلی شي. دريم قول دا دی چې دا د راحتونو او
نعمتونو څخه کنايه ده، لکه څرنګه چې په عربي ژبه کې راځي "عيش ظليل" د خوشحالۍ او راحت ژوند
تېرول. د هغه شان دلته به هم وي. مطلب دا چې د قيامت په ورځ به د نعمتونو او خوشحالۍ ژوند وي

د ايمان نه پرته جنت ته داخلېدل نشته

• "وعنه قال: قال رسول الله ﷺ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَا تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی
فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: زما دې قسم وي په هغه ذات چې زما ساه د هغه په ولکه کې ده،
تاسو به تر هغه پورې جنت ته داخل نه شئ چې ايمان مو نه وي راوړی. "وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا" او د هيڅ
ايمان تر هغه وخته پورې جنت ته د داخلېدو ضمانتي نه شي جوړېدی تر څو پورې چې يې د مسلمان
ورور سره مينه نه وي ساتلې. "أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟" ايا زه تاسو ته يو داسې شی ونه ښيم
چې تاسو پرې عمل وکړئ نو په خپل مينځ کې به مو مينه پيدا شي؟ "أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ" په خپل مينځ کې
سلام خپور کړئ. رواه مسلم

لغوي تحقيق: افشوا: افشی افشاءً د دې معنی ده خورول

تشريح "لا تدخلوا الجنة حتى تؤمنوا" جنت ته به تر هغه پورې داخل نه شئ چې ايمان مو نه وي راوړی.
محدثين فرمايي چې دا خبره معلومه ده چې کافر جنت ته نه شي داخلېدلی. مؤمنان به جنت ته
داخلېږي. دا د الله ﷻ فيصله ده، که کافر سړی جنت ته داخلېدل غواړي: نو تر ټولو اول به ايمان
راوړي، جنت ته د داخلېدلو لپاره ايمان شرط دی

"افشوا السلام بينكم" په خپل مينځ کې سلام خپور کړئ: داسې سلام خپرول لکه څرنګه چې په يو
بل روايت کې راځي. تاسو هرچا ته سلام اچوئ، که يې پېژنئ او که يې نه پېژنئ. د سلام په اچولو سره
انسان د شريعت حکم ته تسليم شي، په اسلام باندې عمل کولو سره الله ﷻ ترې راضي او خوشحاله
شي او جنت ته يې تلل اسان شي

د الله ﷻ د رضا په خاطر ملاقات کولو سره الله ﷻ راضي کيږي

"وعنه، عن النبي ﷺ: أَنَّ رَجُلاً زَارَ أَخاً لَهُ فِي قَرْيَةٍ أُخْرَى" او د ابو هريره ﷛ روايت دی. فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل يو کس د يو مسلمان ورور د ملاقات لپاره بل کلي ته لاړو. "فَأَرْصَدَ اللهُ لَهُ عَلَى مَدْرَجَتِهِ مَلَكاً... وذكر الحديث إلى قوله" الله ﷻ په لاره کې يوه پرښته مقرره کړه بيا يې پوره هغه روايت ذکر کړو چې مخکې باب کې تير شو د هغې آخري جمله دا ده چې "إِنَّ اللهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيهِ" الله ﷻ هم ستا سره مينه ساتي لکه څنګه چې ته د خپل ورور سره د الله ﷻ د رضا لپاره مينه ساتې. "رواه مسلم، وقد سبق بالباب قبله" دا حديث امام مسلم ﷫ روايت کړی دی او په مخکې باب کې دا حديث تير شوی دی

لغوي تحقيق:

ارصد: "أرصد إرصاداً" : لغوي معنی يې ده چاته کمين نيول، په اصطلاح کې انتظار کولو ته وايي. په کمين کې ناسته او انتظار کول

تشريح په دې حديث کې هم د الله ﷻ د رضا په خاطر د مينې او محبت ساتونکي لپاره لوی بشارت او زيری دی. هغه د خپل مسلمان ورور سره د الله ﷻ د رضا په خاطر مينه او محبت کوي. دومره لوی دولت او سرمايه ورته په لاس ورشي چې الله ﷻ هم د داسې کس سره مينه شروع کړي، ددې حديث وضاحت په اولني حديث ۳۶۴ کې ذکر دی. د ځينو مشرانو نه دغسې دعاء هم منقول ده. "اللهم ارزقنا محبة أوليائك في قلوبنا بمنك وفضلك" اې الله ﷻ په خپلې مهربانی او فضل سره د خپلو دوستانو مينه او محبت زمونږ په زړونو کې واچوې

مومن به د انصارو سره مينه کوي

"وعن البراء بن عازب رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ أنه قال في الأنصار: لَا يُحِبُّهُمْ إِلَّا مُؤْمِنٌ" د براء بن عازب ﷛ نه روايت دی. فرمايي چې رسول الله ﷺ د انصارو په باره کې وفرمايل. د دوی سره به هغه کس مينه کوي چې مؤمن وي، "وَلَا يُبْغِضُهُمْ إِلَّا مُنَافِقٌ" او د دوی سره کينه او بغض نه ساتي مګر منافق سړی. "مَنْ أَحَبَّهُمْ أَحَبَّهُ اللهُ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ أَبْغَضَهُ اللهُ" کوم کس چې د دوی سره مينه ساتي د هغه سره به الله ﷻ مينه ساتي او کوم کس چې د دوی سره بغض ساتي، د هغه سره به الله ﷻ کينه او بغض ساتي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

تشريح: په يو بل روايت کې دي "آية الإيمان حب الأنصار وآية النفاق بغض الأنصار" د ايمان علامه د انصارو سره مينه ده او د منافقت علامه د انصارو سره بغض ساتل دي

د مدينې د انصارو يادګار:

د انصارو اطلاق په مدينه منوره کې اوسيدونکو خلکو باندې کيږي، د نبي کريم ﷺ په زمانه کې په مدينه منوره کې دوه مشهورې قبيلې آبادې وې. د يوې قبيلې نوم اوس او د بلې قبيلې نوم خزرج وو، اوس او خزرج دواړه وروڼه وو، ددغو دواړو قبيلو نسلونه زيات شول او د قبيلو شکل يې اختيار

کړو، د انصارو اطلاق عمومي طور په دوی باندې کيږي، انصارو د رسول الله ﷺ او د مهاجرو صحابه
وو او د دين مرسته وکړه او د ټول عرب او عجم دښمني يې په خپل سر واخسته، په دوی کې دومره
اخلاص وو چې الله ﷻ ته ډېر خوښ شول، نو ځکه د دوی سره مينه ساتل د ايمان علامه ده او بغض
ورسره ساتل د منافقت علامه ده، د دوی سره مينه ساتونکو سره به الله ﷻ مينه ساتي او د بغض
لرونکو سره به يې الله ﷻ بغض ساتي

د الله تعالی لپاره مينه کوونکي به د قيامت په ورځ د نور په منبرونو ناست وي

"وعن معاذ ﷺ، قَالَ: سَمِعتُ رسول الله ﷺ يقول: قَالَ اللهُ ﷻ" د معاذ ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول
الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ فرمايي چې: "المُتَحَابُّونَ فِي جَلَالِي، لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُورٍ" کوم کسان چې صرف زما د رضا
او عظمت په خاطر په خپل مينځ کې مينه او محبت کوي، د دوی لپاره به د قيامت په ورځ د نور
منبرونه وي، "يَغْبِطُهُمُ النَّبِيُّونَ وَالشُّهَدَاءُ" چې شهيدان او پېغمبران به د هغې ارزو او ارمان کوي، رواه
الترمذي، وقَالَ: حديث حسن صحيح" دا حديث امام ترمذي ﷫ روايت کړی دی او فرمايي چې دا حديث
حسن صحيح دی.

لغوي تحقيق: يغبطهم: "غبط غبطاً" باب ضرب يضرب او سمع يسمع دواړو څخه دی، ددې معنی دا
کوم شی په سترګو کې راځيستل، د بل سره نعمت ليدلو باندې خپل ځان ته هم ارمان کول چې زما
سره هم دغسې نعمت واى، ليکن د هغه د نعمت زوال ارمان نه کول، غبطه د حسد مقابل ده، حسد
حرام او غبطه جائز ده

تشريح: "المتحابون في جلالي" زما د جلال او عظمت په خاطر د يو بل سره مينه ساتي، په دې حديث
کې هم د الله ﷻ د رضا په خاطر خپلو کې مينه ساتونکو فضيلت بيان شوی دی، د الله ﷻ په خاطر
مينه ساتل دا معنی چې د خپل مسلمان ورور سره مينه وساتي، ليکن په دې خاطر چې يو مسلمان بنده
دی، مؤمن دی، الله ﷻ په يووالي سره مني، هيڅ شريك ورسره نه جوړوي، د رسول الله ﷺ د شريعت او
دين تابع وي، په دې کې يې څه دنيوي مقاصد نه وي، "لهم منابر من نور" د دوی لپاره به د نور منبرونه وي،
ملا علي قاري ﷫ يو روايت نقل کړی دی چې "المتحابون في الله على كراسي من ياقوت حول العرش" د الله ﷻ د
رضا په خاطر خپلو کې مينه کوونکي به د عرش په کنارو کې د ياقوتو څخه جوړ شويو چوکيو باندې
ناست وي، د ملا علي قاري ﷫ په قول ممکنه ده چې دا نعمت ورته د حشر په ميدان حاصل شي

انبياء عَلَيهِمُ السَّلَام به ولې غبطه کوي، حال دا چې د دوی مقامات اوچت دي؟

"يغبطهم النبيون والشهداء" په دوی باندې به انبياء عَلَيهِمُ السَّلَام او شهيدان غبطه کوي، سوال دا دی
چې انبياء عَلَيهِمُ السَّلَام على الاطلاق تر ټولو غوره دي، د دوی مقامات هم ډېر لوړ دي، نو په دې شان
غبطه څه معنی لري؟ ددې سوال درې ځوابونه دي: لومړی دا چې د انبياء عَلَيهِمُ السَّلَام د غبطې نه مراد
هغوی ته په ورکړل شوي نعمتونو باندې د خوشحالی اظهار دی، حقيقي غبطه مراد نه ده، دويم ځواب

دا دی چې که بالفرض انبياء عَلَيهِمُ السَّلَامُ او شهيدان چېرته په کوم مقام او مرتبه باندې غبطه کوي، نو دا خلک به ددې قابل وي چې په دوی باندې غبطه وکړي، دريم خواب دا دی چې انبياء عَلَيهِمُ السَّلَامُ او شهيدان په تولو صفاتو کې غوره دي، دوی ته به اعلی مقامات حاصليږي، ليکن ددې باوجود به بيا هم په دې فضيلت باندې غبطه کوي

د الله ﷻ د رضا په خاطر مينه ساتونکو لپاره د الله ﷻ مينه

"وعن أبي إدريس الخولاني رحمه الله، قَالَ: دَخَلْتُ مَسْجِدَ دِمَشْقَ" د ابو ادريس خولاني رحمه الله روايت دی، فرمايي چې زه د دمشق جومات ته داخل شوم، "فَإِذَا فَتًى بَرَّاقُ الثَّنَايَا وَإِذَا النَّاسُ مَعَهُ" نو هلته يو خوان وو چې مخکيني غاښونه يې ډېر ښکلي ځلېدل او خلک ترې شاوخوا ناست وو. "فَإِذَا اخْتَلَفُوا فِي شَيْءٍ، أَسْنَدُوهُ إِلَيْهِ، وَصَدَرُوا عَنْ رَأْيِهِ" کله چې به د خلکو په خپل مينځ کې په کومه مسئله باندې اختلاف راغلو، نو دغه خوان ته به راتلل، هغه به چې کومه رايه ورکړه په هغې به يې اتفاق کولو او فيصله به يې پرې کول. "فَسَأَلْتُ عَنْهُ، فَقِيلَ: هَذَا مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ ﷺ" ما پوښتنه وکړه دا څوک دی؟ هغوی راته وويل: دا معاذ بن جبل ﷺ دی، "فَلَمَّا كَانَ مِنَ الغَدِ، هَجَّرْتُ، فَوَجَدْتُهُ قَدْ سَبَقَنِي بِالتَّهْجِيرِ، وَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي، فَانْتَظَرْتُهُ حَتَّى قَضَى صَلَاتَهُ" په دويمه ورځ زه سهار وختي په دې خيال کې جومات ته لاړم، نو ګورم چې هغه زمانه مخکې جومات ته راغلی وو او ومې ليدل چې په لمانځه ولاړ وو، نو ما تر ده پورې انتظار وکړو چې د لمانځه نه فارغ شو. "ثُمَّ جِئْتُهُ مِنْ قِبَلِ وَجْهِهِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، ثُمَّ قُلْتُ: وَاللهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ لِلَّهِ" بيا زه ورته مخې ته راغلم او سلام مې پرې واچلو. بيا مې ورته وويل: قسم په الله! زه خو ستا سره د الله ﷻ د رضا لپاره مينه کوم، "فَقَالَ: آللهِ؟" هغه وويل: صرف د الله ﷻ د رضا لپاره بل څه مقصد خو پکې نشته؟ "فَقُلْتُ: اللهِ" نو ما ورته وويل: صرف د الله ﷻ د رضا لپاره او بس، "فَقَالَ: آللهِ؟ فَقُلْتُ: اللهِ" هغه بيا ماته وويل: صرف د الله ﷻ د رضا لپاره. نو ما ورته وويل: صرف د الله ﷻ د رضا لپاره او بس، "فَأَخَذَنِي بِحُبْوَةِ رِدَائِي، فَجَبَذَنِي إِلَيْهِ، فَقَالَ: أَبْشِرْ! فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يقول: قَالَ اللهُ تَعَالَى" نو هغه زما د څادر يو طرف راونيولو او ځان ته يې راښکلم او زيری يې راکړو چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې الله ﷻ فرمايي چې: "وَجَبَتْ مَحَبَّتِي لِلْمُتَحَابِّينَ فِيَّ، وَالْمُتَجَالِسِينَ فِيَّ" زما مينه او محبت د هغه چا لپاره واجب ده چې څوک زما د رضا لپاره په خپل مينځ کې مينه او محبت ساتي، په همدې يې مجلسونه وي، "وَالْمُتَزَاوِرِينَ فِيَّ" او هم زما د رضا لپاره د يو بل ملاقاتونه او زيارتونه کوي، "وَالْمُتَبَاذِلِينَ فِيَّ" او زما د رضا او خوشحالۍ لپاره خپل مالونه زما په لار کې خرچ کوي.

"حديث صحيح رواه مالك في الموطأ بإسناده الصحيح" دا حديث صحيح دی، امام مالك رحمه الله په خپل موطا کې په صحيح سند سره روايت کړی دی.

"قوله: ((هَجَّرْتُ)) أي بَكَّرْتُ، وَهُوَ بتشديد الجيم" دا قول چې: هجرت: د جيم په شد سره دی، ددې معنی ده: سهار وختي، "قوله: ((آللهِ فَقُلْتُ: اللهِ)) الأول بهمزة ممدودة للاستفهام، والثاني بلا مد" په لفظ د (الله) کې اولنی همزه د استفهام ده، همزه ممدوده ده، يعني د مد سره ده او دويمه همزه بغير مده ده.

لغوي تحقيق:

هجرت: "هجر القوم" د غرمې پرمهال سفر کول، "هجر النهار" د غرمې ګرمي سختېدل، "هجر الى الشئ" سهار وختي پاڅېدل، نژدې کېدل

حبوة: "الحبوة" په اصل کې جامې ټوټې کپړې ته ويل کيږي، ليکن دلته هغه خاص کيفيت مراد دی چې خپله ملا او پښې په کپړه وتړي او سرې د ګونډو په سر کيني

جبذني: "جبذه جبذاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: راښکل

تشريح "فإذا فتیً براق الثنايا" د هغه مخکيني غاښونه ښه ځلېدونکي وو، محدثين ليکي چې مطلب دا دی که يو طرفته معاذ ؓ د صفايي د هر خيال ساتلو، نو بل طرف ته به يې اکثر په خوله خندا او موسکې حال کې ؤ، "ووجدته يصلي فانتظرته حتى قضى صلاته" ما وليدل چې لمونځ کوي ما د هغه انتظار وکړو تردې چې هغه لمونځ پوره کړو، ددې څخه علماء استدلال کوي چې که کوم کس په عبادت کې مشغول وي؛ نو د هغه سره نژدې کېنستل پکار نه دي، تر څو د هغه په عبادت کې خلل پيدا نه شي

"وجبت محبتي للمتحابين فيّ" زما مينه د هغه چا لپاره واجب شوه چې زما په خاطر خپلو کې مينه کوي

د چا سره چې مينه ساتې هغه خبر کړه !

"وعن أبي كريمة المقداد بن معد يكرب ؓ، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: إِذَا أَحَبَّ الرَّجُلُ أَخَاهُ" د ابو کريمة مقداد بن معديکرب ؓ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې څوک د خپل ورور سره مينه کوي، "فَلْيُخْبِرْهُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ" نو بايد چې خبر ورکړي چې زه ستا سره مينه کوم، "رواه أبو داود والترمذي، وَقَالَ: حديث صحيح" امام ابوداود رحمه الله او امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او وايي چې دا حديث صحيح دی

لغوي تحقيق:

فليخبره: "خبره أخبره الشئ بالشئ" ددې معنی ده: کوم شی په څه شي باندې خبرول

تشريح "فليخبره أنه يحبه" هغه بايد خبر کړي چې دی ورسره مينه ساتي، په دې کې بنيادي مطلب دا دی چې د چا سره ستا مينه وي، که هغه خبر شي چې دغه کس زما سره مينه کوي، نو هغه به هم ستا سره مينه شروع کړي، ددې وروسته به هغه د دوستي او مينې حق ادا کولو خيال ساتي، دعاګانې به ورته کوي خکه چې غائبانه دعاګانې زر قبليږي او د هغه سره به په ديني کارونو کې مرسته کوي، نو دغه ديني مرسته به د دواړو جانبينو څخه شي

د راوي مقداد بن معديكرب رضي الله عنه حالات

اصلي نوم يې مقداد دی، کنيت يې ابوکريمه دی، په وزن د حليمة دی يا يې کنيت ابويحيی دی، د پلار نوم يې معدي ابن سنا بن عبد الله بن وهب بن ربيعه بن حارث بن معاويه دی، دوی د يوې ولې سره د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، اسلام يې قبول کړو، بيرته شام ته لاړو او باقي ټول ژوند يې هلته تير کړو.

وفات په اوه اتيايمه/ ۸۷ هجري کې د يو نوي/ ۹۱ کالو په عمر کې وفات شو

مرويات اوه څلوېښت/ ۴۷ حديثونه ترې نقل دي

باب علامات حب الله تعالى للعبد والحث على التخلق بها والسعي في تحصيلها

الله ﷻ چې خپل بنده محبوب جوړ کړي د هغو علامو پيژندګلوي او د دغو نخښو پيدا کولو تاکيد او د هغې د حاصلولو کوشش بيان

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې "قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللهَ فَاتَّبِعُونِي" اې پيغمبر ﷺ ورته ووايه که تاسو په رښتيا د الله ﷻ سره مينه لرئ نو زما تابعداري وکړئ، "يُحْبِبْكُمُ اللهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ" الله ﷻ ستاسو سره مينه ولري او ستاسو ګناهونه به درته معاف کړي او الله ﷻ بخښونکی مهربان ذات دی [آل عمران:۳۱]

تشريح او شان نزول:خيني کسان د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شول او دا خبره يې وکړه چې په خدای قسم! زموږ مينه د الله ﷻ سره ده، دغه آيت نازل شو، مفسرين فرمايي چې مينه او محبت داسې معنوي شی دی چې ددې هيڅ پيمانه او مقدار نشته چې ددې کميت او کيفيت معلوم کړي. البته د مينې او محبت څه نا څه اثرات کېدلی شي چې له امله يې اندازه کېدلی شي. خلک وايي ددې سرې مينه د هغه بل سړي سره څومره ده، خلاصه دا چې کوم خلک د الله ﷻ د مينې دعوه لري. د هغوی امتحان به د رسول الله ﷺ د اتباع په بنسټ اخيستلی شي، څوک چې څومره د رسول الله ﷺ په اتباع کې مضبوط وي هغومره به هغه په خپله دعوه کې رښتونی وي، يا په نورو الفاظو سره څوک چې په خپله دعوه کې څومره رښتونکې وي هغومره به دده په ژوند کې د رسول الله ﷺ اتباع موندلی شي او څومره چې په خپله دعوه کې درغجون وي، هغومره به په اطاعت کې کمزوري وي

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ" اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، که تاسو د خپل دين نه واوښتئ او مرتد شوئ، "فَسَوْفَ يَأْتِي اللهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ" نو زر ده چې الله ﷻ به يو داسې قوم راپيدا کړي چې الله ﷻ به ورسره مينه ساتي او هغوی به د الله ﷻ سره مينه ساتي، "أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ" د مؤمنانو سره به نرمي کوي، په کافرانو باندې به سخت وي، "يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ" دوی به د الله ﷻ په لار کې جهاد کوي او د ملامته کوونکو د

ملامتيا څخه به نه ويريږي، "ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ" دا د الله ﷻ فضل او مهرباني ده چې
چاته يې وغواړي هغه ته يې ورکوي او الله ﷻ ډېر زيات واسع علم لري [المائدة: ٥٤].

تشريح: "يا أيها الذين آمنوا من يرتد منكم" حسن بصري رحمه الله فرمايي الله ﷻ ته دا خبره معلومه وه
چې ځيني خلك به د رسول الله ﷺ د وفات وروسته مرتد كيږي او د اسلام نه به مخ اړوي، نو ځكه الله ﷻ
د اول نه دا خبر ورکړو، "فسوف يأتي الله بقوم يحبهم ويحبونه" يو قول دا دی چې د قوم نه مراد علي او حسن رضي الله عنهما
دي، قتادة رضي الله عنه وايي: ابوبكر رضي الله عنه او د هغه ملګري مراد دي كوم چې د مرتدينو په خلاف جهاد وكړ.

"أذلة على المومنين أعزة على الكافرين" د "أذلة" نه مراد نرمي ده او د "أعزة" نه مراد سختي ده. مطلب
دا چې ددې صحابه وو سختي او نرمي به د خپل ذات لپاره نه وي بلكې د دوی دوستي، دښمني،
سختي او نرمي هر څه به خالص د يو الله ﷻ د رضا په خاطر وي، هغوی به د مسلمانانو سره نرمي كوي
او په كفارو به سختي كوي، لكه څرنګه چې د بل آيت نه معلوميږي چې "أشداء على الكفار رحماء بينهم" د
كفارو په معامله كې به سخت وي او د مسلمانانو سره به نرمي كوي، "لايخافون لومة لائم" د چا ملامت
كونكي سړي د ملامتيا پروا به نه كوي، "والله واسع عليم" او الله ﷻ ډېر فراخه علم والا ذات دی، الله ﷻ د
خپل علم مطابق د قدرت استعمال كوي، هر كار يې د حكمت سره سمون خوري، د الله ﷻ يو كار بې
حكمته نه دی او نه د هغه په كارونو كې څوك نقصان راوستلی شي.

الله جل جلاله د خپل ملګري مرسته كوي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَالَ: مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ" د ابو
هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله ﷻ فرمايلي دي چې كوم كس زما
د دوست او ملګري سره دښمني ساتي، د هغه سره زما د جنګ اعلان دی. "وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ
إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ، وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ" ما چې په بندګانو باندې څه فرض كړي دي
هغه په ادا كولو ماته نږديكت حاصلول خوښ دي او هميش به ماته يو كس په نفلونو باندې رانږدې
كيږي تردې چې زه يې خپل محبوب بنده جوړ كړم. "فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ، كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ" كله چې يې زه
خپل محبوب بنده جوړ كړم، نو بيا زه د هغه غوږ جوړ شم، په كوم چې هغه اورول كوي. "وَبَصَرَهُ الَّذِي
يُبْصِرُ بِهِ" او ستركه يې جوړ شم په چې هغه پرې ليدل كوي، "وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا" او لاس يې جوړ شم چې
هغه پرې نيول كوي، "وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا وَإِنْ سَأَلَنِي أَعْطَيْتُهُ" او پښه يې جوړ شم په كوم چې هغه مزل كوي
او كه زما څخه څه وغواړي نو زه يې وركوم، "وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ" او كه زما نه پناه وغواړي نو زه پناه
وركوم. رواه البخاري

"معنى ((آذنته)): أعلمته بأني محارب له" د "آذنته" معنى ده: اعلان كول، "وقوله: ((إستعاذني)) روي بالباء
وروي بالنون" او دا قول چې "استعاذني" دا په "ب" سره هم روايت شوی دی او په نون سره هم

لغوي تحقيق:

آذنته: "أذن ايذاناً" اطلاع او خبر ورکول

يبطش: "بطش بطشاً" حمله کول، ناڅاپه رانيول

تشريح "فقد آذنته بالحرب" زما له لورې هغه ته د جنګ اعلان دی، محدثينو ددې جملې ډېر مطلبونه بيان کړي دي، لومړی دا چې: يو ولي الله ته په تکليف رسولو سره الله ﷻ دومره خفه کيږي چې ددې په وجه د جنګ اعلان ورته کوي، ځينې علماء فرمايي: په اسلام کې دوه داسې ځايونه دي چې الله ﷻ د جنګ اعلان کړی دی، اول: يو ولي الله او نېک سړي ته تکليف رسولو سره د جنګ اعلان شوی دی، دويم سود خور سړي ته هم د الله ﷻ له لورې د جنګ اعلان شوی دی "فأذنوا بحرب من الله ورسوله"

د الله ﷻ سترګه، لاس او غوږ باره کې د محدثينو درې خبرې

"كنت سمعه الذي يسمع به" شاه ولي الله رحمه الله ددې په باره کې فرمايي چې: کله يو انسان د فرضي احکاماتو نه علاوه د نفلونو اهتمام شروع کړي، نو په داسې کس د الله ﷻ له لورې رحمتونه شروع شي چې دی پکې پټ شي، بيا د هغه ټول عملونه د الله ﷻ د مرضی مطابق شي، بيا هغه اعمال الله ﷻ ته منسوبيږي، لکه څرنګه چې په دې حديث کې ذکر شو او څرنګه چې د رسول الله ﷺ يو عمل الله ﷻ خپل ځان ته منسوب کړو: "ومارميت إذرميت ولكن الله رمى".

حافظ توربشتي رحمه الله فرمايي چې: انسان ته د نفلو په ذريعه يې د الله ﷻ سره مينه حاصليږي، بيا دده په زړه کې د الله ﷻ نه سوا بل څوك نه ځاييږي، ددې وروسته هر هغه شی چې د الله ﷻ په نزد محبوب دی، دغه کس هغه ګوري، هغه اوري او هغه نيسي، د دغه ليدلو، اورېدلو او نيولو څخه الله ﷻ د سترګې، لاس او پښو وغيره څخه تعبير وکړو، مولانا ادريس کاندهلوي رحمه الله فرمايي: د نوافلو په واسطه بنده د الله ﷻ داسې قربت او محبت حاصل کړي چې هغه د الله ﷻ په سترګه، د هغه په لاس او د هغه په غوږ اوري.

د نيک سړي قبوليت په ځمکه اېښودلی شي

"وعنه، عن النبي ﷺ قَالَ: إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ تَعَالَى العَبْدَ، نَادَى جِبْرِيلَ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُحِبُّ فُلاناً، فَأَحْبِبْهُ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي: کله چې يو د بنده سره الله پاك مينه کوي نو جبرئيل عليه السلام ته حکم وکړي چې زه د فلانکي بنده سره مينه کوم ته هم ورسره مينه کوه! "فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ، فَيُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ: إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلاناً" نو جبرئيل عليه السلام هم ورسره مينه شروع کړي، بيا اسمان والا ته اواز وکړي چې بې شکه الله ﷻ د فلانکي سړي سره مينه کوي، "فَأَحِبُّوهُ، فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ" نو تاسو هم ورسره مينه کوئ نو هغوی هم ورسره مينه شروع کړي، "ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ القَبُولُ فِي الأَرْضِ" بيا د ځمکې والا خلك هم ورسره مينه شروع کړي، او په خلکو کې قبول شي "متفق عليه. وفي رواية لمسلم: قال رسول الله ﷺ: إنّ الله تعالى إذا أحب عبداً دعا جبريل، فقال: إني أحبّ فلاناً فأحببه" او د مسلم په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ

فرمايي، الله ﷻ چې ګله د يو بنده سره مينه شروع کړي؛ نو جبرئيل عليه السلام ته حکم وکړي چې زه د فلانکي سره مينه کوم نو ته هم ورسره مينه شروع کړه؛ "فيحبّهُ جبريل، ثمّ ينادي في السماء، فيقول: إنّ الله يحبّ فلاناً فأحبّوه" جبرئيل عليه السلام هم ورسره مينه شروع کړي، بيا جبرئيل عليه السلام اسمان والا خلکو ته حکم وکړي چې الله ﷻ د فلانکي سړي سره مينه کوي، نو تاسو هم ورسره مينه کوئ. "فيحبّهُ أهل السماء ثمّ يوضع له القبول في الأرض" نو بيا د اسمان والا مخلوق ورسره مينه شروع کړي تردې چې د ځمکې والا خلک هم ورسره مينه شروع کړي او په خلکو کې قبول شي. "وإذا أبغض عبداً دعا جبريل، فيقول: إني أبغض فلاناً فأبغضه" او کله چې د الله ﷻ يو بنده بد راشي نو جبرئيل عليه السلام ته حکم وکړي چې فلانکي سړي زما بدي راځي نو ته هم ورسره بغض شروع کړه؛ "فيبغضهُ جبريل ثمّ ينادي في أهل السماء إنّ الله يبغض فلاناً فأبغضوهُ" نو جبرئيل عليه السلام هم ورسره بغض شروع کړي، بيا جبرئيل عليه السلام آسمان والا ته حکم وکړي چې فلانکي سړي د الله ﷻ بدې راځي نو تاسو هم ورسره بغض وساتئ. "ثمّ توضع له البغضاء في الأرض" بيا د ځمکې والا خلک هم ورسره بغض شروع کړي.

تشريح: "أن يحب فلاناً" الله ﷻ د فلاني بنده سره مينه ساتي، بيا داسې بنده د اسمان او ځمکې والا مخلوق لپاره محبوب جوړ شي، ددې برعکس د کوم کس سره چې الله ﷻ بغض شروع کړي، نو بيا د داسې کس سره د ځمکې او اسمان والاهم بغض شرع کړي.

د پرښتو د مينې نه مراد څه دی؟

"فأحبوه" تاسو هم د هغه سره محبت ساتئ؛ اسمان والاهم د داسې کس سره مينه شروع کړي، ملا علي قاري رحمه الله دوه قوله نقل کړي دي: د پرښتو د مينې او محبت مطلب دا دی چې پرښتې د داسې کس لپاره دعاګانې کوي او د الله ﷻ څخه ورته بخښنه غواړي، بل دا چې پرښتې د داسې کس تعريف کوي، ځينو محدثينو بې داسې مطلب بيان کړی دی چې د مينې محبت نه ظاهري مينه او محبت مراد دہ، يعنې د پرښتو په زړونو کې داسې کس ته ميلان پيدا شي او د داسې کس سره د پرښتو د ملاقات شوق پيدا شي، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: دغه دويمه معنی د پره راجح او صحيح ده، ځکه چې په دې کې مينه او محبت په حقيقي معنی اخيستل شوې ده، د ترجيح بله وجه دا ده چې کله مونږ ددې نه ظاهري مينه او محبت مراد واخلو، نو په دې کې ضمني طور داسې کس ته د پرښتو دعاګانې کول او د الله ﷻ نه ورته بخښنه غوښتل داخليږي.

د يو صحابي مينه د سورة اخلاص سره

"وعن عائشة رضي الله عنها: أنّ رسول الله ﷺ بعث رجلاً على سريّة فكان يقرأ لأصحابه في صلاتهم فيختم بـ ﴿قل هو الله أحد﴾"

"د عائشې رضي الله عنها روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ يو سړی د لښکر امير وټاکلو، نو دغه سړي چې به کله جمع ورکول، د هر لمانځه په آخر کې به يې په قل هو الله احد لوستلو. "فلمّا رجعوا ذكروا ذلك لرسول الله ﷺ فقال: سلوهُ لأيّ شيء يصنع ذلك" کله چې هغوی راواپس شو، نو خلکو ددې کيسې ذکر رسول الله ﷺ ته

وکړو، نبي اکرم ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې د هغه څخه پوښتنه وکړئ چې دا کار به يې ولې کولو؟ "فَسَأَلُوهُ فَقَالَ: لِأَنَّهَا صِفَةُ الرَّحْمَانِ فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَقْرَأَ بِهَا" هغوى ترې پوښتنه وکړه. هغه ورته وويل په دې سورت کې د «رحمن» ذات صفت پروت دى او زه دا خوښوم چې زه يې ووايم. "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: أَخْبِرُوهُ أَنَّ اللهَ تَعَالَى يُحِبُّهُ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل هغه ته ووايئ چې الله ﷻ هم دده سره مينه کوي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

يختم: "ختم ختماً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده مهر لګول، د کوم کار نه فارغېدل

په سورة اخلاص سره د قرائت ختمولو دوه مطلبه دي:

تشريح: "فيختم بقل هو الله أحد" يعني هغه به خپل لمونځ د سورة اخلاص په قرائت ختمولو. محدثينو ددې جملې دوه مطلبه بيان کړي دي: لومړى دا چې د هر لمانځه په آخري رکعت کې به يې سورة اخلاص (قل هو الله احد) ويلو، دويم مطلب دا دى چې هغه کس به په هر رکعت کې سورة فاتحه، وروسته بل سورت ويلو، بيا به يې وروسته سوره اخلاص هم ويلو، (ابن جرير رحمه الله دې قول ته ترجيح ورکړې ده)

"أخبروه أن الله تعالى يحبه" نبي کريم ﷺ وفرمايل ددې سورة سره د مينې په وجه الله ﷻ دده سره مينه کوي، ځکه چې په دې سورة کې د الله ﷻ وحدانيت او توحيد پروت دى کوم چې الله ﷻ ته ډېر خوښ ده.

باب التحذير من إيذاء الصالحين والضعفة والمساكين

نيکانو، کمزورو، مسکينانو ته په تکليف رسولو باندې د سزا بيان

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي "وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا" هغه کسان چې مسلمانانو سړو او مسلمانانو ښځو ته ناحقه تکليف ورکوي، "فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَاناً وَإِثْماً مُبِيناً" نو دوى به ځان باندې د ظلم او ښکاره ګناه دروند بار واچولو [الأحزاب:۵۸]

تشريح او شان نزول: کومو خلکو چې په ام المؤمنين عائشه صديقه رضي الله عنها باندې د زنا تهمت ولګولو، د داسې کسانو په باره کې دغه آيت نازل شو، د مقاتل رحمه الله رايه دا ده چې ددې آيت شان نزول د علي رضي الله عنه په باره کې دى، کله چې هغه ته يو کس خيرې وکړې، هغه پرې سخت خفه شو، په دې باندې دغه آيت نازل شو، مفسرين رحمهم الله ليکي چې د آيت شان نزول عمومي طور سره خاص وي، ليکن حکم يې عام وي، لهذا هر هغه کس چې بې وجهې مسلمان سړي يا ميرمنې ته تکليف رسوي، هغوى ټول ددې آيت په وعيد کې داخل دي، د همدې آيت په مضمون کې دغه حديث هم دى چې په تاسو کې کامل مسلمان هغه دى د چا د لاس او ژبې د ضرر او تکليف څخه بل مسلمان محفوظ وي

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي "فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ" په يتيم باندې غوسه مه کوه. "وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ" او سوال کونکى مه رټه [الضحى:۹-۱۰].

تشريح: "القهر" معنى ده غلبه، مطلب دا چې كوم يتيم ضعيف او بې وارثه مه ګڼه چې ته د هغه په مال او حق باندې مسلط شې او حق يې ورته ضايع كړې، همدا وجه ده چې په حديثو كې رسول الله ﷺ د يتيم سره د شفقت او مهربانۍ كولو حكم فرمايلى دى، مثلاً په يو روايت كې دي چې تر ټولو غوره او افضل كور په مسلمانانو كې هغه دى چې يتيم پكې وي او د هغه سره ښه سلوك كوي

"وأما السائل فلا تنهر" د تنهر معنى ده رټل، برابره خبره ده چې كه يو سوالګر ورتې يا يو علمي او شرعي مسئلې پوښتنې لپاره يو طالب علم ورتې، د نبي كريم ﷺ ارشاد دى چې سائل ته څه نا څه وركړه كه هيڅ هم درسره نه وي نو په نرمۍ سره ورته عذر بيان كړه، حسن بصري رحمه الله ددې نه طالب علم مراد كړى دى چې كه هغه د كومې علمي مسئلې پوښتنې لپاره راشي، نو هغه مه رټه او مه يې بې عزته كوه

"وأما الأحاديث، فكثيرة منها: حديث أبي هريرة رضي الله عنه في الباب قبل هذا: مَنْ عَادَى لِي وَلِيّاً فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ" هر چې حديثونه دي نو هغه ډېر زيات دي، د هغې څخه يو حديث د ابو هريره رضي الله عنه دى چې په مخكې باب كې تېر شو كوم كس چې زما د دوست او ولي سره دښمني كوي، نو د داسې كس سره زما د جنګ اعلان دى، "ومنها حديث سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه السابق في باب ملاطفة اليتيم" په دې باره كې د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه حديث دى كوم چې مخكې په باب ملاطفة اليتيم يعنې د يتيم سره د نرمۍ په باب كې تېر شو،

"وقوله ﷺ: يَا أَبَا بَكْرٍ، لَئِنْ كُنْتَ أَغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ أَغْضَبْتَ رَبَّكَ" او د رسول الله ﷺ دا قول چې اې ابوبكر رضي الله عنه! كه تا هغه په غوسه كړي وي؛ نو په تحقيق سره تا الله جل جلاله په غوسه كړو.

د سهار لمونځ كولو سره انسان د الله جل جلاله په ذمه كې راځي

"وعن جندب بن عبد الله رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ: مَنْ صَلَّى صَلاةَ الصُّبْحِ، فَهُوَ فِي ذِمَّةِ الله" د جندب بن عبد الله رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل كوم كس چې د سهار لمونځ وكړي، نو داسې كس د الله جل جلاله په ذمه كې دى، "فَلاَ يَطْلُبَنَّكُمُ الله مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ" نو اوس دې هغه داسې څه حركت نه كوي چې د الله جل جلاله په ذمه وارۍ كې يې فرق راشي، "فَإنَّهُ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ" او هسې نه چې ستاسو نه هغه پوښتنه وكړي، ځكه چې هغه ذات د چا نه پوښتنه وكړي، نو بيا هغه رانيسي. "ثُمَّ يَكُبُّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ" چې ددې نتيجه دا راوځي چې بيا يې نسكور او پرمخې په جهنم كې اچوي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

يكبه: "كب كباً" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده لوښې په څټ كېښودل، پرمخې پرېوتل

تشريح دا حديث په ورانديې "باب تعظيم حرمات المسلمين وبيان حقوقهم والشفقة عليهم ورحمتهم" كې بيان شوى دى، "من صلى صلوة الصبح" څوک چې د سهار لمونځ وكړي، "فهو في ذمة الله" هغه د الله جل جلاله په ذمه كې داخل شو

د الله ﷻ په ذمه کې راتلو درې معناګانې دي:

لومړی مطلب يې دا دی چې: کوم کس د سهار لمونځ کوي، نو داسې کس د الله ﷻ په ذمه کې راشي، څوک چې داسې کس ته تکليف رسوي، هغه د الله ﷻ عهد ماتوي، بيا به الله ﷻ داسې کس ته سزا ورکوي

دويم مطلب دا دی چې کوم کس په جماعت سره د سهار لمونځ وکړي، نو داسې کس د الله ﷻ سره عهد وکړي چې اوس به ټوله ورځ زه د الله ﷻ په احکاماتو عمل کوم، که اوس هغه داسې نه کوي بلکې ټوله ورځ خپله من ماني کوي چې زړه يې څه وغواړي هغه کوي، هغه چې د الله ﷻ سره کوم عهد کړی وو، هغه يې مات کړو، نو ددې عهد پوښتنه به الله ﷻ کوي او په دې باندې به يې مؤاخذه کيږي

دريم مطلب يې دا دی چې: کوم کس د سهار لمونځ وکړي، نو د داسې لپاره الله ﷻ په دنيا او اخرت کې د امن ورکولو عهد او پيمان وکړي، د سهار لمانځه زيات اهتمام پکار دی، که قضاء شي، نو په دې به يې مؤاخذه کيږي او د الله ﷻ د مواخذې نه څوک خلاصيدونکې نشته

باب إجراء أحكام الناس على الظاهر وسرائرهم إلى الله تعالى

د خلکو په ظاهر باندې احکام جاري کول او پټې خبرې الله ﷻ ته د سپارلو بيان

"قَالَ اللّٰـــه تَعَالٰى" الله ﷻ فرمايي: "فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ" که دوی توبه وباسي او د لمانځه پابندي وکړي او زکواة ورکړي، "فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ" نو بيا د دوی لاره خوشې کړئ: [التوبة:۵].

تشريح: مفسرين ددې ايت مطلب داسې بيانوي چې: کوم کس د کفر او شرک نه توبه وباسي، په ظاهري لحاظ د فرضي احکاماتو: روژې، لمونځ، زکات وغيره پابندي وکړي، نو اوس به په هغه باندې هيڅ تعرض نه شي کېدلی، اگر چې هغه د نفاق په توګه دا کارونه کوي، د هغه معامله به الله ﷻ ته سپارل کيږي، ځکه چې د زړونو د حالاتو نه صرف يو الله ﷻ خبر دی، مسلمانان صرف په ظاهري احکاماتو پابند دي، هو! که هغه د دين د ضروري احکاماتو نه انکار وکړي، مثلاً: فرضي لمونځ، روژه، حج، زکات وغيره نه انکار وکړي يا د آخرت، کتابونو، پيغمبرانو، ملائکو وغيره نه انکار وکړي، نو اوس به داسې کس ته مسلمان نه شي ويلی.

تر هغه به جنګ کيږي تر څو چې ايمان قبول نه کړي

"وعن ابن عمر رضي اللّٰـــه عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ" د ابن عمر رضي الله عنهما روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ماته ددې خبرې حکم شوی دی چې زه به تر هغه پورې خلکو سره جنګېږم تر څو دوی ددې خبرې شاهدي ورکړي چې نشته لائق د عبادت سيوا د الله ﷻ نه او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی، "وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذٰلِكَ عَصَمُوا مِنِّي

وَمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ" او د لمانځه پابندي شروع کړي او زکات ورکړي. کله چې دوی دا کار وکړي، نو د دوی وینې او مالونه زما څخه محفوظ پاتې شول، "إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ تَعَالَى" لیکن د اسلام د حق د پوره کولو لپاره به د ځان او مال مطالبه کوي او د هغوی حساب او کتاب الله ﷻ ته سپارو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

عصموا: "عصم عصماً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده بچ کېدل، خلاصېدل، د ناکاره کارونو څخه حفاظت کېدل، له عذابه خلاصېدل

تشريح "أمرت أن أقاتل الناس" ما ته حکم شوی دی چې تر هغې به جنګیږم تر څو چې خلک کلمه ونه وايي، د ځمکې ملکيت د الله ﷻ سره دی او په دې به د الله ﷻ نظام قائميږي، د همدې مقصد لپاره الله ﷻ انبياء عليهم السلام راولېږل. انبياء عليهم السلام تر ممکنه حده دا کوشش وکړو چې د الله ﷻ په ځمکه د الله ﷻ اسلامي نظام قائم شي، هغه نظام چې پوره په پوره به د يو الله ﷻ حکم او قانون پکې چلېږي. څوک چې ددې اسلامي نظام ختمولو او ددې په وړاندې د خنډ جوړولو کوشش کوي، د هغوی سره دې جهاد وکړی شي چې ټول خلک د يو الله ﷻ منونکي شي او د يو الله ﷻ عظمت او لويي بې په زړونو کې ځای ونيسي، زکاتونه ورکړي او لمونځونه قائم کړي

که خلک نه ايمان راوړي او نه لمونځ کوي او نه هم زکات ورکوي، بيا د يو بل روايت نه معلوميږي چې دوی به ټيکس جزيه ادا کوي، ددې په بدله کې به ورته اسلامي امارت د مال، ځان او عزت تحفظ ورکوي، که هغه اسلام نه قبلوي او جزيه هم نه ورکوي؛ نو بيا به د داسې خلکو سره جهاد کولی شي

"عصموا مني دماءهم وأموالهم إلا بحق الإسلام وحسابهم على الله تعالى" که په دوی کې کوم کس مسلمان شو نو د دوی مال او ځان به محفوظ شي او حساب به يې په الله ﷻ وي، علماوو ليکلي: اګر چې هغه ظاهراً مسلمان وي، په زړه کې کفر او نفاق ساتي، خو بيا به هم د هغه مال او ځان ته څوک تعرض نه شي کولی، د هغه مال، ځان او عزت خيال به ساتلی شي، ځکه چې شريعت په ظاهر فيصله کوي، باطني حال يې صرف يو الله ﷻ ته معلوم دی، الله ﷻ به خپله د داسې خلکو سره حساب کتاب کوي. د اسلام راوړو وروسته به اوس هغه زکات هم ورکوي او که ناجائز قتل وکړي، نو قصاص کولی به هم شي، په داسې حال کې به د هغه مال او ځان ته هيڅ حفاظت حاصل نه وي

څوک چې د توحيد کلمه ووايي: د هغه مال او ځان خوندي شو

"وعن أبي عبد الله طارق بن أشيم ﷺ قال: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يقول: مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَكَفَرَ بِمَا يُعْبَدُ مِنْ دُونِ اللهِ" د ابو عبد الله طارق بن اشيم ﷺ روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايي: کوم کس چې ددې خبرې شاهدي ورکړي چې نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ نه او انکار وکړي د بل چا د بندګۍ او عبادت څخه. "حَرُمَ مَالُهُ وَدَمُهُ، وَحِسَابُهُ عَلَى اللهِ تَعَالَى" نو د هغه مال او ځان محفوظ شو او دده حساب کتاب الله ﷻ ته وسپارل شو. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

كفر: "كفر كفراً" باب نصر ينصر دى، لغوي معنى يې ده پټول، ناشكري كول، په اصطلاح كې كافر كېدلو ته وايي

تشريح: كومو كفارو او مشركينو چې كلمه وويل، اسلام يې قبول كړو، اوس هغوى د مسلمانانو وروڼه ګڼل كيږي، د دوى مال، ځان او ناموس حفاظت به په اسلامې امارت لازم وي. هر څوك چې د هغه مال يا ځان ته تعرض وكړي نو په اسلامي امارت لازمه ده چې د هغه مال بېرته اخيستلو هلې ځلې وكړي او كه قتل كړى يې وي، نو قصاص به ورته اخلي. "حسابه على الله تعالى" د هغه د باطن او پټې غلطې عقيدې حساب د الله ﷻ په ذمه دى، هغه به يې ترې اخلي. علامه طيبي رحمه الله فرمايي: څوك چې په ظاهره كلمه ووايي نو هغه به مسلمان ګڼل كيږي، په دې كې هغه مخلص ؤ او كه نه؟ ددې تحقيق به نه شي كولى

د راوي طارق بن اشيم رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې طارق رضي الله عنه دى، كنيت يې ابو عبد الله دى، د پلار نوم يې اشيم دى، د كوفې اوسېدونكى وو، اسماء الرجال عالمانو اختلاف كړى دى چې څومره مرويات ترې نقل دي؟ علامه برقي رحمه الله فرمايي: څلور حديثونه ترې نقل دي، څينو نورو كم او ځينو زيات ښودلي دي

د جنګ پر مهال كلمه ويونكى به مسلمان وي

"وعن أبي معبد المقداد بن الأسود رضي الله عنه، قَالَ: قُلْتُ لرسول الله ﷺ: أَرَأَيْتَ إِنْ لَقِيتُ رَجُلاً مِنَ الكُفَّارِ، فَاقْتَتَلْنَا" د ابو معبد مقداد بن اسود رضي الله عنه نه روايت دى، فرمايي چې يوه ورځ ما رسول الله ﷺ ته وويل يا رسول الله ﷺ ددې خبرې خبر راكړه چې كه زما سره د كافرانو څخه يو كافر په جهاد كې مخامخ شي او موږ دواړه جنګ وكړو، "فَضَرَبَ إِحْدَى يَدَيَّ بِالسَّيْفِ، فَقَطَعَهَا" بيا هغه زما يو لاس په توره پرې كړي، "ثُمَّ لاذَ مِنِّي بِشَجَرَةٍ، فَقَالَ: أَسْلَمْتُ لِلَّهِ" بيا زما د وار څخه د بچ كېدو لپاره يو بوټي ته پورته شي او دا خبره وكړي چې د الله ﷻ لپاره ما اسلام راوړى دى، "أَأَقْتُلُهُ يَا رَسُولَ اللهِ بَعْدَ أَنْ قَالَهَا؟" ايا زه هغه قتل كړم، وروسته له دې چې هغه دا كلمه ويلې وي؟ "فَقَالَ: لا تَقْتُلْهُ!" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: نه! مه يې وژنه! "فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، قَطَعَ إِحْدَى يَدَيَّ، ثُمَّ قَالَ ذلِكَ بَعْدَ مَا قَطَعَهَا؟" ما ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! چې زما يو لاس يې پرې كړى وي او ددې نه وروسته يې د اسلام اقرار كړى وي؟! "فَقَالَ: لا تَقْتُلْهُ، فَإِنْ قَتَلْتَهُ فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ وَإِنَّكَ بِمَنْزِلَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ التي قَالَ" نبي اكرم ﷺ هم هغسې وفرمايل چې مه يې وژنه! كه تا هغه مړ كړو نو هغه ته به هغه درجه وركړى شي په كومه درجه چې ته مخكې وې او ته به په هغه درجه كې راشې چې هغه د اسلام منلو څخه مخكې وو. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"ومعنى أنه بمنزلتك: أي: معصوم الدم محكوم بإسلامه" او معنى د "أنه بمنزلتك" دا دى چې د هغه وينه به د اسلام راوړلو په وجه محفوظه پاتې شي يعنې وژل به يې حرام وي، "ومعنى: أنك بمنزلته، أي: مباح الدم

بالقصاص لورثته لا أنه بمنزلته في الکفر والله أعلم" او د "انك بمنزلته" معنی دا ده چې ته به مباح الدم شي یعني وارثانو ته یې حق حاصل دی چې تا قصاص کړي، لیکن ددې دا مطلب نه دی چې ستا درجه: کافر شوه یعني کافر شوې، نور الله ﷻ ډېر ښه پوهیږي.

تشریح: "لقيت رجلاً من الكفار" که زه د جنګ پرمهال د یو کافر سره جنګ وکړم، علماء لیکي اسلام چې ډېر اوچت او بین المللي مذهب دی، ددې مذهب سخاوت د جنګ پرمهال هم ثابتیږي چې که د جنګ پرمهال یو کافر ستا د لاس لاندې راشي او هغه درته کلمه ووایي: نو اسلام دغه کافر مسلمان بولي.

که څوک کلمه ویونکی قتل کړي؟

"فإن قتلته فإنه بمنزلتك قبل أن تقتله" یعني ددې قتل نه وړاندې ته معصوم الدم مسلمان وې، ستا قتل جائز نه وو، لیکن کله چې دې هغه قتل کړو، نو اوس ته مباح الدم وګرځېدې. لکه څرنګه چې هغه د کلمې ویلو نه وړاندې مباح الدم کافر وو، د هغه مرګ جائز وو، د کلمې ویلو وروسته معصوم الدم مسلمان شو، مرګ یې جائز نه دی.

قاضي عیاض رحمه الله فرمایي ددې مطلب دا دی چې د حق په ممانعت کې او د ګناه په ارتکاب کې ته د هغه په شان شوې، اګر چې دواړه په ګناه کې مستقل دي، د اسلام راوړلو وړاندې ددې سړي ګناه کفر وو، د اسلام راوړلو وروسته د قتل په وجه د هغه بل کس (یعني قاتل) ګناه کفر نه ده خو فسق ده.

د راوي ابو معبد مقداد بن اسود رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم یې مقداد رضي الله عنه دی، کنیت یې ابوالاسود دی، د پلار نوم یې عمرو دی، د اسود په نوم یې د شهرت وجه دا ده چې دده کورولاد اسود بن عبد یغوث خاندان سره حلیفانه تعلق درلود، په دې وجه د مقداد بن عمرو په ځای د مقداد بن اسود په نوم مشهور شو، د اسلام په شروع کې یې ایمان راوړی دی، حبشې ته یې هم هجرت کړی دی، د نبي کریم ﷺ سره په ګڼو غزاګانو کې شریک شوی دی، په حق خبره کې یې د چا څخه وېره نه کول.

په مسند احمد کې یو روایت دی یو تابعي د هغه په وړاندې دا خبره وکړه چې کاش زه هم د رسول الله ﷺ په زمانه کې وای، ما به ایمان هم راوړی وای او خدمت به مې هم ترې کړی وای، په دې خبره مقداد رضي الله عنه سخت خفه شو، وې فرمایل ډېر خلك د رسول الله ﷺ په زمانه کې موجود وو، لیکن هغوی ته ایمان نصیب نه شو، معلومه نه ده چې ستاسو شمار به په کوم ګوند کې کېدلو، خلکو ته بکار ده چې د الله ﷻ شکر ادا کړي، بې له امتحانه او ازمایښتونو تاسو د رسول الله ﷺ د تعلیم نه مستفیض شوئ.

وفات: خېټه یې ډېره غټه وه، یو رومي غلام د هغه د خېټې اپرېشن وکړو چې له امله یې زخم ډېر زیات شو او د همدې درد له امله په دري دېرشمه هجري کې د عثمان رضي الله عنه په دور خلافت کې په مقام شرف کې وفات شو، عثمان رضي الله عنه یې جنازه وکړه او په جنت البقیع کې دفن شو، دغه وخت د اویا / ۷۰ کالو وو.

مرویات دوه څلوېښت حدیثونه ترې نقل دي، په یو حدیث یې بخاري او مسلم متفق علیه دي، امام مسلم رحمه الله په درې حدیثونو کې منفرد دی

اسامه رضي الله عنه وويل: ارمان چې د نن نه مخکې مسلمان نه وای!

"وعن أسامة بن زيد رضي الله عنهما، قَالَ: بعثنا رَسُول الله ﷺ إِلَى الْحُرَقَةِ مِنْ جُهَيْنَةَ فَصَبَّحْنَا الْقَوْمَ عَلَى مِيَاهِهِمْ" د اسامه بن زيد رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ موږ جهينه قبيلې طرفته د وادي حرقه په طرف روان کړو، موږ سهار وختي د هغوی د اوبو کوهي يا چينې ته ورسېدو. "وَلَحِقْتُ أَنَا وَرَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ رَجُلاً مِنْهُمْ، فَلَمَّا غَشِيْنَاهُ" نو زه او يو انصاري صحابي د دغې قبيلې يو کس پسې شو، زموږ په مينځ کې جنګ وشو، موږ هغه لاندې کړو، "قَالَ: لاَ إلهَ إلاَّ الله، فَكَفَّ عَنْهُ الأَنْصَارِي، وَطَعَنْتُهُ بِرُمْحِي حَتَّى قَتَلْتُهُ" هغه "لا اله الا الله" کلمه وويل، انصاري صحابي ترې سمدستي لرې شو، ليکن ما په خپله نيزه دومره ووهلو چې هغه مړ شو، "فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ، بَلَغَ ذلِكَ النَّبيَّ ﷺ فَقَالَ لِي: يَا أُسَامَة، أَقَتَلْتَهُ بَعْدَ مَا قَالَ لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ؟" کله چې موږ مديني منورې ته راورسېدو، نو نبي اکرم ﷺ ته دا خبر ورسېدو، نبي اکرم ﷺ ماته وفرمايل: اې اسامه رضي الله عنه! تا هغه مړ کړو، وروسته له دې چې هغه "لا اله الا الله" وويل؟! "قُلْتُ: يَا رَسُولَ الله، إِنَّمَا كَانَ مُتَعَوِّذاً" ما وويل يا رسول الله ﷺ هغه خو دا کلمه د وېرې او د ځان د خلاصون لپاره ويلې وه، "فَقَالَ: أَقَتَلْتَهُ بَعْدَ مَا قَالَ لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ؟" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ايا تا هغه مړ کړو وروسته له دې چې هغه "لا اله الا الله" ويلې وه؟! "فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا عَلَيَّ حَتَّى تَمَنَّيْتُ أنِّي لَمْ أَكُنْ أسْلَمْتُ قَبْلَ ذلِكَ الْيَوْمِ" دا جمله يې بيا بيا تکرارول چې هغه دې ووژلو، وروسته له دې چې هغه دا کلمه ويلې وه، نبي اکرم ﷺ دا پوښتنه دومره زياته تکرار کړه چې ماته ارمان راغلو چې ارمان د نن نه مخکې هيڅ مسلمان شوی نه وای. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"وفي رواية: فَقَالَ رَسُول الله ﷺ: ((أَقَالَ: لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ وَقَتَلْتَهُ؟!)) قُلْتُ: يَا رَسُولَ الله، إِنَّمَا قَالَهَا خَوفاً مِنَ السِّلاَحِ" په يو روايت کې داسې هم دي چې نبي اکرم ﷺ وفرمايل: هغه به "لا اله الا الله" ويل او تا به هغه وژلو، ما وويل: يا رسول الله ﷺ! هغه خو دا کلمه د اسلحې له وېرې ويل، "قَالَ: أَفَلاَ شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهِ حَتَّى تَعْلَمَ أَقَالَهَا أَمْ لاَ؟" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ايا تا د هغه زړه څيرې کړی وو چې پته درته لېګدلې وې چې هغه دا کلمه د زړه له اخلاصه ويل او که نه؟ "فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى تَمَنَّيْتُ أنِّي أسْلَمْتُ يَوْمَئذٍ" نبي اکرم ﷺ دا جمله څو ځله تکرار کړه، ماته ارمان راغلو چې ارمان ما نن اسلام راوړی نه وای.

"الْحُرَقَةُ: بضم الحاءِ المهملة وفتح الراءِ: بَطْنٌ مِنْ جُهَيْنَةَ: القَبِيلَةُ الْمَعْرُوفَةُ" لفظ د "الحرقة" په ضمې د "ح" مهمله سره او په فتح د (ر) سره دی، دا په جهينه قبيله کې يوه وادي/ دره ده، "وقوله: ((مُتَعَوِّذاً)): أيْ مُعْتَصِماً بِهَا مِنَ القَتْلِ لاَ مُعْتَقِداً لَهَا" او دا قول چې متعوذاً ددې مطلب دا دی: د قتل نه د بچ کېدو لپاره يې داسې وويل د عقيدې نه يې نه دي ويلې.

لغوي تحقيق:

صبحنا: "صبحه" د سهار پر مهال سفر كول، د سهار شراب څښل، "صبح القوم الماء" قوم د سهار پر مهال د اوبو ځاي ته رسيدل

لاذمني: "لاذيلوذلوذا" غره كې پټيدل، قلعه بنديدل

تشريح "إلى الحرقة من جهينة" په عربو كې يوه مشهوره قبيله جهينه وه، ددې قبيلې يو خاندان دوچې نوم يې حرقه وو، حرقه په اصل كې د يو كس نوم وو چې دده اصلي نوم جحش بن عامر بن ثعلبة بن مودعة بن جهينة وو، حرقه په اصل كې سوځولو ته ويل كيږي، هغه ته هم ځكه حرقه ويل كيږي چې يوه ورځ يو قوم يې وژلي ؤ، بيا يې د وژلو وروسته ټول سوځولي وو

"طعنته برمحي حتى قتلته" په يو بل روايت كې دي چې "فلما رجع عليه السيف قال: لااله الا الله فقتلته" مطلب دا چې اول مې په نيزه ووهلو او په يو بل روايت كې دي چې په توره مې ووهلو، په دې دواړو كې حافظ ابن حجر رحمه الله داسې تطبيق كړى دى چې اول مې غوښتل چې په توره يې قتل كړم، خو په توره مې پرې وار ونه شو كړى، بيا مې په نيزه مړ كړو

"حتى تمنيت أني أسلمت يومئذ" ما ته ارمان راغلو چې كاش! زه اوس مسلمان شوى واى، اسامه رضي الله عنه ته رسول الله صلى الله عليه وسلم تنبيه وركول چې كله هغه په ژبه كلمه وويل، نو د هغه د كلمې ويلو ته بايد اعتبار وركړى شوى واى، پاتې شوه د زړه خبره نو هغه دې بايد الله جل جلاله ته سپارلې واى

د جنګ په ميدان كې نوي مسلمان قتلولو باندې قصاص نشته:

دلته سوال پيدا كيږي چې بيا ولې د اسامه رضي الله عنه نه قصاص وانخيستل شو چې هغه يو مسلمان قتل كړو؟ ځواب دا دى چې دلته شبه پيدا شوه چې كه كافر وي نو قتل يې جائز دى او كه مسلمان وي نو قتل يې ناجائز دى، ددې شبهې په وجه قصاص ساقط شو، پاتې شوه د ديت خبره، نو ديت واجب دى او اسامه رضي الله عنه به ديت ادا كړى وي، يا به يې د بيت المال نه ادا كړى وي، دواړه صورتونه جائز دي، په دې حديث كې د كفارې يا ديت بيان نشته، ددې نه دا ثابته شوه چې د كومې مسئلې حكم سمدستي بيانول ضروري نه دي، په تاخير سره يې هم بيانول جائز دي، ددې واقعې نه وروسته اسامه رضي الله عنه قسم وكړو چې د مسلمانانو سره به جنګ نه كوم، په دې وجه هغه په جنګ جمل او جنګ صفين كې شريك نه شو

اسامه رضي الله عنه تكړه مبارز قتل كړو

"وعن جندب بن عبد الله رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ بَعْثاً مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَى قَوْمٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، وَأَنَّهُمُ الْتَقَوْا، فَكَانَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِذَا شَاءَ أَنْ يَقْصِدَ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَصَدَ لَهُ فَقَتَلَهُ" د جندب بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دى فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو يوه ډله د مشركانو سره د جهاد لپاره ولېږل، د دوى ترمنځه مقابله وشوه، په مشركانو كې يو كس داسې بهادر وو چې د كوم مسلمان قتل كولو نيت به يې وكړ هغه به يې سمدستي قتل كړو. "وَأَنَّ رَجُلاً مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَصَدَ غَفْلَتَهُ. وَكُنَّا نُحَدَّثُ أَنَّهُ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، فَلَمَّا رَفَعَ عَلَيْهِ السَّيْفَ" او

په مسلمانانو کې هم یو کس وو چې هغه اراده وکړه کله چې هغه مشرك ناخبره ګير کړو، نو قتل به یې کړو، موږ په خپلو کې خیال وکړو چې هغه اسامه بن زید رضي الله عنه دی، کله چې یې د هغه په مقابله کې د هغه د قتل کولو لپاره توره اوچته کړه، "قَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، فَقَتَلَهُ، فَجَاءَ الْبَشِيرُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَسَأَلَهُ وَأَخْبَرَهُ حَتّٰى أَخْبَرَهُ خَبَرَ الرَّجُلِ كَيْفَ صَنَعَ، فَدَعَاهُ فَسَأَلَهُ فَقَالَ: لِمَ قَتَلْتَهُ؟" نو هغه سړي کلمه وويل، اسامه بن زید رضي الله عنه هغه قتل کړو، هغه په دې کې يو زيرې ورکوونکی رسول الله ﷺ ته راغلو، نبي اکرم ﷺ تري د حالاتو پوښتنه وکړه، هغه ټول تفصيلات او د ځوان ټوله واقعه بيان کړه، نبي اکرم ﷺ اسامه رضي الله عنه راوغوښتلو او پوښتنه یې تري وکړه چې ولې تا هغه قتل کړو؟ "فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، أَوْجَعَ فِي الْمُسْلِمِينَ، وَقَتَلَ فُلَانًا وَفُلَانًا، وَسَمّٰى لَهُ نَفَرًا، وَإِنِّي حَمَلْتُ عَلَيْهِ، فَلَمَّا رَأَى السَّيْفَ، قَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ" اسامه رضي الله عنه وفرمايل: يا رسول الله ﷺ هغه په مسلمانانو کې وېره خپره کړې وه او فلاني فلاني کسان يې شهيدان کړل او د شهيدانو نومونه يې ورته په شمار وښودل، ما پرې حمله وکړه، کله چې يې توره په خپل سر اوچته وليده، نو "لا اله الا الله" کلمه يې وويل، "قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ((أَقَتَلْتَهُ؟)) قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: ((فَكَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟" نبي اکرم ﷺ وفرمايل تا هغه قتل کړو، ما ورته وويل: هو نبي اکرم ﷺ وفرمايل چې د کلمې سره به څه کوې چې فريادي جوړېدو سره به راشي، نو "لا اله الا الله" ته به څه ځواب ورکوې؟ "قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، اسْتَغْفِرْ لِي، قَالَ: وَكَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟" اسامه رضي الله عنه وفرمايل: يارسول الله ﷺ د الله ﷻ نه ماته بخښنه وغواړه، نبي اکرم ﷺ بيا وفرمايل: د "لا اله الا الله" کلمې سره به څه کوې کله چې هغه د قيامت په ورځ فريادي راشي؟ "فَجَعَلَ لَا يَزِيدُ عَلَى أَنْ يَقُولَ: كَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" ددې جملې نه بغير يې څه نه ويل چې کله به د قيامت په ورځ د "لا اله الا الله" کلمه راشي، نو ته به څه ځواب ورکوې؟ رواه مسلم

لغوي تحقيق: التقوا: "التقى الشئ و تلاقى القوم" خيني د خينو سره ملاوېدل، په خپل مينځ کې جنګېدل ددې واقعې پوره وضاحت وړاندې تېر شوی دی.

دا نسان په ظاهري اعمالو به فيصله کيږي

"وعن عبد الله بن عتبة بن مسعود، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه يَقُولُ: إِنَّ نَاسًا كَانُوا يُؤْخَذُونَ بِالْوَحْيِ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ وَإِنَّ الْوَحْيَ قَدِ انْقَطَعَ، وَإِنَّمَا نَأْخُذُكُمُ الْآنَ بِمَا ظَهَرَ لَنَا مِنْ أَعْمَالِكُمْ" د عبد الله بن عتبة بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د عمر رضي الله عنه نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: د رسول الله ﷺ په زمانه کې به د خلکو عيبونه رښتيا او دروغ د (وحي) په ذريعه معلومېدل او اوس خو وحي بنده شوه، اوس به موږ تاسو په هغو عملونو نيسو چې تاسو يې کوئ او موږ مو وينو، "فَمَنْ أَظْهَرَ لَنَا خَيْرًا أَمِنَّاهُ وَقَرَّبْنَاهُ، وَلَيْسَ لَنَا مِنْ سَرِيرَتِهِ شَيْءٌ، اللّٰهُ يُحَاسِبُهُ فِي سَرِيرَتِهِ" بس چې د کوم کس نه خير او نيکي ښکاره شي، موږ به د هغه نه مطمئن يو، زموږ د هغه د زړه د پټو رازونو سره څه کار نشته، د هغه د زړه د ارادو حساب به الله ﷻ اخلي، "وَمَنْ أَظْهَرَ لَنَا سُوءًا لَمْ نَأْمَنْهُ وَلَمْ نُصَدِّقْهُ وَإِنْ قَالَ: إِنَّ سَرِيرَتَهُ حَسَنَةٌ" او د کوم کس نه چې شر او بد عمل ښکاره شي، موږ د هغه څخه مطمئن نه يو او نه يې تصديق کوو، اګرچې د هغه د قول او وينا مطابق د هغه نيت ښه نه وي. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

امناه "امنا وامانا" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: مطمئن کېدل

تشريح د عمر ﷺ ددې قول نه ثابتيږي چې د رسول الله ﷺ د وفات وروسته اوس صرف دوه صورتونه پاتې دي. کوم کس چې اسلام قبول کړي، مسلمان به ګڼل کيږي او څوک چې اسلام نه قبلوي کافر دی. منافقت په وحي سره پيژندل کيږي چې فلانکی منافق دی. ليکن کله چې رسول الله ﷺ ددې نړۍ څخه رخصت شو، وحي بنده شوه، نو اوس موږ نه پيژنو او نه موږ ته پته شته چې فلانکی منافق دی او که مومن دی، دا د علم غيب خبره ده او علم غيب صرف د يو الله ﷻ خاصه ده. "الله يحاسبه في سريرته" علامه نووي رحمه الله فرمايي: د دوی سره د پټو خبرو حساب به الله ﷻ کوي چې په خوله د اسلام نعری وهي، ليکن په زړه کې يې ايمان شته يا نه؟ نو په دې تحقيق او تفتيش باندې موږ مکلف نه يو. داسې معامله موږ الله ﷻ ته سپارو.

باب الخوف

د الله تعالى څخه د وېرې بيان

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ" او خاص زما څخه ووېريږئ. [البقرة: ۴۰]

تشريح: په دې آيت سره بني اسرائيل مخاطب دي. رهبت هغه وېرې ته ويل کيږي چې د تقوی اولنۍ پوړۍ ده. الله ﷻ فرمايي چې زما سره کړې وعدې مه ماتوئ او زما په ټولو اوامرو پوره عمل وکړئ او د نواهيو څخه ځان وساتئ.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ" بې شکه ستا د رب نيول ډېر زيات سخت دي [البروج: ۱۲]

تشريح: ستا د رب نيول ډېر سخت دي، اول ګناهګارو خلکو ته مهلت ورکوي چې که کافر وي نو د کفر نه به شايد توبه وباسي او که ګناهګار وي نو د ګناه نه به رجوع وکړي او که داسې ونشي بيا ستا د رب نيول ډېر سخت دي، لکه د فرعونيانو، نمروديانو او ابوجهل په څېر ظالمان يې غرق، ډوب او مردار کړل، يا لکه د نن سبا زمانې فرعونه امريکا يې د الله پاک په وړوکي لښکر، متدين، عفيف، مظلوم بې سروسامان، طالب او افغان په لاس داسې غرقه او برباده کړه چې د دوی د غرور او تکبر نشه يې له سره تړې وويستل. اللهم انصر المجاهدين في كل مكان.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَىٰ وَهِيَ ظَالِمَةٌ" همدغه شان ستا د رب نيول دي کله چې د کلي خلک رانيسي او هغوی ظالمان وي، "إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْآخِرَةِ" ستا د رب نيول ډېر زيات سخت او ناکاره دي، بې شکه په دې کې د الله ﷻ د قدرت دلائل دي د هغه چا لپاره چې د آخرت له عذابه وېريږي، "ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ النَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ" دا داسې ورځ ده چې دې ته به

خلك راجمع كيږي او دا داسې ورځ ده چې په دې ورځ به ټول خلك راحاضر يږي. "وَمَا نُؤَخِّرُهُ إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعْدُودٍ" او موږ دوی نه وروسته كوو مگر د يوې مقررې نيټې لپاره. "يَوْمَ يَأْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ" په هغه ورځ چې دوی ټول به راشي، نو يو نفس به هم خبرې به نه شي كولی مگر د الله ﷻ په اجازت سره. "فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ" په دوی كې به دوه ډلې جوړې شي. ځينې به نېك وي او ځينې به بد خلك وي. "فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ" هغه خلك چې بدبخته دي بس دوی به په جهنم كې وي. دوی به يو قسم چغې وهي [هود: ۱۰۲-۱۰۶]

تشريح: "وكذالك أخذ ربك" همدغه شان ستا رب دی چې كله چاته مهلت وركړي او د هغه مهلت ختم شي نو بيا ستا د رب نيول ډېر سخت دي. هيڅوك يې ترې نه شي خلاصولی. يو ځل رسول الله ﷺ وفرمايل كله چې الله ﷻ يو كس ته مهلت وركول غواړي نو مهلت وركړي او كله يې چې ونيسي نو بيا ترې خلاصی نه لري او نه به يې ترې څوك خلاص كړي. ددې وروسته رسول الله ﷺ دغه پوره تنی آيت تلاوت كړو "وكذالك أخذ ربك اذا أخذ القرى وهى ظالمة".

"ان في ذالك لآية لمن خاف عذاب الاخرة" كله چې الله ﷻ ظالم را ونيسي نو په دې نيولو كې هم لوی عبرت دی هغو كسانو ته چې د آخرت له عذابه ويريږي. هغوی ويريږي چې اصلي عذاب خو د آخرت عذاب دی. دا خو صرف يوه نمونه وه. دغه واقعې چې دوی ووينې نو ممكنه ده چې دوی به گناهونه پريږدي

"ذالك يوم مجموع" د قيامت ورځ داسې ده چې دې ته به ټول خلك را جمع كيږي او هلته به د دوی حساب كتاب كيږي. "يوم يأت لا تكلم نفس الا باذنه" همدغه مضمون څو ځايه راغلی. مثلاً "لايتكلمون الا من اذن له الرحمن" تر هغې به څوك خبره قدرې ونه كړي چې تر څو الله ﷻ اجازه نه وي وركړې. د "يأت" فاعل لفظ د الله دی. يعنې په كومه ورځ چې به الله ﷻ راشي

"منهم شقي وسعيد" بس ځينې به بدبخته خلك وي او ځينې به نېك بخته وي. يعنې ځينې به جنت ته لاړ شي او ځينې به جهنم ته لاړ شي. "لهم فيها زفير وشهيق" هغوی به په دې جهنم كې چيغې وهي. مفسيرينو د زفير ګڼ شمېر معناګانې كړي دي. مثلاً سخت آواز. د خره لومړی آواز. ساه چې كله بهر ته شروع شي. دغه ډول د شهيق هم څه معناګانې شوي دي. مثلاً پست او ټيټ آواز. د خره انتهايي تېز اواز. ساه چې كله بنديدل شروع شي وغيره ... ټولې معناګانې مراد كېدلی شي. "اللهم احفظنا من نار جهنم"

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي "وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ" او د خپل ځان له طرفه الله ﷻ تاسو ويروي [آل عمران: ۲۸]

تشريح: مفتي محمد شفيع رحمه الله ددې آيت په تشريح كې فرمايي الله ﷻ تاسو د خپل ځان له طرفه ويروي. هسې نه چې د يو څو پيسو په خاطر خپل كريم ذات الله ﷻ خفه كړئ. صرف د ژبې تر حده

پورې د الله ﷻ نه ويره پکار نه ده، بلکې په زړونو کې هم د الله ﷻ نه ويره پيدا کول پکار دي، ځکه چې هغه داسې ذات دی چې د هغه په وړاندې د زړه خبرې او وسوسې هم پټې نه دي

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي چې "يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ" په دې ورځ به سړی د خپل ورور نه تښتي، "وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ" او د خپلې مور او د خپل پلار او د خپلې ښځې او د خپلو بچيانو نه به تښتي وهي، "لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ" په دې ورځ به د هر سړي خپل شان او کيفيت وي چې له الله پرته هر چا نه بې پروها وي [عبس: ۳۴-۳۷]

تشريح: په دې آيت کې د قيامت د ورځې منظر وړاندې شوی دی چې هلته به هر سړی د ځان په فکر او غم کې ډوب وي، د پريشانۍ حال به يې دا وي چې هغه خپلوان چې د خلکو سره به يې د هغوی په سر جګړې کولې، مثلاً مور، پلار، ورونه، بچي، ښځه وغيره ... اوس به يې دا حال وي چې قيامت ووينې، نو منډې به وهي چې هسې نه څه نېکۍ راځنه وغواړي، بس دې ورځې ته تياری کول پکار دي

"لکل امرء منهم يومئذ شان يغنيه" په هغه ورځ به د هر سړي يو حال وي، يعنې په خپل غم کې به ډوب وي چې د بل غم او فکر به ورسره نه وي، د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د قيامت په ورځ به خلک الله ﷻ د خپلو قبرونو نه بربنډ راپورته کوي، د نبي کريم ﷺ نه پوښتنه وشوه چې يا رسول الله ﷺ! که دوی بربنډ وي؛ نو يو بل ته به سره ګوري، دا خو به ډير شرم وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل په هغه ورځ به معامله دومره سخته وي چې چا ته به لاندې د سر ښکته کولو مهلت هم نه وي، هر سړي به خپلې سترګې پورته تيغې نيولې وي، يو بل ته به د نظر کولو مهلت ورسره نه وي

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ" اې خلکو! د الله ﷻ نه ووېرېږئ. "إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ" بې شکه د قيامت زلزله ډېر لوی شی دی، "يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ" ته به ووينې چې په دې ورځ به هره شيدو ورکوونکې ښځه خپل بچی هېر کړي. "وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا" او هره حامله ښځه به خپل بچی د ډېرې ويرې نه وزېږوي، "وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَىٰ وَمَا هُم بِسُكَارَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ" او ته به ووينې چې خلک به نشه وي او حال دا چې دوی به نيشه نه وي بلکې د الله ﷻ له عذابه به په ويره کې وي او د الله ﷻ عذاب ډېر زيات سخت دی [الحج: ۲]

تشريح "يا أيها الناس اتقوا ربكم" اې مؤمنانو! د الله ﷻ نه ووېرېږئ چې ستاسو رب دی. په يو روايت کې راځي چې يو ځل د سفر په دوران رسول الله ﷺ دغه آيت ډېر په اوچت اواز سره ولوستلو. صحابه کرام رضي الله عنهم ترې ګېر چاپېره کېناستل، بيا نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه چې تاسو ته علم شته چې په دې آيت کې د کومې زلزلې تذکره راغلې ده هغه به کومه ورځ وي؟ صحابه کرامو رضي الله عنهم سمدستي ووېل "الله ورسوله أعلم" نبي کريم ﷺ وفرمايل دا به هغه ورځ وي چې کله الله ﷻ آدم عليه السلام ته ووايي خلک

جهنم ته روان کړئ، آدم علیه السلام به پوښتنه وکړي چې جهنم ته داخلېدونکي خلک څومره دي؟ الله ﷻ به ورته وفرمايي: په زرو / ۱۰۰۰ کسانو کې به نهه سوه نهه نوي / ۹۹۹ کسان جهنم ته ځي. دا به هغه سخت حالت وي چې ټول ماشومان به له ډېرې وېرې بوډاګان شي. د کومو ښځو په خېټه چې حمل وي، حمل به يې ضايع شي، صحابه کرام ﷺ ډېر سخت خفه شو. بيا صحابه کرامو ﷺ پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! بيا خو زموږ بچ کېدل ګران دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: بې فکره شئ؛ جهنم ته تلونکي به د ياجوج ماجوج څخه زر کسان وي او ستاسو څخه به يو کس وي.

زلزله به کله راځي؟

په دې کې د مفسرينو ګڼ اقوال دي: لومړی قول دا دی چې دا زلزله به د قيامت نه وړاندې په دې دنيا کې راځي، دا به د قيامت آخري علامه وي. لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې دي: "إذا زلزلت الارض زلزالها" دغه آيت چې "إذا رجت الارض رجاً" ځينې علماء فرمايي چې دغه زلزله به د قيامت په ورځ کېږي. کله چې خلک يو ځل بيا راژوندي شي، ليکن دلته سوال پيدا کېږي چې بيا دغه آيت چې "كل ذات حمل حملها" يعني هره هغه ښځه چې حمل يې په خېټه وي، حمل به يې ضايع شي. د قيامت په ورځ خو به حمل نه وي نو حمل به څرنګه ضايع شي؟ که اولنی قول مراد شي يعني دغه زلزله به په دنيا کې راځي؛ نو بيا خو هيڅ اشکال نشته. ليکن که دغه دويم قول مراد شي يعني زلزله به د قيامت په ورځ راځي، نو بيا ځواب دا دی: هر هغه ښځه چې حمل به يې په دې دنيا کې په خېټه وي او د حمل په حالت کې مړه شي؛ نو همدغه ښځه به په دې حالت کې د قيامت په ورځ راپورته کولی شي، يعني حمل به يې هلته هم په خېټه وي، يا هغه ښځه چې خپل ماشوم ته شيدې ورکوي، نو همدغه ښځه به هم په دې حالت کې وي چې ماشوم ته به شيدې ورکوي او راپورته کولی به شي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ" او کوم کس چې د الله ﷻ سره د مخامخ کېدو څخه وېرېږي د هغه لپاره دوه جنتونه دي (هغه داسې فکر وکړي: که ګناه مې وکړه نو الله ﷻ ته به څه ځواب ورکوم) [الرحمان: ۴۶]

تشريح: "مقام ربه جنتان" جمهور صحابه کرام ﷺ ددې تفسير داسې بيانوي: د قيامت په ورځ به د الله ﷻ په وړاندې د حساب کتاب لپاره حاضرېږي، نو مسلمان ته ددې خبرې وېره ده چې که سبا د الله ﷻ سره مخامخ شوم، هغه خو به را سره د هرې ذرې ذرې حساب کوي، نو زه به څه ځواب ورکوم؟ لهذا په دې وجه هغه ګناهونه پرېږدي او ځينې نور مفسرين لکه علامه طيبي رحمه الله هم پکې شامل دي، هغوی يې داسې تفسير کوي چې: "مقام ربه" د دنيا په اعتبار سره دی. يعني په دنيا کې مسلمان وېرېږي چې الله ﷻ زموږ په هر قول او عمل باندې خبر دی او وينې يې، نو ددې وېرې له امله هغه ګناه نه کوي، "جنتان" يعني هغه ته به دوه جنتونه ملاوېږي، مقاتل رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد يو جنت عدن دی او بل جنت نعيم دی.

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي "وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ" هغوی يو بل ته مخونه وا ړول او پوښتني
بې شروع کړې، "قَالُوا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ" ددې نه مخکې هم موږ په خپلو کورونو کې د الله ﷻ نه
ويرېدو، "فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ" بس الله ﷻ په موږ باندې احسان وکړو او موږ بې د سخت
سوځونکي عذاب نه بچ کړو. "إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ" موږ د دې ورځې لپاره مخکې دعاګانې
غوښتلې، بې شکه هغه لوی احسان والا او مهربانه دی. [الطور: ۲۵-۲۸] "وَالآيات في الباب كثيرة جداً معلو
والغرض الإشارة إلى بعضها وقد حصل" په دې باب کې ايتونه ډېر زيات دي او معلوم دي، په دې کې مطلب
صرف اشاره کول دي او هغه حاصل شو.

تشريح "واقبل بعضهم على بعض يتساءلون" أقبل صيغه د ماضي ده، ليکن معنی يې د مستقبل ده، د يو بل نه
به د دنيوي حالاتو پوښتنې کوي، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې په دنيا کې کوم تکليفونه او
مصيبتونه ورته رسيدلي دي، ددې تذکره به په خپلو کې سره کوي. "انا کنا قبل في أهلنا مشفقين" موږ به ددې
څخه وېرېدو په خپلو کورونو کې له الله ﷻ نه په وېره کې ژوند تېرولو، ځکه خو الله ﷻ موږ به
آخرت کې له عذابه وساتلو، ځکه چې الله ﷻ دوه خوفه او دوه امنه سره نه جمع کوي، که په دنيا کې د
وېرې سره ژوند تېر کړو، نو په آخرت کې به بې غمه يو او که په دنيا کې امن سره ژوند تېر کړي، نو به
آخرت کې به له سختيو او عذاب سره مخامخ شي، "فمن الله علينا ووقانا عذاب السموم" سموم هغه اور ته وايي
کيږي چې په مساماتو کې دننه داخل شي او اور پرې بل کړي. حسن بصري رحمه الله فرمايي سموم د
جهنم يو نوم دی.

"إنا کنا من قبل ندعوه" يعنې په دنيا کې به موږ همدغه ذات کريم الله ﷻ ته چيغې او سورې وهلې او
دعاګانې به مو ترې غوښتلې، د دعاء نه عبادت هم مراد کېدلی شي، يعنې په دنيا کې به موږ د الله
ﷻ عبادت کولو، که د دعاء معنی واخيستل شي؛ نو بيا به يې معنی دا شي چې موږ به سوالونه کول
چې اې الله! د جهنم له عذابه مو وساتې! "إنه هو البر الرحيم" د (البر) معنی ده احسان او نيکي کونکی،
ابن عباس رضي الله عنهما ددې معنی په مهرباني سره کړې ده، علامه ضحاک رحمه الله ددې معنی په وعده پوره
کولو سره کړې ده.

وأما الأحاديث فكثيرة جداً نذكر منها طرفاً وبالله التوفيق:

يو سل شل ورځې وروسته په ماشوم کې روح اچول کيږي

"عن ابن مسعود رضي الله عنه، قَالَ: حدثنا رسول الله ﷺ وهو الصادق المصدوق: إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْماً نُطْفَةً" د عبد
الله بن مسعود رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ (کوم چې صادق او مصدوق دی) بيان وکړ
چې تاسو د مور په خېټه کې څلوېښت ورځې د نطفې په شکل کې اوسيږئ، "ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ" بيا
په څلوېښتو ورځو کې د وينې ټوټه جوړه شي، "ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ" بيا په څلوېښتو ورځو کې د
غوښې ټوټه جوړه شي، "ثُمَّ يُرْسَلُ الْمَلَكُ، فَيَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ" بيا الله ﷻ يوه پرښته را ولېږي چې هغه پکې

پوك كړي، "وَيُؤمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ: بِكَتْبِ رِزْقِهِ وَأَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ" او الله ﷻ ورته د څلورو خبرو ليکلو حکم وكړي چي (۱) د رزق، (۲) د ژوند تېرولو موده، (۳) عملونه يې وليكل شي. (۴) او بدبخته يا نيك بخته كېدل يې وليكل شي، "فَوَالَّذِي لا إِلهَ غَيْرُهُ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ" بس قسم دى په هغه ذات چي د هغه نه علاوه بل څوك د عبادت لائق نشته چي بې شكه په تاسو كې به يو كس د جنت والا عمل كوي، تردې چي دده او د جنت په مينځ كې به صرف يو ګز فاصله پاتې وي چې په هغه باندې به د بد عملى كتاب غالب شي، (تقدير)، "فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا" نو هغه اول هغه عمل وكړي چي په وجه يې انسان جهنم ته ځي، نو هغه به هم جهنم ته داخل شي، "وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ" او بې شكه چې په تاسو كې به يو كس د جهنم والا عمل كوي تردې چي دده او د جهنم په مينځ كې به صرف د يو ګز اندازه پاتې شي چې دباندې به د عمل نامې كتاب (تقدير) غالب راشي، "فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا" نو هغه به د جنتيانو عمل وكړي نو جنت ته به داخل شي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

فينفخ: "نفخ نفخاً" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: پوك وهل

تشريح په دې حديث كې د انسان خلقت او پيدايش ته اشاره ده چې د څومره زياتو مرحلو وروسته انسان ته الله ﷻ شكل او صورت وركوي، "شقي وسعيد" دا ماشوم به نېك بخته وي او كه بدبخته؟ سوال دا دى چې د مور په خېټه كې ورته نېك بخته او بدخته ليكل كيږي، نو بيا عمل كول څه معنى لري؟ ددې خواب دا دى چې الله ﷻ اګرچې وليكل ليكن ددې سره سره ورته اختيار دى، هغه ته يې سيده لار او كږه لار هم وښودل او ورسره يې په دې لارو باندې د مزل كولو انجام او نتيجه هم وښودل. "إنا هديناه السبيل إما شاكراً وإما كفوراً" موږ هغه ته دوه لارې وښودلې: اوس د هغه خوښه ده: كه سمه لار خوښوي (شكر ادا كوي) او كه په كږه لار ځي، (ناشكري كوي)، په دې كې د انسان امتحان اخيستلى شي چې هغه كومه لار خپلوي، د رياض الصالحين رحمه الله مصنف په دې باب كې ددې حديث د راوړلو وجه هم دغه ده چې انسان ته پكار ده چې د الله ﷻ نه په زړه كې ويره پيدا كړي او په ايمان سره د خاتمې دعاء هم وكړي، تقوې هم ورسره اختيار كړي او د خير اسباب يعني تقوى، ايمان وغيره خپل كړي، دا نتيجه د انسان په لاس كې ده، هغه به ځان الله ﷻ ته سپاري، الله ﷻ نتيجه او انجام پټ ساتلى دى، علماء ليكي چې كه د چا بد عمل دې وليدلو، نو د جهنمي توب فيصله به نه كوي، يا كه په چا كې نېك عمل ووينې نو د جنتي كېدو فيصله به نه كوې، بلكې د مرګ تر آخري سلګيو به په عبادت كې مشغول اوسې، څكه معلومه نه ده چې سبا ورځ به زما څه حال وي؟

د جهنم اويا زره واګې او په هره واګه با ندې اويا زره پرښتې

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰه ﷺ: يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ" د عبد الله بن مسعود ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د قيامت په ورځ به دوزخ په اويا زرو زنځيرونو تړل شوی راوستل شي، "مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا" هر يو زنځير به اويا زره پرښتې راکاږي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

زمام: "زمام" معنی ده: واګې، مهار

يجر: "جرجراً" ددې معنی ده: راښکل.

تشريح: دغه حديث محدثينو په متشبهاتو کې شمار کړی دی، ددې تعلق د غيبي امورو سره دی، ايمان راوړل پرې ضروري دي، ددې کيفيت موږ ته معلوم نه دی، د حديث ظاهري مفهوم دا دی چې د قيامت په ورځ به په لکونو پرښتې جهنم راکاږي او د حشر ميدان ته به يې راولي، بيا به جهنم په داسې ځای کې کېښودل شي چې د جنتيانو او جنت ترمينځ به حائل شي، په دې جهنم باندې به يو پل جوړ کړی شي، کوم ته چې پل صراط ويل کيږي، ددې پل نه علاوه به جنت ته بله لار نه وي، پل صراط به د جهنم د پاسه وي، په دې باندې به جنتيان تيريږي او جنت ته به داخليږي

"سبعون ألف ملك يجرونها" اويا زره پرښتې به وي چې جهنم يې له واګو نيولی وي او راروان کړی به يې وي، ځينې محدثين فرمايي چې: دوزخ به راوستل شي انتهائي غوسه به وي، هغه به غواړي چې زه ټول خلک تېر کړم، خو پرښتو به هغه د واګو په واسطه نيولی وي، دې ته به يې نه پريږدي، که پرښتې هغه واګې پريږدي؛ نو هغه به ټول خلک تېر کړي، هغه که مسلمان وي او که کافران وي (أعاذنا الله من ذالك)

تر ټولو کم عذاب د هغه چا دی چې د پښو لاندې به يې اور وي او دماغ به يې خوټيږي

"وعن النعمان بن بشير رضي الله عنهما، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰه ﷺ يقول: إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَاباً يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَرَجُلٌ" د نعمان بن بشير ﷠ روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي، فرمايل يې: د قيامت په ورځ به په دوزخيانو کې د ټولو نه سپک عذاب والا کس هغه وي، "يوضَعُ فِي أَخْمَصِ قَدَمَيْهِ جَمْرَتَانِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ" چې د هغه د پښو په تليو کې به دوه سکروټې کېښودل شي چې د هغې په وجه به د هغه دماغ خوټ کيږي، "مَا يَرَى أَنَّ أَحَداً أَشَدُّ مِنْهُ عَذَاباً، وَإِنَّهُ لأَهْوَنُهُمْ عَذَاباً" او هغه به خيال کوي چې زمانه به بل څوک دومره به سخت عذاب کې ګېر نه وي او حال دا چې دا به د ټولو نه کم عذاب وي. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

أهون: د اسم تفضيل صيغه ده، "هان هوناً" ددې معنی ده: نرمېدل، آسان.

اخمص: "اخمص" د پښې هغه ځای ته ويلی شي چې د ځمکې سره نه لګيږي، يعني تلی.

يغلي: "يغلي غلياً" ددې معنى ده: جوش وهل، تېزېدل. کټوې په اور خوټېدل

تشريح: تر ټولو کم عذاب به د ابو طالب وي، په بل روايت کې دي "أهون أهل النار عذاباً أبوطالب وهو متنعل بنعلين يغلي منهما دماغه" په جهنم کې به تر ټولو کم او سپک عذاب د ابو طالب وي چې هغه ته به د جهنم نه دوه پيزار په پښو کړى شي چې له امله به يې ترې دماغ خوټېږي، ددې حديث نه معلومه شوه چې "أهون اهل النار" به ابو طالب وي، هغه چې د قيامت په ورځ به تر ټولو کم عذاب ورته ملاوېږي او وجه يې داده اگر چې هغه مسلمان نه وو، ليکن د رسول الله ﷺ ډېره مرسته به يې کول او کومک يې کولو. په دې بدله کې الله ﷻ د هغه عذاب سپک کړو

"في أخمص قدميه جمرتان" د هغه د پښو په تلو کې به د جهنم نه دوه سکورټې کېښودل شي، په يو بل روايت کې دي چې: هغه ته به د جهنم دوه پيزار/ څپلۍ په پښو کړى شي چې په دې سره به د هغه دماغ هم خوټېږي، "أشدمنه عذاباً" تر ټولو به سخت عذاب هم دغه وي

علماء فرمايي: جهنم کې به تر ټولو سپک او کم عذاب والا انسان دا گڼي چې زمانه سخت عذاب د بل چا نشته، که عذاب دى، همدغه عذاب دى او ددې بلعکس په جنت کې به تر ټولو کم درجې والا جنتي انسان دا گڼي چې زمانه په مزو او خوندونو کې بل څوک نشته، بس که مزې وي، دغه زما مزې او خوندونه دي

ځيني به په جهنم کې تر مرۍ پورې ډوب وي

"وعن سمرة بن جندب ﷺ: أَنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ قَالَ: مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ" سمرة بن جندب ﷺ نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوزخيانو کې به ځيني کسان تر گېټو پورې په اور کې وي، "وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ" او ځيني کسان به داسې وي چې تر زنگنونو پورې به په اور کې وي، "وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ إِلَى حُجْزَتِهِ" او ځيني کسان به داسې وي چې تر ملا پورې به په اور کې وي، "وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ إِلَى تَرْقُوَتِهِ" او ځيني کسان به تر ختې پورې په اور کې وي. رواه مسلم

"الْحُجْزَةُ: مَعْقِدُ الإِزَارِ تَحْتَ السُّرَّةِ" الحجزة معنى د نامه نه لاندې د لنگ تړلو ځاى ته ويلى شي، "وَالتَّرْقُوَةُ: بفتح التاء وضم القاف: هِيَ الْعَظْمُ الَّذِي عِنْدَ ثُغْرَةِ النَّحْرِ" او (ترقوة) مرۍ ته نږدې هډوکې. د حلق او د شارگ دواړو طرفونو هډوکې وي، "وَلِلإِنْسَانِ تَرْقُوَتَانِ فِي جَانِبَيِ النَّحْرِ" او د انسان لپاره په دواړو طرفونو کې ترقوة وي

لغوي تحقيق:

حجزته: "الحجزة" حجز د پرتوگ تړلو ځاى ته وايي، خلک ورته بړه وايي

ترقوته: (ترقوة) د مرۍ گرگرو ته ويل کيږي، مرۍ ترې مراد ده

تشريح: په دې حديث کې د جهنم مرتبې او درجې بيانيږي، لکه څرنگه چې به په جنت کې جنتيان مختلفې درجې او مقامات لري، دغه شان په جهنم کې به جهنميان هم مختلفې درجې او مقامات لري،

ځينې به داسې وي چې اور به يې تر ګيټو پورې وي، ځينې به داسې وي چې تر پونډو پورې به عذاب کې مبتلا وي او ځينې به تر ملا او ځينې به تر مرۍ پورې به په عذاب کې مبتلا وي

"منهم من تأخذه النار الى كعبيه" ځينې به داسې وي چې اور به يې تر پونډو پورې راګير وي. په بل روايت کې دي چې "منهم من تأخذه النار الى كعبيه" الفاظ هم راغلي دي. د دواړو الفاظ مختلف دي ليکن معنى يې يوه ده.

د قيامت په ورځ به ځينې خلک تر غوږونو پورې په خوله کې ډوب وي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللَّـهِ ﷺ، قَالَ: يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خلك به رب العالمين ذات ته د قيامت په ورځ ودريږي. "حَتَّى يَغِيبَ أَحَدُهُمْ فِي رَشْحِهِ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ" ځينې به تر نيمايي غوږونو پورې په خپلو خولو کې ډوب وي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وَ((الرَّشْحُ)): الْعَرَقُ" د الرشح معنى ده: خولې.

تشريح: په دې حديث کې هم د قيامت د ورځې وحشت ناكه منظر بيانيږي، كله چې به ټول خلك د الله ﷻ په وړاندې حساب كتاب ته ولاړ وي، ځينې خلك وايي چې د لمر له وجې به خلك په خولو کې ډوب وي، ځينې وايي چې د پرېشانۍ له امله به په خولو کې ډوب وي او ځينې نور وايي چې د خلكو د ګڼوالي له امله به په خولو کې ډوب وي

"الى أنصاف أذنيه" خلك به د خپلو عملونو په اعتبار په خولو کې ډوب وي، ځينې به لږ په خولو کې ډوب وي او ځينې به زيات وي، ځينې به تر پښو پورې ډوب وي، ځينې به تر پونډو پورې او ځينې نور به تر مرۍ پورې او ځينې به بيخي ټول ډوب وي، (اعاذنا الله من ذالك) د دې حديث نه معلومه شوه چې د حشر د ميدان خوله به د دنيا د خولې په شان نه وي، د دنيا خوله د سر نه شروع كيږي او د پښو طرفته روانه وي، ليكن د دې برعكس د حشر په ميدان کې به خوله د پښو له طرفه شروع شي او د سر خواته به روانه وي "أعاذنا الله منه وجعلنا تحت ظل عرشه".

نبي كريم ﷺ ته جنت دوزخ ښودل شوي دي

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: خطبنا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ خطبة مَا سَمِعْتُ مِثْلَهَا قط، فَقَالَ: لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ" د انس رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ موږ ته داسې نصيحت وكړو چې د دې نه مخكې موږ داسې نصيحت نه وو اورېدلى، نبي كريم ﷺ وفرمايل: كه تاسو په هغو شيانو باندې پوه شئ چې زه ورباندې پوهېږم، "لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيراً" نو تاسو به لږ خندل او ډېر به مو ژړل. "فَغَطَّى أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ وُجُوهَهُمْ وَلَهُمْ خَنِينٌ" كله چې صحابه كرامو ﷺ دا بيان واورېدو، نو خپل مخونه يې په څادرونو کې پټ كړل او ټولو په چيغو چيغو ژړا شروع كړه. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية: بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ عَنْ أَصْحَابِهِ شَيْءٌ فَخَطَبَ، فَقَالَ: عُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ" په يو روايت کې داسې دي چې

رسول اللهﷺ ته د خپلو صحابه کرامو ﷺ له طرفه څه خبره ورسېده، نو رسول اللهﷺ خطبه ولوسته او وې فرمايل: په ما باندې جنت او جهنم پېش کړی شو، "فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ" د نن ورځې په شان ما خير او شر داسې نه وو ليدلي، (يعني دومره عظيم خير او دومره عظيم شر مې داسې نه وو ليدلی) "وَلَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيراً" که زه په څه پوهېږم تاسو پرې پوه شوئ نو ډېر زيات به وژاړئ او لږ به وخاندئ! "فَمَا أَتَى عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَوْمٌ أَشَدُّ مِنْهُ" په صحابه کرامو ﷺ باندې ددې نه بله ورځ سخته نه وه تېره شوې، "غَطَّوْا رُؤُوسَهُمْ وَلَهُمْ خَنِينٌ" هغوی خپل مخونه په څادرونو پټ کړل او ژړا يې شروع کړه "الْخَنِينُ: بِالْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ: هُوَ الْبُكَاءُ مَعَ غُنَّةٍ وَانْتِشَاقِ الصَّوْتِ مِنَ الْأَنْفِ" د (الخنين) په (خ) معجمه سره ژړا ته ويل کېږي چې د پوزې نه هم پکې آواز راوځي.

لغوي تحقيق:

غطی: "غطى يغطي غطيطةً" ددې معنی ده: په کپړه، څادر باندې څه شی پټول

خنين: "خنين" په اصل کې د پوزې هغه آواز ته ويل کېږي چې کله پکې ژړا هم وي

جنت او جهنم پيدا شوي دي:

تشريح "عرضت على الجنة والنار" زما په وړاندې جنت او جهنم پيش کړی شو، په بل روايت کې دي چې "لقد عرضت على الجنة والنار آنفاً في عرض هذا الحائط وأنا أصلي فلم أر كاليوم في الخير والشر" ما ته جنت او جهنم دواړه وړاندې کړی شو، ما د نن ورځې نه وړاندې ډېر ښه او ډېر بد شيان نه وو ليدلي، ددې نه علماوو استدلال کړی دی چې جنت او جهنم دواړه پيدا شوي دي، ځکه خو رسول الله ﷺ وليدل، معتزله ددې څخه انکار کوي، "لو تعلمون ما أعلم" د کومو شيانو علم چې ما ته دی، که د هغې علم تاسو ته وشي، ځيني علماء فرمايي: په دې کې هغو خلکو ته تنبيه ده چې ډېرې خنداګانې او خوشحالياني جوړوي، په آرام او سکون ژوند تېرول غواړي، ډېره خندا ددې خبرې دليل دی چې ستا په زړه کې د آخرت غم او فکر نشته، ځکه خو ډېر خاندې، ددې بالمقابل مسلمان سړی هر وخت د آخرت په کاروبار کې لګيا وي. د خندا په مقابل کې الله ﷻ ته ژړا خوښه ده، په يو روايت کې دي چې که د يو انسان د سترګو نه د مچې په اندازه اوښکې لاړې شي، د هغه داخلېدل جهنم ته داسې ګران شي لکه څرنګه چې غولانځې ته شيدې راووځي او بيرته يې واپس کېدل نه شي کېدلی.

"ولهم خنين" صحابه کرامو ﷺ چې کله دا خبره واورېده نو دوی په ژړا شول، "خنين" په اصل کې د ژړا آواز ته وايي، په ژړا کې چې کوم آواز وځي. هغې ته خنين ويل کېږي. اصل کې "خنين" په پوزه کې د ژړا پرمهال آواز ته وايي او ځينې نور وايي: خنين په زوره زوره ژړا ته ويل کېږي.

د قيامت په ورځ به د انسان خوله د واکو په څېر وي

"وعن المقداد رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يقول: تُدْنَى الشَّمْسُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنَ الخَلْقِ حَتَّى تَكُونَ مِنْهُمْ كَمِقْدَارِ مِيلٍ" د مقداد رضي الله عنه نه روايت دى، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي، فرمايل يې د قيامت په ورځ به خلکو ته لمر دومره نږدې شي چې د يو ميل په فاصله به وي، "قَالَ سُلَيْمُ بْنُ عَامِرٍ الراوي عن المقداد: فَوَاللهِ مَا أَدْرِي مَا يعني بالميل، أَمَسَافَةَ الأَرْضِ أَمِ المِيلَ الَّذِي تُكْتَحَلُ بِهِ العَيْنُ" سليم بن عامر رحمه الله راوي وايي د مقداد رضي الله عنه څخه نقل کوي، قسم په الله! زه نه پوهېږم چې د ميل نه څه مراد دى، ايا دا د ځمکې د فاصلې ميل مراد دى او که د سترګو سلايي مراد ده؟ "قَالَ: فَيَكُونُ النَّاسُ عَلَى قَدْرِ أَعْمَالِهِمْ فِي العَرَقِ" مقداد رضي الله عنه فرمايي بيا رسول الله ﷺ وفرمايل بيا به خلك د خپلو عملونو په اندازه په خولو کې ډوب وي، "فَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى كَعْبَيْهِ" څيني خلك به تر ګيټو پورې په خولو کې ډوب وي، "ومنهم من يكون إلى ركبتيه" او څيني خلك به تر زنګونو پورې په خولو کې ډوب وي، "ومنهم مَنْ يَكُونُ إِلَى حِقْوَيْهِ" څيني به تر ملا پورې په خولو کې ډوب وي، "وَمِنْهُمْ مَنْ يُلْجِمُهُ العَرَقُ إِلْجَاماً" او څيني کسان به تر دوارو شونډو پورې په خوله کې ډوب وي. "قَالَ: وَأَشَارَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِيَدِهِ إِلَى فِيهِ" او نبي اکرم ﷺ خپلې خولې مبارکې ته اشاره وکړه. رواه مسلم

لغوي تحقيق: حقويه: "حقويه" د پرتوګ ترلو ځای ته وايي. يعنې د پرتوغانښ بډه

يلجمه: "لجم الدابة" ددې معنى ده: خاروي ته واګې اچول

لفظ (ميل) کې دوه احتماله دي

تشريح: "کمقدار ميل" د ميل په اندازه، په حديث کې د "ميل" د لفظ وضاحت نه دی شوی. لهذا د محدثينو ترمنځ په دې کې اختلاف دی چې دلته د ميل نه د مسافت والا ميل مراد دی او که د رجرومي سلايي مراد ده. مسافت والا ميل خو تقريباً ۸ فرلانګه وي، په يو ګز کې شپږ زره يا څلور زره وي. حافظ ابن حجر رحمه الله دولس زره انساني قدم والا مراد کړي ده، ددې نه د رجرومي سلايي مراد ده. خلاصه دا چې په دې حديث کې انسان آخرت ته متوجه کول مقصود دي، کله چې لمر رانږدې شي نو ددې د سختوالي او ګرمۍ اندازه به د رته هغه وخت ولګيږي، اوس خو په دې دنيا کې تقريباً د ساينس په اندازه او تجربه نهه کروړه ميله په فاصله رانه لرې دی، اوس يې هم څومره زيات حرارت او ګرمي ده، نو کله چې د سر د پاسه درته راشي؛ نو بيا به يې څومره حرارت او ګرمي وي.

د قيامت په ورځ به په ځمکه کې تر اويا لاسه لاندې د انسان خوله وي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه أن رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: يَعْرَقُ النَّاسُ يَوْمَ القِيَامَةِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل خلك به د قيامت په ورځ داسې خوله خوله وي، "حَتَّى يَذْهَبَ عَرَقُهُمْ فِي الأَرْضِ سَبْعِينَ ذِرَاعاً" تر دې چې د دغه کس خوله به په ځمکه کې دننه اويا لاسه؛ ګزه لاندې ننوتې وي، "وَيُلْجِمُهُمْ حَتَّى يَبْلُغَ آذَانَهُمْ" تر غوږونو پورې به يې واګې لګېدلي وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"ومعنى ((يَذْهَبُ فِي الْأَرْضِ)): ينزل ويغوص" او د "يذهب في الارض" معنى دا ده: چې په ځمکه کې به جذب شوي وي او ننوتلي به وي.

لغوي تحقيق:

يعرق: "عرق يعرق عرقاً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: لوند پدل.

تشريح "حتى يبلغ آذانهم" لکه څرنګه چې دا خبره وړاندې ذکر شوه: د قيامت په ورځ به لمر ډېر زيات نژدې راشي، نو ددې په وجه به هر سړی په خولو کې ډوب وي، ليکن هلته به خوله هم د انسان د خپلو ګناهونو په اندازه وي، که ګناه يې لږ وي، نو تر ښنګرو پورې به په خوله کې ډوب وي او که ددې نه زيات ګناهګار وي، تر ګټنو پورې به ډوب وي او که ددې نه نور هم زيات ګناهګار وي نو تر پوندو پورې به ډوب وي او ځينې بدبخت به داسې وي چې ټول بدن به يې په خولو کې ډوب وي او دا به د دنيا د خولې په شان نه وي، بلکې يو قسم واکې به وي چې انسان به يې راګېر کړی وي "أعاذنا الله من ذالك".

پوره اويا کاله بعد به د جهنم آخر ته کانی ورسيږي

"وعنه، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ إِذْ سَمِعَ وَجْبَةً" د ابو هريره ﷛ روايت دی، فرمايي چې موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چې ناڅاپه موږ د يو شي د غورځېدو اواز واورېدو، "فَقَالَ: هَلْ تَدْرُونَ مَا هَذَا؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو پوهيږئ چې دا څه وو؟ "قُلْنَا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ" موږ ووېل: الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ به پوهيږي، "قَالَ: هَذَا حَجَرٌ رُمِيَ بِهِ فِي النَّارِ مُنْذُ سَبْعِينَ خَرِيفاً" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دا هغه کانی وو چې اويا کاله وړاندې جهنم ته غورځول شوی وو، "فَهُوَ يَهْوِي فِي النَّارِ الْآنَ حَتَّى انْتَهَى إِلَى قَعْرِهَا" هغه نن د جهنم بېخ ته ورسېدو، "فَسَمِعْتُمْ وَجْبَتَهَا" دا آواز د هغه کاني وو چې تاسو واورېدلو.

رواه مسلم

لغوي تحقيق:

وجبة: "الوجبة" معنی ده: انفجار، چاودنه

يهوي: "هوي هوياً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: د پورته څخه لاندې طرفله راغورځول

تشريح په دې حديث کې د جهنم سختي او خوفناکه منظر وړاندې شوی، مطلب دا چې هر څنګه وي، د جهنم له عذابه ځان خلاص کړه.

د جهنم ژوروالی:

"هذا حجر رمي في النار منذ سبعين" دا يو کانی ؤ چې اويا کاله وړاندې په جهنم کې غورځول شوی وو، او س آخر ته ورسېدو، په دې حديث کې د جهنم ژوروالی بيان شوی چې هغه څومره ژور دی، که چېرته په دنيا کې کانی د پورته څخه لاندې راوغورځول شي، نو څومره په تيزۍ سره به لاندې راځي، ليکن

جهنم داسې نه دی بلکې که په هغې کې يو کس (أعاذنا الله من ذالك) وغورځول شي، پوره اويا کاله وروسته به آخرې بېخ ته ورسيږي، دا هغه وخت چې کله د اويا لفظ څخه پوره اويا مراد شي، کنه خېنې علماء يې په کثرت حمل کوي، يعنې ددې نه زيات مراد دی، نو خدای خبر چې کله به جهنمي جهنم بېخ ته رسيږي

الله ﷻ به په قيامت کې د ترجمان څخه بغير د هر سړي سره خبرې کوي

"وعن عدي بن حاتم ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَامِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ" د عدي بن حاتم ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر زر به الله ﷻ ستاسو سره د ترجمان نه بغير بالمشاهده خبرې وکړي، "فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ" نو دا کس به ښې طرفته وګوري نو هغه عملونه به ومومي چې په دنيا کې يې کړي وي، "وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ" بيا به چپ طرفته وګوري نو هغه عملونه به وويني چې په دنيا کې يې کړي وي، "وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرَى إِلَّا النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ" او کله چې مخ په وړاندې وګوري: نو د جهنم اور به د ده مخې ته وي، "فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ" بس تاسو ځان د جهنم له اوره بچ کړئ، اګر چې د خورما په يوه ټوټه ولې نه وي مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

اشأم: "الاشئم" اسم تفضيل دی، ددې معنی ده نحوست، ليکن دلته يې په چپ طرف ده

تشريح دا حديث په باب كثرة طرق الخير کې مخکې ذکر شوی دی، "فينظر أيمن منه فلا يری إلا ما قدم" خپل ښې طرف ته به نظر وکړي، خپل ټول هغه عملونه به وويني چې په دنيا کې يې کړي وي، دا يو قانون دی چې کله په انسان باندې سختي راشي، نو وارخطاء شي، اخوا دېخوا ګوري، هغه ته به هم هغه څه په نظر ورځي څه چې يې په دې دنيا کې کړي وي، بل په دې کې تنبيه ده هغو خلکو ته چې په خرمستيو او ګناهونو کې مبتلا وي، که چېرته غواړي چې سبا د قيامت په ورځ زما هر طرف ته که يمين دی، که شمال دی، که أمام دی او که خلف دی، چې نېک اعمال وي، نو پکار ده چې په دې دنيا کې هم نېک عملونه وړاندې کړي، د بدو عملونو څخه ځان وساتي

د جهنم نه ځان خلاص کړه! اګر که د خورما په يوه ټکره ولې نه وي!

"ولو بشق تمرة" اګر که د خورما يوه ټکړه ولې نه وي، محدثينو ددې جملې ګڼ اقوال ذکر کړي دي، خو دوه قوله يکې مشهور دي، لومړی مطلب يې دا بيانيږي چې د جهنم له عذابه ځان بچ کړه په چا ظلم زياتی مه کوه، اګر که دغه ظلم د خورما د ټکړې په مقدار وي، دويم مطلب يې دا دی چې که د جهنم له عذابه ځان خلاصول غواړې، نو د ضرورتمندو خلکو او غريبانانو سره ماتحت الأسباب مرسته کوه او خپل مال د الله ﷻ په لار کې خرچ کوه، اګر که هغه مال د خورما يوه ټوټه ولې نه وي، ځکه چې همدغه د خورما نيمايي ټوټه به ستا لپاره د جهنم له عذابه د خلاصون سبب شي

د پرښتو د روندوالي له امله به اسمان چيغې وهي

"وعن أبي ذر ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: إِنِّي أَرَى مَالَا تَرَوْنَ" د ابو ذر ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه چې څه وينم هغه تاسو نه وينئ؛ "أَطَّتِ السَّمَاءُ وَحَقَّ لَهَا أَنْ تَئِطَّ" اسمان چغار او چق چق کوي او په چغېدو کې په حقه دی، "مَا فِيهَا مَوْضِعُ أَرْبَعِ أَصَابِعَ إِلَّا وَمَلَكٌ وَاضِعٌ جَبْهَتَهُ سَاجِدًا لِلّٰهِ تَعَالَى" په آسمان کې د څلورو ګوتو په اندازه ځای نشته مګر دا چې پرښتې به خپل تندی، وربانديې اېښودلی وي. الله ﷻ ته به په سجده باندې پرتې وي، "وَاللّٰهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ، لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا" قسم په الله ﷻ! کوم څه چې زه پېژنم، که هغه تاسو وپېژنئ نو تاسو به لږ وخاندئ او ډېر به وژاړئ؛ "وَمَا تَلَذَّذْتُمْ بِالنِّسَاءِ عَلَى الْفُرُشِ" په بسترو باندې به د خپلو ښځو څخه خوندونه د رڅخه هېر شي، "وَلَخَرَجْتُمْ إِلَى الصُّعُدَاتِ تَجْأَرُونَ إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى" په ځنګلونو او غرونو کې به د الله ﷻ نه د پناه غوښتلو لپاره ګرځئ؛ "رواه الترمذي، وَقَالَ: حديث حسن" دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی او فرمايي: چې دا حديث حسن دی

"وَأَطَّتْ: بفتح الهمزة وتشديد الطاءِ و((تئط)) بفتح التاءِ وبعدها همزة مكسورة، وَالأطيط: صوتُ الرَّحْلِ وَالقَتَبِ وَشِبْهِهِمَا" لفظ د (أطت) په فتح د همزې سره او په شد د (ط) سره دی او لفظ د تئط په فتح د (ت) او وروسته ترې همزه مکسوره ده، (اطيط): "ومعناه: أَنَّ كَثْرَةَ مَنْ فِي السَّمَاءِ مِنَ الْمَلَائِكَةِ الْعَابِدِينَ قَدْ أَثْقَلَتْهَا حَتَّى أَطَّتْ" ددې مطلب دا دی: چې په آسمان کې به دومره زياتې عبادت کونکې پرښتې وي چې د هغوی د روندوالي له امله به آسمان چغار کوي، "وَ((الصُّعُدَات)) بضم الصاد والعين: الطُّرُقَات: ومعنى: ((تَجْأَرُونَ)): تَسْتَغِيثُونَ" او الصعدات دا معنی چې د کورونو څخه به ځنګلونو او غرونو ته روان شئ، ددې لپاره چې د الله ﷻ نه به پناه غواړئ؛

تشريح: په دې حديث کې هم د الله ﷻ نه د وېرې بيان دی چې د کوم مسلمان په زړه کې چې څومره د الله ﷻ عظمت او جلال پروت وي، په دومره مقدار به د هغه په زړه کې د الله ﷻ له عذابه وېره وي او د رحمت اميد به ساتي، "اطت السماء وحق لها ان تئط" اسمان په چغېدو شو او هغه ته پکار ده چې وچغېږي، اسمان د الله ﷻ له وېرې چغېږي، لکه څرنګه چې په يو کټ باندې زيات خلک کيني، نو هغه چغارې وهي، دغه شان اسمان هم د الله ﷻ له وېرې چغارې او فرياد شروع کړي، په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې: اسمان ته ګوره چې بې جان شی دی، بيا هم د الله ﷻ له وېرې چغېږي او انسان چې ساه لري او په ګناهونو کې مبتلا هم دی، هغه ته خو بيخي پکار ده چې د الله ﷻ له وېرې ژړاګانې او فريادونه شروع کړي

"وملك واضع جبهته ساجدا لله تعالى" او پرښتو خپل تندي پر ځمکه اېښي دي. الله ﷻ ته په سجده پرتې دي. سوال دا دی: چې په يو روايت کې دي: ځينې پرښتې په رکوع کې دي او ځينې په سجده او ځينې د قيام په حالت کې دي او دلته فرمايي چې ټولې په سجده باندې پرتې دي؟ ځواب دا دی چې په هغه حديث کې رسول الله ﷺ د کوم خاص اسمان ذکر فرمايلی دی، په کوم کې چې مختلفو حالاتو باندې

پرښتې مشغولې دي او دلته د بل خاص اسمان ذکر دی. چېرته چې تولې پرښتې الله ﷻ ته په سجده پرتې دي، "الصعدات تجارون الى الله" صعدات د صعد جمع ده، ددې معنی ده لاره او ځنګل

تر څو چې څلور سواله نه وي شوي، څوک به د خپل ځای څخه ونه خوځيږي

"وعن أبي برزة -براء ثمّ زاي- نضلة بن عبيد الأسلمي ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ: لا تزول قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَ أَفْنَاهُ؟" د ابو برزة (اول په (ر) سره بيا په (ز) سره نضلة بن عبيد اسلمي ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تر هغې به يو انسان د خپل ځای نه قدم ونه خوځوي تر څو چې ددې خبرې پوښتنه ترې نه وي شوې چې ژوند مې در کړی وو، په څه کې دې ختم کړو؟ "وَعَنْ عِلْمِهِ فِيمَ فَعَلَ فِيهِ؟" د علم په باره کې به ترې پوښتنه وشي چې څومره عمل دې پرې کړی وو؟ "وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ؟" او د مال باره کې به ترې پوښتنه وشي چې په کومه طريقه دې ګټلی وو؟ "وَفِيمَ أَنْفَقَهُ" او په کوم ځای کې دې خرچه کړو؟ "وَعَنْ جِسْمِهِ فِيمَ أَبْلاهُ؟" او د بدن په باره کې به پوښتنه وشي چې په څه کې دې زوړ کړو؟ "رواه الترمذي وَقَالَ: حديث حسن صحيح" امام ترمذي ﷫ روايت کړی دی او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی

لغوي تحقيق:

أبلاه: "أبلى فلاناً عذره" چاته خپل عذر وړاندې کول يا عذر قبلول

تشريح حديث کې د دنيا بې قدری او بې ثباتی ته اشاره ده، د قيامت په ورځ به ددې ژوند په باره کې مختلف قسم پوښتنې کيږي، اولنی پوښتنه به دا وي چې: ژوند مې درکړی وو، ددې ژوند يوه يوه ذره قيمتي ده، دغه قيمتي ژوند دې په څه کې خرچ کړو، ايا د الله ﷻ په عبادت او اطاعت کې دې تېر کړو او که نافرماني دې کړې وه، په قرآن کريم کې داسې الفاظو سره بيان شوی دی "أفحسبتم أنما خلقناكم عبثاً وأنكم إلينا لا ترجعون" ايا تاسو داسې ګومان کوئ چې تاسو مو هسې عبث او بې مقصده پيدا کړي يئ او ماته به ستا واپسي نه وي؟ په يو بل روايت کې دي چې: د ژوند سره د ځوانی په باره کې به هم درنه پوښتنه کيږي، دويم سوال به دا وي چې ځواني دې په څه کې خرچ کړه؟ دريم سوال دا دی چې علم مې درکړی وو، په څه کې دې خرچ کړو، څومره عمل دې ورباندې وکړو؟

د ابو درداء ﷺ په باره کې راځي چې يوه ورځ هغه عويمر ﷺ ته وفرمايل: اې عويمر! د قيامت په ورځ به ستا څه حال وي کله چې درنه پوښتنه وشي چې عالم وې او که جاهل؟ که ووايې چې عالم وم، نو بيا به درنه پوښتنه کيږي چې په خپل علم دې څومره عمل کړی وو؟ او که ځواب ورکوې چې جاهل وم، نو بيا به درنه پوښتنه کيږي چې ولې جاهل پاتې وې، ولې دې علم حاصل نه کړو؟

"عن ماله من أين اكتسبه وفيم انفقه" مال دې د کوم ځای څخه حاصل کړو او په کوم ځای کې دې ولګولو، مطلب دا چې اول خو دا ووايه چې مال دې نه ډېر ګټلی دی، ليکن په کومه ذريعه دې ګټلی دی، ذريعه يې حلاله وه او که حرامه؟ بل دا چې مال خو دې وګټلو، ليکن اوس ووايه چې چېرته دې خرچ

کړو، په حلال ځای کې دي خرج کړو او که په حرام ځای کې دي خرج کړو؟ د حرام مال ذرائع خپلولو باندې په احاديثو کې سخت وعيدات ذکر شوي دي، مثلاً: په يو حديث کې دي چې کوم کس د حرام مال نه صدقه وکړي، نو هغه به نه قبليږي او که خرچ وکړي، نو برکت به پکې نه وي او کومه ترکه چې پرېږدي هغه به ورته د جهنم ذخيره جوړيږي.

د راوي نضله بن عبيد اسلمي رضي الله عنه حالات:

دده په اصلي نوم کې اختلاف دی، ځيني علماء فرمايي چې دده اصلي نوم عبد الله دی، ځيني نور وايي چې نضله دی، دغه ډول د پلار په نوم کې هم اختلاف دی، ځيني علماء فرمايي چې د پلار نوم يې عمرو دی، ځيني نور وايي چې عبد الله دی او ځيني نور فرمايي چې: نضله ؤ او ځينو خو دينار هم ښودلی دی، کنيت يې ابو برزه دی، د نبي کريم ﷺ سره يې په ټولو غزواتو کې شرکت کړی دی، د مکې په فتحه کې يې ځانګړې ذکر شوی دی

وفات په وفات کې يې هم اختلاف دی، ځيني وايي: په بصره کې وفات شوی دی، ځيني خراسان ښيي، ټول عمر يې شپېته کاله وو

مرويات تر شپږ څلوېښتو پورې مرويات ترې نقل دي، په دوه حديثونو باندې د امام بخاري او امام مسلم اتفاق دی، امام بخاري رحمه الله په يو حديث کې او امام مسلم رحمه الله په څلورو حديثونو کې منفرد دی

د قيامت په ورځ به ځمکه ګوياشي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قرأ رَسُول الله ﷺ: يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ دا آيت ولوستو چې ترجمه يې داسې ده: په دې ورځ به خپل خبرونه بيان کړي، [الزلزلة: ۴] "ثُمَّ قَالَ: ((أتَدْرُونَ مَا أَخْبَارُهَا))؟ قالوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو پوهيږئ چې څه خبرونه به وي؟ موږ ووېل: الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ ډېر ښه پوهيږي، "قَالَ: فَإنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: خبرونه به يې دا وي چې ددې خبرې شاهدي به ادا کوي چې په هر سړي او ښځه باندې د هر هغه عمل چې د ځمکې په مخ يې کړی وي، "تَقُولُ: عَمِلْتَ كَذَا وَكَذَا فِي يَومِ كَذَا وكَذَا فَهذِهِ أَخْبَارُهَا" ځمکه به وايي چې تا دغه عمل په دې دې ورځ باندې کړی وو، نو دا به د ځمکې د خبرونو بيان وي، "رواه الترمذي، وَقَالَ: حديث حسن صحيح" امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او فرمايي چې دا حديث حسن صحيح دی.

لغوي تحقيق:

تدرون: "دری دریاً ودرایةً" ددې معنی ده پوهېدل، مقصد ته رسيدل

تشريح په دې حديث کې په هغو خلکو سخت رد شوی دی او سخت وعيد ورته بيان شوی دی چې د

خلکو څخه به خانونه پټ کړي چې په ګناه بې ونه ويني، ليکن هغه رب العالمين ذات چې عليم او خبير ذات دی. د هغه څخه به يې هيڅ ډول پټ نه کړي، دغه شان په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې د ځمکې سره احتياط کوئ، ځکه چې دا ستاسو اعمال حفظ کوي، په دې باندې چې هر قسم عمل کوئ، ښه وي او که بد وي، ددې بيان به د قيامت په ورځ دغه ځمکې ته ورکوي، په دې وجه يو مسلمان ته پکار دي چې ټول ژوند په احتياط تېر کړي

پرښتې په خوله شپېلۍ نيولې ده او د پوک وهلو انتظار کوي

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: كيف أنعم! وصاحب القرن قد التقم القرن" د ابو سعيد خدري ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه به څنګه آرام وکړم، حال دا چې د شپېلۍ والا پرښتې (اسرافيل عليه السلام) شپېلۍ په خوله نيولې ده او تندې بې ګرونجي کړی دی. "واستمع الإذن متى يؤمر بالنفخ فينفخ" او غوږ يې ايښی دی چې کله به ورته د پوك وهلو امر او حکم کيږي "فكأن ذلك ثقل على أصحاب رسول الله ﷺ فقال لهم: قولوا: حسبنا الله ونعم الوكيل" دا خبره د نبي کريم ﷺ په صحابه کرامو ﷺ باندې ډېره سخته ولګېده، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: تاسو دا وايئ چې: "حسبنا الله ونعم الوكيل" ترجمه کافي دی الله ﷻ زموږ لپاره او هغه ښه کار ساز دی، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن" دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی.

"القرن: هو الصور الذي قال الله تعالى: ونفخ في الصور" د قرن نه مراد هغه شپېلۍ ده چې الله ﷻ فرمايي: "ونفخ في الصور" ترجمه او کله چې په شپېلۍ کې پوك ووهل شي، "كذا فسره رسول الله ﷺ" همدا رنګه د رسول الله ﷺ نه تفسير نقل شوی دی.

لغوي تحقيق:

التقم: "إلتقم يلتقم إلتقاماً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: تېرول، شپېلۍ ته د پوك ورکولو لپاره ساه اخيستل

تشريح په دې حديث کې هم صحابه کرامو ﷺ او عام امت ته د آخرت د غم او فکر کولو تذکره بيان شوې ده چې هغوی څرنګه د آخرت له غمه بې غمه کېږي

د مصيبت پرمهال (حسبنا الله ونعم الوكيل) ويلو سره پرېشاني ختميږي:

"حسبنا الله ونعم الوكيل" الله ﷻ کافي او غوره کار ساز دی. کله چې صحابه کرام ﷺ د آخرت په فکر کې زيات مشغول شول، نو نبي کريم ﷺ ورته د "حسبنا الله ونعم الوكيل" ويلو حکم وکړو، ددې نه معلومه شوه چې د غم او پرېشانۍ رفع کولو يا کومې صدمې او تکليف درد شکايت ختمولو لپاره دي دا وظيفه ولوستل وي، کله چې ابراهيم عليه السلام په اور کې واچول شو. نو د هغه په ژبه مبارکه باندې هم دغه کلمه وه، دغه راز کله چې رسول الله ﷺ ته وويل شو چې خلکو ستاسو لپاره اچولي دي. تاسو په خلاف

جمع شوي دي، "إن الناس قد جمعوا لكم فاخشوهم" كفار ستاسو مقابلي ته جمع شوي دي، د هغوى نه ويره يكار ده، په دې نازك وخت كې هم رسول الله ﷺ دغه كلمه ويل "حسبنا الله ونعم الوكيل"

د الله جلّ جلاله سودا جنت ده

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَنْ خَافَ أَدْلَجَ" چاته چې خطره وي هغه د شپې په اوله حصه كې ځي، "وَمَنْ أَدْلَجَ بَلَغَ الْمَنْزِلَ" او كوم كس چې د شپې په اوله حصه كې ځي، هغه خپل منزل ته په وخت رسيږي، "أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللهِ غَالِيَةٌ" خبردار! د الله جلّ جلاله سودا ډېره زياته ګرانه ده، "أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللهِ الْجَنَّةُ" خبردار! د الله جلّ جلاله سودا جنت دى، "رواه الترمذي، وَقَالَ: حديث حسن" دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت كړى دى او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دى.

"وَ((أَدْلَجَ)): بإسكان الدال ومعناه سار من أول الليل. والمراد التشمير في الطاعة" د ادلج معنى ده د شپې په اول وخت كې سفر كول. ددې نه مراد د الله جلّ جلاله په تابعدارى او اطاعت كې تيزي كول دي. "والله أعلم" نور الله جلّ جلاله ډېر ښه پوهيږي. (مطلب يې دا دى چې څوك په دنيا كې په عيش او ارام سره خپله لاره كمزوري او بې كاره نه كړي هغه په وخت خپل مقصدي ځاى ته رسيږي او بل دا چې په دې حديث كې د الله جلّ جلاله د تابعدارى ترغيب وركول مقصود دي چې د الله جلّ جلاله سره دغه ګرانه او قيمتي سودا حاصلول غواړي. نو د الله جلّ جلاله د حكمونو تابعداري كولو سره سرمايه جمع كړئ، دا قيمتي سودا به بيا وانخيستل شي

تشريح: علامه طيبي رحمه الله فرمايي نبي كريم ﷺ په دې حديث كې د آخرت د سفر كوونكي مثال وفرمايلو. ځكه چې شيطان ورته په لاره كې ناست دى او نفس هم د هغه ملګرتيا كوي، ليكن انسان د نېكو عملونو اهتمام وكړي، د نفس او شيطان په دام كې راګير نه شي، د داسې كس لپاره د جنت لاره اسانيږي، بله دا چې په دې حديث كې دې خبرې ته هم اشاره ده چې د آخرت منزلونه ډېر سخت دي. ددغو سختو منزلونو پوره كولو لپاره پوره اهتمام او كوشش يكار دى، ځكه چې جنت ډېر قيمتي او ګران قيمته سودا ده، تر څو چې انسان د خپل مال او ځان نه تېر نه شي، تر هغه پورې جنت ته داخلېدل مشكل دي، په قرآن كريم كې هم ارشاد دى "إن الله اشترى من المؤمنين أنفسهم وأموالهم بأن لهم الجنة" بې شكه الله جلّ جلاله د مؤمنانو څخه د هغوى مالونه او بدنونه د جنت په بدله كې اخستي دي

په قيامت كې به ټول خلك بربنډ او نا ستنه وي

"وعن عائشة رضي الله عنها، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يقول: يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً" د عائشې رضي الله عنها روايت دى، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي د قيامت په ورځ به خلك راجمع كړى. په داسې حال كې چې لوڅې پښې به وي، "عُرَاةً" بربنډ، لوڅ به وي، "غُرْلًا" نا ستنه به وي، "قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ جَمِيعاً يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ؟" ما وويل اې د الله تعالى رسوله! په داسې حال كې خو به ټول سړي او ښځې يو بل ته ګوري؟ "قَالَ: يَا عَائِشَةُ، الأَمْرُ أَشَدُّ مِنْ أَنْ يُهِمَّهُمْ ذلِكَ" نبي كريم ﷺ وفرمايل اې عائشې رضي الله عنها دغه وخت ډېر زيات هيبتناك دى، ددې خبرو خيال هيڅوك نه شي كولى

"وفي رواية: الأمر أهم من أن ينظر بعضهم إلى بعض" په يو بل روايت كې داسې دي چې دغه ورځ به دومره مهم كارونه وي خلكو ته چې د هغې د هيبت او خطرې په وجه به د خلكو حواس او بدن كار پرېښودي
متفق عليه.

"غرلاً بضم الغين المعجمة، أي: غير مختونين" لفظ د "غرلاً" په ضم د (غ) معجمه سره دى، معنى يې ده: ناسنته

لغوي تحقيق:

حفاة: "حفي حفاً" باب سمع يسمع دى، ددې معنى ده: پښې ابله مزل كول.

عراة: د "عراة" معنى ده: بربنډ.

تشريح "يحشر الناس يوم القيامة حفاة عراة غرلاً" د قيامت په ورځ به خلك الله ﷻ په داسې حال كې راجمع كړي چې په پښو به يې پيزار نه وي، لوڅ بدنونه به يې وي او ناسنته به وي، په دې حديث كې هم د قيامت د ورځې د سختى بيان دى، د قيامت په ورځ چې د ذلت او رسوايى نه د بچ كېدو لپاره بايد ځان تيار كړي، پكار ده چې د قرآن او سنت مطابق خپل ژوند تېر كړو، كه مو د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د اوامرو او نواهيو مخالف ژوند تېر كړو، نو بيا به په هغې دنيا رسوايي او ذلت زموږ په برخه وي.

"غرلاً": نا سنته به وي، يعنې سنتي به يې نه وي شوې، معلومه شوه چې د قيامت په ورځ هر انسان د قبر څخه راپاځيږي، مكمل جسم به يې وي، لږ غوښه به يې هم كمه نه وي. آن تردې چې هغه سنتى والا غوښه يې چې ترې په سنتى كې غوڅه كړې ده، هغه به هم ورپورې وي، په دې كې د الله ﷻ كمال علم او كمال قدرت ته اشاره ده، په قرآن كريم كې هم ارشاد ده: "ولقد جئتمونا فرادى كما خلقناكم اول مرة" تاسو موږ ته يوازې راغلى، لكه څرنګه چې موږ په دنيا كې (يوازې) پيدا كړي وى.

"أشد من أن يهمهم ذلك": يعنې معامله به ددې نه نوره هم سخته وي، د قيامت د ورځې سختي ددې څخه هم معلوميږي چې بربنډ لوڅ به وي، خو بيا به هم يو بل ته د نظر كولو لپاره يوه ذره برابر نه ګوري او نه به د يو كس سره دومره وخت وي چې يو بل ته د زيات هيبت له امله وګوري.

باب الرجاء

د الله ﷻ نه اميد ساتل

"قال الله تعالى" الله ﷻ فرمايي: "قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ" اې پيغمبره ﷺ! زما هغو بندګانو ته ووايه چې په خپلو ځانونو يې زياتى كړى دى. "لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ" تاسو د الله ﷻ د رحمت څخه مه نا اميده كيږئ، بې شكه الله ﷻ ټول ګناهونه بخښي، بې شكه الله ﷻ بخښونكى او مهربان ذات دى [الزمر:۵۳]

شان نزول:

ځینې خلك د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شول، دوی وویل: موږ ناحقه مړی هم کړی دی، زناګانې مو هم کړې دي او ددې څخه بغیر نور لوی لوی ګناهونه مو کړي دي، ایا اوس موږ اسلام راوړی شو؟ او زموږ توبه به قبوله شي؟ په دې باندې دغه وړاندې ایت نازل شو. "أسرفوا على انفسهم" علامه بغوي رحمه الله فرمايي عبد الله بن عمر رضي الله عنه وفرمايل: د اسراف نه مراد ګناه کبيره ده.

"لاتقنطوا": مه نا امیده کېږئ کومو خلکو چې اسلام راوړو، ایمان یې راوړو او توبه یې وویستل. د دوی توبه قبوله ده، ګناهونه به یې الله ﷻ معاف کړي، ځکه چې: "الإسلام يهدم ما كان قبله" اسلام د خان څخه وړاندې ګناهونه معاف کوي، ټول ګناهونه یې په اسلام راوړلو سره معاف کیږي، عبد الله بن عمر رضي الله عنه ددې آیت په اړه فرمايي: په ټول قرآن کې ددې نه زیات بل ایت امید ورکوونکی نشته چې د سړي ورسره امید پیدا شي، خدای پاک به مي وبخښي او مفسر قرآن عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمايي: "إن ربك لذو مغفرة للناس على ظلمهم" په دې سره د انسان ډېر امید او طمع پیدا شي، په مسند احمد کې روایت دی چې دنیا او په دنیا کې چې څه دي، ددې آیت په مقابل کې راته هیڅ نه دي. "يا عبادي الذين أسرفوا على أنفسهم" دا ایت ماته د ټولې نړۍ څخه ډېر خوښ دی.

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَهَلْ نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ" موږ نا شکره خلکو ته داسې سزا ورکوو. [سبأ:۱۷]

تشريح: "کفور" په کافر کې مبالغه ده، اوس به یې معنی دا شي: ډېر زیات په کفر کې مبالغه کوونکی، اوس به یې معنی دا شي چې: موږ تر ټولو زیات هغه چاته ورکوو چې زیات په کفر کې داخلېدونکی وي، لیکن دلته سوال دا پیدا کیږي چې بیا خو به یو ګناهګار مسلمان او عام کافر ته هم سزا نه شي ورکولی، حال دا چې دا خو د قرآن کریم د اسلوب نه مخالفه خبره ده؟ ددې سوال ځواب دا دی چې دلته د سیاق او سباق نه دا خبره واضحه کیږي چې دلته د عذاب نه مراد د قوم سبا والا عذاب مراد دی، کوم چې به د کافرو سره مخصوص وي، مسلمانانو ته چې کوم عذاب ورکولی شي هغه به د عذاب په شکل کې نه وي، بلکې د ګناهونو څخه به د تطهير/ پاکوالي لپاره وي، حسن بصري رحمه الله فرمايي چې: "صدق الله العظيم: لا يعاقب بمثل فعله إلا الكفور" د بد عمل سزا به د هغه عمل په اندازه د (کفور) کافر څخه سپوا هیچا ته نه شي ورکولی، علامه آلوسي رحمه الله فرمايي چې: کافر ته به سزا د سزا په توګه ورکولی شي، لیکن که کوم مسلمان جهنم ته داخل کړی شي، نو هغه ته د سزا په توګه نه شي ورکولی، بلکې د تطهير من الذنوب لپاره به وي، لکه څرنګه چې سره زر په بټۍ کې ددې لپاره واچول شي چې ددې سره زرو څخه خیره ختمه شي..... "وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ" به په هغه چا باندې وي چې بې شکه: موږ ته ددې خبرې وحي شوې ده چې عذاب به دروغ وایي او زموږ د حکمونو څخه مخ اړوي. [طه:۴۸]

تشريح: "العذاب" ددې عذاب څخه دنيوي او اخروي دواړه مراد کېدی شي، (من کذب) ددې نه هغه خلك مراد دي چې پېغمبرانو علیهم السلام ته يې د دروغو نسبت کړی وو او د (تولي) نه مراد د اطاعت او تابعداری نه مخ اړونکي خلك دي، اوس به د ايت مطلب دا شي چې دا د الله ﷻ له لوري فيصله ده چې عذاب به په هغه چا باندې په دنيا او اخرت کې نازلېږي چې د اطاعت نه مخ اړي، مفسرين رحمهم الله فرمايي: دا کلام د موسی علیه السلام په رسول کېدو باندې واضح دليل دی

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ" او زما رحمت په هر شي باندې خپور دی.

[الأعراف:۱۵۶]

تشريح: د آيت مطلب دا دی چې: د الله ﷻ رحمت عام دی، په دنيا کې په کافر او مسلمان دواړو باندې راځي، ليکن په آخرت کې به صرف په مسلمانانو باندې خاص وي، په کافر باندې به نه وي، ځکه چې دوی خپل ځانونه د غير الله د عبادت په وجه د الله ﷻ د رحمت نه لرې کړل

مفتي محمد شفيع رحمه الله فرمايي: مولانا انور شاه کشميري رحمه الله به فرمايل: د الله ﷻ د رحمت واسع کېدو مطلب دا دی چې: د الله ﷻ د رحمت دايره په چا باندې تنګه نه ده، دا مطلب يې نه دی چې د الله ﷻ رحمت هر کافر ته رسيږي، بلکې مطلب يې دا دی چې: د رحمت صفت تنګ او لنډ نه دی، بلکې ډېر فراخه او وسيع دی، په چا چې هم رحمت کول وغواړي رحمت پرې کولی شي، قتاده رحمه الله فرمايي کله چې: "ورحمتي وسعت كل شئ" نازل شو، نو شيطان ملعون وويل: زه هم په دې رحمت کې داخل يم، ددې وروسته رحمت په ايمان پورې تر آخرته مشروط کړی شو، بيا يهوديانو او عيسايانو وويل چې موږ هم په رحمت کې داخل يو، ددې وروسته بل شرط ولګول شو چې: "للذين يتقون ويؤتون الزكوة" يعنې هغه خلك کوم چې د الله ﷻ نه ويرېږي او زکات ورکوي، هغوی په نبي کريم ﷺ باندې ايمان ساتي، ددې وروسته يهوديان او عيسايان هم خارج شول، اوس صرف د نبي کريم ﷺ امت پاتې شو

عيسی علیه السلام د الله ﷻ بنده، رسول او روح ده

"وعن عبادة بن الصامت رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ" د عباده بن صامت رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې ددې خبرې شاهدي ورکړي چې نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ نه او بې شکه چې محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او رسول دی، "وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ" او عيسی علیه السلام د الله ﷻ بنده او رسول دی او کلمه ده، کومه چې الله ﷻ په مريم علیها السلام کې اېښې وه او هغه د الله روح دی، "وَأَنَّ الْجَنَّةَ حَقٌّ، وَالنَّارَ حَقٌّ، أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ عَلَى مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ" او بې شکه چې جنت حق دی او د جهنم اور حق دی، الله ﷻ به جنت ته هغه خلک داخل کړي چې عمل يې سم وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية لمسلم: مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ" په يو روايت کې دا سې هم راغلي دي چې کوم کس چې ددې خبرې شاهدي ورکړي چې نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ نه، "وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ النَّارَ" او بې شکه چې

محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی، الله ﷻ به په دغه اقرار کوونکي باندې د جهنم اور حرام کړي

لغوي تحقيق:

القاها: "ألقى الشئ إلى الأرض" ددې اصل معنى ده څه شی په ځمکه غورځول

تشريح په دې حديث کې د الله ﷻ د توحيد او وحدانيت مسئله بيان شوې ده. بل د پيغمبرانو عليهم السلام عبديت بيان هم دی، يعني دغه ټول پيغمبران چې عيسى عليه السلام هم ورسره دی، دا ټول د الله ﷻ بندګان وو، بل په دې حديث کې په هغو خلکو سخت رد دی چې وايي عيسى عليه السلام د خدای زوی دی

ولې د عيسى عليه السلام تخصيص وشو؟

"وأن عيسى عبد الله ورسوله" په ټولو انبياوو عليهم السلام باندې ايمان راوړل واجب دي، "لانفرق بين أحد من رسله" موږ په ټولو پيغمبرانو عليهم السلام باندې ايمان راوړو، موږ په دوی کې هيڅ توپير نه منو، په دې حديث کې د عيسى عليه السلام په ځانګړې توګه ذکر کولو وجه دا ده چې د عيسى عليه السلام په باره کې د عيسايانو عقيده دا وه چې يا خو يې عيسى عليه السلام خدای منلو او يا يې د خدای زوی ګڼلو، په افراط کې مبتلا وو، بل طرفته يهوديانو ورته (معاذ الله) د ولد الزنا نسبت کولو، د رسالت څخه يې منکر وو، يهوديان په تفريط کې مبتلا وو، ددې دواړو نظرياتو د ترديد لپاره رسول الله ﷺ په ځانګړې توګه د عيسى عليه السلام ذکر وکړو، په لفظ د عبد الله کې رد وشو د عيسايانو په باطله عقيده او په رسوله لفظ کې رد وشو د يهوديانو په باطله عقيده چې عيسى عليه السلام ولد الزنا نه دی، بلکې د الله ﷻ بنده او د هغه رسول دی

د روح الله لفظ مطلب او معنى يې:

"كلمته ألقاها إلى مريم" په دې جمله کې هم په يهوديانو باندې رد دی او تعريض دی چې عيسى عليه السلام د الله ﷻ خصوصي کلمه د (کن) په کلمې سره پيدا شوې ده، معاذ الله ولد الزنا نه دی، عيسى عليه السلام ته د کلمه ويلو محدثينو ګڼ شمېر وجوهات بيان کړي دي، په هغې کې يې څينې دا دي:

(۱) په کلمه د (کن) سره بې پلاره پيدا شوی دی، (۲) عيسى عليه السلام د مور په لمن (غېږ) کې د ماشوموالي په حالت کې خبرې کړي دي

خو دلته يو اعتراض واردېږي: هغه دا چې هر سړی ذي روح دی، هرسړی روح لري؟ ددې اعتراض نه ځواب دا دی چې د عامو خلکو د مادې (مني) سره روح والا دی او عيسى عليه السلام بغير مادې روح والا دی، نو ځکه عيسى عليه السلام بالخصوص ذکر شو، لکه څرنګه چې د بيت الله نسبت الله ﷻ ته تشريفي دی او بله وجه دا ده چې د عيسى عليه السلام په وجه به په مړو کې روح راتلل، کله چې به عيسى عليه السلام کوم مړي ته وويل (قم بإذن الله) نو هغه به پاڅېدو او خبرې به يې شروع کړې

ځوک چې الله ﷻ ته يوه لوېشت نزدې کيږي، الله ﷻ ورته يو لاس نزدې کيږي

"وعن أبي ذر رضي الله عنه، قال: قال النبي ﷺ: يقول الله ﷻ: مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا أَوْ أَزِيدُ" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه
فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ فرمايي کوم کس چې يوه نيکي راوړي؛ نو هغه ته به لس
چنده اجر ورکولی شي او يا ددې نه هم زيات. "وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا أَوْ أَغْفِرُ" او کوم کس چې
کومه ګناه وکړي؛ نو هغه ته به صرف د يوې ګناه بدله ورکولی شي او يا دا چې زه ورته هغه ګناه
وبخښم. "وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا" کوم کس چې ماته يوه لوېشت را نزدې کيږي، نو زه ورته يو ګز
نزدې کېږم. "وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا" او کوم کس چې ماته يو ګز نزدې کيږي نو زه ورته دوه لاسه
نزدې کېږم. "وَمَنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً" او کوم کس چې ماته په مزل کولو سره راځي، زه به په منډه ورځم.
"وَمَنْ لَقِيَنِي بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطِيئَةً لَا يُشْرِكُ بِي شَيْئًا، لَقِيتُهُ بِمِثْلِهَا مَغْفِرَةً" او کوم کس چې په داسې حالت کې ماته راشي
چې ټوله ځمکه يې د ګناهونو نه ډکه کړې وي، په دې شرط چې زما سره شريك نه جوړوي، نو زه به
ورته ټوله ځمکه د مغفرت او بخښنې نه ډکه کړم او د ټولو ګناهونو د ختمولو او بخښنې سره به ورسره
ملاو شم. رواه مسلم

"معنى الحديث: ((مَنْ تَقَرَّبَ)) إِلَيَّ بِطَاعَتِي ((تَقَرَّبْتُ)) إِلَيْهِ بِرَحْمَتِي وَإِنْ زَادَ زِدْتُ" ددې حديث مطلب دا دی چې ځوك
ماته د نزدې کېدو لپاره اطاعت او عبادت کوي، نو زه ورته د رحمت په صورت کې نزدې کېږم. "فَإِنْ
أَتَانِي يَمْشِي، وَأَسْرَعَ فِي طَاعَتِي ((أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً)) أَيْ: صَبَبْتُ عَلَيْهِ الرَّحْمَةَ وَسَبَقْتُهُ بِهَا" او که هغه ماته په مزل کولو سره راځي
او زما د تابعدارۍ او اطاعت لپاره په تېزۍ سره راځي، نو زه به په منډه ورځم، يعنې زه به خپل رحمت
پرې نازل کړم او هغه به زه وراندې کړم. "وَلَمْ أُحْوِجْهُ إِلَى الْمَشْيِ الْكَثِيرِ فِي الْوُصُولِ إِلَى الْمَقْصُودِ" او مقصد ته په
رسېدلو کې د ډېر تکليف او چتولو نه يې بچ کړم چې زما طرفته مخ کړي، نو سمدستي ورته توجه
کوم. "وَقُرَابُ الْأَرْضِ: بضم القاف، ويقال: بكسرها والضم أصح وأشهر ومعناه: مَا يُقَارِبُ مِلْأَهَا، والله أعلم" هغه شی چې
ډکېدو ته نزدې وي، نور الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي

لغوي تحقيق:

هرولة: "هرول هرولة" ددې معنی ده: په منډه راتلل، په تېزۍ سره مزل کول

د نبي کريم ﷺ دامت خصوصيت:

تشريح: "يقول الله عزوجل: من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها أو أزيد الخ:" الله ﷻ فرمايي: کوم کس چې يوه نيکي
وکړي، د هغه لپاره به ددې نيکۍ په بدله کې لس چنده اجر وي او ددې نه به نور هم ورته زيات کړم،
همدغه شان مضمون په قرآن کريم کې هم ذکر دی، "من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها" په يو بل روايت کې دي
چې "ومن جاء بالحسنة فله خيرٌ منها" علماء فرمايي چې دا د نبي کريم ﷺ د امت خصوصيت دی چې د يوې
نيکۍ بدله ورته په لس چنده ورکولی شي، يا ددې نه هم زيات سابقه امتونه ددې اضافي اجر نه

محروم وي، "ومن جاء بالسيئة فلا يجزى إلا مثلها" کوم کس چې يو بد عمل وکړي؛ نو ددې بد عمل برابر به سزا ورکولی شي او يا به يې ورته وبخښم، همدغه شان مضمون په قرآن کريم کې هم ذکر دی "وجزاء سيئة سيئة مثلها"

"ومن تقرب مني شبراً" څوک چې ماته يوه لوېشت رانږدې کيږي، نو زه ورته يو ګز نږدې کېږم، په دې کې د الله ﷻ د رحمت فراخي او وسعت ته اشاره ده، الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې ډېر مهربان دی، هغه څومره غفور او کريم ذات دی، ددې اندازه ددې حديث څخه معلومېږي چې يو بنده که صرف يوه لوېشت الله ﷻ طرفته رجوع کوي؛ نو الله ﷻ هغه بنده ته څو چنده ورنږدې کيږي او په خپل خاص رحمت کې يې پټوي

څوک چې الله ﷻ شريک نه جوړوي جنتي دی

"وعن جابر ؓ، قال: جاء أعرابي إلى النبي ﷺ، فقال: يارسول الله، ما الموجبتان؟" د جابر ؓ روايت دی، فرمايي چې يو اعرابي رسول الله ﷺ ته راغلو او وې فرمايل اې د الله تعالى رسوله! کوم شيان واجبوونکي دي؟ "قال: من مات لا يشرك بالله شيئاً دخل الجنة، ومن مات يشرك به شيئاً دخل النار" نبي کريم ﷺ وفرمايل کوم کس چې په داسې حال کې مړ شي چې د الله ﷻ سره شريك جوړ نه کړي، هغه به جنت ته ځي او کوم کس چې په داسې حال کې مړ شي چې الله ﷻ سره شريك جوړوي، هغه به جهنم ته ځي. رواه مسلم

تشريح: "ما الموجبتان؟ فقال: من مات لا يشرك بالله شيئاً" کوم کس چې په داسې حال کې مړ شي چې الله ﷻ شريك نه جوړوي او د هغه د رسول ﷺ د رسالت اقرار کوي، بيا د هغې تقاضا پوره کوي او هغه ته په داسې حالت کې مرګ راشي؛ نو داسې کس جنتي دی او که چېرته په اعمالو کې ترې کوتاهي شوې وه، خو بيا هم موحد مسلمان وو، نو بيا هم ابدي نجات يقيني دی، اګر که د څه مودې لپاره سزا ورنه کړل شي، بيا به د همېش لپاره جنت ته داخل کړې شي، خلاصه دا چې د ابدي نجات لپاره ايمان مهم دی، که سمدستي جنت ته لاړ نه شي، بيا چې څه موده پس سزا ختمه شي آخر به بيا هم جنت ته ځي، هو! که خدای مه کړه آخري خاتمه يې په ايمان نه وي شوې، نو ټول عمر به په جهنم کې وي، هيڅکله به ترې نجات ونه مومي

په رښتوني زړه د کلمې اقرار د جنت ضمانت دی

"وعن أنس ؓ: أن النبي ﷺ ومعاذ رديفه على الرحل" د انس ؓ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ او معاذ ؓ دواړه په سوارلۍ سپاره وو، معاذ ؓ يې شاته ناست وو، "قال: ((يا معاذ)) قال: لبيك يارسول الله وسعديك" نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې معاذ ؓ! معاذ ؓ وويل: اې د الله تعالى رسوله! زه ستاسو په خدمت کې حاضر يم، "قال: ((يا معاذ)) قال: لبيك يارسول الله وسعديك" نبي کريم ﷺ وفرمايل اې معاذ ؓ! معاذ ؓ وويل اې د الله تعالى رسوله! زه ستاسو په خدمت کې حاضر يم، "قال: ((يا معاذ)) قال: لبيك يا رسول الله وسعديك" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې معاذ ؓ! معاذ ؓ وويل: اې د الله تعالى رسوله! زه ستاسو په خدمت کې حاضر يم، "ثلاثاً" درې ځله دا کيسه وشوه، "قال: ما من عبد يشهد أن لا إله إلا الله، وأن

مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ صِدْقاً مِنْ قَلْبِهِ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: نشته داسې يو بنده چې ددې خبرې شاهدي وركوي چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله ﷻ نه او محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او رسول دى، په رښتيا زړه ددې خبرې اقرار كوي. "إِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰـهُ عَلَى النَّارِ" مګر دا چې الله ﷻ به په هغه باندې د جهنم اور حرام كوي. "قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَفَلَا أُخْبِرُ بِهَا النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوا؟" معاذ ﷺ ووېل: اې د الله رسوله ايا خلكو ته ددې خبرې زيرى ورنه كړم چې هغوى خوشحاله شي؟ "قَالَ: إِذاً يَتَّكِلُوا" نبي كريم ﷺ وفرمايل: نه، ځكه چې دوى به بيا صرف په دې خبره اعتماد وكړي او نور عملونه به پرېږدي. "فَأَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهِ تَأَثُّماً" بيا معاذ ﷺ ددې حديث بيان په آخري عمر كې وكړو، هسې نه چې ګناهګار شم. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وقوله: ((تأثماً)) أي خوفاً من الإثم في كتم هذا العلم" دا قول چې (تاثماً) يعني ددې وېرې چې د علم پټولو په ګناه كې راښكېل نشي.

لغوي تحقيق:

يتكلوا: ددې معنى ده: اعتماد او بروسه ساتل.

تشريح: "رديفه على الرحل" د رسول الله ﷺ پسې په سورلۍ ناست وم، ددې خبرې كولو ضرورت څه وو؟ بيا څو څو ځله نبي كريم ﷺ متوجه كړو. د معاذ ﷺ ددې ټولو كارونو مقصد دا دى چې: معاذ ﷺ دا ښيي چې دا خبره او واقعه ماته ښه ياده ده، په دې كې زما نه څه معمولي خبره نه ده هېره شوې. د عارفينو په قول د معاذ ﷺ دغه مخصوص هيئت او بيا د نبي كريم ﷺ سره نزدې ناسته بار بار ذكر كولو مقصد دا دى چې ددې واقعې نه په دې سره خوند او لذت اخلي، "فبشرهم قال: إذا يتكلوا" ايا زه خلكو ته ددې زيرى ورنه كړم؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: په دې باندې به بيا خلك اعتماد وكړي، مطلب دا چې خلك به بيا اعمال نه كوي او وايي به چې بس كلمه مې ويلې ده.

د منع كولو باوجود ولې معاذ ﷺ حديث بيان كړو؟

دلته سوال دا دى چې: يو ځل نبي كريم ﷺ د حديث بيانولو نه منع وفرمايل، نو بيا ولې معاذ ﷺ بيان كړو؟ ددې اعتراض ګڼ شمېر ځوابونه شوي دي. څو دلته يو څو ذكر كوو: اول وجه دا ده چې په شروع كې معاذ ﷺ ځكه نه بيانولو چې دغه بشارت خلكو ته بيانول مطلقاً منع ؤ، ليكن كله چې معلومه شوه چې زيرى اورول تر هغه پورې منع دي چې په خلكو كې د اعمالو شوق پيدا شوى نه وي. كله چې هغه محسوسه كړه چې په خلكو كې د اعمالو شوق پيدا شو، نو اوس هغه دغه حديث بيان كړو.

دويم ځواب دا دى چې حافظ ابن حجر ﷫ فرمايي: دا نهي تحريمي نه ده. بلكې دا نهي د شفقت او نرمۍ په وجه ده، معاذ ﷺ د كتمان علم څخه د ځان بچولو لپاره دغه حديث بيان كړو. كه نهي د تحريم لپاره وي، نو معاذ ﷺ به كله هم دغه حديث نه واى بيان كړى.

دريمه وجه دا ده چې: معاذ ﷺ په دې باندې پوه وو چې ددې حديث بيانول د عوامو په وړاندې منع دى. د خواصو په وړاندې يې بيانول هيڅ پرواه نه لري، نو ځكه يې د مرګ پر مهال دغه حديث بيان كړو.

ولې معاذ رضي الله عنه د مرګ پر مهال بيان کړو؟

"وأخبر بها معاذ عند موته" معاذ رضي الله عنه د مرګ پر مهال دا دې حديث بيان وکړو. ليکن بيا يو اعتراض واردېږي چې د مرګ پر مهال يې ولې بيان کړو، وړاندې يې ولې نه بيانولو؟ ځواب دا دی چې د شهادت کلمې فضيلت حاصلولو لپاره يې بيان کړو. ځکه چې په يو بل روايت کې راځي "من قال في آخر كلامه لا إله إلا الله دخل الجنة" ډېرو صحابه وو او مشرانو دغه حديث په خپل اخري وخت کې د اورولو اهتمام فرمايلی دی، مشهور محدث ابو ذرعه رحمه الله د مرګ پر مهال د معاذ رضي الله عنه دغه حديث بيان کړی، تر اوسه "لا إله إلا الله" ته نه وو رسيدلی چې روح يې ووتلو. د (دخل الجنة) عملي نمونه يې ظاهره کړه

يو اعتراض او د هغه اوه ځوابونه:

"من شهد أن لا إله إلا الله الخ: څوك چې په رښتوني زړه د توحيد کلمه ووايي، نو داسې کس به سيده جنت ته داخلېږي او جهنم به پرې حرام وي، دلته يو اهم اعتراض واردېږي، هغه دا چې د دې حديث نه معلومه شوه چې د اعمالو هيڅ ضرورت نشته، بد عمله انسان ته به هم عذاب نه شي ورکولی؟ علماوو په مختلف انداز د دې اعتراض ځوابونه ورکړي دي:

لومړی ځواب دا دی چې: په کومو حديثونو کې صرف په کلمې سره جنت ته د داخلېدو وعده شوې ده. هلته مطلق دخول مراد دی، په لومړي ځل داخلېدل مراد نه دي، په لومړي ځل داخلېدل به هغه وخت وي چې کله نېک اعمال هم ورسره وي.

دويم: ځواب دا دی چې په لفظ د (النار) کې الف لام عهدي دی. يعنې د کفارو لپاره چې کوم جهنم دی هغه به پرې حرام شي، اګر چې مسلمان به د بدو اعمالو په وجه جهنم ته لاړ شي، ليکن د جهنم په دې مخصوصو ځايونو کې کوم چې د کفارو لپاره تيار دی، په دې کې به نه داخلېږي.

دريم: ځواب دا دی چې بد عمله مسلمان به جهنم ته داخل شي، ليکن دغه دخول به د پاکوالي په توګه وي، د تعذيب په توګه به نه وي.

څلورم: ځواب دا دی چې: د کلمې ويلو نه مراد دا دی چې د دې کلمې حقونه هم ادا کړي او د دې حقونه نېک اعمال دي.

پنځم: ځواب دا دی چې دا زيری د هغه کس لپاره دی چې نوی مسلمان شي او بيا د عمل کولو نه مخکې وفات شي.

شپږم: ځواب دا دی چې دا اسلام په شروع کې وو، تر کومه پورې چې احکام نازل شوي نه وو.

اووم: ابدي جهنم ورباندې حرام دی، البته همېش به جهنم ته نه داخلېږي. بلکې لږ وخت وروسته به بېرته جنت ته داخلېږي.

د نبي كريم ﷺ په دعاء دوډۍ زياته شوه:

"وعن أبي هريرة -أوأبي سعيد الخدري رضي الله عنهما- شك الراوي -ولايضرُّ الشَّكُّ في عين الصَّحابيّ لأنَّهُمْ كُلُّهُمْ عُدُولٌ- قَالَ: لَمَّاكَانَ غَزْوَةُ تَبُوكَ، أَصَابَ النَّاسَ مَجَاعَةٌ" د ابو هريره ﷺ يا د ابو سعيد خدري ﷺ روايت دی. د راوي شک دی. ليکن دا شک ضرر نه رسوي، ځکه چې صحابه ټول عادلان دي، د يو نه به خامخا رانقل شوی وي، فرمايي کله چې د تبوك د جهاد وخت راغلو، نو صحابه کرامو ﷺ ته زياته لوږه ورسېده، "فَقَالُوا: يَارَسُولَ اللهِ، لَوْ أَذِنْتَ لَنَا فَنَحَرْنَا نَوَاضِحَنَا فَأَكَلْنَا وَادَّهَنَّا؟" صحابه کرامو ﷺ ووېل يا رسول الله ﷺ که تاسو موږ ته اجازه راکړئ موږ به خپل اوښان حلال کړو، هغه به وخورو او ذخيره به يې هم کړو؟ "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ((افْعَلُوا)) فَجَاءَ عُمَرُ ﷺ، فَقَالَ: يَارَسُولَ اللهِ، إِنْ فَعَلْتَ قَلَّ الظَّهْرُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: هو! حلال يې کړئ. عمر ﷺ راغلو، هغه ووېل: يارسول الله ﷺ! که داسې وشي نو بيا خو به زموږ سورلی کمې شي، "وَلَكِنِ ادْعُهُمْ بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ، ثُمَّ ادْعُ اللهَ لَهُمْ عَلَيْهَا بِالْبَرَكَةِ، لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَجْعَلَ فِي ذَلِكَ الْبَرَكَةَ" ليکن د دوی نه زياتې توښې راوغواړئ چې هغوی يې راوړي بيا تاسو ورته د الله ﷻ نه د برکت دعا وکړئ، کېدی شي چې الله ﷻ په دې کې برکت واچوي، "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ((نَعَمْ)) فَدَعَا بِنِطَعٍ فَبَسَطَهُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: هو! هم اسې صحيح ده. بيا نبي كريم ﷺ يو دسترخوان راوغوښت او هغه يې خپور کړو، "ثُمَّ دَعَا بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ" بيا يې زياتې خوراکونه او توښې راوغوښتلې، "فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِكَفِّ ذُرَةٍ وَيَجِيءُ بِكَفِّ تَمْرٍ وَيَجِيءُ الآخَرُ بِكِسْرَةٍ" بيا خلك شروع شو نو چا به زياتې يو موټی جوار راوړل او چا به يو موټی خورما راوړې او چا به زياتې يوه ټوټه ډوډۍ راوړه، "حَتَّى اجْتَمَعَ عَلَى النِّطَعِ مِنْ ذَلِكَ شَيْءٌ يَسِيرٌ" ترديچې په دسترخوان باندې ډېرې توښې راجمع شوې، "فَدَعَا رَسُولُ اللهِ ﷺ بِالْبَرَكَةِ، ثُمَّ قَالَ: خُذُوا فِي أَوْعِيَتِكُمْ" بيا نبي كريم ﷺ د برکت دعاء وغوښتل، وې فرمايل: هر کس دې په خپلو لوښو کې ترې واخلي، "فَأَخَذُوا فِي أَوْعِيَتِهِمْ حَتَّى مَا تَرَكُوا فِي الْعَسْكَرِ وِعَاءً إِلاَّ مَلأُوهُ وَأَكَلُوا" هر کس په خپلو لوښو کې ترې خوراك راواخيستو، ترديچې په لښکر کې يو کس هم داسې پاتې نه شو چې هغه ترې لوښی ډك کړی نه وي او خوړلی يې نه وي. "حَتَّى شَبِعُوا وَفَضَلَ فَضْلَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ" تر دې چې ټول ماړه شول، څه زياتې هم پاتې شول، بيا نبي اكرم ﷺ وفرمايل: زه ددې خبرې شاهدي ورکوم چې نشته لائق د عبادت سيوا د الله ﷻ او زه د الله ﷻ رسول يم. "لاَ يَلْقَى اللهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرَ شَاكٍّ فَيُحْجَبَ عَنِ الْجَنَّةِ" په دې دواړو خبرو کې شك نه کولو سره چې څوك هم الله ﷻ سره مخامخ شي نو جنت ته به يې د داخلېدو څخه نه شي بندولی. رواه مسلم

لغوي تحقيق: نواضحنا: "نواضح" هغه اوښ ته وايي چې اوبه پرې راوړل کېږي.

تشريح په دې حديث کې د رسول الله ﷺ معجزې او د دعاء برکت بيان دی. د رسول الله ﷺ په دعاء معمولې شان ډوډۍ د ټول لښکر لپاره کافي شوه او نه صرف دا چې کافي شوه، بلکې د بل وخت لپاره يې هم محفوظ کړه

د تبوک په غزا کې د مسلمانانو شمار:

دلته يو بل اعتراض دی، هغه دا چې د نبي کريم ﷺ سره په دې جنګ کې څومره کسان وو. دې باره کې د بخاري په روايت کې صرف دومره معلومېږي چې د دوی شمار ډېر زيات وو. امام بخاري رحمه الله فرمايي: په دې جنګ کې د مسلمانانو شمار ډېر زيات وو، تردې چې په رجستر کې د هغوی شمارل مشکل وو، که په دې لښکر کې د رسول الله ﷺ نه کوم کس پټ شوی وو، نو پټېدی شو. مګر دا چې الله ﷻ ورته د وحي په ذريعه ښودلې وه چې فلانکي درنه پټ شو. د دې په شرحه کې ابن حجر رحمه الله فرمايي: په دې لښکر کې د مسلمانانو شمار تقريباً دېرش زرو/ ۳۰۰۰۰ نه تر څلوېښتو ۴۰۰۰۰ زرو پورې رسېدی شو. بهر حال د دومره لوی جماعت لپاره لړه ووډې کافي کېدل او بيا نور د بل وخت لپاره پاتې کول د رسول الله ﷺ د دعا، برکات وو.

بدګوماني جائز نه ده

"وعن عتبان بن مالك رضي الله عنه وهو ممن شهد بدرا، قال: كنت أصلي لقومي بني سالم، وكان يحول بيني وبينهم واد إذا جاءت الأمطار، فيشق علي اجتيازه قبل مسجدهم" د عتبان بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی. دا هغه کس وو چې د بدر په جهاد کې شريک شوی وو، فرمايي چې ما به بني سالم قبيلې ته امامت کولو. زما او د دوی په مېنځ کې يوه ناله وه. کله چې به باران وشو، نو د دې نالې نه تېرېدل او جومات ته تلل زيات مشکل وو. "فجئت رسول الله ﷺ فقلت له: إني أنكرت بصري وإن الوادي الذي بيني وبين قومي يسيل إذا جاءت الأمطار فيشق علي اجتيازه" نو زه رسول الله ﷺ ته راغلم او ورته مې ووېل: يا رسول الله ﷺ! زما د سترګو نظر زيات کمزوری شوی دی. زما او د هغه قوم تر مېنځ يوه ناله ده، کله چې باران وشي؛ نو زه بيا د دغه نالې؛ د اوبو ويالې څخه نه شم تېرېدلی. "فوددت أنك تأتي فتصلي في بيتي مكانا أتخذه مصلى" نو زه دا خبره خوښه ګڼم چې تاسو زموږ کور ته راشئ او هلته يو دوه رکعته نفل وکړئ چې زه هغه ځای خانته چبوتره جوړه کړم. "فقال رسول الله ﷺ: سأفعل" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زړه ده چې زه به دا کار وکړم. "فغدا رسول الله ﷺ وأبو بكر رضي الله عنه بعد ما اشتد النهار" نو نبي کريم ﷺ او ورسره صديق اکبر رضي الله عنه سهار ورغلل، وروسته له دې چې ورځ ښه رڼا شوې وه. "واستأذن رسول الله ﷺ فأذنت له" نبي کريم ﷺ اجازت وغوښتلو، نو ما اجازت ورکړو. "فلم يجلس حتى قال: أين تحب أن أصلي من بيتك؟" نبي کريم ﷺ ناست نه وو چې وې فرمايل: کوم ځای دې خوښ دی چې زه هلته لمونځ وکړم؟ "فأشرت له إلى المكان الذي أحب أن يصلي فيه" نو ما هغه طرفته اشاره وکړه کوم ځای چې زما خوښ وو چې نبي کريم ﷺ لمونځ پکې ادا کړم. "فقام رسول الله ﷺ فكبر وصففنا وراءه فصلى ركعتين ثم سلم وسلمنا حين سلم" نبي کريم ﷺ ودرېدلو. تکبير تحريمه يې وکړه او موږ ورته وروسته صفونه جوړ کړل. دوه رکعته لمونځ يې وکړو. کله چې رسول الله ﷺ سلام وګرځولو، بيا موږ هم سلام واړولو. "فحبسته على خزيرة تصنع له، فسمع أهل الدار أن رسول الله ﷺ في بيتي فثاب رجال منهم حتى كثر الرجال في البيت" نبي کريم ﷺ ما ايسار کړو. د هغه په خدمت کې مې شيره (چې د اوړو او وازدو نه جوړه شوې وه) وړاندې کړه. خلکو ته پته ولګېده چې رسول الله ﷺ

زما په کورکې دى، نو هغوى ټول زما په کور کې راجمع شول. تردې چې زما کور د سړو څخه ډک شو، "فَقَالَ رَجُلٌ: مَا فَعَلَ مَالِكٌ لَا أَرَاهُ! فَقَالَ رَجُلٌ: ذٰلِكَ مُنَافِقٌ لَا يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ" يو كس وويل مالك ﷺ څه شو؟ موږ خو يې نه وينو؟ په دې کې يو بل کس وويل: هغه خو منافق دى، د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه نه کوي، "فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: لَا تَقُلْ ذٰلِكَ، أَلَا تَرَاهُ قَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ يَبْتَغِي بِذٰلِكَ وَجْهَ اللّٰهِ تَعَالَى" نبي کريم ﷺ وفرمايل داسې مه وايه ته نه ګورې چې هغه "لا اله الا الله" ويلي ده، په دې سره د هغه مقصود د الله ﷻ رضا ده. "فَقَالَ: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ أَمَّا نَحْنُ فَوَاللّٰهِ مَا نَرَى وُدَّهُ وَلَا حَدِيثَهُ إِلَّا إِلَى الْمُنَافِقِينَ!" هغه کس وويل: الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي، ليکن دومره خبره ده چې د هغه مينه او خبرې تولې د منافقانو سره وي. "فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: فَإِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ يَبْتَغِي بِذٰلِكَ وَجْهَ اللّٰهِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: بې شکه الله ﷻ د جهنم اور په هغه چا باندې حرام کړى دى چې 'لا اله الا الله' ووايي او په دې سره يې مقصود د الله ﷻ رضا وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وَ((عِتْبَان)): بِكَسْرِ الْعَيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَإِسْكَانِ التَّاءِ الْمُثَنَّاةِ فَوْقُ وَبَعْدَهَا بَاءٌ مُوَحَّدَةٌ" لفظ د عتبان په کسرې د عين مهمله سره دى او په سکون د (ت) سره دى، وروسته ترې (ب) ده، "وَ((الْخَزِيرَةُ)) بِالْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ وَالزَّايِ: هِيَ دَقِيقٌ يُطْبَخُ بِشَحْمٍ" خزيرة هغه اوړو ته وايي چې د وازدو په غوړو کې پاخه شي، "وقوله: ((ثَابَ رِجَالٌ)) بِالثَّاءِ الْمُثَلَّثَةِ: أَيْ جَاؤُوا وَاجْتَمَعُوا" دا قول چې 'ثاب رجال' د دې معنى ده: خلک ډېر زيات راغلل او جمع شول.

لغوي تحقيق:

اجتياز: "اجتاز اجتيازاً" د يو کور نه بل کور ته تلل، مزل کول، تېرېدل.

فثاب: "ثاب ثوباً" واپس راتلل، واپسې کول.

د شرعي عذر له وجې په کور کې لمونځ جائز دى:

تشريح "فيشق على اجتيازه قبل مسجدهم" د هغه ځاى څخه تېرېدل او جوماتې ته راتلل راته مشکل دي، علماوو د دې څخه استدلال کړى دى چې که شرعي عذر وي، نو په کور کې سړى لمونځ کولى شي، "انكرت بصرى" په يو بل روايت کې دي چې "ساءبصرى" په يو بل روايت کې دي چې: "أصابني في بصري بعض الشئ" دا ټول روايات چې جمع شي، نو خلاصه يې دا راځي چې د سترګو نظر يې ختم شوى وو، "أحب أن يصلى فيه" زه خوښوم چې تاسو ﷺ راته په هغه ځاى کې لمونځ وکړئ، د دې نه معلومه شوه چې سړي ته پکار دي چې په کور کې هم د لمونځ لپاره يو ځاى مخصوص کړي، همدغه حکم د ښځو لپاره هم دى چې هغوى ځانونو ته د لمانځه لپاره خپل مخصوص ځايونه جوړ کړي.

خريزه څنګه حلواده؟

"خريزة تصنع له" نبي کريم ﷺ ته يې خريزه تياره کړه، په يو بل روايت کې د خريزه په ځاى (وشيته) لفظ راغلى دى، دا هم د خريزه په څېر ده، خريزه دې ته وايي چې کله غوښه ټوټه ټوټه شي بيا پخه شي، په

دې کې بيا اوره واچول شي، که په دې اوړو کې غوښه وانچول شي، نو دې ته عصيده ويل کيږي او که ورسره پکې غوښه هم واچول شي بيا دې ته خريزه ويل کيږي، "ما فعل مالك" پوره نوم يې مالك بن دخشن يا مالك بن دخشين دی، "ذلك منافق" هغه خو منافق دی، په دې جمله باندې رسول الله ﷺ د خفګان اظهار وکړو، معلومه شوه چې په مؤمن مسلمان باندې بد ګوماني پکار نه ده.

د راوي عتبان بن مالك رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عتبان رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې مالك د سالم قبيلې سره تعلق لري، د قباء جومات سره يې نږدې کور وو، د خپل قوم مشر وو، د بنو سالم قبيلې امام وو، کله چې په سترګو معذوره شو، نو هغوی د نبي کريم ﷺ په اجازه خپل کور کې څانته چبوتره جوړه کړې وه، دا د دوی لپاره ډېر فخر او سر لوړي مقام دی چې رسول الله ﷺ د دوی کور ته تشريف يوړو، د امير معاويه رضي الله عنه په دور خلافت کې په دوه پنځوسمه هجري کې په قسطنطينيه ښار باندې حمله وشوه، د حملې نه وروسته محمود بن ربيع د دوی پوښتنې ته لاړو، محمود بن ربيع فرمايي په دې وخت کې زيات بوډا شوی وو او سترګو يې کار پرېښی وو

د الله جل جلاله مينه د خپل مخلوق سره د ورکشوي زوی نه زياته ده

"وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه، قَالَ: قدِمَ رَسُولُ الله ﷺ بِسَبْيٍ فَإذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْيِ تَسْعَى" د عمر بن خطاب رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ ته څه قيديان راوستل شول، په هغو قيديانو کې يوه ښځه هم وه، هغې ښځې اخوا دېخوا منډې وهلې، خپل ماشوم يې په قيديانو کې کتلو، "إذْ وَجَدَتْ صَبِياً في السَّبْيِ أخَذَتْهُ فَألْزَقَتْهُ بِبَطْنِهَا فَأَرْضَعَتْهُ" ناڅاپه يې په قيديانو کې په خپل ماشوم باندې نظر وشو، نو هغه يې راپورته کړو، خپلې سينې سره يې جوخت کړو او تې يې ورته واچولو، شيدې يې ورکړې، "فَقَالَ رَسُولُ الله ﷺ: أتُرَوْنَ هذِهِ المَرْأةَ طَارِحَةً وَلَدَهَا في النَّارِ؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل تاسو د ښځه وويني، په دې ښځه مو څه ګومان دی چې آيا دی به خپل ماشوم په اور کې واچوي؟ "قُلْنَا: لاَ وَالله. فَقَالَ: للهُ أرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هذِهِ بِوَلَدِهَا" موږ وويل نه قسم په الله جل جلاله هيڅ کله هم نه، نبي کريم ﷺ وفرمايل الله جل جلاله خامخا په خپلو بندګانو باندې ډېر زيات رحم کوونکی دی، په نسبت ددې ښځې په خپل ماشوم باندې مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ: لَمَّا خَلَقَ اللهُ الخَلْقَ كَتَبَ في كِتَابٍ، فَهُوَ عِنْدَهُ فَوقَ العَرْشِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې الله جل جلاله ټول مخلوق پيدا کړو، نو بيا يې په يو کتاب ليکل وکړل، هغه کتاب د الله جل جلاله سره د عرش دپاسه دی، "إنَّ رَحْمَتِي تَغْلِبُ غَضَبي" په هغې کې يې دا وليکل زما رحمت زما په غضب او غوسه باندې غالب دی

"وفي رواية: ((غَلَبَتْ غَضَبي)) وفي رواية: سَبَقَتْ غَضَبي" او په يو روايت کې داسې هم دي چې زما رحمت په غضب باندې غالب دی او په بل روايت کې داسې دي چې زما رحمت زما په غضب باندې وړاندې دی مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

لغوي تحقيق:

طارحة: "طرح طرحاً الشئ بالشئ" ددې معنی ده: غورځول. د ښځې غورځېدل

تشريح "إمرأة من السبي تسعی" يوې مېرمنې د خپل بچي په لټون اخوا دېخوا منډې وهلې. محدثين فرمايي چې دا واقعه د مکې د فتحې نه وروسته ده او دا مېرمن د هوازن قبيلې وه. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: دغې مېرمن ته بيا خپل ماشوم په لاس ورغلو

ښځې ولې ماشوم سينې ته اچوي؟

"فأرضعته" ابن حجر رحمه الله فرمايي: ددې مېرمن بچی نادرکه وو، ددې مېرمنې په تيونو کې د شيدو جمع والو له امله تيونو درد کولو، په دې وجه هره مېرمن خپل ماشوم سينې ته اچوي. ددې نه بله خبره معلومه شوه چې بندې مېرمنې ته د ضرورت په اندازه کتل هم جائز دي

"لله أرحم بعباده من هذه بولدها" الله جل جلاله په خپلو بندګانو باندې ددې نه زيات مهربانه او رحم کوونکی ذات دی، څومره چې دا ښځه په خپل بچي شفقت کوونکې ده، په لفظ د "بعباده" کې اشاره ده دې خبرې ته چې دا رحمت عام دی، په دنيا کې کافر او مؤمن دواړو ته شامل دی. ليکن د قرآن او حديثونو څخه معلومېږي چې رحمت په دنيا کې کافر او مؤمن دارو ته شامل دی. ليکن په آخرت کې به خاص مومن ته حاصل وي

زما رحم زما په غوسه غالب دی

"وعنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: جعل الله الرحمة مئة جزء" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی. فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: الله جل جلاله خپل رحمت سل توټې کړی دی. "فأمسك عنده تسعة وتسعين" د خپل ځان سره يې يو کم سل اجزاء ايسار کړل. "وأنزل في الأرض جزءاً واحداً، فمن ذلك الجزء يتراحم الخلائق" او ځمکې ته يې يو جزء نازل کړو. د همدې يو جزء په وجه ټول مخلوق په يو بل باندې رحم کوي. "حتى ترفع الدابة حافرها عن ولدها خشية أن تصيبه" تردې چې ځاروی خپله پښه د بچي نه اوچتوي چې چېرته څه ضرر ورته ونه رسيږي.

"وفي رواية: إن لله تعالى مئة رحمة، أنزل منها رحمة واحدة بين الجن والإنس والبهائم والهوام" په يو روايت کې دي چې د الله جل جلاله رحمت سل حصې دی، ددې سلو حصو نه يې يوه حصه ځمکې ته نازل کړې دی. هغه يې په انسانانو او پېريانو، ځارويو او ځناورو کې تقسيم کړې دی. "فبها يتعاطفون، وبها يتراحمون، وبها تعطف الوحش على ولدها" په همدې وجه په يو بل مهرباني او رحم کوي، په همدې وجه وحشي درندګان په خپلو بچو نرمي کوي. "وأخر الله تعالى تسعاً وتسعين رحمة يرحم بها عباده يوم القيامة" او الله جل جلاله يو کم سل حصې د آخرت لپاره ساتلې دي چې ددې په وجه به په آخرت کې په خپلو بندګانو رحم کوي. متفق عليه

"ورواه مسلم أيضاً من رواية سلمان الفارسي رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: إن لله تعالى مئة رحمة" امام مسلم رحمه الله روايت

کړي. د سلمان فارسي رضي الله عنه په روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل بې شکه د الله ﷻ د رحمت سل حصې دي، "فِيْهَا رَحْمَةٌ يَتَرَاحَمُ بِهَا الْخَلْقُ بَيْنَهُمْ" په دې رحمتونو کې يوه حصه دنيا ته نازله شوې چې د دې په وجه مخلوق په يو بل باندې رحم کوي. "وَتِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ" او نهه نوي حصې د آخرت لپاره ذخيره شوي دي.

"وفي رواية: إِنَّ اللهَ تَعَالٰى خَلَقَ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِائَةَ رَحْمَةٍ" په يو روايت کې داسې هم دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ سل رحمتونه په هغه ورځ پيدا کړل چې اسمانونه او ځمکې يې پيدا کړې. "كُلُّ رَحْمَةٍ طِبَاقُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ" هر رحمت دومره غټ دی، لکه د آسمان نه تر ځمکې پورې. "فَجَعَلَ مِنْهَا فِي الْأَرْضِ رَحْمَةً فَبِهَا تَعْطِفُ الْوَالِدَةُ عَلٰى وَلَدِهَا" نو يو رحمت يې ځمکې ته رانازل کړی دی چې د دې په وجه مور په خپلو بچيانو نرمي کوي، "وَالْوَحْشُ وَالطَّيْرُ بَعْضُهَا عَلٰى بَعْضٍ" وحشي درندګان او مارغان په يو بل باندې نرمي کوي، "فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أَكْمَلَهَا بِهٰذِهِ الرَّحْمَةِ" کله چې د قيامت ورځ شي؛ نو په دې يو رحمت سره به هغه سل رحمتونه مکمل شي.

لغوي تحقيق:

غلب: "غلب الرجل وغلب عليه" باب ضرب يضرب دی، د دې معنی ده: غالبه راتلل او که غلب د باب سمع يسمع څخه شي، نو بيا يې معنی ده: غټ څټ والا.

يتراحم: "تراحم القوم" په يو بل باندې رحم او مهرباني کول

يتعاطفون: "تعاطف القوم" ځيني په ځينو نورو مهرباني کوي

طباقا: لاس بند بدل

تشريح "كتب في كتاب": علامه خطابي رحمه الله فرمايي: دلته د کتاب نه مراد د الله ﷻ فيصله ده. لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې هم ارشاد دی "كتب الله لأغلبن أنا ورسلي": دلته هم کتب په معنی د فيصلې سره دی، يا د دې نه لوح محفوظ مراد دی. په کوم کې چې تر قيامته پورې احوال ليکل شوي دي. د دې لوح محفوظ حقيقت څه دی؟ د بنده عقل د دې څخه قاصر دی.

"إن رحمتي تغلب غضبي": امام نووي رحمه الله د ټولو روايات جمع کړي دي د ټولو مقصد همدغه دی چې د الله ﷻ رحمت هميش په غوسه باندې غالب دی.

"أنزل في الارض جزاء واحدا" د دې رحمت نه يې يوه حصه ځمکې ته نازل کړې، مقصد يې دا دی چې الله ﷻ وګورئ: زما بندګان په خپلو کې په مينه او محبت ژوند تېر کړي. کوم کس چې نرم زړه لري او مهرباني کوي، داسې کس د الله ﷻ هم خوښ دی او کوم کس چې سخت زړی وي، داسې کس د الله ﷻ هم بدې راځي.

"اخر الله تعالى تسعا وتسعين رحمة": الله ﷻ د قيامت ورځې ته يو کم سل رحمتونه ساتلي دي، په دې جمله کې مسلمانانو ته لويه خوشحالي ده او ډېر لوی زيری دی چې په دنيا کې دومره لوی رحمت

الله ﷻ نازل کړی دی چې ددې اثرات په هر ځای کې ليدل کيږي، نو بيا د دومره زياتو رحمتونو چې يو کم سل دي، هغه هم خاص د مسلمانانو لپاره ساتل شوي دي، ددې اندازه به څوک وکړی شي، الله ﷻ به خپلو بندګانو ته څومره نعمتونه ورکوي

توبه ويستونکي سره الله ﷻ مينه کوي

"وعنه، عن النبيّ ﷺ فيما يحكي عن ربه تبارك وتعالى، قَالَ: أَذْنَبَ عَبْدٌ ذَنْباً، فَقَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ د الله ﷻ نه حکايت بيانوي، الله ﷻ فرمايي: زما يو بنده ګناه وکړي او بيا ووايي: يا الله ﷻ زما ګناه وبخښې "فَقَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: أَذْنَبَ عبدي ذَنْباً، فَعَلِمَ أنَّ لَهُ رَبّاً يَغْفِرُ الذَّنْبَ، وَيَأْخُذُ بِالذَّنْبِ" نو الله ﷻ ووايي: زما بنده ګناه وکړه او هغه پوهيږي چې رب يې شته چې ګناهونه بخښي او په ګناه يې نيسي، "ثُمَّ عَادَ فَأذْنَبَ، فَقَالَ: أَيْ رَبِّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، فَقَالَ تبارك وتعالى: أَذْنَبَ عَبدِي ذَنْباً فَعَلِمَ أَنَّ لَهُ رَبّاً، يَغْفِرُ الذَّنْبَ، وَيَأْخُذُ بِالذَّنْبِ" بيا دی واپس شي او ګناه وکړي، هغه ووايي: يا الله ﷻ زما ګناه معاف کړې نو الله ﷻ ووايي: زما بنده ګناه وکړه او هغه پوهيږي چې دده رب شته چې ګناه يې بخښي او په ګناه باندې نيول کوي. "قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِي فَلْيَفْعَلْ مَا شَاءَ" بس ما خپل بنده وبخښلو، دده چې څه زړه غواړي کوي دې يې. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"وقوله تَعَالَى: ((فَلْيَفْعَلْ مَا شَاءَ)) أيْ: مَا دَامَ يَفْعَلُ هكذا، يُذْنِبُ وَيَتُوبُ أغْفِرُ لَهُ، فَإنَّ التَّوبَةَ تَهْدِمُ مَا قَبْلَهَا" دا قول د الله ﷻ چې "فليفعل ماشاء" ددې مطلب دا دی: چې دی هميش همدغه شان ګناه کوي او بيا توبه وباسي، الله ﷻ به يې بخښي، ځکه چې توبه ټول مخکني ګناهونه ختموي

لغوي تحقيق:

اذنب ذنباً: ګناهګاره کېدل.

تشريح په دې حديث کې د توبې فضيلت بيان شوی دی چې يو کس بار بار ګناه کوي، بيا بيا الله ﷻ ته توبه وباسي، نو الله ﷻ يې هم معاف کوي، دا ځکه چې توبه ويستل ددې دليل دی چې هغه په خپلو کړو باندې پښېمان دی.

د توبې شرطونه:

علماء فرمايي: د صحيح توبې قبليدو څلور شرطونه دي چې ددې نه بغير توبه قبلېدل ناممکن دي

اول دا چې توبه به د الله ﷻ له ويرې وباسي، د خلکو د تعريف او ريا کارۍ لپاره به نه وي.

دويم دا چې: په تېرو ګناهونو به پښېمانه وي.

دريم: دا چې بيا به د ګناه نه کولو کلکه اراده کوي.

څلورم دا چې: په کومه ګناه کې چې مبتلا دی هغه به سمدستي پريږدي، ددې شرطونو سره چې توبه وويستل شي، الله ﷻ د هغه توبه قبلوي، د توبې قبلېدو وعده په قرآن کريم کې شوې ده: "هو الذی

يقبل التوبة عن عباده ويعفوا عن السيئات" هغه ذات داسې رحيم او کريم دی چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي او ګناهونه يې معاف کوي، د بنده کار دا دی چې توبه وباسي، کله ناکله خو به يې توبه ضرور قبوله شي

توبه ويستونکي الله ﷻ ته خوښ دي

"وعنه، قال: قال رسول الله ﷺ: والذي نفسي بيده، لو لم تذنبوا لذهب الله بكم" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما دې قسم وي په هغه ذات د چا په لاس کې چې زما ساه ده، که تاسو ګناهونه پرېږدئ؛ نو الله ﷻ به تاسو ختم کړي، "وجاء بقوم يذنبون، فيستغفرون الله تعالى فيغفر لهم" او الله ﷻ به نور خلک راولي چې ګناه به کوي او د الله ﷻ نه به بخښنه غواړي او الله ﷻ به ورته بخښنه کوي

رواه مسلم

لغوي تحقيق:

لذهب: "ذهب، ذهاباً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: تېرېدل، تلل.

د حديث سم مطلب:

تشريح: په دې حديث کې د الله ﷻ رحمت عامه ته اشاره ده، الله ﷻ د خپل صفت، غفاريت او ستاريت ظاهرولو لپاره يې حده بخښنونه او مغفرتونه فرمايي، نو څکه خلکو ته هم پکار ده چې کله ترې د څه بشري تقاضا مطابق ګناه وشي، نو سمدستي بايد توبه وباسي، ځنډ دې نه کوي

غلط مطلب اخيستل:

ځينو کم عقلو خلکو ددې حديث نه غلط مطلب اخيستی دی چې په دې حديث کې خلکو ته د ګناه کولو ترغيب ورکړل شوی دی، که دا خبره وي، نو بيا ولې په قرآن کريم کې ځای په ځای د ګناهونو نه د ځان بچ کولو ترغيب شوی دی او خپل پېغمبران عليهم السلام يې ولې رالېږلي دي، د پېغمبرانو مقصود دي لاره هم دا وه چې خلک د نافرمانۍ او ګمراهۍ لارې څخه راووځي او د اطاعت په لاره روان شي

الله ﷻ به داسې خلک پيدا کړي چې ګناه به کوي، معافي به غواړي

"وعن أبي أيوب خالد بن زيد ﷺ، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: لولا أنكم تذنبون، لخلق الله خلقا يذنبون" د ابو ايوب خالد بن زيد ﷺ روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي، فرمايل يې که ګناه کول پرېږدئ، نو الله ﷻ به داسې مخلوق پيدا کړي چې ګناهونه به کوي، "فيستغفرون فيغفر لهم" بيا به د الله ﷻ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړي او الله ﷻ به يې معاف کوي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

لخلق: "خلقه، خلقاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی پيدا کول، د عدم څخه وجود ته راوستل، دا کار د الله ﷻ دی چې هر څه پيدا کوي او د عدم څخه يې وجود ته راولي

الاديم: د کټ کېدو څخه وراندې د چمړې (څرمنې) اندازه کول

الله جل جلاله غواړي چې خپل د غفاريت صفت په مخلوق کې ظاهر کړي:

الله جل جلاله د ګڼ شمېر صفتونو سره سره په صفت د غفاريت او ستاريت سره هم متصف دی. ددغو صفاتو د ظهور لپاره الله جل جلاله انسان پيدا کړو. په انسان کې يې خير او شر دواړه مادې کېښودي. ددې لپاره چې کله په هغه کې د شر ماده په خير باندې غالبه شي، نو دی بايد الله جل جلاله ته متوجه شي. الله جل جلاله به د خپل غفاريت او ستاريت صفت مظاهره وکړي. انسان بايد تر ټولو اول ددې خبرې کوشش وکړي چې د شر ماده ورسره په خير باندې غالبه نه شي، بلکې همېش د شر ماده مغلوبه وي او ددې لپاره بايد مجاهدې هم وکړي. بالفرض که د شر ماده غالبه هم شي، نو سمدستي بايد الله جل جلاله ته متوجه شي. الله جل جلاله د شر ماده ددې لپاره پيدا کړې ده چې د خپل غفاريت صفت مظاهره وکړي. خو په دې شرط چې د ګناه نه وروسته په خپلو کړو پښېمانه وي چې دا مې څه کړي، سمدستي الله جل جلاله ته متوجه شي. کله چې يې په زړه کې داسې کيفيت پيدا شي، نو بيا د داسې زړه څخه زړه جوړ شي

باغ ته د نبي کريم ﷺ تلل

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: كنا قعوداً مع رسول الله ﷺ، معنا أبو بكر وعمر رضي الله عنهما، في نفر فقام رسول الله ﷺ من بين أظهرنا، فأبطأ علينا فخشينا أن يقتطع دوننا" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی. فرمايي چې زه، عمر رضي الله عنه او ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره ناست وو. په دې کې رسول الله ﷺ زموږ نه اوچت شو. هغه ډېر زيات وخت تېر کړو، موږ وېرېدو چې هسې نه موږ نه يو او دښمن په رسول الله ﷺ باندې حمله ونه کړي. "ففزعنا فقمنا فكنت أول من فزع فخرجت أبتغي رسول الله ﷺ" نو موږ ډېر زيات وېرېدو. ټول پاڅېدو. په دې ټولو کې اول زه وم چې وېرېدم. نو زه د رسول الله ﷺ په لټون پسې روان شوم. "حتى أتيت حائطاً للأنصار" تردې چې زه د انصارو يو باغ ته راورسېدم. "وذكر الحديث بطوله إلى قوله: فقال رسول الله ﷺ: اذهب فمن لقيت وراء هذا الحائط يشهد أن لا إله إلا الله، مستيقناً بها قلبه فبشره بالجنة" بيا يې ټول حديث بيان کړو تردې قول پورې چې رسول الله ﷺ وفرمايل: لاړ شه! کوم کس چې تاته ددې باغ نه اخوا په مخ درځي او ددې خبرې شاهدي ادا کوي چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله جل جلاله او په دې خبره يې د زړه نه پوخ يقين وي، نو هغه ته د جنت زېرې ورکړه" رواه مسلم"

لغوي تحقيق:

فابطأ: ددې معنی ده: وروسته کېدل، تاخير کول، ځنډېدل

ففزعنا: "فزع فزعاً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: وېرېدل

پوره حديث:

وذكر الحديث بطوله: وړاندې پوره حديث داسې دی: "حائط الانصار لبني النجار فدرت به هل أجد له باباً فلم أجد فإذا ربيع يدخل في جوف حائط من بئر خارجة، والربيع الجدول، قال فاحتفزت فدخلت، على رسول الله ﷺ فقال: ابوهريرة؟ فقلت نعم

كنت بين اظهرنا فقمت فابطأت علينا فخشينا ان تقطع دوننا ففزعنا فكنت اول من فزع فأتيت رسول الله ﷺ! قال: ماشانك، قلت: هذا الحائط فاحتفزت كما يحفز الثعلب وهولاء الناس ورائي، فقال: يا اباهريرة واعطاني نعليه فقال: اذهب بنعلي هاتين فمن لقيك من وراء هذا الحائط يشهد أن لا إله إلا الله مستيقناً بها قلبه فبشره بالجنة فكان اول من لقيت عمر فقال ماهاتان النعلان يا اباهريرة: قلت هاتان نعلا رسول الله ﷺ بعثني بهما من لقيت يشهد أن لا إله إلا الله مستيقناً بها قلبه بشرته بالجنة: فضرب عمر بين ثديي فخررت لاستي، فقال: ارجع يا اباهريرة فرجعت الى رسول الله ﷺ فاجهشت بالبكاء وركبني عمر واذا هو على اثري، فقال: رسول الله ﷺ يا اباهريرة! قلت لقيت عمر فاخبرته بالذي بعثني به فضرب بين ثديي ضربةً، خررت لاستي، فقال: ارجع! فقال رسول الله ﷺ! يا عمر! ماحملك على مافعلت؟ قال: يارسول الله ﷺ بأبي أنت وأمي ابعثت أباهريرة بنعليك من لقي يشهد أن لا إله إلا الله مستيقناً بها قلبه بشره بالجنة؟ قال: نعم! قال: فلا تفعل، فإني أخشى أن يتكل الناس عليها فخلهم يعملون فقال رسول الله ﷺ فخله.

ايا صرف د توحيد كلمه كافي ده؟

دلته يو اعتراض پيدا كيږي هغه دا چې صرف د توحيد كلمه ويل كافي ده، نور اعمال به نه وي؟ ددې اعتراض ګڼ ځوابونه دي، ځينې علماء فرمايي قانون دا دی چې "إذا ثبت الشيء ثبت بلوازمه" كله چې د توحيد اقرار وشو، نو ددې ټول لوازمات به هم راځي، هم دغه پوره دين دی. خلاصه دا چې د توحيد كلمه اجمال دی او اسلامي اعمال ددې تفصيل دی. لكه څرنګه چې د نكاح په مجلس كې صرف ايجاب او قبول كيږي، دددې په ضمن كې په مهر من باندې ټولې ذمه واری لازميږي

شيخ الهند رحمه الله ددې اعتراض ځواب داسې وركړی دی چې د توحيد كلمې دغه اثر دی چې جنت ته بړې انسان داخل شي. كه د هغه سره د جهنم والا اعمال راشي، نو بيا ددې كلمې اثر ختميږي، مثلاً د اوبو خپل ذاتي اثر دا دی چې يخې وي. ليكن كه په اور باندې ګرمې شي، دغه صفت بې ختميږي. كه بيا د اور نه بيرته لرې شي او يخې شي، نو خپل صفت ته بيرته واپس شي. دغه شان مسلمان هم دی چې په اصل كې د جنت لپاره پيدا دی. ليكن كه د جهنم والا اعمال ورسره يو ځای شي، نو بيا به جهنم ته داخليږي، تر څو چې د ګناه اثر ختم شي او سزا بې ختمه شي، نو بيا ايمان اثر شروع كړي او همېش جنت ته بړې داخل شي.

د ابراهيم عليه السلام او عيسى عليه السلام دعا:

"وعن عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أنّ النبيّ ﷺ تلا قول الله ﷻ في ابراهيم ﷺ: رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ" د عبد الله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ د ابراهيم عليه السلام دا قول ولوستو چې اي ربه! زما ددغو بوتانو له وجې ډېر زيات خلك ګمراه شول، "فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي" بس څوک چې زما تابعداري كوي هغه زما څخه دی، [ابراهيم:۳۶] الآية، "وقول عيسى ﷺ: إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ" او د عيسى عليه السلام دا قول چې اي الله! كه ته دوی ته عذاب وركوې، نو بس دوی ستا بندګان دي او كه وې بخښې نو ته زورور ذات او د حكمتونو څښتن يې! [المائدة:۱۱۸] "فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ: ((اللَّهُمَّ أُمَّتِي أُمَّتِي)) وبكى" بيا نبي كريم ﷺ خپل لاسونه اوچت كړل او وې ويل اي الله: زما امتيان! زما امتيان! نبي كريم ﷺ په ژړا شو، "فَقَالَ اللهُ ﷻ: يَا جِبْرِيلُ، اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ - وَرَبُّكَ أَعْلَمُ - فَسَلْهُ مَا يُبْكِيهِ؟" الله جل

جبرئيل عليه السلام ته ووېل اې جبرئيل عليه السلام! محمد ﷺ ته لاړ شه! او ستا رب ډېر ښه پوهه دی او پوښتنه ترې وکړه چې ولې ژاړي؟ "فَأَتَاهُ جِبرِيلُ، فَأَخبَرَهُ رسولُ الله ﷺ بِمَا قَالَ - وَهُوَ أَعلَمُ" جبرائيل عليه السلام ورته راغلو، نبي كريم ﷺ د ژړا وجه ورته بيان كړه څنګه چې الله ﷻ ته مخكې هم پته ده، "فَقَالَ اللهُ تَعَالَى: يَا جِبرِيلُ، اذهَب إِلَى مُحَمَّدٍ، فَقُل: إِنَّا سَنُرضِيكَ فِي أُمَّتِكَ" الله ﷻ وفرمايل: اې جبرئيل عليه السلام! محمد ﷺ ته لاړ شه! او ورته ووايه چې موږ به تاسو د خپل امت په باره كې خوشحال كړو، "وَلَا نَسُوءُكَ" او خفه به دې نه كړو. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

لانسوؤك: "ساء يسوء سواء" ددې معنى ده: بد سلوكي كول، نافرماني كول.

تشريح د ابراهيم عليه السلام په دعاء كې "رب إنهن أضللن" الفاظ راغلي دي چې مفسرين رحمهم الله ددې باره كې فرمايي: "إنهن" كې ضمير بوتانو ته راجع دی، يعنې دغه بوتان د دوی د ګمراهی سبب او ذريعه جوړه شوه.

د دواړو پيغمبرانو په دعاګانو كې فرق:

د عيسى عليه السلام په دعاء كې الفاظ داسې دي: "إن تعذبهم فإنهم عبادك" كه د ابراهيم عليه السلام او عيسى عليه السلام په دعاګانو كې فكر وشي، نو د ابراهيم عليه السلام د دعاء په آخر كې لفظ د (أنت الغفور الرحيم) راغلی دی چې ددې بالمقابل د عيسى عليه السلام د دعاء په آخر كې: (فإنك أنت العزيز الحكيم) الفاظ منقول دي: علامه ابن قيم رحمه الله په دې سلسله كې يوه علمي نكته بيانوي، فرمايي چې عيسى عليه السلام داسې وفرمايل: (العزيز الحكيم) او دا به د حشر په ميدان كې وي او ددې مقصد دا دی چې اې الله! ته دغه ګناهګار خلك وبخښې، نو دا بخښنه به د ډېر قدرت لاندې وي، ليكن تاسو اې الله! د دوی په بخښنه مجبور هم نه يې، نو د ادب تقاضا دا ده چې مغفرت او بخښنه د الله ﷻ علم او قدرت ته حواله كړئ، كوم كس چې تاسو معاف كول غواړئ، معاف كولی يې شئ او دا بخښنه به ستا د كمال علم، قدرت او حكمت لاندې وي.

او د ابراهيم عليه السلام په دعاء كې دغه الفاظ چې: "أنت الغفور الرحيم" په دې كې د علم او قدرت ذكر نشته، بلكې د الله ﷻ غفاريت او رحيميت ذكر دی، دا ځكه چې دا د دنيا دعاء ده، يعنې اې الله! ټول خلك معاف كړه، مسلمان وي او كه كافر وي، په مسلمانانو باندې رحم دا دی چې تاسو پرې رحم وكړئ او په مشركانو رحم دا دی چې دوی ته د شرك څخه د توبې ويستلو توفيق نصيب كړئ، ظاهره خبره ده چې توبه په دنيا كې ويستل كيږي، خلاصه دا چې د ابراهيم عليه السلام او عيسى عليه السلام دعاګانې دواړه په خپل خپل ځای صحيح دي او په دې كې انتهايي كمال بلاغت دی.

نبي كريم ﷺ ته د الله ﷻ له لوري تسلي:

"إنا سنرضيك في أمتك": موږ به تاسو ستا د امت په سلسله كې خفه نه كړو، "لانسوءك" الفاظ راوړل د رضا لپاره تاكيد دی او يا داسې ووېل شو چې په "سنرضيك" كې يوه شبه وه چې الله ﷻ به نبي كريم ﷺ د

ځينو امتيانو په باره کې راضي کړي او د ځيني په باره کې نه، نو د "لاتسوك" لفظ نه معلومه شوه چې د ټول امت په باره کې الله ﷻ خپل پېغمبر راضي کوي

د الله تعالى او بنده حق

"وعن معاذ بن جبل ﷺ، قَالَ: كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ ﷺ عَلَى حِمَارٍ" د معاذ بن جبل ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې زه په رسول الله ﷺ پسې شاته په خره ناست وم، "فَقَالَ يَا مُعَاذُ، هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې معاذ ﷺ! تاته پته شته چې د الله ﷻ حق په بنده باندې څه دى او د بنده حق په الله ﷻ باندې څه دى؟ "قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ" ما ووبل: الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهېږي. "قَالَ: فَإِنَّ حَقَّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ، وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً" نبي کريم ﷺ وفرمايل: په بنده باندې د الله ﷻ حق دا دى چې بنده به د الله ﷻ عبادت کوي او د هغه سره به هېڅوك شريك نه جوړوي، "وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئاً" او د بنده حق دا دى چې الله ﷻ به هغه كس ته عذاب نه وركوي چې د الله ﷻ سره شريك نه جوړوي، "فقلتُ: يَا رَسُولَ الله، أَفَلَا أُبَشِّرُ النَّاسَ؟" معاذ ﷺ ووبل: اې د الله تعالى رسوله! ايا خلكو ته ددې خبرې زيرى ورنه كړم؟ "قَالَ: لَا تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوا" نبي كريم ﷺ وفرمايل: زيرى مه وركوه، ځكه چې خلك بيا به صرف په دې خبره تكيه وكړي (او نور عملونه به نه كوي). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

ردف: "الردف": دې ته وايي چې په سورلى باندې وروسته د چا پسې كښيني.

تشريح "كنت ردف النبي ﷺ على حمار" زه په يوه خره باندې په رسول الله ﷺ پسې شاته ناست وم، په يو بل روايت كې دي چې: "ليس بيني وبينه إلا هو مؤخرة الرحل" چې زما او د رسول الله ﷺ ترمينځ صرف د كجاوې د لرګي فاصله وه، ددې الفاظو مقصد دا دى چې معاذ ﷺ خپل نږدېوالى د رسول الله ﷺ سره ثابتول غواړي، يعني دا حديث ما ډېر په توجه سره اورېدلى دى، ځكه چې رسول الله ﷺ سره زه ډېر نږدې ناست وم

"فإن حق الله على العباد": په بندګانو د الله ﷻ حق دا دى چې دوى د الله ﷻ سره شريك جوړ نه كړي، ځكه چې مشركانو بوتان او عيسايانو عيسى عليه السلام يا مريم د الله ﷻ سره شريك جوړ كړي وو

"وحق العباد على الله" او په الله ﷻ باندې د بندګانو حق دا دى چې الله ﷻ دوى ته عذاب ورنه كړي، ليكن دلته يو اعتراض دى، هغه دا چې په الله ﷻ باندې د هيڅا حق واجب نه دى، نو بيا دلته څنګه ووبل شو چې د بنده حق په الله باندې بخښنه ده؟ ددې اعتراض ګن ځوابونه شوي دي، مثلاً: دلته حق په معنى د (الجدير) لائق سره دى، يعني د احسان او نيكى په توګه د الله ﷻ د حكمت سره سم دا ده چې دوى ته عذاب ورنه كړي، دويم ځواب دا دى چې: علامه طيبي رحمه الله فرمايي: الله ﷻ په عمل كولو سره په خپل فضل او كرم سره د كوم اجر وعده كړې ده، د هغې نه يې په حق سره تعبير وكړو، اجر ملاوېدل يې يقيني دي، لكه څرنګه چې د كوم واجب شي ملاوېدل يقيني دي، ځكه چې الله ﷻ د

خپلې وعدې مخالفت نه کوي: "إن الله لايخلف الميعاد" کنه نو حق خبره دا ده چې په الله ﷻ باندې هيڅ يو شی واجب نه دی.

دريم ځواب دا دی چې شيخ محي الدين رحمه الله فرمايي په اولنۍ جمله کې چې "حق الله على العباد" کې کوم لفظ د حق راغلی دی، نو دغه ډول يې د مقابلې او مشاکلې په توګه دلته هم په دويمه جمله کې حق العباد على الله کې لفظ د حق استعمال کړو، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې ارشاد دی "ومکروا ومكر الله، وجزاء سيئة سيئة مثلها".

"أفلا أبشر الناس قال لا تبشرهم فيتكلوا" خلکو ته ددې زيرې ورنه کړم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل نه؛ دوی ته زيرې مه ورکوه؛ دوی به په دې قناعت وکړي، بيا به اعمال پريږدي. وايي به چې موږ خو کلمه ويلې ده، که خير وي جنت ته به ځو. مطلب دا چې انسان د رغبت او د الله ﷻ څخه د وېرې له امله اعمال کوي، که سړي ته معلومه شي چې صرف په توحيد او رسالت منلو سره سړي ته جنت ملاويږي؛ نو په اعمالو کې به سستي راشي او د شريعت منشاء خو دا ده چې انسان بايد د اعمالو په حرص کې مشغول وي او په دې کې د يو بل نه تيزي وکړي.

په قبر کې سوال

"وعن البراء بن عازب رضي الله عنهما عن النبي ﷺ، قَالَ: المُسْلِمُ إِذَا سُئِلَ فِي القَبْرِ يَشْهَدُ أنْ لاَ إلَهَ إلاَّ اللهُ، وَأنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ"

د براء بن عازب رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمان سړي نه چې کله په قبر کې پوښتنه وشي، نو دی په ځواب کې ددې خبرې شاهدي ورکوي چې نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ نه او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی. "فذلك قوله تعالى: يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ" نو په دې کې د الله ﷻ دغه قول ته پکې اشاره ده چې الله ﷻ هغه خلك ثابت قدمه ساتي چې ايمان يې راوړی دی په ثابت شوي قول باندې په دنيا او اخرت کې [إبراهيم: ۲۷]) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

لغوي تحقيق:

يشهد: شاهدي ادا کول.

تشريح "المسلم إذا سئل في القبر" دا حديث په اصل کې د قرآن کريم ددې آيت چې "يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت" تفسير کوي، بل دا چې په دې حديث کې د توحيد کلمې دواړه اجزاء ذکر دي "لا إله إلا الله او محمد رسول الله" ددې حديث نه معلومه شوه چې په قبر کې سوال او ځواب به د هر مړي څخه کيږي، که مسلمان وي، نو ده سره به د الله ﷻ مرسته وي چې دغه مړی به صحيح ځوابونه ورکړي او د کافر سره خود الله ﷻ مرسته نشته، لهذا هغه به په دې سوال او ځواب کې بنديږي، هيڅ ځواب به نه شي ورکولی.

کافر ته د هغه د نيکو عملونو بدله په دنيا کې ورکول کيږي

"وعن أنس ﷺ، عن رسول الله ﷺ، قال: إن الكافر إذا عمل حسنة، أطعم بها طعمة من الدنيا" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي کله چې کافر يوه نيکي وکړي، هغه ته د دې نېک عمل په وجه په دنيا کې لږ څه رزق ورکوي، "وأما المؤمن فإن الله تعالى يدخر له حسناته في الآخرة، ويعقبه رزقا في الدنيا على طاعته" هر چې مؤمن دی، نو الله ﷻ هغه ته د دغو نېکو عملونو ذخيره په آخرت کې جوړوي او په دنيا کې هم هغه ته د تابعداری په وجه رزق ورکولی شي

"وفي رواية: إن الله لا يظلم مؤمنا حسنة يعطى بها في الدنيا" په يو روايت کې دي چې الله ﷻ د مؤمن سره په نيکۍ او د خير په معامله کې کمی نه کوي او نه يې حق ضايع کوي. "ويجزى بها في الآخرة" او په آخرت کې هم نېکه بدله ورکوي، "وأما الكافر فيطعم بحسنات ما عمل لله تعالى في الدنيا" هر چې کافر دی، نو که په دنيا کې يې د الله ﷻ لپاره کوم نېک عمل کړی وي، په دنيا کې به ورته بدله ورکوي، "حتى إذا أفضى إلى الآخرة، لم يكن له حسنة يجزى بها" په دنيا کې ورته څکه بدله ورکوي چې په آخرت کې د بدلې ورکولو لپاره هغه سره څه نيکي پاتې نه شي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

يعقبه: د دې معنی ده بدله ورکول

تشريح "إن الكافر إذا عمل حسنة" په دنيا کې ډېر کافران ښه کارونه کوي، که هغوی مسلمانان وای، نو دوی ته به په دنيا او اخرت کې بدله ورکړل کيده. ليکن د کفر له امله الله ﷻ هغه ته په دې دنيا کې د نېکو عملونو بدله ورکوي، څکه چې په دې خبره د علماوو اتفاق دی چې کوم کس د کفر په حالت کې مړ شي، هغه ته به د نېکو عملونو بدله په آخرت کې نه ملاويږي

د پنځه وخته لمونځونو مثال

"وعن جابر ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: مثل الصلوات الخمس كمثل نهر جار غمر على باب أحدكم" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د پنځه لمونځونو مثال داسې دی لکه د يو سړي د کور مخې ته چې نهر جاري وي او هغه ښه ژور نهر وي، "يغتسل منه كل يوم خمس مرات" او هغه پکې هره ورځ پنځه ځله لامبي رواه مسلم

"الغمر الكثير" د "الغمر" معنی ده ډېرې زياتې او ژورې اوبه

د پنځه وخته لمونځ کولو مثال د پنځه وخته غسل کولو په څېر ده:

تشريح: "نهر جار غمر" اوبه چې څومره ژورې وي هغومره زياتې صفا وي، څومره چې انسان په صفا اوبو کې غسل کوي، هغومره به د هغه بدن صفا وي، دغه ډول د لمونځونو مثال هم دی چې انسان څومره په ښکلي انداز او د فرضو، سنتو او مستحباتو رعايت وساتي. هغومره به يې د ګناهونو لپاره دغه لمونځ

كفاره جوړيږي، په يو بل روايت كې دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل تاسو ووايئ چې كه د كوم كس خواته يو نهر جاري وي، په كوم كې چې هغه پنځه وخته غسل كوي، ايا د هغه په بدن به څه خيره پاته شي؟ صحابه كرامو ﷺ عرض وكړو چې نه؛ نبي كريم ﷺ وفرمايل همدغه مثال د پنځه وخته لمونځونو دى چې الله ﷻ ددې په بركت د هغه ګناهونه زائل كوي، په يو بل روايت كې دي چې پنځه وخته لمونځ د مينځني وخت ګناهونو لپاره كفاره ګرځي، يعنې د يو لمونځ نه تر بل لمونځ پورې چې ګناهونه وشي هغه لمونځ ددې ګناهونو لپاره كفاره ګرځي

د چا په جنازه كې چې څلوېښت موحدين شريک شي، د هغه بخښنه كيږي

"وعن ابن عباس رضى اللــه عنهما، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّــهِ ﷺ يقول: مَامِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوتُ، فَيَقُومُ عَلى جَنَازَتِهِ أَرْبَعُونَ رَجُلاً لَا يُشْرِكُونَ بِاللهِ شَيئاً" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل كوم كس چې مړ شي او د هغه په جنازه كې څلوېښت داسې كسان شريك شي چې د الله ﷻ سره يې شرك نه وي كړى، "إِلَّا شَفَّعَهُمُ اللّٰهُ فِيهِ" مګر دا چې الله ﷻ د هغوى سفارش ددغه مړي په حق كې قبلوي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

شفعهم: ددې معنى ده سفارش كول.

تشريح "أربعون رجلاً" : څلوېښت موحدين يې په جنازه كې شريك شي، نو د هغه مړي په باره كې د دوى سفارش قبليږي او الله ﷻ ددې مړي بخښنه كوي

په رواياتو كې تعارض:

د احاديثو په سلسله كې دې باره كې درې قسمه احاديث راغي: (۱) **"وعن عائشة ﷺ أنه عليه السلام قال مامن ميت تصل عليه جماعة من المسلمين يبلغون مائة كلهم يشفعون إلا شفعوا له"** : كه په يو مسلمان مړي باندې سل كسه مسلمانان جنازه وكړي او هغوى ددې مړي لپاره د الله ﷻ نه د بخښنې سوال وكړي. ددې مړي په حق كې به ددې خلكو سفارش الله ﷻ قبول كړي او دا مړى به خداى وبخښي. (۲) **"قال النبى ﷺ مامن مؤمن يموت فيصلى عليه أمة من المسلمين يبلغون أن يكونوا ثلاثة صفوف إلا غفرله"** د كوم مسلمان مړي په جنازه كې چې د مسلمانانو درې صفونه شريك شي او هغوى پرې جنازه وكړي، نو ددې مړي بخښنه به الله ﷻ كوي، (۳) **"أربعون لا يشركون بالله شيئاً إلا شفعهم الله فيه"** دلته اعتراض واردېږي چې ددې دريواړو حديثونو په خپل مينځ كې تعارض دى، په يو روايت كې سل كسان ذكر شوي دي، په بل روايت كې درې صفونه ذكر شوي دي او په دې پورتني حديث كې څلوېښت كسان ذكر شوي دي. دا تعارض به څنګه ختم شي؟ ځواب دا دى چې: قاضي عياض رحمه الله فرمايي: دغه اختلاف د سوال كونكو د اختلاف له امله دى. يعنې يو كس پوښتنه وكړه چې يا رسول الله ﷺ كه سل كسان د يو مسلمان په جنازه كې شريك شي. ايا ددې مړي بخښنه به وشي؟ په دې اعتبار سره رسول الله ﷺ د سلو كسانو خبره وكړه. دغه شان ځينو د درې صفونو ذكر وكړو، رسول الله ﷺ د درې صفونو قيد ولګولو او ځينو د څلوېښت نفرو قيد ذكر كړى دى

دريم خواب دا دی چې: علامه نووي رحمه الله د مسلم په شرحه کې ورکړی دی. دا تر ټولو بهتر خواب دی فرمايي چې په دې مسئله کې په مزه مزه تخفيف راغلی دی. تر ټولو اول رسول الله ﷺ د سلو کسانو په جنازه کې د شرکت کولو د مغفرت بيان وکړو. بيا يې درې صفونه ذکر کړل. دغه شان په آخر کې صرف څلوېښت کسان ذکر شو.

دريم خواب دا دی: ځينو علماوو داسې ځواب ورکړی دی چې: دلته عدد مراد نه دی. بلکې کثرت مراد دی او ځينې نور علماء وايي: څومره چې د نېکو خلکو په جنازه کې شرکت وشي هغومره د مړي د بخښنې امکانات زياتيږي.

تر ټولو زيات به د نبي کريم ﷺ امت په جنت کې وي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي قُبَّةٍ نَحْواً مِنْ أَرْبَعِينَ، فَقَالَ: ((أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟)) قُلْنَا: نَعَمْ. قَالَ: ((أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟)) قُلْنَا: نَعَمْ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې مونږ تقريباً تر څلوېښتو کسانو پورې د رسول الله ﷺ سره په يوه خيمه کې ناست وو. نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو دا خبره خوښوئ چې تاسو د جنت څلورمه حصه شئ؟ مونږ ووېل: هو، ولې نه. بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو دا خبره خوښوئ چې تاسو د جنت دريمه حصه شئ؟ مونږ ووېل: ولې نه. "قَالَ: وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونُوا نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: زما دې په هغه ذات باندې قسم وي چې د محمد ﷺ ساه د هغه په لاس کې ده. زه اميد ساتم چې تاسو به د جنت نيمائي حصه يئ. "وذلك أَنَّ الْجَنَّةَ لَا يَدْخُلُهَا إِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ، وَمَا أَنْتُمْ فِي أَهْلِ الشِّرْكِ إِلَّا كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَاءِ فِي جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ" او دا ځکه چې جنت ته به نه داخليږي مګر مسلمان، او ستاسو په مقابله کې د مشرکانو نسبت د هغه سپينو وېښتو په اندازه دی چې د يو تور غويي په څرمن کې چې وي، "أَوْ كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِي جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَحْمَرِ" او يا د هغه تورو وېښتو هومره دی څومره چې د يو سور غوايي په څرمن کې وي، (يعنې په ډېر کم مقدار کې به دغه وېښته وي، دغسې به مسلمانان هم د مشرکانو په نسبت کم وي) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق: قبة: قبة په اصل کې ګنبد ته وېل کيږي.

د نبي کريم ﷺ د امت دوه حصې به په جنت کې وي:

تشريح: "أترضون أن تكونوا ربع أهل الجنة" تر ټولو وړاندې نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو ته دا خبره ښه لګيږي چې تاسو په جنت کې څلورمه حصه ياست؟ بيا يې وفرمايل: تاسو به په جنت کې دوه حصې يئ. علامه نووي رحمه الله فرمايي: د رسول الله ﷺ ددې ځواب په انداز کې يو خوند دی. که چېرته رسول الله ﷺ د اول نه فرمايلي وای چې تاسو به د جنت نيمه حصه ياست، نو دومره خوشحالي به نه وای، لکه څومره چې په دې ځواب کې ده چې اول يې وفرمايل: تاسو به د جنت څلورمه حصه ياست بيا يې وفرمايل: د جنت نيمايي حصه به ياست، صحابه کرام رضي الله عنهم ډېر زيات خوشحال شول. (مونږ هم ډېر خوشحال يو) په روايت کې راځي چې د صحابه وو په خولو مبارکه باندې د تکبير (الله اکبر) نعرې

وي، د بريده ﷺ نه يو روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د قيامت په ورځ به په جنت كې يو سل شل صفونه جوړ شي، په دې كې به اتيا صفونه د رسول الله ﷺ امتيان وي او باقي څلوېښت صفونه به د نورو امتونو وي، د دې نه معلومه شوه چې په جنت كې به د رسول الله ﷺ امت دوه حصې وي او باقي امتيان به يوه حصه وي، د الله ﷻ په دې عنايت او مهرباني باندې مونږ ته پكار ده چې مونږ هم د رسول الله ﷺ په اطاعت او تابعدارى كې ژوند تېر كړو او د الله ﷻ حكمونو ته غاړه كېږدو. "اللهم أرنا الحق حقا وارزقنا اتباعه، وأرنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه"

ديهودو او عيسويانو جنت به مسلمانانو ته ملاويږي

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: إذا كان يوم القيامة دفع الله إلى كل مسلم يهوديا أو نصرانيا" د ابو موسى اشعري ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل كله چې د قيامت ورځ شي، نو الله ﷻ به هر مسلمان ته يو يهودي يا عيسايي وركړي، "فيقول: هذا فكاكك من النار" او ورته به ووايي د دوزخ نه د خلاصون لپاره دا ستا بدله ده

"وفي رواية عنه، عن النبي ﷺ، قال: يجيء يوم القيامة ناس من المسلمين بذنوب أمثال الجبال" او په يو روايت كې دا سې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د قيامت په ورځ به مسلمان د غرونو په شان د ګناه بار اوچت كړى راوستل شي، "يغفرها الله لهم" خو الله ﷻ به ورته بخښنه وكړي رواه مسلم

"قوله: دفع إلى كل مسلم يهوديا أو نصرانيا، فيقول: هذا فكاكك من النار، معناه ما جاء في حديث أبي هريرة ﷺ: لكل أحد منزل في الجنة، ومنزل في النار" دا قول چې "دفع الى كل مسلم يهوديا الخ" د دې مطلب دا دى چې د ابو هريرة ﷺ د حديث څخه هم معلوميږي، وايي چې د هر كس لپاره په جنت يا جهنم كې يو ځاى مقرر دى، "فالمؤمن إذا دخل الجنة خلفه الكافر في النار، لأنه مستحق لذلك بكفره" مسلمان سړى چې كله جنت ته داخل شي نو د ده په ځاى به يو كافر جهنم ته ورديكه شي او دا ځكه چې دى د خپل كفر په وجه د دغه جهنم حقدار وو، "ومعنى ((فكاكك)) : أنك كنت معرضا لدخول النار، وهذا فكاكك، لأن الله تعالى، قدر للنار عددا يملؤها" او دا قول چې (فكاكك) د دې مطلب دا دى چې الله ﷻ د دوزخ د ډكولو لپاره يو تعداد مقرر كړى دى كله چې كافر او مشرك د خپلو ګناهونو او د كفر او شرك په وجه د دوزخ ډكولو لپاره كافي شي. نو دا د مسلمان له طرفه بدله شوه، "فإذا دخلها الكفار بذنوبهم وكفرهم، صاروا في معنى الفكاك للمسلمين والله أعلم" پس كله چې كافران د خپلو ګناهونو او كفر په وجه داخل شي، نو دا د دې مطلب شو چې دا د مسلمان بدله شوه. نور الله ﷻ ډېر ښه پوهيږي

لغوي تحقيق: فكاك: د فك معنى ده قيدي او بندي آزادول

تشريح "إذا كان يوم القيامة" د قيامت په ورځ به د يهوديانو او عيسايانو جنت مسلمانانو ته وركړى شي او د مسلمانانو جهنم به يهوديانو او عيسايانو ته وركړى شي، د دې نه معلومه شوه چې الله ﷻ هر انسان ته كه كافر وي او كه مسلمان وي، د هغه لپاره جنت هم جوړ كړى دى او جهنم هم

ولې د يهوديانو او عيسويانو تخصيص وشو؟

ولې د يهوديانو او عيسويانو تخصيص وشو؟ دا خو به د ټولو كفارو سره دغه شان معامله كيږي؟ ځواب دا دى چې نور كفار خو ځانته كافران وايي، ليكن يهوديانو او عيسويانو به ځانته كفار هم نه ويل بلكې د الله ﷻ خوښ بندګان به يې ځانته ويل. هغوى به ويل چې موږ به خامخا جنت ته ځو. په دې وجه رسول الله ﷺ وفرمايل: كه هغوى په ما باندې ايمان رانه وړي، نو د مسلمانانو د جهنم ځاى به دوى ته وركولى شي او د دوى په جنت كې ځاى به مسلمانانو ته وركولى شي

د قيامت په ورځ به الله ﷻ د مسلمانانو ګناهونه پټ كړي

"وعن ابن عمر رضي اللّٰه عنهما، قال: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ، يقول: يُدْنَى الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ رَبِّهِ حَتَّى يَضَعَ كَنَفَهُ عَلَيْهِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دى، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې: د قيامت په ورځ به يو مسلمان د الله ﷻ وړاندې راوستل شي. الله ﷻ به د خپل رحمت په سورى كې ورته ځاى وركړي، "فَيُقَرِّرُهُ بِذُنُوبِهِ" په خپلو ګناهونو به اقرار وكړي. "فيقول: أتعرفُ ذَنْبَ كَذَا؟ أتعرفُ ذَنْبَ كَذَا؟ فيقول: رَبِّ أَعْرِفُ" الله ﷻ به ورته وايي: ته دا ګناه پيژنې ددې اقرار كوې؟ دا ګناه پيژنې؟ هغه به ووايي اې زما ربه پيژنم يې. "قَالَ: فَإِنِّي قَدْ سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا، وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ، فَيُعْطَى صَحِيفَةَ حَسَنَاتِهِ" الله ﷻ به ورته وايي ما په دنيا كې درباندې پرده اچولې وه، نن به هم زه درته بخښنه وكړم. هغه ته به د نيكو عملونو عملنامه وركړل شي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"كَنَفُهُ: سَتْرُهُ وَرَحْمَتُهُ" د كنف معنى ده: د رحمت پرده او سورى.

تشريح: "يدنى المؤمن يوم القيامة" د قيامت په ورځ به يې الله ﷻ ځانله رانژدې كړي. په دې باره كې د محدثينو درې اقوال ذكر دي چې دلته د مؤمن نه كوم مؤمن مراد دى؟ ځينې محدثين فرمايي په غير متعينه توګه د هر مؤمن په باره كې دا بشارت او زيرى دى، دويم قول دا دى چې ددې نه جنس مؤمن مراد دى، يعنې د ټولو مسلمانانو سره به داسې كوي، نارينه وي او كه ښځينه وي، دريم قول دا دى چې: دا بشارت او زيرى د هغه مؤمن لپاره دى چې په دې دنيا كې د چا غيبت نه كوي او نه په چا عيب لګوي، نه څوك شرموي، لكه څرنګه چې څوك په دې دنيا كې د يو مسلمان ورور سره داسې معامله وكړي، نو د قيامت په ورځ به الله ﷻ هم دده سره دغسې معامله وكړي

د لمانځه په بركت ګناهونه معاف كيږي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه: أَنَّ رَجُلاً أَصَابَ مِنِ امْرَأَةٍ قُبْلَةً، فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَأَخْبَرَهُ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې يو كس يوه ښځه ښكل كړه، دغه كس رسول الله ﷺ ته راغلو او خبر يې وركړو. "فَأَنْزَلَ الله تَعَالَى: وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفاً مِنَ اللَّيْلِ" الله ﷻ دا آيت رانازل كړو، **ترجمه** د لمانځه پابندي دې كوي د ورځې په دواړو اطرافو كې او د شپې څه حصه كې، "إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ" بې شكه نيكيو سره ګناهونه ختميږي. [هود: ۱۱۴] "فَقَالَ الرجل: أَلِيَ هٰذَا يَا رَسُولَ اللّٰه؟" هغه كس وويل يا

رسول الله ﷺ! دا حکم زما لپاره خاص دی؟ "قَالَ: لِجَمِيعِ أُمَّتِي كُلِّهِمْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: نه بلکې دا زما د ټول امت لپاره دی. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

قبلة: "القبلة" معنی ده: ښکلول، مچو اخيستل.

تشريح "إن رجلاً أصاب من امرأة قبلة" يو کس يوه ښځه ښکل کړه. هغه کس څوك وو؟ محدثينو ددې سړي کنيت ابو اليسير اخيستلی دی، خپل نوم يې کعب بن عمر ﷺ دی. د ترمذي په روايت سره هغه صحابي ﷺ خپله واقعه داسې بيانوي، فرمايي چې ماته يوه ښځه راغله. خورما يې رانه اخيستې، ما ورته وويل: دننه راشه! دلته ښه خورما شته، هغه ښځه کوټې ته دننه راغله، په ما باندې شهوت غلبه وکړه او هغه مې ښکل کړه، هغې ښځې ماته وويل: اې د الله ﷻ بنده! د الله ﷻ نه ووېرېږه، دا مې چې واورېدل نو زړه مې ورېږدېدلو او ډېر سخت وشرمېدم، د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او ما يې د ټول حديث واقعه بيان کړه.

په قرآن کې د پنځه وخته لمونځونو ذکر يو ځای دی:

"طرفي النهار وزلفاً من الليل": مفسرين فرمايي: په دې آيت کې د پنځه وخته لمونځ ذکر دی، هغه داسې چې په لفظ د: "طرفي النهار" کې د ورځې د دواړو حصو ذکر دی. ددې نه مفسرين د سهار، ماسپښين او مازيگر لمونځ مراد کوي، د سهار لمونځ د ورځې په سر کې وي، د ماسپښين او مازيگر لمونځ د ورځې په اخري سر کې وي.

"زلفاً من الليل": د شپې په څه حصه کې: ددې نه مراد ماښام او ماسخوتن دی، په دې تفسير سره پنځه وخته لمونځ په دې آيت کې ذکر شو.

"لجميع أمتي كلهم": په لمانځه سره ګناهونه معاف کېدل د دغو صحابه وو خصوصيت نه دی، بلکې د ټولو مسلمانانو لپاره دی او تر قيامته پورې به وي، د بخاري په روايت سره په دې ځای کې "لمن عمل بها من أمتي" الفاظ نقل دي، مطلب دا چې: هر څوك چې زما په امت کې پرې عمل وکړي.

په لمانځه سره صغيره ګناه معاف کيږي

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: جَاءَ رجل إِلَى النَّبِيِّ ﷺ، فَقَالَ: يَارَسُولَ اللهِ، أَصَبْتُ حَدًّا، فَأَقِمْهُ عَلَيَّ، وَالصَّلَاةُ" د انس ﷺ روايت دی، فرمايي چې يو کس رسول الله ﷺ ته را غلو او وې ويل: يا رسول الله ﷺ! زما نه د سزا لائق جرم شوی دی، په ما باندې حد قائم کړئ، په دې حالت کې د لمانځه وخت راغلو، "فَصَلَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ، فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ، قَالَ: يَارَسُولَ اللهِ، إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْ فِيَّ كِتَابَ اللهِ" هغه هم د رسول الله ﷺ سره لمونځ وکړو، کله چې يې لمونځ پوره کړو، نو وې ويل: يا رسول الله ﷺ! زما نه د سزا لائق جرم شوی دی، په ما باندې د الله ﷻ د کتاب په فيصلې سره حد قائم کړئ! "قَالَ: هَلْ حَضَرْتَ مَعَنَا الصَّلَاةَ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ايا تا زما سره

لمونځ وکړو؟ "قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: قَدْ غُفِرَلَكَ" هغه کس ووېل: هو! ما ستاسو سره لمونځ وکړو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاته بخښنه شوې ده. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"وقوله: ((أَصَبْتُ حَدًّا)) مَعْنَاهُ: مَعْصِيَةً تُوجِبُ التَّعْزِيرَ" دا قول چې (أصبت حدا) ددې مطلب دا دی چې دا يو داسې ګناه وه چې سرې ورباندې لائق د تعزير او سزا ګرځېدلی شي. "وَلَيْسَ الْمُرَادُ الْحَدَّ الشَّرْعِيَّ الْحَقِيقِيَّ كَحَدِّ الزِّنَا وَالْخَمرِ وَغَيْرِهِمَا" ليکن ددې نه مراد حقيقي شرعي حد نه دی، لکه د زنا کارۍ حد شو يا د شرابو حد شو او داسې نور.... "فَإِنَّ هٰذِهِ الْحُدُودَ لَا تَسْقُطُ بِالصَّلَاةِ، وَلَا يَجُوزُ لِلْإِمَامِ تَرْكُهَا" ځکه چې دا داسې حدود دي چې په لمانځه وغيره سره نه ساقطيږي او نه امام ته جائز دي چې ددې حدودو اجراء پرېږدي.

تشريح زما ځخه داسې ګناه شوې ده چې په ما باندې حد لازميږي. علامه نووي رحمه الله او داسې نور علماء فرمايي چې ددغه صحابي رضي الله عنه نه داسې ګناه نه وه شوې چې په هغه باندې حد لازم شي، ځکه چې که داسې وای، نو بيا به رسول الله ﷺ ورباندې خامخا حد جاري کړی وای. په اصل کې ددې صحابي رضي الله عنه نه صغيره ګناه صادره شوې وه. ځکه چې د رسول الله ﷺ د صحبت په برکت هغه معمولي ګناه هم د هلاکت باعث ګڼل. دغسې چل د صحابي سره وشو چې وړه ګناه ترې وشوه، خو هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او د خپلې ګناه اظهار يې داسې کولو. لکه کبيره ګناه چې ترې صادره شوې وي.

ولې نبي کريم ﷺ ددې ګناه پوښتنه ونه کړه؟

"ولم يسئله" ولې نبي کريم ﷺ ددې ګناه په اړه پوښتنه ونه کړه؟ يعنې نبي کريم ﷺ ددې صحابي نه پوښتنه ونه کړه چې کومه ګناه درنه صادره شوې ده؟ محدثين فرمايي: ممکنه ده چې رسول الله ﷺ ته ددې ګناه خبرتيا د وحي په ذريعه شوې وي، ځکه خو رسول الله ﷺ پوښتنه ونه کړه. هغه صغيره ګناه وه او په لمانځه سره هم معافيږي، په دې وجه رسول الله ﷺ هغه ته د لمانځه په ختمېدو ددې ګناه د معافي زېرى ورکړو.

د خوراک او څښاک وروسته الحمد لله ويلو سره الله جل جلاله خوشحاليږي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ اللهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ" د انس رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بې شکه الله جل جلاله د هغه بنده نه ډېر زيات خوشحاليږي چې ډوډۍ وخوري، "فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا، أَوْيَشْرَبَ الشَّرْبَةَ، فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا" بيا په هغې د الله جل جلاله شکر ادا کړي يا اوبه وڅښي او په هغې د الله جل جلاله شکر ادا کړي. رواه مسلم

"الأَكْلَةُ: بفتح الهمزة وهي المرةُ الواحدةُ مِنَ الأكلِ كالغدوةِ والعشوةِ، والله أعلم": الاکلة، په فتح د همزې سره دی، ددې نه مراد د يو وخت خوراک دی، لکه سبا يا بيګا.

لغوي تحقيق:

الشربة: "الشربة" يو غړپ ته، يو ګوټ ته وايي يا هغه اوبه چې په يوې ساه سره وڅښل شي

تشريح: "إنّ اللّــه ليرضى عن العبد" الله ﷻ د بنده په دې کار ډېر زيات خوشحاليږي چې بنده څه وخوري يا يې وڅښي او هغه پرې الحمدلله ووايي، انسان بايد په هر حال کې د اميد او وېرې ترمنځ ژوند تېر کړي، دلته که خوراک کوي او که څښاک کوي، نو هم الله ﷻ ترې هېر نه دي، ځکه چې هغه پوهيږي چې دا ټول نعمتونه د الله ﷻ له لورې دي، که الله ﷻ مې ناراض کړو، نو دا ټول نعمتونه به رانه واخلي.

د خوراک نه وروسته دعاء:

د الله ﷻ د تعريف او حمد لپاره په احاديثو کې نبي کريم ﷺ يوه دعاء ښودلې ده، که هغه دعاء بنده ووايي، نو د الله ﷻ د حمد او تعريف حق به ادا کړی شي، هغه دعاء دا ده "الحمد لله حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه غير مكفي ولا مودع ولا مستغنى عنه ربنا" په يو بل روايت کې داسې دعاء نقل ده "الحمد لله الذى كفانا وأروانا غير مكفي ولا مكفور" او که دا دعاء هم درته ياده نه وي، نو بيا بايد دومره ووايې چې "الحمد لله" علماء ليکي چې په حديث کې د الله ﷻ د حمد ذکر دی او د الله ﷻ حمد په "الحمد لله" سره ادا کيږي

الله ﷻ خپل لاسونه خپروي چې ګناهګار توبه وباسي

"وعن أبي موسى (رضي الله عنه)، عن النبي ﷺ، قَالَ: إنَّ اللهَ تَعَالَى يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ" د ابو موسى اشعري (رضي الله عنه) روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل بې شکه الله ﷻ خپل لاسونه (كما يليق بشانه) د شپې غوړوي ددې لپاره چې د ورځې ګناهګار د خپلو ګناهونو څخه توبه وباسي چې ورته يې معاف کړي. "وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيلِ، حَتَّى تَطلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا" د ورځې د خپل لاسونه غوړوي ددې لپاره چې: شپې ګناهګار د خپلو ګناهونو څخه توبه وباسي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

ليتوب: "تاب يتوب توباً" : د توبې معنى ده : واپس کېدل، رجوع کول، د توبې نسبت چې الله ﷻ ته وشي، معنى يې د توبې قبلول او کله چې يې بنده ته نسبت وشي، نو بيا يې معنى ده : توبه ويستل

تشريح "يبسط يده" : د الله ﷻ لاس خپرولو نه مراد څه دي؟ دا په حقيقت کې د طلب څخه کنايه ده، مطلب دا چې الله ﷻ د خپلو بندګانو نه توبه قبلوي، ځينې نور علماء فرمايي چې په دوی کې علامه مازري (رحمه الله) هم دی، فرمايي چې د لاس خپرولو نه مراد رحمت او مغفرت دی، ليکن دلته يو اعتراض وارديږي چې: په دې عبارت کې خو د لاس ذکر دی، الله ﷻ خو ددې نه پاک دی؟ ځواب دا دی چې: په داسې مواقعو باندې په داسې الفاظو باندې ايمان راوړل فرض دي، دا په متشابهاتو کې دي او ځينې نور فرمايي چې: (يبسط يده) نه مراد توبه قبلول دي

أن تطلع الشمس من مغربها" تردې چې لمر به له مغربه راوخيږي. دا به د قيامت په ورځ وي. په دې جمله کې ترغيب دی چې الله ﷻ تر هغه پورې توبه قبلوي تر څو چې د مغرب له طرفه لمر راختلی نه وي. يدې دروسته بيا د توبې دروازه بنديږي

د عمرو بن عبسه رضي الله عنه د اسلام واقعه

"وعن أبي نجيح عمرو بن عَبَسَة -بفتح العين والباء- السُّلَمِيِّ رضي الله عنه، قَالَ: كُنْتُ وَأَنَا فِي الجَاهِلِيَّةِ أَظُنُّ أَنَّ النَّاسَ عَلَى ضَلاَلَةٍ، وَأنَّهُمْ لَيْسُوا عَلَى شَيْءٍ، وَهُمْ يَعْبُدُونَ الأَوْثَانَ" د ابو نجيح عمرو بن عبسه رضي الله عنه نه روايت دی. هغه فرمايي چې ما به د جاهليت په زمانه کې ګومان کولو چې ټول خلك په ګمراهۍ کې اخته دي او د دوی سره هيڅ هدايت او رهنمايي نشته. دوی د بوتانو عبادت کوي. "فَسَمِعْتُ بِرَجُلٍ بِمَكَّةَ يُخْبِرُ أخْبَاراً فَقَعَدْتُ عَلَى رَاحِلَتِي فَقَدِمْتُ عَلَيهِ" ما واوريدل چې په مکه کې يو سړی دی چې نوې نوې خبرې کوي. زه په خپله اوښه سپور شوم او مکې ته ورسيدم. "فإِذَا رَسُولُ الله ﷺ مُسْتَخْفِياً جُرَءاءُ عَلَيهِ قَوْمُهُ، فَتَلَطَّفْتُ حَتَّى دَخَلْتُ عَلَيهِ بِمَكَّةَ" نو هلته رسول الله ﷺ ته مخامخ شوم. نبي کريم ﷺ د خپل بې عزته قوم او د هغوی د شرارتونو څخه پټ اوسېدلو. زه په پټه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې مکې مکرمې ته حاضر شوم. "فَقُلْتُ لَهُ: مَا أَنْتَ؟ قَالَ: ((أنَا نَبِيٌّ)) فَقُلْتُ: وَمَا نَبِيٌّ؟ قَالَ: ((أرْسَلَنِي الله)) فَقُلْتُ: وبِأيِّ شَيءٍ أرْسَلَكَ؟" ما ورته وويل: تاسو څوك يئ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه د الله ﷻ نبي يم. ما ورته وويل: په کوم شي يې راليږلی يې؟ "قَالَ: أرْسَلَنِي بِصِلَةِ الأرْحَامِ، وَكَسْرِ الأَوْثَانِ، وَأنْ يُوَحَّدَ اللهُ لاَ يُشْرَكُ بِهِ شَيْءٌ" وې فرمايل: زه الله ﷻ په دې خبره راليږلی يم چې صله رحمي وکړم، بوتان مات کړم او بل دا چې الله ﷻ به يو منئ او شريك به ورسره نه جوړوئ. "قُلْتُ: فَمَنْ مَعَكَ عَلَى هَذَا؟" ما ورته وويل: ستاسو سره په دې خبره کې څوك ملګري دي؟ "قَالَ: ((حُرٌّ وَعَبْدٌ)) ومعه يَوْمَئذٍ أبو بكر وبلالٌ رضي الله عنهما" وې فرمايل چې يو ازاد سړی دی او بل غلام دی. د نبي کريم ﷺ سره په دې وخت کې ابوبکر رضي الله عنه او بلال رضي الله عنه وو. "قُلْتُ: إنِّي مُتَّبِعُكَ، قَالَ: إنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ ذلِكَ يَومَكَ هَذَا" ما ورته وويل: زه هم ستا سره ملګرى کېږم. نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دې ورځو کې تاسو زما ملګرتيا نه شی کولی. "ألا تَرَى حَالِي وحالَ النَّاسِ؟" زما او د خلکو حالت تاسو نه وينئ؟ "وَلكِنِ ارْجعْ إِلَى أهْلِكَ فَإذَا سَمِعْتَ بي قَدْ ظَهَرْتُ فَأْتِنِي" ليکن اوس تاسو خپل کورته لاړ شئ. کله چې تاسو واورئ چې ما ته الله ﷻ کاميابي رانصيب کړه نو بيا راشه! "قَالَ: فَذَهَبْتُ إِلَى أهْلِي وَقَدِمَ رَسُولُ الله ﷺ المَدِينَةَ حَتَّى قَدِمَ نَفَرٌ مِنْ أهْلِي المَدِينَةَ" هغه سړی وايي: زه کور ته لاړم او کله چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړو، نو زه د هغه خبر اخيستلو لپاره لاړم. "فَقُلْتُ: مَا فَعَلَ هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي قَدِمَ المَدِينَةَ" او مدينې نه د راتلونکو خلکو نه مې د هغه په اړه پوښتنې کولې چې د هغه هلته څه حال دی؟ "فَقَالُوا: النَّاسُ إلَيهِ سِرَاعٌ، وَقَدْ أرَادَ قَوْمُهُ قَتْلَهُ، فَلَمْ يَسْتَطِيعُوا ذلِكَ" هغوی راته وويل: خلك ډېر په تيزۍ سره د هغه طرف ته روان دي. د هغه قوم د هغه د وژلو ته چل جوړ کړی وو، ليکن کامياب نه شول. "فَقَدِمْتُ المَدِينَةَ، فَدَخَلْتُ عَلَيهِ، فَقُلتُ: يَا رَسُولَ الله أتَعْرِفُنِي؟ قَالَ: نَعَمْ، أنْتَ الَّذِي لَقيتَنِي بمكّة" دا خبرې مې چې واوريدې، نو زه هم مدينې منورې ته راغلم او د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او پوښتنه مې ترې وکړه چې يا رسول الله ﷺ

تاسو ما پېژنئ؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: هو! تاسو خو هغه كس يئ چې زما سره مو په مكه مكرمه كې ليدلي وُ؟ "قَالَ: فقلتُ: يَارَسُولَ اللهِ، أَخْبِرْنِي عَمَّا عَلَّمَكَ اللهُ وأَجْهَلُهُ، أَخْبِرْنِي عَنِ الصَّلَاةِ؟" ابو نجيح ﷺ وايي: ما وويل چې يا رسول الله ﷺ! ماته د هغه شيانو خبر راكړه چې تاسو ته الله ﷻ درښودلي دي او ماته يې ښه نښته. د لمانځه په باره كې خبر راكړئ! "قَالَ: صَلِّ صَلَاةَ الصُّبْحِ، ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتَّى تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ قِيدَ رُمْحٍ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: د سهار لمونځ وكړه! بيا لمونځ بس كړه تردې چې لمر يوه نيزه راوخېژي. "فَإِنَّهَا تَطْلُعُ حِينَ تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ" ځكه چې لمر د شيطان د ښكرو په مېنځ كې راخېژي. "وَحِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ" او په همدې حالت كې كفار ورته سجده كوي. "ثُمَّ صَلِّ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتَّى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ" بيا چې دغه وخت لرې تېر شي بيا د (څاښت، اشراق) لمونځ كوه! ځكه چې دغه وخت د رحمت پرښتې حاضرېږي (يعني ددې وخت نه تر غرمې پورې نفل لمونځ كېږي) تردې چې سيورى پوره شي بيا چې د نيزې په اندازه برابر د غرمې سيورى برابر شي. "ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ، فَإِنَّهُ حِينَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ، فَإِذَا أَقْبَلَ الْفَيْءُ فَصَلِّ، فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتَّى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ" بيا لمونځ مه كوه! ځكه چې دغه وخت دوزخ ګرمولى شي او كله چې د غرمې سورى واوړي، نو بيا لمونځ كوه! ځكه چې لمونځ ته پرښتې حاضرېږي تردې چې د مازديګر لمونځ وكړئ! "ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ، فَإِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ، وَحِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ" بيا د لمانځه نه ځان بند كړه تردې چې لمر پرېوځي. ځكه چې لمر كله پرېوځي، په دې وخت كې د شيطان د دوه ښكرونو ترمنځ پرېوځي او په همدې حالت كې كفار لمر ته سجده لګوي. "قَالَ: فقلتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ، فَالوُضُوءُ حَدِّثْنِي عَنْهُ!" ابو نجيح ﷺ فرمايي: ما بيا وويل: اې د الله ﷻ پېغمبره ﷺ! د اوداسه طريقه راته بيان كړئ! "فَقَالَ: مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وَضُوءَهُ، فَيَتَمَضْمَضُ وَيَسْتَنْشِقُ فَيَسْتَنْثِرُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: كله چې په تاسو كې يو كس د اوداسه په نيت غرغره كوي او پوزې ته اوبه اچوي او بيا يې صفا كوي. "إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ مِنْ أَطْرَافِ لِحْيَتِهِ مَعَ الْمَاءِ" نو د مخ د ګېرې د ټولو طرفونو ګناهونه يې په اوبو سره معاف كړى شي. "ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ، إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا يَدَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ" او كله چې تر څنګلو پورې لاسونه ووينځي، نو د لاسونو ګناهونه به يې د ګوتو سره د اوبو په ذريعه معاف كېږي. "ثُمَّ يَمْسَحُ رَأْسَهُ، إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رَأْسِهِ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِهِ مَعَ الْمَاءِ" بيا چې كله د سر مسح وكړي، نو د سر د وېښتانو ګناهونه به يې د اوبو سره معاف كړى شي. "ثُمَّ يَغْسِلُ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رِجْلَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ" بيا چې كله تر ګېټو پورې پښې ووينځي، نو د ګوتو په اوبو سره يې ګناهونه معاف كړى شي. "فَإِنْ هُوَ قَامَ فَصَلَّى، فَحَمِدَ اللهَ تَعَالَى، وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَمَجَّدَهُ بِالَّذِي هُوَ لَهُ أَهْلٌ، وَفَرَّغَ قَلْبَهُ لِلَّهِ تَعَالَى" او س كه چېرته لمونځ ته ودرېږي او د الله ﷻ پاكي او ثناء او بزرګي بيان كړي، كومه چې د هغه د شان سره ښايي او خپل زړه د دنيا د غمونو او فكرونو نه فارغ كړي. "إِلَّا انْصَرَفَ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ" نو دى د ګناهونو څخه داسې صفا شي، لكه اوس چې د مور نه پيدا شوى وي.

"فَحَدَّثَ عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ بِهَذَا الْحَدِيثِ أَبَا أُمَامَةَ صَاحِبَ رَسُولِ اللهِ ﷺ، فَقَالَ لَهُ أَبُو أُمَامَةَ: يَا عَمْرُو بْنَ عَبَسَةَ، انْظُرْ مَا تَقُولُ! فِي مَقَامٍ وَاحِدٍ يُعْطَى هَذَا الرَّجُلُ؟" بيا چې كله عمرو بن عبسه ﷺ ابو امامه ﷺ ته دا حديث بيان كړو، نو ابو امامه ﷺ

ووېل اې عمرو بن عبسه ﷺ! لږ سوچ وکړه! دا څه بيانوې؟ يو وخت کې داسې کس داسې مرتبه حاصلولې شي؟ "فَقَالَ عَمْرٌو: يَاأَبَاأُمَامَةَ، لَقَدْ كَبِرَتْ سِنِّي، وَرَقَّ عَظْمِي، وَاقْتَرَبَ أَجَلِي، وَمَا بِي حَاجَةٌ أَنْ أَكْذِبَ عَلَى اللهِ تَعَالَى، وَلَا عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ، لَوْلَمْ أَسْمَعْهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ، إِلَّا مَرَّةً أَوْمَرَّتَيْنِ أَوْثَلَاثًا - حَتَّى عَدَّ سَبْعَ مَرَّاتٍ - مَاحَدَّثْتُ أَبَدًا بِهِ" نو عمرو بن عبسه ﷺ ووېل اې ابو امامه ﷺ! په تحقيق سره زما عمر ډېر زيات شو او هډوکي مې وراسته شول. مرګ مې رانږدې شوی دی او ماته ددې خبرې هيڅ ضرورت نشته چې (نعوذبالله) زه په الله ﷻ او د هغه په رسول ﷺ باندې دروغ وتړم او که چېرته ما دا حديث يو ځل يا دوه ځله يا درې ځله اورېدلی وای. نو ما به چېرې هم بيان کړی نه وو "وَلَكِنِّي سَمِعْتُهُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ. رواه مسلم".

"قوله: ((جُرَاءُ عَلَيْهِ قَوْمُهُ)) هُوَبِجِيمٍ مَضْمُومَةٍ وَبِالْمَدِّ عَلَى وَزْنِ عُلَمَاءَ، أَيْ: جَاسِرُونَ مُسْتَطِيلُونَ غَيْرُهَائِبِينَ، هٰذِهِ الرِّوَايَةُ الْمَشْهُورَةُ" دا لفظ په ضمې د جيم او په مد سره دی، په وزن د علماء دی، معنی يې دا ده چې په نبي کريم ﷺ باندې خپل قوم سختي کول او ورباندې زيات زړور وو. "وَرَوَاهُ الْحُمَيْدِيُّ وَغَيْرُهُ ((حِرَاءٌ)) بِكَسْرِ الْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ، وَقَالَ: مَعْنَاهُ غِضَابٌ ذَوُوغَمٍّ وَهَمٍّ، قَدْعِيلَ صَبْرُهُمْ بِهِ، حَتَّى أَثَّرَفِي أَجْسَامِهِمْ، مِنْ قَوْلِهِمْ: حَرَى جِسْمُهُ يَحْرَى، إِذَانَقَصَ مِنْ أَلَمٍ أَوْغَمٍّ وَنَحْوِهِ، وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ بِالْجِيمِ" او امام حميدي رحمه الله دا لفظ حراء نقل کړی دی، ددې معنی ده: غوسه کول. تردې چې د دوی د صبر پيمانه ختمه شي او ډېر سخت غوسه شي، هغه غم د دوی په جسمونو اثر وکړي، لکه څرنګه چې محاوره ده، "حرى جسمه يحرى" کله چې جسم د غم او غوسې له وجې کمزوری شي، صحيح خبره دا ده چې دا لفظ د جيم سره دی

"قوله ﷺ: ((بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ)) أَيْ نَاحِيَتَيْ رَأْسِهِ وَالْمُرَادُ التَّمْثِيلُ، وَمَعْنَاهُ: أَنَّهُ حِينَئِذٍ يَتَحَرَّكُ الشَّيْطَانُ وَشِيعَتُهُ، وَيَتَسَلَّطُونَ" د شيطان د دواړو ښکرو ترمنځ يعنې د سر دواړو کيناړو ترمينځ. مطلب دا چې شيطان او د هغه ملګري په دې وخت کې په حرکت کې راځي، هغوی تسلط او غلبه مومي.

"وقوله: ((يُقَرِّبُ وَضُوءَهُ)) مَعْنَاهُ يُحْضِرُ الْمَاءَ الَّذِي يَتَوَضَّأُ بِهِ" او په يې ورته نږدې کړي چې اودس پرې وکړي. "وقوله: ((إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا)) هُوَبِالْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ: أَيْ سَقَطَتْ، وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ ((جَرَتْ)) بِالْجِيمِ، وَالصَّحِيحُ بِالْخَاءِ، وَهُوَرِوَايَةُ الْجُمْهُورِ" ګناهونه يې معاف شي، ځينو د "جرت" لفظ نقل کړی دی. ليکن صحيح لفظ په "خاء" سره دی او د جمهورو په نزد همدغه صحيح دی، "وقوله: فَيَنْتَثِرُ: أَيْ يَسْتَخْرِجُ مَا فِي أَنْفِهِ مِنْ أَذًى، وَالنَّثْرَةُ: طَرَفُ الْأَنْفِ" پوزه صفا کول او نثره د پوزې يو طرف ته وايي

لغوي تحقيق: فتلطفت: "تلطف" نرمي او مهرباني ته وېل کېږي

تشريح "إنك لن تستطيع ذالك يومك هذا" هيڅ کله ته ددې وس نه شې درلودلی. علماوو ددې نه استدلال کړی دی چې کله داعي کمزوری وي او د هغه مخالفين طاقتور وي. هغه ته پکار ده چې د خپلو افرادو قوت وساتي، د هغوی ساتنه وکړي. ددې لپاره چې حاصل شوی افرادي قوت يې ضايع نه شي. څکه رسول الله ﷺ عمرو بن عبسه ﷺ يو طرف د هغوی کور ته ولېږلو او بل طرف يې ورسره د اسلام پټ ساتلو تاکيد هم وفرمايلو

"وَإِذَا سمعت بي قد ظهرت فأتني" زما په باره کې دي کله هم واوريدل چې زه غالب شوم، نو بيا ماته راشه، ددې نه يره بله مسئله هم معلومه شوه چې د حق خبرې داعي ته پکار ده چې په الله ﷻ باندې پوره يقين او باور ولري چې ان شاء الله فتح او غلبه به زمونږ په برخه وي، اګر چې اوس هرڅومره حالات ناموافق وي، الله ﷻ حالات بدلوي او بالاخره د دين کار کوونکو ته فتحه او غلبه ورپه برخه کوي، کله چې دغه مهال دا واقعه پيښه شوه، نو حالات بالعکس وو، ليکن په الله ﷻ يې پوره باور او يقين وو چې بالاخره به دين او اسلام غالب کيږي

په لمانځه کې پرښتې هم حاضريږي:

"فإن الصلوة مشهودة محضورة" مطلب دا چې کله انسان لمونځ شروع کړي، نو پرښتې هم ورته راځي، بيا هغه پرښتې الله ﷻ ته حال بيانوي، نو ددې تقاضه دا ده چې انسان بايد ښه په خشوع او خضوع سره لمونځ وکړي، ددې لپاره چې الله ﷻ ته يې لمونځ ورسيږي؛ نو الله ﷻ به ورنه راضي شي

"حتى يستقبل الظل بالرمح" ترڅو چې سيوری د يوې نيزې برابر شي، د نيزې تذکره يې د صحابي ؓ د پوهولو لپاره وفرمايل، ځکه چې په عربو کې د نيزې استعمال ډېر زيات وو، ليکن نن سبا فلکياتو والا د خپل مهارت په اعتبار د لمر راختلو او ښکته کېدو وختونه تعين کړي دي، ددې فلکي نظام نه بايد پوره فايده واخيستل شي

د راوي عمرو بن عبسه ؓ حالات:

اصلي نوم يې عمرو ؓ دی، کنيت يې ابو يحيى دی، د پلار نوم يې عبسه بن عامر دی، د مور نوم يې رمله بنت دقيعه دی، عمرو بن عبسه ؓ او د ابو ذر غفاري ؓ مور يوه وه، پلاران يې جدا وو، د اسلام په شروع کې مسلمان شوی وو، د مکې په فتحه او طائف وغيره نورو غزاګانو کې يې شرکت کړی ؤ، د طائف په محاصره کې چې کله رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې غشی وچلوي د هغه لپاره به د جنت يوه دروازه خلاصه شي، دا زيری يې چې کله واورېدو نو لينده يې راواخيسته او غشي ويشتل يې شروع کړل

وفات: د الاصابه مصنف فرمايي: د امير المؤمنين عثمان بن عفان ؓ د دور خلافت په آخري وخت کې وفات شو

مرويات: هغه ته د رسول الله ﷺ صحبت کم ملاو شوی ؤ، ليکن په دې کمه موده کې بيا هم د دوی ځخه اته خلويښت حديثونه روايت شوي دي.

کله چې د کوم قوم نه الله ﷻ راضي شي، پيغمبر يې وفات کړي

"وعن أبي موسى الأشعري ؓ، عن النبي ﷺ، قَالَ: إِذَا أَرَادَ اللهُ تَعَالَى رَحمَةَ أُمَّةٍ" د ابو موسى اشعري ؓ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې الله ﷻ په يو امت باندې رحم کول غواړي، "قَبَضَ نَبِيَّهَا قَبْلَهَا" نو اول ترې پيغمبر قبض کړي (يعني وفات يې کړي) "فَجَعَلَهُ لَهَا فَرَطاً وَسَلَفاً بَيْنَ يَدَيْهَا" نو الله ﷻ هغه پيغمبر د

معوى لپاره د خوشحالۍ ذريعه وګرځوي او مخکښې يې توښه کړي. "وَإِذَا أَرَادَ هَلَكَةَ أُمَّةٍ، عَذَّبَهَا وَنَبِيُّهَا حَيٌّ، فَأَهْلَكَهَا وَهُوَ حَيٌّ يَنْظُرُ" او کله چې الله ﷻ د يو قوم د هلاکت اراده وکړي، نو هغوی ته عذاب ورکړي او پيغمبر يې ژوندی وي نو هغوی هلاك کړي او پيغمبر يې ورته ژوندی ګوري. "فَأَقَرَّ عَيْنَهُ بِهَلَاكِهَا حِينَ كَذَّبُوهُ وَعَصَوْا أَمْرَهُ" نو د پيغمبر سترګې د هغوی په هلاکت باندې يخې کړي، کله چې هغوی د خپل پيغمبر تکذيب وکړي او د هغه نافرماني وکړي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

فرطاً: د "فرطاً" معنی ده وړاندې مزل کول، وړاندې تلل

تشريح: "إذا أراد الله تعالى رحمة أمة": کله چې الله ﷻ په کوم امت باندې رحم کول وغواړي. علماء فرمايي: په دې حديث کې صحابه کرامو ته زيری دی چې تاسو د رسول الله ﷺ سره ملګرتيا وکړه. اوس يې تاسو پروا مه کوئ! د قيامت په ورځ به هغه پيغمبر ستاسو شفاعت کوي. ځکه چې هر پيغمبر د خپل امت سالار وي او د هغه چا شفاعت به کيږي چې د نبي ﷺ خبره يې منلې وي. بل په دې حديث کې مشرکانو ته ويره ورکول هم مقصود ده چې ګورئ تاسو د نبي ﷺ مخالفت نه ځانونه وساتئ! هسې نه چې داسې وخت راشي چې پيغمبر ﷺ ژوندی وي او په تاسو باندې د الله ﷻ له لوري عذاب راشي. لکه څرنګه چې فرعونيانو، ثموديانو، نمروديانو او عاديانو سره وشول چې پيغمبر يې ژوندی ؤ او دغه قوم غرق شو

باب فضل الرجاء

د الله ﷻ څخه د اميد ساتلو فضيلت

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى إِخْبَاراً عَنِ الْعَبْدِ الصَّالِحِ: وَأُفَوِّضُ أَمْرِيٓ إِلَى اللّٰهِ" الله ﷻ د خپل نېک بنده خبر ورکوي چې وايي "وأفوض أمري الخ" زه خپل ټول حالت او د ټول ژوند کړه وړه الله ﷻ ته سپارم، "إِنَّ اللّٰهَ بَصِيرٌۢ بِالْعِبَادِ" بې شکه الله ﷻ خپل ټول بندګان ويني. "فَوَقَاهُ اللّٰهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُوا" [غافر: ۴۴-۴۵].

تشريح: د وړاندې آيت سره يې ربط دا دی چې کله د فرعون له قوم نه يو کس مسلمان شو، نو دغه کس خپل قوم ته د حق خبرې دعوت ورکولو، خلکو ته يې وويل: اې زما قومه! کله چې به تاسو باندې د الله ﷻ عذاب نازل شي، نو هغه وخت به زما په خبره پوه شئ، ليکن ياد وساتئ چې په هغه وخت کې به تاسو ته ستاسو پښېمانتيا هيڅ فايده درنه کړي، خو کله چې د دغه مؤمن ايمان فرعونيانو ته څرګند شو، نو د هغه سره فکر پيدا شو چې اوس مې خير نشته، دوی به ما ته سزا راکړي، نبه دا ده چې خپل توکل او اعتماد په الله ﷻ وساته او خپل قوم ته يې داسې ووېل "وأفوض أمري إلى الله" خپل هرڅه الله ﷻ ته حواله کوم، هغه د خپلو بندګانو محافظ او ناصر دی، امام التفسير امام مقاتل رحمه الله د دې آيت په تفسير کې فرمايي چې: کله دغه مؤمن مسلمان فرعونيانو د قتل لپاره بندي کولو، نو هغه ترې

منډه کړه، د غره طرفته لاړو، هلته ترې پټ شو، بیا یې بندي نه کړی شو، "فوقاه الله سيئات مامكروا" کله چې هغه مسلمان ترې پټ شو، نو هغوی ډېر ولټولو، خو بیا ورته په لاس ورنغلو، نو دغه شان الله ﷻ هغه مؤمن ددې ظالم قوم څخه وساتلو، قوم او فرعون ټول الله ﷻ د نیل په دریاب کې غرق کړل او موسی علیه السلام ددې مؤمن سره الله ﷻ ورته په دنیا او اخرت کې نجات ورکړو

الله ﷻ د بنده سره د هغه د ګومان مطابق عمل کوي

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن رسول الله ﷺ، أنه قال: قال الله ﷻ: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي" د ابو هريره ﷺ نه ابت دی، فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی فرمايي چې زه د خپل بنده سره د هغه د ګومان موافق معامله کوم، "وَأَنَا مَعَهُ حَيْثُ يَذْكُرُنِي" او هغه چې ما کوم ځای کې یادوي زه د هغه سره یم، "وَاللَّهِ، لَلَّهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ يَجِدُ ضَالَّتَهُ بِالْفَلَاةِ" په الله ﷻ قسم چې الله ﷻ ډېر زيات خوشحاليږي د بنده په توبه باندې چې کله په دشته کې خپل ورك شئ ومومي، "وَمَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ شِبْراً، تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعاً، وَمَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعاً، تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعاً" او کوم کس چې ماته يوه لوېشت رانژدې کيږي زه ورته يو ګز نژدې کېږم او کوم کس چې ماته يو ګز رانژدې کيږي زه ورته دوه ګزه ورنژدې کېږم، "وَإِذَا أَقْبَلَ إِلَيَّ يَمْشِي أَقْبَلْتُ إِلَيْهِ أُهَرْوِلُ" کله چې ماته په پيدل مزل سره راځي نو زه ورته په منډه ورځم، "متفقٌ عليه، وهذا لفظ إحدى روايات مسلم. وتقدم شرحه في الباب قبله" دا الفاظ د امام مسلم رحمه الله دي او ددې شرحه په باب کې تېره شوې ده

"وروى في الصحيحين: ((وأنا معه حين يذكرني)) بالنون، وفي هذه الرواية ((حيث)) بالثاء وكلاهما صحيح" او په صحيحينو کې داسې الفاظ ذکر دي چې (حين) په نون سره دی او په دې روايت کې په (حيث) سره ذکر شوی دی او دواړه صحيح دي

لغوي تحقيق:

ضالته: "ضل ضلالاً" باب ضرب يضرب دی، ددې لغوي معنی ده . ورکېدل. په اصطلاح کې حق لاره پرېښودل

تشريح "أنا عند ظن عبدي بي" په دې حديث کې په الله ﷻ باندې د ښه ګومان ساتلو ترغيب ورکول شوی دی چې څرنګه بنده په الله ﷻ باندې ګمان کووي الله ﷻ د هغه سره هم هغسې معامله کوي، مثلاً بنده ګومان کوي چې که خير وي، الله ﷻ به مو معاف کوي، ان شاء الله چې الله ﷻ به يې ورته معاف کړي او که ددې برعکس يو کس ووايي چې بس خه کوې هغه کوه! هسې هم الله ﷻ موږ ته عذاب تيار کړی دی، نو الله ﷻ بيا عذاب ورکوونکی ذات دی، ځينې علماء فرمايي چې په دې حديث کې دې خبرې ته اشاره ده چې بايد د الله ﷻ څخه د رحمت او د هغه د فضل او کرم طمع وساتي، دغه طمع بايد د الله ﷻ څخه د عذاب په وېره باندې غالب وي، په روايت کې راځي چې د قيامت په ورځ به يو بنده ته د عذاب فيصله وکړی شي، هغه بنده به عرض وکړي چې اې الله! ما خو په تاسو باندې نېک او ښه ګومان ساتلو، الله ﷻ به فيصله وکړي چې راواپس يې کړئ، زه د بنده سره د هغه د ګومان مطابق معامله کوم.

"وأنا معه إذا ذكرني" مطلب دا چې کله بنده الله ﷻ يادوي، نو الله ﷻ په هغه خصوصي توجه فرمايي، د هغه مرسته کوي، خو شرط دا دی چې الله ﷻ په د زړه څخه يادوي

"والله لله افرح بتوبة عبده من أحدكم" ددې ځای څخه د الله ﷻ خاص مهرباني بيانيږي، خلاصه يې دا ده چې کله د بنده له لوري معمولي حرکت وشي، مطلب معمولي توبه هم وباسي، نو د الله ﷻ له طرفه بې شماره التفات، توجه، رحمتونه او برکتونه پرې نازليږي، په موږ باندې لازم دي چې خاص الله ﷻ ته متوجه شو، څکه چې لاړ شو نو چيرته به لاړ شو؟

د نرۍ څخه د رخصتيدو نه درې ورځې وړاندې رسول الله ﷺ وفرمايل

"وعن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما: أنه سمع رسول الله ﷺ قبل موته بثلاثة أيام، يقول: لا يموتن أحدكم" د جابر بن عبد الله ﷺ روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه د وفات کيدو څخه درې ورځې مخکې واوريدل چې فرمايل يې: په تاسو کې دې يو کس هم نه مري، "إلا وهو يحسن الظن بالله ﷻ" مگر دا چې په الله ﷻ به ښه او نيک گومان ساتي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

الظن: "ظن يظن ظناً": باب نصر ينصر دی، ظن کله د يقين په معنی راځي، لکه: وظنوا أن لا ملجأ من الله إلا إليه" دوی يقين وکړو چې نشته ځای د خلاصون مگر همدغه يو الله ﷻ سره د خلاصی ځای دی او کله د گومان په معنی هم راځي، لکه: "ظننت زيدا صاحبك" زه گومان کوم چې زيد به ستا ملگری وي

څنگه د انسان مرگ په صحيح حالت کې راځي؟

تشريح: د حديث مطلب دا دی: انسان ته پکار ده چې هر وخت نيک عمل کوي، معلومه نه ده چې کله به سړي ته مرگ راځي، هغه که نيک اعمال کوي او که بد عملونه کوي، نو مرگ به هم د ريسې راځي، که په نيکۍ باندې مړ شي، نو په همدې نيکۍ او ښه حالت کې به په آخرت کې له قبره راپورته کيږي، لکه څرنگه چې په يو حديث کې ارشاد دی "يبعث كل عبد على ما مات عليه" هر سړی به هم هغه حالت کې راپورته کولی شي چې په کوم حالت کې ورته مرگ راغلی وو، دغه شان د عايشې ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل "ثم يبعث على نياتهم" بيا به هر سړی د هغه د نيت موافق راپورته کولی شي

په قرآن کې د حديث مفهوم:

علماء فرمايي چې: ددې حديث مفهوم په قرآن شريف کې هم شته: "ولا تموتن إلا وأنتم مسلمون" او تاسو مه مرئ، مگر په داسې حال کې مړه شئ چې مسلمان ياست

که د سړي ګناه تر اسمانه ورسيږي، توبه وباسي بيا هم معاف کولی شي

"وعن أنس ﷺ، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: قَالَ اللهُ تَعَالَى: يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ مِنْكَ وَلاَ أُبَالِي" د انس ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل، فرمايل يې چې الله ﷻ وفرمايل: اې د آدم علیه السلام اولاده! ته چې تر څو ما رابولې او زما نه اميد ساتې، زه به ستا ګناهونه بخښم هرڅنګه چې وي او زه ددې پروا نه کوم، "يَا ابْنَ آدَمَ! لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ، ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ وَلاَ أُبَالِي" اې د آدم علیه السلام اولاده! که چېرته ستا ګناهونه اسمان ته ورسيږي بيا زما څخه بخښنه وغواړې، نو زه به دې وبخښم او زه ددې پروا هم نه کوم، "يَا ابْنَ آدَمَ! إِنَّكَ لَوْ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الأَرْضِ خَطَايَا، ثُمَّ لَقِيتَنِي لاَ تُشْرِكُ بِي شَيْئاً" او اې د آدم علیه السلام اولاده! که چېرته ته ماته په داسې حال کې راشې چې ټوله ځمکه دې د ګناهونو څخه ډکه کړې وي، ليکن زما سره دې شريک نه وي جوړ کړی، "لأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً" نو زه به د ټولې ځمکې په اندازه په مغفرت کې ورته راشم. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن"

"عَنَانُ السَّمَاءِ بفتح العين، قيل: هو مَا عَنَّ لَكَ مِنْهَا، أيْ: ظَهَرَ إِذَا رَفَعْتَ رَأْسَكَ، وقيل: هو السَّحَابُ" لفظ د عنان السماء مطلب دا دی چې سر پورته او چتولو سره تاته په نظر څه درځي او يا ددې نه مراد ورېځې دي. "وَقُرَابُ الأَرْضِ: بضم القاف، وقيل: بكسرها، والضم أصح وأشهر، وَهُوَ: مَا يقارب مِلأَهَا، والله أعلم" (قراب الارض) په ضم د قاف سره دی او چا ويلي دي چې په کسرې سره دی، ليکن ضمه صحيح او مشهوره ده، ددې معنی ده. هر هغه شی چې د ډکېدو ته نژدې وي.

لغوي تحقيق:

رجوتني: "رجايرجورجاءً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: اميد او طمع ساتل.

تشريح: "لوبلغت ذنوبك عنان السماء" مطلب که د بشري تقاضې مطابق ګناهونه دومره ډېر شي، چې هغه ګناهونه تر آسمانه ورسيږي، بيا هم مسلمان ته پکار نه دي چې د الله ﷻ له بخښنې نه طمع کټ کړي، مطلب دا چې که تر اسمانه ګناهونه ورسيږي او يو ځل خدای ته سر په سجده کېږدي، د زړه له اخلاصه توبه وباسي، نو هم به دي الله ﷻ ګناهونه معاف کړي او په خپل رحمت کې به دي پټ کړي، توبه صرف په اخلاص سره قبليږي.

يوه ښکلې واقعه

علامه قليب الدين رحمه الله يوه ښکلې واقعه ليکلې ده، فرمايي چې کله سفيان ثوري رحمه الله بيمار شو، حماد بن سلمه رحمه الله د هغه پوښتنې ته ورغلو، سفيان رحمه الله حماد رحمه الله ته ووېل: ايا ستا دا ګومان شته چې الله ﷻ به ما معاف کړي؟ حماد رحمه الله وفرمايل: که چېرته ماته اختيار راکړی شي چې د خپل حساب کتاب لپاره الله ﷻ ته وړاندې کيږې او که پلار ته؟ نو زه به الله ﷻ ته خپل حساب کتاب وړاندې کړم، ځکه چې الله ﷻ په ما باندې زما د پلار نه زيات مهربان او رحم کونکی دی

باب الجمع بين الخوف والرجاء

د ويرې او اميد جمع کولو بيان

"إِعْلَمْ أَنَّ الْمُخْتَارَ لِلْعَبْدِ فِي حَالِ صِحَّتِهِ أَنْ يَكُونَ خَائِفاً رَاجِياً، وَيَكُونَ خَوْفُهُ وَرَجَاؤُهُ سَوَاءً" په دې خبره خان پوه کړه چې د انسان لپاره د صحت په حالت کې غوره خبره دا ده چې وېرېدونکی او اميد ساتونکی وي، خو اميد او وېره يې دواړه بايد برابر وي، "وَفِي حَالِ الْمَرَضِ يُمَحِّضُ الرَّجَاءَ، وَقَوَاعِدُ الشَّرْعِ مِنْ نُصُوصِ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ مُتَظَاهِرَةٌ عَلَى ذٰلِكَ" د بيمارۍ په حالت کې هم بايد خالص اميد وساتي، ځکه چې د شرعي قاعدو نه دا خبره ظاهره ده لکه د کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ څخه همدا خبره معلوميږي.

"قَالَ اللهُ تَعَالَى: فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ" الله تعالى فرمايي: بس د الله ﷻ له عذابه به نه په امن کې کيږي، مګر هغه خلک چې تاوانيان دي [الأعراف:۹۹]

مشرکين د الله ﷻ څخه نه وېرېږي:

تشريح "مکر الله": ددې نه مراد د الله ﷻ له لورې ورکړې شوې مهلت دی چې کله خلک د دنيا په عيش کې ډوب شي او الله ﷻ ترې هېر شي، الله ﷻ دوی ته د تنبيه په توګه فرمايي چې هغوی دې ددې څخه نه بې خوفه کيږي چې په دوی به د الله ﷻ له لورې عذاب نه راځي، دا عذاب د شپې وي او که د ورځې وي، هر وخت راتلی شي، "فلايأمن مکر الله إلا القوم الخاسرون" لکه څرنګه چې د وړاندې قومونو سره وشو، هوښيار سړی هغه دی چې د ځان نه وړاندې قومونو د عذابونو څخه عبرت واخلي چې هغه قومونه په څه هلاک شوي وو، دوی هم بايد د داسې اعمالو او عقائدو څخه ځان وساتي.

"وَقَالَ تَعَالَى: إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ" او الله تعالى فرمايي: د الله ﷻ د رحمت څخه نه نا اميده کيږي مګر هغه خلک چې کافران دي [يوسف:۸۷]

تشريح مؤمنان په هر حالت کې په الله ﷻ باندې توکل او بروسه ساتي، د هغوی پوره باور او يقين وي چې د شر نه خير طرفته راوستل صرف او صرف د يو الله ﷻ کار دی، دغه شان د خير نه شر ته راوستل هم د الله ﷻ کار دی، ددې بر عکس کفار د حالاتو پسې روان دي، که حالات موافق وي، نو بس خوشحاله وي او که لږ ناموافقه حالات شول، نو دوی نا اميده شي.

سپين مخونه او تور مخونه:

"وَقَالَ تَعَالَى: يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ" او الله تعالى فرمايي: د قيامت په ورځ به ځينې مخونه سپين وي او ځينې به تور وي. [آل عمران:۱۰۶]

تشريح د قيامت په ورځ به د ځينو مخونه سپين وي او د ځينو مخونه به تک تور وي، دا کوم خلک دي؟ دې باره کې د مفسرينو ګڼ اقوال دي. عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د سپينو مخونو والا څخه اهل السنت والجماعت مراد دي او د تورو مخونو والا څخه اهل بدعت مراد دي، عطاء رحمه الله

فرمايي: د مهاجرينو او انصارو مخونه به د قيامت په ورځ تك سپين وي، د بني نضير او بنوقريظه مخونه به تك تور وي

عکرمه ﷺ فرمايي: تورو مخونو والا به اهل کتاب وي او د سپينو مخونو والا به مسلمانان وي. په اخر کې امام قرطبي رحمه الله فرمايي: د مخلص مسلمانانو مخونه به سپين وي او ددې نه علاوه نورو خلکو مخونه به تور وي او ځينو نورو مفسرينو ليکلي چې "تبيض وجوه" يې وړاندې ذکر کړو، په دې کې يې دې خبرې ته اشاره وکړه چې د الله ﷻ رحمت وړاندې وي په غوسه باندې، يعنې مونږ انسان پيدا کړي دی، ددې لپاره چې مونږ پرې رحم وکړو، نه دا چې هغه ته مونږ سزا ورکړو، خو دی چې د سزا مستحق ګرځي، هغه دده خپل بد عملونه دي

الله ﷻ په تيزۍ سره سزا ورکوونکی دی:

"وقال تعالى: إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ" الله تعالى فرمايي چې بې شکه ستا رب ډېر په تيزۍ سره عذاب ورکوونکی دی او بې شکه ستا رب بخښونکی او مهربان ذات دی. [الأعراف:۱۶۷]

تشريح: په دې آيت کې تر ټولو اول مخاطب يهوديان دي، هغوی ته زورنه ورکول کيږي چې الله ﷻ په تيزۍ سره حساب اخيستونکی دی، په دنيا کې تر ټولو وړاندې يهوديانو ته سليمان عليه السلام سزا ورکړې وه، بيا الله ﷻ ورباندې بخت نصر مسلط کړو، ښځې او بچيان يې ورته غلامان کړل، ځوانان به يې ترې قتلول، د نبي کريم ﷺ تر بعثت پورې په دوی باندې ټکيس مقرر وو، بيا نبي کريم ﷺ بني قريظه قتل کړ او بني نضير او بني قينقاع يې جلا وطن کړل، بيا عمر ﷺ د خيبر او فدك نه هم وويستل. "سريع العقاب" الله ﷻ نافرمانو ته په تيزۍ سره سزا ورکوي، په دنيا کې ورته سزا ورکوي او يا د حکمت د تقاضې سره سم په آخرت کې ورته سزا ورکوي، "وانه لغفور رحيم" ددې نه وروسته هم که څوک ايمان راوړو او توبه يې وويستل نو الله ﷻ مهربان او بخښونکی ذات دی.

نيك خلك به په جنت کې وي:

"وقال تعالى: إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ" الله تعالى فرمايي بې شکه نيکان خلك به د جنت په نعمتونو کې وي او ګناهګار خلك به په جهنم کې وي [الانفطار:۱۳-۱۴]

تشريح: سوال: د "الابرار" څخه کوم خلك مراد دي؟ ځواب: د "ابرار" نه هغه خلك مراد دي چې په ايمان کې رښتوني وي، عقائد يې صحيح وي، ښه اخلاق او ښکلي اعمال ترسره کوي، غرض دا چې له هر ناروا څخه ځان ساتي، د الله ﷻ په اطاعت او تابعدارۍ کې ژوند تېروي، "وان الفجار لفي جحيم" او بد عمله خلك به په جهنم کې وي، دلته بيا سوال واردېږي چې د "فجار" نه کوم خلك مراد دي؟ ځواب دا دی چې د فجار لغوي معنی شکول او څيرې کول، معنی يې دا ده: کومو خلکو چې د کفر او شرك په وجه دين شکولی دی، سليمان بن عبدالملك يو ځل د ابو حازم مدني رحمه الله نه ډېرې پوښتنې وکړې، په هغې کې يوه پوښتنه دا هم وه چې: ارمان هر سړي ته پته ولګي چې هغه ته د الله ﷻ په نزد څه دي؟ ابو حازم

ورته وفرمايل خپل اعمال دې قرآن کريم ته وړاندې کړه، خپله به درته پته ولګيږي چې د الله ﷻ سره تاته څه تيار دي، سليمان ورته ووېل: ددې خبرې معلومات به ماته د کوم آيت څخه وشي؟ ابوحازم ورته وفرمايل: ددې آيت کريمه څخه: "إن الأبرار لفي نعيم وإن الفجار لفي جحيم" په دې باندې سليمان بن عبد الملک وفرمايل: بيا د الله ﷻ رحمت چېرته دی؟ ابوحازم وفرمايل: هغه د نېکو خلکو سره نږدې دی، "إن رحمة الله قريب من المحسنين".

د چا نيک اعمال چې زيات وي، جنت ته به ځي:

"وقال تعالىٰ" الله تعالى فرمايي: "فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ" د کوم کس د ميزان تله چې درنه شي، د هغه ژوند به خوشحاله وي، "وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ" او د کوم کس د ميزان تله چې سپکه شي، د داسې کس ځای هاويه (يعني بلېدونکی اور دی) [القارعة :۶-۸] "والآيات في هذا المعنى كثيرة. ويجمع الخوف والرجاء في آيتين مقترنتين أو آيات أو آية" دې باره کې ډېر زيات ايتونه دي. د وېرې او اميد بيان کله به دوه نږدې ايتونو کې وي او کله په ډېرو ايتونو کې بې ذکر شوی وي او ځينې وخت به يو ايت کې ذکر وي.

تشريح: "ثقلت موازينه" ددې نه د نېکو اعمالو تله مراد ده، په حديث کې راځي چې د قيامت په ورځ تله وي چې د هغې به دوه چابړې وي، ليکن هغه چابړې به دومره لويه وي چې د آسمان او ځمکې به ځيږه وي، د هر انسان لپاره به ځان ځان ته تله وي او دا هم ممکنه ده چې د ټولو لپاره يوه تله وي "فهو في عيشة راضية" هغوی به ښه په خوند او مزې ژوند کوي، "وأما من خفت موازينه" د کومو خلکو د نېکو اعمالو چابړې چې سپکه شي، ددې نه مراد کفار دي چې د دوی سره ايمان نشته، نو د دوی د تلې چابړې به سپکې وي او ددې نه مؤمن ګناهګار هم مراد دی چې د کومو د ګناهونو چابړې به درنده شي او د نېکو اعمالو چابړې به يې سپکه شي، "فأمه هاويه" د دوی د اوسېدو ځای به جهنم وي، "هاويه" د جهنم په ځايونو کې د يو ځای نوم دی، د "هاويه" ژوروالي د الله ﷻ څخه بغير بل څوک نه پيژني

که کافر د الله ﷻ رحمت ووېني، هغوی به هم د جنت طمع وکړي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أن رسول الله ﷺ قال: لو يعلم المؤمن ما عند الله من العقوبة ما طمع بجنته أحد" د ابو هريرة ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي که مؤمن ته پته ولګيږي چې د الله ﷻ سزا په کومو کومو طريقو او په کومو کومو شيانو باندې راځي، نو کله به هم د جنت طمعه ونه ساتي. "ولو يعلم الكافر ما عند الله من الرحمة، ما قنط من جنته أحد" او که کافر ته پته ولګيږي چې د الله ﷻ رحمتونه څومره زيات او بې شميره دي، نو کله به هم د جنت څخه نا اميده نه شي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

قنط: قنط قنطاً: باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: نا اميده کېدل

تشريح "لويعلم المؤمن ماعند الله" که مؤمن ته د الله ﷻ د عذاب پته ولګيږي، په دې حديث کې يو طرفته د الله ﷻ د عذاب ځخه ويره مقصود ده چې انسان ته پکار ده بايد د الله ﷻ له عذابه ځان خلاص کړي، اګر که د خورما په ټوټې سره ولې نه وي، بل طرف د الله ﷻ مغفرت، بخښنې او پراخ رحمت ته هم پکې اشاره ده، انسان ته پکار ده چې د الله ﷻ د مغفرت او بخښنې طمع وساتي، علامه طيبي رحمه الله فرمايي په دې حديث کې د الله ﷻ د قهاريت او رحم صفت دواړو ذکر شته. اشاره شوې دې خبرې ته چې مونږ ته پکار ده د الله ﷻ د عذابه ځان بچ کړو، په هره ممکنه طريقه چې وي او د هغه رحمتونه راټول کړو.

د نيکې سړي جنازه / مړی وايي: ما په تېزۍ سره بوځئ!

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ، قال: إذا وضعت الجنازة واحتملها الناس أو الرجال على أعناقهم، فإن كانت صالحة، قالت: قدموني قدموني" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کله چې جنازه خلك يا سړي په خپلو اوږو اوچته کړي، نو که مړی ښه انسان وي، هغه وايي: زر زر مې بوځئ" "وإن كانت غير صالحة، قالت: يا ويلها! أين تذهبون بها" که ښه انسان نه وي، نو بيا چغې وهي چې های افسوس دی چېرته مې بوځئ!؟ "يسمع صوتها كل شيء إلا الإنسان، ولو سمعه صعق" د دې مړي اواز د انسان نه بغير هر شی اوري او که انسان يې واوري، نو بې هوشه به شي رواه البخاري

لغوي تحقيق:

صعق: "صعق يصعق صعقاً" باب سمع يسمع دی، د دې معنی ده: بې هوشه کېدل

تشريح: وكانت صالحة: انسان چې مړ شي، نو په خپلو سترګو د الله ﷻ رحمتونه او د جنت نعمتونه ويني، هغه د دې وجې وايي چې ما زر زر بوځئ، په دې کې ترغيب دی دې خبرې ته چې د مرګ وړاندې په دنيا کې داسې اعمال وکړه چې د مرګ نه وروسته بيا ارمان کوې چې ما زر زر قبر ته بوځئ

"وإن كانت غير صالحة" د دې برعکس که يو کس ګناهګار وي، هغه د الله ﷻ عذابونه او تکليفونه ويني، نو هغه د دې وجې چغې وهي چې های: ما چېرته وړئ؟ تاسو خو زه عذاب ته روان کړی يم، په دې جمله کې هم ترغيب دی چې انسان ته پکار نه دي چې بد اعمال وکړي، بيا به د مرګ وروسته ورته داسې چغو ضرورت پېښ نه شي

د بد سړي جنازه وايي: ما چېرته وړئ؟

سوال: "أين تذهبون" تاسو ما چېرته بوځئ؟ ايا د مړي خبرې په حقيقت باندې حمل دي؟ که داسې وي، نو بيا ولې مونږ د هغه خبرې نه اورو؟ خواب دا دی چې دا خبرې بالکل په حقيقت باندې بناء دي، ليکن هغه مهال انسان او پيرى (جن) د هغه خبرې نه اوري، نور ټول مخلوق د هغه اواز اوري، همدغه مړی په قبر کې د منکر او نکير د سوال خواب ورکوي چې هلته الله ﷻ ورته ګويايي ورکولی شي، نو دغلته هم قادر ذات دی چې دغه مړي ته د خبرو ورکولو طاقت ورکړي

جنت د بوټانو له تسمو څخه هم زيات نږدې دی

"وعن ابن مسعود ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: الجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: تاسو ته جنت دومره نږدې دی څومره چې ستاسو د بوټانو تسمې تاسو ته نږدې دي، "وَالنَّارُ مِثْلُ ذَلِكَ" او د جهنم اور هم داسې دی. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

شراك: "الشراك" د بوټانو تسمو ته وايي

تشريح: مطلب دا چې جنت حاصلول ډېر آسان دي، بس کوم احکامات چې الله ﷻ د رباندې مقرر کړي دي، د هغه پوره اهتمام وکړه، جنت ته تلل آسان دي، بيا په دې احکاماتو باندې عمل کول هم آسان دي، ټول دين د دوه شيانو څخه عبارت دی، څه چې د الله ﷻ پيغمبر درکوي هغه اخله او د کومو شيانو چې دې منع کوي د هغې نه منع شه، الله ﷻ به درنه راضي شي او جنت ته به داخل شې، دغه ډول جهنم هم قريب دی، که په بدو عملونو مو الله ﷻ ناراضه کړو، نو بيا جهنم ته تلل اسان دي

باب فضل البكاء من خشية الله تعالى وشوقاً إليه

د الله ﷻ نه د ويرې ژړا بيان او د هغې شوق حاصلولو بيان

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله تعالى فرمايي چې "وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ" په ژړا ژړا پر مخ پرېوځي، "وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعاً" او دا قرآن کريم د هغوی عاجزي نوره هم زياته کړي [الإسراء:۱۰۹]

تشريح: په دې ايتونو کې د اهل کتابو د هغو ملايانو تعريف بيانيږي چې د الله ﷻ څخه ويرېدل، کله چې د هغوی په وړاندې د قرآن کريم آيت تلاوت کېدلو، نو هغوی الله ﷻ ته په سجده پرېوتل او د قرآن کريم د تلاوت په واسطه د دوی په زړونو کې خشوع او خضوع نوره هم زياته شي، علماء فرمايي چې د قرآن کريم د تلاوت پرمهال ژړا کول مستحب دي او کوم خلک چې د الله ﷻ له ويرې ژاړي په هغوی د جهنم اور حرام دی، جهنم ته يې داخلېدل داسې مشکل شي لکه څرنګه چې د غولانځې نه شيدې ولوشل شي او بېرته واپس دننه نه شي داخلېدلی، دغه شان هغه ژړا چې د الله ﷻ له ويرې وشي نو دده داخلېدل جهنم ته دغسې ناممکن شي، په يو روايت کې دي چې: په دوه سترګو باندې جهنم حرام دی: يو هغه سترګه چې د الله ﷻ په لاره کې وبېنه پاتې شي او بله هغه سترګه چې د الله ﷻ له ويرې وژاړي، عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم مؤمن چې د الله ﷻ له ويرې وژاړي او د سترګو نه يې اوښکې روانې شي، اګر که دغه اوښکه د مچې د سر په اندازه ولې نه وي، جهنم ورباندې حرام دی، علامه آلوسي رحمه الله په خپل تفسير روح المعاني کې ډېر داسې روايات جمع کړي دي چې د الله ﷻ له ويرې د ژړا په باره کې وارد شوي دي، په آخر کې يې د ابن جرير رحمه الله ابن منذر رحمه الله او د عبد الاعلي تميمي رحمه الله قول نقل کړی دی چې کوم کس ته داسې علم حاصل شي چې

ددې علم په ذريعه هغه ته ژړا ورنشي، آخرت ورته ياد نه شي او د الله ﷻ ويره يې په زړه کې پاتې نه شي، نو په دې پوه شه چې دغه علم - علم نافع نه دی، بلکې ضرري علم دی

"وقال تعالى" الله تعالى فرمايي "أَفَمِنْ هَٰذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ" ايا تاسو ددې قرآن څخه تعجب کوئ، "وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ" خندا کوئ او ژړا نه کوئ؟ [النجم:۵۹]

تشريح: "هذا الحديث" ددې نه مراد قرآن کريم دی، مطلب دا چې قرآن کريم خپله يوه مستقله معجزه ده، د رسول الله ﷺ لويه معجزه تاسو ته راغله، په دې هم تاسو حيران ياست او تعجب کوئ، استهزاء او رشخند وريورې وهئ او په خپلو ګناهونو نه پښېمانه کيږئ او نه ژړا درځي؟

د نبي کريم ﷺ قرآن کريم اورېدل او ژړا

"وعن ابن مسعود ﷺ، قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ ﷺ اقْرَأْ عَلَيَّ الْقُرْآنَ قلت: يَارسول الله، أقرأ عليك، وعليك أُنزِلَ؟" د عبد الله بن مسعود ﷺ روايت دی، فرمايي چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل: ماته د قرآن کريم تلاوت وکړه، ما وويل: يارسول الله ﷺ ايا زه تاسو ته د قرآن کريم تلاوت وکړم او حال دا چې قرآن خو خپله په تاسو نازل شوی دی؟ "قَالَ: إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه دا خوښوم چې قرآن کريم د بل چا څخه واورم، "فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ سورةَ النِّسَاءِ، حَتَّى جِئْتُ إِلَى هَذِهِ الآيَة" نو ما د سورت النساء تلاوت شروع کړو، تردې چې دې آيت ته راورسېدم، "فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ" څنګه به وي هغه حالت چې مونږ د هر امت نه شاهدان حاضر کړو، "وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلاءِ شَهِيداً" او اې پېغمبره ﷺ مونږ به تاسو په دوی ټولو باندې د شاهد په توګه حاضر کړو، [النساء:۴۱] "قَالَ: حَسْبُكَ الآنَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: تردې ځايه بس دې، "فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ" عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي: کله چې ما د نبي کريم ﷺ سترګو مبارکو ته وکتل، نو سترګې مبارکې يې د اوښکو څخه ډکې وې. متفقٌ عليه

لغوي تحقيق: تذرفان: "ذرف ذرفاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنى ده: اوښکې تويول.

تشريح "أقرء عليك وعليك أنزل" ايا زه په تاسو د قرآن کريم تلاوت وکړم، حال دا چې په تاسو نازل دی، مطلب يې دا چې قرآن کريم په تاسو نازل دی، ددې د تلاوت کيفيت آداب او صحيح حقيقت تاسو ته معلوم دی، نو تاسو چې ددې قرآن کريم د تلاوت څرنګه حق ادا کولی شئ، دغه ډول بل څوک يې نه شي ادا کولی، بله خبره دا چې کله د بل چا څخه قرآن کريم واورل شي، نو د ايتونو په معنى او مفهوم باندې د فکر کولو موقع سړي ته په لاس ورشي، انسان چې څومره د قرآن کريم تلاوت په شوق او په غور سره کوي، هغومره به مزه ورکوي.

"حسبك الآن فكيف إذا جئنا من كل أمة" په دې آيت کې د قيامت د ورځې منظر کشي شوې ده، نو څنګه چې به رسول الله ﷺ ته کله ددې ورځې سختۍ وريه ياد شوه او د خپل امت کمزوري به يې چې وکتل، نو په ژړا به شو، ددې نه معلومه شوه چې د نبي کريم ﷺ د خپل امت سره څومره مينه وه او څومره به پرې خفه کېدلو. "صلى الله عليه الف الف صلوة كلما ذكره الذاكرون وكلما غفل عن ذكره الغافلون".

د قران کريم د تلاوت سره ژړا مستحب ده

"فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ" چې ومې کتل نو د رسول الله ﷺ سترګو مبارکو نه اوښکې روانې وې. علامه نووي رحمه الله فرمايي: د قرآن کريم د تلاوت پرمهال ژړا کول د عارفينو او صالحينو شعار دی، امام غزالي رحمه الله فرمايي د قرآن کريم د تلاوت پرمهال ژړل مستحب دي او کوم کس ته چې ژړا نه ورځي، هغه بايد د ژړا شکل جوړ کړي او د غم اظهار هم مناسب دی

کم خندل او ډېره ژړا

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: خطب رسول الله ﷺ خُطْبَةً مَا سَمِعْتُ مِثْلَهَا قَطُّ" انس رضي الله عنه فرمايي: يو ورځ رسول الله ﷺ خطبه ولوستل، داسې خطبه ما مخکې نه وه اورېدلې. "فقال: لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ، لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيراً" نبي کريم ﷺ په خپله خطبه کې وفرمايل: کوم څه چې زه پېژنم که هغه تاسو وپېژنئ نو لږ به خاندئ او ډېر به وژاړئ "قَالَ: فَغَطَّى أَصْحَابُ رسول الله ﷺ وُجُوهَهُمْ" انس رضي الله عنه فرمايي: د رسول الله ﷺ صحابه وو خپل مخونه په څادرونو پټ کړل. "وَلَهُمْ خَنِينٌ" او د دوی ژړا شروع وه. "متفقٌ عَلَيهِ، وَسَبَقَ بَيَانُهُ فِي بَابِ الخَوْفِ" دا حديث متفق عليه دی او ددې بيان په باب الخوف کې تېر شوی دی

لغوي تحقيق:

خطب: "خطب خطبةً" وعظ او تقرير کول

تشريح: دا حديث په باب الخوف کې ذکر شوی دی. ليکن دلته يې يو ځل بيا ذکر کړو، يو ځل بيا ذکر کولې شي چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم عمومي حالت دا وو چې کله به د وعظ او نصيحت په وخت د الله جل جلاله نه د وېرې په باره کې کوم آيت تلاوت کړی شو، نو په ژړا به شو، په دې کې ورو ستنيو خلکو ته هم ترغيب دی، کله هم د الله جل جلاله د وېرې په باره کې کومه خبره مخې ته راشي، ژړېدل پکار دي، که ژړا نه درځي، نو د ژړا صورت جوړول پکار دي

د الله جل جلاله له وېرې ژړلو والا به جهنم ته نه ځي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لاَ يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه سړی به جهنم ته داخل نه شي چې د الله جل جلاله له وېرې وژړاي ترڅو چې شيدې غولانځې ته داخل شوې نه وي، "وَلاَ يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِي سَبيلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ" او نه جمع کېږي د الله جل جلاله د لارې ګرد او د جهنم لوګی په يو ځای کې. "رواه الترمذي، وقال: حديثٌ حسنٌ صحيحٌ" دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی

لغوي تحقيق:

دخاناً: "الدخان" د دې معنی ده: لوګی، دود.

تشريح "لايلج النار" جهنم ته به هغه کس داخل نه شي چې د الله جل جلاله له وېرې وژاړي، په يو روايت

کې دي. د رسول الله ﷺ نه داسې دعاء منقول ده: "اللهم ارزقني عينين هطالتين هطالتين تسقيان القلب بذروف الدمع من خشيتك قبل أن تكون الدموع دما والأضراس جمراً" ترجمه: اې الله! ماته داسې دوه سترګې راکړه چې ستا له ويرې نه ژړا وي او ستا له ويرې همدغه اوښکې زړونو ته دوا جوړه شي، مخکې له دې چې د دغه اوښکې ځخه د جهنم په عذاب وينه جوړه شي، د ژامو نه سکروټې جوړې شي، ددې حديث په باره کې د جامع صغير مشهور مصنف رحمه الله علامه عبدالرؤف مناوي رحمه الله فرمايي چې "قال الحافظ العراق اسناده حسن" همدغسې سترګو باره کې علامه جلال الدين رومي رحمه الله فرمايي

اے خوشا چشمے کہ آں گریاں اوست ...... اے ہماں دلے کہ آں بریاں اوست

مطلب دا چې هغه سترګې ډېرې قدرداني دي چې د الله ﷻ له ويرې وژاړي، هغه زړه ډېر مبارک دی چې د الله ﷻ په مينه کې تړپونه وهي، داسې اوښکې د الله ﷻ په نزد ډېرې محبوبې وي.

شيدې په غلانځو/تيانو کې داخلې شي:

"اللبن في الضرع" يعنې شيدې چې يو ځل ولوشل شي، نو بېرته واپس غلانځو ته نه داخلېږي، دا مثال هغه وخت ورکولی شي چې کله يو کار محال وي او کول يې ناممکن وي، لکه ځرنګه چې په قرآن کريم کې الله تعالى فرمايي چې "حتى يلج الجمل في سم الخياط" تردې چې اوښ د ستنې په سوري کې داخل شي، "ولا يجمع غبار في سبيل الله" په دې جمله کې د الله ﷻ د لارې فضيلت او شرافت ته اشاره ده، يعنې کوم کس چې د الله ﷻ په لار کې ووځي بيا د هغه په بدن باندې ګرد او غبار پرېوځي، نو دغه ګرد او غبار او د جهنم لوګی کله هم سره نه شي جمع کېدی، مطلب دا چې کله هم دا سړی جهنم ته نه شي داخلېدلی

په مشکوة کې روايت نقل دی چې په يو سفر کې يو صحابي رضي الله عنه خاتته روان وو، نبي کريم ﷺ ترې د يوازېوالي سفر په اړه پوښتنه وکړه، معلومه شوه چې هغه صحابي رضي الله عنه د ګرد او غبار نه د ځان ساتلو په خاطر خاتته سفر کولو، کله چې رسول الله ﷺ ورته د الله ﷻ د لارې د ګرد او غبار فضيلت بيان کړو، نو په روايت کې راځي چې ددې وروسته دغه صحابي رضي الله عنه ته بيا د ګرد او غبار نه زيات بل څه ګران نه وو.

د قيامت په ورځ په اوه/۷ کسان د عرش تر سيورې لاندې وي

"وعنه، قال: قال رسول الله ﷺ: سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اوه/ ۷ کسان دي چې الله ﷻ به يې په داسې ورځ سيورې ته داخل کړي چې په دې ورځ به ددغه سيورې نه علاوه بل سيوری نه وي، "إِمَامٌ عَادِلٌ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللهِ تَعَالَى، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ بِالْمَسَاجِدِ" تولنې کس په دې کې عادل بادشاه دی، بل هغه کس دی چې زړه يې په جوماتونو پورې لګېدلی وي، "وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ" او دوه هغه کسان دي چې په خپل مينځ کې مينه او محبت د الله ﷻ د رضا لپاره ساتي، په همدې يې يو ځای والی وي او په همدې سره يې جدا والی وي، "وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ: إِنِّي أَخَافُ اللهَ" او بل هغه کس ته چې يوه داسې

ښکلې ښځه د زنا دعوت ورکړي چې د منصب او ښايست خاونده وي، خو هغه ورته ووايي: زه د الله ﷻ نه وېرېږم. "وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ" او بل هغه کس چې په داسې طريقه صدقه ورکړي چې چپ لاس يې په دې خبر نه شي چې په ښي لاس يې څه ورکړي دي. "وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ" او بل هغه کس چې څانته د الله ﷻ ذکر وکړي چې بيا يې د سترګو نه اوښکې توی شي. متفق عليه

لغوي تحقيق:

نشأ: "انشاء نشوءً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: ځواني په عبادت کې تېرول

تشريح: دا حديث وړاندې په "باب حب في الله" بيان شوی دی، علامه نووي رحمه الله په دې باب کې يو ځل بيا ذکر کړو، اشاره ده دې خبرې ته چې: د الله ﷻ له وېرې ژړېدل د هر لوی نعمت دی چې چانه يې الله ﷻ ورنصيب کړي، ددې ګټه دا ده چې انسان به د قيامت په هغه سخته ورځ د يو الله ﷻ د عرش تر سيوري لاندې وي، د خلکو د حساب کتاب منظر به ګوري، دغه اوښکې د الله ﷻ په نزد دومره قدرمنې دي چې په يو روايت کې راځي: يو ځل ام المؤمنين عايشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې: يا رسول الله ﷺ! ستاسو په امت کې به هم داسې يو کس وي چې بې حسابه او کتابه جنت ته داخل شي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو: شته! هغه به داسې کس وي چې خپل ګناهونه ورپه ياد شي، بس وژاړي.

د نبي کريم ﷺ سينې مبارکې نه د کټوی/ دېګ په څېر اواز راوتلو

"وعن عبد الله بن الشِّخِّير رضي الله عنه، قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ وَهُوَ يُصَلِّي وَلِجَوْفِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الْمِرْجَلِ مِنَ الْبُكَاءِ" د عبد الله بن شخير رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې يو ځل د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، په دې وخت کې رسول الله ﷺ لمونځ کولو، نو د هغه د سينې مبارکې نه د ژړا داسې اواز راتلو لکه په اور چې کټوی پرته وي او هغه پخيږي، "حديث صحيح رواه أبو داود والترمذي في الشمائل بإسناد صحيح" دا حديث صحيح دی، امام ابوداود رحمه الله او امام ترمذي رحمه الله په شمائل کې دا روايت نقل کړی دی په صحيح سند سره.

لغوي تحقيق:

أزيز: "الأزيز" معنی ده: د کټوی خوټ کېدو شور، جوش وهل

تشريح "لجوفه أزيز" د رسول الله ﷺ د سينې مبارکې نه د ژړا داسې آواز راوتلو لکه په اور باندې چې کټوی ايښې وي او هغه خوټ کېږي، دلته لفظ د جوف راغلی دی، جوف په اصل کې خېټې ته وايي، ليکن دلته ترې سينه مراد ده، لکه څرنګه چې په يو بل روايت کې داسې الفاظ راغلي دي "وفي صدره أزيز".

د راوي عبد الله بن شخير رضي الله عنه حالات:

پوره نوم يې عبد الله بن شخير بن عوف بن كعبين وقدان و، د بصرې اوسېدونكى دى، د بني عامر قبيلې سره په ډله كې راغلى وو، اسلام يې قبول كړو، دوه زامن يې وو، يو مطرف بل يزيد، هغوى دواړه د خپل پلار څخه روايت كوي

مرويات: شپږ حديثونه ترې روايت شوي دي، څېنو اسماء الرجال والاوېلي دي چې نهه حديثونه ترې نقل دي

نبي كريم ﷺ ابي بن كعب رضي الله عنه ته سورة منفكين واورولو

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ لأُبَي بن كعب رضي الله عنه" د انس رضي الله عنه نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ ابي بن كعب رضي الله عنه ته وفرمايل: "إِنَّ اللهَ عزوجل أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ: لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا" الله جل جلاله ماته حكم كړى دى چې زه په تاسو باندې دا ايت ولولم: ﴿لم يكن الذين كفروا﴾ قَالَ: وَسَمَّانِي؟ ابي بن كعب رضي الله عنه وفرمايل يا رسول الله ﷺ! زما نوم يې هم واخيست؟ "قَالَ: نَعَمْ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: هو! "فَبَكَى أُبَيٌّ" نو ابى بن كعب رضي الله عنه وژړل، "متفقٌ عَلَيْهِ. وفي رواية: فَجَعَلَ أُبَيٌّ يَبْكِي" په يو بل روايت كې داسې هم شته چې ابي بن كعب رضي الله عنه په ژړا شو

ام ايمن رضي الله عنها شيخين رضي الله عنهما وژړول

"وعنه، قَالَ: قَالَ أبو بكر لعُمَر، رَضِيَ اللهُ عنهما، بعد وفاة رسول الله ﷺ: انْطَلِقْ بِنَا إِلَى أُمِّ أَيْمَنَ رضي الله عنها نَزُورُهَا كَمَا كَانَ رسول الله ﷺ يَزُورُهَا" د انس رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې يوه ورځ ابوبكر رضي الله عنه عمر رضي الله عنه ته د رسول الله ﷺ د وفات وروسته وفرمايل: راځه چې ام ايمن رضي الله عنها ته لاړ شو او د هغې زيارت وكړو، لكه څنګه چې به رسول الله ﷺ د هغې زيارت كولو، "فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَيْهَا بَكَتْ، فقالا لها: مَا يُبْكِيكِ؟" كله چې هغوى دواړه ورسېدل نو هغه رضي الله عنها په ژړا شوه، هغوى دواړو مشرانو ورته وفرمايل: ولې ژاړې؟ "أَمَا تَعْلَمِينَ أَنَّ مَا عِنْدَ اللهِ تَعَالَى خَيْرٌ لرسولِ الله ﷺ! قالت: مَا أَبْكِي أَنْ لاَ أَكُونَ أَعْلَمُ أَنَّ مَا عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ لرسولِ اللهِ ﷺ" ايا تاته پته نشته چې كوم څه د الله جل جلاله سره دي هغه تول نبي كريم ﷺ ته ډېر ښه او غوره دي، هغې ووېل چې څه په دې نه ژاړم چې. ګويا ماته پته نشته چې كوم څه د الله جل جلاله سره دي هغه تول نبي كريم ﷺ ته غوره دي، "وَلَكِنِّي أَبْكِي أَنَّ الْوَحْيَ قَدِ انْقَطَعَ مِنَ السَّمَاءِ، فَهَيَّجَتْهُمَا عَلَى الْبُكَاءِ، فَجَعَلاَ يَبْكِيَانِ مَعَهَا" ليكن زه په دې ژاړم چې اسماني وحي ختمه شوه، هغوى دواړه مشران هم په ژړا شول، "رواه مسلم، وقد سبق في بابِ زِيَارَةِ أَهْلِ الْخَيْرِ" دا حديث امام مسلم رحمه الله روايت كړى دى او ددې تفصيل په باب زيارة أهل الخير كې تېر شوى دى

تشريح: دا حديث په باب زيارة أهل الخير كې ذكر دى، دلته يې يو ځل بيا راوړلو، په دې كې اشاره ده دې خبرې ته چې: د نېكانو سره ناسته كول د خير نه خالي نه وي، نېك خلك چې د ترې څخه فناء شي نو نړيوال هم د ډېرو فايدو څخه محروم شي، په دې باندې اهل الله ډېر افسوس كوي، هغوى نه ژړا ورځي چې موږ د لوى خير څخه محرومه پاتې شو

نبي کريم ﷺ په خپل ژوند کې ابوبکر رضي الله عنه خپل خليفه جوړ کړو

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: لَمَّا اشْتَدَّ برسول الله ﷺ وَجَعُهُ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى کله چې د رسول الله ﷺ درد او تکليف زيات شو، "قِيلَ له في الصَّلاةِ، فقال: مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ" نو چا رسول الله ﷺ ته د لمانځه خبر ورکړو چې د جمعې وخت دى، نبي کريم ﷺ وفرمايل هغه فرمايي ابوبکر رضي الله عنه ته ووايئ چې جمع درکړي، "فقالت عائشة رضي الله عنها: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ رَقِيقٌ" عائشې رضي الله عنها وفرمايل ابوبکر رضي الله عنه خو زيات نرم خويه او نرم زړه والا انسان دى، "إِذَا قَرَأَ الْقُرْآنَ غَلَبَهُ الْبُكَاءُ" کله چې د قرآن تلاوت کوي ژړا پرې غالبه شي، "فقال مُرُوهُ فَلْيُصَلِّ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه ته امر وکړئ چې جمع درکړي "وفي رواية عن عائشة، رضي الله عنها، قالت: قلت: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ مَقَامَكَ" او په يو روايت کې داسې هم شته چې عائشې رضي الله عنها نبي کريم ﷺ ته وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! ابوبکر رضي الله عنه چې کله ستاسو په ځاى باندې ودريږي، "لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ" هغه ته ژړا ورځي او د ژړا له وجې به د هغه آواز خلک نه اوري. متفق عليه

لغوي تحقيق:

رقيق: "رق رقة" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: کمزوري، باريک

تشريح "مروا أبابكر فليصل بالناس": ابوبکر رضي الله عنه ته ووايئ چې د جماعت لمونځ درکړي، رسول الله ﷺ دا حکم په مرض الوفات کې فرمايلى وو، په دې وجه عمر رضي الله عنه فرمايي چې کوم کس رسول الله ﷺ زموږ د دين لپاره خوښ کړى دى، هغه به موږ د دنيا لپاره ولې نه خوښوو؟ ځکه خو موږ ابوبکر رضي الله عنه د خپل دين او دنيا دواړو لپاره خانونو ته خليفه جوړ کړو، صحابه کرامو رضي الله عنهم بالاتفاق د رسول الله ﷺ وفات وروسته خپل امير او خليفه جوړ کړو، کوم کس چې رسول الله ﷺ په خپل ژوند کې په خپله مصلى باندې درولى وو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې د رسول الله ﷺ د وفات وروسته به هم دغه ستاسو امام وي

ابوبکر رضي الله عنه چې به قرآن کريم ويلو، نو هغه به ژړل:

"لم يسمع الناس من البكاء" دده د ژړا له امله چې هغه به زيات ژاړي، خلک به يې د تلاوت آواز نه اوري، د ابوبکر رضي الله عنه يو ځانګړې صفت دا وو چې د قرآن کريم تلاوت به يې شروع کړو، نو په ژړا به شو، علامه نووي رحمه الله فرمايي: چې د مسلمانانو لومړى خليفه ابوبکر صديق رضي الله عنه حد درجه نرم خويه انسان ؤ، کله چې به يې د قرآن کريم تلاوت شروع کړو، دومره به متاثر شو چې هغه به ژړل

د مصعب بن عمير رضي الله عنه کفن

"وعن إبراهيم بن عبد الرحمان بن عوف: أَنَّ عبد الرحمان بن عوف رضي الله عنه أُتِيَ بطعام وكان صائماً، فقال: قُتِلَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ رضي الله عنه، وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّي" د ابراهيم بن عبد الرحمن بن عوف نه روايت دى، فرمايي چې عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه ته ډوډى راوړل شوه او هغه روژه نيولې وه، هغه وويل چې مصعب بن عمير رضي الله عنه شهيد شو، هغه

زما څخه زيات غوره ؤ، "فَلَمْ يوجَدْ لَهُ مَا يُكَفَّنُ فِيهِ إِلَّا بُرْدَةٌ إِنْ غُطِّيَ بِهَا رَأْسُهُ بَدَتْ رِجْلَاهُ" هغه ته دومره کفن پيدا نه شو چې هغه پرې پوره پټ کړی شوی وای، يو څادر وو چې که په هغه څادر يې سر پټ کړی شوی وای، نو پښې به يې ښکارېدې، "وَإِنْ غُطِّيَ بِهَا رِجْلَاهُ بَدَا رَأْسُهُ، ثُمَّ بُسِطَ لَنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا بُسِطَ" او که چېرته يې پښې پټ کړی شوې، نو سر به يې ښکارېدو، بيا موږ ته الله جل جلاله دنيا راکړه، "أَوْ قَالَ: أُعْطِينَا مِنَ الدُّنْيَا مَا أُعْطِينَا" او يا يې داسې وويل: بيا موږ ته دنيا راکړی شوه څومره چې په تقدير کې ليکل شوې وه. "قَدْ خَشِينَا أَنْ تَكُونَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا، ثُمَّ جَعَلَ يَبْكِي حَتَّى تَرَكَ الطَّعَامَ" اوس زه په دې خبره وېرېږم چې هسې نه موږ ته زموږ د نېکو عملونو بدله په دنيا کې رانه کړی شي، بيا يې په ژړا شروع کړه تردې چې ډوډۍ يې پرېښودل. رواه البخاري.

لغوي تحقيق:

عجلت: "عجل يعجل تعجيلاً" تيزي او تلوار کول

تشريح "وهو خير مني": هغه زما څخه غوره دی، په دې کې د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه تواضع ته اشاره ده، په حقيقت کې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د مصعب بن عمير رضي الله عنه نه افضل دی، ځکه چې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه په عشره مبشره صحابه کرامو رضي الله عنهم کې دی، ليکن هغه خپله د ځان څخه مصعب بن عمير رضي الله عنه غوره بولي، وجه يې دا ده چې: مصعب رضي الله عنه په ډېر مشکل وخت کې د کفارو سره مقابله کړې ده، په شهادت يې رسولی دی، ټول ژوند يې په غريبۍ او فقيرۍ کې تېر شوی دی او د عبد الرحمن رضي الله عنه سره بيا هم څه نا څه مال وو، بهر حال د عبدالرحمن رضي الله عنه دغه خبره په تواضع حمل ده.

"أن تكون حسناتنا عجلت لنا": هسې نه چې زموږ د نېکو عملونو بدله په دې دنيا کې راکړی شي، کله چې صحابه وو ته دنيا پراخه شوه، وسعت پکې پيدا شو، نو هغوی وېرېدل چې هسې نه د دين له خاطره مو چې څومره قربانۍ ورکړې دي د هغو قربانيو فايده او ګټه اوس چېرته په دنيا کې موږ ته رانکړل شي، په دې حديث کې هم عبد الرحمن رضي الله عنه په داسې حالت باندې سخت فکر راخيستی دی او په اضطراب کې مبتلا دی.

د راوي ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې ابراهيم رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه دی، کنيت يې ابواسحاق زهري قرشي دی، عمر رضي الله عنه بن خطاب ته په وړوکوالي کې راوړل شوی وو.

وفات: په پنځه نوي / ۹۵ يا شپږ نوي / ۹۶ هجري کې وفات شو، په دې وخت کې يې عمر دوه دېرش / ۳۲ کاله وو.

دوه څاڅکي الله جل جلاله ته ډېر خوښ دي

"وعن أبي أُمَامَةَ صُدَيِّ بن عجلان الباهلي رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قَالَ: لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللهِ تَعَالَى مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ" د ابو امامة صدي بن عجلان باهلي رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل

ته دوه څاڅکي او اثرات ډېر زيات خوښ دي، "قَطْرَةُ دُمُوعٍ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ" يو هغه څاڅکی چې د الله ﷻ له ويرې پرېوځي، "وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهَرَاقُ فِي سَبِيلِ اللهِ" بل هغه څاڅکی وينه چې د الله ﷻ په لار کې پرېوځي، "وَأَمَّا الْأَثَرَانِ: فَأَثَرٌ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى" هر چې دوه اثرات دي: هغه دا چې اول اثر د الله ﷻ د لارې "وَأَثَرٌ فِي فَرِيضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللهِ تَعَالَى، رواه الترمذي، وقال: حديثٌ حسنٌ" او دويم اثر د الله تعالى په فرائضو کې يو فرض په ځای کول.

"وفي الباب أحاديث كثيرة منها: په دې باب کې ډېر زيات حديثونه دي چې معلوم دي، "حديث العرباض بن سارية ﷺ، قَالَ: وعظنا رسول الله ﷺ موعظةً وَجِلَتْ منها القُلُوبُ، وذرفت منها العُيُونُ. وقد سبق في باب النهي عن البدع" د عرباض بن ساريه ﷺ حديث دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ موږ ته داسې نصيحت وکړو چې له امله يې زموږ زړونه ورپېدل او سترګې مو د اوښکو څخه ډکې شوې او دا مضمون په باب النهي عن البدع کې تېر شوی دی

لغوي تحقيق:

اثرين: "اثر اثراً": باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: څاته يو شی غوره کول

تشريح "احب الى الله تعالى من قطرتين" الله ﷻ ته ډېرې خوښې دوه قطرې دي يوه قطره د سترګو اوښکه، بله د وينې څاڅکی د الله ﷻ په لار کې توېول دي

د اوښکو د قطرو په اړه د قاسم نانوتوي رحمة الله عليه قول:

د اوښکو قطره الله ﷻ ته ډېره محبوبه ده، مولانا قاسم نانوتوي رحمة الله عليه ددې وجه داسې بيانوي د کوم پاچا په خزانه کې چې د بل هيواد څخه ملغلره راوړل شوې وي، ددې قدر ډېر زيات وي، دغه شان د مؤمن اوښکې چې کله د الله ﷻ په دربار کې قبولې شي نو ددې قدر ډېر زيات شي، ځکه چې د الله ﷻ په خزانو کې د پښېمانتيا اوښکې نشته

دويم د وينو څاڅکی دی، د انسان په بدن کې د وينو ډېر قيمتي څاڅکي دي، کله چې يو قيمتي شی د الله ﷻ په لار کې خرڅ کړی شي، نو د هغه قيمت نور هم زيات شي، ددې حديث وضاحت مولانا روم رحمة الله عليه د شعر په ژبه داسې کړی دی

اشك را دروزن باخون شهيد ...... كه برابر مى كند شاه مجيد

ترجمه: الله ﷻ به د ګناهګارو خلکو اوښکې او د شهيدانو د وينو څاڅکې سره برابر وزن کوي، "وأما الأثران" دوه نخښې الله ﷻ ته خوښې دي: لومړی دا چې د الله ﷻ په لار کې انسان ته ورسيږي چې کله په لاره سفر کوي او پښه وغيره يې زخم شي او ددې اثر باقي پاتې شي يا دغه شان د الله ﷻ په کومو فرضي احکاماتو ادا کولو کې ورته څه تکليف يا زخم ورسيږي، نو دغه علامات الله ﷻ ته ډېر خوښ دي، د قيامت په ورځ به الله ﷻ انسان ته ډېر زيات اجر ورکړي

باب فضل الزهد في الدنيا والحث على التقلل منها وفضل الفقر

د نړۍ څخه بې رغبتي او د فقيرۍ فضيلت

"قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ: إِنَّمَا مَثَلُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنْزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ نَبَاتُ الْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ النَّاسُ وَالْأَنْعَامُ" بې شکه ددې دنيا مثال داسې دی لکه مورږ چې د آسمان له طرفه باران رانازل کړو، بيا په دې سره د ځمکې نه غله او وابنه راشنه کړو چې انسانان او څناور يې خوري. "حَتَّىٰ إِذَا أَخَذَتِ الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَا أَنَّهُمْ قَادِرُونَ عَلَيْهَا" او ځمکه په ښين کېدو سره ښايسته کړی شي او په دې باندې ددې ځمکې اوسېدونکي دا ګومان وکړي چې بس اوس مورږ پرې وس لرو چې اوس يې وريبو. "أَتَاهَا أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَاهَا حَصِيدًا كَأَنْ لَمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ" بس زمورږ امر (عذاب) د شپې يا د ورځې راشي او هغه فصل ټول داسې کړي لکه لو شوی چې وي او داسې وګرځي لکه پرون چې دلته هيڅ هم نه وو. "كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ" الله تعالى فرمايي: دغه رنګه مورږ خپل ايتونه د هغه قوم لپاره لېږو چې فکر او سوچ لري. [يونس: ۲۴]

تشريح: په دې آيت کې د دنيا مثال د عبرت لپاره بيان شوی دی، هغه داسې چې يوه ځمکه وي، ښه هموار او په زيات مقدار اوبه هم موجودې وي چې کله پکې پټي وکرل شي، نو ښه فصل پکې وشي، دا خل زميندار خوشحاله شي چې که خير وي نو ښه غله به راته وشي، ښې مزې به پرې وکړم، دې سوچ او فکر راخيستی وي چې ناڅاپه د الله ﷻ له لورې په دې پټي يو داسې اسماني آفت نازل شي چې ددغه پټي ټول فصل ختم کړي او ورته يې وسوځوي لکه بالکل چې دلته څه کرل شوي هم نه وي، د دنيا مثال همدغه دی، دنيا ښه ښايسته رنګينه وي ليکن کله چې عذاب راشي، بس هر څه يې ختم شي او د انسان د ژوند مثال هم داسې دی، ښه ځواني وي ناڅاپه ورته مرګ راشي، هر څه يې لکه ځواني، ښايست، مالداري، مشري او نوم اخيستل يې هم هېر شي

د دنيا مثال:

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" الله تعالى فرمايي چې "وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنْزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ" دوی ته د دنيا مثال بيان کړه، هغه دا چې کله مورږ د آسمان له طرفه باران رانازل کړو. "فَاخْتَلَطَ بِهِ نَبَاتُ الْأَرْضِ" بيا په دې باران سره ځمکه ښه شنه او تازه ش. "فَأَصْبَحَ هَشِيمًا تَذْرُوهُ الرِّيَاحُ" بيا يوه ورځ هغه ريزه ريزه شي چې هوا يې الوځوي. "وَكَانَ اللهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُقْتَدِرًا" او الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی. "الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا" مال او اولاد ټول د دنيا زيب او زينت دی. "وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا" او نېک عملونه چې باقي پاتې کېدونکي دي دا ډېر ښه دي د الله ﷻ له طرفه د بدلې او ثواب په تو ګه. [الكهف: ۴۵-۴۶] "قَالَ تَعَالَىٰ" الله تعالى فرمايي چې: "اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ" پوه شه په دې خبره چې د دنيا ژوند صرف توقې او لوبې دي او په خپل مينځ کې په يو بل باندې فخر کول دي. "وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ" او د مال زياتولو کوشش ددې ژوند مثال د هغه باران په شان دی چې فصل

زراعت کوي، نو زميندار / دهقان ته ډېر ښه ولګيږي. "ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ" بيا په زيړيدو شي، ډېر ښه ښکاره شي بيا په آخر کې ذره ذره شي او ټوله تازګي يې ختمه شي او د آخرت عذاب خو ډېر زيات سخت دی او بخښنه هم د الله ﷻ له طرفه ده او رضامندي هم. "وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ" او د دنيا ژوند نه دی مګر د دوکې سامان دی [الحديد:۲۰]

دنيا موپه سترګو کې غريږي:

"وقال الله تعالى" الله تعالى فرمايي چې "زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ" ښايسته کړی شوي دي د خلکو لپاره مينه د خوندورو شيانو چې دا عبارت دي د ښځو نه او د بچيانو نه او د خزانه کولو نه چې ډېري وي د سرو او سپينو زرو نه. "وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ" او شانداره اسونه. "وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ" او څاروي او کښتونه. "ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللَّهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الْمَآبِ" دا ټوله دنيوي فايده ده او د الله ﷻ سره د اوسيدو ډېر ښه ځای دی [آل عمران:۱۴]

"زين للناس": هر هغه شی چې سترګو ته په ظاهري نظر ښايسته کيږي، په سترګو کې رغړي او راغړي، الله ﷻ دغه شيان د امتحان په توګه ښايسته کړل، ليکن په څينو ايتونو کې شيطان ته منسوب دی، شيطان ته د سبب له وجې نسبت شوی دی او الله ﷻ ته نسبت د موثر حقيقي په توګه دی، مطلب دا چې دا شيان الله ﷻ د خلکو په سترګو کې د شيطان په ذريعه ښايسته کوي، شهوات هر هغه شي ته ويل کيږي چې زړه او نفس ورته ميلان کوي، القناطير جمع د قنطار ده، ډېر زيات مال، قنطار څومره مال ته ويل کيږي؟ دې باره کې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما قول دی چې سل مثقاله يا دولس سوه درهم يا زر دينارو ته ويل کيږي او معاذ بن جبل رضي الله عنه فرمايي دوه سوه اوقيه ته ويل کيږي، ليکن د لغت په اعتبار سره ډېر زيات مال ته ويل کيږي، (المسومة) سعيد بن جبير رحمه الله فرمايي ددې نه مراد هغه اسپې دي چې په ځنګلونو کې څريږي، حسن بصري رحمه الله فرمايي ددې نه مراد ښې اسپې دي، يا هغه اسپې دي چې تاکې ورباندې وي، نخښه شوي وي، (والانعام) دا د (نعم) جمع ده، ددې مفرد نشته، اوښ، غوا، مېښه، ګډه او چيلۍ، ټولو شيانو ته ويل کيږي.

پام کوه چې شيطان مودوکه نه کړي!

"وقال تعالى" الله تعالى فرمايي: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ" اې خلکو! د الله ﷻ وعده حق ده. "فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا" بس د دنيا ژوند مو په دوکه کې وانچوي. "وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ" او نه دې تاسو ته د الله ﷻ په باره کې شيطان دوکه ورکوونکی دوکه درکړي [فاطر:۵]

تشريح: په دې کې ټول انسانيت ته خطاب دی، فرمايي چې د قيامت راتلو وعده رښتوني ده، بس د دنيا ژوند دې په دوکه کې وانچوي، "لايغرنكم بالله الغرور" غرور د مبالغې صيغه ده، معنى يې ده دوکه ورکوونکی، ددې نه مراد شيطان لعين دی چې همدغه انسان ته دوکه ورکوي، که په کفر کې يې مبتلا نه کړي، نو په معصيت کې خو يې مبتلا کوي، د دوکې مطلب دا دی چې شيطان درته ګناهونه

ښایسته کوي، ددې نه انسان په دوکه کې پرېوځي چې ګناه هم کوي او دا خیال یې په ذهن کې وي چې زه عند الله مقبول یم، ماته به الله ﷻ عذاب نه راکوي

دمال په حرص کې تر قبره پورې ورسېدی:

"وقال تعالى" الله تعالی فرمایي چې: "أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ" تاسو د مال زیاتولو په هلاکت کې واچولی، حرص او لالچ تر قبر پورې ورسولی، "كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ" زر ده چې تاسو به پوه شئ بیا زر ده چې تاسو به پوه شئ؛ "كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ" خبردار! که ستاسو سره علم الیقین وي، نو داسې غلط کارونه به مو نه کول. [التکاثر:۱-۵]

ابن عباس ﷺ او حسن بصري رحمه الله فرمایي: د التکاثر معنی ده په کثرت سره مال او دولت جمع کول، په یو روایت کې راځي چې: رسول الله ﷺ یو ځل الهاکم التکاثر حتی زرتم المقابر" تلاوت کړو، بیا یې وفرمایل: ددې نه هغه مال مراد دی چې په ناجائزو طریقو سره حاصل شوی وي او په مال کې چې زکات وغیره الله تعالی فرض کړی وي، د هغې خیال نه ساتي.

"زرتم المقابر": رسول الله ﷺ ددې تفسیر په: "حتی یأتیکم الموت" سره فرمایلی دی، یعنې انسان د مال، دولت، اولاد وغیره په کثرت تفاخر او دوکه کې تر هغې پورې وي چې مرګ ورته راشي.

عبد الله بن شخير ﷺ فرمایي: زه یو ځل د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر وم چې رسول الله ﷺ دغه آیت ولوستلو: "الهاکم التکاثر" رسول الله ﷺ وفرمایل: انسان وایي: زما مال، زما مال، زما مال او حال دا چې د هغه مال خو صرف هغه دی چې وې خوړلو، یا یې واغوستلو او یا یې خیرات کړو او د خان څخه یې وړاندې واستولو.

"لوتعلمون علم اليقين": مطلب دا چې که په آخرت مو یقین ساتلی وي، نو دومره به په دوکه کې نه وای او نه به مو دومره فخر او غرور کولو.

ابدي ژوند د آخرت ژوند دی:

"وقال تعالى" الله تعالی فرمایي چې: "وَمَا هَذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ" او ددې دنیا ژوند نه دی. مګر لوبې او تړوقي دي، "وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ" او حقیقي ژوند خو د آخرت ژوند دی، که چېرته تاسو پوهېږئ؛ [العنکبوت:۶۴] والآیات في الباب کثیرة مشهورة" په دې باب کې ایتونه ډېر زیات دي

دنیوي ژوند ټولې لوبې او تماشې دي، لکه څرنګه چې د لږ وخت لپاره یې خونده او بې مزې لوبې کیږي بیا ختمې شي، همدغه حال ددې دنیا هم دی، لږ وخت خوند او مزه وي بیا ختم شي، او که زه ووایم چې د انسان ټول خوندور ژوند شل کاله دی، نو بده به نه وي، ځکه چې که بالفرض د یو سړي شپېته کاله عمر شي نو په دې شپېتو کالو کې شپه او ورځ دواړه حساب دی، چې تقریباً مونږ دېرش کاله خوب کوو، شپه مو په خوب کې لاړه، ورځ پاتې شوه، نو هغه که تر لسو دولسو کالو پورې واخلې، نو دغه ژوند په ماشومتوب کې تېر شي چې انسان په ښه او بد هم نه پوهېږي، ددې نه وروسته شل کاله

باتې شو، نو په دې شلو کالو کې کله بیماري وي، کله مسافري وي، کله زخم وي، کله تکلیف وي، کله خوشحالي وي، تقریباً چې دا هر څه راغونډ کړې، نو ایله ترې لس کاله د مزې خوندور ژوند جوړ شي، لیکن ددې نه د الله ﷺ احکامات، د نېکو خلکو اعمال داخل نه دي، ددې اعمالو تعلق د آخرت ورځې سره دی، ددې ثمره به په آخرت کې ملاوېږي، "لهي الحيوان" دا لفظ په اصل کې حییان وو، حیاة لفظ نه حیوان په خپل مفهوم باندې زیات دلالت کوي، مطلب دا چې آخرت اصلي د ژوند تېرولو ځای دی، هلته به خالص ژوند وي، مرګ به نه وي.

"وأما الأحاديث فأكثر من أن تحصر فننبه بطرف منها على ماسواه" دې باره کې دومره حدیثونه دي چې شمارل کېدی نه شي، دلته به موږ یو څو حدیثونه ذکر کړو.

ماته په تاسو باندې د مالداری وېره ده

"عن عمرو بن عوف الأنصاري ﷺ: أن رسول الله ﷺ بعث أبا عبيدة بن الجراح ﷺ إلى البحرين يأتي بجزيتها" د عمرو بن عوف انصاري ﷺ روایت دی، فرمایي چې رسول الله ﷺ ابو عبیدة بن جراح ﷺ بحرین ته ددې لپاره ولېږلو چې جزیه راوړي، "فقدم بمال من البحرين، فسمعت الأنصار بقدوم أبي عبيدة" نو هغه د بحرین مال راوړو، کله چې انصارو صحابه وو واورېدل چې ابو عبیدة ﷺ د بحرین مال راوړی دی، "فوافوا صلاة الفجر مع رسول الله ﷺ، فلما صلى رسول الله ﷺ انصرف، فتعرضوا له" نو هغوی د سهار لمونځ د رسول الله ﷺ سره وکړو، کله چې رسول الله ﷺ لمونځ پوره کړو، نو مخ مبارک یې راواړلو، هغوی ټول رسول الله ﷺ ته متوجه شول، "فتبسم رسول الله ﷺ حين رآهم" نکله چې یې هغوی ولیدل، نو نبي کریم ﷺ په مسکا شو، "ثم قال: أظنكم سمعتم أن أبا عبيدة قدم بشيء من البحرين؟" نبي کریم ﷺ وفرمایل: زه ګومان کوم چې تاسو به اورېدلي وي ابو عبیده ﷺ د بحرین څخه څه راوړي دي؟ "فقالوا: أجل، يا رسول الله!" هغوی ټولو وویل: هو! یا رسول الله ﷺ! هم داسې ده، "فقال: أبشروا وأملوا ما يسركم" نبي کریم ﷺ وفرمایل: زیرې واخلئ! "فوالله ما الفقر أخشى عليكم" قسم په الله ﷺ: زه په تاسو باندې د فقیرۍ وېره نه لرم، "ولكني أخشى أن تبسط الدنيا عليكم كما بسطت على من كان قبلكم" لیکن زه په تاسو باندې ددې خبرې وېره لرم چې په تاسو به دنیا فراخه شي لکه ستاسو نه مخکې خلکو باندې چې فراخه شوې وه، (یعنې مالداره شوي وو)، "فتنافسوها كما تنافسوها" نو تاسو به هم هغه شان پکې ډوب شئ لکه څنګه چې هغوی پکې ډوب شوي وو، "فتهلككم كما أهلكتهم" ددې انجام دا دی چې تاسو به هلاک شئ لکه څنګه چې هغوی هلاک شوي وو. متفق عليه

لغوي تحقیق:

بجزيتها: ټکیس، د ځمکې محصول

تشریح "ما الفقر أخشى عليكم": ماته ستاسو په باره کې د غریبۍ خطر نشته، ددې نه معلومه شوه چې د انسان د ګمراهۍ او تباهۍ لوی سبب همدغه دنیا ده، ځکه چې کله دنیا لاس ته راشي، نو مینه او محبت هم ورسره راشي، د دنیا سره مینه او محبت ساتل د هلاکت او تباهۍ ذریعه ده، "حب الدنيا رأس كل

خطيئة" د دنيا مينه او محبت د هرې غلطۍ بنياد دى، "ابو حازم رحمه الله فرمايي: د دنيا څخه خان وساتئ. ځکه چې د قيامت په ورځ به هر سړى د الله جل جلاله په وړاندې دروله شي او هغه ته به ويل کيږي چې دا هغه سړى وو کوم چې هغه شى (دنيا) غوره کړې وُ چې الله جل جلاله سپک او ذليل پيدا کړى وُ.

"ما الفقر؟": اکثره علماء فرمايي چې: د فقر نه هغه فقر مراد دى چې انسان پکې ګزاره کولى شي، که دومره زيات فقر راشي چې انسان د کفر مقام ته پرې رسيږي نو بيا داسې فقر باعث د هلاکت دى. د داسې فقر باره کې ارشاد دى "كَادَ الفقرُ أن يكونَ كفراً" کله کله فقيري سړى کفر ته نږدې کوي.

د راوي عمرو بن عوف انصاري رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عمرو رضي الله عنه دى، کنيت يې ابو عبد الله دى، د اسلام په شروع کې مسلمان شوى وو، د اسلام راوړو سره سم يې هجرت وکړو او هلته اوسېدلو، د تبوک په جهاد کې چنده راغونډېده، سخته قحط سالي وه، عمرو بن عوف رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو، وې فرمايل چې ته زموږ لپاره هم په جهاد کې د شرکت لپاره څه سامان تيار شي، نو موږ به د دې لوی اجر نه محروم نه شو؟ هغه ته هيڅ خاص انتظام ونه شو، د دوی په شان خلکو په اړه الله تعالی فرمايي: "ولا على الذين اذا ما أتوك لتحملهم قلت لا أجد ما احملكم عليه تولوا واعينهم تفيض من الدمع حزناً ألا يجدوا ما ينفقون" **ترجمه**: او نه هم په داسې خلکو څه ګناه شته چې تاسو ته راشي، دوی ته څه سوارلي ورکړئ، تاسو ورته ووايئ چې زما سره خو څه نشته، چې تاسو ته يې درکړم، دوی ستاسو د خاى نه لاړ شي او د سترګو نه يې اوښکې تويېږي چې ولې دوی سره څه نه وو چې د الله جل جلاله په لاره کې يې خرچ کړي واى.

وفات: د امير معاويه رضي الله عنه په دور خلافت کې په مدينه منوره کې وفات شو.

مرويات: اوه حديثونه ترې نقل دي.

د دنيا ډول او زينت نه په تاسو وېرېږم

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، قال: جلس رسولُ الله صلى الله عليه وسلم عَلَى الْمِنْبَرِ، وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په منبر باندې کېناستلو، موږ ترې شاوخوا کېناستلو. "فقال: إِنَّ مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا" بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه چې په تاسو باندې د کوم شي ويره لرمم هغه دا دى چې په تاسو باندې به د دنيا زيب او زينت زيات شي، (يعنې ډېر زيات به مالداره شئ نو تاسو به دنيا منزل مقصود وګرځوئ، هلاك به شئ، لکه څرنګه چې د دې نه مخکې حديث کې د دې خبرې ذکر وشو. متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

زهرة: ډول، سنګار، رونق، ړنا

تشريح "إن مما أخاف عليكم" مال، دولت، فراخي، په دې شيانو کې چې يو ځل سړى راګېر شي او په حرص کې يې مبتلا شي، دا هغه شيان دي چې په دې سره د انسان روحاني او اخلاقي ړنا تباه کيږي او

آخرت خو هسې هم غرق او تباه وي، نو ځکه رسول الله ﷺ د شفقت او مهرباني په بنسټ خپل امت ددې شيانو نه يرولی دی چې همدا دولت يا منصب او چوکۍ وغيره له وجې ستاسو په منځ کې جګړې او فسادونه راځي.

دنيا خوږه او شنه ده

"وعنه: أن رسول الله ﷺ قَالَ: إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ" د ابو سعيد خدري ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دنيا خوږه او شنه ده، "وَإِنَّ اللهَ تَعَالَى مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا" او الله ﷻ تاسو پکې خليفه ګان جوړ کړي يئ! "فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُونَ" نو ګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ! "فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ" بس تاسو د دنيا او د ښځو څخه ځان بچ کړئ. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

مستخلفکم: ددې معنی ده: د ځان وروسته خليفه او نائب پرېښودل

تشريح "إن الدنيا حلوة خضرة" بې شکه چې دنيا ډېره خوږه او شنه ده، دا حديث په باب التقوی کې بيان شوی دی

دنيا ولې شنه او خوږه ده؟

په دې حديث کې دنيا ته خوږه او شنه ويل شوې ده، دا ځکه چې دنيا د سترګو په نظر کې شنه په نظر راځي او په استعمال کې خوږه لګيږي، ليکن څرنګه چې يو شين او خوږ شی ډېر په تيزۍ سره خرابيږي، دغه ډول د دنيا مثال هم دی، په يو بل روايت کې دي چې: د نبي کريم ﷺ ارشاد مبارک دی: تر ټولو زيات تعجب په هغه انسان دی چې په دې خبره ايمان ساتي چې آخرت د همېش لپاره پاتې کېدونکی کور دی، ليکن بيا هم ددې فاني دنيا لپاره کوششونه کوي، "فاتقوا الدنيا واتقوا النساء" بس په دنيا کې د ډېرې مشغولتيا نه ځان بچ کړئ او ځانونه د ښځو د فتنې څخه وساتئ!

حقيقي ژوند د آخرت ژوند دی

"وعن أنس ﷺ: أن النبي ﷺ قَالَ: اللَّهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةِ" د انس ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: يا الله! حقيقي ژوند د آخرت ژوند دی. متفق عليه

لغوي تحقيق:

"لاعيش": ددې معنی ده: ژوند، ډوډۍ خوړل

تشريح "اللهم لا عيش إلا عيش الآخرة": اې الله! حقيقي ژوند د آخرت ژوند دی، رسول الله ﷺ دا جمله دوه ځله فرمايلې ده، يو ځل يې د خندق په جنګ کې چې کله مسلمانانو د خپلو ځانونو د حفاظت لپاره خندق (کنده) وېستل، د صحابه وو په ژبو باندې دغه جمله تکرار بدل، "نحن الذين بايعوا محمداً ..... على الجهاد ما بقينا أبداً."

ددې په خواب کې رسول الله ﷺ داسې وفرمايل: "اللهم لا عيش إلا عيش الآخرة فاغفر الأنصار والمهاجرة" په دې الفاظو سره صحابه وو ته د صبر تلقين ورکول مقصود وو چې په دې سخت مشکل حالاتو کې د ويرېدلو ضرورت نشته، د يو څو ورځو تکليف دی، ددې وروسته به حقيقي ژوند وي چې همېشه پاتې کېدونکی ژوند به وي، بيا به هلته مرګ نه وي او همېش به مزې او مزې وي.

په دويم ځل رسول الله ﷺ دا جمله د حجة الوداع په موقع فرمايلې وه، کله چې په زيات تعداد صحابه د جنګ لپاره روان وو، نو رسول الله ﷺ په داسې موقع صحابه د آخرت لپاره متوجه کول چې په خپل زياتوالي باندې دوکه نه شئ؛ دا هر څه عارضي دي، اصلي ژوند د آخرت ژوند دی، هلته به د همېش لپاره سکون وي.

د مړي سره درې شيان تر هديرې پورې ځي

"وعنه، عن رسول الله ﷺ، قَالَ: يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ" د انس ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مړي پسې درې شيان تابع کيږي، (هديرې ته ورسره ځي): "أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ" اهل، مال او عمل يې، "فَيَرْجِعُ اثْنَانِ، وَيَبْقَى وَاحِدٌ" دوه ترې واپس کيږي او يو ورسره باقي پاتې کيږي، "يَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ" مال او خاندان يې ترې واپس راځي او عمل يې ورسره پاتې کيږي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: "يتبع الميت ثلاثة": د مړي سره درې شيان تر هديرې پورې ځي، خپل خپلوان، مال او اعمال يې.

سوال او ځواب:

سوال دا دی چې د مړي سره خو مال او دولت تر قبر پورې نه وړل کيږي؟ ځواب دا دی چې دا اصل کې د عربو په معاشره کې رواج وو چې کله به په دوی کې مړی وشو نو هغه چې څه مال ګټلی وو، تر هديرې پورې به يې ورسره وړلو، "يبقى عمله" صرف عمل ورسره پاتې شي، باقي نور ټول شيان ترې واپس راځي، علامه قطب الدين رحمه الله فرمايي: کله چې انسان ددې فاني نړۍ څخه رخصت شي او د آخرت په لومړي منزل (قبر) باندې پښه کېږدي، نو ددې نه هغه مرحله شروع شي چې خپلوان، مال دولت هر څه ترې واپس راروان شي او هغه خپله تنها خاتته پرېږدي، اوس د هغه سره هغه اعمال پاتې شي چې ده په دنيا کې کړې وي، که ښه اعمال وي او که بد وي، په دې جه قبرونو ته د اعمالو صندوق ويل شوی دی، شعر:

هسې د سترګو په نظر دوکه شوم ...... چې قبر ته لاړم حقيقت څرګند

په دې حديث کې نېک اعمالو ته ترغيب ورکول مقصود دي چې ګوره د نېکو اعمالو ذخيره د ځان سره يوسه؛ همدغه نېک عملونه به دې په آخرت کې په کار راشي.

د جهنم په يوې غوپې به ټول خوندونه درنه هېر شي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: يُؤْتَى بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" د انس ﷺ نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به د دوزخيانو نه يو داسې سړى راوستل شي چې په دنيا کې به آرام ژوند تېروي، "فَيُصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً، ثُمَّ يُقَالُ: يَا ابْنَ آدَمَ، هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ؟ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ؟" نو هغه ته به په جهنم کې يوه غوپه ورکړى شي بيا به ورته وويل شي: اې د آدم عليه السلام زويه! ايا چېرته تا څه خوشحالي ليدلې ده؟ ايا په تا باندې د آرام وخت تېر شوى دى؟ "فَيَقُولُ: لَا وَاللهِ يَا رَبِّ" هغه به ووايي قسم په الله ﷻ چې يا رب چېرته مې څه خوشحالي نه ده ليدلې، "وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ النَّاسِ بُؤْسًا فِي الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ" او بيا به د جنتيانو نه يو کس راوستل شي چې په دنيا کې به يې ډېرې زياتې سختې او تکليفونه تېر کړي وي، "فَيُصْبَغُ صَبْغَةً فِي الْجَنَّةِ" نو هغه ته به د جنت يوه ننداره وښودلى شي، "فَيُقَالُ لَهُ: يَا ابْنَ آدَمَ، هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ؟ هَلْ مَرَّ بِكَ شِدَّةٌ قَطُّ؟" نو هغه ته به هم وويل شي چې اې د آدم عليه السلام زويه! ايا په تا باندې کومه سختي تېره شوې ده، ايا چېرته دې کوم غم او تکليف ليدلى دى؟ "فَيَقُولُ: لَا وَاللهِ، مَا مَرَّ بِي بُؤْسٌ قَطُّ، وَلَا رَأَيْتُ شِدَّةً قَطُّ" نو هغه به ووايي: نه! قسم په الله ﷻ! په ما باندې کله هم څه تکليف نه دى تېر شوى دى او نه مې چېرته کومه سختي ليدلې ده. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

فيصبغ: "صبغ صبغاً" باب نصر ينصر او ضرب يضرب دواړو څخه راځي، "صبغ يده في الماء" په اوبو کې د ننه لاس ننويستل، ليکن دلته يې اصلي معنى: غوپه وهل ده.

تشريح په دې حديث کې هم انسان د آخرت زندګۍ لپاره پوره په موثره طريقه سره ترغيب ورکولى شي، چې د دنيا ټول نعمتونه د کومو چې حاصلولو لپاره انسان د شريعت داحکاماتو هم خيال نه ساتي، که دا نعمتونه ورله حاصل هم شي ليکن که په جهنم کې يوه غوپه ورکړې شي نو دا ټول نعمتونه به ترېنه هېر شي، دغه ډول انسان په دنيا کې له فقيرۍ غريبۍ نه پريږي او سختې نه شي زغملې ليکن که دې سره په جنت کې يوه غوپه دته هم ورکړلى شي نو د دنيا ټول مشقتونه او تکليفونه به ترېنه هېر شي، خلاصه دا چې انسان له پکار دي چې داسې اعمال وکړي چې سباله د آخرت دائمي او همېش پاتې کېدونکې نعمتونه ورپه برخه شي

دنيا په ګوته باندې د لګېدلو اوبو څاڅکي په شان ده

"وعن الْمُسْتَوْرِدِ بنِ شَدَّادٍ ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَا الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ" د مستورد بن شداد ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د دنيا د آخرت سره داسې نسبت دى "إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ أُصْبُعَهُ فِي الْيَمِّ" لکه يو کس چې په سمندر کې ګوته داخله کړي، "فَلْيَنْظُرْ بِمَ يَرْجِعُ!" هوا کله چې ګوته رابهر کاره کړي نو بيا دې وګوري چې څومره لوندوالى ورپورې نختى دى! رواه مسلم

لغوي تحقيق: اليم: "يم" په اصل کې سمندر، مار او ځنګلي کوترې ته ويل کېږي

تشريح "ما الدنيا في الآخرة إلا مثل ما يجعل" د دنيا مثال د آخرت په مقابله کې داسې دی لکه په سمندر کې چې ګوته غوپه کړل شي او بيا چې په دې ګوته پورې څومره اوبه نښتې وي، هغومره بس د دنيا ژوند مثال دی.

ځيني محدثين فرمايي: دا مثال هم صرف د تمثيل او پوهې لپاره دی چې ددې دنيا ټول نعمتونه فاني او ختمېدونکي دي، ددې په مقابل کې د آخرت نعمتونه نه ختميدونکي دي، ملاعلي قاري رحمه الله فرمايي: انسان ته پکار ده چې که د دنيا نعمتونه ورته حاصل شي، نو په دې باندې بايد متکبر نه شي او د دنيا په مصېبتونو او پرېشانيو باندې بايد صبر وکړي او شکايتونه ونه کړي، ځکه چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې: "اللهم لا عيش إلا عيش الآخرة" اصل ژوند د آخرت والا ژوند دی

د راوي مستورد بن شداد رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې مستورد دی، د پلار نوم يې شداد دی، د فهري قريشي قبيلې سره يې تعلق درلود، د کوفې اوسېدونکی دی، بيا يې په مصر کې سکونت اختيار کړو، دا يوه عجيبه خبره وه چې په کومه ورځ رسول الله ﷺ ددې نړۍ څخه رحلت وفرمايلو، دغه مهال هغه کشر وو، ليکن سره ددې هغه د نبي کريم ﷺ څخه حديثونه اورېدلي ؤ او د نبي کريم ﷺ نه يې پوره اوه حديثونه نقل دي، په مسلم کې ترې روايت موجود دی، خو په بخاري کې يو روايت هم نشته.

د الله جل جلاله په وړاندې د دنيا قدر

"وعن جابر رضي الله عنه: أنّ رسول الله ﷺ مرّ بالسوق والنّاس كنفتيه، فمرّ بجدي أسكّ ميّت" د جابر رضي الله عنه روايت دی چې يوه ورځ رسول الله ﷺ په بازار کې تېرېدو او صحابه د هغوی ښي او چپ طرفته روان وو، د وزې مردار بچی يې په لار تېر کړو چې واړه واړه غوږونه يې وو، "فتناوله فأخذ بأذنه، ثمّ قال" نبي کريم ﷺ هغه د غوږونو نه ونيولو او راپورته يې کړو، د صحابه وو څخه يې پوښتنه وکړه چې: "أيّكم يحبّ أن يكون هذا له بدرهم؟" په تاسو کې به کوم يو دا مرداره په يو درهم واخلي؟ "فقالوا: ما نحبّ أنّه لنا بشيء وما نصنع به؟" صحابه کرامو وفرمايل: موږ خو دا نه خوښوو، موږ يې په څه واخلو او موږ په دې څه کوو؟ "ثمّ قال: أتحبّون أنّه لكم؟ قالوا: والله لو كان حيًّا كان عيبًا" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو دا خوښوئ چې دا ستاسو شي؟ صحابه وو وفرمايل: که دا ژوندی هم وی، نو په دې کې به عيب وو، "إنّه أسكّ فكيف وهو ميّت!" ځکه چې دا وړو وړو غوږو والا ده او واړه غوږونو والا څوک نه خوښوي، پاتې لا دا چې مرداره هم وي، "فقال: فوالله للدّنيا أهون على الله من هذا عليكم" نبي کريم ﷺ وفرمايل: په الله جل جلاله مې قسم دی چې دنيا ددې نه هم زياته د الله جل جلاله په نظر سپکه ده، لکه څنګه چې دا مرداره ستاسو په وړاندې سپکه ده. رواه مسلم

"قوله: كنفتيه أي: عن جانبيه" دا قول چې (كنفتيه) ددې معنی ده طرفونه، "والأسكّ: الصغير الأذن" د (الاسك) معنی ده: وړوکي غوږونو والا

لغوي تحقيق:

يجدي: "يجدي" د چيلي هغه بچي ته ويل کيږي چې يو کال يې پوره شي

د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ په ژبه د دنيا مذمت:

تشريح: د دنيا مذمت د رسول الله ﷺ د ګڼ شمېر روايتونو څخه معلومېږي، ځکه چې يو ځل د دنيا مينه په زړه کې دننه شي، نو بيا انسان هر قسم ګناه ته تيار وي او په مزه مزه د آخرت نه غافله کيږي او د آخرت په کارونو کې ترې تساهل کيږي، ځکه چې عارفين صوفيان وايي د کوم کس په زړه کې چې د دنيا مينه او محبت يو ځل ځاى ونيسي، نو بيا که د ټولې دنيا پيران او مرشدان راغونډ کړې، دغه کس به په سمه لار روان نه کړي او د دنيا مينه چې يې په زړه کې نه وي، نو که د دنيا ټول ګمراهان سره غونډ کړې او دده ګمراه کول وغواړي، ګمراه کولی يې نه شي.

يو ځل رسول الله ﷺ په داسې ځاى باندې تېرېدلو چې هډوکي، ورسته شوې غوښه، ځرمن وغيره پراته وو، نبي کريم ﷺ ودرېدو، وې فرمايل: راشئ وګورئ" دغه دنيا ده او ددې ټول زينت او ښايست همدا دى

د عيسى عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ ارشاد:

دغه ډول عيسى عليه السلام فرمايي: د دنيا د خباثت يوه علامه دا هم ده چې په دې کې يو ځل سړى مشغول شي، نو انسان د الله ﷻ په نافرمانۍ کې بوخت شي، بل خباثت دا دى چې تر څو دې آخرت ورته پرې اينبى نه وي، لاس ته دې نه راځي، په خبره خان پوه کړه چې د دنيا مينه او محبت د هرې خطايى بنسټ دى او ددې دنيا لږ خوند تر ډېرې زمانې پورې د عذاب ذريعه جوړېږي

د احد غره برابر سره زر صدقه کول

"وعن أبي ذر رضي الله عنه، قَالَ: كُنْتُ أَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي حَرَّةٍ بِالْمَدِينَةِ، فَاسْتَقْبَلَنَا أُحُدٌ، فقال: ((يَا أَبَا ذَرٍّ)) قلت: لَبَّيْكَ يَا رسول الله" د ابو ذر رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې زه د رسول الله ﷺ سره په حره (د تورو کاڼو) په ځمکه کې روان وم، مونږ ته د احد غر مخامخ شو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې ابوذر رضي الله عنه! ما وويل: اې د الله تعالى رسوله! ستاسو په خدمت کې حاضريم، "فقال: مَا يَسُرُّنِي أَنَّ عِنْدِي مِثْلَ أُحُدٍ هَذَا ذَهَباً تَمْضِي عَلَيَّ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ وَعِنْدِي مِنْهُ دِينَارٌ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه په دې خبره خوشحال نه يم چې زما سره ددې احد غره هومره سره زر وي او په هغې درې ورځې تيرې شي او زما سره يو دينار هم پاتې وي، "إِلَّا شَيْءٌ أَرْصُدُهُ لِدَيْنٍ، إِلَّا أَنْ أَقُولَ بِهِ فِي عِبَادِ اللهِ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا، عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ وَمِنْ خَلْفِهِ" مګر دا چې د قرض لپاره که څه راسره پاتې شي، نو زه به داسې وکړم چې نبي طرفته چپ طرفته او وړاندې او وروسته به داسې داسې طريقې سره يې د الله ﷻ په بندګانو تقسيم کړم، "ثُمَّ سَارَ فَقَالَ" دا بيې وفرمايل: لاړو بيا يې څه وخت پس وفرمايل: "إِنَّ الْأَكْثَرِينَ هُمُ الْأَقَلُّونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا مَنْ قَالَ بِالْمَالِ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا - عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ وَمِنْ خَلْفِهِ - وَقَلِيلٌ مَا هُمْ" ددې مالدارو به زيات خلک په قيامت کې غريبانان وي او هغه خلک ترې جدا دي چې خپل مال يې نبي

طرف او چپ طرفته او وروسته طرفته د الله ﷻ لپاره داسې داسې خرج کړي وي، "ثُمَّ قَالَ لِي: ((مَكَانَكَ لَا تَبْرَحْ حَتَّى آتِيَكَ)) ثُمَّ انْطَلَقَ فِي سَوادِ اللَّيْلِ حَتَّى تَوَارَى" بيا نبي کريم ﷺ ماته وفرمايل: دلته ودرېږه! ددې ځای نه چېرته مه ځه تر څو زه دلته رانشم، بيا نبي کريم ﷺ روان شو، په تکه توره تياره کې پټ شو، "فَسَمِعْتُ صَوتاً، قَدِ ارْتَفَعَ، فَتَخَوَّفْتُ أَنْ يَكُونَ أَحَدٌ عَرَضَ لِلنَّبِيِّ ﷺ" نو ما يو اوچت آواز واورېدو، زه ووېرېدم چې هسې نه نبي کريم ﷺ ته څوک مخې ته راغلی نه وي چې هغه ته خدای مه کړه څه نقصان ونه رسيږي. "فَأَرَدْتُ أَنْ آتِيَهِ فَذَكَرْتُ قَوْلَهُ: لَا تَبْرَحْ حَتَّى آتِيَكَ" نو ما اراده وکړه چې زه ورشم او حال معلوم کړم، ليکن ماته د نبي کريم ﷺ هغه فرمان راياد شو چې ته به د خپل ځای نه تر هغه نه خوځيږې چې زه درته نه يم راغلی، "فَلَمْ أَبْرَحْ حَتَّى أَتَانِي، فَقُلْتُ: لَقَدْ سَمِعْتُ صَوتاً تَخَوَّفْتُ مِنْهُ، فَذَكَرْتُ لَهُ" نو زه د خپل ځای نه ونه خوځېدم تردې چې نبي کريم ﷺ ماته راغلو، نو ما ورته ووېل: يا رسول الله ﷺ! ما خو يو آواز واورېدو چې زه خو سخت وېرېدم، ددې آواز ذکر مې نبي کريم ﷺ ته وکړو، "فقال: ((وَهَلْ سَمِعْتَهُ؟)) قلت: نَعَمْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو هغه آواز واورېدو، ما ورته ووېل: هو! ما هغه آواز واورېدو، "قَالَ: ذَاكَ جِبْرِيلُ أَتَانِي، فقال: مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِكَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئاً دَخَلَ الْجَنَّةَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا جبرائيل عليه السلام وو چې ماته راغلی وو، راته يې وفرمايل چې کوم کس ستا د امت نه په داسې حالت کې مړ شي چې د الله ﷻ سره شريک نه جوړوي، هغه به جنت ته داخليږي، "قلت: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ" ما ورته ووېل: اګر که زنا او غلا يې هم کړې وي، نبي کريم ﷺ وفرمايل: اګر چې غلا او زنا يې هم کړې وي. متفقٌ عَلَيْهِ، وهذا لفظ البخاري

لغوي تحقيق:

تواري: "توري توريا": ددې معنی ده: پټول.

تشريح "إن عندي مثل أحد هذا ذهباً": که زما سره د احد د غره برابر سره زر وي، نو زه به يې هم صدقه کړم، دې جمله کې دې خبرې ته ترغيب دی چې بايد په دنيا کې کم نه کم اسباب ځان سره وساتل شي، د عيسی عليه السلام ارشاد دی چې د دنيا څخه ځان ته مشره مه جوړوه! کنه نو بيا به ستا نه غلام جوړ کړي، خپله خزانه د هغه کريم ذات سره محفوظه وساته چېرته چې د ضايع کېدو سوال هم نه پيدا کيږي، په دنيا کې د خزانې ضايع کېدو امکان شته او د الله ﷻ په خزانو باندې هيڅ قسم آفت او ضايع کېدل نه راځي.

"إلا شيء أرصده لدين": هو! د ځان سره به دومره وساتم چې خپل قرض پرې ادا کړم، ددې نه معلومه شوه چې د قرض خلاصولو لپاره ځان سره مال ساتل نه صرف جائز دي بلکې ضروري دي، ځکه چې د نفلي صدقې ورکولو نه قرض خلاصول نهايت ضروري دي، "من مات من أمتك لا يشرك بالله شيئاً" ستا د امت څخه چې کوم کس په داسې حالت کې مړ شي چې، د الله ﷻ سره يې شريک نه وي جوړ کړی، نو هغه به جنت ته داخليږي، اګرچې هغه ګناه کبيره کړې وي، بيا به يې هم الله ﷻ په خپل فضل او کرم جنت ته داخل کړي يا د سزا برداشت کېدو وروسته به يې جنت ته داخل کړي، ليکن بالاخره به جنت ته ځي او يا دا چې هغه د مرګ نه وړاندې د خپلو ګناهونو نه توبه ويستلې وي.

د قرض ادا كولو نه پرته نور ټول مال صدقه كول

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن رسول الله ﷺ، قال: لَوْكَانَ لِي مِثْلُ أُحُدٍ ذَهَباً، لَسَرَّنِي أَنْ لَا تَمُرَّ عَلَيَّ ثَلَاثُ لَيَالٍ وَعِندِي مِنْهُ شَيْءٌ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل كه چيرته زما سره د احد د غره هومره سره زر شي، نو زه به په دې ډېر زيات خوشحال شم چې په ما باندې دې درې ورځې هم نه وي تيرې چې زما سره د هغې نه څه شى پاتې وي، "إِلَّا شَيْءٌ أَرْصُدُهُ لِدَيْنٍ" مګر دا چې د قرض ادا كولو لپاره كه څه راسره پاتې شي. متفق عليه

لغوي تحقيق: أرصده: "ارصد الرقيب" : د رقيب لپاره په لاره كې كمين نيول، چاته دربدل، شمارل، تيارى كول، د ځان سره ساتل

تشريح: "لوكان لي مثل أحدٍ ذهباً" : كه زما سره د احد د غره برابر سره زر واى، نو ما به د الله ﷺ په لار كې صدقه كړې واى، په دې جمله كې د رسول الله ﷺ زهد او د دنيا څخه بې رغبتى ته اشاره ده، رسول الله ﷺ به دا نه خوښول چې د دنيا سره مينه وكړي

د نيك كار ارمان مستحسن دى:

ځينې محدثين فرمايي چې دلته رسول الله ﷺ د خپل ارمان اظهار كوي چې كه زما سره د احد د غره برابر سره زر واى، نو ما به صدقه كړي وو، په دې كې د رسول الله ﷺ نيك ارمان اظهار دى، د نيكو كارونو ارمان كول مستحب طريقه ده، "أرصده لدين" د قرض ادا كولو لپاره يې ځان سره سنبال كړم، قرض ادا كول فرض دي او صدقه وركول نفل دى، څكه خو رسول الله ﷺ وفرمايل : د قرض ادا كولو څخه سېوا دومره به د ځان سره وساتم چې قرض مې پوره شي، نور به ټول د الله ﷺ په لار كې صدقه كړم، د مسند احمد په يو روايت كې صفا الفاظو سره نقل شوي دي چې "إلا شيئ أرصده في دين يكون علي" مګر كه دومره ځان سره وساتم چې قرض پرې ادا كړم كوم چې په ما باندې وي.

په دنيا كې د ځان نه لاندې خلكو ته كوره

"وعنه، قال: قال رسول الله ﷺ: انْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْكُمْ" د ابو هريره ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د ځان لاندې او كم حيثيته خلكو ته ګورئ "وَلَا تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ" او د ځان نه پورته حيثيت والا خلكو ته مه ګورئ "فَهُوَ أَجْدَرُ أَنْ لَا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ" څكه چې دا زياته لائقه خبره ده، داسې نه چې ستاسو څخه د الله ﷺ د نعمتونو ناقدري ونه شي! متفق عليه، وهذا لفظ مسلم

"وفي رواية البخاري: إِذَا نَظَرَ أَحَدُكُمْ إِلَى مَنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ فِي الْمَالِ وَالْخَلْقِ" او د بخاري په يو روايت كې داسې هم شته چې كله په تاسو كې يو كس د ځان نه پورته حيثيت والا كس ووينې، په كوم باندې چې د الله ﷺ ډېر فضل او احسان وي، "فَلْيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ" نو هغه ته پكار ده چې د ځان نه كم حيثيت والا كس ته وګوري

لغوي تحقيق:

أن لا تزدروا: "ازدر ازدراءً" سپك ګڼل، كمزوري ګڼل

تشريح د حديث مطلب دا دى چې انسان بايد د ځان ځخه پورته كسانو ته ونه ګوري، كه د خپل ځان ځخه ورته پورته ښكاره شي، بيا به په خپل حال باندې ورته افسوس ورځي، ارمانونه به كوي چې ارمان! زما سره هم دومره مال دولت واى، لكه څرنګه چې د دغه بل كس سره دى، په مشكاة شريف كې په يو روايت كې ددې علت هم بيان شوى دى چې د خپلو ځانونو نه لاندې خلكو ته ګورئ! ځان نه پورته خلكو ته مه ګورئ ځكه چې دې سره د انسان په زړه كې د هغه نعمتونو ناقدري پيدا كيږي كوم چې الله ﷻ تاته دركړي دي

د عون بن عبد الله كيسه:

امام غزالي رحمه الله د عون بن عبد الله رضي الله عنه كيسه ليكلي ده چې هغه فرمايي: زه به اكثره د مالدارو خلكو سره كېناستم، زما زړه به غمجن وو، د چا جامه به راته ښكلې ښكاره شوه، د چا ځپلې به راته له خانه ښې لګېدې او د چا اس به راته زما له اس ځخه ښه لګېدو، ددې نه وروسته مې د فقيرانو او مسكينانو سره ناسته شروع شوه، نو ما ته د هغه غم ځخه راحت ملاو شو چې د مالدارو خلكو سره د ناستې له وجې راته محسوس شوى ؤ، ځكه چې زه اوس كوم خلك ګورم، نو په ټولو كې زه زيات مالدار او ښه حالت والا يم

د درهم او دينار غلام ته رسول الله ﷺ خيرې كړي دي:

"وعنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ، وَالدِّرْهَمِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د روپۍ او اشرفۍ بنده، "وَالقَطِيفَةِ" او د قيمتي، "وَالخَمِيصَةِ" او عمده لباس بنده دې غرق او تباه شي، "إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ، وَإِنْ لَمْ يُعْطَ لَمْ يَرْضَ" كه څه ورته ملاو شي، نو خوشحاله به وي او كه څه ورته نه ملاويږي نو ناراضه به وي رواه البخاري

لغوي تحقيق:

القطيفة: بخملي څادر ته ويل كيږي، كوم چې په ځان باندې اچول شوى وي

الخميصة: "الخميص" هغه څادر يا چپن چې پيڅې (غاړې) يې توري وي

د غلام جوړېدو مطلب:

تشريح: "تعس العبد الدينار والدرهم والقطيفة والخميصة": هلاك دې شي د دينار، درهم، شال او چپن غلام، ددې غلام جوړېدو مطلب دا دى چې دغه انسان ددې شيانو په حصول كې د الله ﷻ احكامات او د رسول الله ﷺ طريقې هېرې كړي او دنيا ته يې په دين باندې ترجيح وركړې وي، شپه ورځ په دې كې لګيا وي او سوچونه كوي چې څنګه به مال او دولت وګټم، الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ترې هېر وي او كه

دې شيانو په حصول کې هغه د الله ﷻ حکم او د رسول الله ﷺ د طريقو خيال ساتي، نو بيا د دې شيانو په حصول کې هيڅ باك نشته، لکه څرنګه چې په مسند احمد کې يو روايت دی "لاباس بالغنی لمن اتقی الله عزوجل" يعني په هغه مالداری کې بيا څه باك نشته چې د الله ﷻ نه يې په زړه کې ويره نه وي

د اصحاب صفه حالات

"وعنه ﷺ، قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ الصُّفَّةِ، مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ عَلَيْهِ رِدَاءٌ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې ما د صفې اويا/ ۷۰ کسان وليدل چې په دوی کې يو کس هم داسې نه وو چې څادر ورباندې وي، يعني پوره جامې يې نه وې، "إِمَّا إِزَارٌ، وَإِمَّا كِسَاءٌ" د چا سره به د اغوستلو لپاره يا يو څادر وو او يا به ورسره يو لنګ وو، "قَدْ رَبَطُوا فِي أَعْنَاقِهِمْ" او هغه به يې په خپله مرۍ کې تړلي وو، "فَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ نِصْفَ السَّاقَيْنِ" د چا به تر نيمې پونډۍ پورې رسېدلی وو، "وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ الْكَعْبَيْنِ" او د چا به تر ګيټو پورې رسېدلی وو، "فَيَجْمَعُهُ بِيَدِهِ كَرَاهِيَةَ أَنْ تُرَى عَوْرَتُهُ" د زنګونانو څادر به يې په لاسونو مضبوط نيولی وو چې زموږ پرده ښکاره نه شي. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

الصفة: چبوتره/ سويه او اوچت ځای

تشريح "أهل الصفة" (أصحاب الصفة، صفة د نبوي ﷺ جومات سره په څوا کې د يوې سويې نوم دی، په دې ځای کې به د دين طالبان کېناستل، دا د اسلام تر ټولو اولنی مدرسه وه، دغو صحابه کرامو ﷺ ته به اصحاب صفه ويل کېدل، د خوراك څښاك څه خاص انتظام نه وو چې څه به ملاو شول، هغه به يې خوړل

"إما إزار وإما كساء" د هغوی دا حالت وو چې يا به ورسره يو (لنګ) وو او يا به ورسره يو څادر وو، په دې کې د اصحاب صفه غريبی او فقيری ته اشاره ده، د دوی د خوراك هيڅ انتظام نه وو، نه د اغوستلو لپاره ورسره څه خاص جامې وې، بس که يو څادر يا يو لنګ به وو په هغې به يې خپل عورت پټ کړو، دغو اصحاب صفه ﷺ خپل خواهشات، خوندونه او لذتونه د آخرت لپاره ذخيره کړي وو، لکه څرنګه چې په يو روايت کې دي څوك چې په دنيا کې خپل خواهشات پوره کوي، دغسې کس به په آخرت کې د خواهشاتو پوره کولو نه محرومه وي او کوم کس چې په دنيا کې دنيا لرونکو خلکو ته نظر کوي، داسې کس د آسمان والاوو په نزد سپك ګڼل کيږي او کوم کس چې په لږ رزق صبر کوي، هغه په جنت کې ځان ته ځای جوړوي

د مسلمان لپاره دنيا زندان دی

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ، وَجَنَّةُ الْكَافِرِ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل دنيا د مسلمان لپاره بندي خانه ده او د کافر لپاره جنت دی. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

سجن: "السجن" قيد خانه/ بندي خانه/ جېل/ زندان

تشريح علماوو ددې حديث ګڼ شمېر توجيهات کړي دي: لومړی توجيه يې دا ده چې په دنيا کې يو مسلمان ته هر څومره نعمتونه، خوندونه او مزې حاصلې شي، د دغو ټولو شيانو حيثيت د آخرت د نعمتونو په مقابل کې داسې دی لکه دا دنيا چې بندي خانه وي، دغه شان کافر که هر څومره بدحال وي، مصبتونه او تکليفونه پرې راځي، دغه مصيبتونه او تکليفونه د آخرت د عذاب په نسبت هيڅ هم نه دي، دا دنيا به ورته جنت ښکاره شي.

دويمه توجيه دا ده چې لکه څرنګه په بندي خانه کې يو انسان واک نه لري، آزادي يې سلب شي، هغه خوراک، څښاک، ناسته پاسته وغيره هيڅ په خپل اختيار نشي کولی، دغه شان يو مسلمان هم په دې دنيا کې د الله ﷻ د احکاماتو پابند دی، يو مؤمن مسلمان هر مهال د الله ﷻ احکامات خپل ځان ته مخې ته ږدي او په دې باندې خپل ژوند تېروي، ددې برعکس کافر دد بنه آزاد وي.

دريمه توجيه يې دا ده چې لکه څرنګه په بندي خانه کې بندي ته هر قسم نعمتونه ملاو شي، خو بيا هم د هغه زړه هلته نه لګيږي، دغه شان د يو مسلمان زړه هم په دې دنيا کې هيڅکله خوشحاله نه وي، بايد د مسلمان شان همداسې وي.

څلورمه توجيه دا ده چې په دنيا کې مسلمان ته د کافر په مقابل کې زيات تکليفونه راځي، لکه په يو روايت کې چې دي: "أشد البلاء الأنبياء ثم الأمثل فالأمثل" تر ټولو سخت تکليفونه په انبياء عليهم السلام باندې راځي، بيا ددې وروسته په ترتيب سره چې څوک څومره تقواداره وي او پېغمبر ته نږدې وي، په هغوی راځي، ددې برعکس کافر ته د الله ﷻ له لورې مهلت ورکول کيږي چې مرګ ورته راشي، بس راحت او آرام يې د همېش لپاره ختم شي.

په دنيا کې د مسافر په څېر اوسېږه!

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: أخذ رسول الله ﷺ بِمَنْكِبَيَّ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ زما اوږې ونيولې، "فقال: كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ" ته په دنيا کې داسې اوسېږه لکه نا اشنا سړی چې يې! "أَوْعَابِرُ سَبِيلٍ" او يا داسې ژوند تېروه لکه د لارې مسافر چې يې!

"وَكَانَ ابن عُمَرَ رضي الله عنهما، يقول: إِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي چې کله درباندې ماښام شي نو بيا د سهار انتظار مه کوه! "وَإِذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ" او کله چې درباندې سهار شي، نو بيا د ماښام انتظار مه کوه! "وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ" خپل صحت د مرض نه مخکې غنيمت وګڼه! "وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ" او د مرګ نه مخکې ژوند غنيمت وګڼه! رواه البخاري

"قالوا في شرح هَذَا الحديث معناه: لَا تَرْكَنْ إِلَى الدُّنْيَا وَلَا تَتَّخِذْهَا وَطَناً" علماوو رحمهم الله ددې حديث په شرحه کې داسې فرمايلي دي چې دنيا ته ډېر ميلان مه کوئ او مه يې خانته وطن ګرځوئ! "وَلَا تُحَدِّثْ نَفْسَكَ بِطُولِ الْبَقَاءِ

فِيهَا" او نه دي د بر زيات د ژوند تېرولو خيال او فکر کوي، "وَلَا بِالِاعْتِنَاءِ بِهَا" او نه دي پکې د ېرې منصوبې جوړوي، "وَلَا تَتَعَلَّقْ مِنْهَا إِلَّا بِمَا يَتَعَلَّقُ بِهِ الْغَرِيبُ فِي غَيْرِ وَطَنِهِ" د دې دنيا سره دي داسې تعلق وساتي لکه څنګه چې يو مسافر د پردي ځای سره تعلق ساتي، "وَلَا تَشْتَغِلْ فِيهَا بِمَا لَا يَشْتَغِلُ بِهِ الْغَرِيبُ الَّذِي يُرِيدُ الذَّهَابَ إِلَى أَهْلِهِ" او داسې خبرو او کارونو کې مه لګيا کېږه چې اهل و عيال ته د رسېدو اراده کونکی يې نه کوي

وَبِاللهِ التَّوْفِيقُ

لغوي تحقيق:

غريب: "الغريب الوطن" د وطن لرې، جمع يې "غرباء" راځي، اصل کې نا آشنا، غير مانوس سړي ته ويل کيږي

تشريح خپله امام نووي رحمه الله د دې حديث شرحه په خپل کتاب کې کړې چې بايد انسان په دنيا کې داسې وخت تېر کړي لکه يو مسافر چې يې تېروي، تر څو چې دي د دنيا مينه او محبت له زړه نه، نه وي وتلې تر هغې به دا کيفيت زړه ته داخل نه شي، ځکه چې په کوم زړه کې د دنيا مينه او محبت وي، نو په مزه مزه به د دې دنيا جوړ شي، اګر چې دا انسان د آخرت والا اعمال هم کوي، ليکن دنيا خپل رنګ خامخا ښيي، مالک بن دينار رحمه الله فرمايي: د دې ساحرې او جادوګرې نه، ځخه ځان وساته؛ ځکه چې دا دومره خبيثه ده چې په علماوو باندې هم خپل سحر کوي.

درې ډوله هوښياران:

يحيي بن معاذ رحمه الله فرمايي: هوښياران درې قسمه دي: لومړی هغه کس دی چې مخکې له دې چې دنيا پرېږدي دی دنيا پرېږدي، دويم هغه کس دی چې د قبر تياری وکړي وړاندې له دې چې قبر ته لاړ شي، دريم هغه کس دی چې د ملاقات ځخه وړاندې خپل مولی راضي کړي

انسان څرنګه د الله جل جلاله او د خلکو محبوب جوړيږي؟

"وَعَنْ أَبِي الْعَبَّاسِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رضي الله عنه قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ أَحَبَّنِي اللهُ وَأَحَبَّنِي النَّاسُ" د ابو العباس سهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې يو کس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلو او وې ويل: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته داسې عمل وښيه چې زه کله هغه عمل وکړم نو الله جل جلاله هم راسره مينه او محبت وکړي او خلک هم راسره مينه او محبت وکړي، "فَقَالَ: ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللهُ" نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د دنيا سره مينه او محبت مه کوه؛ الله جل جلاله به درسره مينه شروع کړي، "وَازْهَدْ فِيمَا عِنْدَ النَّاسِ يُحِبَّكَ النَّاسُ" او د خلکو سره چې شيان دي د هغې طمع مه ساته؛ خلک به درسره مينه شروع کړي. "حديث حسن رواه ابن ماجه وغيره بأسانيد حسنة" دا حديث حسن دی، ابن ماجه رحمه الله په خپل سنن کې روايت کړی دی او د دې نه نورو هم په حسن سند سره نقل کړی دی

لغوي تحقيق: "ازهد": "زهد زهداً" باب سمع يسمع دی، د دې معنی ده: بې رغبتي، يو شي پرېښودل، دنيوي خواهشات پرېښودل او د خپل رب په عبادت کې مشغول کېدل

تشريح "دلني على عمل اذا عملته احبني الله واحبني الناس" ما ته داسې عمل وښيه چې زه يې شروع کړم، الله ﷻ هم راسره مينه شروع کړي او خلك مي هم خوښوي، په دې حديث کې ډېره د تجربې خبره بيان شوې ده چې په دنيا کې هر څومره د چا سره ښه تعلقات وي، ليکن که د يوې پيسې سوال ترې وکړو چې لږې پيسې راته پکار دي، په قرض يې راکړه؛ نو بيا ټول تعلقات درسره ختم کړي، دغه شان سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي: يو کس د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، عرض يې وکړو چې يارسول الله ﷺ! ماته مختصر نصيحت وکړئ؛ رسول الله ﷺ چې هغه ته کوم نصيحت وکړو، د هغې خلاصه دا ده چې: د خلکو سره کوم مال او دولت دی، د هغې نه ځان بې پروا کړه؛ د چا نه طمع مه ساته؛ د طمع نه بالکل ځان محفوظ کړه؛ ځکه چې طمع سمدستي فقيري ده او ځان د هر هغه شي نه وساته چې بيا وروسته ترې معذرت غواړې.

هر څه چې غواړې، د الله ﷻ نه يې وغواړه!

څه چې دې پکار وي د الله ﷻ نه يې وغواړه؛ په دې سره الله ﷻ خوشحاليږي، د بنو اميه پاچا سليمان بن عبدالملك ابوحازم رحمه الله ته ډېر اصرار وکړو چې د څه شي ضرورت دې وي ماته وايه؛ هغه ورته په ځواب کې وليکل چې: ما خپل ټول ضرورتونه خپل رب ته وړاندې کړي دي، هغه چې ماته څه راکړل په هغې مي قناعت وکړو، همدغه الفاظ يو عربي شاعر په خپل شعر کې داسې راغونډ کړي دي

لاتسئل بني آدم حاجته .... واسئل الذي أبوابه لاتحجب

الله يغضب إن تركته سؤاله .... وابن آدم حين يسئل يغضب

ژباړه انسان ته د خپلو ضرورتونو لپاره لاس مه نيسه، د هغه کريم ذات څخه يې وغواړه چې د هغه د کرم او فضل دروازې هر وخت خلاصې وي.

ژباړه که بنده د الله ﷻ نه سوال نه کوي، الله ﷻ پرې غوسه کيږي او که د بنده نه يې غواړې، نو دغه بنده پرې خفه کيږي.

د نبي کريم ﷺ سره د خوراك لپاره ردي/ بېکاره خورما هم نه وه

"وعن النعمان بن بشير رضي الله عنهما، قَالَ: ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه، مَا أَصَابَ النَّاسُ مِنَ الدُّنْيَا، فَقَالَ" د نعمان بن بشير رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې يو ځل عمر رضي الله عنه د دولت او مالداری د ذکر په حالت کې وفرمايل: "لَقَدْ رَأَيْتُ رسول الله ﷺ يَظَلُّ الْيَوْمَ يَلْتَوِي" ما خپله رسول الله ﷺ ليدلی دی چې کولمې مبارکې به يې د لوږې څخه راتاو وې، "مَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلأُ بِهِ بَطْنَهُ" ردي او بې کاره خورما به هم نه وه چې رسول الله ﷺ پرې خپله خېټه مبارکه مړه کړې وای. رواه مسلم

"الدَّقَلُ: بفتح الدَّال المهملة والقاف: ردىءُ التمر" ؛ الدقل، معنی يې ده ردي او بې کاره خورما.

تشريح: ددې حديث مفهوم صرف دغه نه؛ بلکې په ګڼ شمېر روايتونو کې د نبي کريم ﷺ د ژوند نقشه دغه شان بيان شوې ده، په شمائل ترمذي کې د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی، فرمايي چې د

رسول الله ﷺ كورنۍ كله هم پرلپسې دوه ورځې د اوربشو اوړه په مړه خېټه نه دي خوړلي، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: په رسول الله ﷺ او د هغه په كورنۍ څو څو ورځې داسې تېرې شوې دي چې د ماښام ډوډۍ به يې په كور كې نه وه.

په كم خوراك باندې د الله جل جلاله په پرښتو تفاخر:

امام غزالي رحمه الله فرمايي: په يو روايت كې راغلي دي چې: كوم كس په دنيا كې خوراك څښاك كم كړي، نو الله جل جلاله په داسې كس باندې د پرښتو په مجلس كې د فخر په توګه وايي: وګورئ! دې كس خوراك او څښاك كم كړى دى، صبر يې پرې كړى دى، نو تاسو شاهدان يئ چې دغه كس هر څومره لقمې كمې كړي دي، د هرې لقمې په بدل كې به ورته په جنت يوه درجه زياتوم، په يو روايت كې راغلي دي چې: په دنيا كې چې كوم خلك د لوږې ژوند تېروي، هغوى به په آخرت كې په مړه خېټه او سيږي.

د رسول الله ﷺ په كور كې د وفات پر مهال هيڅ خوراكي شى نه وو

"وعن عائشة رضى الـلـه عنها، قالت: تُوفى رسول الله ﷺ، وَمَا فِي بَيْتِي مِنْ شَيْءٍ يَأْكُلُهُ ذُوكَبِدٍ" د عائشې رضي الله عنها روايت دى، فرمايي كله چې رسول الله ﷺ وفات شو، نو زما په كور كې دومره څه نه وو چې ځاروي خوړلى واى، "إِلَّا شَطْرُ شَعِيرٍ" مګر د وربشو يو څو دانې وې، "فِي رَفٍّ لِي" كومې چې به په شكرۍ يا كټوۍ كې پرتې وې، "فَأَكَلْتُ مِنْهُ" د هغې نه به مې لږې لږې راواخيستلې، "حَتَّى طَالَ عَلَيَّ" تر ډېرو ورځو پورې به مې خوړلې، "فَكِلْتُهُ فَفَنِيَ" هغه مې هم يوه ورځ وتللې، بيا ختمې شوې

متفق عليه

"قولها: ((شَطْرُ شعير)) أَيْ: شَيْءٌ مِنْ شَعِيرٍ، كَذَا فَسَّرَهُ التِّرْمِذِيُّ" دا قول چې "شطر شعير" د دې معنى ده لږ شان وربشې، دغه شان تفسير يې امام ترمذي رحمه الله هم كړى دى

لغوي تحقيق:

رف: "الرف" معنى يې ده: چاڼ، باريك او نرمه كپړه چې يو شى پرې چاڼ كړى شي

تشريح "توفي رسول الله ﷺ" نبي كريم ﷺ د نړۍ څخه رخصت شو، په وروستيو وختونو كې اګر چې د غنيمت مالونه زيات شوي وو او د مسلمانانو حالت عموما ښه وو، خو په خانګړې توګه رسول الله ﷺ د ځان لپاره فقيري غوره كړې وه، هغه فقيري چې د غنيمتونو څخه وړاندې وه.

"وما في بيتي من شئ ياكله ذوكبد" او زما په كور كې دومره څه نه وو چې يو ساه اخيستونكي خوړلي واى. په دې جمله كې عائشه رضي الله عنها د زاهدانه او فقيرى ژوند تذكره كړې ده، د دې نه معلومه شوه چې رسول الله ﷺ د عائشې رضي الله عنها سره څومره طبعي مينه وه؟ خو د پېغمبر عليه السلام مينه، عدل او انصاف يې د ټولو مېرمنو رضي الله عنهن سره برابر وو، د چا سره يې هم هيڅ ترجيحي سلوك نه كولو

په ناپ / وزن سره د يوشي برکت ختميږي:

"فكلته ففنى" ما هغه ناپ کړل نو ختم شول، معلومه شوه چې د خوراك څښاك شيان ناپ کړل پكار نه دي، په داسې طريقه الله ﷻ د هغه شي برکت ختموي، تر څو چې د ناپ او تول څخه بغير پراته وي، نو برکت پکې وي.

نبي کريم ﷺ هيڅ مال نه دی پرې ايښی

"وعن عمرو بن الحارث أخي جُوَيْرِيَة بنتِ الحارِث أمّ المُؤمِنِينَ، رضي الله عنهما، قَالَ: مَا تَرَكَ رسولُ الله ﷺ عِندَ مَوتِه دِيناراً وَلا دِرهَماً" د عمرو بن الحارث ورور د جويريه بنت حارث د مؤمنانو مور ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفات شو، نه يې په ميراث کې دينار پرېښودل او نه يې درهم، "وَلاَ عَبداً، وَلاَ أَمَةً، وَلاَ شَيئاً" نه يې غلام او نه يې وينزه، "إِلاَّ بَغْلَتَهُ الْبَيْضَاءَ الَّتِي كَانَ يَرْكَبُهَا" سېوا د يو سپين کچر نه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به پرې سوارلي کول، "وَسِلاَحَهُ" او اسلحه "وَأَرْضاً جَعَلَهَا لِابْنِ السَّبِيلِ صَدَقَةً" او ځمکه يې پرې ايښې وه چې د مسافرو لپاره يې د الله ﷻ په نوم صدقه کړې وه.

رواه البخاري.

لغوي تحقيق:

وسلاحه: "السلاح" معنی يې ده : اسلحه/ وسله/ د جنګ سامان

تشريح "ما ترك رسول الله ﷺ عند موته دينارا أولا درهماً": نبي کريم ﷺ چې وفات شو، په ملکيت کې يې نه دينار وو او نه درهم وو، محدثين فرمايي: په حقيقت کې هيڅ شی ورسره نه ؤ، که څه هم وو نو هغه "لانورث ماتركنا صدقة" مورږ انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ميراث نه پرېږدو، که څه را نه پاتې هم شي، په هغې کې د عامو مسلمانانو حق دی او هغه صدقه ده، "الابغلته البيضاء" ليکن يوه سپينه کچره او خينې وسلې وې، لکه توره زغره او لړه ځمکه وغيره ترې پاتې وه.

د نبي کريم ﷺ څخه څه ځمکه پاتې وه:

د ځمکې نه مراد د مدينې منورې، خيبر او فدك يو څو باغونه وو، په مدينه کې د بنو نضير ځمکې وې، په دريمه هجري کې د احد په غزا کې رسول الله ﷺ ته يو څو باغونه هبه شوي وو، ليکن صحيح روايتونه ثابتوي چې هغه هم نبي کريم ﷺ په مستحقينو کې تقسيم کړي وو، څه ځمکه يې په خيبر او فدك کې وه، د فدك راتلونکې روبې به يې د الله ﷻ په نوم په مسافرو باندې مصرف کولې او د خيبر آمدنې به يې درې حصې کړې، دوه حصې به د عامو مسلمانانو لپاره وې او يوه برخه به يې په ازواج مطهرات رَضِيَ اللهُ عَنْهُنَّ باندې مصرف کول او ددې نه چې به هم څه پاتې شوه، هغه به يې په غريبانو مهاجرو صحابه کرامو ﷺ باندې مصرف کول.

د راوي عمرو بن الحارث رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عمرو رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې حارث بن ابي ضرار دی، د خزاعه قبيلې سره يې تعلق درلود، د ام المومنين جويريه رضي الله عنها ورور ؤ، د کوفيانو څخه شمارل کيږي، عموماً ابو وائل، شقيق بن سلمه او ابو اسحاق ترې روايت کوي، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: د دوی نه يو دغه روايت نقل دی او بل روايت يې په مسلم کې دی، ټول دوه مرويات ترې نقل دي

د مصعب بن عمير رضي الله عنه کفن نه پوره کېدو

"وعن خبابِ بن الأرتِّ رضي الله عنه، قَالَ: هَاجَرْنَا مَعَ رسول الله ﷺ نَلْتَمِسُ وَجْهَ اللهِ تَعَالَى" د ابن الارت رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ د رسول الله ﷺ سره هجرت وکړو، ددې لپاره چې الله جل جلاله رانه راضي شي. "فَوَقَعَ أجْرُنَا عَلَى اللهِ" د هغې اجر د الله جل جلاله له طرفه ثابت شو، "فَمِنَّا مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَأكُلْ مِنْ أجْرِهِ شَيئاً" په موږ کې څينې کسان ډېر زر وفات شول او په دنيا کې يې د خپلې بدلې څه حصه ونه موندل. "مِنْهُمْ: مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ رضي الله عنه، قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ، وَتَرَكَ نَمِرَةً" په هغې کې يو مصعب بن عمير رضي الله عنه هم دی چې د احد په ورځ شهيد شو، د هغه يو لنډ او وړوکی څادر وو، "فَكُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ، بَدَتْ رِجْلاهُ" موږ چې به د هغه سر په دې څادر سر کړو، نو پښې به يې ښکاره شوې، "وَإِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رِجْلَيْهِ، بَدَا رَأْسُهُ" او کله چې به موږ د هغه پښې پټې کړې، نو سر به يې ښکاره شو، "فَأمَرَنَا رسول الله ﷺ أنْ نُغَطِّيَ رَأْسَهُ، وَنَجْعَلَ عَلَى رِجْلَيْهِ شَيْئاً مِنَ الإذْخِرِ" نبي کريم ﷺ موږ ته امر وکړو چې دده سر پټ کړئ او په پښو يې ورته سرګړي (خوشبويه وانه) واچوئ "وَمِنَّا مَنْ أيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ" او د څينو کسانو د اجر ميوه پخه شوه، نو هغوی يې راټولوي، "فَهُوَ يَهْدِبُهَا" نو هغوی يې راغونډوي او په آرام سره يې خوري متفقٌ عَلَيهِ

"النَّمِرَةُ: كِسَاءٌ مُلَوَّنٌ مِنْ صُوفٍ" دا قول چې (النمرة) يو څادر دی چې د وړو نه جوړ وي، "وَقَوْلُه: ((أيْنَعَتْ)) أيْ: نَضِجَتْ وَأدْرَكَتْ" دا قول چې (اينعت) ددې معنی ده: پاخه کېدل او پوره کېدل، "وَقَوْلُه: ((يَهْدِبُهَا)) هُوَ بفتح الياء وضم الدال وكسرها لغتان: أيْ: يَقْطِفُهَا وَيَجْتَنِيهَا" او دا قول چې (يهدبها) په فتح د (ي) سره او په ضم د (د) سره دی او په کسرې سره هم شته، دواړه لغتونه پکې شته، ددې معنی ده: راټول او خوړل، "وهذه استعارة لِمَا فَتَحَ اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِمْ مِنَ الدُّنْيَا وَتَمَكَّنُوا فِيهَا" دا يوه استعاره ده، ددې مطلب دا دی چې د خپلو نيتونو ميوې راغونډوي چې الله جل جلاله د ډېرو فتحو او کاميابيو خاوندان وګرځول

لغوي تحقيق: اينعت: "ينع ينعاً" باب ضرب يضرب او فتح يفتح دواړو څخه راځي، ددې معنی ده: د ميوې پخېدل

تشريح: وړاندې حديث کې د مصعب بن عمير رضي الله عنه واقعه بيان شوې ده چې هغه ډېر د سختۍ ژوند تېر کړو، د مرګ وروسته د کفن يوه ټوټه نه ملاوېده، د دوی ټوله حصه قيامت ته محفوظه پاتې شوه، د دوی وروسته تابعين او تبع تابعينو کې هم داسې شوي دي، د اسود بن يزيد رضي الله عنه په باره کې راځي چې د

ګرمۍ په موسم کې يې روژې نيولې چې له امله يې مخ تك تور شوی وو، علقمه بن قيس رحمه الله ترې پوښتنه وکړه چې تاسو ولې دومره خپل بدن ته تکليف ورکوی؟ وې فرمايل د قيامت په ورځ هم دغه دنيا ته د عزت ورکولو لپاره اوس مشقت او تکليف برداشت کوم، بل دا چې په دنيا کې هم ورته يو قسم خوند او خوشحالي رسيږي.

"ومنامن اينعت له ثمرته" : او په موږ کې ځينې هغه دي چې د هغه د ژوند ميوې پخې شوې، مطلب دا چې يو کس جهاد هم وکړي، مال غنيمت ورته حاصل شي او د جهاد نه په خيريت سره بېرته واپس راشي، داسې کسانو ته په دنيا کې د مال غنيمت په شکل کې اجر ملاو شي او څه به ورته په آخرت کې ملاو شي، ددې بالمقابل کومو خلکو چې د جهاد په ميدان کې د شهادت جام نوش کړی وي، نو داسې کسانو ته به خپل پوره اجر د قيامت په ورځ ملاويږي، اګر چې دوی د جهادي ميوې (مال غنيمت) نه محروم پاتې شو، هم دغه خبره د خباب بن الارت رضي الله عنه او د مصعب بن عمير رضي الله عنه په باره کې فرمايي

د الله جل جلاله په نزد د دنيا قدر د ماشي د وزر په اندازه هم نه دی

"وعن سهل بن سعد الساعدي رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لَوْكَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ" د سهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمای: که چېرته د دنيا قدر او منزلت د الله جل جلاله په نزد د ماشي د وزر په برابر هم وای، "مَاسَقَى كَافِرًامِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ" نو کافر سړي به چېرته يو ګوټ اوبه هم نه وی څښلي (رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح).

لغوي تحقيق:

جناح: "الجناح" معنى يې ده: وزر.

تشريح مطلب دا چې د الله جل جلاله په نزد د دنيا هيڅ قدر نشته، که د الله جل جلاله په نظر کې ددې دنيا څه قدر او قيمت وای، نو د دنيا تر ټولو کمزوری شی به يې هم کافر ته نه وو ورکړی، ځکه چې کافر د الله جل جلاله دښمن دی او دا ظاهره خبره ده چې کوم شی هر څومره قدر ولري، بيا هم هغه څوك خپل دښمن ته نه ورکوي.

کافرانو ته زياته دنيا ورکول کيږي:

دغه شان د الله جل جلاله په نزد د دنيا هيڅ قدر نشته، ځکه يې کافرانو ته ښه ډېره دنيا ورکړې ده، بلکې د مسلمانانو څخه يې زياته کافرانو ته ورکړې ده، دا دنيا خبيثه ده او د خبيثې دنيا څخه الله جل جلاله خپل نېک بندګان ساتي، لکه څرنګه چې د الله جل جلاله ارشاد دی : "ولولا أن يكون الناس أمة واحدة لجعلنا لمن يكفر بالرحمن لبيوتهم سقفا من فضة" **ترجمه** که ددې خبرې ويره نه وای چې دا خلك به ټول کفار شي، نو کوم خلك چې د الله جل جلاله نه منکر دي، موږ به هغوی ته د دوی د کورونو چتونه د سپينو زرو نه جوړ کړي وی، د مؤمنانو لپاره په قرآن کريم کې راځي: "وماعندالله خيرللأبرار" او د نېك عمله خلکو لپاره چې د الله جل جلاله سره څه دي هغه ښه دي، په بل ځای کې ارشاد ده: "ورزق ربك خيروأبقى" او ستا د رب له طرفه رزق ډېر ښه دی او

باقي پاتې کېدونکې دی، د هارون الرشيد يو زوی وو، هغه به ډېر ښکلي اشعار ويل او زيات به ويل

يا صاحبي لاتغرر بتنعم .... فالعمر ينفد والنعيم يزول:

ژباړه: اې ملګريه! د دنيا په نعمتونو دوکه نه شې، يوه ورځ عمر ختمېدونکی دې او په ټولو نعمتونو هم يوه ورځ زوال راځي

د دنيا او څه چې په دې کې دي، ملعون دي ليکن؟

"وعن أبي هريرة ﷺ، قال: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ، مَلْعُونٌ مَا فِيهَا" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې خبردار! دنيا ټوله د الله ﷻ د رحمت نه لرې ده او ټول هغه څه چې په دې دنيا کې دي هغه ټول د الله ﷻ د رحمت نه لرې دي، "إِلَّا ذِكْرَ اللهِ تَعَالَى، وَمَا وَالَاهُ" ليکن د الله ﷻ ذکر او کوم څه چې ددې سره تعلق ساتي الله ﷻ له خوښ دي، "وَعَالِماً وَمُتَعَلِّماً" او عالم او طالب علم دا ټول په دې لعنت کې داخل نه دي، بلکې ترې خارج دي، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

لغوي تحقيق:

ملعونة: "اللعن لعناً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: لعنت ويل، د نېکۍ نه لرې کېدل، د الله ﷻ د رحمت نه لرې کېدل

تشريح "ألا إن الدنيا ملعونة ملعون مافيها": ملعون معنی ده په حقيقت کې د الله ﷻ له رحمت نه لرې کېدل، مطلب دا چې په دنيا کې څه دي، هغه ټول د الله ﷻ د رحمت نه لرې دي، ليکن د الله ﷻ ذکر او کوم شيان چې د ذکر سره نزدې کونکي دي، هغه د الله ﷻ رحمت نه لرې نه دي، مثلاً ذکر کول، انبياء عليهم السلام، اولياء کرام او نېکان صالحان خلک وغيره...... دوی ټول ترې مستثنی دي

کوم شيان چې په حديث کې مستثنی دي:

"إلا ذكر الله": ددې دنيا څخه چې کوم شيان مستثنی دي، د الله ﷻ ذکر دی، د ذکر نه مراد حقيقي معنی ده چې هغه د الله ﷻ ذکر دی، ليکن ددې نه مجازي ذکر هم مراد کېدی شي، په داسې حال کې به ټول هغه شيان پکې داخل شي چې د الله ﷻ اطاعت او تابعداري کوي

"ماوالاه": علماء کرامو ددې هم دوه معناګانې بيان کړي دي: هر هغه شی چې د الله ﷻ ذکر سره نزدې کونکې وي، دويم هر هغه شی چې د الله ﷻ سره نزدې کوونکي وي، په دې صورت کې ټول عبادات او اطاعت وغيره داخل شي، "عالماً ومتعلماً" د ديني علم زده کونکي او د ديني علم ښوونکي ټول ترې مستثنی دي، ليکن دلته يو اعتراض دی، هغه دا چې: په (ما والاه) کې عالم او طالب دواړه داخل دي، بيا ددې مستقل ذکر کولو وجه څه ده؟ علامه خطابي ﷫ ددې اعتراض ځواب داسې ورکړی دی چې د اهل علم (عالم او طالب) مقام ته پکې اشاره ده، علماء کرامو دغه حديث په جوامع الکلم کې شمار کړی دی

د کورونو په جوړولو سره د نیوي مینه په زړه کې راځي:

"وعن عبد الله بن مسعود ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: تَتَّخِذُوا الضَّيْعَةَ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د جائداد جوړولو سره مينه مه ساتئ "فَتَرْغَبُوا فِي الدُّنْيَا" بيا به تاسو د دنيا سره مينه شروع کړئ (يعني نتيجه به يې دا شي چې د دنيا مينه به ستاسو په زړونو کې داخله شي، "رواه الترمذي وقال: حديث حسن".

لغوي تحقيق:

الضيعة: د "الضيعة" نه مراد خمکه ده، د کورونو نه جائدادونه مراد دي

تشريح "لا تتخذوا الضيعة": فرمايي چې په کورونو او خمکو وغيره کې خانونه مه مشغولوئ، علماء ليکي چې په دې حديث کې د کورونو جوړولو او خمکې ابادولو وغيره کې د مشغول کېدو ممانعت هر هغه کس ته راغلی دی چې په دې شيانوکې داسې مشغول شي چې آخرت ترې هېر شي، ليکن که هغه ددې شيانو سره سره د حقوق الله او حقوق العباد پوره خيال ساتي، نو بيا د داسې کس لپاره د کورونو په جوړولو کې هيڅ باك نشته

"فترغبوا في الدنيا" په کورونو جوړولو کې د سړي زړه د دنيا سره لګيږي، د شريعت طريقه دا ده چې انسان بايد هر وخت آخرت ته متوجه وي، ددې مثال داسې دی لکه الله ﷻ چې جنت ته د داخلېدو لپاره يو پول جوړ کړی وي، پول صرف د منزل تېرېدو لپاره جوړ شوی وي، داسې نه چې په دې پول باندې انسان خانته کورونه او بنګلې جوړې کړي، امام غزالي رحمه الله د عيسى عليه السلام قول نقل کړی دی چې دنيا د يو پول په شان ده، په دې باندې تېر شه، په دې باندې عمارتونه مه جوړوه، د فارسي يو شعر دی

نه مرد است آنکه دنيا دوست دارد .... اګر دارد برائے دوست دارد.

د کور له چت څخه مرګ زيات نژدې دی

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قَالَ: مَرَّ عَلَيْنَا رسول الله ﷺ وَنَحْنُ نُعَالِجُ خُصًّا لَنَا" د عبد الله بن عمرو بن عاص ﷺ روايت دی هغه فرمايي: يوه ورځ په داسې حال کې چې موږ د خپل کور چت سمولو، (هغه چت چې د بانس لرګي ورباندې پراته وو) چې رسول الله ﷺ په موږ باندې تېر شو، "فَقَالَ: مَا هَذَا؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا څه دي؟ "فَقُلْنَا: قَدْ وَهَى، فَنَحْنُ نُصْلِحُهُ" موږ وويل: د کور د چت تختې خرابې شوې دي هغه جوړوو، "فَقَالَ: مَا أَرَى الأَمْرَ إِلاَّ أَعْجَلَ مِنْ ذَلِكَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه يوه الهي فيصله (مرګ يا قيامت) ددې نه ډېر زيات نژدې وينم، "رواه أبو داود والترمذي بإسناد البخاري ومسلم، وقال الترمذي: حديث حسن صحيح" دا حديث امام ابوداود رحمه الله د بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله په سند سره روايت کړی دی او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث حسن صحيح دی

لغوي تحقيق:

عصا: "الخص" : د بانس يا د لرګي چت ته وايي

تشريح په دې حديث کې د مرګ يادولو ته اشاره ده، بايد چې انسان په دنيا کې مشغول کيږي، نو مرګ به يې هم په ياد وي، هيڅ کله دې ترې نه هيريږي

مرګ ناخبره ملګرى دى:

د لقمان حکيم قول نقل دى چې يو خل يې خپل بچي ته نصيحت وکړو چې اې بچيه! مرګ يو ناخاپي ملګرى دى، دا يو داسې شى دى چې د دې هيڅ پته نه لګيږي، کله هم راتلى شي، لهذا د مرګ نه وړاندې وړاندې د دې تيارې وکړه، علامه سيوطي رحمه الله د عطاء رحمه الله قول نقل کړى دى چې کله د شعبان پنځلسمه ورځ شي، نو ملك الموت ته يو فهرست ورکړل شي چې په دې فهرست کې د هر چا نومونه دي د هغې به سږ کال روحونه قبض کوې، اوس هر سړى به په خوند مزو کې لګيا وي، پلانونه جوړوي، دا به کوو او دا به کوو، د نکاح پيغامونه ليږي، خانته کور جوړوي او دلته د هغه نوم د مړو په لست کې ليکل شوى وي

په يو روايت کې د عبد الله بن عباس رضي الله عنه روايت دى هغه فرمايي چې ته به وګورې چې خلك به په بازارونو کې ګرځي راګرځي او دلته د ملك الموت سره د مړو په فهرست کې ليکل شوى وي، هيڅ کس ته د دې خبرې علم نشته چې نن مرم که سبا، خکه خو په دې حديث کې ترغيب ورکول شوى دى چې آخرت هېر نه کړې

زما د امت فتنه مال دى

"وعن کعب بن عياض رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً" د کعب بن عياض رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: بې شکه د هر امت لپاره خپله فتنه او امتحان دى، "وَفِتْنَةُ أُمَّتِي الْمَالُ" ليکن زما د امت لپاره فتنه مال دى، "رواه الترمذي، وقال: حديثٌ حسنٌ صحيحٌ".

لغوي تحقيق:

فتنة: "الفتنة" : ګڼ شمېر معناګانې لري: امتحان، عذاب، ګمراهي، رسوايي، عبرت

تشريح "إن لكل أمة فتنة": امام غزالي رحمه الله فرمايي: د فتنې نه مراد د آخرت عذاب دى چې د دې مال په وجه به د ډېر خلك په فتنه يعنې د آخرت په عذاب کې مبتلا شي، د دې مطلب تائيد د دې حديث څخه هم کيږي چې: د قيامت په ورځ به د دوه درهم مالك څخه د يو درهم د مالك په نسبت زياتې پوښتنې کيږي

د محدثينو له نظره د حديث مطلب:

مولانا منظور نعماني رحمه الله فرمايي: ددې حديث مطلب دا دی: ددې امت لويه فتنه به د خلکو لپاره مال وي، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې هم ارشاد دی "إنما أموالكم وأولادكم فتنة" بې شکه ستاسو مالونه او اولادونه ستاسو لپاره امتحان دی، علماء کرام رحمهم الله فرمايي: که په تېر تاريخ باندې نظر وکړل شي چې د رسول الله ﷺ د زمانې نه تردې وخته پورې، نو دا خبره به د چانه پټه نه وي چې هم دغه مال د ټولو خلکو لپاره لوی امتحان جوړ شوی دی، د همدې مال په وجه ډېر خلك د الله ﷻ نه باغيان شوي دي او خپل آخرت يې تباه کړی دی.

يا دا مطلب دی چې د مال سره ډېره مينه انسان ړندوي، د الله ﷻ احکامات ورته په نظر نه ورځي، آخرت ترې هېر وي، همدغه مال دی چې د ټولو فتنو او عذابونو بنياد دی، دا يو داسې مرض دی چې هر چاته يو ځل ولګيږي، نو دين او اخلاق به يې تباه وي.

د راوي کعب بن عياض رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې کعب رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې عياض ده، د اشعري قبيلې سره يې تعلق درلود، دوی رضي الله عنه شمار په اهل شام کې کيږي، عموماً جابر بن عبد الله او جبير بن نفير ترې روايات نقل کړي، امام ترمذي او نسائي ترې په خپلو کتابونو کې روايات نقل کړي دي، په باقي صحاح سته کې يې مرويات نشته.

په دنيا کې د بنيادم څه حق دی؟

"وعن أبي عمرو، ويقال: أبو عبد الله، ويقال: أبو ليلى عثمان بن عفان رضي الله عنه: أن النبي ﷺ، قال: ليس لابن آدم حق في سوى هذه الخصال" د ابو عمرو (هغه ته ابو عبد الله يا ابو ليلي عثمان بن عفان رضي الله عنه هم وايي) څخه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د بنيادم د بچو لپاره د درې شيانو نه علاوه د بل شي لپاره منډه وهل او د هلو ځلو وهلو حق نشته، "بيت يسكنه" اول د ضرورت کور چې دی پکې اوسيږي، "وثوب يواري عورته" بل ضرورت د جامې چې خپل عورت ورباندې پټ کړي، "وجلف الخبز والماء" او د خوراك لپاره ډوډی او اوبه پيدا کول. "رواه الترمذي، وقال: ((حديث صحيح)) قال الترمذي: سمعت أبا داود سليمان بن سالم البلخي، يقول: سمعت النضر بن شميل، يقول: الجلف: الخبز ليس معه إدام، وقال غيره: هو غليظ الخبز وقال الهروي: المراد به هنا وعاء الخبز كالجوالق والخرج، والله أعلم" امام ترمذي رحمه الله فرمايي: دا حديث صحيح دی، امام ترمذي رحمه الله فرمايي: ما د ابو داود سليمان بن سالم بلخي رحمه الله نه اورېدلي دي چې هغه فرمايل: ما د نضر بن شميل رحمه الله نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: د (الجلف) معنی ده: هغه ډوډی چې ترکاري ورسره نه وي او ځينو نورو علماوو فرمايلي دي چې ددې معنی ده: سخته او وچه ډوډی، امام هروي رحمه الله فرمايلي دي چې ددې نه مراد د اوړو لوښی/ جوال دی، همدا رنګه لفظ د خرج دی چې ددې معنی ده: د ډوډۍ جوال او خورجين.

لغوي تحقيق:

جلف: د "الجلف" نه مراد وچه او کلکه ډوډی ده.

تشريح علامه نووي رحمه الله د حديث معمولي تشريح بيان کړه، نور محدثين هم ددې معنی بيانوي: ددې شيانو څخه بغير بنيادم د نورو شيانو حق نه لري چې اباد يې کړي. ددې نه مراد هغه شيان دي چې د الله ﷻ له لوري په انسان باندې د وجوب په درجه کې دي او په آخرت کې پرې څه مواخذه نشته

په دې شيانو به مؤاخذه نه وي:

کوم کس چې دا شيان په حلالو ذريعو حاصل کړي او د ضرورت په اندازه قناعت ورباندې وکړي، نو د هغه څخه به ددې شيانو په باره کې سوال نه کيږي، ځکه چې د ضرورت په اندازه هغه شيان مراد دي چې ددې څخه بغير د انسان ژوندی پاتې کېدل ناممکن وي، لکه څرنګه چې په يو روايت کې دي چې دغه شيان چاته په لاس ورشي، لکه هغه ته چې ټوله دنيا ورپه برخه شي. د ترغيب په يو روايت کې دي چې: نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په خپل کور کې په امن سره وي او الله ﷻ ورته روغ صحت ورکړی وي، د يوې ورځې ډوډی ورسره وي، نو لکه ټوله دنيا چې ورسره وي. محمد بن واسع رحمه الله خان ته عجيبه عادت جوړ کړی وو چې هغه به وچه او سخته ډوډی په اوبو کې لمده کړه، بيا به يې خوړل، که انسان په دې قناعت وکړي هغه به د هيڅا محتاج نه شي.

د راوي عثمان بن عفان رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عثمان رضي الله عنه دی، ابو عبد الله او ابو عمر يې کنيت دی، ذو النورين يې لقب دی، د پلار نوم يې عفان دی، د مور نوم يې اروی ده، د عثمان رضي الله عنه خاندان د جاهليت په زمانه کې د اقتدار او مشرانو کورنۍ وه.

ولادت: د عام الفيل په شپږم کال پيدا شو، په مسلمانېدو کې څلور دريشم نمبر وو، نبي کريم ﷺ خپله لور رقيه رضي الله عنها د عتبه بن ابولهب په نکاح کړې وه، ليکن هغه طلاق ورکړو، بيا وروسته د عثمان رضي الله عنه په نکاح کې راغله، حبشې او مدينې منورې ته يې په هجرت کې شرکت کړی دی، د بدر په جهاد کې د شرکت نه کولو وجه يې هم دا وه چې رقيه رضي الله عنها بيماره وه، د هغې لپاره پاتې وو، عثمان رضي الله عنه ته دا شرافت هم حاصل دی چې د وحي کاتب پاتې شوی دی، د قرآن کريم سره يې زيات عشق درلود، د مرګ په حالاتو کې يې هم قرآن کريم لوستلو، الله ﷻ ورته ځينې خانګړې صفتونه ورکړي وو، په هغې کې څه دا دي: د الله ﷻ نه ويره، د رسول الله ﷺ سره مينه، د سنتو تابعداري، د رسول الله ﷺ احترام، حياء، تواضع، زهد، سخاوت، ايثار، قرباني، حسن سلوک او بې انتها سخاوت.

وفات: د جمعې په ورځ د مازيګر په وخت په مظلومانه طريقه باغيانو شهيد کړو، دوه ورځې يې مړی پروت وو، بيا يو څو کسانو په ډېرې سختۍ سره د هغه تجهيز او تکفين وکړو، د مسند احمد نه

معلومېږي چې د جنازې لمونځ پرې زبير رضي الله عنه او د ابن سعد د طبقات څخه معلومېږي چې د جنازې لمونځ يې جبير بن مطعم رضي الله عنه وکړو، په جنت البقيع کې دفن کړی شو

مرويات په روايت نقل کولو کې يې حد درجه احتياط کولو، يو سل دوه څلوېښت حديثونه ترې نقل دي، درې حديثونه يې متفق عليه دي او اته يې په بخاري او پنځه يې په مسلم کې دي، دغه دواړه صحيحينو کې ټول شپاړس حديثونه نقل دي، باقي په نورو کتابونو کې دي

د(الهاكم التكاثر) مطلب د رسول الله ﷺ په ژبه

"وعن عبد الله بن الشِّخِّير -بكسر الشين والخاء المعجمتين- رضي الله عنه، أنه قال: أتيتُ النبيَّ ﷺ، وهو يقرأ: ﴿أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ﴾ قال: يَقُولُ ابْنُ آدَمَ: مَالِي، مَالِي" د عبد الله بن شخير رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې يوه ورځ زه رسول الله ﷺ ته په داسې حالت کې راغلم چې هغه دا سورت تلاوت کولو، (الهاكم التكاثر) بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: د آدم عليه السلام بچي وايي چې: دا زما مال دی، هغه زما مال دی، "وَهَلْ لَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مِنْ مَالِكَ إِلَّا مَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ" ليکن اې د آدم عليه السلام زويه! ستا مال هغه دی چې تا وخوړلو او ختم شو، "أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ" يا دې واغوستلو، نو زوړ دې کړو، "أَوْ تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ" او يا دې صدقه کړو، نو هغه دې د ځان لپاره په آخرت کې ذخيره کړو. رواه مسلم

لغوي تحقيق: فامضيت: "امضى إمضاءً": امر او حکم نافذول.

حديث د قرآن کريم تفسير دی:

تشريح ددې حديث تشريح د بخاري شريف په يو بل روايت سره هم کېږي په کوم کې چې راځي "لوكان لابن آدم واديامن ذهب لاحب ان يكون له واديان ولا يملاء فاه الا التراب، ويتوب الله على من تاب" که انسان ته د خړو يوه کنده د سرو زرو پوره ډکه په لاس ورشي، نو دی به بيا هم د دوه نورو ارمان کوي او د هغه خوله نه ډکېږي سېوا له خاورې څخه، الله ﷻ د هغه چا توبه قبلوي چې الله ﷻ ته توبه وباسي، ابي بن کعب رضي الله عنه فرمايي: موږ به ددې حديث الفاظ د قرآن کريم نه شمارل تردې چې سورت ((الهكم التكاثر)) نازل شو، داسې به معلومېدل لکه رسول الله ﷺ چې مذکوره الفاظ د ((الهكم التكاثر)) په تفسير کې ولوستل، خکه خو خينو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته شبه پيدا شوه چې دا به هم د قرآن کريم الفاظ وي او کله چې پوره سورت: "الهاكم التكاثر حتى زرتم المقابر" نازل شو او په دې کې هغه الفاظ نه وو، ددې نه حقيقت معلوم شو چې دا الفاظ د تفسير دي، د قرآن کريم الفاظ نه دي

څوک چې د رسول الله ﷺ سره مينه ساتي، هغه دې فقيرۍ ته ځان تيار کړي

"وعن عبد الله بن مُغَفَّل رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رجل للنبي ﷺ: يَا رسولَ الله، وَاللهِ إنِّي لأُحِبُّكَ" د عبد الله بن مغفل رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس رسول الله ﷺ ته ووېل: يا رسول الله ﷺ! په الله ﷻ قسم! چې زه ستاسو سره مينه او محبت کوم، "فَقَالَ: انْظُرْ مَاذَا تَقُولُ؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ګوره چې

نه څه وايي؟! "قَالَ: وَاللّٰهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ" هغه بيا وويل: په الله ﷻ قسم چې زه ستاسو سره مينه لرم او دا يې درې ځله وويل، "فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ تُحِبُّنِي فَأَعِدَّ لِلْفَقْرِ تِجْفَافاً" نبي كريم ﷺ وفرمايل كه چېرته تاسو زما سره مينه لرئ نو بيا غريبئ ته ځپله ملا وتړه! "فَإِنَّ الْفَقْرَ أَسْرَعُ إِلَى مَنْ يُحِبُّنِي مِنَ السَّيْلِ إِلَى مُنْتَهَاهُ" بې شكه كوم كس چې زما سره مينه كوي، هغه كس د غريبئ او د ولږې سيلاب ډېر زر راګيروي. رواه الترمذي، وقال: ((حديث حسن)).

"التجفاف: بكسر التاء المثناة فوق وإسكان الجيم وبالفاء المكررة: وَهُوَ شَيْءٌ يُلْبَسُهُ الفَرَسُ" لفظ د: (التجفاف) په كسرې د (ت) او په سكون د (ج) سره او په (ف) مكرر سره دى، دا يو داسې شى دى چې د اسونو دپاسه اچولى شي. "لِيُتَّقَى بِهِ الأَذَى" ددې لپاره چې د ضرر او تكليف څخه بچ شي. "وَقَدْ يُلْبَسُهُ الإِنْسَانُ" او كله كله يې انسان هم اغوندي (ددې نه مراد كته ده).

د مال په وجه پيدا كېدونكي مرضونه:

په دې حديث كې اشاره ده دې خبرې ته چې څوك څومره د رسول الله ﷺ سره مينه كوي هغومره يې الله ﷻ د دنيا څخه ساتي، ځكه چې زياته مشاهده ده چې بغض، كينه، حسد، رياكاري، عجب، تكبر او تفاخر د زړه مرضونه زيات وخت د مال په وجه پيدا كېږي، په كوم زړه كې چې دغه مرضونه وي په هغه زړه كې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ مينه څرنګه راتلى شي، په يو بل ځاى كې د رسول الله ﷺ ارشاد مبارك دى چې د كوم كس سره د الله ﷻ مينه پيدا شي، دغه انسان الله ﷻ بيا د دنيا څخه داسې ساتي، لكه څرنګه چې تاسو يو بيمار د اوبو څخه ساتئ.

په يو بل حديث كې ارشاد دى: په تاسو كې داسې څوك شته چې هغه دې په اوبو باندې تيرېږي او د هغه پښې دې نه لندېږي؟ صحابه كرامو ﷺ عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ داسې خو ناممكن دي، نبي كريم ﷺ وفرمايل: همدغه حال د دنيادار كس دى چې هغه ته د ګناهونو نه بچ كېدل مشكل دي.

د مال د وږي مثال د (وږي شرمخ) دى

"وعن كعب بن مالك ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول اللّٰه ﷺ: مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا" د كعب بن مالك ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه وږي شرمخان د ګډو په رمه كې ننوځي، هغه دواړه هغوى ته دومره نقصان نه شي رسولى، "مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ" څومره چې د مال او دولت په زياتوالي سره حاصلېږي او د عزت حرص د سړي دين ته نقصان وركوي "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

لغوي تحقيق:

الشرف: بزرګي او مشرتوب.

ددې حديث د سند تحقيق:

تشريح: په دې حديث کې دوه خبرې تحقيقي دي: يو دا چې په سند کې يې تحقيق وشي، دويم ددې مطلب بيان شي، په ځينو کتابونو کې ددې حديث سند داسې بيان شوی دی "کعب بن مالك عن ابيه قال: قال رسول الله ﷺ" : مطلب دا چې دغه روايت کعب بن مالك رضي الله عنه د خپل پلار په واسطه نقل کړی دی، پلار يې د رسول الله ﷺ نه نقل کړی دی، ليکن په دې باندې اعتراض دی، هغه دا چې د کعب بن مالك رضي الله عنه پلار ته خو د اسلام راوړلو سعادت حاصل نه دی، نو بيا يې څرنګه د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي؛ خواب دا دی چې دلته صحيح سند داسې دی "عن ابن کعب بن مالك عن ابيه" کوم چې په ترمذي وغيره کې مذکور دی، يعنې ابن کعب د خپل پلار کعب ابن مالك نه روايت نقل کوي، دا خبره صحيح ده چې کعب بن مالك رضي الله عنه په هغه درې صحابه کرامو رضي الله عنهم کې دی چې د تبوك په غزا کې شريك شوي نه وو، د هغوی کيسه په قرآن کريم او حديثونو کې مشهوره ده.

ددې حديث مطلب:

د شرمخانو د ګډو چيلو سره دښمني يو ضرب المثال دی، په دې حديث کې رسول الله ﷺ د مال او شهرت سره د مينه ساتلو مثال د دوه هغو شرمخانو سره ورکړی دی چې بنه وږي وي او د انسان دين يې د ګډو چيلو سره تشبيه کړی دی او داسې يې وفرمايل: دوه وږي شرمخان چې قصداً د ګډو په رمه کې پرېښودلی شي، دغه شرمخان به ګډو ته دومره نقصان ونه رسوي، څومره چې دغه دوه شيان د انسان دين ته نقصان رسوي، ځکه چې د کوم انسان په زړه کې د مال او شهرت مينه پيدا شي، هغه بيا په دې شيانو کې دومره مشغول شي چې بيا به د حرامو او حلالو فرق نه شي کولی، همدغه شان د مال او شهرت مينه د دين د تباهي ذريعه جوړېږي، هغه خيال کوي چې زما سره څومره زيات مال وي هغومره به د خلکو په نظر کې قدرمن وم.

د تهانوي رحمة الله عليه وينا:

حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي: شرعاً هغه حرص نه دی چې د هغه په مقتضا عمل ونشي، شرعي حرص هغه دی چې دنيا ته په دين باندې ترجيح ورکړی شي، عمر رضي الله عنه فرمايي چې: موږ ته د مال ضرورت هم شته او ددې په حاصلېدو باندې طبعاً خوشحالي هم حاصلېږي، ليکن اې الله! ددې مينه د خپلې رضا وسيله جوړه کړې، بلکې يوه بله وجه ددې دا هم ده، مثلاً دومره مينه چې د مال حفاظت او اهتمام وشي، هغه مطلوبه ده، ځکه چې مال ضايع کول حرام دي.

د راوي کعب بن مالك رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې کعب رضي الله عنه دی، ابو عبد الله يې کنيت دی، د بنو سلمه قبيلې سره تعلق لري، په عقبه ثانيه کې د اويا کسانو سره يو ځای د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او په اسلام مشرف شو، په ګڼ شمېر غزواتو کې يې شرکت کړی دی، د تبوك په غزا کې په دې نيت شريک شو چې ان شاء

ورپسې ورځم، په همدې نن سبا کې پاتې شو، تردې چې د مسلمانانو لښکر د تبوک څخه واپس راغلو، د هغه سره دوه نور صحابه هم پاتې وو، د درې وارو سره د رسول الله ﷺ په حکم نورو صحابه کرامو پوره پنځوس ورځې خبرې ونه کړې، د پنځوس ورځو وروسته يې توبه قبوله شوه، هغه زبردست شاعر هم وو، يو ځل يې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! شاعري څه حکم لري؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: مسلمان په ژبه او توره دواړو سره جهاد کوي، کعب ﷺ دغه دوه شعرونه وويل

زعمت سخنية أن ستغلب ربها .... فليغلبن مغالب الغلاب

د سخنيه ګمان دی چې د دوی باطل معبود به دوی غالب کړي، خو غوره خبره دا ده چې هغوی به د هغه ذات په واسطه غلبه حاصله کړي چې په هرڅه باندې غالب دی، هغه ذات الله ﷻ دی، رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ستاددې خبرو قدر کوي

وفات: د امير معاويه ﷺ په دور خلافت کې تقريباً په پنځوسمه هجرى کې د (۷۷) کالو په عمر کې وفات شو، دغه وخت يې بعمرې ته تشريف وړی ؤ.

د نبي کريم ﷺ په ملا د پوزکي نخښې وې:

"وعن عبد الله بن مسعود ﷺ، قَالَ: نَامَ رسول الله ﷺ عَلَى حَصِيرٍ فَقَامَ وَقَدْ أَثَّرَ فِي جَنْبِهِ، قُلْنَا: يَارَسُولَ اللهِ، لَوِ اتَّخَذْنَا لَكَ وِطَاءً"

د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ په يو پوزي باندې ويده وو، کله چې راويښ شو، نو د هغه په بدن باندې د پوزکي نخښې وې، مونږ ووېل: يا رسول الله ﷺ که ستاسو خوښه وي، نو مونږ به تاسو ته د آرام لپاره يوه بستره تياره کړو، "فَقَالَ: مَا لِي وَلِلدُّنْيَا؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زما د دنيا د آرام سره څه کار دی؟ "مَا أَنَا فِي الدُّنْيَا إِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا" زما د دنيا سره تعلق دی، انسان د هغه مسافر په شان دی چې يو ساعت يا دوه ساعته تر سيورې لاندې ايسار شي او روان شي، هغه د ېرې ونې پرېږدي او په خپله لار روان شي "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

لغوي تحقيق: اثر: "أثرفيه" : اثر پيدا کېدل، په کوم شي باندې چې اثر پيدا شي.

تشريح: "وقدأثرفيه جنبه" : د نبي کريم ﷺ په ډډو ددې پوزکي اثرات وو، علماء فرمايي چې: ددې نه د رسول الله ﷺ د دنيا څخه د بې رغبتۍ نقشه مخې ته راځي چې هغه دومره اهتمام هم نه کولو چې ځان ته راحت ورکړي او چېرته په نرمه بستره څملي، کله چې ددې ضرورت نه وو، نو بيا د نورو تکلفاتو او راحتونو پوښتنه به څه کوي.

"لواتخذنالك وطآء": که مونږ تاسو ته کومه نرمه بستره جوړه کړې وای، په يو بل روايت کې دي چې "لوأمرتنا أن نبسط لك ونعمل" الفاظ راغلي دي، ددې نه معلوميږي چې د رسول الله ﷺ زهد او فقيرې د مجبورى له امله نه ؤ، بلکې اختياري وه، ځکه نو صحابه کرامو خو به د دوی پوره خدمت کولو، نبي کريم ﷺ خپله قصداً زهد او فقيري خوښه کړې وه، صوفيان وايي

همت بلند دار که پيش خدا وخلق .... باشد بقدر همت تو اعتبار تو

مسافرانه ژوند تيرېږي:

"إلا كراكب استظل تحت شجرة" لکه يو مسافر چې په لاره روان وي او په لاره کې ورته د سيوري ونه مخې ته راشي، ددې ونې لاندې يو ساعت دمه وکړي، ددې جملې نه معلومېږي چې د رسول الله ﷺ په نظر کې د دنيا ژوند هيڅ حيثيت نه لري، فرمايي: يو مسافر چې په لاره روان وي او په لاره کې د لږ ساعت لپاره د يوې ونې لاندې دمه وکړي، بيا د هغه ځای څخه روان شي، هغه مسافر ددې ونې تر سيورې لاندې دومره په خوند او مزه کې نه راځي چې په دې کې مستغرق شي او ددې نه ځان ته مستقل کور جوړ کړي او خپل منزل مقصود ترې پاتې شي، دغه شان دنيا د چاکور نه دی، يوه نه يوه ورځ به ددې فاني نړۍ څخه کوچ کوئ، څوك چې داسې کوي هغه نادان دی، کم عقل دی، ددې مثال په يوه عربي شعر کې داسې ورکول شوی دی:

ترقع دنيانا بتمزيق ديننا
فلا ديننا يبقى ولا ما ترقع

موږ خپل دين ټکړې ټکړې کړو او خپلې دنيا ته مو پرې پيوندونه ولګول، نو نه به مو دين باقي شي او دنيا.

ليکن دلته سوال پيدا کيږي چې دا سوارلی يې ولې ذکر کړه؟ ځواب دا دی چې سرعت مشي يعنې که يو انسان په سوارلۍ باندې سپور وي او بيا هغه د ونې تر سيورې لاندې کيني، نو دغسې کس د پيدل مسافر په نسبت کم وخت تر سيورې لاندې تيروي، ځينو نورو علماوو ليکلي دي چې د سوارلۍ ذکر يکې ځکه راغلو چې کله د مسافر منزل لرې وي، نو هغه د سفر پر مهال د راحت او آرام وغيره پروا نه ساتي، د هغه په ذهن کې صرف دا وي چې څرنګه وشي خو چې زه خپل منزل مقصود ته ورسيږم، بعينه دنيا هم دغه شان مسافرخانه ده، منزل آخرت دی، نو دلته هم داسې کار ته التفات پکار نه دی چې منزل مقصود ته پکې خنډ جوړيږي.

غريب به د مالدار نه پنځه سوه کاله وړاندې جنت ته ځي:

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: يَدْخُلُ الفُقَرَاءُ الجَنَّةَ قَبْلَ الأَغْنِيَاءِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غريبان به جنت ته مخکې داخليږي، "بِخَمْسِ مِئَةِ عَامٍ" پوره پنځه سوه کاله وړاندې "رواه الترمذي، وقال: حديث صحيح".

د حديثونو خپل مينځ کې تعارض:

په دې حديث کې راغلي: "يدخل الفقراء الجنة قبل الأغنياء بخمس مائة عام" په يو بل روايت کې دي چې "يدخل الجنة قبل أغنيائهم أربعين خريفا" فقيران به د مالدارو څخه څلوېښت کاله وړاندې جنت ته داخليږي

یو سوال او څلور ځوابونه:

سوال غریبانان به د مالدارانو څخه څو کاله وړاندې جنت ته ځي، په دې روایاتو کې ظاهراً تعارض معلومیږي، څلوېښت کاله او که پنځه سوه کاله؟

لومړی ځواب: فقراء مهاجرین صحابه کرام ﷺ به د مالدارو خلکو څخه پنځه سوه کاله وړاندې جنت ته داخلیږي او پاتې نور فقیران به څلوېښت کاله وړاندې جنت ته داخلیږي

دویم ځواب ځینې محدثین فرمايي چې پنځه سوه یا څلوېښت کاله څخه تحدید مراد نه دی. بلکې تکثیر مراد دی چې فقیران به د مالدارانو نه ډېره موده وړاندې جنت ته داخلیږي

دریم ځواب: په کوم شکل چې رسول الله ﷺ باندې وحي نازله شوې ده، په هغه شکل به رسول الله ﷺ بیانول، په شروع کې د څلوېښت کاله وحی نازله وشوه بیا وروسته پنځه سوه کاله وحی نازله شوه

څلورم ځواب: هغه فقیران غریبانان کوم چې صبر کوي او په رضاء بالقضاء باندې شاکر شي، په دوی کې د شکر او صبر کمال ماده پرته وي، نو هغوی به پنځه سوه کاله وړاندې جنت ته داخلیږي او په کومو فقیرانو کې چې ددې شیانو کمی وي، هغوی به څلوېښت کاله وړاندې جنت ته داخلیږي، ددې آخرني ځواب په تائید کې د جامع الاصول یو روایت هم دی، چې دنیوي لذتونو او خواهشاتو پوره کوونکي فقیران به د حریص غني سړي نه څلوېښت کاله وړاندې جنت ته داخلیږي او د دنیوي نعمتونو څخه بالکل بې پروا او زاهد فقیر به د دنیا داره مالداره څخه پنځه سوه کاله وړاندې جنت ته داخلیږي

په جنت کې به اکثره فقیران خلک ولیدل

"وعن ابن عباس وعمران بن الحصين ﷺ، عن النبي ﷺ، قَالَ اطَّلَعْتُ فِى الْجَنَّةِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ" د عبد الله بن عباس ﷺ او عمران بن حصین ﷺ نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه جنت ته ځرګند شوم نو اکثره خلک مې پکې غریبان ولیدل، "وَاطَّلَعْتُ فِى النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ" او جهنم راته ځرګند شوم نو اکثره مې پکې ښځې ولیدلې، "متفقٌ عَلَيْهِ من رواية ابن عباس، ورواه البخاري أيضاً من رواية عمران بن الحصين".

لغوي تحقیق:

اطلعت: "اطلع يطلع إطلاعا" ددې معنی ده: خبرېدل، لیدل، کتل، په حقیقت پوهېدل

تشریح "فرأيت أكثر أهلها الفقراء" : ما په جنت کې اکثره خلک غریبانان او فقیران ولیدل، عمومي طور دا مشاهده ده چې د کثرت مال په وجه انسان شراب خوري، جواري کوي، قتلونه کوي، سود کوي او په زنا کې اخته وي، په دې وجه مطرف بن شخیر ﷺ ارشاد وفرمایلو د پاچایانو په خوږو خوراکونو او نرمو بسترو باندې مه دوکه کیږئ بلکې دا فکر وکړئ چې د دوی انجام به څه وي

په دوزخ کې زياتې ښځې دي:

"فرأيت أكثر أهلها النساء" ما په جهنم کې وکتل چې زياتې ښځې پکې وې، په يو بل روايت کې ددې وجه بيان شوې ده چې "تكثرن اللعن وتكفرن العشير" تاسو ښځې لعنت ډېر وايئ او بل د خپل خاوند ناشکري کوئ، په يو بل حديث کې نبي کريم ﷺ په صلوة الکسوف کې د جنت او دوزخ مشاهده وکړه، په دې کې هم رسول الله ﷺ په دوزخ کې ښځې اکثره وليدې، صحابه کرامو ﷺ ددې باره کې پوښتنه وکړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هغوی د خپل خاوند زياته ناشکري کوي، که خاوند ورسره ټول عمر ښه وکړي نو ښه ده، خو که خاوند معمولي غلطي وکړي، بس چغې وهي، وايي ستا له لاسه مونږ خير ونه ليدو

ښځې په څرنګه جنت ته لاړې شي:

که ښځې وغواړي چې مونږ دې جنت ته لاړې شو، نو ددې طريقه هم رسول الله ﷺ ښودلې ده، په يو حديث کې دي چې صدقه دې ورکوي، د صدقې په واسطه به له جهنم نه خلاصې شي، کله چې ښځو دغه ارشاد واورېدو، نو خپلو غوږونو او غاړو ته يې لاس کړو او څه يې چې په پوزه، غوږونو او په غاړه وو، هغه ټول يې د بلال ﷺ په کپړه کې چنده راغونده کړه

مالدار به ابتداءً د مال په وجه بند پاتې وي

"وعن أسامة بن زيد رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قَالَ: قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ، فَكَانَ عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِينُ" د اسامه بن زيد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د جنت په دروازه باندې ودريدم، اکثره خلك چې جنت ته داخلېدل مسکينان او غريبانان وو، "وَأَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوسُونَ" مالداره خلك راګېر شوي وو، "غَيْرَ أَنَّ أَصْحَابَ النَّارِ قَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ" ليکن دومره خبره ده چې کوم جهنميان وو، هغوی ته حکم شوی وو چې جهنم ته داخل شي متفقٌ عَلَيهِ

"وَ((الْجَدُّ)): الْحَظُّ وَالْغِنَى" لفظ د (جد) معنى ده: مالداره او پيسه داره خلك، "وقد سبق بيان هذا الحديث في باب فضل الضعفة".

لغوي تحقيق:

المساكين: "مساكين" جمع د "مسکين" ده، ددې معنى ده: هغه کس چې هيڅ شی ورسره نه وي

تشريح: ددې حديث وضاحت وړاندې تېر شوی دی، په يو بل روايت کې دي چې: رسول الله ﷺ وفرمايل: ماته جنت وښودل شو، ددې په اعلی درجو کې فقيران مهاجرين وو، مالداره خلك او ښځې به ډېرې کمې درجې کې وو، ماته وويل شو چې مالداره خلك خو تر اوسه د خپلو مالونو په حساب کې بند پاتې دي او ښځې د سرو زرو او سپينو زرو سره په مينه کې بند پاتې دي او ځينو علماوو ليکلي دي چې فقيران به ځکه په کثرت سره جنت ته ځي چې هغوی به ايمان راوړی وي، نېك عملونه به يې د مالدارو خلکو څخه زياته کړي وي چې ددې برعکس به مالدارو خلکو د مال او دولت په نشه کې د ايمان او نيکو اعمالو خيال نه ساتلو

نبي کريم ﷺ د لبيد شاعر شعر خوښ کړو

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ، قَالَ: أَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا شَاعِرٌ كَلِمَةُ لَبِيدٍ" د ابو هريره ﷺ نه روايت د هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: رښتوني کلمه هغه ده چې لبيد شاعر ويلې ده "أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهُ بَاطِلٌ" هغه دا چې: خبردار! هر شی د الله ﷻ نه سېوا باطل دی. متفقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

خلا: "خلا خلواً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده خالي لوښی.

تشريح "ألا كل شئ ما خلا الله باطل" نبي کريم ﷺ د لبيد ددې شعر توصيف وکړو، مطلب يې دا دی چې واوره: د الله ﷻ نه سېوا هر شی فاني او باطل دی.

مکمل شعر

ألا كل شئ ما خلا الله باطل ...... وكل نعيم لا محالة زائل

ژباړه واوره! د الله ﷻ نه سېوا هر شی فاني او ختمېدونکی دی او دلته هم هر قسم نعمت ختمېدونکی او زائله کېدونکی دی

علماء فرمايي چې: د لبيد په دې شعر کې د: "كل من عليها فان" مضمون پروت دی، په دې کې د آخرت د ورځې دوام او د دنيا ختمېدو ته اشاره ده، يعنې آخرت ته متوجه کېدل پکار دي

نبي کريم په خپله کله هم شعر نه دی ويلی:

علماء کرام ﷭ فرمايي: نبي کريم ﷺ خپله هيڅکله شاعري نه ده کړې، نه يې شعرونه ويلي دي، ليکن په خينو خايونو کې به يې د خينو شاعرانو شعرونه خوښول، په کوم کې چې به د حکمت خبرې وې، ددې نه معلومه شوه چې مطلقاً شعر ويل نه ښه کار دی او نه بد کار دی، که مفهوم يې ښه وي، نو ښه به وي او که بد وي، نو بد به ګڼل کېږي

د ښه شعر شرطونه:

علماء کرامو ﷭ د ښه شعر څلور شرطونه بيان کړي دي.

لومړی دا چې د هغه مفهوم او مضمون صحيح وي

دويم دا چې اورونکي به يې نر وي، ښځه يا ماشوم به نه وي

دريم دا چې د سماع آله يې بايد صحيح وي، باجې او ډولونه وغيره نه وي

څلورم دا چې آوريدونکې به صحيح وي

باب فضل الجوع وخشونة العيش والإقتصار على القليل من المأكول والمشروب والملبوس وغيرها من حظوظ النفس وترك الشهوات

د لوږې او تندې او تنګى او قناعت فضيلت او د نفسانې خواهشاتو بدي او مذمت

"قَالَ اللّٰـــهُ تَعَالَىٰ" الله تعالى فرمايي: "فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ" د هغوى نه وروسته داسې ناکاره خلك پيدا شول چې هغوى لمونځ برباد کړو او د نفسانې خواهشاتو ملو پسې ولګېدل، "فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا" دوى به ډېر زر ددې سزا وګالي، "إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا" مګر هغه څوك به چې توبه وباسي او ايمان راوړي او نيك عملونه کوي، "فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا" بس هم دغه کسان چې جنت ته به داخل شي او د دوى سره به هيڅ ظلم نه کيږي [مريم: ۵۹-۶۰]

تشريح: "فخلف من بعدهم خلف" خلف په سکون د لام سره ددې معنى ده: بد سړى چې قائم مقام او نائب جوړ شي، په زبر د لام سره بيا يې معنى ښه کيږي، يعنې ښه انسان چې خليفه او نائب جوړ شي.

«اضاعوا الصلوة» لمونځ به يې ضايع کولو، د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه، ابراهيم نخعي رحمه الله، مجاهد رحمه الله، قاسم رحمه الله، عمر بن عبدالعزيز رحمه الله وغيره په نزد ددې نه مراد هغه لمونځ دى چې بې وخته ادا کړى شي، لمونځ په خپل وخت کې ونه شي او د څينو په نزد ددې نه هغه لمونځ مراد دى چې د لمانځه د شرطونو او آدابو خيال پکې ونه ساتل شي، د څينو نورو په نزد ددې نه بيوازې لمونځ مراد دى

«واتبعوا الشهوات»: د شهوات نه مراد دنيوي خوندونه او لذتونه مراد دي چې انسان د لمانځه او اوداسه نه غافل کړي، علامه قرطبي رحمه الله د علي رضي الله عنه قول نقل کړى دى چې ددې نه هر هغه شى مراد دى، لکه: بنګلې، کوټې، سورلۍ، په کومو چې د خلکو نظرونه لګيږي او داسې جامې چې په عامو خلکو کې امتيازي حيثيت ولري، دا ټول په «واتبعوا الشهوات» کې داخل دي

"فسوف يلقون غياً" غياً ددې نه هره بدي او شر مراد دى، د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په قول ددې نه د جهنم يوه کنده مراد ده، دا يوه داسې کنده ده چې په ټول جهنم کې به داسې عذاب نه وي، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: (غيا) په جهنم کې يو غار دى، د کوم نه چې جهنم هم په الله جل جلاله سره پناه غواړي، په دې کې به زنا کار خلك، شراب خور، سود خور، د مور پلار نافرمانى کوونکى او د دروغو شاهدي ورکوونکى او هغه ښځه چې د پردي ماشوم نسبت خپل خاوند ته وکړي، (يعنې د پردي بچي نسبت خپل خاوند ته وکړي چې ددې خاوند نه مې شوى دى او حال دا چې هغې د بل چا سره زنا کړې وي، د هغه څخه يې اولاد په خېټه شوى وي) دا ټول خلك به په دې کنده کې اچولى شي، "إلامن تاب" ليکن هغه خلك به ددې نه مستثنى وي چې د کفر او معصيت نه توبه وباسي، ايمان راوړي او نيك اعمال شروع کړي، نو داسې خلك به ددې جهنم د عذاب نه خلاص وي.

يوه ورځ قارون په ډول او سنګار کې راووتلو:

"وقال تعالى" الله تعالى فرمايي: "فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِ فِي زِينَتِهِ" قارون خپل قوم ته ډېر زيات په زيب او زينت کې راووتلو، "قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا يَا لَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَا أُوتِيَ قَارُونُ" هغو کسانو وويل چې د دنيا ژوند يې د ځان لپاره مقصد ګرځولی وي، ارمان دی چې زموږ سره هم دومره دولت وای څومره چې د قارون سره دی، "إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ" يقيناً چې قارون د لويې برخې والا وو، "وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللَّهِ خَيْرٌ" هغو کسانو وويل چې علم ورکړی شوی وو، هلاک شئ د الله ﷻ له طرفه ثواب او بدله ډېره ښه ده. "لِّمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا" د هغه چا لپاره چې ايمان يې راوړی دی او نېک عمل کوي [القصص:۷۹-۸۰]

تشريح: "فخرج على قومه": يوه ورځ قارون ښه په ډول او سنګار کې د خپل کوره راووتلو، ابن زيد رحمه الله فرمايي: يوه ورځ د پوره اويا زره کسانو سره چې زعفراني جامې يې اغوستې وې راووتلو، علامه مجاهد رحمه الله فرمايي: قارون ډېر زيات په ډول او سنګار کې راووتلو، د خپل شان او شوکت زياتولو په خاطر يې په خپلې کورنۍ، خادمانو وغيره ټولو باندې زعفراني جامې اغوستلې وې او په سپينو کچرو باندې ناست وو، ددې ټولو سره يو ځای راووتلو.

"قال الذين يريدون الحيوة الدنيا": مفسرين فرمايي: بني اسرائيل مسلمانان وو، اګر چې د دنيا طلبګار وو، خو کله چې هغوی د قارون مال او دولت وليدو، نو حسد يې ونه کړو چې موږ ټولو ته دې ملاو شي او د قارون نه دې ختم شي، بلکې داسې يې وويل: د قارون په څېر موږ ته دې هم خدای پاک راکړي.

"فقال الذين أوتوا العلم ويلكم": او کومو خلکو ته چې علم ورکړی شوی دی، هغوی وويل: های! افسوس دی په تاسو، د "اوتوا العلم" نه مراد هغه مؤمنان دي چې د الله ﷻ په وعدو يقين او باور ساتي، هغه وعدې چې الله ﷻ د مسلمانانو سره کړې دي، د "أوتوا العلم" مقابله د "الذين يريدون الحيوة الدنيا" سره شوې ده، په دې کې واضحه اشاره ده چې دنيا جمع کول د اهل علمو کار نه دی، اهل علم هغه خلک دي چې د همېش لپاره يې په آخرت نظر وي او صرف د ضرورت لپاره دنيا حاصلوي او په دې باندې قناعت کوي.

د قيامت په ورځ به د الله ﷻ د نعمتونو په باره کې پوښتنه کيږي:

"وقال تعالى" الله تعالى فرمايي: "ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ" بيا به په دې ورځ ستاسو نه زما د نعمتونو په باره کې پوښتنې کولی شي، [التكاثر:۸] "وقال تعالى" الله تعالى فرمايي "مَّن كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَن نُّرِيدُ" کوم کس چې د دنيا د ګټې ارمان کوي، نو د دوی نه چې موږ چاته وغواړو او څومره چې وغواړو په دنيا کې يې ورکوو، "ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَّدْحُورًا" خو په آخرت کې به يې دوزخ ته داخل کړو، په هغې کې به بد حاله او رټل شوي داخل کړی شي [الإسراء:۱۸] "والآيات في الباب كثيرة معلومة."

تشريح: د قيامت په ورځ به الله ﷻ د خپلو نعمتونو په باره کې پوښتنه کوي، ايا د غه نعمتونه خو دي په ګناهونو باندې خرج کړي نه دي. لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې ارشاد دی إِنَّ السمع والبصر والفؤاد كل اولئك كان عنه مسؤلا" بې شکه د غوږونو، سترګو او د زړه په باره کې به د رنه پوښتنه کيږي، د سترګو نعمت، د زړه نعمت او د غوږونو نعمت ذکر کولو کې په زړګونو نه، بلکې په لکونو نعمتونو ذکر راغلو، د بخاري شريف په يو روايت کې دي چې د قيامت په ورځ به يو انسان تر هغه پورې د خپل ځای څخه ونه خوځيږي چې پنځه پوښتنې ترې شوي نه وي.

لومړی دا چې عمر مې درکړی وو، په څه کې دې خرج کړو؟

دويم ځواني مې درکړې وه، په څه کې دې خرج کړه؟

دريم مال دې د کوم ځای څخه ګټلی دی؟

څلورم بيا دې په کوم ځای کې خرج کړو

پنځم کوم علم چې الله ﷻ درکړی دی، په دې باندې دې څومره عمل وکړو؟

علامه قرطبي رحمه الله ليکلي دي چې د قيامت په ورځ به د دنيا د هر نعمت باره کې پوښتنه کيږي، برابره خبره ده چې د هغه نعمت تعلق د خوراک سره وي، که د جامې سره وي يا د کور سره وي يا د ښځې سره وي يا د بچو سره وي يا د حکومت او عزت سره وي

څوک چې د دنيا طالب وي، هغه ته جهنم کافي دی:

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ ﷺ مِنْ خُبْزِ شَعِيرٍ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتَّى قُبِضَ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ کوروالا د نبي کريم ﷺ تر وفاته پورې دوه ورځې متواترې او پرلپسې کله هم په مړه خېټه د وربشو ډوډۍ نه ده خوړلې. متفق عليه

تشريح: په دې آيت کې د هغو خلکو ذکر دی چې صرف په دنيا پسې سترګې غړېږي، د هغوی د سزا بيان هم ورسره ذکر دی، "من كان يريد العاجلة" يريد فعل مضارع ده، په دې باندې لفظ د (كان) هم داخل دی چې په فعل مضارع کې د دوام او استمرار افاده کوي، مطلب دا چې د جهنم سزا به صرف په هغه صورت کې وي چې په هر عمل، هر صورت او هر وخت کې د دنيا غرضي وي او دنيا پسې په سترګو کې غړېږي، بل طرفته يې توجه نه وي، "صلاها مذموما مدحورا" کوم چې هميش دنيا غواړي، نو دنيا خو به ورته د ضرورت په اندازه ملاو شي ليکن که په دې دنيا کې مشغول شي، آخرت به يې هېر شي، د داسې کس لپاره په آخرت کې جهنم دی

د نبي کريم ﷺ کورنۍ درې ورځې پرلپسې په مړه خېټه خوراک نه دی کړی:

"وفي رواية: مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ ﷺ مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِينَةَ مِنْ طَعَامِ الْبُرِّ ثَلَاثَ لَيَالٍ تِبَاعاً حَتَّى قُبِضَ" په يو روايت کې داسې دي چې د نبي کريم ﷺ مدينې منورې ته د راتلو وروسته درې ورځې متواتر تر مرګه پورې د هغوی کورنۍ د غنمو ډوډۍ په مړه خېټه نه ده خوړلې

"وعن عروة عن عائشة رضي الله عنها، أنها كانت تقول: والله، يا ابن أختي، إن كنا ننظر إلى الهلال، ثم الهلال: ثلاثة أهلة في شهرين، وما أوقد في أبيات رسول الله ﷺ نار" د عروه ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې عائشې ﷺ وفرمايل اې خوريه قسم په الله ﷻ! مونږ به په مياشتو انتظار کولو، دوه مياشتې درې مياشتې به تيرې شوې، په دومره وخت کې به د رسول الله ﷺ د کور په نغري کې اور بل نه شو، "قلت: يا خالة، فما كان يعيشكم؟" نو عروة ﷺ ووييل اې تروري! بيا به ګزاره څنګه وه؟ "قالت: الأسودان التمر والماء" عايشې ﷺ ورته وفرمايل: دوه تورو شيانو باندې به مو ګوزاره کول، يعنې اوبه او خورما. "إلا أنه قد كان لرسول الله ﷺ جيران من الأنصار" ليکن دومره خبره ده چې د رسول الله ﷺ ګاونډي يو انصاري صحابي وو، "وكانت لهم منائح" د هغه لنګې اوښې وې، "وكانوا يرسلون إلى رسول الله ﷺ من ألبانها فيسقينا" هغوی به د دغو اوښانو شيدې رسول الله ﷺ ته رالېږلې نو مونږ به څښلې. متفق عليه

لغوي تحقيق:

شبع: "شبع شبعاً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: په مړه خېټه خوراک کول

تشريح: "يومين متابعين" پرلپسې دوه ورځې، د نبي کريم ﷺ خپله او کورنۍ عادت يې دا وو چې که يوه ورځ به يې ډوډی وخوړل، بله ورځ به يې بيا نه خوړل، ورې به پاتې شول، دغه ډول ژوند يې اختيار کړی وو، که د الله ﷻ له لورې د مکې د غرونو سرو زرو جوړولو وراندېز هم ورته شوی وای، ددې بر عکس رسول الله ﷺ فقيرې او غريبي خوښه کړه او ارشاد يې وفرمايلو چې: زه خو دا غواړم چې يوه ورځ په مړه خېټه خوراک وکړم، نو د الله ﷻ شکر به ادا کړم او چې بله ورځ وږې پاتې شم د الله ﷻ څخه به يې وغواړم، "حتى قبض" تردې چې د نړۍ څخه فناء شو، ځينې خلک وايي چې رسول الله ﷺ د ژوند په آخري وختونو کې مالداره وو، ليکن دغه حديث ددې ترديد کوي چې د فقيرۍ او غريبۍ په حالت کې د نړۍ څخه فناء شو، د نبي کريم ﷺ دغه ډول ژوند تېرولو کې د غريبانانو او مسکينانو د زړونو سکون او اطمينان پروت دی

دوه دوه مياشتې به په کور کې اور نه بلېدو

"وعن أبي سعيد المقبري، عن أبي هريرة ﷺ: أنه مر بقوم بين أيديهم شاة مصلية" د ابو سعيد مقبري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ابو هريره ﷺ يو ځل په يو قوم باندې تېر شو چې ګډه يې وريته پوخ کړې وو، "فدعوه فأبى أن يأكل" هغوی ابو هريره ﷺ ته دعوت ورکړو چې ډوډی وخوره! "وقال: خرج رسول الله ﷺ من الدنيا ولم يشبع من خبز الشعير" ابو هريره ﷺ ورته وفرمايل: رسول الله ﷺ د نړۍ څخه رحلت وکړو، ليکن يوه ورځ يې هم چېرته په مړه خېټه د وربشو ډوډی ونه خوړل. رواه البخاري

"مَصْلِيَّةٌ: بفتح الميم، أي مَشْوِيَّةٌ" د (مصلية) معنی ده: وريت شوی

لغوي تحقيق:

منائح: "منحه" باب ضرب يضرب او فتح يفتح دواړو څخه راځي، ددې معنی ده: چاته د شيدو لوشلو لپاره غوا، مېښه يا اوښه ورکول

تشريح: "إن كنا لننظر الى الهلال ثم الهلال" بې شکه چې موږ به يوه مياشت وليده، بيا به مو وروستۍ به هم وليده، دا خبره عائشې رضي الله عنها د شکايت په توګه نه کوي، بلکې د عزت او نصيحت په توګه يې کوي چې بايد نور خلک هم د دنيا ژوند په ډېر سادګۍ سره تېر کړي، امام غزالي رحمه الله فرمايي: په يو حديث کې راځي: کوم کس چې په دنيا کې د خوراک ښښاک سامان کې کمی کوي، الله جل جلاله په داسې کس باندې د پرښتو په وړاندې فخر کوي، ارشاد فرمايي چې وګورئ! دا کس ما د خوراک ښښاک په کمۍ کې مبتلا کړو، ليکن هغه صبر وکړو، تاسو ګواه اوسئ چې کومه لقمه ده کمه کړې ده، ددې په بدله کې به ورته به جنت کې درجې ورکړم، په بل حديث کې دي چې: اکثره حالاتو کې به رسول الله ﷺ وږی ؤ، اګر چې څينې وخت به خوراک هم زيات وو، وجه يې دا ده چې په لوږه کې انوارات زيات وي، ابو سليمان رحمه الله فرمايي: لوږه د الله جل جلاله يوه خزانه ده چې خپلو خاصو بندګانو ته يې ورکوي

دوه تور شيان:

الاسودان: دوه تور شيان يعنې خورما او اوبه

سوال: د اوبو رنګ خو تور نه وي، اوبو ته يې ولې تور وويل؟ **ځواب:** تغليباً يې ورته تور وويل، څکه چې خورما توره وي، په دې اعتبار سره يې اوبو ته هم تور وويل

د راوي عروه بن زبير رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عروه رضي الله عنه دی، ابو عبد الله يې کنيت دی، د پلار نوم يې زبير رضي الله عنه دی، د مور نوم يې اسماء رضي الله عنها دی چې د ابو بکر رضي الله عنه لور او د عايشې رضي الله عنها خور ده

ولادت: د عمر رضي الله عنه د خلافت په آخري مرحلو کې يا د عثمان رضي الله عنه په ابتدائي دور خلافت کې پيدا شو، د خپل ورور عبد الله بن زبير بن عوام رضي الله عنه د شهادت وروسته دده په وينا عبد الملك د عبد الله بن زبير رضي الله عنه د دفن حکم جاري کړو، هغه د علم او عمل مجمع البحرين وو، پلار يې زبير بن العوام رضي الله عنه د رسول الله ﷺ حواري وو، نيکه يې ابوبکر رضي الله عنه دی، ترور يې عائشه رضي الله عنها ده، مور يې اسماء رضي الله عنها ذات النطاقين وه، ورور يې عبد الله رضي الله عنه د علم څښتن و، ځانګړې صفتونه يې دا دي: صبر، استقامت، عبادت، رياضت، صبر، شکر، د دنيا څخه بې رغبتي او سخاوت هغه صفتونه وي چې هغه ورباندې ښايسته ؤ، د حديثو سره يې خاصه مينه درلوده، عايشه رضي الله عنها چې اعلم الناس وه د هغې د حديثو ټوله ذخيره يې په خپله سينه کې محفوظ ساتلې وه، هغه به خپله فرمايل: ما د خپلې ترور د وفات نه پنځه کاله وړاندې د هغوی د احاديثو ذخيره حفظ کړې وه، که اوس هغه وفات شي، نو ماته به هيڅ افسوس نه وي، څکه چې د هغوی د علم الحديث ټوله ذخيره زما سره محفوظه ده.

ابوهريره رضي الله عنه د وريته شوې غوښې خوړلو څخه انکار وکړو

"وعن أبي سعيد المقبري عن أبي هريرة رضي الله عنه أنه مر بقوم بين أيديهم شاة مصلية فدعوه فأبى أن يأكل وقال" د ابو سعيد مقبري رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ ابو هريره رضي الله عنه په يو قوم باندې تېر شو چې مخې ته ې د چېلۍ/ وزې وريته شوې غوښه پرته وه، هغوی ورته وويل: راشه خوراک وکړه، ابو هريره رضي الله عنه ورته وفرمايل: "خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم من الدنيا ولم يشبع من خبز الشعير" رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسې حال کې ددې نړۍ څخه تلاشو چې د وربشو ډوډۍ يې هم په مړه خېټه نه وه خوړلې

لغوي تحقيق:

مصلية: وريته شوې غوښه

تشريح "فأبى أن يأكل": ابو هريره رضي الله عنه د هغې وريتې شوې غوښې خوراک نه انکار وکړو. دا د صحابه کرامو مينه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ښيي، اګر چې شرعاً ددې خوراک جائز وو. خو کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د لوږې په حالت کې وخت تېر کړو، نو صحابي رضي الله عنه هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اتباع خيال وساتلو او منع يې ترې وفرمايل

"ولم يشبع من خبز الشعير" نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مړه خېټه د وربشو ډوډۍ هم نه ده خوړلې، په يو بل روايت کې دي چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې څو څو شپې پرلپسې داسې هم تېرې شوې دي چې د هغه او کورنۍ سره يې د ماښام او سهار لپاره د خوراک هيڅ شی نه وو، تو له شپه به يې په لوږه تېره کړه، د وربشو په ډوډۍ به د رسول الله صلى الله عليه وسلم ګوزاره روانه وه، يوه ورځ محمد بن واسع رحمه الله نه مالک بن دينار رحمه الله وفرمايل: ډېر مبارک دی هغه کس چې معمولي خوراک ورسره وي، هغه وربانديې ژوندی وي او د خلکو څخه سوال نه کوي، محمد بن واسع رحمه الله فرمايي: مبارک دی هغه کس چې سهار او ماښام په لوږه تيروي، خو بيا هم د الله جل جلاله څخه راضي وي

د راوي ابوسعيد مقبري رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې سعيد دی، د پلار نوم يې کيسان دی، کنيت يې ابو سعيد دی، ثقه راوي دی او په کبارو تابعينو کې شمار دی، د وفات نه څلور کاله وړاندې يې په عقل کې څه تغير راغلی ؤ، عموماً د ابو هريره رضي الله عنه او عائشې رضي الله عنها او ام سلمه رضي الله عنها نه روايات نقل کوي

نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مېز باندې خوراک نه دی کړی

"وعن أنس رضي الله عنه قال: لَمْ يَأْكُلِ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَلَى خِوَانٍ حَتَّى مَاتَ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کله هم په دسترخوان باندې خوراک نه وو کړی، تردې پورې چې ددې فاني نړۍ څخه رخصت شو، "وَمَا أَكَلَ خُبْزاً مُرَقَّقاً حَتَّى مَاتَ" او نه يې تر مرګه چېرته د ډوډۍ چپاتې خوړلې وو رواه البخاري

"وفي رواية له: وَلاَ رَأَى شَاةً سَمِيطاً بِعَيْنِهِ قَطُّ" په يو روايت کې داسې هم دي چې نه يې چېرته په خپلو سترګو مبارکو باندې وريته کړې وزه يا ګډه ليدلې وه

لغوي تحقيق:

سميطا: "السميط" صفا شوې وېښتان، د چيلۍ د بچي نه وېښتان سپينول او وريتول

تشريح: "خوان": لفظ اګر چې دسترخوان ته استعمالېږي، ليکن دلته ترې مېز يا چوکۍ مراد ده، په مېز يا چوکۍ باندې خوراك کول اکثره د متکبرينو، عيش پسنده او مالدارو خلکو کار وي

نبي کريم ﷺ کله هم چپاتۍ نه دي خوړلي:

"**وما أكل خبزاً مرققاً حتى مات**" نبي کريم ﷺ کله هم نرم پاسته باريکو اوړو والا تيار چپاتۍ نه دي خوړلي، همدغه خبره په ځينو نورو رواياتو کې هم شته، ليکن د شيخ عبد الحق رحمه الله رايه دا ده چې په خصوصي توګه رسول الله ﷺ ته کله هم چپاتۍ نه دي تيار شوي، که چېرته کوم کس د خپل ځان لپاره پاخه کړي وو، بيا به يې هغه چپاتي د رسول الله ﷺ په خدمت حاضر کړل، نو د هغې نه به رسول الله ﷺ خوراك وکړو، د خوراك نه به يې انکار نه کولو، ليکن دغه قول ځينو نورو محدثينو د انس رضي الله عنه د روايت څخه منافي ګڼلې دی چې رسول الله ﷺ چپاتۍ نه دي خوړلي، تر هغې چې وفات شو.

"**سميط بعينه قط**" چيلۍ يا د چېلي هغه بچي ته ويل کيږي چې د هغې نه وېښتان صفا کړل شي او بيا هغه د ځرمن سره په ګرمو اوبو کې جوش کړی شي، دا په هغه زمانه کې د مالدارو چينايانو خانګړی او خوږ خوراک وو.

په حديث کې لفظ د (بعينه) د تاکيد لپاره دی:

بعينه: دا لفظ د تاکيد لپاره استعمالېږي، لکه څرنګه چې ويل کيږي (کتبته بيدي) ما په خپل لاس وليکلو، کله په لاس باندې ليکل وکړی شي، نو بيا لفظ د (بيدي) د تاکيد لپاره راځي، دغه شان (مشي برجله) هغه په خپلو پښو باندې لاړو، مزل خو کيږي په پښو باندې، نو دلته هم د (برجله) لفظ د تاکيد لپاره راوړل شوی دی.

رسول الله ﷺ ردي خورما هم په مړه خېټه نه ده خوړلي:

"**وعن النعمان بن بشير رضي الله عنهما، قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ ﷺ، وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلأُ بِهِ بَطْنَهُ**" د نعمان بن بشير رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې ما ستاسو پېغمبر ﷺ ليدلی دی چې دومره ردي او بې کاره خورما به هم ورسره نه وه چې خپله ګېډه مبارکه يې پرې مړه کړې وه. رواه مسلم

"**الدَّقَلُ: تَمْرٌ رَدِيءٌ**" (الدقل) ردي او بې کاره خورما ته وايي.

تشريح: لقد رأيت نبيكم ﷺ: په دې جمله کې دوه احتماله دي: يو دا چې دا خبره نعمان بن بشير رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د وفات وروسته صحابه کرامو رضي الله عنهم ته کړې وي، يا يې دا خبره د تابعينو په وړاندې کړې ده.

په حديث کې ستاسو (نبي ﷺ) ويلو وجه:

نيکم: مخاطبينو ته يې په دې لفظ سره خطاب وړکولو کې مقصود هغوی په غيرت کې راوستل دي چې تاسو د کوم نبي ﷺ امت ياست او د هغوی ﷺ نوم اخلئ، فخر پرې کوئ، د هغه نبي ﷺ حال خو وګورئ! د هغوی حالت دا وو چې ښکلې او ښايسته خورما هم ورته د خوراک لپاره نه ده ملاو شوې، يو ناسوبي چې په يو وخت کې مختلف خوراکونه کوئ:

"مايجد من الدقل مايملاء به بطنه" رسول الله ﷺ ته ردي او بې کاره خورما هم نه ده ملاو شوې چې په هغې يې خپله خېټه مبارکه ډکه کړې وای، دا حديث ددې خبرې واضح دليل دی چې دنيا او څه چې په دې کې دي د رسول الله ﷺ په وړاندې هيڅ اهميت لري، څه چې به رسول الله ﷺ ته لاس ته ورتلل هغه به يې په نورو صرف کول.

د حديث نه سبق:

بل په دې حديث کې د امت لپاره سبق او تعليم دی، رسول الله ﷺ په خپله عملي ژوندګی سره په خپل امت باندې دا خبره واضحه کړه چې د خوند او مزې ژوند نه اجتناب کول پکار دي، قناعت، توکل او ايثار پيدا کول پکار دي او د ژوند په لاره کې تکليف برداشت کول به څرنګه کيږي، ددې تعليم او تربيه يې ورښودل.

رسول الله ﷺ په خپل ژوند کې چاڼ شوې ووړې نه ده خوړلې

"وعن سهل بن سعد رضي الله عنه، قَالَ: مَارَأى رسول الله ﷺ النَّقِيَّ مِنْ حِينِ ابْتَعَثَهُ اللهُ تَعَالَى حَتَّى قَبَضَهُ اللهُ تَعَالَى" د سهل بن سعد رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ د بعثت نه واخله تر وفات پورې چېرته هم چاڼ شوې داوړو ووړې نه وه ليدلې، "فَقِيلَ لَهُ: هَلْ كَانَ لَكُمْ فِي عَهْدِ رسول الله ﷺ مَنَاخِلُ؟ قَالَ: مَارَأى رسول الله ﷺ مُنْخُلاً مِنْ حِينَ ابْتَعَثَهُ اللهُ تَعَالَى حَتَّى قَبَضَهُ اللهُ تَعَالَى" چا ورته وويل: ايا د رسول الله ﷺ په ژوند کې به ستاسو سره لنګې اوښې وې؟ عائشې رضي الله عنها وفرمايل: د کوم وخت نه چې ورته پيغمبري ملاو شوه، د دغه وخت څخه تر وفاته پورې يې چېرته لنګه اوښه نه وه ليدلې، (يعني د نبي ﷺ په کور کې به لنګه اوښه نه وه)، "فَقِيلَ لَهُ: كَيْفَ كُنْتُمْ تَأْكُلُونَ الشَّعِيرَ غَيْرَ مَنْخُولٍ؟" بيا چا ورته وويل: تاسو به څنګه وربشې بغير چاڼ خوړلې؟ "قَالَ: كُنَّا نَطْحَنُهُ وَنَنْفُخُهُ، فَيَطِيرُ مَا طَارَ، وَمَا بَقِيَ ثَرَّيْنَاهُ" هغې وويل: موږ به وربشې ميده کړې او بيا به موږ پوکې ورکولو او بوره به مو تږې والوځول، ددې نه پس به موږ تږې اوړه راوويستل او بيا به مو پخول. رواه البخاري

"قوله: ((النَّقِيَّ)) هُوَ بفتح النون وكسر القاف وتشديد الياء: وَهُوَ الْخُبْزُ الْحُوَّارَى، وَهُوَ: الدَّرْمَكُ" دا قول چې (النقي) په فتح د نون او په کسرې د قاف سره او په تشديد د (ي) سره دی، ددې معنی ده: بغير بورې صفا اوړه.

"قوله: ((ثَرَّيْنَاهُ)) هُوَ بثاء مثلثة، ثُمَّ راء مشددة، ثُمَّ يَاء مُثَنَّاة من تحت ثُمَّ نون، أيْ: بَلَلْنَاهُ وَعَجَنَّاهُ" دا قول چې (ثريناه)، ددې معنی ده: موږ به اوړه د چاڼ کولو وروسته خيشته کول.

لغوي تحقيق: ثرېناه: ثري ددې معنی ده چاپ کول

دابن حجر رحمة الله عليه تحقيق:

"حين ابتعثه اللّــه" د كوم وخت څخه چې الله ﷻ پېغمبر رالېږلی دی، علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي: زما غالب گومان دا دی چې د سهل بن سعد رضي الله عنه دا جمله چې "ابتعثه الله" ددې نه د نبوت نه وړاندې زمانه مستثنی ده، دا ځکه چې د نبوت نه وړاندې يې دوه ځله رسول الله ﷺ ته د شام تجارتي سفر کړی دی، په يو سفر کې يې بحيرا راهب ډېره ښه مېلمستيا کړې وه، رسول الله ﷺ هلته ډوډی هم خوړلې وه، د شام خلك مالداره وو، نو ظاهره ده چې رسول الله ﷺ هلته چاڼ شوې ډوډی خوړلې وه، خو د نبوت نه وروسته زمانه چې ټوله د فقيرۍ او غريبۍ زمانه وه، هغه خو هسې هم په رواياتو کې نقل شوه

ددې حديث نه سبق:

علماء فرمايي: په دې حديث کې هم د ساده ژوند ته ترغيب دی، لکه څرنگه چې به رسول الله ﷺ د ډوډۍ او خوراکي شيانو ډېر اهتمام نه فرمايلو. څه چې به ورته په لاس ورغلل. هغه به يې خوړل او دا ځکه چې د رسول الله ﷺ سره صرف يو غم وو او هغه د آخرت غم ؤ. نو په دې کې موږ ته هم يو نوع سبق دی چې د آخرت غم بايد وخورو، نه دا چې د دنيا په خرمستيو کې ډوب شو او آخرت رانه هېر شي

نبي كريم ﷺ د شيخينو سره د يوانصاري كور ته تشريف يوړو

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: خرجَ رسولُ الله ﷺ ذاتَ يَومٍ أَوْ لَيْلَةٍ، فَإذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رضی الله عنهما فقَالَ: مَا أَخرَجَكُمَا مِنْ بُيُوتِكُمَا هذِهِ السَّاعَةَ؟" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې يوه ورځ يا د شپې رسول الله ﷺ بهر ته تشريف راوړو، ناڅاپه ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ته نبي کريم ﷺ وفرمايل: په داسې وخت کې تاسو د کورنو نه کوم شي په ويستلو مجبور کړئ؟ "قَالا: الجُوعُ يَا رسولَ الله!" دوی دواړو ورته ووېل: يا رسول الله ﷺ! د لوږې له وجې وتلو ته مجبور شو، "قَالَ: وَأنَا، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لأخْرَجَنِي الَّذِي أخْرَجَكُمَا" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: زه هم په هغه وجه د کور نه راوتلی يم په کومه وجه چې تاسو د کورونو نه راوتلي يئ، "قُومُوا! فقَامُوا مَعَهُ، فَأَتَى رَجُلاً مِنَ الأنْصَارِ، فَإِذَا هُوَ لَيْسَ فِي بَيْتِهِ، فَلَمَّا رَأتْهُ المَرْأَةُ، قَالَتْ: مَرْحَباً وَأهْلاً" نبي کريم ﷺ وفرمايل پورته شئ! هغوی دواړه ورسره پاڅېدل او د يو انصاري صحابي کور ته يې تشريف راوړو، ليکن هغه انصاري صحابي رضي الله عنه په کور کې نه وو، کله چې د هغه صحابي مېرمن دوی وليدل. نو وې ويل ښخير راغلئ او هر کله راشئ! "فَقَالَ لَهَا رسولُ الله ﷺ: أيْنَ فُلانٌ؟" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: فلانکی چېرته دی؟ "قَالَتْ: ذَهَبَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا المَاءَ" هغې مېرمنې ورته وفرمايل: هغه خو موږ ته د خوږو اوبو راوړلو لپاره له کوره وتلی دی، "إِذْ جَاءَ الأنْصَارِيُّ، فَنَظَرَ إِلَى رسولِ الله ﷺ وَصَاحِبَيهِ، ثُمَّ قَالَ: الحَمْدُ للهِ، مَا أحَدٌ اليَومَ أكْرَمَ أضيَافاً مِنِّي" ناڅاپه انصاري صحابي راغلو، وې کتل چې رسول الله ﷺ او د هغه ملگري دي، نو وې ويل: ټول تعريفونه الله ﷻ لره دي، نن چې کومو مېلمنو زما کور ته تشريف راوړی دی، ددې نه ښه مېلمانه چېرته د بل چا نشته، "فَانْطَلَقَ فَجَاءهُمْ بِعِذْقٍ فِيهِ بُسْرٌ وَتَمْرٌ وَرُطَبٌ" هغه لاړو او د خورما يوه غونچه يې راوړه، په دې کې پخې،

بېړوخته او غوره خورما وې، "فَقَالَ: كُلُوا، وَأَخَذَ الْمُدْيَةَ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ: (إِيَّاكَ وَالْحَلُوبَ) فَذَبَحَ لَهُمْ، فَأَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ وَمِنْ ذَلِكَ الْعِذْقِ وَشَرِبُوا" هغه صحابي ووېل خورئ او بيا يې چاړه راواخيسته، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ګوره لنګې خاروی حلال نه کړې کوم چې تاسو ته شيدې درکوي، هغه صحابي ورته يوه چېلۍ حلاله کړه، بيا نبي كريم ﷺ او د هغه ملګرو هغه چېلۍ او د خورما غونچه وخوړل او اوبه يې وڅښلې، "فَلَمَّا أَنْ شَبِعُوا وَرَوُوا قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رضي الله عنهما: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هَذَا النَّعِيمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" کله چې ښه ماړه شول او تنده يې ماته شوه، نو بيا رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته متوجه شو او وې فرمايل زما دې قسم وي په هغه ذات چې زما ساه د هغه په لاس کې ده چې د قيامت په ورځ به د دغو نعمتونو په باره کې ستاسو څخه پوښتنه کيږي، "أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمُ الْجُوعُ، ثُمَّ لَمْ تَرْجِعُوا حَتَّى أَصَابَكُمْ هَذَا النَّعِيمُ" د دغې لوږې او تندې له امله خو د خپلو کورونو نه راوتلي يئ او تاسو لا خپلو کورونو ته نه يئ تللي چې دا نعمتونه تاسو ته ورسېدل. رواه مسلم

"قَوْلُهُ: ((يَسْتَعْذِبُ)) أَيْ: يَطْلُبُ الْمَاءَ الْعَذْبَ، وَهُوَ الطَّيِّبُ" دا قول چې (يستعذب الماء) يعني خوږې او تازه اوبه طلب کول، "وَ((الْعِذْقُ)) بِكَسْرِ الْعَيْنِ وَإِسْكَانِ الذَّالِ الْمُعْجَمَةِ: وَهُوَ الْكِبَاسَةُ، وَهِيَ الْغُصْنُ" دا قول چې (العذق) ددې معنى ده: د خورما غونچه، "وَ((الْمُدْيَةُ)) بِضَمِّ الْمِيمِ وَكَسْرِهَا: هِيَ السِّكِّينُ" دا قول چې (المدية) معنى ده چاړه، "وَالْحَلُوبُ: ذَاتُ اللَّبَنِ" (الحلوب) معنى يې ده شيدې ورکوونکې خاروی

"وَالسُّؤَالُ عَنْ هَذَا النَّعِيمِ سُؤَالُ تَعْدِيدِ النِّعَمِ لَا سُؤَالُ تَوْبِيخٍ وَتَعْذِيبٍ، وَاللهُ أَعْلَمُ" امام نووي رحمه الله فرمايي: د نعمتونو په باره کې د سوال کولو مطلب دا دی چې نعمتونه به په شمار کې راوستلي شي، د سزا او د زورونې په توګه به نه وي

"وَهَذَا الْأَنْصَارِيُّ الَّذِي أَتَوْهُ هُوَ: أَبُو الْهَيْثَمِ بْنُ التَّيِّهَانِ، كَذَا جَاءَ مُبَيَّنًا فِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ وَغَيْرِهِ" د هغه انصاري صحابي نوم ابو الهيثم بن التيهان وو، دغه شان د امام ترمذي رحمه الله وغيره په روايت کې هم ذکر دي

لغوي تحقيق: رووا: "روي رياً" ددې معنى ده په مړه خېټه اوبه څښل

تشريح "فقال ما أخرجكما من بيوتكما هذه الساعة" نبي كريم ﷺ پوښتنه وکړه چې په دې وخت کې څه شي تاسو وتلو ته مجبور کړئ؟ ملا علي قاري رحمه الله د علامه نووي رحمه الله نه نقل کوي چې کله لوږه ډېره زياته شي چې حالات وسره خرابيږي، نو په داسې صورت کې د کوره وتل او مباح اسباب اختيارول چې لوږه پرې ختمه شي، نه صرف دا چې جائز دي، بلکې ضروري دي

"فأتى رجلا من الأنصار" بيا هغوی د يو انصاري صحابي کور ته راغلل، د هغه نوم ابو الهيثم رضي الله عنه و، ددې نه علماوو استدلال کړی دی چې خپلو ملګرو ته تلل او مېلمستيا ترې خوړل جائز دي، د چا په باره کې چې دا خبره معلومه وي چې هغه به زما په ورتګ خوشحاله شي

"فإذا هو ليس في بيته فلما رأته المرأة قالت مرحبا وأهلا": خو هغه صحابي په کور کې نه وو، د هغه کور والا چې رسول الله ﷺ او د هغه ملګري وليدل، نو په خير راغلې يې ورته ووېل، علماوو ددې نه استدلال کړی

دی چې که يو کس په کور کې موجود نه وي، نو د هغه ښځه چې کور ته د راتلونکو مېلمنو ... وکوري، په کور کې د ناستې اجازه ورکولی شي، په دې شرط چې د مېلمه نه کومه خطره نه وي، بلکه ... چې د خاوند د رضا مندۍ يقين يې وي.

د مېلمه په راتلو د خوشحالۍ اظهار پکار دی:

"قال الحمدللـــه": کله چې هغه انصاري صحابي مېلمه وليدلو، نو وې فرمايل "الحمد لله" الله ﷻ شکر دی، ددې نه معلومه شوه چې د مېلمه راتلل په اصل کې د الله ﷻ له لورې يو نعمت دی د نعمت په ليدو سره د الله ﷻ شکر ادا کول پکار دي، علماء فرمايي چې کله هم مېلمه راشي، نو د هغه په وړاندې د خوشحالۍ اظهار پکار دی.

"فلما أن شبعوا": کله چې هغوی ماړه شول، علامه نووي رحمه الله فرمايي: په مړه ګېډه خوراک کول جائز دي او په کومو روايتونو کې چې په مړه ګېډه خوراک کولو باندې وعيدات راغلي دي، نو د هغې مطلب دا دی چې په مړه ګېډه خوراک کولو عادت جوړول پکار نه دي، ځکه چې په مړه ګېډه خوراک عادت جوړ شي، نو د غريبانانو او مسکينانو لوږه او تنده د سړي له دماغو ووځي، د انسان په خاطر کې هم بيا دا خبره نه راځي چې دنيا کې به هم څوک وږي او تږي وي يا نه.

دنيا په تيزۍ د ختمېدو خواته روانه ده

"وعن خالد بن عمير العدوي، قال: خطبنا عتبة بن غزوان، وكان أميراً على البصرة، فحمد الله وأثنى عليه، ثم قال: أما بعد" د خالد بن عمير عدوي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ موږ ته عتبه بن غزوان وعظ وکړو، هغه د بصرې امير ټاکل شوی وو، په الله ﷻ باندې يې د حمد، ثناء او أما بعد ويلو وروسته وفرمايل "فإن الدنيا قد آذنت بصرم، وولت حذاء" دنيا د تعلق پرې کولو اعلان کړی دی او مخ يې اړولی دی، په منډه ځي او روانه ده، "ولم يبق منها إلا صبابة كصبابة الإناء يتصابها صاحبها" او د هغې دومره حصه باقي پاتې ده څومره چې په لوښي کې لږ شان د اوبو څاڅکي پاتې شي، اوس يې دنيادار جمع کوي، "وإنكم منتقلون منها إلى دار لا زوال لها" نو تاسو داسې ځای ته تلونکي يئ چې هميش باقي پاتې کېدونکی دی، "فانتقلوا بخير ما بحضرتكم" بس تاسو ددې مکان بدلولو په وخت کې د ځان سره ښکې يوسئ! "فإنه قد ذكر لنا أن الحجر يلقى من شفير جهنم فيهوي فيها سبعين عاماً، لا يدرك لها قعراً" ځکه چې موږ اورېدلي دي که د جهنم له غاړې نه لاندې يو کاڼی وغورځول شي نو اويا/ ۷۰ کاله به روان وي او وبه نه رسيږي، "والله لتملأن أفعجبتم؟" په الله ﷻ قسم چې دا دومره ژوروالی به ډکولی شي، ايا دا خبره تاسو ته نا اشنا ښکاري؟ "ولقد ذكر لنا أن ما بين مصراعين من مصاريع الجنة مسيرة أربعين عاماً" او موږ ته دا خبره هم ښودل شوې ده چې د جنت د دواړو درشلو ترمينځ څلوېښتو کالو په اندازه فراخي ده، "وليأتين عليها يوم وهو كظيظ من الزحام" ليکن يوه ورځ به داسې وليدل شي چې د خلکو د ګڼوالي له امله به دا هم ډک کړی شي، "ولقد رأيتني سابع سبعة مع رسول الله ﷺ، ما لنا طعام إلا ورق الشجر" ما خو هغه وخت هم ليدلی دی چې په اوه/ ۷ کسانو کې د نبي کريم ﷺ سره زه هم وم چې زموږ

خوراك به د ونو پاڼي وې، "حَتَّى قَرِحَتْ أَشْدَاقُنَا" چې د هغې په وجه به زموږ اوخکي شليدلي وې، "فَالْتَقَطْتُ بُرْدَةً فَشَقَقْتُهَا بَيْنِي وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ، فَاتَّزَرْتُ بِنِصْفِهَا، وَاتَّزَرَ سَعْدٌ بِنِصْفِهَا" د کېږو دا حال به وو چې ما ته يو ځادر ملاو شو، نو ما به دوه ټکړې کړو، د يو ځخه به مې لنګ وتړلو او دويم به مې د لنګ لپاره سعد بن مالك رضي الله عنه ته ورکړو، "فَمَا أَصْبَحَ الْيَوْمَ مِنَّا أَحَدٌ إِلَّا أَصْبَحَ أَمِيراً عَلَى مِصْرٍ مِنَ الْأَمْصَارِ" ليکن نن په موږ کې هېڅوك داسې نشته چې چېرته د يوې علاقې حاکم يا مشر جوړ شوی نه وي، "وَإِنِّي أَعُوذُ بِاللهِ أَنْ أَكُونَ فِي نَفْسِي عَظِيماً وَعِنْدَ اللهِ صَغِيراً" او زه په الله جل جلاله سره پناه غواړم د داسې حالت نه چې زه خو په خپل نظر کې جوړ شوی (لوی) يم، مګر د الله جل جلاله په نزد ډېر ناکاره او سپك وم. رواه مسلم

"قَوْلُه: ((آذَنَتْ)) هُوَ بِمَدِّ الْأَلِفِ، أَيْ: أَعْلَمَتْ" د (آذنت) معنى ده: اعلان کول، "وَقَوْلُه: ((بِصُرْمٍ)) هُوَ بِضَمِّ الصَّادِ، أَيْ: بِانْقِطَاعِهَا وَفَنَائِهَا" يعنې انقطاع کېدل او پرېکېدل، "وَقَوْلُه: ((وَوَلَّتْ حَذَّاءَ)) هُوَ بِحَاءٍ مُهْمَلَةٍ مَفْتُوحَةٍ، ثُمَّ ذَالٍ مُعْجَمَةٍ مُشَدَّدَةٍ، ثُمَّ أَلِفٍ مَمْدُودَةٍ، أَيْ: سَرِيعَةً" په تېزۍ سره، "وَ((الصُّبَابَةُ)) بِضَمِّ الصَّادِ الْمُهْمَلَةِ وَهِيَ: الْبَقِيَّةُ الْيَسِيرَةُ" لږ څه شان پاتې شوې، "وَقَوْلُه: ((يَتَصَابُّهَا)) هُوَ بِتَشْدِيدِ الْبَاءِ قَبْلَ الْهَاءِ، أَيْ: يَجْمَعُهَا" جمع کول، "وَ((الْكَظِيظُ)): الْكَثِيرُ الْمُمْتَلِئُ" ډکېدل، "وَقَوْلُه: ((قَرِحَتْ)) هُوَ بِفَتْحِ الْقَافِ وَكَسْرِ الرَّاءِ، أَيْ: صَارَتْ فِيهَا قُرُوحٌ" زخمي کېدل

تشريح: "فَإِنَّ الدُّنْيَا قَدْ آذَنَتْ بِصُرْمٍ وَوَلَّتْ حَذَّاءَ": بې شکه چې دنيا د ختمېدو اعلان وکړو او د قيامت په طرف په تېــزۍ سره روانه ده، "أَصْبَحَ أَمِيراً عَلَى مِصْرٍ مِنَ الْأَمْصَارِ" په موږ کې نن هر کس يو نه يو ځای امير او حاکم دی، په دې جمله کې د صحابه وو د خوشحالۍ ذکر دی چې الله جل جلاله ورسره خپله وعده رښتونې کړه، هغوی ته يې اقتدار/ قدرت ورکړو.

د جنت د دروازو ترمينځ فاصله:

"مَا بَيْنَ مِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ مَسِيرَةُ أَرْبَعِينَ عَاماً": د جنت د دروازې دواړو چوکاټونو ترمينځ فاصله د څلوېښتو کالو په اندازه ده، ليکن دلته يو اعتراض دی، هغه دا چې: په يو بل روايت کې دي چې: د جنت د دواړو دروازو ترمينځ د چوکاټونو فاصله د يو تېز اس چې پوره درې ورځې منډه ووهي په اندازه ده، ددې دواړو روايتونو ترمينځ تعارض دی؟ نو ځواب دا دی چې په کوم روايت کې د څلوېښتو کالو مسافت ذکر دی دا روايت د مسلم دی او قولي روايت دی او په کوم روايت کې چې د اس د درې ورځو منډې ذکر دی، هغه په ترمذي کې دی او خپله صاحب د ترمذي فرمايي: دا روايت ضعيف دی، دويم ځواب دا دی چې ددې نه مقصود حصر نه دی، بلکې تکثير مراد دی، دا بيانول مقصد دی چې ددې دواړو چوکاټونو ترمينځ فاصله ډېره زياته ده، ددې توسيع ځخه په مختلفو رنګونو سره تعبير شوی دی

د راوي خالد بن عمير رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې خالد دی، د پلار نوم يې عمير (د عين په پېش) سره دی، د عدي قبيلې سره يې تعلق درلود، د بصرې اوسېدونکی وو، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: په کبارو تابعينو کې وو، د دوی نه مسلم، امام ترمذي په سنن او شمائل کې، نسائي او ابن ماجه هم په خپل سنن کې روايات نقل کړي دي

هغه جامې چې رسول الله ﷺ د آخرت د سفر لپاره تياري کړې

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ، قَالَ: أَخْرَجَتْ لَنَا عَائِشَةُ رضي الله عنها كِسَاءً وَإِزَاراً غَلِيظاً" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې عائشې ﷺ موږ ته يو څادر او سخت لنګ راوباسلو. "قَالَتْ: قُبِضَ رسولُ الله ﷺ في هَذَيْنِ" بيا يې وفرمايل: په دې دواړو کې رسول الله ﷺ وفات شوى دى متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

كساءٌ: کپړه، کمبله يا هر هغه شى چې ځان پرې پټولى شي

تشريح "كساءً وإزاراً غليظاً" پورتنى څادر او لاندې اغوستلو والا مضبوط څادر يې راوويستلو، ددې نه تاسو اندازه ولګوئ چې رسول الله ﷺ صرف په خوراك او څښاك کې سادګي نه اختيارول، بلکې د ژوند په هر حالت کې يې سادګي خوښول او دا يې خپله د ځان لپاره غوره کړې وه، دلته د رسول الله ﷺ د جامو ذکر دى چې څومره ساده وې، علامه قطب الدين ﷺ فرمايي رسول الله ﷺ د خپل ځان لپاره دعاء کړې وه: "اللهم احيني مسكيناً وأمتني مسكيناً" يا الله! ما ته د مسكينى ژوند راکړې او د مسکينى په حالت کې مې وفات کړې، ددې دعاء اثر وو چې کله رسول الله ﷺ ددې نړۍ نه رخصت شو، نو په بدن مبارك يې دوه انتهائي کمزوري جامې وې.

د الله ﷻ په لار کې تر ټولو اول غشى ويشتونکى

"وعن سعد بن أبي وقاص ﷺ، قَالَ: إِنِّي لأَوَّلُ العَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ الله" د سعد بن ابي وقاص ﷺ روايت، فرمايي چې زه اول عرب يم چې د الله ﷻ په لار کې مې په غشي ګوزار کړى دى. "وَلَقَدْ كُنَّا نَغْزُو مَعَ رسولِ الله ﷺ مَا لَنَا طَعَامٌ إِلاَّ وَرَقُ الحُبْلَةِ، وَهذَا السَّمُرُ" په تحقيق سره موږ به د رسول الله ﷺ په معيت کې جهاد وه کول، ليکن زموږ سره به ډوډى نه وه، صرف د کيکر او کرکنو پاڼې به وې، "حَتَّى إنْ كَانَ أَحَدُنَا لَيَضَعُ كَمَا تَضَعُ الشَّاةُ مَا لَهُ خَلْطٌ" ددې پاڼو په وجه به زموږ د ځينو ملګرو اودس داسې ماتېدو لکه د بزو پچې چې څنګه وي کوم چې په خپل مينځ کې يو ځاى هم نه وي متفقٌ عَلَيْهِ

((الْحُبْلَة)) بضم الحاء المهملة وإسكان الباء الموحدة: وَهِيَ وَالسَّمُرُ نَوْعَانِ مَعْرُوفَانِ مِنْ شَجَرِ البَادِيَةِ: لفظ د (الحبلة) او د (السمر) مشهوري ونې دي چې د کيکر او کرکنې بوټي ورته وايي.

لغوي تحقيق:

خلط: يو شى د بل سره يو ځاى کول.

سعد ﷺ تر ټولو اول غشى کله او په چا وويشتلو؟

"إني لأول العرب رمى بسهم في سبيل الله": زه تر ټولو اول عرب يم چې د الله ﷻ په لار کې غشى ولى، دا د هغه وخت خبره ده چې کله رسول الله ﷺ په اولنى هجري کال کې د عبد الله بن حارث ﷺ په قومنده د شپېته کسانو په اسونو سپرو لښکر د ابوسفيان بن حرب او د هغه د ملګرو د مقابلې لپاره روان کړو، په

دي کې اګر چې د جنګ نوبت نه وو راغلی، خو بیا هم سعد ﷛ د غښي ګزار د اسلام په دښمنانو وکړو، دغه ګزار د اسلام په دښمنانو باندې د مسلمانانو لومړی ګزار وو

"مالناطعام الاورق الحبلة" زمونږ سره د خوراك لپاره صرف د ځنګل د ونو پاڼي وې، مطلب دا چې د جهاد لپاره به څه نا څه د خوراك انتظام وشو، لیکن هغه به د جنګ تر اختتامه پورې کفایت نه کولو، په دې وجه به مونږ د ونو پاڼې خوړلې، دا خو ناممکنه وه چې مونږ به د خوراك له امله جنګ پرېښودلو او بېرته به واپس خپلو کورونو ته تللو، "الحبلة:وهی السمر" خینې علماء فرمایي دا د یوې ونې نوم دی، یعنې د کیکر ونه، خینې نور وایي چې سمر د کیکر ونې ته ویل کېږي خو حبلة یوه بله ځنګلي ونه ده

اې الله! د ضرورت په اندازه رزق راکړې!

"وعن أبي هريرة ﷛، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوتاً" د ابو هريره ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به دا دعا کول چې اې الله ﷻ د محمد ﷺ کورنۍ ته د ضرورت مطابق روزي ورکړې؛ متفقٌ عَلَيْهِ

"قَالَ أَهْلُ اللُّغَةِ وَالغَرِيبِ: معنى ((قُوتاً)) أَيْ: مَا يَسُدُّ الرَّمَقَ" د لغت عالمان وايي (قوت) هغه رزق ته ويل کېږي چې لوږه ورباندې ختمه شي

لغوي تحقيق:

رزق: خوراك، جمع يې ارزاق راځي

تشريح "اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوتاً": اې الله! د محمد ﷺ کورنۍ ته د ضرورت په اندازه رزق ورکړه، د بخاري په يو روايت کې: "اَللّٰهُـمَّ ارزق آل محمد قوتاً" الفاظ هم نقل دي

د آل نه مراد څوك دي؟

"آل محمد ﷺ": ملا علي قاري ﷬ فرمايي: د آل نه مراد اهل بيت يا د امت رښتوني خلك مراد دي، شيخ عبدالحق محدث دهلوي ﷬ فرمايي: د آل نه مراد د رسول الله ﷺ ټول متبعين دي، د قوت نه مراد په داسې اندازه رزق دی چې سرې ورسره ژوندی پاتې کېږي او خینې فرمايي چې دومره اندازه مراد ده چې انسان ته دا نوبت رانشي چې بل کس ته لاس ونيسي او خينې نور محدثين فرمايي چې مطلب دا دی: د معيشت کمو اسبابو اختيارولو او په دې باندې اکتفاء کولو ته اشاره ده، د ضرورت نه زياتې اسبابو پسې کېدل او محنت پورته کولو نه کناره کشۍ ته اشاره ده، خلاصه دا چې دنيا د ضرورت په اندازه ساتل ضروري دي، د ضرورت تعريف حکيم الامت اشرف علي تهانوي ﷬ داسې کړی دی چې: ضروري اسباب هغه دي چې د انسان سره نه وي، نو د دنيا او آخرت نقصان پکې وي

د شيدو يوه پياله ټولو ته کافي شوه

"وعن أبي هريرة ﷛، قَالَ: وَاللهِ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ، إِنْ كُنْتُ لَأَعْتَمِدُ بِكَبِدِي عَلَى الأَرْضِ مِنَ الجُوعِ" د ابو هريره ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي: قسم په هغه ذات چې د هغه نه سېوا بل څوك د عبادت لائق نشته. زما نه دا

حال وو چي کله کله به د لوږې له وجې په ځمکه پرمخې پرېوتلم. "وَإِنْ كُنْتُ لَأَشُدُّ الْحَجَرَ عَلَى بَطْنِي مِنَ الْجُوعِ" او کله کله به مي په خپله ګېډه د لوږې له وجې کاڼي تړل. "وَلَقَدْ قَعَدْتُ يَوْماً عَلَى طَرِيقِهِمُ الَّذِي يَخْرُجُونَ مِنْهُ" نو يوه ورځ په هغه لار کې زه کېښستلم په کومه لار چې به دوی تلل او راتلل، "فَمَرَّ بِي النَّبِيُّ ﷺ، فَتَبَسَّمَ حِينَ رَآنِي وَعَرَفَ مَا فِي وَجْهِي وَمَا فِي نَفْسِي" نبي کريم ﷺ په ما باندې تېر شو، زه يې د مخ د اثراتو ځخه وپېژندلم چې وږی يم، "ثُمَّ قَالَ: ((أَبَا هِرٍّ)) قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: ((الْحَقْ)) وَمَضَى فَاتَّبَعْتُهُ" نبي کريم ﷺ ماته وفرمايل: اې ابو هريره ﷺ! ما ورته وويل: يارسول الله ﷺ: زه حاضر يم، نبي کريم ﷺ وفرمايل: زما پسې را روان شه او راځه! زه وروسې شوم، "فَدَخَلَ فَاسْتَأْذَنَ، فَأَذِنَ لِي فَدَخَلْتُ، فَوَجَدَ لَبَناً فِي قَدَحٍ" بيا نبي کريم ﷺ يو کورته داخلېدو اجازت وغوښتلو، اجازت ورته ملاو شو، نو زه ورسره داخل شوم، ځکه چې ماته هم اجازت ملاو شوی وو، نو ومي ليدل چې په يو لوښي کې شيدې راوړل شوې، "فَقَالَ: ((مِنْ أَيْنَ هَذَا اللَّبَنُ؟)) قَالُوا: أَهْدَاهُ لَكَ فُلَانٌ، أَوْ فُلَانَةٌ" نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه: دا شيدې د کوم ځايه راوړل شوې؟ هغوی ورته وويل: تاسو ته فلانکي سړي يا فلانکۍ ښځې په تحفه کې رالېږلي دي، "قَالَ: ((أَبَا هِرٍّ)) قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: الْحَقْ إِلَى أَهْلِ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ لِي" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ابوهريره ﷺ! ما ورته وويل: لبيك يارسول الله ﷺ! نبي کريم ﷺ وفرمايل: لاړ شه! او د صفې طالبانو ته آواز وکړه چې راشي، "قَالَ: وَأَهْلُ الصُّفَّةِ أَضْيَافُ الْإِسْلَامِ، لَا يَأْوُونَ عَلَى أَهْلٍ وَلَا مَالٍ وَلَا عَلَى أَحَدٍ" ابو هريره ﷺ فرمايي: اهل الصفة هغه خلک وو چې په مدينه منوره کې يې نه اهل عيال وو او نه يې مال درلودو، نه يې د چا سره يارانه او دوستانه وه، "وَكَانَ إِذَا أَتَتْهُ صَدَقَةٌ بَعَثَ بِهَا إِلَيْهِمْ، وَلَمْ يَتَنَاوَلْ مِنْهَا شَيْئاً" د نبي کريم ﷺ عادت به دا وو چې کله به د کوم ځای نه ورته صدقه (زکات) راغلو، بيا به يې دغو خلکو ته ورلېږلو، خپله به يې ترې هيڅ هم نه خوړل، "وَإِذَا أَتَتْهُ هَدِيَّةٌ أَرْسَلَ إِلَيْهِمْ، وَأَصَابَ مِنْهَا، وَأَشْرَكَهُمْ فِيهَا" او کله چې به د کوم ځای نه ورته هديه / تحفه راتله، نو هغوی ته به يې هم ترې څه لېږل او خپله به يې هم ترې څه خوړل او هغوی به يې خپل ځان سره په دې کې شريک کړل "فَسَاءَنِي ذَلِكَ، فَقُلْتُ: وَمَا هَذَا اللَّبَنُ فِي أَهْلِ الصُّفَّةِ!" په دې کار باندې زه خفه شوم او د خپل ځان سره مي وويل: دا شيدې خو اهل صفه ته نه پوره کېږي، د هغوی به په دې څه وشي؟ "كُنْتُ أَحَقُّ أَنْ أُصِيبَ مِنْ هَذَا اللَّبَنِ شَرْبَةً أَتَقَوَّى بِهَا" زه خو ددې ډېر لائق يم چې زه يې وڅښم چې لږ طاقت خو به راپکې پيدا شي، "فَإِذَا جَاءُوا وَأَمَرَنِي فَكُنْتُ أَنَا أُعْطِيهِمْ" اوس به هغوی راشي او نبي کريم ﷺ به ماته وايي چې په دوی يې په وار وار تقسيم کړه! "وَمَا عَسَى أَنْ يَبْلُغَنِي مِنْ هَذَا اللَّبَنِ" ما به د ځان سره وويل چې مشکله ده تاته پکې څه پاتې شي، "وَلَمْ يَكُنْ مِنْ طَاعَةِ اللهِ وَطَاعَةِ رَسُولِ اللهِ ﷺ بُدٌّ" ليکن دلته د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د اطاعت ځخه خلاصی هم نه وو، "فَأَتَيْتُهُمْ فَدَعَوْتُهُمْ، فَأَقْبَلُوا وَاسْتَأْذَنُوا، فَأَذِنَ لَهُمْ وَأَخَذُوا مَجَالِسَهُمْ مِنَ الْبَيْتِ" بس زه هغوی ته ورغلم او هغوی ته مي دعوت ورکړو، هغوی دعوت قبول کړو او را روان شول، اجازت يې وغوښتلو، اجازت ورته ملاو شو او هر يو په خپل خپل ځای باندې کېنستلو، "قَالَ: ((يَا أَبَا هِرٍّ)) قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: خُذْ فَأَعْطِهِمْ" نبي کريم

وفرمايل: اې ابوهريره ﷺ! ما وويل: لبيك يا رسول الله ﷺ! نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا پياله واخله او دوى ته يې په وار وار وركړه! "قَالَ: فَأَخَذْتُ الْقَدَحَ، فَجَعَلْتُ أُعْطِيهِ الرَّجُلَ فَيَشْرَبُ حَتَّى يَرْوَى، ثُمَّ يَرُدُّ عَلَيَّ الْقَدَحَ" ابو هريره ﷺ فرمايي: ما هغه پياله راواخيسته او شروع شوم، يو يو كس ته به مې پيالې وركول چې كله به هغه كس موړ شو، نو پياله به يې واپس ماته راكړه، "فَأُعْطِيهِ الرَّجُلَ فَيَشْرَبُ حَتَّى يَرْوَى، ثُمَّ يَرُدُّ عَلَيَّ الْقَدَحَ، فَأُعْطِيهِ الرَّجُلَ فَيَشْرَبُ حَتَّى يَرْوَى، ثُمَّ يَرُدُّ عَلَيَّ الْقَدَحَ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ، وَقَدْ رَوِيَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ" بيا به مې هغه پياله بل كس ته وركړه كله چې به هغه هم ښه موړ شو، پياله به يې واپس ماته راكړه، بيا به مې بل كس ته هغه پياله وركړه، تردې چې نبي كريم ﷺ ته راورسيدم تردې چې ټول قوم ښه موړ شو، "فَأَخَذَ الْقَدَحَ فَوَضَعَهُ عَلَى يَدِهِ، فَنَظَرَ إِلَيَّ فَتَبَسَّمَ، فَقَالَ: ((أَبَا هِرٍّ)) قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ" نبي كريم ﷺ هغه پياله په خپلو لاسونو مباركو راواخيسته او ماته يې نظر وكړو، نو تبسم يې وفرمايلو (تبسم معمولي شان خندا ته ويل كيږي په كوم كې چې پوره غاښونه هم نه ښكاري) نبي كريم ﷺ بيا وفرمايل اې ابوهريره ﷺ! ما وويل: يا رسول الله ﷺ! حاضر يم، "قَالَ: ((بَقِيتُ أَنَا وَأَنْتَ)) قُلْتُ: صَدَقْتَ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: ((اقْعُدْ فَاشْرَبْ)) فَقَعَدْتُ فَشَرِبْتُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: زه او ته پاتې شو، ما وويل: يا رسول الله ﷺ! رښتيا مو وويل، بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: كښېنه او وې څښه! نو زه كېښستم او ومې څښل، "فَقَالَ ((اشْرَبْ)) فَشَرِبْتُ" بيا نبي كريم ﷺ راته وفرمايل: وڅښه! ما بيا وڅښل، "فَمَا زَالَ يَقُولُ: ((اشْرَبْ)) حَتَّى قُلْتُ: لَا، وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَجِدُ لَهُ مَسْلَكًا!" بس همېش به نبي كريم ﷺ ماته فرمايل: وڅښه او ما به څښل، تردې حده راورسېدم چې ما ورته وويل: په هغه ذات مې قسم دى چې تاسو يې په حق سره راليږلي يې! بس دى نور خو زه په خپل ځان كې ځاى نه وينم چې نور وڅښم! "قَالَ: ((فَأَرِنِي)) فَأَعْطَيْتُهُ الْقَدَحَ، فَحَمِدَ اللهَ تَعَالَى، وَسَمَّى وَشَرِبَ الْفَضْلَةَ" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: ماته يې راكړه! ما هغه ته وركړل، نو نبي كريم ﷺ د الله ﷻ پاكي بيان كړه او بيا يې بسم الله وويل او كومې چې زياتې شوې وې، هغه يې وڅښلې. رواه البخاري

تشريح: په دې حديث كې د صفه صحابه وو د فقيرى حال بيان شوى دى، داسې حالات په ګڼ شمېر رواياتو كې ذكر دي، په ځينو رواياتو كې راځي چې د ډېرې لوږې نه به په لمانځه كې راپرېوتل، په يو بل روايت كې دي چې: ابوهريره ﷺ فرمايي چې زه به د ډېرې لوږې نه بې هوښه شوم

د ترغيب په يو روايت كې دي چې ابوهريره ﷺ فرمايي: په ما باندې درې ورځې لوږه وه، مزل به مې كولو چې راپرې به وتم، خلكو به ويل چې ليونى شو، زه د صفې تر چبوترې؛ برنډې پورې په ډېر مشكل سره ورسېدم، د رسول الله ﷺ سره د شيدو پياله پرته وه، خلكو ترې څښل، په آخر كې چې څه پاتې شو، هغه به يې ماته راكړل، هغه به د يوې مړې نه زيات نه وو، راته به يې وفرمايل: (كل بسم الله) د الله ﷻ نوم په اخيستلو سره يې وخوره! په الله ﷻ قسم چې په دې كې به دومره بركت وو چې هغه به ما په مړه خېټه وخوړل او بيا به هم رانه پاتې شو.

په اصحاب صفه باندې فقيرې او غريبي:

اصحاب صفه باندې دا حالات ولې راغلل؟ په دې اړه حاکم رحمه الله په خپل تصنيف مستدرك کې داسې الفاظو سره روايت نقل کړی دی

"تاملت هذه الاخبار الواردة في اهل الصفة فوجدتهم من اكابر الصحابة رضي الله عنهم ورعا وتوكلا على الله عزوجل وملازمة لخدمة الله ورسوله ﷺ اختار الله تعالى لهم ما اختاره لنبيه ﷺ من المسكنة والفقر والتضرع لعبادة الله عزوجل وترك الدنيا لاهلها" زه په هغه روايات چې د اصحابه صفه په باره کې نقل شوي دي، ما په هغې کې فکر وکړو، نو زه دې نتيجې ته ورسېدم چې د پرهېزګارۍ، د الله جل جلاله د دين او د رسول الله ﷺ د خدمت له خاطره دغه خلك ډېر په اوچت درجه وو، الله جل جلاله دوی ته هغه څه غوره کړل کوم بې چې خپل پېغمبر ﷺ ته غوره کړي و، يعنې فقيري، غريبي، مسکنې او د الله جل جلاله په حضور کې ژړاګانې او د هغه په عبادت کې همه تن مشغول اوسېدونکي وو، دنيا يې دنيا دارو ته پرې اېښې وه، دا هغه صفات دي چې الله جل جلاله پرې دغه صحابه کرام ښايسته کړي وو، لکه څرنګه چې الله جل جلاله رسول الله ﷺ په دې صفاتو باندې مزين کړی وو

واشرب: نور وڅښه: ددې نه معلومه شوه چې بايد مېلمه ته وويل شي چې وخوره او وڅښه: "ما اجد له مسلکاً" اوس په ما کې ګنجائش نشته، ددې نه دا معلومه شوه چې په مړه خېټه خوراك جائز دی. لېکن د زيات خوراك نه کم خوراك غوره دی، "شرب الفضلة" د ټولو نه بچ پاتې شوی خوراك ابو هريره رضي الله عنه وخوړلو، ددې نه دا هم معلومه شوه چې د مسلمان څخه زياتي شوی خوراك يا اوبه ناپاکې نه وي، بلکې پاك دي او خوړل يې جائز دي.

ابو هريره رضي الله عنه به د لوږې له امله بې هوښه شو

"وعن محمد بن سيرين، عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: لقد رأيتني وإني لأخر فيما بين منبر رسول الله ﷺ إلى حجرة عائشة رضي الله عنها مغشياً علي" د محمد بن سيرين رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي چې ابو هريره رضي الله عنه وفرمايل: ما به خپل ځان ليدو چې زه به د رسول الله ﷺ د منبر په وړاندې د عائشې رضي الله عنها حجرې مخې ته راپرېوتم، په ما به بې هوښي راغله، "فيجيء الجائي، فيضع رجله على عنقي، ويرى أني مجنون" نو يو کس به راغلو او خپل پښه به يې ماته په څټ کېښوده او دا ګومان به يې کولو چې لېونی شوی دی، "وما بي من جنون، ما بي إلا الجوع" په ما باندې به لېونتوب نه وو، بلکې لوږې به راخيستی وم رواه البخاري

لغوي تحقيق:

لاخر: "خر خراً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده پورته څخه ښکته پرېوتل

تشريح "مغشياً علي": ابو هريره رضي الله عنه خپل حال بيانوي چې زما به دا حال وي چې د ډېرې لوږې له امله به زه بې هوښه شوم، ابو هريره رضي الله عنه هم په اصحاب صفه کې شامل وو، کوم چې د دين له خاطره خپل هر څه پرېښودل، هر څه چې به ورته ملاو شول، هغه به يې خوړل، په باقي وختونو کې به يې د رسول الله ﷺ ارشادات اورېدل او حفظ کول به يې، زما په څټ به يې پښه کېښوده، خلکو به دا خيال کولو چې

زه ليونى شوى يم، حال دا چې زه به ليونى شوى نه وم، لوږې به په مخه کړى وم، په خټ به يې د تحقير په وجه ورته پښه نه کېښوده، بلکې په دغه وخت کې د لبوتنوب علاج په دې طريقه کېدلو، خکه به خلکو د هغه په خټ پښه اېښوده، دا يو څو ورځې غټ امتحان وو چې تېر شو، بيا خپله ابو هريره ﷺ يوه ورځ د ململ په کپړې پوزه پاکه کړه او خان سره يې وويل: ابو هريره ﷺ څه به وايې؟ هغه دې هېر شو چې د لوږې له وجې به بې هوشه پرېوتې، اوس د ململو په دسمال باندې پوزه پاکوې.

د راوي محمد بن سيرين رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې محمد رحمه الله دى، د پلار نوم يې سيرين دى، کنيت يې ابوبکر دى، سيرين خپله د عراق اوسېدونکى وو، سيرين د عمر ﷺ په زمانه کې بندي شو او د انس ﷺ بن مالك ﷺ په غلامۍ کې راغلو، انس ﷺ د هغه نه شل يا څلوېښت زره درهم واخيستل او آزاد يې کړ.

ولادت په درې د برشمه هجري کې پيدا شو، محمد رحمه الله د انس ﷺ نه علم حاصل کړو، ورسره يې د ابو هريره ﷺ او حسن بصري رحمه الله په خدمتونو کې هم حاضري کول، د علم لويه ذخيره يې ترې حاصله کړه، د انس ﷺ په وصيت يې د جنازې لمونځ محمد بن سيرين رحمه الله کړې وه، امام نووي رحمه الله فرمايي چې: محمد بن سيرين په علم تفسير، حديث، فقه او د خوبونو په تعبير کې امام وو.

ابن حبان رحمه الله فرمايي: محمد بن سيرين رحمه الله په بصره کې تر ټولو زيات متقي، فقيه، فاضل او حافظ او د خوبونو امام وو، ددې ټولو شيانو باوجود هغه بې حده د الله ﷻ نه ويره درلوده، هشام بن حسان رحمه الله فرمايي چې محمد بن سيرين رحمه الله به مورږ د ورځې وليدو نو خندل به يې، خو د شپې به يې زيات وخت ژړل، د شپې له خوا به يې د کوټې څخه د ژړا اوازونه راتلل، کله چې به ورته مرګ وريه ياد شو، نو د مرګ په خبر حالت به پرې راغلو

وفات په يو سل لس هجري کې د اتيا / ۸۰ کالو په عمر کې ددې فاني نړۍ څخه رخصت شو.

د نبي کريم ﷺ د وفات پر مهال زغره د يهودي سره ګانه وه

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: تُوُفِّيَ رسول الله ﷺ وَدِرْعُهُ مَرْهُونَةٌ عِنْدَ يَهُودِيٍّ" د عائشې ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفات شو، نو د هغه زغره د يو يهودي سره ګانه (ګرو) وه. "فِي ثَلاثِينَ صَاعاً مِنْ شَعِيرٍ" په د برش سېره وربشو کې متفق عَلَيْهِ

تشريح: "درعه مرهونة عند يهودي": د نبي کريم ﷺ زغره د يهودي سره ګانه وه، دلته سوال پيدا کېږي چې رسول الله ﷺ به چې د يهوديانو نه قرض اخيستلو، نو په صحابه کرامو ﷺ کې هم مالداره خلك وو، د هغوى څخه يې ولې نه اخيستلو؟ لومړى خواب دا دى چې که نبي کريم ﷺ د صحابه کرامو ﷺ نه قرض اخيستى، نو بيا صحابه کرامو ﷺ ته دا خوښه نه وه چې د رسول الله ﷺ نه يې بېرته واخلي او د رسول الله ﷺ په طبيعت کې غيرت وو چې خامخا به يې واپس کولو، دويم خواب دا دى چې دا مسئله واضحه شي چې د غير مسلمو څخه قرض اخيستل جائز دي

د وربشو په بدل کې زغره ګانه کول

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: رَهَنَ النَّبِيُّ ﷺ دِرْعَهُ بِشَعِيرٍ، وَمَشَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ بِخُبْزِ شَعِيرٍ وَإِهَالَةٍ سَنِخَةٍ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ خپله يوه زغره د يو يهودي سره د وربشو په بدل کې ګانه کړه او زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې د وربشو د ډوډۍ او معمولي شان وازګې سره حاضر شوم، "وَلَقَدْ سَمِعْتُهُ يَقُولُ: (مَا أَصْبَحَ لآلِ مُحَمَّدٍ صَاعٌ وَلاَ أَمْسَى) وَإِنَّهُمْ لَتِسْعَةُ أَبْيَاتٍ" راوي وايي: د نبي کريم ﷺ په نهه مېرمنو کې او د نهه کورونو نه په يو کور کې به هم سهار او ماښام يو صاع غله نه وه. رواه البخاري

"الإهالة: بكسر الهمزة: الشَّحْمُ الذَّائِبُ" د (الذئب) معنی ده: ويلې شوې وازده، وازګه. "وَ(السَّنِخَةُ) بالنون والخاء المعجمة: وَهِيَ المُتَغَيِّرَةُ" السنخة: معنی ده: هغه وازده چې تغير او تبديلي پکې راغلې وي.

تشريح: همدغه د رسول الله ﷺ د ژوندانه او د وفات تړوله نقشه ده، د رسول الله ﷺ د ژوند دغه نقشه په يو يا دوه حديثو کې نه، بلکې په سلګونو حديثونو کې بيان شوې ده، ځکه چې رسول الله ﷺ دعاء کړې وه چې: يا الله! زما ژوند هم د مسکينانو سره وکړې او د قيامت په ورځ مې حشر هم د مسکينانو سره وکړې

کوم کس چې په دنيا کې د خوند مزې ژوند تېروي، داسې کسان به د قيامت په ورځ وږي وي، لکه څرنګه چې په يو روايت کې راځي: کوم کسان چې په دنيا کې لوږې او سختۍ تېروي، داسې کسان به د قيامت په ورځ په مړه خېټه وي، الله ﷻ د هغه کس څخه ډېر بد راځي چې دومره خوراک وکړي چې بد هضمي ترې جوړه شي، (کوم کس چې په يو داسې شي کې ځان سره څوک شريک کړي چې هغه دغه شی خوښوي، د داسې کس لپاره په جنت کې درجې دي) د خدای نېک بندګان فقيري او غريبي سعادت ګڼي، فضيل بن عياض رحمه الله وايي: يا الله! تاسو زما خاندان وږي وساتل، په تورو شپو کې دې په تورو تياره کې وساتل، دا خو د نېکو خلکو سره داسې معامله وي، اې الله! تاسو ماته دا دولت په کوم عمل نصيب کړو؟ دغه ډول کهمس رحمه الله فرمايي: يا الله! تاسو زه وږي وساتلم، د عورت د پټولو لپاره مو يوه ټوټه کپړه راکړه، د شپې په تورو تيارو کې مو وساتلم، زه خو ددې قابل هم نه وم، دا انعام ماته په کوم عمل ملاو شو؟

د اصحاب صفه غريبي

'وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ الصُّفَّةِ، مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ عَلَيْهِ رِدَاءٌ، إِمَّا إِزَارٌ وَإِمَّا كِسَاءٌ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما پوره اويا/ ۷۰ کسان د صفې خلك ليدلي دي، په دوی کې يو کس داسې نه وو چې د هغه سره پوره کپړه وي چې ځان پرې پټ کړي، خو يا به ورسره لنګ وو او يا به ورسره معمولي لنډ څادر وو، "قَدْ رَبَطُوا فِي أَعْنَاقِهِمْ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ نِصْفَ السَّاقَيْنِ" چې هغه به يې په مرۍ کې تړلی وو، نو د ځينو به تر نيمايي پونډۍ پورې رارسېدلی وو، "وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ الكَعْبَيْنِ" د ځينو به تر ګوټو پورې رارسېدلی وو، "فَيَجْمَعُهُ بِيَدِهِ كَرَاهِيَةَ أَنْ تُرَى عَوْرَتُهُ" هغه به يې په خپلو لاسونو باندې راغونډولو چې کله به

هغه طرفته راټلو او کله به دغه طرفته چې هسې نه عورت مې ښکاره شي رواه البخاري

تشريح: دغه شان په نورو ډېرو روايتونو کې دي چې د رسول الله ﷺ په خپله او د هغه د صحابه کرامو ﷺ عادت دا وو چې د دنيا په ژوند کې يې زهد، فقيري او استغنا خوښول، د دنيوي خوندونو، مزو او چرچو څخه يې ځان ساتلو، په دې وجه د دوی جامې هم معمولي وې، تردې چې پيوندونه به پکې لګېدلي وو، اګرچې دوی ښايسته کپړې هم اغوستلی شوې، ليکن د آخرت په تياري کې مصروف وو او هغه طرفته يې کامله توجه وه، په دې وجه يې دې طرف ته هيڅ فکر نه کولو

په دې روايت کې ابو هريره ﷺ د خپلو ملګرو اصحاب صفه حال بيانوي، همدغه حال د ابو هريره رضي الله عنه هم وو، په دې سلسله کې حافظ ابن نعيم رحمه الله فرمايي چې "وهويعني أباهريرة ﷺ اشهرمن سكن الصفة واستوطنها طول عمرالنبي ﷺ ولم ينتقل عنها وكان عريف من سكن الصفة من القاطنين ومن نزلها من الطارقين وكان النبي ﷺ اذا اراد ان يجمع اهل الصفة لطعام تقدم الى أبي هريرة ﷺ ليدعوهم ويجمعهم لمعرفته بهم وبمنازلهم ومراقبهم".

زياره: ابو هريره ﷺ په اصحاب صفه کې تر ټولو زيات شهرت درلود، رسول الله ﷺ چې تر څو ژوندی وو، تر هغې به ابو هريره رضي الله عنه په اصحاب صفه کې اوسېدلو، صفې ته چې کوم خلك راتلل او هلته به يې قيام کولو، هغه خلك به دوی ښه پېژندل، رسول الله ﷺ به چې کله هم اصحاب صفه ډوډۍ او خوراك ته رابلل، نو ابو هريره ﷺ ته به يې وفرمايل ورشه دوی ته آواز وکړه؛ دا ځکه چې دوی اصحاب صفه ښه پېژندل، د هغوی له مرتبو څخه خبر وو

د اصحاب صفه شمار:

"سبعين من أهل الصفة" د اصحاب صفه شمار به کله کم وو، کله به زيات وو، علامه سيوطي رحمه الله فرمايي: شمار يې تقريباً ترسلو پورې وو، محدث حاکم رحمه الله په خپل کتاب مستدرك کې څلور ديرش حساب کړي دي او ابونعيم رحمه الله په حلية الاولياء کې درې څلوېښت ليکلي دي او علامه قرطبي رحمه الله تر څلور سوه پورې بيان کړي دي، خو حقيقت دا دی چې دوی به کله کم شو او کله به زيات شو

د نبي کريم ﷺ بستره

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ فِرَاشُ رسول الله ﷺ مِنْ أَدَمٍ" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ بستره به د څرمنې نه جوړه وه، "حَشْوُهُ لِيفٌ" په مينځ کې به يې د خورما پوستکي او پاڼې وې رواه البخاري

لغوي تحقيق:

"أدم والأدم": د څرمن دننه يا بهرنی حصه، "فلان ادام قومه و إدام بني أبيه، وإدامة قومه" يعني فلانکی کس د خپل قوم مشر دی، ادم باب ضرب يضرب دی، ادماً ډوډۍ په سالن لنده کول، "ادما أهله" د خپل اهل عيال لپاره نمونه جوړېدل

تشريح لفظ د (ليف) تحقيق دا دی چې ليف د لام په زير سره د خورما پوستکي ته ويل کيږي، د

رسول الله ﷺ په بستره کې د مالوچو/ پختې پر ځای د خورما پوستکي وو، ددې نه يې مينځ ډک کړی وو، د چا سره چې به پيسې نه وې، نو هغه به د مالوچو کار ددې پوستکو څخه اخيستلو. دا به مفت ملاوېدو، د خورما پوستکي به يې نرم کړو، بيا به يې بستره ترې ډکه کړه.

سوال: د شمائل ترمذي معروف او مشهور روايت چې د حفصې ﷺ څخه نقل دی. د رسول الله ﷺ بستره به ترآته وه، يوه ورځ مې خپره کړه، رسول الله ﷺ پرې خوب وکړو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل دا څه دي خپاره/ هوار کړي دي؟ ددې بسترې د نرمۍ له امله سهار پاڅېدل راته مشکل شو. ددې نه معلومېږي چې د رسول الله ﷺ بستره ترآته وه، د بل حديث نه معلومېږي چې بستره يې د خورما د پوستکو څخه ډکه وه؟ **خواب** دا دی چې د رسول الله ﷺ سره په يو وخت کې د خورما پوستکو نه ډکه بستره وه او په بل وخت کې ورسره ترآته وه.

نبي کريم ﷺ د سعد ﷺ عيادت ته لاړو

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: كُنَّا جُلُوساً مَعَ رسول الله ﷺ، إذْ جَاءَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، ثُمَّ أدْبَرَ الأَنْصَارِيُّ" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ د رسول الله ﷺ سره يوه ورځ ناست وو چې ناڅاپه يو انصاري راغلو او سلام يې وکړو، بيا په شا لاړو. "فَقَالَ رسول الله ﷺ: يَا أخَا الأَنْصَارِ، كَيْفَ أخِي سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ؟ فَقَالَ: صَالِحٌ، فَقَالَ رسول الله ﷺ: ((مَنْ يَعُودُهُ مِنْكُمْ؟)) فَقَامَ وَقُمْنَا مَعَهُ، وَنَحْنُ بِضْعَةَ عَشَرَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل اې انصاري وروره! زموږ ورور سعد بن عباده څنګه دی؟ هغه ورته وويل اوس لږ ښه دی، بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: په تاسو کې زما سره کوم کسان د هغه پوښتنې ته ځي؟ نبي کريم ﷺ پاڅېدو، نو موږ ټول ورسره پاڅېدو او په دې وخت کې زموږ تعداد لس کسان وو. "مَا عَلَيْنَا نِعَالٌ، وَلاَ خِفَافٌ، وَلاَ قَلاَنِسُ، وَلاَ قُمُصٌ" زموږ سره نه څپلې وې، نه موزې وې، نه خولۍ او نه کميسونه وو. "نَمْشِي في تِلْكَ السِّبَاخِ، حَتَّى جِئْنَاهُ" په داسې حال کې موږ په يوه داسې لار روان وو چې د کاڼو نه ډکه وه، تردې چې هغه ته موږ ورسېدو. "فَاسْتَأخَرَ قَوْمُهُ مِنْ حَوْلِهِ حَتَّى دَنَا رسول الله ﷺ وَأصْحَابُهُ الَّذِينَ مَعَهُ" کوم کسان چې د هغوی سره ناست وو، زموږ په ليدو سره هغوی ډډې ته شول او نبي کريم ﷺ او د هغه ملګري هغه ته ورنږدې شول. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

السباخ: "السباخ من الارض" هغه ځمکه چې د کښت او کروندې لائقه وي.

نبي کريم ﷺ سعد ﷺ ته ورور وويل:

"كيف أخي سعد بن عبادة" زما ورور سعد بن عباده څنګه دی؟ دا د سعد سعادت دی، نبي کريم ﷺ هغه ته خپل ورور وويل او تقريباً هم دغه جمله رسول الله ﷺ د عمر ﷺ په باره کې فرمايلې ده، زما وروره! په دعاء کې مې هېر نه کړې

د مريض / ناروغ د پوښتنې فضيلت:

"من يعوده منكم؟" په تاسو کې څوك د هغه پوښتنې ته تيار دى؟ د مريض پوښتنه د رسول الله ﷺ مستقل سنت دى، ددې ډېر فضيلتونه راغلي دي، په يو روايت کې دي چې کوم کس سهار د مريض پوښتنې ته لاړ شي، نو تر مابنامه پورې اويا زره پرښتې ورته د مغفرت دعاګانې کوي، که مابنام لاړ شي نو تر سهاره پورې ورته اويا زره پرښتې د مغفرت دعاګانې کوي

"ما علينا نعال ولا خفاف ولا قلانس ولا قمص": زمونږ سره نه څپلې وې، نه موزې وې، نه خولۍ وې او نه هم کميس وُ، په دې کې د صحابه کرامو ﷺ غريبۍ او بې وسۍ ته اشاره ده چې په داسې حال کې هم دوى ﷺ د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ نه راضي وو، دنيا ته يې هيڅ توجه نه کول

"فاستأخر قومه من حوله حتى دنا رسول الله ﷺ": د سعد ﷺ کوروالا د هغه څخه لرې شول، تردې چې رسول الله ﷺ هغوى ﷺ ته ورنږدې شو، ددې نه معلومه شوه چې که ځاى تنګ وي، نو کورنۍ ته پکار ده چې د مريض پوښتنې ته راتلونکو خلکو ته ځاى پرېږدي او بله دا چې څوك پوښتنې ته ځي، بايد هغه د مريض سره نږدې کيني

تر ټولو غوره زمانه

"وعن عمران بن الحصين رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، أنه قال: خَيْرُكُمْ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ" د عمران بن حصين ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په زمانه کې چې کوم خلك موجود دي، هغه ډېر ښه خلك دي، بيا هغه خلك دي چې ددې موجوده خلکو پسې دي او بيا هغه خلك دي چې د هغوى پسې دي، "قَالَ عِمْرَانُ: فَمَا أَدْرِي قَالَ النبي ﷺ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثاً" عمران ﷺ فرمايي: زه نه پوهېږم چې نبي کريم ﷺ دا جمله دوه ځله وويل او که درې ځله يې وويل. "ثُمَّ يَكُونُ بَعْدَهُمْ قَوْمٌ يَشْهَدُونَ وَلاَ يُسْتَشْهَدُونَ" بيا به ددې نه وروسته يو داسې قوم پيدا شي چې د دوى نه به ګواهي نه وي غوښتل شوي ليکن بيا به هم ګواهي ورکوي (يعنې ښه په شوق سره به د دروغو ګواهي ورکوي)، "وَيَخُونُونَ وَلاَ يُؤْتَمَنُونَ" خيانتونه به کوي او امانتداري به پکې نه وي، "وَيَنْذِرُونَ وَلاَ يُوفُونَ" نذرونه به مني، ليکن پوره کوي به يې نه، "وَيَظْهَرُ فِيهِمُ السِّمَنُ" او په هغوى کې به چاغوالى ښکاره کيږي متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

السمن: "سمن سمناً" باب سمع يسمع دى، ددې معنى ده: مضبوطوالى

د غوره زمانې نه څه مراد دي؟

تشريح: "خيركم قرني": قرن زمانې ته وايي، ددې په مقدار او اندازه کې ګڼ اقوال دي ځينې يې څلوېښت کاله بولي، ځينې وايي: اتيا کاله دي، ځينو سل کاله ښودلې دى او ځينې وايي چې قرن د يو عمر زمانې خلکو ته ويل کيږي

په دې اعتبار سره (قرني) نه مراد د صحابه کرامو زمانه ده، کومه چې يو سل شل کاله چلېدلې وه، بيا دويمه زمانه ده، يعني د تابعينو زمانه ده چې تر يو سل اويا هجرى پورې چلېدلې ده، بيا دريمه زمانه د تبع تابعينو ده چې تر دوه سوه شل هجرى پورې چلېدلې وه، تر دې درې زمانو پورې خير او برکت وو، بيا بدعات او فتنې شروع شوې

او ځينو نورو علماوو فرمايلي دي چې له (قرن) نه د خلفاء راشدينو زمانې مراد دي، د (ق) نه صديق اکبر ﷺ مراد دی، د (ر) څخه عمر ﷺ مراد دی او د (ن) نه عثمان ﷺ مراد دی او د (ي) نه علي ﷺ مراد دی او ځينې نور علماء فرمايي چې د قرن نه مراد ظرف نه دی، بلکې مظروف دی، يعني هغه اعمال چې په دې زمانه کې کېدل، په دې زمانه کې درې قسمه اعمال ترسره کېدل "يعلمهم الكتاب والحكمة ويزكيهم" دوی ته به قرآن شريف ښودل کېدو، حکمت به ورته ښودل کېدو، د دې څخه مراد احاديث دي او د دوی تزکيه نفس به يې هم کول

يشهدون: دوی به ګواهي ورکوي څوک به دوی ته نه وايي چې زمونږ لپاره شاهدي ادا کړه خو بيا به هم شاهدي ادا کولو ته وړاندې کېږي

سوال: د دې حديث نه خو معلومه شوه چې بغير طلب شاهدي ورکول سخته ګناه ده، ليکن د يو بل حديث نه معلومېږي چې بغير طلب څوک شاهدي ورکړي، دا يو غوره عمل دی؟

ځواب: دواړه خبرې ځان ځان ته واقعو سره تعلق لري، په لومړي حديث کې چې ورته بد ويل شوي دي د هغه شاهد په اړه دی چې ټول خلک يې ښه پېژني چې دا سړی شاهد دی، ليکن بيا يې هم شاهدي نه راغواړي، بې له طلبه شاهدی ته وړاندې کېږي او هغه شاهدي ورکوي، نو د داسې کس شاهدي ورکول ښه کار نه دی او کوم چې په دويم حديث کې د شاهدی د ښه والي ذکر دی، دا هغه شاهدي ده چې يوه اهمه واقعه شوې وي، ليکن د دې په باره کې د شاهدی ورکوونکي سړي علم چاته پته نه وي او د دې په شاهدی سره د حق په باره کې فيصله کېږي، نو په داسې صورت کې د شاهدی ځای ته راتلل او شاهدي ادا کول يو نېک او ښه عمل ګڼل شوی دی، ځکه چې که دی شاهدي ادا نه کړي، نو ناحقه فيصله به وشي

"يخونون ولا يؤتمنون": خيانتونه به کوي، د دوی د امانت په باره کې به خلک اعتبار نه کوي، مطلب دا چې دا سړی به دومره زيات شهرت ولري چې په خيانت کې به دده نه بل کوم کس دومره خائن نه وي لکه څومره چې دی وي، هو! که چېرته کله په غلطۍ کې خيانت وشي، نو دا خائنه خبره ده.

"ينذرون ولا يوفون": نذرونه به مني، ليکن نذر به نه پوره کوي، نذر پوره کول واجب دي، په قرآن کريم کې د نېکو خلکو صفت بيان شوی دی چې "يوفون بالنذر ويخافون يوما كان شره مستطيراً" هغه د الله ﷻ نېک بندګان به د قيامت له سختې ورځې وېرېږي او دوی به هغه نذرونه پوره کوي چې دوی منلي وي

د مضبوطوالي نه مراد څه دی؟

"يظهر فيهم السمن": په دوی کې به مضبوطوالی او چاغوالی پیدا شي، دلته د مضبوطوالي او چاغښت څخه مراد د ډېر عیش عشرت په وجه پیدا کېدو والا چاغوالی مراد دی او هغه چاغوالی مراد نه دی چې خلقي او طبعي پیدا شي

ځیني محدثین فرمايي: د مضبوطوالي نه مراد د مالونو زیاتوالی دی، د تکبر او فخر خبرې کول خپل ځان په مالدارو کې حسابول، لیکن په حقیقت کې هغسې نه وي، علامه طیبي رحمه الله د مشکاة په شرح کې ددې مطلب داسې بیان کړی دی چې: ددې نه د شریعت په احکاماتو کې سستي کول مراد دي، لکه څرنګه چې یو مضبوط او چاغ سړی سست وي، دغه شان داسې انسان هم د شریعت په احکاماتو کې سستي کوي، اګرچې ظاهري طور کمزوری او نری وي.

د ضرورت په اندازه مال ځان سره ساتل جائز دي:

"وعن أبي أمامة ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: يا ابن آدم، إنك أن تبذل الفضل خير لك" د ابو امامه ﷺ روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې د آدم علیه السلام زویه! که ته د ضرورت نه زیات شی د الله ﷻ په لار کې خرچ کړې دا به ستا لپاره ډېر غوره وي، "وأن تمسكه شر لك" او که ځان سره دې ایسار کړو، نو دا به ستا لپاره شر وي، "ولا تلام على كفاف" او د ضرورت شی ساتلو باندې ته ملامته نه یې، "وابدأ بمن تعول" او د خرچ خوراک شروع د خپل خاندان او کورني څخه کوه! "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

لغوي تحقيق:

كفاف: "من الرزق" د ګزارې او ضرورت په اندازه مال ساتل

د زیات مال خرچ کولو ترغیب:

"يا ابن آدم انك ان تبذل الفضل خيرلك" اې د آدم زویه! ته زیات مال خرچ کوه! دا به ستا لپاره غوره وي، رسول الله ﷺ د ضرورت نه زیات مال خرچ کولو دومره ترغیب بیان کړی دی چې ځیني صحابه کرامو ﷺ دا فکر جوړ شو چې د ضرورت نه زیات مال ساتلو حق انسان نه لري، ابو سعید خدري ﷺ فرمايي چې په یو سفر کې موږ د رسول الله ﷺ سره وو، موږ وکتل چې یو کس خپله اوښه کله اخوا بوځي کله دېخوا، دا چې رسول الله ﷺ ولیدل، نو وې فرمایل: د چا سره چې زیاته سوارلي وي، هغه دې زیاته سوارلي بل ملګري ته ورکړي او د چا سره چې د خوراک سامان زیات وي، هغه دې زیاتي خوراک بل ملګري ته ورکړي، رسول الله ﷺ د یو یو شي همدغسې ذکر وکړو، صحابه کرام فرمايي: موږ فکر وکړو چې انسان د ضرورت نه زیات شیانو ساتلو هیڅ حق نه لري

په خرچ کولو کې ترتیب:

"وابدأ بمن تعول": د خرچ ابتداء د هغو کسانو څخه وکړه چې ستا اهل عیال (بال بچ وغیره) کې راځي، په یو روایت کې دي چې په یو درهم باندې غلام آزاد کړه! بل درهم کوم فقیر ته ورکړه او یو درهم

په خپل اهل عيال فاميل باندې خرچ کړه، په دې ټولو کې غوره درهم هغه دی چې په خپل اهل عيال خرچ کړي، په يو بل روايت کې د خرچ ترغيب داسې ورکول شوی دی چې تر ټولو اول بايد انسان په خپل ځان خرچ وکړي، بيا په خپل اهل عيال باندې، بيا په خپلوانو باندې، بيا که د دوی نه زياتي شي نو بيا ملګرو او دوستانو باندې بايد خرچ وکړي

صحت او د يوې ورځې خوراک

"وعن عُبَيْدِ اللهِ بن مِحْصَنٍ الأَنْصَارِيِّ الخَطْمِيِّ ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِناً في سِرْبِهِ" د عبيد الله بن محصن انصاري خطمي ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل په کوم سړي چې په داسې حال کې سهار شي چې د هغه سر په امن کې وي، "مُعَافًى في جَسَدِهِ" او د هغه د بدن صحت هم صحيح وي، بيمار نه وي، "عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ" د هغه سره د يوې ورځې خوراک موجود وي. "فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا بِحَذَافِيرِهَا" نو دا داسې دي لکه د دنيا ټول عيش او نعمتونه چې هغه ته حاصل وي. "رواه الترمذي وقال: حديث حسن".

"سِرْبِهِ: بكسر السين المهملة: أي نَفْسِهِ، وقيل: قَوْمِهِ" د لفظ (سربه) معنی ده: ځان او خاندان

تشريح "من أصبح منكم آمناً في سربه" په هغه باندې داسې حالت کې سهار شي چې د هغه سر په امن کې وي، يعنې د مرګ خطره ورسره نه وي، نه د کوم دښمن له طرفه په ويره کې وي، ځينو علماوو بې داسې مطلب بيان کړی دی چې: د بد ماحول نه ورته بچ کېدل ميسر شي او په ګناهونو باندې د توبې وسنلو توفيق ملاو شي او د آفتونو څخه بچ پاتې شي.

د (سربه) لفظ تحقيق:

(سربه) د سين په زير او د (ر) په جزم سره دی، معنی يې ده: نفس، لاره او زړه، دلته يې ټولې معناګانې مراد کېدی شي، مطلب دا چې کوم کس په داسې حال کې سهار کړي چې هغه ته په دې مذکوره شيانو کې څه نقصان او ضرر رسېدو ويره نه وي او ځينې نور علماء فرمايي چې دا لفظ د (سرب) د سين او د (ر) دواړو په زبر سره دی، په دې صورت کې به يې معنی داسې شي: په هغه باندې داسې حالت کې سهار شي چې د هغه د کور په سوريو کې اوسېدونکي حشرات، لکه: مار، لړم، شرمخ وغيره څخه محفوظ وي

د حديث خلاصه:

د حديث خلاصه دا ده چې يو سړي ته د امن او روغ صحت په حالت کې رزق ملاو شي، نو لکه هغه ته چې ټوله دنيا ملاو شوه، که امن يا صحت نه وي، نو بيا که د دنيا ټولې خزانې داسې کس ته ملاو شي، هغه بې کاره دي، ځکه چې امن او عافيت د دولت او پيسو په مصرف کولو سره نه حاصلېږي

د راوي عبد الله بن محصن رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عبد الله رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې محصن دی، د مدينې منورې اوسېدونکی دی. اکثرو علماء يې د صحابيت قائل دي، ليکن ځينې يې انکار هم کوي، زوی يې سلمه رحمه الله تري زيات وخت روايت نقل کوي، حافظ ابن عبد البر رحمه الله فرمايي ځينې خلک يې روايت ته مرسل وايي

چاته چې ايمان نصيب شي او برابر رزق ورته حاصل شي:

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أن رسول الله ﷺ قال: قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ" د عبد الله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل په تحقيق سره هغه سړی کامياب شو چې ايمان يې راوړو، "وَكَانَ رِزْقُهُ كَفَافاً" د هغه رزق په قدر کفايت کوي. "وَقَنَّعَهُ اللّٰهُ بِمَا آتَاهُ" او کوم څه چې الله ﷻ ورکړي دي، په هغه يې قناعت کړی وي. رواه مسلم

قنعه: قناعت کول؛ صبر کول

د فلاح لفظ مطلب:

تشريح: قد أفلح: په قرآن او حديثو کې لفظ د ،افلح، په کثرت سره استعمال شوی دی، قاموس ليکي چې د فلاح معنی ده: انسان خپل مقصد ته رسېدل او دا چې هر ډول تکليف يې لرې شي، علماء ليکي: دا لفظ ډېر جامع دی، ظاهره ده چې په دنيا د هر انسان مراد او مقصد پوره شي او هر تکليف يې لرې شي، دا د يو انسان په وس کې پوره نه ده، برابره خبره ده چې د دنيا ما تحت الاسباب بادشاه ولې نه وي، دوی ته به کامله فلاح او کاميابي په جنت کې حاصلېږي

په حديث کې د درې صفتونو بيان دی:

په حديث کې درې صفات بيان شوي دي: په کومو باندې چې په دنيا او اخرت کې د فلاح او کاميابۍ وعده شوې ده، هغه درې صفات دا دي: چاته چې د اسلام هدايت او رڼا حاصله شي، الله ﷻ د هغه سينه د دين اسلام لپاره خلاصه کړي، دا يې تر ټولو لومړی قبول کړو، بيا يې په دې عمل هم وکړو دويم صفت د اندازې مطابق ورته رزق ورکړی شو، په کوم چې دده ګزاره کېږي او په دې باندې راضي هم شي، ددې د جمع کولو حرص يې په زړه کې نه وي، دريم صفت دا دی چې "وقنعه الله بما آتاه" هرڅه چې الله ﷻ ورکړي دي په دې باندې قناعت او صبر وکړي، د چا نه ګيلې مانې نه کوي، لکه څرنګه چې مولانا روم رحمه الله فرمايي:

کوزه چشم حريصان پر نه شد ...... تا صدف قانع نه شد پر در نه شد

د حريصانو سترګې کله هم نه مړېږي او صدف چې ترڅو قناعت اختيار نه کړي، يعنې ترڅو چې يې د حرص خوله بنده کړې نه وي تر هغې پکې ملغلرې نه جوړېږي.

د حديث نه سبق:

په دې حديث کې د دين اسلام په څېر لوی نعمت نه وروسته د قناعت سبق بيانېږي، په انسان

کې چې تر څو پورې قناعت نه وي، تر هغې به د آخرت پوره تياري نه شي کولی او کله چې هم په انسان کې دغه ماده پيدا شوه، نو که خير وي کار به وشو.

د مسلمان لپاره زېــــری

"وعن أبي محمدٍ فضالة بن عبيدٍ الأنصاريّ ﷺ: أنه سمع رسول الله ﷺ يقول: طُوبَى لِمَنْ هُدِيَ لِلْإِسْلَامِ" د ابو محمد فضاله بن عبيد انصاري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: ډېر زيات خوش قسمته دی هغه سړی چې اسلام ته يې راوړو. "وَكَانَ عَيْشُهُ كَفَافاً وَقَنِعَ" او د ضرورت مطابق رزق ورته ورکړی شو او بيا الله ﷻ په دې باندې قناعت هم ورکړو، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

لغوي تحقيق:

طوبى: خوشحالي ده، زېری دی، سعادتمندي ده، غوره والي دی، داسې نور ګڼ شمېر معناګانې يې دي

تشريح طوبى دوه معناګانې لري: اول دا چې دا د يو جنت نوم دی، يا په جنت کې د يوې ونې نوم دی، دويم دا چې د طوبى معنی ده: مبارکي او زېری ورکول. دلته دواړه معناګانې مراد کېدی شي. د حديث مطلب دا دی چې هغه کس ډېر زيات د زېري او مبارکي لايق دی چې د دين اسلام په څېر لوی دولت ورته حاصل شي، د اندازې په مقدار ورته رزق ورکړی شي، بيا په دې قناعت او صبر وکړي، د هغه په دې خبره پوره باور او يقين وي چې رزق د الله ﷻ په لاس کې دی، نو کوم څه چې ورسره دي په دې باندې دې شکر ادا کړي.

په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: متقي جوړ شه! تر ټولو زيات عبادت ګزار به جوړ شې، په کم نه کم مقدار باندې قناعت اختيار کړه! نو تر ټولو زيات شکر ګزار بنده به جوړ شې او به يو بل حديث کې دي چې په آخرت کې به داسې يو کس نه وي، چې د دې خبرې ارمان به نه کوي برابره خبره ده چې مالدار وي او که غريب وي؛ چې په دنيا کې زما سره صرف دومره رزق وای چې ګزاره مې پرې کولی او بس!

د راوي فضاله بن عبيد ﷺ حالات:

اصلي نوم يې فضاله ﷺ دی، کنيت يې ابو محمد دی، د پلار نوم يې عبيد بن نافذ او د مور نوم يې عقبه بنت محمد بن عقبه وه، مدينې منورې ته د هجرت سره سم مسلمان شو، د بدر جهاد نه پرته نور يې په ټولو جهادونو کې شرکت کړی دی، په بيعت رضوان کې ورته د شرکت کولو شرافت هم حاصل دی، د نبي کريم ﷺ د وفات نه وروسته يې شام ته هجرت وکړو، هلته يې خان ته ځپله يا ورته امير معاويه ﷺ کور جوړ کړو، ابو درداء ﷺ د دمشق قاضي وو، د وفات څخه يې يو څو ورځې وړاندې وصيت وکړو چې زما څخه وروسته به فضاله بن عبيد ﷺ امير تاکئ، خلک به ورته د لرې څخه د حديث

اوربدلو لپاره راتلل، يو كس د حديث اوريدو لپاره چې كيښستلو، هغه وليدل چې ببر وېښتان او په پښو بې څپلې نشته، په تعجب سره يې پوښتنه وكړه چې صيب! تاسو خو ددې ښار قاضي يې او دا حالت مو دى؟ وې فرمايل مونږ رسول الله ﷺ د ډېرې اسانۍ، خوند او مزو څخه منع كړي يو، و كله كله بغير له څپليو اوسېدو حكم يې هم راته فرمايلى دى.

وفات په درې پنځوسمه هجري كې د امير معاويه ﷛ په دور خلافت كې وفات شو، په دمشق كې يې قبر دى، پنځوس حديثونه ترې روايت شوي دي، په صحيح مسلم كې ترې دوه حديثونه نقل دي

نبي كريم ﷺ څو څو شپې په لوږه تيرې كړې دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: كَانَ رسول الله ﷺ يَبِيتُ اللَّيَالِي الْمُتَتَابِعَةَ طَاوِياً، وَأَهْلُهُ لاَ يَجِدُونَ عَشَاءً" د عبد الله بن عباس ﷛ نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ كورنى ته د شپې د خوراك لپاره هيڅ نه ملاوېدل او په دغسې حالت كې به يې څو څو شپې په لوږه تېرولې، "وَكَانَ أكْثَرُ خُبْزِهِمْ خُبْزَ الشَّعِيرِ" او عام خوراك به يې د وربشو ډوډۍ وه، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

لغوي تحقيق:

طاوياً: "طوي يطوي" باب ضرب يضرب دى، "طيا الثوب" كېږه راتاوول

تشريح "يبيت الليالي المتتابعة طاوياً" څو څو شپې به يې په لوږه تېرولې. دا د رسول الله ﷺ د ژوندانه يوه واقعه نه ده، بلكې د شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله په قول په سوونو داسې واقعې پيښې شوي دي، په شمائل ترمذي رحمه الله كې د عايشې ﷝ نه روايت دى هغه فرمايي چې كله زه په مړه خېټه ډوډۍ وخورم نو زما زړه بې اختياره ژړا شروع كړي، بيا زه هم په ژړا شم، چا عرض وكړو چې په څه خبره ژړا كوئ؟ هغه وفرمايل: ماته د رسول الله ﷺ زمانه رايادېږي چې د غوښې يا ډوډۍ سره يې كله هم تر وفاته پورې دوه ځله مسلسل په مړه خېټه ځان نه دى موړ كړى، په يو بل روايت كې دي چې يو ځل فاطمې ﷝ ډوډۍ پخه كړه، يوه ټكړه يې د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضره كړه، نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا څه دي؟ فاطمې ﷝ ورته وفرمايل: يا رسول الله ﷺ نن ما ډوډۍ پخه كړې ده، زما زړه نه غوښتل چې زه دې ډوډۍ وخورم او تاسو به وږي ناست يئ، نبي كريم ﷺ وفرمايل په درې ورځو كې ايله نن داسې يوه مړۍ ستا د پلار خولې ته داخلېږي

ځينې صحابه كرام ﷿ به د لوږې نه په لمانځه كې پرېوتول

"وعن فَضَالَةَ بن عبيدٍ ﷛: أنَّ رسول الله ﷺ كَانَ إِذَا صَلَّى بِالنَّاسِ، يَخِرُّ رِجَالٌ مِنْ قَامَتِهِمْ فِي الصَّلاَةِ مِنَ الخَصَاصَةِ" د فضالة بن عبيد ﷛ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به كله جمع وركول، نو ځينې ملګري به يې د لوږې په وجه راپرېوتل، "وَهُمْ أَصْحَابُ الصُّفَّةِ" او دا به اصحاب صفه يعنې د صفې صحابه كرام وو، "حَتَّى يَقُولَ الأَعْرَابُ: هؤُلاَءِ مَجَانِينٌ" ترڅو چې بانډې والا خلكو به ويل: دا ليوني دي، "فَإِذَا صَلَّى رسول الله ﷺ انْصَرَفَ إِلَيْهِمْ" كله چې به رسول الله ﷺ لمونځ ختم كړو، نو دوى ته به يې مخ مبارك راواړولو، "فَقَالَ: لَوْ

تَعْلَمُونَ مَا لَكُمْ عِنْدَ اللهِ تَعَالَى، لَأَحْبَبْتُمْ أَنْ تَزْدَادُوا فَاقَةً وَحَاجَةً" وبه يې فرمايل كه چيرته تاسو په دې پوه شئ چې ستاسو سره د الله ﷻ كوم كوم نعمتونه او مزې دي، نو تاسو به خواهش ولرئ چې زموږ لوږه او حاجت دې نور هم زيات شي "رواه الترمذي، وقال: حديث صحيح".

"الخَصَاصَةُ: الفَاقَةُ وَالجُوعُ الشَّدِيدُ" الخصاصة سختې لوږې ته وايي

تشريح "هؤلاء مجانين": دا ټول ليوني دي، په حديث کې د اصحاب صفه حال بيانيږي چې د دوی فقيري او غريبی حالت به وو، د لوږې د وجې به په ځمکه راپرېوتل، خو خلکو به ورباندې د ليونتوب گومان کولو

علامه نووي رحمه الله فرمايي:

اصحاب صفه هغه بې وطنه، بې سرسامان او غريب خلك وو، د ټولې دنيا ځخه راغلي خلك وو، د رسول الله ﷺ جومات يې خاته د اوسېدو ځاى ټاکلى ؤ، د جومات يو طرف ته يې خاته يوه چبوتره/ برنده جوړه کړې وه چې د جومات نه خاته حصه وه، په دې باندې به يې د سيوري لپاره د پاسه لرگي اچولي وو، شپه ورځ به يې په دې کې تېرول، ابراهيم حربي رحمه الله او قاضي عياض رحمه الله همدغسې فرمايلي دي، د اصحاب صفه شمار كله كم او كله زياتېدو، کله به تر اويا پورې شو، کله به تر څلور سوه پورې شو، لکه څرنگه چې علامه قرطبي رحمه الله د سورت نور په تفسير کې ددې ذکر کړی دی او د تفسير کشاف په سورت آل عمران کې ددې آيت لاندې "للفقراء الذين أحصروا في سبيل الله" تفسير کې ليکي د دوی شمار به کله زيات شو، په دې وجه چې د بهر نه به ورته نور صحابه کرام راغلل او کله به کم شول، په دې وجه چې يا خو به په جهاد کې شهيدان شول يا به په سفر روان شول او يا به يې ودونه وکړل

"لو تعلمون مالكم عند الله تعالى لأحببتم أن تزدادوا فاقة وحاجة" د الله ﷻ په نزد تاسو ته چې كوم مقام تيار دی که په دې باندې تاسو پوه شوئ، نو تاسو به نور هم وغواړئ چې زموږ لوږه او فقيري دې زياته شي، فقيري او غريبي ډېر لوی نعمت دی، که څوك په دې پوهيږي بايد قدر يې وکړي، په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ يو ځل عايشه رضي الله عنها مخاطبه کړه، ورته يې وفرمايل: عائشې رضي الله عنها د مسكينانو سره مينه ساته او ځان د هغوی سره د ناستې ولاړې پابنده کړه! ځکه چې په دې شان سره به دې الله ﷻ د ځان سره نږدې کړي، په يو بل روايت کې دي چې غريبان به د قيامت په ورځ د مالدارو خلکو نه پنځه سوه كاله وړاندې جنت ته داخليږي

په شريعت کې په مړه خېټه خوراك مستحسن نه دی

"وعن أبي كريمة المقدام بن معديكرب رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ، يقول: مَا مَلأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ" د ابو کريمه مقداد بن معديکرب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: انسان د شر په لوښو کې د خېټې نه زيات شري لوښی به نه دی ډك کړی، "بِحَسْبِ ابنِ آدَمَ أُكُلاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ" د انسان لپاره يو څو مړې کافي دي چې په دې سره يې ملا سيده شي، "فَإنْ كَانَ لاَ مَحَالَةَ فَثُلُثٌ لِطَعَامِهِ، وَثُلُثٌ لِشَرَابِهِ، وَثُلُثٌ لِنَفَسِهِ

"که ډېر نه منع کېږي، نو بايد چې خېټه درې حصې کړي، يوه حصه د ډوډۍ لپاره کړي، يوه حصه د اوبو لپاره کړي او يوه حصه د ساه اخيستلو لپاره پرېږدي، "رواه الترمذي، وقال: ((حديث حسن)). ((أَكَلاَتٌ))

أي:لُقَمٌ" د اکلات معنى ده: مړۍ.

لغوي تحقيق:

وعاء: "الوعاء، والوعاء": لوښی.

تشريح "ما ملاء آدمي وعاءً شراً من بطن بحسب ابن آدم": د انسان ډکه خېټه له ډك لوښي نه زياته بده

ده، په دې حديث کې د خېټې تشبيه د لوښي سره ورکول شوې ده، په کوم کې چې خلك څه شی

ښکاري، په دې خېټه کې خلك ډوډۍ ږدي، په دې خېټه کې دومره خوراك اېښودل پکار دي چې بدن

ږدي، دغه ډول په خېټه کې خلك ډوډۍ ږدي، کې د ضرورت څخه بغير زياته ډکه کړی شي، نو ددې اصلي مقصد به ختم شي،

ته پرې طاقت ورسيږي، که د ضرورت څخه بغير زياته ډکه کړی شي، نو ددې اصلي مقصد به ختم شي،

يا به ددې په وجه داسې بد عملي او ګناهونه ترسره کړي چې دين او دنيا دواړو ته به يې پکې نقصان

وي، په دې اعتبار د خېټې تشبيه د لوښي سره ورکول شوې ده.

علامه طيبي رحمه الله د مشکاة په شرحه کې ليکلي: واجبه ده دا خبره چې خېټه د حد نه زياته ډکه

نه کړي، کوم کس چې د ډېر خوراك شوقي وي، هغه ته پکار دي چې خوراك درې حصې کړي: يوه حصه

د خوراك لپاره، بله حصه د اوبو لپاره او دريمه حصه د ساه اخيستلو لپاره بايد وساتي، امام غزالي

رحمه الله فرمايي: کوم کس چې په دنيا کې د خوراك اندازه کمه ساتي، ددې په وجه الله تعالی په پرښتو

باندې فخر کوي او فرمايي: کومه مړۍ چې کمه کړي، ددې په بدله کې به ورته زه په جنت کې درجې

ورکوم

ساده توب ايمان دی

"وعن أبي أُمَامَةَ إياسِ بن ثعلبةَ الأنصاريِّ الحارثي رضي الله عنه، قَالَ: ذَكَرَ أصْحَابُ رسول الله ﷺ يوماً عِنْدَهُ الدُّنْيَا" د ابو امامه

رضي الله عنه بن ثعلبه انصاري حارثي نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ د نبي کريم ﷺ صحابه کرامو د

دنيا په باره کې خبرې وکړې، "فَقَالَ رسول الله ﷺ: ألاَ تَسْمَعُونَ؟ ألاَ تَسْمَعُونَ؟ إنَّ البَذَاذَةَ مِنَ الإيمَانِ، إنَّ البَذَاذَةَ مِنَ

الإيمَانِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو نه اورئ؟ ايا تاسو نه اورئ؟ چې سادګي د ايمان يوه حصه ده،

سادګي د ايمان يوه حصه ده، "يعني: التَّقَحُّلَ" اهل لغت وايي: متقحل هغه سړي ته وايي چې د تنګۍ

ژوند تېروي او د سادګۍ په وجه يې څرمن وچه شوې وي. رواهُ أبو داود

"البَذَاذَةُ - بالباءِ الموحدةِ والذالين المعجمتين - وَهِيَ رَثَاثَةُ الهَيئَةِ وَتَرْكُ فَاخِرِ اللِّبَاسِ" (البذاذة: قيمتي، د فخر او

غرور لباس پرېښودل او سادګي اختيارول، "وَأمَّا ((التَّقَحُّلُ)) فبالقافِ والحاءِ: قَالَ أهْلُ اللُّغَةِ: المُتَقَحِّلُ هُوَ الرَّجُلُ

اليَابِسُ الجِلْدِ مِنْ خُشُونَةِ العَيْشِ وَتَرْكِ التَّرَفُّهِ" متقحل هغه سړي ته وايي چې د تنګۍ ژوند تېروي او د سادګۍ له

وجې يې څرمن وچه شوې وي.

لغوي تحقيق: البذاذة: "بذاذة وبذاذة" ددې معنى ده: بد حاله، ساده توب.

تشريح "ألاتسمعون؟" رسول الله ﷺ دغه جمله څو څله تکرار کړه، ددې نه مقصد دا دی چې خپل پوره په توجه سره واوري، "ان البذاذة من الايمان" ساده توب د ايمان حصه ده، مطلب دا چې انسان ته پکار ده هره معامله په ساده توب سره سر ته ورسوي، ځومره چې د دنيوي تکلفاتو څخه ځان ساتي دومره به زيات له رنګينيو نه انسان غافله کيږي.

خو ددې دا مطلب هم نه دی چې انسان دې صفايي هم نه کوي، ځکه چې صفايي په شريعت کې مطلوب ده، صفايي نيم ايمان دی، انسان چې د شريعت په چوکاټ کې اوسيږي، د دنيوي نعمتونو څخه به فايده اخلي، خو که د دنيا په خوندونو کې راګېر شو او آخرت ترې پاتې شو، نو بيا دا سې کس به نقصان کې دی او شريعت بيا ددې اجازه هم نه ورکوي

د عنبر ماهي کيسه

"وعن أبي عبدالله جابر بن عبدالله رضي الله عنهما، قال: بعثنا رسول الله ﷺ وأمّر علينا أبا عبيدة ﷺ نتلقى عيرًا لقريش" د ابو عبد الله جابر بن عبد الله ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې په موږ باندې رسول الله ﷺ ابوعبيده مشر کړو، ددې لپاره چې د قريشو د يوې قافلې مخه ونيسو او دا کار ناڅاپه شوی وو.
"وزوّدنا جرابًا من تمر لم يجد لنا غيره، فكان أبو عبيدة يعطينا تمرة تمرة" موږ د ځانونو سره د خوراك لپاره د خورما خلتې نه بغير هيڅ راخيستلي نه وو او ابو عبيده ﷺ به موږ ته د خوراك لپاره يوه يوه خورما راکول. "فقيل: كيف كنتم تصنعون بها؟ قال: نمصّها كما يمصّ الصبي، ثمّ نشرب عليها من الماء، فتكفينا يومنا إلى الليل" چا پوښتنه وکړه چې په هغې به مو څه کول؟ هغوی ورته وفرمايل: موږ به هغه ژوول، لکه څنګه چې ماشوم خورما ژويي او د پاسه به مو پرې اوبه څښلې چې تر شپې پورې به مو ګزاره کول، "وكنّا نضرب بعصيّنا الخبط، ثمّ نبلّه بالماء فنأكله" ددې سره سره به موږ په خپلو امساګانو باندې د ونو پاڼې وهلې او په اوبو کې به موږ خيشتې کړې او بيا به مو خوړلې. "قال: وانطلقنا على ساحل البحر، فرفع لنا على ساحل البحر كهيئة الكثيب الضخم، فأتيناه فإذا هي دابّة تدعى العنبر" بيا يې وفرمايل: موږ د يو درياب په غاړه روان شو، هلته د سمندر په غاړه موږ د شګې د يوې غونډۍ غونډې څيز وليدو، موږ چې نږدې ورغلو، نو موږ وليدل چې يو د بر غټ ماهي وو چې هغې ته عنبر ويلی شي، "فقال أبو عبيدة: ميتة، ثمّ قال: لا، بل نحن رسل رسول الله ﷺ وفي سبيل الله وقد اضطررتم فكلوا" نو ابو عبيده ﷺ وويل: دا خو مردار وو، بيا يې وفرمايل: نه! بلکې موږ د الله ﷻ د رسول نمائندګان: الله ﷻ په لار کې راوتلي يو او تاسو مجبور يئ! د مجبورۍ په حالت کې يئ، لهذا تاسو ترې خوراك وکړئ! "فأقمنا عليه شهرًا، ونحن ثلاثمئة حتّى سمنّا" ددې نه وروسته هلته موږ يوه مياشت پاتې شو او موږ درې سوه/ ۳۰۰ کسان وو، "ولقد رأيتنا نغترف من وقب عينه بالقلال الدهن، ونقطع منه الفدر كالثور أو كقدر الثور" او موږ وليدل چې د هغه ماهي د سترګو د خالي ډوغل نه به مو د تيلو مشکونه ډکول او د غوائي د غوښې د غټو ډکرو غونډې ټوټې يا د غوايي د بدن هومره ټکرې به مو کټ کولې او جدا به مو کېښودلې، "ولقد أخذ منّا أبو عبيدة ثلاثة عشر رجلًا فأقعدهم في وقب عينه وأخذ ضلعًا من أضلاعه فأقامها ثمّ رحل أعظم بعير معنا فمرّ من تحتها وتزوّدنا من

لَحْمِهِ وَشَائِقَ" يو ځل ابو عبيده ﷺ زموږ نه ديرش (۳۰) کسان واخيستل او هغه ټول يې د سترګې په
دوغل کې کېنول او د هغه ماهي د پوښتيو نه يې يوه پوښتۍ وويستل او د محراب په شان يې ودرول
او محراب يې ترې جوړ کړو، زموږ سره چې کوم اوښان وو، په هغې کې يې د ټولو نه اوچت اوښ روان
کړو او په هغه يې کجاوه وتړل او د هغه د پوښتۍ نه يې لاندې تېر کړو، نو په آسانۍ سره ترې ووتلو
چې واپس راتلو، نو د هغه ماهي وريت شوې غوښه مو د ځانونو سره په لارې د خوراک لپاره
راواخيستل، "فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ أَتَيْنَا رسول الله ﷺ فَذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: هُوَ رِزْقٌ أَخْرَجَهُ اللهُ لَكُمْ" کله چې موږ مدينې
منورې ته راغلو، نو د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، موږ ټوله کيسه ورته بيان کړه، نبي کريم
ﷺ وفرمايل: دا رزق وو چې الله ستاسو لپاره مقرر کړی وو، "فَهَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ فَتُطْعِمُونَا؟" بيا نبي
کريم ﷺ وفرمايل: ايا ستاسو سره د هغې څه غوښه پاتې ده چې موږ يې هم وخورو؟ "فَأَرْسَلْنَا إِلَى رسول الله
ﷺ مِنْهُ فَأَكَلَهُ" بيا موږ نبي کريم ﷺ ته د هغې نه څه حصه ورولېږل، نو هغه يې وخوړل. رواه مسلم

"الْجِرَابُ: وِعَاءٌ مِنْ جِلْدٍ مَعْرُوفٌ، وَهُوَ بِكَسْرِ الْجِيمِ وَفَتْحِهَا وَالْكَسْرُ أَفْصَحُ" (دا قول چې (جراب) د څرمنې لوښي ته
وايي، "قَوْلُهُ: ((نَمَصُّهَا)) بِفَتْحِ الْمِيمِ" د (نمصها) معنی ده: موږ به ژوولې، "وَ((الْخَبَطُ)): وَرَقُ شَجَرٍ مَعْرُوفٍ تَأْكُلُهُ
الْإِبِلُ" (الخبط) دا يو مشهور بوټی دی چې اوښان يې خوري، "وَ((الْكَثِيبُ)): التَّلُّ مِنَ الرَّمْلِ" د شګو ډېرۍ.
"وَ((الْوَقْبُ)): بِفَتْحِ الْوَاوِ وَإِسْكَانِ الْقَافِ وَبَعْدَهَا بَاءٌ مُوَحَّدَةٌ وَهُوَ نُقْرَةُ الْعَيْنِ" د سترګو خالي ډوغل ته وايي. "وَ((الْقِلَالُ)):
الْجِرَارُ" مشکيزه، "وَ((الْفِدَرُ)) بِكَسْرِ الْفَاءِ وَفَتْحِ الدَّالِ: الْقِطَعُ" ټکړې ټکړې (ګړې) حصې، "رَحَلَ الْبَعِيرَ: بِتَخْفِيفِ الْحَاءِ:
أَيْ جَعَلَ عَلَيْهِ الرَّحْلَ" په اوښ باندې تړل شوې کجاوه، "الْوَشَائِقُ: بِالشِّينِ الْمُعْجَمَةِ وَالْقَافِ: اللَّحْمُ الَّذِي اقْتُطِعَ لِيُقَدَّدَ مِنْهُ،
وَاللهُ أَعْلَمُ" د غوښې هغه ټکړې چې د پخولو لپاره کټ کړې شوې وي، نور الله ﷻ د بر ښه پوهيږي.

تشريح: "بعثنا رسول الله ﷺ": رسول الله ﷺ زموږ تشکيل يو طرفته وکړو، دا د صلحه حديبيه نه
وړاندې خبره ده، په دې کې د صحابه کرامو ﷺ امتحان مقصود وو، کوم چې په دغه امتحان کې دوی
کامياب شول.

"نمصها كما يمص الصبي": موږ به هغه خورما داسې ژوول، لکه څرنګه چې يو ماشوم تی روي، په
دې جمله کې صحابه کرامو ته د الله ﷻ له لورې د مرستې ذکر دی چې صرف په يوه خورما به يې
ځلوريښت ساعته ګزاره کول، په دې کې د صحابه کرامو ﷺ د فقيرۍ او غريبۍ تذکره هم ده او بل د
دوی د صبر يوه مثالي نمونه هم وړاندې کيږي.

"الخبط": پاڼو ته وايي، يعنې هغه پاڼې چې په ډنډه، لښته وغيره د ونې نه راوشکول شي، ددې
لښکر نوم جيش الخبط هم دی، ځکه چې په دې سفر کې صحابه کرامو ﷺ د ونو پاڼې خوړلې وې.
"تدعى العنبر" هغه ماهي ته يې
ترډې چې د صحابه کرامو خولې او شونډې د پاڼو په وجه زخمي شوې وې،
عنبر ويلو، د عنبر اصلي معنی ده: خوشبو، دا يو خاص ماهی دی، ددې د څرمنې څخه ډال جوړلی شي

يو ماهي يې پوره مياشت وخوړلو:

"فأقمنا عليه شهراً": هلته موږ پوره يوه مياشت تېره کړه، په حديث کې د يوې مياشتې ذکر دی او په نورو رواياتو کې د اتلسو ورځو ذکر دی او په څينو نورو کې د پنځلسو ورځو ذکر دی، ددې په مينځ کې تطبيق داسې دی چې ددې ماهي نه ټول لښکر پوره پنځلس ورځې خوراك وکړو، ددې وروسته يا څه کسانو اتلس ورځې او څينو پوره يوه مياشت ترې خوراك وکړو، په دې جمله کې د صحابه کرامو ﷺ د کرامت ذکر هم دی، درې سوه کسانو يوه مياشت خوراك وکړو، ليکن ختم نه شو

د رسول الله ﷺ د لستونو اوږد والی

"وعن أسماء بنتِ يزيد رضي اللّـه عنها، قالت: كَانَ كُمُّ قَمِيصِ رسولِ اللّـه ﷺ إِلَى الرُّصْغِ" د اسماء بنت يزيد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ د کمیس لستوڼي به د لاس تر مړوند پورې وو. "رواه أبوداود والترمذي، وقال: ((حديث حسن)). ((الرُّصْغُ)) بالصادِ والرُّسْغُ بالسين أيضاً: هُوَ المَفْصِلُ بَيْنَ الكَفِّ والسَّاعِدِ" رصغ د تلي او د مړوند مينځني هډوکي ته وايي.

تشريح: "كان كُمُّ قميص رسول الله ﷺ الی الرصغ": د رسول الله ﷺ د کميس لستوڼي به د لاس تر مړوند پورې رسېدلو، په څينو نورو رواياتو کې راځي چې د رسول الله ﷺ د کرتې لستوڼي به د لاس د ګوتو تر سرونو پورې رسېدلو، ليکن داسې به کم وو، اکثر وخت به د لاس تر مړوند پورې وو

خلاصه دا چې د ضرورت نه زياته اوږده جامه عام طور د تکبر علامه ده، بل دا چې اوږدو جامو سره کار او روزګار هم په سمه طريقه نه کېږي، د ضرورت نه زياته کمه جامه هم د يخنۍ او ګرمۍ شدت نه منع کوي او د تکليف باعث وي، نو ځکه شريعت په هر ځای کې د ميانه روۍ خپلولو ترغيب ورکړی دی.

د راوي اسماء بنت يزيد ﷺ حالات:

اصلي نوم يې اسماء ﷺ ده، ام سلمه يې کنيت دی، پوره نسب يې اسماء بنت يزيد بن سکن بن رافع دی، د هجرت نه وروسته د يو څو نورو ښځو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او اسلام يې راوړو، په اولنۍ هجرۍ چې کله د عائشې ﷺ واده کېدلو، کومو ښځو چې جوړه کړې وه، ډول او سنګار يې ورته تيار کړی ؤ، په هغو ښځو کې اسماء ﷺ هم شريکه وه، په پنځلسمه هجري کې يې د يرموك په جهاد کې د خپلې خيمې لرګی راوويستلو او پوره نهه روميان يې پرې مردار کړل، علامه ابن حجر ﷫ ددې په باره کې فرمايي: "كانت ذات العقل والدين" هغه د عقل او دين په صفتونو سره متصفه وه، د رسول الله ﷺ خدمت به يې کولو

ډېره زياته مهمان نوازه صحابيه ﷺ وه، يو ځل ورته شهر بن حوشب ﷫ مېلمه شو، هغې ورته ډوډۍ کېښوده، شهر بن حوشب ﷫ د خوراك نه انکار وکړو، هغې ورته د رسول الله ﷺ حديث واورولو چې انکار مناسب نه دی، په دې باندې شهر بن حوشب ﷫ ووېل: بيا به داسې غلطي نه کوم، د وفات د تاريخ په اړه يې اسماء الرجال کتابونه خاموش دي، يو اتيا / ۸۱ حديثونه ترې نقل دي.

د خندق په جنګ کې د جابر ؓ مېلمستيا

"وعن جابر ؓ قَالَ: إِنَّا كُنَّا يَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْفِرُ، فَعَرَضَتْ كُدْيَةٌ شَدِيدَةٌ، فَجَاؤُوا إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالُوا: هٰذِهِ كُدْيَةٌ عَرَضَتْ فِي الْخَنْدَقِ" د جابر ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې په غزوه خندق کې موږ کنده کنستل چې ناڅاپه يو سخت غټ کانی پکې راووتلو، صحابه کرام ؓ نبي کريم ﷺ ته راغلل، ورته يې وويل: يا رسول الله ﷺ! يو غټ کانی راووتلو چې نه ماتيږي، "فَقَالَ: ((أَنَا نَازِلٌ)) ثُمَّ قَامَ، وَبَطْنُهُ مَعْصُوبٌ بِحَجَرٍ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه درځم، بيا پاڅېدو، په خېټه يې کانی تړلی وو، "وَلَبِثْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لَا نَذُوقُ ذَوَاقًا فَأَخَذَ النَّبِيُّ ﷺ الْمِعْوَلَ، فَضَرَبَ فَعَادَ كَثِيبًا أَهْيَلَ أَوْ أَهْيَمَ" موږ هلته درې ورځې ايسار وو، زموږ دا حالت وو چې په دې درې ورځو کې هيڅ مو نه وو خوړلي، نبي کريم ﷺ کوداله (بېلك) راواخيستلو او هغه کانی يې پرې ووهلو، هغه کانی ريزه ريزه شو او د شګو په شان د برې ترې جوړ شول، "فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، ائْذَنْ لِي إِلَى الْبَيْتِ، فَقُلْتُ لِامْرَأَتِي: رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ ﷺ شَيْئًا مَا فِي ذٰلِكَ صَبْرٌ فَعِنْدَكِ شَيْءٌ؟" نو ما وويل: يارسول الله ﷺ! ماته اجازت راکړئ چې کور ته لاړ شم، کور ته چې ورسېدم، نو خپلې ښځې ته مې وويل: ما نبي کريم ﷺ په داسې حالت کې وليدو چې د صبر او برداشت نه خبره وتلې ده، که په کور کې د خوراك څه شی وي ماته يې راکړه! "فَقَالَتْ: عِنْدِي شَعِيرٌ وَعَنَاقٌ، فَذَبَحْتُ الْعَنَاقَ وَطَحَنْتُ الشَّعِيرَ حَتّٰى جَعَلْنَا اللَّحْمَ فِي الْبُرْمَةِ" نو هغې وويل: لږې وربشې شته او د چېلۍ بچی دی، ما هغه د وزې چېلی حلال کړو او وربشې مې اوړه کړې او غوښه مې په دېګ کې د پخېدو لپاره کېښودې، "ثُمَّ جِئْتُ النَّبِيَّ ﷺ، وَالْعَجِينُ قَدِ انْكَسَرَ، وَالْبُرْمَةُ بَيْنَ الْأَثَافِيِّ قَدْ كَادَتْ تَنْضَجُ" کله چې اوړه د پخلي قابل شول او دېګ هم پخېدو ته نژدې شو، نو د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، "فَقُلْتُ: طُعَيِّمٌ لِي، فَقُمْ أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ وَرَجُلٌ أَوْ رَجُلَانِ" نو ما عرض وکړو چې: يا رسول الله ﷺ! ما لږ غوندې خوراك تيار کړی دی نو که تاسو راشئ او ستاسو سره يو کس دوه نور هم وي، "قَالَ: ((كَمْ هُوَ)) ؟ فَذَكَرْتُ لَهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: څومره خوراکه به وي؟ ما ورته اندازه بيان کړه چې دومره خوراکه به وي، "فَقَالَ: كَثِيرٌ طَيِّبٌ قُلْ لَهَا لَا تَنْزِعِ الْبُرْمَةَ، وَلَا الْخُبْزَ مِنَ التَّنُّورِ حَتّٰى آتِيَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ډېره ده، عمده ده او ښه خوراك هم دی، بيا يې وفرمايل: لاړ شه! او مېرمنې ته دې ووايه چې تر څو زه نه يم درغلی د دېګ څخه ترکاري مه را اخله او د تنور نه ډوډۍ مه راخله! "فَقَالَ: ((قُومُوا))، فَقَامَ الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ، فَدَخَلْتُ عَلَيْهَا فَقُلْتُ: وَيْحَكِ قَدْ جَاءَ النَّبِيُّ ﷺ وَالْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ وَمَنْ مَعَهُمْ!" نبي کريم ﷺ ټولو ته دعوت ورکړو، ټول انصار او مهاجر صحابه د نبي کريم ﷺ سره را روان شول، ما خپلې مېرمنې ته وويل: الله ﷻ دې خير کړي، ټول انصار او مهاجر صحابه کرام ؓ د نبي کريم ﷺ سره را روان دي. "قَالَتْ: هَلْ سَأَلَكَ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: ادْخُلُوا وَلَا تَضَاغَطُوا" هغې وويل: ستا نه نبي کريم ﷺ د خوراك په باره کې پوښتنه کړې وه، ما وويل: هو! خو نبي کريم ﷺ ټولو حاضرينو ته وويل: ټول راځئ، خو ګڼه به نه جوړوئ "فَجَعَلَ يَكْسِرُ الْخُبْزَ، وَيَجْعَلُ عَلَيْهِ اللَّحْمَ" بيا هغوی ډوډۍ ماتولې او د غوښې ټوټه به يې پرې اچول، "وَيُخَمِّرُ الْبُرْمَةَ وَالتَّنُّورَ إِذَا أَخَذَ مِنْهُ" چې د تنور نه به يې ډوډۍ او د دېګ نه به يې غوښه واچول، نو په دواړو به يې سر کېښودلو، "وَيُقَرِّبُ إِلَى أَصْحَابِهِ ثُمَّ يَنْزِعُ، فَلَمْ يَزَلْ يَكْسِرُ وَيَغْرِفُ

حَتَّى شَبِعُوا، وَبَقِيَ مِنْهُ" رسول الله ﷺ به بس هم داسې کول چې ډوډۍ به يې ټکړې کړه او غوښه به يې وربانديې کېښوده او په هغوی به يې خوړل، ترڅو چې صحابه کرام ﷺ ټول ښه ماړه شول او خوراک هم پاتې شو. "فَقَالَ: كُلِي هَذَا وَأَهْدِي، فَإِنَّ النَّاسَ أَصَابَتْهُمْ مَجَاعَةٌ" بيا يې وفرمايل اوس يې تاسو هم وخورئ او خلکو کره يې تحفه ولېږئ! ځکه چې عام خلک لوږې اخيستي دي. متفقٌ عَلَيه

"وفي رواية قَالَ جابر: لَمَّا حُفِرَ الْخَنْدَقُ رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ ﷺ خَمَصاً، فَانْكَفَأْتُ إِلَى امْرَأَتِي، فقلت: هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ؟ فَإِنِّي رَأَيْتُ بِرَسُولِ اللهِ ﷺ خَمَصاً شَدِيداً، فَأَخْرَجَتْ إِلَيَّ جِرَاباً فِيهِ صَاعٌ مِنْ شَعِيرٍ، وَلَنَا بُهَيْمَةٌ دَاجِنٌ فَذَبَحْتُهَا" په يو بل روايت کې داسې دي چې کله کنده وکندل شوه نو رسول الله ﷺ مې وليدو چې ډېرې سختې لوږې راخيستی دی، زه خپلې مېرمنې ته راغلم، ما ورته وويل: ستاسو سره څه شی شته؟ ځکه چې ما رسول الله ﷺ وليدو چې ډېرې سختې لوږې راخيستی دی، هغې د څرمنې يوه تېلۍ راوړه، په هغې کې يو صاع وربشې او زموږ په کور کې د ګډې يو ساتل شوی بچی وو، هغه مرغومی ما حلال کړو، "وَطَحَنَتِ الشَّعِيرَ" او وربشې مې اوړه کړې، "فَفَرَغَتْ إِلَى فَرَاغِي، وَقَطَّعْتُهَا فِي بُرْمَتِهَا، ثُمَّ وَلَّيْتُ إِلَى رسول الله ﷺ" د حلالي نه بس مې د غوښې ټوټې جوړې کړې او په دېګ کې مې واچولې، د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، "فقالت: لَا تَفْضَحْنِي بِرسول الله ﷺ وَمَنْ مَعَهُ" د تلو په وخت مېرمنې راته وويل ګوره! د رسول الله ﷺ او د هغه د ملګرو په مخ کې مې شرمنده نه کړې! "فَجِئْتُهُ فَسَارَرْتُهُ، فَقُلْتُ: يَا رسول الله، ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَنَا، وَطَحَنْتُ صَاعاً مِنْ شَعِيرٍ، فَتَعَالَ أَنْتَ وَنَفَرٌ مَعَكَ" نبي کريم ﷺ ته راغلم او پټ مې ورته وويل: يارسول الله ﷺ! يو د ګډې بچی مې حلال کړی دی او يو صاع وربشې مې اوړه کړې دي، تاسو راشئ او که ستاسو سره يو څو کسان وي، "فَصَاحَ رسول الله ﷺ فَقَالَ: يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ: إِنَّ جَابِراً قَدْ صَنَعَ سُوراً فَحَيَّهَلا بِكُمْ" نبي کريم ﷺ اعلان وکړو چې اې د خندق خلکو! جابر ﷺ تاسو ته مېلمستيا کړې ده، تاسو ټول لاړ شئ! "فَقَالَ النبي ﷺ: ((لَا تُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَا تَخْبِزُنَّ عَجِينَكُمْ حَتَّى أَجِيءَ)) فَجِئْتُ، وَجَاءَ النبي ﷺ يَقْدُمُ النَّاسَ، حَتَّى جِئْتُ امْرَأَتِي، فقالَتْ: بِكَ وَبِكَ!" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: زما تر راتلو پورې به دېګ نه د نغري نه ښکته کوئ او نه به د اوړو نه ډوډۍ پخوئ، زه کور ته راغلم او مېرمنې ته مې ټول حال بيان کړو چې رسول الله ﷺ د ملګرو سره را روان دی، ښځې راته وويل: اوس پرې شرمېږه! شرم خو ستا دی، "فَقُلْتُ: قَدْ فَعَلْتُ الَّذِي قُلْتِ" ما وويل: څنګه چې تا ويلي وو، هغسې ما هم کړي دي. "فَأَخْرَجْتُ عَجِيناً، فَبَسَقَ فِيهِ وَبَارَكَ، ثُمَّ عَمَدَ إِلَى بُرْمَتِنَا فَبَصَقَ وَبَارَكَ، ثُمَّ قَالَ: ادْعِي خَابِزَةً فَلْتَخْبِزْ مَعَكِ، وَاقْدَحِي مِنْ بُرْمَتِكُمْ، وَلَا تُنْزِلُوهَا وَهُمْ أَلْفٌ" کله چې مېرمنې اوړه د پخلي لپاره راوويستل، نو نبي کريم ﷺ پکې خپلې لاړې مبارکې شاملې کړې او د برکت لپاره يې دعاء وکړه، بيا يې په دېګ کې هم لاړې شاملې کړې او د برکت دعاء يې وکړه، بيا يې مېرمنې ته وفرمايل: د ډوډۍ پخولو لپاره د ځان سره بله ښځه هم کړه چې ډوډۍ درسره پخه کړي او د دېګ څخه ترکاري اچوي، خو خيال کوه ښوروا او ترکاري د دېګ نه اچوه خو د نغري څخه يې مه ښکته کوه او دوی ټول په دې وخت زر کسان وو، "فَأُقْسِمُ بِاللهِ لَأَكَلُوا حَتَّى تَرَكُوهُ وَانْحَرَفُوا، وَإِنَّ بُرْمَتَنَا لَتَغِطُّ كَمَا هِيَ، وَإِنَّ عَجِينَنَا لَيُخْبَزُ كَمَا هُوَ" جابر ﷺ قسم کوي چې په

الله ﷻ قسم! ټولو په مړه ګېډه خوراك وكړو او بيا هم پاتې شو او دوى ټول لاړل، لېكن كټوى هم جوش وهلو او دغسې ډوډۍ هم پخېدل

دغسې "قوله: ((عَرَضَتْ كُدْيَةٌ)) بضم الكاف وإسكان الدال وبالياء المثناة تحت، وهي قطعة غليظة صلبة من الأرض لا يعمل فيها الفأس" سخت كاڼى، چې پلك هم پرې اثر نه كوي، "وَ((الكَثِيبُ)) أَصْلُهُ تَلُّ الرَّمْلِ، وَالْمُرَادُ هُنَا: صَارَتْ تُرَاباً نَاعِماً، وَهُوَ

معنى: أَهْيَلَ" كثيب په لغت كې غونډۍ ته وايي، مګر دلته مراد دا دى چې دغه كاڼى د غونډۍ په شان

ؤ او هم دا معنى د اهيل هم ده، "وَ((الأَثَافِيُّ)): الأَحْجَارُ الَّتِي يَكُونُ عَلَيْهَا الْقِدْرُ، الاثاف" معنى يې ده نغرى،

"وَ((تَضَاغَطُوا)): تَزَاحَمُوا" ګڼه او رش مه جوړوئ! "وَ((الْمَجَاعَةُ)): الْجُوعُ، وَهُوَ بِفَتْحِ الْمِيمِ" لوږه، "وَ((الْخَمَصُ)): بفتح الخاء المعجمة والميم: الْجُوعُ" دا هم لوږې ته ويل كيږي، "وَ((انْكَفَأْتُ)): انْقَلَبْتُ وَرَجَعْتُ" واپس راتلل، "وَ((الْبُهَيْمَةُ)) بضم

الباء، تصغير بَهْمَة وَهِيَ: العَنَاقُ، بفتح العين" د ګډې بچى، "وَ((الدَّاجِنُ)): هِيَ الَّتِي أَلِفَتِ الْبَيْتَ" په كور كې ساتل شوى

څاروى، "وَ((السُّورُ)) الطَّعَامُ الَّذِي يُدْعَى النَّاسُ إِلَيْهِ، وَهُوَ بِالْفَارِسِيَّة" هغه ډوډۍ چې خلك ورته رابللى شي يعنې

مېلمستيا دا فارسي لفظ دى، "وَ((حَيَّهَلا)) أَيْ تَعَالَوْا" د «حيهلا» معنى ده: دلته راشئ! "وَقَوْلُهَا ((بِكَ وَبِكَ)) أَيْ

خَاصَمَتْهُ وَسَبَّتْهُ، لأَنَّهَا اعْتَقَدَتْ أَنَّ الَّذِي عِنْدَهَا لا يَكْفِيهِمْ، فَاسْتَحْيَتْ وَخَفِيَ عَلَيْهَا مَا أَكْرَمَ اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى بِهِ نَبِيَّهُ ﷺ مِنْ هَذِهِ الْمُعْجِزَة

الظَّاهِرَةِ وَالآيَةِ الْبَاهِرَةِ" د جابر ﷛ سره يې مېرمنې جګړه كول چې پښېمانتيا او ملامته كېدل يا سترګې

ښكته كېدل به ستا وي چې دا دومره لږ خوراك به دومره كسانو ته څنګه كافي شي؟ "بَسَقَ: أَيْ: بَصَقَ، وَيُقَالُ

أَيْضاً: بَزَقَ، ثَلاثُ"

لغوي تحقيق: د بسق او بصق او بزق يوه معنى ده يعنې لاړې، "وَعَمَدَ: بفتح الميم، أَيْ: قَصَدَ" د عمد

معنى ده: قصد او اراده كول، "وَاقْدَحِي: أَيْ: اغْرِفِي، وَالْمِقْدَحَةُ: الْمِغْرَفَةُ" اقدحي څمڅۍ او چمچه، "وَتَغِطُّ: أَيْ:

لِغَلَيَانِهَا صَوْتٌ، والله أعلم" د تغط معنى خوټ كېدل او جوش وهل

د خندق په جنګ كې د رسول الله ﷺ په خېټه كاڼي تړلي وو:

"وبطنه معصوب بحجر": د رسول الله ﷺ په خېټه مبارك كاڼي تړلي وو، كه د لوږې پرمهال په خېټه

كاڼي وتړل شي نو لوږه ورسره كمېږي، علامه بدرالدين عيني ﵀ د ابن حبان ﵀ نه نقل كړي دي

چې: دا لفظ په اصل كې معصوب بحجز دى، يعنې په (ز) سره دى، په داسې صورت كې به يې معنى داسې

شي: چې رسول الله ﷺ خپله ملا مباركه كلكه تړلې وه، كاڼي وريورې نه وو، ځكه چې د رسول الله ﷺ

خپله ارشاد دى: "إني أبيت يطعمني ربي ويسقيني" چې زما رب ماته خوراك هم راكوي او اوبه هم راكوي

ليكن دا خبره چې بحجز يعنې په (ز) سره ده، علامه كرماني ﵀ او حافظ ضياء الدين ﵀

رد كړې ده او فرمايلي يې دي چې اصل هم دغه ده يعنې په بحجر په (ر) سره ده، په خېټه يې كاڼي تړلي

وو، د حجازيانو عادت دا وو چې دوى به په خېټو پورې كاڼي تړلي وو، يو خو په دې سره لوږه كمېږي او

بل ورسره ملا هم لږه سيده شي.

"والعجين قد انكسر": اوړه مات شو، كله چې اوړه واغيږل شي او د لږ وخت لپاره كېښودل شي، نو بيا

خميره شي، پوره ته وخيژي او په دې کې درزونه او چاودې جوړ شي، ددې جملې مطلب هم دغه دی، مطلب دا چې دومره وخت تېر شوی وو چې په اوړو کې چودونه او درزونه جوړ شوي وو، "قالت هل سالك؟" سخوته ددې زياته تجربه وي چې دا خوراك او ډوډی به څومره کسانو ته کافي شي، سمدستي د هغه صحابي مېرمنې پوښتنه وکړه چې تاسو رسول الله ﷺ ته ويلي وو چې څومره ډوډی ده، صحابي ورته ويل هو ورته ويلي مې وو، نو بيا يې مېرمن مطمئن شوه، "ولنا بهيمة داجن فذبحتها" داجن لفظ باره کې علامه کرماني رحمه الله فرمايي: دا هغې چېلۍ ته وايي چې په کور کې ساتل شوې وي، څېرته ځر بدلې نه وي

د رسول الله ﷺ معجزه وه چې لږه ډوډی ډېرو کسانو وخوړل

"وعن أنس رضي الله عنه قَالَ: قَالَ أبو طَلْحَةَ لأُمِّ سُلَيمٍ: قَدْ سَمِعْتُ صَوْتَ رسولِ الله ﷺ ضَعِيفاً أعْرِفُ فِيهِ الجُوعَ، فَهَلْ عِنْدَكِ مِنْ شَيْءٍ؟ فَقَالَتْ: نَعَمْ، فَأخْرَجَتْ أقْرَاصاً مِنْ شَعِيرٍ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ ابو طلحه رضي الله عنه ام سليم رضي الله عنها ته وويل ماته د رسول الله ﷺ په آوازکې څه کمزوري معلومېږي، زما خيال دی چې هغه لوږې نيولی وي، ايا ستاسو سره د خوراك لپاره څه شته؟ هغې وويل: هو! شته بيا يې د ورېشو يو څو ډوډۍ راوويستلې، "ثُمَّ أخَذَتْ خِمَاراً لَهَا، فَلَفَّتِ الخُبْزَ بِبَعْضِهِ، ثُمَّ دَسَّتْهُ تَحْتَ ثَوْبِي وَرَدَّتْنِي بِبَعْضِهِ، ثُمَّ أرْسَلَتْنِي إِلَى رسولِ الله ﷺ فَذَهَبْتُ بِهِ، فَوَجَدْتُ رسولَ الله ﷺ جَالِساً فِي المَسْجِدِ، وَمَعَهُ النَّاسُ، فَقُمْتُ عَلَيْهِمْ" بيا يې په خپل ټادر کې هغه راونغاړلې او زما ترخ کې يې راکړې، د کېږې باقي حصه يې په ما باندې واچول، بيا يې زه رسول الله ﷺ ته روان کړم، نو زه لاړم د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، رسول الله ﷺ مې وليدلو چې په جومات کې د ملګرو سره ناست دی، نو زه هم د نبي کريم ﷺ په خدمت کې ودرېدم، "فَقَالَ لِي رسولُ الله ﷺ: ((أرْسَلَكَ أبُو طَلْحَةَ؟)) فقلت: نَعَمْ، فَقَالَ: ((أَلِطَعَامٍ؟)) فقلت: نَعَمْ، فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: ((قُومُوا)) فَانْطَلَقُوا وَانْطَلَقْتُ بَيْنَ أيْدِيهِمْ حَتَّى جِئْتُ أَبَا طَلْحَةَ فَأخْبَرْتُهُ" نبي کريم ﷺ بيا ماته وفرمايل: ابو طلحه رضي الله عنه رالېږلی يې؟ ما ورته وويل هو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: د ډوډی لپاره دعوت دی؟ ما ورته وويل: هو! بيا نبي کريم ﷺ خپلو ټولو ملګرو ته وفرمايل چې پورته شئ، دعوت ته ځو! هغوی ټول ورسره روان شول، زه د هغوی وړاندې وړاندې راروان شوم تردې چې ابو طلحه رضي الله عنه ته راغلم، ورته مې وويل: چې رسول الله ﷺ د ټولو ملګرو سره راوروان دی، "فَقَالَ أبُو طَلْحَةَ: يَا أُمَّ سُلَيمٍ، قَدْ جَاءَ رسولُ الله ﷺ بِالنَّاسِ وَلَيْسَ عِنْدَنَا مَا نُطْعِمُهُمْ؟ فَقَالَتْ: اللهُ وَرَسُولُهُ أعْلَمُ" ابو طلحه رضي الله عنه ام سليم رضي الله عنها ته وويل: رسول الله ﷺ تشريف راوړو او ورسره نور خلك هم دي او زموږ سره خو دومره څه نشته چې ددې ټولو مېلمستيا وکړو، اوس به څه کېږي؟ هغې وويل: الله ﷻ او د هغه پېغمبر ﷺ ډېر ښه پوهېږي، "فَانْطَلَقَ أبُو طَلْحَةَ حَتَّى لَقِيَ رسولَ الله ﷺ، فَأَقْبَلَ رسولُ الله ﷺ مَعَهُ حَتَّى دَخَلا، فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: ((هَلُمِّي مَا عِنْدَكِ يَا أُمَّ سُلَيمٍ" ابو طلحه رضي الله عنه له کوره ووتلو چې د رسول الله ﷺ مخې ته ورشي، د نبي کريم ﷺ ملاقات ورسره په لاره کې وشو، نبي کريم ﷺ د هغه سره کور ته تشريف يوړو، کله چې کور ته داخل شول، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې ام سليم رضي الله عنها! تاسو چې څه پخ کړي دي هغه راوړه! "فَأتَتْ بِذلِكَ الخُبْزِ فَأمَرَ بِهِ رسولُ الله ﷺ فَفُتَّ، وَعَصَرَتْ عَلَيهِ أُمُّ سُلَيمٍ عُكَّةً فَأدَمَتْهُ، ثُمَّ قَالَ فِيهِ رسولُ الله ﷺ مَا شَاءَ اللهُ أنْ يَقُولَ، ثُمَّ قَالَ: ((ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ))

فَأَذِنَ لَهُمْ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا ثُمَّ خَرَجُوا" ام سليم رضي الله عنها هغه د وربشو ډوډۍ راوړې، نبي کريم ﷺ ورته د ټکړې ټکړې کولو حکم وکړو، ام سليم رضي الله عنها په هغه ټکړو باندې ښينګه شوروا وکړه، شهد او غوړي يې پرې واچول، بهترين سالن يې ترې جوړ کړو او بيا ورته نبي کريم ﷺ د برکت دعاء وکړه او د برکت کلمات يې وويل، بيا يې لسو لسو کسانو ته حکم وکړو چې را داخل شئ، هغوی راغلل او ښه په مړه ګېډه يې خوراک وکړو او بيا بهر لاړل، "ثُمَّ قَالَ: ((ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ)) فَأَذِنَ لَهُمْ حَتَّى أَكَلَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ وَشَبِعُوا وَالْقَوْمُ سَبْعُونَ رَجُلًا أَوْ ثَمَانُونَ" بيا يې لسو کسانو ته حکم وکړو چې راشئ او خوراک وکړئ ترڅو چې ټول قوم خوراک وکړو او ماړه شول، د دوی تعداد په دې وخت کې اتيا کسان وو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وَفِي رِوَايَةٍ: فَمَا زَالَ يَدْخُلُ عَشَرَةٌ، وَيَخْرُجُ عَشَرَةٌ حَتَّى لَمْ يَبْقَ مِنْهُمْ أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَ" په يو بل روايت کې دي چې همېش به وو چې لس کسان به داخل شو او واپس به ووتل، ترڅو چې يو کس هم پاتې نه شو، "فَأَكَلَ حَتَّى شَبِعَ، ثُمَّ هَيَّأَهَا فَإِذَا هِيَ مِثْلُهَا حِينَ أَكَلُوا مِنْهَا" بيا هغه خوراک جمع شوه، هم هغه هومره وه څومره چې د خوراک په شروع کې وه، يعني هيڅ خوراک ترې کم شوی نه وو

"وَفِي رِوَايَةٍ: فَأَكَلُوا عَشَرَةً عَشَرَةً، حَتَّى فَعَلَ ذَلِكَ بِثَمَانِينَ رَجُلًا، ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ ﷺ بَعْدَ ذَلِكَ وَأَهْلُ الْبَيْتِ، وَتَرَكُوا سُؤْرًا" او په يو روايت کې دي چې لسو لسو کسانو به خوراک کولو، ترڅو چې اتيا کسان پوره شول، بيا نبي کريم ﷺ هم خوراک وکړو، ددې وروسته د کورنۍ خلکو هم خوراک وکړو او خوراک هم پاتې شو

"وَفِي رِوَايَةٍ: ثُمَّ أَفْضَلُوا مَا بَلَغُوا جِيرَانَهُمْ" او په يو روايت کې دي چې د خوراک نه پس بيا دومره پاتې شول چې ګاونډيانو ته هم ورسېدل

"وَفِي رِوَايَةٍ عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: جِئْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَوْمًا، فَوَجَدْتُهُ جَالِسًا مَعَ أَصْحَابِهِ، وَقَدْ عَصَبَ بَطْنَهُ بِعِصَابَةٍ، فَقُلْتُ لِبَعْضِ أَصْحَابِهِ: لِمَ عَصَبَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بَطْنَهُ؟ فَقَالُوا: مِنَ الْجُوعِ" په يو روايت کې دي چې د انس رضي الله عنه نه روايت دی فرمايي چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، نو ما هغه وليدلو چې د خپلو ملګرو سره يو ځای ناست دی او خپلې ګېډې مبارکې ته يې پټۍ اچولې دي، څينو خپلو ملګرو ته وويل: رسول الله ﷺ ولې خپله ګېډه مبارکه په پټو ترلې ده؟ هغوی راته وويل: د لوږې له وجې يې داسې کړې دي، "فَذَهَبْتُ إِلَى أَبِي طَلْحَةَ، وَهُوَ زَوْجُ أُمِّ سُلَيْمٍ بِنْتِ مِلْحَانَ، فَقُلْتُ: يَا أَبَتَاهُ، قَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَصَبَ بَطْنَهُ بِعِصَابَةٍ، فَسَأَلْتُ بَعْضَ أَصْحَابِهِ، فَقَالُوا: مِنَ الْجُوعِ" نو زه ابوطلحه رضي الله عنه ته لاړم، هغه د ام سليم رضي الله عنها خاوند وو، ما ورته وويل: باباجانه! ما رسول الله ﷺ وليدلو چې په خپله ګېډه يې پټې ترلې دي، ما د څينو ملګرو نه پوښتنه وکړه چې دا ولې؟ هغوی راته وويل: لوږې راخيستی دی، "فَدَخَلَ أَبُو طَلْحَةَ عَلَى أُمِّي، فَقَالَ: هَلْ مِنْ شَيْءٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، عِنْدِي كِسَرٌ مِنْ خُبْزٍ وَتَمَرَاتٌ، فَإِنْ جَاءَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ وَحْدَهُ أَشْبَعْنَاهُ، وَإِنْ جَاءَ آخَرُ مَعَهُ قَلَّ عَنْهُمْ" نو ابو طلحه رضي الله عنه زما مور ته راغلو او پوښتنه يې وکړه چې ستا سره د خوراک لپاره څه شته؟ هغې وويل: هو! د ډوډۍ څه ټکړې شته، يو څو خورما دي، که نبي کريم ﷺ يوازې راغلو، نو هغه به پرې موړ شي او که نور خلک هم ورسره راغلل نو بيا مشکله ده چې دوی ته پوره شي بيا به کمه شي. وَذَكَرَ تَمَامَ الْحَدِيثِ

په حديث کې يو څو مهمو خبرو ته اشاره ده:

په دې حديث کې د رسول الله ﷺ معجزې ته اشاره ده. په دې حديث کې يو څو اهمې خبرې دي چې په هغې کې څه دا دي:

يو دا چې انس رضي الله عنه ابوطلحه رضي الله عنه ته لفظ د «يا أبتاه» استعمال کړو، يعني اې پلاره؛ دا لفظ انس رضي الله عنه د ډېر احترام له وجې استعمال کړو، کنه نو ابو طلحه رضي الله عنه د انس رضي الله عنه سکه پلار نه وو، د هغه حقيقي پلار مالك بن نضر وو، کله چې د انس رضي الله عنه مور ام سليم رضي الله عنها مسلمانه شوه، نو مالك بن نضر د اسلام راوړلو نه انکار وکړو او هغه شام ته لاړو، هلته مړ شو، ام سليم رضي الله عنها دويمه نکاح د ابو طلحه رضي الله عنه سره وکړه، ابو طلحه رضي الله عنه د انس رضي الله عنه ناسکه پلار شو، په دې وجه انس رضي الله عنه ابو طلحه رضي الله عنه ته پلار وويل.

دويمه اهمه خبره پکې دا ده چې **"ثم أكل النبي ﷺ بعد ذالك وأهل البيت"** ددې نه وروسته رسول الله ﷺ هم خپله خوراك وکړو او د هغه کورنۍ هم خوراك وکړو، په دې جمله علامه نووي رحمه الله استدلال کړی دی چې کورنۍ باندې اول مېلمه ته خوراك ورکړي، بيا که څه پاتې شي، نو خپله دې وخوري، لکه څرنګه چې دلته نبي کريم ﷺ او د ابو طلحه رضي الله عنه کورنۍ کړی وو.

دريمه اهمه خبره پکې دا ده چې **"فأكلوا عشرة عشرة"** لس لس کسان به راتلل او خوراك به يې کولو، بيا به واپس تلل، په دې کې دوه وجې ممکنې دي يا خو ځای تنګ وو، د لس لس کسانو ځه زيات نه شو کېنستلې، يا خو لوښي کم وو، کېدی شي چې لسو کسانو ته ايله پوره کېدل، نو ځکه به لس لس کسان راتلل او خوراك به يې کولو، بيا به پاځېدل.

باب القناعة والعفاف والاقتصاد في المعيشة والإنفاق وذم السؤال من غير ضرورة

قناعت اختيارول، د سوال نه ځان ساتل او په اعتدال سره د ژوند تېرولو بيان

"قَالَ اللهُ تَعَالَى": الله تعالى فرمايي: **"وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا"** نشته هيڅ ژوندی شی چې روح لري، مګر دا چې په الله جل جلاله يې د رزق ورکولو ذمه واري ده [هود:٦]

د علم النحو په اصطلاح کې لفظ د «ما» په عموم باندې دلالت کوي، مطلب دا چې هر ژوندی شی چې ساه اخلي، هغه که ځنګلي وي او که د هوا مارغان وي، يا د ځمکې حشرات وي يا د دريابونو او وچې ځناور وي، مطلقاً چې ساه اخلي، ددې ټولو د رزق ذمه واري الله جل جلاله اخيستې ده او دا ټول به دې لفظ د «ما» کې داخل دي.

سوال او ځواب:

سوال: لکه څرنګه چې د آيت نه معلومېږي چې د هر ساه اخيستونکي رزق د الله جل جلاله په ذمه دی، نو داسې خو په دنيا کې ډېرې واقعې پېښې شوې دي چې ډېر ځناور او انسانان د لوږې څخه مړه شوي دي؟

جواب: ددې ګڼ شمېر ځوابونه شوي دي خو دلته کې يو اسان ځواب نقل کړو هغه دا چې په دې اختيونکي شي باندې به يو ځل مرګ خامخا راځي او د مرګ راتللو اسباب مختلف کېدی شي، مثلاً انسان وسوځي، د مريضۍ له وجې مړ شي، په مرمۍ باندې د زخمي کېدو له وجې مړ شي. نو په دې اسبابو کې يو سبب لوږه او تنده هم ده. د ځينو خلکو لپاره الله ﷻ په دې طريقه مرګ مقدر کړی وي چې دوی ته خوراک ملاو نه شي يا اوبه ورته ملاو نه شي نو مړه شي.

اصل فقير هغه دی چې د خلکو څخه سوال نه کوي:

"وقال تعالیٰ" الله تعالیٰ فرمايي "لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ" صدقې او خيراتونه د هغو خلکو لپاره دي چې د الله ﷻ په لار کې بند دي. "لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ" د الله ﷻ په لار کې د بندېدو له امله دوی په ځمکه کې ګرځېدی نه شي چې کوم کار کسب وکړي. "يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ" د سوال څخه د ځان ساتلو په وجه به ناپوه خلک دا ګومان کوي چې دوی مالداره دي. "تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا" ته به يې د مخ د علامو څخه پېژنې چې دوی ضرورت لري. ليکن د خلکو څخه به په زوره سوال نه کوي [البقرة:۲۷۳]

تشريح: "للفقراء الذين أحصروا في سبيل الله": دلته د فقيرانو نه ټول هغه خلک مراد دي چې د دينې مصروفتيا له امله بل کار نه شي کولی. "تعرفهم بسيماهم" مطلب دا چې د لوږې او تندې له امله به د دوی مخ رنګ نه پېژندل کېږي چې د لوږې او تندې اثرات به پکې وي، يا به يې زېړ مخونه وي او يا به يې وچ نور کلک مخونه وي. هغوی به د خپلو علاماتو او اثراتو سره پېژندلی شي.

علامه طيبي رحمه الله دلته يوه نکته بيان کړې ده، هغه دا چې په علاماتو او اثراتو سره انسان حکم لګولی شي او دا صحيح ده. لکه څرنګه چې يو انسان مړ شي او ناسته وي. ختنه يې نه وي شوې نو داسې کس به د مسلمانانو په هديره کې نه ښخوي.

"لا يسألون الناس الحافاً": هغوی به د خلکو نه په زوره سوال نه کوي او نه به چاته شله کېږي چې زر کوه ماته پيسې راکړه! ليکن نور مفسرين فرمايي: ددې مطلب دا دی چې دوی به بالکل سوال نه کوي.

مؤمنان بخل او اسراف نه کوي:

"وقال تعالیٰ: "وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا" او هغه خلک چې صدقه ورکوي، نو بيا اسراف نه کوي. "وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا" او نه په ورکړه کې بخيلي کوي او دوی همېش هم دغه شان وي چې صدقه ورکوي ليکن اسراف نه کوي او نه بخيلي کوي. [الفرقان:۶۷]

تشريح: په دې آيت کې دوه الفاظ راوړل شوي دي، يو (يسرفوا) دويم (يقتروا) د اسراف معنی ده د حد نه تجاوز کول. د عبد الله بن عباس رضي الله عنه او مجاهد رحمه الله قتاده رحمه الله وغيره ټولو په نزد د الله ﷻ په نافرمانۍ کې مال خرچ کولو ته اسراف ويل کېږي. اګر چې يوه پيسه ولې نه وي. "ولم يقتروا" ددې معنی ده په خرچه کې تنګي او بخيلي کول. د قتاده رحمه الله او ابن عباس رضي الله عنه نه منقول دي چې په کومو

خايونو کې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ فرمايلي دي چې په دې خای کې بايد پيسې خرچ کړې شي نو هلته پکې بخل کوي، نه يې خرچ کوي، خو د بخيلي او اسراف ترمنځ ترمنځ د اعتدال او ميانه روی لار ده،
اوس د آيت مطلب دا شو چې: د الله ﷻ نيک بندګان د خپل مال د خرچ کولو پرمهال نه اسراف کوي او نه هم فضول خرچي کوي.

په شريعت کې ميانه روي او اعتدال مطلوب دی:

علامه ابن کثير رحمه الله يو روايت نقل کړی دی چې: "من فقه الرجل قصده في معيشته" د انسان هوښيارتوب دا هم دی چې په خرچ کولو کې ميانه روي او اعتدال وکړي، په يو بل روايت کې دي چې: نبي کريم ﷺ ارشاد مبارك دی: کوم کس چې په خرچ کې ميانه روي او اعتدال کوي، هغه به کله هم محتاج نه شي.

الله ﷻ انسانان او پيريان خپل عبادت لپاره پيدا کړي دي:

"وَقَالَ تَعَالَىٰ": الله تعالی فرمايي: "وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ" ما انسانان او پيريان نه دي پيدا کړي مګر صرف د خپل عبادت لپاره مې پيدا کړي دي، "مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ" الله تعالی فرمايي: زه د دوی نه د روزی او رزق اراده نه لرم او نه دا چې ماته دې دوی راکړي. [الذاريات:٥٦-٥٧]

تشريح: ددې آيت مطلب دا دی چې انسانان او پيريان خالص د عبادت لپاره پيدا شوي دي، دوی به نور کار نه کوي.

سوال: الله ﷻ انسانان او پيريان د عبادت لپاره پيدا کړي دي ليکن وينو چې خبره ددې برعکس روانه ده، اکثره خلک د عبادت نه لري دي، نو څنګه ممکنه ده چې د الله ﷻ د مشيت خلاف کار وشي؟

لومړی ځواب: مفسيرينو ددې ګڼ شمېر ځوابونه کړي دي: د ضحاك رحمه الله او سفيان ثوري رحمه الله په نزد دلته مؤمنان انسانان او مؤمنان پيريان مراد دي، هغوی خو په عبادت کې لګيا دي، ددې قول په تائيد د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما هغه قرائت هم وړاندې کولی شي چې د هغه په قرات کې دي "وماخلقت الجن والانس من المومنين الاليعبدون".

دويم ځواب: دا دی چې مجاهد رحمه الله فرمايي: دلته د "ليعبدون" معنی ده: "ليعرفون" يعني ما انسانان او پيريان ددې لپاره پيدا کړي دي چې هغوی ما وپېژني او ظاهره خبره ده چې مسلمان هم الله ﷻ پېژني او پيريان يې هم پېژني

دريم ځواب: دا دی چې علي رضي الله عنه ددې آيت په تفسير کې فرمايي چې الله تعالی فرمايي: ما انسانان او پيريان ددې لپاره پيدا کړي دي چې هغوی ته زه د خپل عبادت حکم وکړم او په قرآن کريم کې يو ځای ارشاد دی: "وماأمروا إلا ليعبدوا إلـهاً واحداً".

څلورم ځواب: دا دی چې د انسان او پيري په پيدايش کې ددې خبرې استعداد او صلاحيت پروت

دي چې هغوی دي عبادت وکړي، څوك چې هم كوشش وكړي هغه عبادت كولى شي، ددې خبرې تائيد په دې حديث سره هم كېدلى شي په كوم كې چې راځي "كل مولود يولد على الفطرة" هر ماشوم په فطرت سره پيدا كيږي، په هغه كې د الله ﷻ د عبادت استعداد پروت وي

"وَأَمَّا الأحاديث، فتقدم معظمها في البابين السابقين، ومما لم يتقدم" هر چې حديثونه دي، نو زياته حصه يې مخكې تېره شوې ده، په لومړيو بابونو كې يو څو حديثونه دلته هم بيانيږي

اصلي مالداري د زړه مالداري ده:

"عن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ، قَالَ: لَيْسَ الغِنَى عَنْ كَثْرَةِ العَرَضِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مالداري په دې نه ده چې ستا سره زيات لوښي، سامانونه او پيسې وغيره وي، "وَلَكِنَّ الغِنَى غِنَى النَّفْسِ" بلكې اصلي مالداري د زړه مالداري ده چې زړه دې غني وي. متفقٌ عَلَيْهِ

"العَرَضُ: بفتح العين والراءِ: هُوَ المَالُ" د عرض نه مراد مالونه او جايدادونه دي

تشريح: په يو بل روايت كې ددې نور وضاحت هم شوى دى: ابوذر غفاري ﷺ فرمايي: يو خل رسول الله ﷺ ماته وفرمايل: اې ابوذره ﷺ! ايا ستا دا خيال دى چې زياته مالداري به غني وي؟ ما وويل بې شكه! رسول الله ﷺ بيا وفرمايل: ايا ستا دا خيال دى چې د مال كموالى به فقيري وي؟ ما وويل: بې شكه، نبي كريم ﷺ وفرمايل: غنا خو صرف د زړه غنا وي او فقيري خو د زړه فقيري ده، دا حقيقت دى چې د انسان سره څومره مال وي خو چې زړه يې بخيل وي غنا پكې نه وي، هغه به په مال كې د بخل نه كار اخلي، هر وخت به ورسره د مال ختمېدو فكر وي، ددې برعكس چې د يو انسان زړه غني وي، هغه به په خرچ كولو كې بخل نه كوي، هغه ته د مال جمع كولو فكر هم نه وي او د مال ضايع كېدو غم به هم ورسره نه وي، بلكې هر وخت به دده په زړه كې د الله ﷻ رضا وي چې كله به د هغه رضا په دې مال سره حاصله كړم

كامياب دى هغه كس چې اسلام راوړي او قناعت كوي

"وعن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما: أنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: قَدْ أفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ" د عبد الله بن عمرو بن عاص ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تحقيق سره هغه سړى كامياب شو چې اسلام يې راوړو، "وَرُزِقَ كَفَافاً" او هغه ته بقدر كفايت رزق وركړى شو. "وَقَنَّعَهُ الله بِمَا آتَاهُ" او الله قانع كړو په هغه څه چې الله ﷻ ورته وركړي دي رواه مسلم

تشريح: دا حديث په باب فضل الجوع الخ كې تېر شوى دى، "قد أفلح من أسلم" په تحقيق سره كامياب شو هغه كس چې اسلام يې راوړو، چانه چې الله ﷻ د ايمان او اسلام په څېر يو لوى دولت نصيب كړي، بس دغه كس كامياب شو، دا ځكه چې د اسلام نه بغير كه يو كس ډېر ښه شي، خو چې مسلمان نه وي د هغه يو عمل به هم قبول نه وي او داسې كس به په آخرت كې د ناوانيانو څخه وي

په اندازې سره به ورته رزق حاصل شي:

"رزق كفافاً" دومره رزق او خوراک چې په اندازه وي، نه ډېر زيات وي نه ډېر كم وي، دې ته كفاف وېل كيږي، دا ځكه چې په دومره رزق سره انسان د سوال څخه بچ كيږي، بل په دې حديث كې د هغو خلكو د نېك خصلت ذكر دى چې د ضرورت په اندازه رزق ورته ملاو وي او په دې باندې راضي وي او چاته شكايتونه نه كوي، بله دا چې د انسان لپاره د اندازې سره سم رزق ملاو شي، نو دا به د انسان په حق كې غوره وي، ځكه چې زيات مال او رزق انسان متكبره كوي، په زيات فقر او غريبى سره انسان به ذليله كيږي، انسان ته چې د ضرورت په اندازه رزق حاصل شي، نو د دې دواړو خطرو څخه محفوظ شي.

حكيم بن حزام رضي الله عنه ترمرګه د چا نه سوال ونه كړو

"وعن حكيم بن حزام رضي الله عنه قَالَ: سألتُ رسول الله ﷺ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ قَالَ: يَا حَكِيمُ إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرٌ حُلْوٌ" د حكيم بن حزام رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه يو ځل سوال وكړو، هغه څه راكړل، بيا مې ترې سوال وكړو، نو بيا يې څه راكړل، بيا مې ترې سوال وكړو، نو بيا يې هم څه راكړل، بيا يې راته وفرمايل: اې حكيمه! دا مال ډېر زړه رابښكونكى او خوندور دى، "فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُورِكَ لَهُ فِيهِ" څوك چې يې د مېنې نه بغير حاصلوي د هغه لپاره به په دې كې بركت واچول شي. "وَمَنْ أَخَذَهُ بِإِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ" او كوم كس يې چې د لالچ او حرص سره حاصل كړي، د هغه لپاره به په دې كې هيڅ بركت نه وي. "وَكَانَ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ" او د دوى مثال به د هغه سړي په شان وي چې خوري او مړيږي نه، "وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى" او پورتنى لاس (يعني وركولو والا لاس) د لاندېنى لاس څخه غوره دى، (يعني اخيستونكى لاس) "قَالَ حكيم: فقلتُ: يَا رسول الله، وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَرْزَأُ أَحَدًا بَعْدَكَ شَيْئًا حَتَّى أُفَارِقَ الدُّنْيَا" حكيم رضي الله عنه فرمايي: ما رسول الله ﷺ ته ووېل: يا رسول الله ﷺ په هغه ذات مې قسم دى چې تاسو يې په حق سره رالېږلي يئ، زه به تر مرګه پورې ستاسو نه پس د چا نه سوال ونه كړم، "فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه يَدْعُو حَكِيمًا لِيُعْطِيَهُ الْعَطَاءَ، فَيَأْبَى أَنْ يَقْبَلَ مِنْهُ شَيْئًا" ابوبكر رضي الله عنه به په خپله زمانه كې حكيم راووبللو او د عامو مسلمانانو په شان يې څه وركول غوښتل، هغه به د قبلولو څخه انكار كولو، "ثُمَّ إِنَّ عُمَرَ رضي الله عنه دَعَاهُ لِيُعْطِيَهُ فَأَبَى أَنْ يَقْبَلَهُ" بيا عمر رضي الله عنه راوغوښتلو چې څه وركړي، ليكن هغه بيا انكار وكړو. "فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ، أُشْهِدُكُمْ عَلَى حَكِيمٍ أَنِّي أَعْرِضُ عَلَيْهِ حَقَّهُ الَّذِي قَسَمَهُ اللَّهُ لَهُ فِي هَذَا الْفَيْءِ فَيَأْبَى أَنْ يَأْخُذَهُ" د دې نه وروسته عمر رضي الله عنه وفرمايل: اې د مسلمانانو ډلې! ما د مال غنيمت نه حكيم رضي الله عنه ته څه حصه وركول غوښتل او دا د هغه حق وو چې الله جل جلاله ورته په دې مال غنيمت كې ساتلى وو، مګر هغه يې د اخيستلو څخه انكار وكړو، تاسو شاهدان شئ! هغه په خپله وعده كې ډېر كلك دى. "فَلَمْ يَرْزَأْ حَكِيمٌ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ بَعْدَ النَّبِيِّ ﷺ حَتَّى تُوُفِّيَ" د رسول الله ﷺ د وفات وروسته يې تر مرګه پورې د هيچا څخه څه وانخيستل. متفقٌ عَلَيْهِ

"يَرْزَأُ: بِرَاءٍ ثُمَّ زَايٍ ثُمَّ هَمزة؛ أَيْ: لَمْ يَأْخُذْ مِنْ أَحَدٍ شَيْئًا، وَأَصْلُ الرُّزْءِ" يرزاء: د هيچا نه هيڅ شى نه اخيستل.

"النُّقصان، أي: لَمْ يَنقص أحداً شيئاً بالأخذِ مِنهُ" يعني په اخيستلو سره په هغه کې هيڅ کمی رانغلو. "وَالإِشْرَاف" تَطَلُّعُهَا وَطَمَعُهَا بِالشَّيْءِ" يعني د نفس خبرېدل، حرص او طمع کول. "وَالسَخَاوَةُ النَّفسِ)) هِيَ عَدَمُ الإِشْرَافِ النَّفسِ إِلَى الشَّيْءِ وَالطَّمَعِ فِيهِ وَالْمُبَالَاةِ بِهِ وَالشَّرَهِ" يعني خواهش بې چې نه وي، بې پروا وي او زړه يې ورسره نه لګيږي

لغوي تحقيق:

لاارزا: د دې معنی ده: د چا نه هيڅ نه غوښتل، سوال نه کول

تشريح "سألته فأعطاني": ما سوال وکړو، رسول الله ﷺ څه راکړل، په سوال کولو کې د درې خرابيو څخه يوه خرابي خامخا راځي خو زيات وخت درې واړه خرابۍ راځي، علماء فرمايي: د ضرورت پرمهال سوال کول جائز دي، که ضرورت نه وي، سوال يې مزدوري ګرځولې وي، نو بيا حرام دي، څکه چې په دې کې د درې خرابيو څخه يوه خرابي خامخا راځي، هغه درې خرابۍ دا دي

لومړی د الله ﷻ نه د شکايت اظهار کول چې په ما باندې د الله ﷻ له لوري تنګي او سختي ده.

دويم سوال کونکی د غير الله په وړاندې خپل نفس ذليله کوي

دريم د چا نه چې سوال کيږي اکثره هغه ته په دې ضرر او تکليف رسيږي، هغه به د خوشحالۍ نه، بلکې د شرمه به يې ورکوي او که انکار کوي، نو سوالګر ته هم پکې تکليف دی.

حکيم بن حزام ﷺ فرمايي: "لا ارزا أحداً بعدك شيئاً أفارق الدنيا" يا رسول الله ﷺ! زه به ستاسو نه وروسته د چا نه هيڅ و نه غوارم، علماء فرمايي: که يو کس نه يې په حقه مال په لاس ورشي نو هغه اخيستل جائز دي، ليکن بيا هم که په عزيمت باندې عمل وشي او قبول يې نه کړي، په دې کې هم فضيلت شته، په دې عزيمت باندې حکيم بن حزام ﷺ ټول عمر عمل وکړو او د نبي کريم ﷺ سره کړې وعده يې پوره کړه

دغزوه ذات الرقاع واقعه

"وعن أبي بردة، عن أبي موسى الأشعري ﷺ، قال: خرجنا مع رسول الله ﷺ في غزاة ونحن ستة نفر" ابو برده د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې موږ شپږ کسان د رسول الله ﷺ سره په يو جهاد کې لاړو. "بيننا بعير نعتقبه، فنقبت أقدامنا ونقبت قدمي، وسقطت أظفاري" زموږ شپږو کسانو لپاره صرف يو اوښ وو چې موږ به نمبر په نمبر وربانديې سپرېدلو، د سفر په وجه زموږ پښې ډېرې زياتې زخمي شوې او د کوتو نوکونه مو پريوتلي وو، "فكنا نلف على أرجلنا الخرق" د پښو په زخمونو به موږ پټۍ تړلې، "فسميت غزوة ذات الرقاع لما كنا نعصب على أرجلنا من الخرق" نو په دې وجه دغه جهاد ته ذات الرقاع ويلی شي، څکه چې موږ په خپلو زخمي پښو باندې پټۍ تړلې وې، "قال أبو بردة: فحدث أبو موسى بهذا الحديث، ثم كره ذلك وقال: ماكنت أصنع بأن أذكره" ابوبرده ﷺ فرمايي: دا واقعه ابو موسى ﷺ بيان کړه، مګر بيا به يې افسوس کولو چې ماته مناسب نه وو چې دا واقعه مې بيان کړې وای، دا خبره يې ښه نه ګڼل. "قال: كأنه كره أن يكون شيئاً من

عَمَلِهِ أَفْشَاهُ" ابوبرده ﷺ فرمايي: ابو موسى اشعري ﷺ ته ددې خبرې افسوس وو چې په خپلو عملونو کې يې يو عمل ښکاره کړو او ټولو ته پته ولګېده **متفق عليه**

تشريح: "خرجنا مع رسول الله ﷺ في غزوة" په دې حديث کې ابو موسى اشعري ﷺ د غزوه ذات الرقاع د سفر واقعه بيانوي، "فسميت غزة ذات الرقاع" ځينې محدثين فرمايي چې رقاع پټيو ته وايي، په دې سفر کې د ډېر سفر په وجه صحابه کرامو پښې چاودې شوې، په دې وجه يې خپلې پښې په کپړو او پټيو باندې تړلې وې، علامه ابن کثير ﷺ فرمايي چې دغه غزا ته ځکه غزوه ذات الرقاع وايي چې په دې کې صحابه کرامو ﷺ رنګ رنګ بيرغونه راخستي وو، د ځينو نورو په نزد ذات الرقاع په اصل کې د يو غر نوم دى، په کوم کې چې مختلف رنګونه دي، نبي کريم ﷺ هلته قيام کړى وو، خو زه وايم چې دغه ټول شيان امکان لري چې يکې جمع شوي وي، هم پټي، هم بيرغونه او دلته به رنګه غر هم وو

د ذات الرقاع غزا سبب:

نبي کريم ﷺ ته اطلاع ورسېده چې د غطفان قبيلې دوه شاخونه بنو محارب او بنو ثعلبة د مسلمانانو په ضد لښکر جمع کړى دى، ځکه رسول الله ﷺ په هغوى باندې وراندې والى وکړو، څلور سوه صحابه کرام يې د دخان سره روان کړل. "ونحن ستة نفر" موږ شپږ کسان وو، مطلب دا چې نبي کريم ﷺ د صحابه کرامو ﷺ مختلفې قطعې جوړې کړې، په کومه قطع کې چې ابو موسى اشعري ﷺ وو، دوى ټول شپږ کسان وو، دا مطلب نه دى چې ددې ټول لښکر کسان شپږ وو

"كأنه أن يكون شيئامن عمله أفشاه": ابو موسى اشعري ﷺ د خپل ځان حال بيان کړو چې زه خو هم په دې جهاد کې شريک وم، ليکن هغه دا خبره خوښه نه کړه چې زما کوم نيک عمل دې خلکو ته معلوم شي، ځان يې د ريا کارى ځخه ساتلو

د راوي ابوبردة بن ابو موسي اشعري ﷺ حالات:

اصل نوم يې عامر دى، کنيت يې ابوبرده دى، د مشهور صحابي ابو موسى اشعري ﷺ زوى دى، ابوبرده ﷺ زيات علم د عبد الله بن سلام ﷺ نه زده کړى دى، د خپل پلار نه يې هم زده کړى دى، حافظ ذهبي ﷺ ليکي چې: (ابوبردة بن ابي موسي الاشعري الفقيه أحد الأئمة الاثبات، امام نووي ﷺ په تهذيب الاسماء کې ليکي: د دوى په توثيق او جلالت باندې د ټولو اتفاق دى، علامه ابن سعد ﷺ فرمايي: (كان ثقة كثيرا الحديث) زيات حديثونه يې روايت کول، د قاضي شريح ﷺ نه وروسته د کوفې قاضي شو

وفات په يو سل څلور هجري کې وفات شو

د عمرو بن تغلب په اړه د استغناء شاهدي خپله رسول الله ﷺ وکړه

"وعن عمرو بن تَغْلِبَ –بفتح التاء المثناة فوق وإسكان الغين المعجمة وكسر اللام– ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ أُتِيَ بِمَالٍ أَوْ سَبْيٍ فَقَسَمَهُ، فَأَعْطَى رِجَالاً، وَتَرَكَ رِجَالاً، فَبَلَغَهُ أَنَّ الَّذِينَ تَرَكَ عَتَبُوا، فَحَمِدَ اللهَ، ثُمَّ أَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: أَمَّا بَعْدُ!" د عمرو بن تغلب

ﷺ ته روايت دی هغه فرمايي چې رسول اللهﷺ ته څه مال يا څه بنديان راوستل شو. ځينو کسانو ته يې ورکړل او ځينو نورو ته يې ورنه کړل. بيا نبي کريم ﷺ ته پته ولګېده چې چاته ورنه کړی شو، هغوی خفه دي، نبي کريم ﷺ خطبه ولوستل. په خطبه کې يې د الله ﷻ حمد او ثناء وويل. د امابعد نه وروسته يې وفرمايل: "فَوَاللهِ إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَأَدَعُ الرَّجُلَ، وَالَّذِي أَدَعُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الَّذِي أُعْطِي" قسم په الله ﷻ زه چې ځينو کسانو ته څه ورکړم او ځينو نورو ته يې ورنه کړم، بس هغه کسان چې زه څه ورنه کړم دوی ماته زيات خوښ دي د هغو کسانو څخه چې زه څه ورکړم. "وَلَكِنِّي إِنَّمَا أُعْطِي أَقْوَامًا لِمَا أَرَى فِي قُلُوبِهِمْ مِنَ الْجَزَعِ وَالْهَلَعِ" او دوی ته يې ځکه ورکوم چې د دوی په زړونو کې خطره او بې آرامي وينم. "وَأَكِلُ أَقْوَامًا إِلَى مَا جَعَلَ اللهُ فِي قُلُوبِهِمْ مِنَ الْغِنَى وَالْخَيْرِ، مِنْهُمْ عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ" او چا ته چې زه څه ورنه کړم، د هغوی په باره کې زما زړه په آرام دی چې الله ﷻ د هغوی په زړونو کې ښېګڼه او بې طمعي اچولي ده. هغوی د زړه غنيان دي او په هغوی کې عمرو بن تغلب هم دی، "قَالَ عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ: فَوَاللهِ مَا أُحِبُّ أَنَّ لِي بِكَلِمَةِ رسول الله ﷺ حُمْرَ النَّعَمِ" عمرو بن تغلب ﷺ فرمايي: په الله ﷻ قسم! زما په باره کې د نبي کريم ﷺ دا مبارک کلمات د سرو اوښانو او دولت څخه ماته زيات خوښ دي رواه البخاري

لغوي تحقيق:

"الهلع: هُوَ أَشَدُّ الْجَزَعِ، وقيل: الضَّجَرُ" يعنې کوم حالت چې د خطرې او طمع له وجې زيات راشي. لکه ډېره لوږه او ځينې علماء ددې معنی داسې کوي بې قراره کېدل او بې ارامه کېدل او ستومانه کېدل.

عتبوا: "عتب عتباً": ددې معنی ده: خوک ملامته کول، په چا عتاب کول

تشريح "أتي بمال أو بسبي فقسمه": څه مال يا قيديان ورته راغلل، هغه رسول الله ﷺ تقسيم کړل، رسول اللهﷺ ته چې به کوم شيان د کوم ځای څخه راغلل، هغه ټول به يې په صحابه کرامو کې تقسيم کړل، په دوی کې به چې کوم زيات غريب او ضرورتمند وو، هغه به يې ورانديې کول يا به يې مؤلفة القلوب مخکې کړل، د کومو په باره کې چې دا اميد کېږي که دوی ته څه ورکړل شي، نو ممکنه ده چې اسلام به قبول کړي، يا به يې داسې خلک ورانديې کړل چې د هغوی په اره به داسې ګومان کېدلو چې که دوی ته څه ورنه کړی شي، نو بې قراره او کمزوري به شي

"منهم عمرو بن تغلب": په دوی کې عمرو بن تغلب ﷺ هم دی چې قناعت کوونکی انسان دی، په دې جمله کې د عمرو بن تغلب ﷺ فضيلت او اعزاز ته اشاره ده، نبي کريم ﷺ وفرمايل د دوی زړه قناعت والا دی، "حمر النعم" دا جمله عمرو بن تغلب ﷺ ته د سرو اوښانو نه زياته محبوبه وه، په عربو کې به سرو اوښانو ګران قيمت درلود، دا اوښان وغيره خو به په دنيا کې ختم شي. ليکن د رسول الله ﷺ تعريف خو د انسان لپاره جنت ته د داخلېدو ذريعه جوړېږي

د راوي عمرو بن تغلب رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم یې عمرو رضي الله عنه دی، د پلار نوم یې تغلب دی، نميري قبيلې سره تعلق لري، د ژوند آخري وختونو کې بصرې ته منتقل شو، د هغه نه دوه حديثونه نقل دي او دواړه په بخاري کې دي.

پورتنی لاس د لاندیني لاس ښه غوره دی

"وعن حكيم بن حزام رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: اليَدُ العُلْيَا خَيْرٌ مِنَ اليَدِ السُّفْلَى، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ" د حکيم بن حزام رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل پورتنی لاس د لاندې لاس ښه غوره دی او په خرچې ابتداء د خپلې کورنۍ ښه وکړه "وَخَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى" او بهترينه صدقه هغه ده چې د خوشحالۍ او مالدارۍ په حالت کې ورکړی شي. "وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفُّهُ اللهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّـهُ" او کوم کس چې د سوال نه ځان ساتل غواړي الله ﷻ یې بچ ساتي او کوم کس چې د سوال کولو نه بې پرواشي الله ﷻ به یې مالداره کړي، "متفقٌ عَلَيْهِ، وهذا لفظ البخاري، ولفظ مسلم أخصر" دا الفاظ د بخاري دي او د مسلم الفاظ ددې نه لږ مختصر دي.

لغوي تحقيق:

تعول "عال عولاً" د بال بچ معاش او کفالت کول.

تشريح "اليد العليا خيرٌ من اليد السفلى" پورتنی لاس د لاندیني لاس ښه غوره دی، د پورتني لاس نه مراد ورکوونکی دی، يعنې څوک چې پیسې وغيره ورکوي او د لاندیني لاس نه مراد اخیستونکی یعنې سوال کوونکی دی.

تر ټولو غوره صدقه کومه ده؟

"خير الصدقة ما كان عن ظهر غنى" غوره صدقه هغه ده چې د ضرورت نه وروسته ورکړی شي، مطلب دا چې انسان ته پکار ده چې دومره صدقه ورکړي چې ددې نه وروسته مال د کورنۍ لپاره کافي شي، داسې نه چې دومره صدقه ورکړي چې بیا یې خپل ماشومان د خوراکې لپاره فکر وړې وي چې اوس نه یې دوی د کومه ځای کوي؟

د ابوبکر رضي الله عنه توکل:

په دې باره کې محدثين کرام رحمهم الله فرمايي چې که ديو کس په الله ﷻ باندې کامل توکل وي نو بیا هر څه خرچ کولی شي لکه څرنګه چې ابوبکر رضي الله عنه خپل ټول مال د الله ﷻ په لار کې خرچ کړ، او کله چې رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې کوروالو دې څه پريښي دي نو دوی رضي الله عنه ورته وفرمايل چې د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ مينه محبت، او که چېرته انسان ته دومره کامله د توکل درجه نه وي حاصله نو د داسې کسانو په باره کې په دې حديث کې ارشاد ده چې داسې کسانوله پکار دي چې خپل اهل عيال مقدم وساتي، چې د دوی نه کوم څه بچ پاتې شي هغه دې د الله ﷻ په لار کې خرچ کړي

سوال کوونکی باید اصرار ونه کړي:

"وعن أبي عبد الرحمان معاوية بن أبي سفيان رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: لاتلحفوا في المسألة، فوالله لايسألني أحد منكم شيئاً" د ابو عبد الرحمان معاويه بن ابي سفيان رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زمانه بار بار يو شی مه غواړئ او ما پورې مه نخلئ. ځکه چې دا ځل مې خوښ نه دی. په الله ﷻ قسم چې كه څوك په تاسو كې زما نه بار بار تنګولو سره يو شی وغواړي. "فتخرج له مسألته مني شيئاً وأنا له كاره، فيبارك له فيما أعطيته" په دې سوال سره چې هغه ته څه ملاو هم شي. زه يې بد ګڼم. نو هغه ته به په دې شي کې برکت هم نه وي. کوم شی چې يې زما نه بار بار په سوال کولو او په تنګولو اخيستی وي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

لاتلحفوا: "لحفه لحفاً" باب فتح يفتح دی. ددې معنی ده سوال کې اصرار کول. په زوره مال حاصلول

تشريح "لاتلحفوا في المسألة": مبالغې سره سوال مه کوئ. امام غزالي رحمه الله فرمايي: د سوال لپاره درې شرطونه دي كه دغه درې شرطونه وي. سوال كول جائز دي. كنه نو جائز نه دي

لومړی دا چې سوال کونکی به خان نه ذليله کوي

دويم دا چې سوال کوونکی به ډېره مبالغه نه کوي. لکه څرنګه چې په دې حديث کې ذکر شو

دريم دا چې د چا نه سوال کوي. هغه به ډېر نه تنګوي

"وأنا له كارف فلا يبارك له فيما أعطيته": زما زړه هغه ته ورکول نه غواړي. ليکن بيا يې هم زما نه حاصل کړي. په داسې مال کې به چيرې هم هغه ته برکت وانچول شي. مطلب دا چې کوم کس په انتهائي مبالغې سره زما نه سوال کوي. اګر چې زما زړه نه غواړي چې هغه ته څه ورکړم. ليکن بيا يې هم: هغه په اصرار ورکړم. نو اوس زما د ناخوښۍ په وجه به هغه ته په مال کې هيڅ برکت نه وي. ددې نه معلومه شوه چې په طيب نفس سره مال ورکولو کې سرې ته الله ﷻ په مال کې برکت اچوي

د چا نه سوال نه کولو باندې هم رسول الله ﷺ بيعت اخيستی دی

"وعن أبي عبد الرحمان عوف بن مالك الأشجعي رضي الله عنه، قال: كنا عند رسول الله ﷺ تسعة أو ثمانية أو سبعة، فقال: ألا تبايعون رسول الله ﷺ وكنا حديثي عهد ببيعة" د ابو عبد الرحمان عوف بن مالك اشجعي رضي الله عنه نه روايت دی. فرمايي چې مونږ اوه، ۷ کسان يا اته، ۸ کسان او يا نهه، ۹ کسان د رسول الله ﷺ سره ناست وو چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تاسو د رسول الله ﷺ سره بيعت نه کوئ؟ مونږ په دې وخت کې تازه بيعت شوي وو. "فقلنا: قد بايعناك يا رسول الله، ثم قال: ((ألا تبايعون رسول الله)) فبسطنا أيدينا، وقلنا: قد بايعناك فعلام نبايعك؟" مونږ وويل يارسول الله ﷺ! مونږ خو ستاسو سره بيعت کړی دی. بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو د رسول الله ﷺ سره بيعت نه کوئ؟ نو مونږ خپل لاسونه وړاندې کړل او مونږ وويل: يا رسول الله ﷺ مونږ څه

ستاسو سره بيعت کړی دی، بس تاسو وايئ چې په څه بيعت وکړو؟ "قَالَ: عَلَى أَنْ تَعْبُدُوا اللهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَالصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَتُطِيعُوا اللهَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل. د الله ﷻ عبادت به کوئ، شريک به ورسره نه جوړوئ او پنځه وخته لمونځ به کوئ او د الله ﷻ حکم به منئ؛ "وَأَسَرَّ كَلِمَةً خَفِيفَةً: وَلَا تَسْأَلُوا النَّاسَ شَيْئًا" بيا نبي کريم ﷺ يوه خبره داسې په مزه وکړه چې د خلکو نه به سوالونه نه کوئ؛ "فَلَقَدْ رَأَيْتُ بَعْضَ أُولَئِكَ النَّفَرِ يَسْقُطُ سَوْطُ أَحَدِهِمْ فَمَا يَسْأَلُ أَحَدًا يُنَاوِلُهُ إِيَّاهُ" مالك اشجعي رضي الله عنه فرمايي بيا ددې وروسته په دې ډله کې ما داسې کسان هم وليدل چې که د دوی نه د اس قمچينه (چابك) په ځمکه غورځېدلې وي، نو هغه به يې په بل چا باندې نه راخيستلو او نه به يې بل ته سوال کولو چې دا چابك راکړئ؛ رواه مسلم

لغوي تحقيق:

يناوله: "نال نوالاً": باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: عطيه؛ تحفه او ډالی ورکول

تشريح "قد بايعناك يا رسول الله ﷺ": يا رسول الله ﷺ لږ وړاندې موږ ستاسو سره بيعت کړی دی، محدثين فرمايي چې ددې بيعت نه بيعت ليلة العقبة مراد دی، "على أن تعبدوا الله" يو ځل چې په څه بيعت وشي او يو ځل ددې ضرورت معلوم شي نو بيا هم بيعت اخيستلی شي، بل ددې جملې نه دا هم معلومه شوه چې په هر نېك عمل بيعت اخيستلی شي، دلته په مکارم اخلاق او د الله ﷻ په عبادت باندې بيعت واخيستل شو

"يسقط سوط أحدهم فما يسأل أحداً": که چېرته د دوی نه د لاس نه قمچينه نه پرېوتل، هغه به يې هم چاته نه ويل چې ماته زما قمچينه راکړئ؛ دلته د قمچينې ذکر وشو، دا يو معمولي شی دی، ددې معمولي شي په پورته کولو کې به يې هم د يو بل نه مرسته نه غوښتل، که ددې نه به يې غټ شی وليدلو، په هغې کې به يې بطريقه اولی د چا نه مرسته نه غوښتل، بل ددې نه دا هم معلومه شوه چې په کومو شيانو بيعت وشي، نو حتی الامکان د هغو التزام اهتمام پکار دی.

د راوي ابو عبد الرحمن عوف بن مالك اشجعي رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عوف رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې مالك دی، ابو عبد الرحمن يې کنيت دی، د اشجعي قبيلې سره يې تعلق درلود، د خيبر په جنګ کې شريك شو او په اول ځل د اسلامي لښکر بيرغ دده په لاس کې وو، د مکې په فتح کې يې د قوم بيرغ په لاس کې وو، په شام کې اوسېدلو او هلته په دري اويايمه؛ ۷۳ هجري کې وفات شو

مرويات اوه شپېته؛ ۶۷ حديثونه ترې نقل دي، شپږ په بخاري او مسلم کې دي، په يو باندې دواړو شيخينو اتفاق کړی دی او په باقي نورو کې امام مسلم رحمه الله منفرد دی.

د قيامت په ورځ به د سوالګر په مخ غوښه نه وي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: لَا تَزَالُ الْمَسْأَلَةُ بِأَحَدِكُمْ حَتَّى يَلْقَى اللهَ تَعَالَى" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: که په تاسو کې يو کس سوال کول ځپله

پيشه جوړه کړي او همېش سوال کوي، نو د قيامت په ورځ به د الله ﷻ سره په داسې حال کې مخامخ شي، "وَلَيْسَ فِيْ وَجْهِهٖ مُزْعَةُ لَحْمٍ" چې د هغه په مخ به يوه ټوټه غوښه هم نه وي. متفق عليه

"المُزْعَةُ" بضم الميم واسكان الزاي وبالعين المهملة: القطعة" (المزعة) معنى ده: ټکړه، ټوټه.

تشريح: "وليس في وجهه مزعة لحم": د هغه په مخ به لږ غوښه هم نه وي، ځيني علماء ددې وجه داسې بيانوي: دغه کس هغه مخ چې د الله ﷻ په وړاندې يې ذليله کول پکار وو، هغه يې د خلکو په مخ کې ذليله کړو، هغه ته به په دې سزا ورکولې شي او ځيني نور علماء کرام رحمهم الله فرمايي: دا د ذلت او رسوايي څخه کنايه ده، ددې نه مقصود دا دی چې د سوال کولو نه انسان ځان وساتي، ځکه چې سوال کول په دنيا او اخرت کې د ذلالت ذريعه ده.

ورکوونکی لاس د اخيستونکي د لاس څخه غوره دی

"وعنه: أَنَّ رسول اللّٰه ﷺ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ، وَذَكَرَ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ عَنِ الْمَسْأَلَةِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ په منبر باندې کېناستلو، د صدقې ورکولو او سوال نه بچ کېدو تذکره يې وکړه او وې فرمايل: "اَلْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى" پورتنی لاس زيات غوره دی د لاندينې لاس څخه. "وَالْيَدُ الْعُلْيَا هِيَ الْمُنْفِقَةُ، وَالسُّفْلَى هِيَ السَّائِلَةُ" د پورتني لاس څخه هغه انسان مراد دی چې خرچ کونکی وي او د لانديني لاس څخه هغه کس مراد دی چې سوال کوي. متفق عليه

تشريح: ددې حديث تشريح په ۵۳۰ حديث کې تېره شوې ده.

مال زياتولو لپاره سوال کول په حقيقت کې سکروټې په لاس کې راخيستل دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ سَأَلَ النَّاسَ تَكَثُّرًا فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د مال جمع کولو لپاره سوال کوي، هغه په اصل کې د اور سکروټې جمع کوي، "فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ" اوس هغه ته اختيار دی چې لږې سکروټې راجمع کوي او که ډېرې جمع کوي. رواه مسلم

تشريح مطلب دا چې بې ضرورته محض مال زياتولو لپاره سوال کول، د داسې کس لپاره په دې حديث کې سخت وعيد بيان شوی دی چې داسې کس مال نه جمع کوي بلکې په حقيقت کې د اور سکروټې جمع کوي، اوس دده خوښه ده چې زياتې جمع کوي او که لږ جمع کوي، "فليستقل أوليستكثر" اوس د هغه خوښه ده چې زياتوي يې او که کموي يې، مطلب دا چې که د کم شي لپاره سوال کوي او که د قيمتي شي لپاره سوال کوي.

که سوال کوې، نو د وخت حاکم څخه يې غواړه!

"وعن سَمُرَةَ بن جُنْدُبٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِنَّ الْمَسْأَلَةَ كَدٌّ يَكُدُّ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ" د سمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سوال کول زخم دی چې په دې سره هغه

کس خپلې سترګې زخمي کوي، "إِلَّا أَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ سُلْطَانًا أَوْ فِي أَمْرٍ لَا بُدَّ مِنْهُ" مګر د ضرورت په وخت کې د حاکم نه څه غوښتل په سوال کې نه راځي، ځکه چې د مسلمانانو په بيت المال کې د هر ضرورت مند حق شته او بيت المال د وخت حاکم په لاس کې وي. نو د بادشاه نه غوښتل په حقيقت کې د خپل حق غوښتل دي او دا سوال نه دی "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

"الكد: الْخَدْشُ وَنَحْوُهُ" د (الكد) معنی ده: زخم يا داغ وغيره...

د وخت د حاکم نه د سوال کولو وجه:

"يسأل الرجل سلطاناً" د وخت حاکم نه سوال وکړه، مطلب دا چې که انسان نه منع کېږي، خامخا سوال کوي، نو بايد د داسې کس نه سوال وکړي چې په هغه خو يې څه نا څه حق رسيږي او هغه د وخت حاکم او بادشاه دی، که ته په حقيقت کې فقير او غريب يې، نو په بيت المال کې دي حق شته، او س ته کولی شې چې خپل حق د حاکم څخه واخلې

په اضطراري حالت کې سوال کول:

"أو في أمر لا بد منه" يا د مجبورۍ په حالت کې سوال وکړي چې د سوال کولو نه پرته بله چاره يې نه وي، مطلب دا چې که په انسان باندې داسې حالت راغلو چې د سوال کولو څخه بغير بله چاره يې نه وه، مجبور محض وي، مثلاً د چا ضمانت يې وکړو يا طوفان او سېلاب ورباندې راغلو، دده ټول سامان او جايداد يې ترې تباه کړو، يا بله حادثه او مصيبت ورباندې راشي چې ټول مال يې ختم شي، دغه وخت بيا د ډېر اضطراري حالت دی، د هغه لپاره سوال کول جائز دي

څوک چې د خلکو په مخ کې غريبي ظاهروي د هغه غريبي به ختمه نه شي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهُ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل که يو کس په غريبۍ او فقيرۍ کې راګير شي او بيا يې خلکو ته ښکاره کړي، د هغه غريبي او لوږه به ورکه نه شي. "وَمَنْ أَنْزَلَهَا بِاللهِ، فَيُوشِكُ اللهُ لَهُ بِرِزْقٍ عَاجِلٍ أَوْ آجِلٍ" او کوم کس يې چې الله جل جلاله ته ښکاره کوي، يعنې د الله جل جلاله نه سوال وکړي او د هغه نه يې وغواړي، ډېر زر يا لږه موده پس به يې الله جل جلاله لوږه او فقيري ختمه کړي، "رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن".

"يُوشِكُ: بكسر الشين: أَيْ يُسْرِعُ" لفظ د يوشك په کسرې د شين سره دی معنی يې ده په تېزۍ سره

لغوي تحقيق:

تسد: "سد يسد سدا" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: بندېدل

تشريح "لم تسد فاقته" د هغه غريبي او فقيري به کله هم بنده نه شي، مطلب دا چې که نن يې د يو ضرورت لپاره سوال وکړو او هغه يې پوره شو، نو سبا به بل ضرورت ورته پېښ شي، د هغه لپاره به بيا سوال کوي، دغه شان دا سلسله به تر هغه پورې روانه وي چې مرګ ورته راغلی نه وي، په

دې وجه په يو بل روايت کې رسول الله ﷺ يو څو خبرې کړې دي. په دې کې يوه خبره دا هم ده چې څوک د خلکو نه د سوال کولو دروازه په ځان خلاصه کړي، نو الله ﷻ به په هغه د فقيرۍ او غريبۍ دروازه خلاصه کړي

الله ﷻ به دده فقيري ختمه کړي:

"ومن أنزلها بالله فيوشك الله له برزق عاجل أو آجل" کوم کس چې د الله ﷻ په دربار کې خپله فقيري او غريبي وړاندې کړي، نو الله ﷻ به هغه ته رزق ورکړي يا په زړدې وخت کې يا لږ وخت کې، په يو بل روايت کې راځي چې رسول الله ﷺ وفرمايل "ومن أنزلها بالله أوشك الله له بالغنى إما بموت أو غنى عاجل" او په بل روايت کې راځي چې "ومن أنزلها بالله آتاه الله برزق عاجل أو بموت آجل" الفاظ هم نقل دي. مطلب دا چې کوم کس خپله غريبي او فقيري الله ﷻ ته وړاندې کړي، نو الله ﷻ به دده فقيري او غريبي لرې کړي، ددې طريقه به داسې وي چې يا خو به ورته مرګ راولي هغه به په فقيرۍ او غريبۍ کې مړ شي. کيسه به يې ختمه شي او يا به مال ورکړي. فقيري او غريبي به يې ختمه کړي، يا به دده په کورني کې کوم کس مړ کړي چې په ميراث کې به ورته ډېر څه پاتې شي او يا به په وصيت کې ورته پاتې شي

په سوال نه کولو باندې د جنت ضمانت

"وعن ثوبان ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ تَكَفَّلَ لِي أَنْ لَا يَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا" د ثوبان ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې ماته ددې خبرې ذمه واري راکړي چې د خلکو نه به سوال نه کوي. "وَأَتَكَفَّلُ لَهُ بِالْجَنَّةِ؟" نو زه به هغه ته د جنت ذمه واري ورکړم؟ "فقلت: أنا، فكان لا يسأل أحدا شيئا" ثوبان ﷺ فرمايي ما وويل: يا رسول الله ﷺ: زه ددې خبرې ذمه واري درکوم چې زه به د چا نه سوال نه کوم "رواه أبوداود بإسناد صحيح".

لغوي تحقيق:

تکفل: کفيل نه ده، ددې معنی ضامن ذمه وار جوړيدل

تشريح "لايسأل الناس شيئا وأتكفل له بالجنة": څوک چې د خلکو نه هيڅ سوال نه کوي، زه داسې کس ته د جنت ضمانت ورکوم، په دې حديث کې هغو کسانو لوی زيری دی چې د سوال کولو نه ځان ساتي. ددې نه علماوو استدلال کړی دی چې کوم کس سوال نه کوي. د سوال نه ځان ساتي، د داسې کس خاتمه به په خير کيږي، ځکه خو به جنت ته داخليږي، بلکه دا چې داسې کس به ابتداء هغوی به جنت ته داخليږي، بغير له عذابه جنت ته داخليږي، کنه نو مؤمن به يوه ورځ خامخا جنت ته د ايمان په وجه داخل شي

ددې نه اضطراري حالت مستثنی دی:

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي ددې نه اضطراري حالت مستثنی دی. مثلاً د مرګ ويره وي، يا داسې سخت ضرورت وي چې بې سواله بله چاره نه کيږي، په داسې حالت کې سوال جائز دی

د درې کسانو لپاره سوال جائز دی

"وعن أبي بشر قبيصة بن المخارق ﷺ، قال: تحملت حمالة فأتيت رسول الله ﷺ أسأله فيها، فقال: أقم حتى تأتينا الصدقة فنأمر لك بها" د ابو بشر قبيصه بن مخارق ﷺ روايت دی، فرمايي چې ما د څه مال ذمه واري په خپل سر اخيستې وه، يعني د دوه ډلو د صلح په طور مې څه روپۍ اېښې وې، د هغې د ورکولو ذمه واري ما اخيستې وه، ددې ذمه واری نه د ځان خلاصولو لپاره زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او د مرستې سوال مې ترې وکړو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: د صدقاتو راتلو پورې انتظار وکړه "ثم قال: يا قبيصة، إن المسألة لا تحل إلا لأحد ثلاثة" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې قبيصة ﷺ! د درې کسانو نه سېوا بل چاته سوال جائز نه دی، "رجل تحمل حمالة، فحلت له المسألة حتى يصيبها، ثم يمسك" يو هغه کس دی چې د چا ذمه واري يې اخيستې وي او خپله يې انتظام ونه کړی شي، نو د ضرورت په اندازه ورته غوښتل جائز دي. د ضرورت نه زيات به نه غواړي، "ورجل أصابته جائحة اجتاحت ماله، فحلت له المسألة حتى يصيب قواما من عيش - أو قال: سدادا من عيش" دويم هغه کس دی چې آفت پرې راشي، مال او اسباب يې هر څه خراب شي، نو د ضرورت سوال کولی شي، يا يې وفرمايل: د ژوند تېرولو ګزران پرې کولی شي، "ورجل أصابته فاقة، حتى يقول ثلاثة من ذوي الحجى من قومه: لقد أصابت فلانا فاقة. فحلت له المسألة حتى يصيب قواما من عيش، أو قال: سدادا من عيش" او درېم کس هغه دی چې د لوږې او غريبۍ داسې حالت پرې راشي چې د هغه د کورنۍ يا قبيلې درې معتبر خلک ووايي: واقعي دا سړی لوږې راګېر کړی دی او غريب شوی دی، نو هغه ته سوال کول جائز دي، مګر صرف دومره سوال به کوي چې ژوند يې وربانديې بچ شي او يا يې داسې وفرمايل چې دده ګزاره پرې وشي، "فما سواهن من المسألة يا قبيصة سحت، يأكلها صاحبها سحتا" ددې درې قسمونو نه بغير هر قسم سوال حرام دی او داسې کس حرامه خوري. رواه مسلم

"الحمالة: بفتح الحاء: أن يقع قتال ونحوه بين فريقين، فيصلح إنسان بينهم على مال يتحمله ويلتزمه على نفسه" لفظ د (الحمالة) معنی بوج اوچتونکی يا ذمه واري اخيستونکی، يعني صورت حال دا ؤ چې د دوه ډلو ترمينځ جنګ وي او هغه يې درېمګړی شي او د صلح په صورت کې د مال او دولت ذمه واري واخلي، "و((الجائحة)) الآفة تصيب مال الإنسان" د (الجائحة) معنی ده: داسې آفت چې د هغې په وجه د انسان مال ضايع شي، "و((القوام)) بكسر القاف وفتحها: هو ما يقوم به أمر الإنسان من مال ونحوه" د (القوام) معنی ده: هر هغه شی چې په هغې سره د انسان ژوند تېرېږي، "و((السداد)) بكسر السين: ما يسد حاجة المعوز ويكفيه" ددې معنی دا ده: چې د حاجت مند او ضرورت مند ضرورت پوره شي او هغه ورته کافي هم وي، ګزاره يې پرې کېږي، "و((الفاقة)): الفقر" د (الفاقة) معنی ده: لوږه او غريبي، "و((الحجى)): العقل" د (الحجی) معنی ده: عقل او پوهه.

تشريح: لاتحل الا لاحد ثلاثة: درې کسانو نه پرته نورچاته سوال کول جائز ندي، ورومبی هغه کس چې دچاضمانت يې کړي وي نو اوس دته سوال کول جائز دي، حمالة: هغه مال ته ويل کيږي کوم چې

بطور ضمانت په سري باندې ضروري شي، چې هغه جګړې ختمولو لپاره دغه مال په خپله غاړه اخستي دي، نو دغه ضمانت او قرض اداکولو ته جائز دي چې سوال وکړي، دوهم هغه کس ده کوم چې په مصيبت کې راګير شي مثلاً سيلاب راشي دده ټول مال ختم کړي، زلزله راشي مال يې ټول ختم شي وغيره داسې کوم آفت سماوي راشي چې دده ټول هرڅه ختم کړي نو داسې کس لپاره هم سوال کول جائز دي، دريم ورجل اصابته فاقة: مطلب دا چې مالداره ده، ليکن اوس په هغه باندې سخت حاجت راغلو مثلاً دده کورته غله ووشوه يا په بله کومه حادثه کې فقير شو، نو داسې کس لپاره سوال کول جائز دي، حتى يقال ثلاثة: دده په فقيرۍ باندې درې عقلمند کسان ګواهي ورکړي داسرې حقيقتاً فقير ده، دا مستحب په درجه کې دي، بل په دې کې دا خبره هم ده چې اصل مقصود سوال کول بندول دي، چې هسې نه هرسړی سوال شروع کړي

د راوي ابوبشر قبيصه بن مخارق رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې قبيصه دی، د پلار نوم يې مخارق دی او کنيت يې ابو بشر دی، سلسله نسب يې داسې دی: قبيصه بن مخارق بن عبد الله بن شداد بن ربيعه بن نهيك بن حلال بن عامر حلالي بصري، د خپلې قبيلې سره يو ځای راغلو او مسلمان شو، د بصرې اوسېدونکی وو، ټول شپږ حديثونه ترې روايت شوي دي، يو په مسلم شريف کې دی، په ابوداود او نسائي کې هم ترې روايات نقل دي

د خلکو په کورو نو ګرځېدونکی فقير نه دی

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ، وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه سړی مسکين نه دی چې يو يا دوه مړي لپاره يا يوه دوه خورما لپاه خلکو ته ځي، "وَلَكِنَّ الْمِسْكِينَ الَّذِي لَا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ" په حقيقت کې مسکين او غريب سړی هغه دی چې دومره څه ورسره نه وي چې د خلکو نه بې پروا او بې غمه شي، "وَلَا يُفْطَنُ لَهُ فَيُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ، وَلَا يَقُومُ فَيَسْأَلَ النَّاسَ" او نه خلکو ته د هغې د حال پته وي چې د هغه مدد وکړي او نه د شرم او د غيرت له وجې چېرته په ډله کې د سوال لپاره درېږي متفقٌ عليه

لغوي تحقيق:

يطوف: "طاف يطوف طوفاً" ددې معنى ده: تاوېدل او راتاوېدل

تشريح: "ليس المسكين الذي يطوف على الناس": مسکين هغه نه دی چې د خلکو په کورونو ګرځي، په دې جمله کې هغو خلکو ته ترغيب دی چې د غريب او فقير پسې ګرځي، هغوی ته مال ورکوي، دوی بايد خپلې صدقې داسې کسانو ته ورنه کړي چې کسب يې د سوال وي، سوال يې ځانته کسب او مشغله جوړه کړې وي، ددې پر ځای چې يو حقيقي، مستحق، فقير او غريب ته ورکړې شي، ددې به زيات اجر وي په نسبت سره هغه فقير ته چې سوال يې خپله مستقله پېشه ګرځولې وي، دا مسکين نه دی، بلکې په حقيقت کې يو تاجر دی

امام غزالي رحمه الله نقل کړي دي چې يو ځل عمر رضي الله عنه د يو سوالګر آواز واورېدو چې سوال کوي،

چاته يې وفرمايل: ورشه په دغه فقير باندې څه وخوره؛ هغه لاړو، څه موده وروسته بېرته راغلو، اواز يې وکړو چې د خداى په نامه څه راکړئ، عمر رضي الله عنه بيا وربانديې څه وخوړل، هغه لاړو، بېرته څه وخت وروسته راغلو، اواز يې وکړو، د خداى په نامه څه راکړئ، عمر رضي الله عنه چې دغه فقير ته وکتل، نو د هغه په ترخ کې يوه تيلۍ؛ خلته وه چې وې کتل، په هغه تيلۍ؛ حلته کې زياتې ډوډۍ وې، عمر رضي الله عنه هغه ډوډۍ راواخيستې او د صدقې اوښانو ته يې واچولې او بيا يې دغه عادتي فقير ته وفرمايل: ته فقير نه يې بلکې ته يو تاجر يې، بيا يې ورته وفرمايل بيا داسې ونه کړې.

اصلي مسکين څوک دی؟

"ولكن مسكين الذى لايجد غنى يغنيه": په حقيقت کې مسکين هغه دی چې دومره مال ورسره نه وي چې د بل نه پرې مستغني شي، په دې جمله کې ترغيب دی دې خبرو ته چې مسکين او غريب لټول پکار دي، ځکه چې هغوى د شرم او حياء له وجې په کورونو کې ناست وي، سوال نه شي کولی، چاته لاس نه شي نيولی، نو ځکه داسې کسان لټول پکار دي، د هغوى پسې ګرځېدل پکار دي، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې د داسې کسانو په اره ويل شوي: "يحسبهم الجاهل اغنياء من التعفف تعرفهم بسيماهم لا يسالون الناس إلحافاً"

باب جواز الأخذ من غير مسألة ولا تطلع إليه

د غوښتلو او طمع څخه بغير د يو شي اخيستلو بيان

"عن سالم بن عبد الله بن عمر، عن أبيه عبد الله بن عمر، عن عمر رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ رسول الله ﷺ يُعْطِينِي العَطَاءَ" سالم رضي الله عنه د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت کوي، هغه يې د خپل پلار عمر رضي الله عنه نه نقل کوي، فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله کله ماته د ورکړې کوم شی راکړو، "فَأَقُولُ: أَعْطِهِ مَنْ هُوَ أَفْقَرُ إِلَيْهِ مِنِّي" نو ما به ويل: يا رسول الله ﷺ دا شی بل داسې کس ته ورکړه چې زما څخه زيات ضرورت مند وي او د هغه حاجت ورته زيات وي، "فَقَالَ: خُذْهُ، إِذَا جَاءَكَ مِنْ هَذَا المَالِ شَيْءٌ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلاَ سَائِلٍ، فَخُذْهُ فَتَمَوَّلْهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا واخله کله چې تاته څه مال راشي، په داسې حال کې چې ته اوس طمع نه لرې او نه دې ترې سوال کړی دی، په خپل تصرف کې يې راوله؛ "فَإِنْ شِئْتَ كُلْهُ، وَإِنْ شِئْتَ تَصَدَّقْ بِهِ" بيا ستا خوښه ده که هغه مال خپله خورې او که بل چاته يې د صدقې په توګه ورکوې، "وَمَا لاَ، فَلاَ تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ" او کوم مال چې داسې نه وي (يعني که طمع يې لرې يا دې په سوال واخيستلو) نو بيا په داسې مال پسې مه ګرځه؛ "قَالَ سَالِمٌ: فَكَانَ عَبْدُ اللهِ لاَ يَسْأَلُ أَحَداً شَيْئاً، وَلاَ يَرُدُّ شَيْئاً أُعْطِيَهُ" سالم رضي الله عنه فرمايي: بيا به عبد الله رضي الله عنه چېرته هم د چا نه سوال نه کولو او نه به يې هغه مال واپس کولو کوم چې به ورته بغير د طمعې او سوال نه چا ورکړو. متفقٌ عَلَيْهِ

"مُشْرِف: بِالشين المعجمة: أَيْ متطلع إليه" د مشرف معنی ده: طمع لرل.

لغوي تحقيق: فتموله: مالداره کېدل

د عايشې رضي الله عنها واقعه:

همدغه ډول يوه بله واقعه د عايشې رضي الله عنها نقل کيږي چې عبد الله بن عامر لږ درهم او لږ کپړې د عايشې رضي الله عنها په خدمت کې واستولې، عايشې رضي الله عنها د خپل عادت موافق بېرته ورته واپس کړې او ورته يې وفرمايل: زما عادت نه دی چې د چا نه څه شی واخلم، کله چې هغه هديه راوړونکی کس بېرته واپس روانېدو، نو عايشې رضي الله عنها ورته آواز وکړو چې ودرېږه! هغه هديه يې ترې واخيسته، بيا يې ورته وفرمايل ماته د رسول الله ﷺ يوه خبره رايادة شوه، هغه به ماته فرمايل: اې عايشې رضي الله عنها! بې طلبه چې کوم شی درته په لاس درشي، هغه اخله، هغه د الله جل جلاله له لورې رزق دی، هغه چې ستا طرفته راولېږل شي، "وأنت غیرمشرفة" چې تاته د هغه مال په حصول کې حرص لالچ او طمع نه وي، د امام احمد رحمه الله زوی عبد الله رحمه الله فرمايي: ما د خپل پلار احمد رحمه الله نه پوښتنه وکړه چې د (اشراف) څه معنی ده؟ هغه راته وفرمايل: په خپل زړه کې ددې خبرې خيال ساتل چې دا سړی به ماته څه راکړي او يا فلانکی سړی به ماته څه راکړي

هديه قبلولو لپاره درې خبرې ګوره!

امام غزالي رحمه الله فرمايي: هديه قبلولو لپاره درې خبرې کتل پکار دي، **لومړی** دا چې د مال ورکوونکي غرض کتل پکار دي چې هغه ماته په کوم غرض مال راکوي، د صدقې په نيت يې راکوي، يا يې زما سره مينه او محبت ده يا خپل شهرت غواړي، يا رشوت دی چې د هديې په نوم يې راوړی دی، که خالصه ډالۍ وي، نو بايد قبوله يې کړي

دويم: دا چې د اخيستونکي څه مطلب دی، که ضرورت يې وي، نو اخيستلی يې شي

دريم: دا چې مال کتل پکار دي چې ايا مال خو به يې حرام نه وي، که حلال وي واخله، که حرام وي مه يې اخله! همدغه خبره د صحابه کرامو په ژوند کې موندلی شي، د ځينو خلکو هديه به يې قبلول او د ځينو به يې رد کول.

د راوي سالم بن عبد الله رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې سالم دی، د عبد الله رضي الله عنه زوی دی، د عمر رضي الله عنه لمسی دی، د عمر رضي الله عنه په بچو کې تر ټولو زيات مشابه عبد الله رضي الله عنه دی، د عبد الله رضي الله عنه سره زيات مشابه سالم رحمه الله دی، علامه ذهبي رحمه الله فرمايي: سالم رحمه الله فقيه او حجت وو، په مخصوصو علماوو کې شمارل کېدو، علم او عمل دواړه يې درلودل، امام نووي رحمه الله فرمايي: د سالم رحمه الله په امامت، جلالت، زهد او تقوی باندې د ټولو اتفاق دی، په حديث کې يې زيات شهرت درلود، هغه د ابوهريره رضي الله عنه، ابوايوب انصاري رضي الله عنه او عايشې رضي الله عنها نه علم حاصل کړی دی، په دې وجه ابن سعد رحمه الله فرمايي چې سالم رحمه الله ثقه، کثير الحديث او د اوچتې مرتبې عالم دی، امام مالک رحمه الله فرمايي: په تقوی او زهد کې د د مدينې منورې په فقهاء کرامو کې شمارو،

سلفو سره زيات مشابه ؤ، په مشابهت کې د هغه په څېر بل څوک نه ؤ، يو څو خانګړي صفتونه يې درلودل: ډېر زيات احتياط به يې کولو، د وخت حاکمانو څخه به لرې اوسېدلو، د مسلمان د بې حرمتۍ او جنګ جګړو څخه به يې ځان لرې ساتلو.

وفات: په يو سل شپږمه هجري کې په مدينه منوره کې وفات شو، هشام بن عبد الملك يې د جنازې لمونځ وکړو.

باب الحث على الأكل من عمل يده والتعفف به عن السؤال والتعرض للإعطاء

په خپل لاس ګټل او د سوال نه ځان ساتلو بيان

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ" الله تعالی فرمايي: "فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ" کله چې د جمعې لمونځ وشي، نو بيا په ځمکه کې وګرځئ، "وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ" او د الله تعالی فضل ولټوئ (يعنې تجارت وغيره شروع کړئ) [الجمعة:١٠].

تشريح: د دې آيت نه وړاندې د جمعې آذان وروسته اخيستل خرڅول منع شوي وو، اوس فرمايي چې کله د جمعې لمونځ وکړئ نو بيا په خپل تجارتي کاروبار کې مشغول شئ.

د جمعې د لمانځه وروسته تجارت افضل دی:

ابن کثير رحمه الله د ځينو سلف صالحينو څخه نقل کوي چې د جمعې د لمانځه وروسته تجارت کولو کې اويا درجې برکت وي، دغه ډول ابن کثير رحمه الله د عراك بن مالك رحمه الله نه نقل کوي چې د جمعې لمانځه وروسته به هغه د جومات په دروازه ودرېدو او داسې دعاء به يې کول: "اللهم إني أجبت دعوتك وصليت فريضتك وانتشرت كما أمرتني مارزقني من فضلك وأنت خير الرازقين" ژباړه: اې الله! ما ستا د حکم اطاعت وکړو او ستا فرض حکم مې پوره کړو، لکه څرنګه چې تاسو فرمايلي وو، د لمانځه نه فارغ شوم، تاسو په خپل فضل ماته رزق راکړئ، تر ټولو غوره رزق ورکوونکی ذات يې!

لرګي خرڅول د سوال نه غوره دي

"وعن أبي عبد الله الزبير بن العوام رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ أَحْبُلَهُ ثُمَّ يَأْتِيَ الْجَبَلَ، فَيَأْتِيَ بِحُزْمَةٍ مِنْ حَطَبٍ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَبِيعَهَا، فَيَكُفَّ اللَّهُ بِهَا وَجْهَهُ" د ابو عبد الله زبير بن عوام رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که په تاسو کې يو کس رسۍ راواخلي او غره ته لاړ شي، بيا په خپله ملا باندې د لرګو ګېډۍ راوړي او هغه خرڅ کړي، په دې سره به هغه الله ﷻ د سوال نه وساتي، "خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ" د هغه لپاره دا ډېر ښه دي د دې نه چې سوال وکړي، "أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوهُ" يا به څوك څه ورکړي او يا نه! رواه البخاري

لغوي تحقيق:

حزمة: "حزمة" اصل کې د لرګو ګيډۍ ته ويل کيږي

تشريح په دې حديث کې اشاره ده دې خبرې ته چې يو انسان خپله خواري وکړي او رزق پرې وګټي، اګرچې دا کار هر څومره سپک ولې نه وي، برابره خبره ده چې لرګي څرڅول ولې نه وي، دا ددې نه ښو چنده ښه دي چې يو انسان دې بل انسان ته لاس ونيسي او سوال دې وکړي، ځکه چې په لاس نيولو کې د ذلت پرته بل څه نشته، اسلام انساني شرافت او عزت غواړي او انساني شرافت په دې کې دی چې انسان بايد خپله خواري وکړي، رزق وګټي او په سرو سترګو يې وخوري

د سوال نه مزدوري غوره ده:

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لأَنْ يَحْتَطِبَ أَحَدُكُمْ حُزْمَةً عَلَى ظَهْرِهِ، خَيْرٌ لَهُ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل که په تاسو کې يو کس د لرګو پنډ په خپله ملا باندې راوړي او خرڅ يې کړي، دا به د هغه لپاره ډېره ښه وي، "مِنْ أَنْ يَسْأَلَ أَحداً، فَيُعْطِيَهُ أَوْ يَمْنَعَهُ" ددې څخه چې د خلکو نه سوال وکړي، يا به يې خلک ورکړي او يا به يې منع کړي متفق عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

يحتطب: "حطب حطباً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: د لرګو ګيډۍ.

تشريح "لأن يحتطب أحدكم حزمة على ظهره" په يو بل روايت کې دي: "والذي نفسي بيده ليأخذ أحدكم حبلة فيحتطب على ظهره" الفاظ نقل دي، په دې حديث کې هم د خوارۍ، مزدورۍ او محنت فضيلت بيان شوی دی چې انسان بايد خواري او محنت وکړي، نه دا چې د خلکو نه سوالونه وکړي، ځکه چې په سوال سره انسان سپک ښکاري

د فقهاوو په نزد د محنت او مزدورۍ درجې:

فقهاوو ليکلي دي چې کله محنت او مزدوري فرض وي، کله حرام وي، کله مستحب وي او کله مباح وي، فرض به هغه وخت وي چې ګټونکي او کورنۍ ته يې د ضرورت لپاره کافي شي، حرام به هغه وخت وي چې دغه ګټه د تکبر او فخر لپاره وشي، مستحب به هغه وخت وي چې کله د ضرورت نه زيات ګټل ورته ميسر شي، په دې شرط چې کومه ګټه د ضرورت نه زياته شي، هغه په غريبانو کې تقسيمه کړي، مباح به هغه وخت وي چې کله د ضرورت نه زياته ګټه په دې نيت وکړي چې خپله ښتمني او عزت وربانديې وساتي

داود عَلَيهِ السَّلَام به د خپل لاس مزدوري خوړل

"وعنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: كَانَ دَاوُدُ عليه السلام لا يَأْكُلُ إلاَّ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: داود عليه السلام به د خپل لاس ګټه خوړل رواه البخاري

تشريح: داود عليه السلام به د خپل لاس مزدوري خوړل، ويل کيږي چې يوه شپه داود عليه السلام خپل ځان سره سوچ کولو چې يوه پرښته د انسان په شکل کې ورته راغله، ورته يې وفرمايل داود عليه السلام ډېر ښه انسان دی، خو که د بيت المال نه يې خوراك نه کولی، که هغه د خپل لاس مزدوری انتظام وکړي نو ډېره به ښه وي، په دې وخت کې داود عليه السلام دعاء وکړه چې اې الله! ما د بيت المال نه مستغني کړه او ما ته هنر او مزدوری چل وښيه، الله ﷻ يې دعاء قبوله کړه او هغه ته يې د زغرو جوړولو چل وښودلو چې د هغه لاس ته به اوسپنه راغله، نو داسې نرمه به شوه لکه د شمع موم چې څنګه نرميږي، ددې نه به يې زغرې جوړولې، يوه يوه زغره به يې په څلور شپږ زره درهمه خرڅول، دوه زره درهم به يې په خپل ځان او کورنۍ باندې خرچ کولې او څلو رزره يا دوه زره درهم به يې په فقيرانو او غريبانانو باندې خرچ کولې، په دې حديث کې هم دې خبرې ته اشاره ده چې په خپل لاس ګټل شوې مزدورې د سوال کولو نه ښه ده، ناسمه نه ګوری چې داود عليه السلام د پيغمبری سره خپله مزدوري کول

زكريا عليه السلام به تركاني كول

"وعنه: أن رسول الله ﷺ قال: كَانَ زَكَرِيَّا عليه السلام نَجَّاراً" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زکريا عليه السلام به ترکاني کول. رواه مسلم

لغوي تحقيق: نجاراً: ترکاڼ ته ويل کيږي

هر پيغمبر به ځان ته تجارت كولو:

په دې حديث کې ارشاد دی چې زکريا عليه السلام سره د پيغمبری ترکاڼ و، لرګي به يې تراشل، په يو بل روايت کې دي چې ټولو پيغمبرانو ګډې چيلی څرولې، ويل کيږي چې آدم عليه السلام به زميندارې کول، نوح عليه السلام به هم د ترکاني کار کولو، دغه شان ابراهيم عليه السلام او موسی عليه السلام به هم چيلی څرولې، سليمان عليه السلام به د ماهيانو تجارت کولو، درې خليفه ګان تاجران وو، علي رضي الله عنه به مزدوري کول، اکثره صحابه کرامو يا تاجران وو يا به يې زميندارې کول، په دې ټولو کې دې خبرې ته ترغيب دی چې د خپل لاس خوارې او محنت ددې څخه غوره ده چې يو انسان دې بل انسان ته لاس ونيسي

خوارې او محنت ډېر ښه عادت دی

"وعن المقدام بن مَعْدِ يكربَ رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَاماً قَطُّ خَيْراً مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ" د مقدام بن معديکرب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو کس ددې نه غوره خوراك نشته چې کوم خوراك يې په خپل لاس ګټلی وي او وې خوري، "وَإنَّ نَبِيَّ اللهِ دَاوُدَ ﷺ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ" او بې شکه د الله ﷻ پيغمبر داود عليه السلام به د خپل لاس ګټه خوړل رواه البخاري

لغوي تحقيق:

قط: دا ظرف زمان دی، د ماضي زمانې د احاطې لپاره راځي او دا تر منفي پورې خاص ده، لکه (ما فعلت قط) ما دا کار کله هم نه دی کړی

د خوارۍ او محنت فضائل:

"قال ما أكل أحد طعاماً خيراً من أن يأكل من عمل يده": کوم کس د خپل لاس د محنت نه پرته بل غوره خوراك ونه كړو، په دې حديث کې هم د خوارۍ فضيلت ته اشاره ده. د مجالس الابرار مصنف د ابو هريره ﷺ نه روايت نقل کړی دی هغه فرمايي چې: رسول الله ﷺ به فرمايل: کوم کس چې د خپل بال بچ خبرګيرۍ په حلال مال سره کوي، لکه هغه چې په جهاد کې مصروف وي. په يو بل روايت کې راځي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د شرې مخلوق نه د ځان ساتلو په خاطر يا د خپلوانو سره د احسان او نېکۍ په خاطر مزدوري کوي، د قيامت په ورځ به د هغه مخ د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر روښانه وي. په يو بل روايت کې دي چې: مسلمان تاجر د الله ﷻ دوست او د هغه ملګری دی

باب الكرم والجود والإنفاق في وجوه الخير ثقةً بالله تعالى

د سخاوت او د الله ﷻ په توکل د نېکۍ په کارونو کې د خرچ فضيلت

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي "وَمَا أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ" او کوم شی چې تاسو خرچ کوئ، "فَهُوَ يُخْلِفُهُ" نو دغه لوی ذات به بدله ورکوي [سبأ:۳۹]

تشريح: ددې آيت مطلب دا دی چې ته هر څه د الله ﷻ په لار کې خرچ کوې، نو الله ﷻ به ددې بدله پوره ورکوي، کله په دنيا کې او کله په آخرت کې او کله په دواړو کې، انسان چې څومره خرچ کوي هغومره بدله به الله ﷻ ورکوي، مثلاً: هغه څاروی چې غوښه يې خوړل کيږي، لکه غوا، چېلۍ، ګډه، مېښه وغيره ... ، څومره چې ددې خرچه وي دومره به بدله ورکول کيږي او په پيداوار کې به هم ورته اضافه کولی شي، ددې برعکس سپی، پيشو وغيره چې په ظاهر کې د دوی نسل زيات ښکاري، ليکن ددې هيڅ خرچه نه وي، نو ځکه د دوی شمار هم کم وي، مفتي شفيع رحمه الله فرمايي: د کوم وخت څخه چې عربو په اوښانو باندې سوارلي بنده کړه، د هغه وخت نه ددې اوښانو پيداوار کم شو، د مسلم شريف په يو روايت کې دي چې "اللهم اعط منفقاً خلفاً واعط ممسكاً تلفاً" ژباړه: يا الله! خرچ کونکي ته د هغې بدله ورکړې او د بخيل مال هلاك کړې

خرچ به صرف د الله ﷻ د رضاء په خاطر کوئ:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي "وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ" او کوم څه چې تاسو د خپلو مالونو څخه خرچ کوئ دا به ستاسو لپاره وي او تاسو خرچه نه کوئ، مګر صرف د يو الله ﷻ د رضا لپاره يې کوئ، "وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ" او کوم څه چې تاسو خرچ کوئ ددې پوره پوره بدله به درکولی شي او په تاسو به هيڅ ظلم نه کيږي [البقرة:۲۷۲]

تشريح: ددې آيت مطلب هم دا دی چې مسلمان څه هم د الله ﷻ د رضا په خاطر خرچ کوي، نو دوی ته به پوره پوره بدله ورکولی شي، فايده به يې هم دنه رسيږي، هم په دنيا کې او هم په آخرت کې.

مفسرين رحمهم الله فرمايي په دې کې دې خبرې ته هم اشاره ده چې ته څه هم خرچ کوې، نو خالص د الله جل جلاله د رضا په خاطر يې خرچ کوه، بل دا چې ددې فايده به هم تاته ملاويږي، په يو روايت کې دي چې ته خرچ کوه په تا به هم خرچ وشي

بنده چې څه کوي، الله جل جلاله پرې خبردار دی:

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ" او کوم څه چې تاسو د خپلو مالونو څخه خرچ کوئ نو په هغې باندې الله جل جلاله خبردار دی [البقرة:۲۷۳].

تشريح: تاسو چې هرڅه کوئ په دې هم الله جل جلاله علم لري او په کوم مقصد يې چې کوئ په دې هم الله جل جلاله خبر دی، که په دې نيت وي چې الله جل جلاله رانه راضي شي، نو الله جل جلاله به هم درنه راضي شي او بدله به يې هم درکړي او که په دې نيت يې خرچه کوئ چې خلك ماته ښه سړی ووايي، نو په دنيا کې به درته خلك ښه سړی ووايي، خو الله جل جلاله به درنه راضي نه شي او نه به ددې بدله درکړي، بل په دې آيت کې دې خبرې ته اشاره ده چې ته هر څه خرچ کوې، هغه بايد د ضرورت نه اضافي شيان وي

دوه کسان د پسخېدو قابل دي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: لا حَسَدَ إلاَّ في اثْنَتَيْنِ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: حسد نشته، مگر په دوه کسانو باندې، "رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالاً، فَسَلَّطَهُ عَلَى هَلَكَتِهِ فِي الحَقِّ" يو هغه کس دی چې الله جل جلاله ډېر مال ورکړی وي او هغه يې په نېکو کارونو کې خرچ کوي، "وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ حِكْمَةً، فَهُوَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا" او بل هغه کس دی چې الله جل جلاله علم ورکړی وي او هغه پرې صحيح فيصلې کوي او نورو ته علم ښيي. متفقٌ عَلَيهِ

"ومعناه: يَنبَغي أنْ لاَ يُغبَطَ أحَدٌ إلاَّ عَلَى إحدَى هَاتَيْنِ الخَصْلَتَيْنِ" ددې حديث مطلب دا دی چې غبطه بايد ونه کړي، مگر په دې دوه خصلتونو او صفتونو باندې چې دا صفتونه بايد په ځان کې پيدا کړي، دلته د حسد نه مراد غبطه ده، حقيقي حسد مراد نه دی

دلته د حسد نه مراد غبطه ده:

"لاحسد إلا في إثنين" حسد د دوه کسانو سره جائز دی، د حسد خپله معنی ده: په چا کې چې کوم کمال يا نعمت وي، بيا ددې ارمان وکړي چې دا نعمت ترې زائل شي، داسې ارمان کول مطلقاً منع او حرام دي، ځکه چې علماوو دلته د حسد نه لغوي معنی اخيستې ده چې غبطه ورته ويل کيږي، د غبطې معنی ده: په چا کې يو نعمت ليدل او بيا ددې ارمان کول چې زما سره هم دغه شان نعمت وای، ليکن ددې ارمان نه کول چې دا نعمت دې د هغه څخه زائل/ختم شي، يا ځينې علماء فرمايي چې دلته حسد علی سبيل الفرض والتقدير مراد دی، يعنې که چېرته حسد جائز وی، نو په دې دوه ځايونو کې به جائز وو، ليکن په دې کې هم جائز نه دی، نو اوس چېرته هم جائز نه شو.

"فسلطه على هلكته" علامه طيبي رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې په دوه طريقو سره د مال صرف

کولو بيان شوی دی، لومړی دا چې (تسليط) هغه کس د مال په ختمولو باندې مسلط دی، دويم (علی هلکته) چې دده سره مال باقي نه پاتې کيږي، (في الحق) لومړی جملې (فسلطه علی هلکته) نه دا وهم کېدی شي چې بس نور څه به نه کوو، بس مال به خرچ کوو، علامه طيبي رحمه الله فرمايي چې (في الحق) جملې نه ددې خبرې وضاحت بيانېدل مقصود دي چې صرف او صرف په حق او ديني ځايونو کې مال خرچ کوي، په نورو ځايونو کې يې نه خرچ کوي

چاته د وارث مال د خپل مال نه زيات محبوب دی؟

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: أَيُّكُمْ مَالُ وَارِثِهِ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِهِ؟" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې داسې څوک نشته چې د خپل مال نه ورته د وارث مال ډېر خوښ وي؟ "قالوا: يَا رسولَ الله، مَا مِنَّا أَحَدٌ إلاَّ مَالُهُ أَحَبُّ إِلَيْهِ" صحابه کرامو رضي الله عنهم وفرمايل: يا رسول الله ﷺ په موږ کې يو هم داسې نشته هر چا ته خپل مال خوښ دی، "قَالَ: فإنَّ مَالَهُ مَا قَدَّمَ وَمَالَ وَارِثِهِ مَا أخَّرَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د هغه مال هغه دی چې د ځان نه يې مخکې لېږلی دی او په نېکو کارونو کې يې خرچ کړو او د آخرت لپاره يې ذخيره کړو، باقي پاتې کېدونکی مال د وارثانو دی. رواه البخاري

"أيكم مال وارثه أحب إليه من ماله؟" په تاسو کې څوک داسې شته چې هغه ته د وارث مال د خپل مال نه زيات خوښ وي؟ محدثين فرمايي: په دې حديث کې نبي کريم ﷺ ډېر په ښکلي انداز او ډېر په حکيمانه طرز سره د صدقې ورکولو ترغيب ورکړی دی، ددې خلاصه دا ده چې: اصل مال هغه دی چې د الله ﷻ په لاره او د هغه په رضاء کې مصرف شي، د هغه د خوښې په ځايونو کې خرچ کړی شي، ځکه چې بيا به هم دغه مال د قيامت په ورځ دده په کار راځي، ددې نه بغير چې نور کوم مال دده سره پاتې وي، هغه به ټول وارثانو ته به لاس ورځي، په دې بل حديث کې ترغيب دی دې خبرې ته چې کوم کس ته الله ﷻ مال ورکړي، هغه ته پکار دي چې خپل مال د الله ﷻ په لار کې خرچ کړي

د جهنم نه ځان بچ کړه ! اګر چې د خورما يوه ټکړه ولې نه وي

"وعن عَدِيِّ بن حَاتِمٍ رضي الله عنه: أنَّ رسولَ الله ﷺ، قَالَ: اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ" د عدي بن حاتم رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د جهنم د عذاب څخه ځان بچ کړئ، اګر چې د خورما په يوې ټوټې سره ولې نه وي متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: په دې حديث کې هم ترغيب دی دې خبرې ته چې د طاقت مطابق بايد سړی د الله ﷻ په لار کې خرچ وکړي، که نور څه نه شي ورکولی، نو د خورما يوه ټکړه دې صدقه کړي او ځان دې بړې د جهنم له عذابه وساتي

مکمل حديث:

ځينې محدثين فرمايي: دا حديث مختصر دی، پوره حديث په بخاري شريف کې داسې دی عن عدي بن حاتم رضي الله عنه قال كنت عند رسول الله ﷺ فجاءه رجلان احدهما يشكو العيلة والاخر يشكو قطع السبيل فقال رسول الله ﷺ: أما

قطع السبيل فإنه لا يأتي عليك الا قليل حتى تخرج العير الى مكة بغير خفير واما العيلة فأن الساعة لا تقوم حتى يطوف احدكم بصدقته لا يجد من يقبلها منه ثم ليقفن احدكم بين يدي الله ليس بينه وبينه حجاب ولا ترجمان يترجم له ثم ليقولن له الم أوتيك مالا؟ فليقولن بلى! ثم يقولن: الم ارسل اليك رسولا؟ فليقولن بلى: فينظر عن يمينه فلا يرى الا النار ثم ينظر عن شماله فلا يرى الا النار فليتقين احدكم النار ولو بشق تمرة فان لم تجد فبكلمة طيبة.

رسول الله ﷺ کله هم سوالګر ته نه ويلي نه دي

"وعن جابر ﷺ، قَالَ: مَا سُئِلَ رسول الله ﷺ شَيْئاً قَطُّ، فقَالَ: لَا" د جابر ﷺ نه روايت دی چې د رسول الله ﷺ نه کله څه شي غوښتل شوی دی، نو (نه) لفظ يې نه دی ويلی. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: "ما سئل رسول الله ﷺ شيئا قط" کله هم د رسول الله ﷺ نه چا سوال نه دی کړی چې رسول الله ﷺ ورته په خواب کې (نه) ويلي وي، (يعنې داسې کله هم نه دي شوي)

د نبي کريم ﷺ سخاوت:

په دې حديث کې د رسول الله ﷺ سخاوت ته اشاره ده، کله يې هم فقير يا سوالګر ته (نه) نه دي ويلي، که څه به ورسره وو، هغه به يې په صدقه کې ورکول، کنه نو د بل نه به يې ورته قرض اخيستلو او د هغه فقير ضرورت به يې پوره کولو او که داسې به هم ممکن نه وو، نو بيا به رسول الله ﷺ د اينده لپاره ترې مهلت واخيستو چې که چېرته څه شي راشي، نو تاته به يې درکړم، په دې وجه فرزدق شاعر وايي: که چېرته په تشهد (اشهد ان لا اله الا الله) کې (لا) نه واى، نو (لا) به يې نه وو ويلی، ددې په مقابله کې داسې يو نيمه واقعه ملاويږي چې د رسول الله ﷺ نه سوال شوی وي او رسول الله ﷺ څه نه وي ورکړي، دا به د څه خاص مصلحت په بنياد داسې شوي وي، لکه څرنګه چې په يو روايت کې راځي: إذا سئل فأراد أن يفعل؛ قال: نعم! وإذا لم يرد أن يفعل فسكت".

د سخي انسان لپاره د پرښتو دعا او بخيل ته خيرې

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَا مِنْ يَوْمٍ يُصبحُ العِبادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقاً خَلَفاً" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يوه ورځ هم داسې نه تيريږي چې سهار د الله ﷻ بندګان راپاځي او د آسمان نه دوه پرښتې رانښکته شي او دا دعا يې نه وي کړې، يوه پرښته وايي: اې الله ﷻ خرچ کونکي سخي ته ښه بدله او ثواب ورکړې "وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكاً تَلَفاً" او بله پرښته وايي: اې الله ﷻ! شوم سړی تباه او برباد کړې! متفقٌ عَلَيْهِ

"مامن يوم يصبح العباد فيه الا ملكان ينزلان": هر سهار دوه پرښتې له آسمانه رانښکته کيږي، دا مضمون په ګڼ شمېر رواياتو کې راغلی دی، مثلاً د ابودرداء ﷺ په روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کله چې هم لمر راخيژي، نو ددې دواړه طرف دوه پرښتې اعلان کوي چې د انسان او پيري نه علاوه ټول مخلوق يې اوري، وايي: اې خلکو! خپل رب ته معمولي شان روان شئ، دا ډېره غوره ده له هغو شيانو څخه چې انسان ورسره د الله ﷻ نه غافله کيږي

په کنز العمال کې يو روايت دی چې د اسمان څخه دوه پرښتې نازليږي چې د دوی هم دغه يوه

وظيفه ده، بله وظيفه نه لري، دوی دعاء کوي: يا الله! خرج کونکي ته بدله ورکړې او بله پرښته وايي: اې الله! د بخيل مال هلاک کړې

سوال د لومړي روايت نه ملعومه شوه چې دا دعاګانې سهار او ماښام کيږي او د کنز العمال د روايت نه معلومه شوه چې دا دعاګانې هر وخت کيږي؟

جواب علماوو ددې تطبيق داسې کړی دی چې پرښتې دغه دعاګانې هر وخت کوي هو! سهار او ماښام يې په خصوصيت سره کوي، "اللهم اعط منفقاً خلفاً" اې الله! خرج کوونکي ته بدله ورکړې، علامه نووي رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد غوره ځايونو کې مال خرج کول دي، مثلاً: په کورني باندې خرج کول، ميلمنو باندې خرج کول، په غريبانانو باندې خرج کول، د الله ﷻ کور او ديني مدرسه پرې جوړول، په داسې ځايونو کې خرج کول مراد دي

"اللهم اعط ممسكاً تلفاً" اې الله! څوک چې بخل کوي مال يې هلاک کړه! ابن حجر رحمه الله فرمايي: کله يې مال برباد شي کوم چې هغه جمع کړی وي، يا کله د مال څښتن برباد شي، يعنې خپله يې مالک مړ شي او يا يې د نېکو اعمالو د ضايع کېدو په صورت کې تباهي پرې راشي

خرچ کوه په تا به خرچ وشي

"وعنه: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: قَالَ اللهُ تَعَالَى: أَنفِق يَا ابنَ آدَمَ يُنفَق عَلَيكَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ فرمايي: اې د آدم عليه السلام زويه! ته په بل چا باندې خرچ کوه، په تا باندې به هم خرچ وکړی شي. متفق عليه

تشريح: "ينفق عليك" په تا باندې به هم خرچ وشي، ددې حديث په مفهوم کې دا آيت هم دخل دی، "وما أنفقتم من شئ فهو يخلفه" تاسو چې څه هم د الله ﷻ په لار کې خرچ کوئ، ددې بدله به پوره درکړی شي، خلاصه دا چې کوم کس د الله ﷻ د رضا په خاطر خپل مال خرچ کوي، په دنيا او آخرت کې به ورته ددې بدله ورکولی شي، مطلب دا چې اې انسانه! تاسو خپل فناء کېدونکي مالونه زما په لار کې خرچ کړئ، ددې په بدله کې به زه درته باقي پاتې کېدونکي نعمتونه (جنتونه) درکړم

سلام اچول او په خلکو خوراک کول غوره عمل دی

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما: أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ رسول الله ﷺ: أَيُّ الإسلامِ خَيْرٌ؟" د عبد الله بن عمرو بن عاص رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه يو کس پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! په اسلام کې کومې کومې خوبۍ دي؟ "قَالَ: تُطعِمُ الطَّعَامَ، وَتَقرَأُ السَّلامَ عَلَى مَن عَرَفتَ وَمَن لَم تَعرِفْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: په خلکو باندې خوراک کول او په هغوی باندې سلام اچول، که ته يې پيژنې او که يې نه پيژنې! متفق عليه

لغوي تحقيق:

الإسلام: "أسلم يسلم إسلاماً" ددې معنی ده: مطيع تابعدار، اسلامي مذهب

تشريح "رجلاً" : ددې رجلا نه مراد څوك دى؟ علامه عيني رحمه الله او ابن حجر رحمه الله فرمايي دا يو نامعلوم كس وو، په ځينې كتابونو كې راغلي : ددې نه ابوذر غفاري رضي الله عنه مراد دى، "أي الاسلام خير" په اسلام كې تر ټولو غوره عمل كوم دى؟ دلته سوال پيدا كيږي چې سوال خو صرف يو وو چې كوم عمل غوره دى؟ ليكن د رسول الله ﷺ له لورې جواب متعدد دى، افضل عمل يو پكار وو؟ ددې سوال جواب دا دى چې د سائل د مختلفو احوالو په اعتبار سره جوابونه هم مختلف راغلي دي، په كوم سائل كې چې رسول الله ﷺ د كوم شي كمى محسوس كړو، هغه ته يې د هغه عمل كولو غوره والى بيان كړو، دويم ځواب دا دى چې: د رسول الله ﷺ ځواب هم د زمانې په لحاظ سره وو، د جنګ په زمانه كې به جنګ غوره بللى دى، د فقر په حالت كې بيې د مال خرچ كول غوره بللي دي او داسې نور.... هر يو عمل د خپلې زمانې په لحاظ غوره دى.

"**تطعم الطعام**": په وړو كسانو باندې خوراك كول، په دې باندې صحابه كرامو رضي الله عنهم عمل وكړو، سره ددې چې دوى ډېر نادار او غريبانان وو، خپلو بچيانو ته به يې هم په آسانه نه شوه پوره كولى، ليكن كله چې دوى د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې په بل باندې خوراك غوره دى، په دې وجه به يې خپل بال بچ وږى ساتلو او په نورو به خوړل، په دې باندې د قرآن كريم دغه آيت نازل شو "**ويؤثرون على أنفسهم ولو كان بهم خصاصة**".

مسلمان په هر چاته سلام كوي:

"**وتقرء السلام على من عرفت**": سلام اچوه كه يې پيژنې او كه يې نه پيژنې، علامه خطابي رحمه الله فرمايي: په دې جمله كې اشاره ده دې خبرې ته چې بايد ستا سلام د مسلمان سلام وي، صرف تر هغه كس پورې خاص نه وي چې ته يې پيژنې، په يو روايت كې دي : د قيامت د نښو څخه يوه نښه دا هم ده چې انسان به په هغه چا سلام اچوي چې هغه يې پيژني، سلام اچول او خپرول ددې امت شعار دى.

د شيدو والا څاروى وركول غوره صدقه ده

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: أَرْبَعُونَ خَصْلَةً: أَعْلاهَا مَنِيحَةُ العَنْزِ، مَا مِنْ عَامِلٍ يَعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا، رَجَاءَ ثَوَابِهَا وَتَصْدِيقَ مَوْعُودِهَا، إِلاَّ أَدْخَلَهُ اللهُ تَعَالَى بِهَا الجَنَّةَ" د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څلوېښت خويونه داسې دي چې په هغې كې يو باندې څوك د ثواب اميد وساتي او د هغې په باره كې چې څه ويل شوي دي هغه رښتوني وګڼي، بيا پرې عمل وكړي، جنت ته به داخل شي، د ټولو نه اوچت خوى چاته شيدو والا څاروى د شيدو لپاره وركول، كله چې پوره شيده وركوي، د هغې نه فايده اخلي، د شيدو وركولو وروسته يې بېرته واپس كړي، "رواه البخاري. وقد سبق بيان هذا الحديث في باب بَيَانِ كَثْرَةِ طُرُقِ الخَيْرِ" دا حديث امام بخاري رحمه الله روايت كړى دى او ددې بيان په مخكې حديثونو كې د نېكى حاصلولو په باب كې تېر شوى دى.

تشريح: "**منيحة**" : منيحة هغه څاروي ته وايي چې صرف د شيدو لپاره سائل شوى وي يا دړى

ترې اخيستلې شي، دغسې څاروی، چې څاته د يو څو ورځو لپاره ورکول شي چې هغه ترې شيدې يا وري واخلي، بيرته يې واپس کړي، نو دا غوره صدقه ده.

څلوېښت خصلتونه کوم کوم دي؟

په يو بل روايت کې لفظ د (اربعون حسنة) راغلی دی، علماوو د خپل خپل ذوق مطابق څلوېښت خصلتونه بيان کړي دي، ليکن ابن حجر رحمه الله ډېره ښه خبره کړې ده چې په دې کې هر ښه خصلت راځي، څکه ددې شمارل پکار نه دي، ددې لپاره چې په دې کې هر ښه خصلت داخل شي، څو رسول الله ﷺ دغه مبهم پرېښودل، متعين يې نه کړل او په دې ابهام کې اشاره هم ده دې خبرې ته چې يوه نيکي هم وړه مه ګڼئ، بلکې هر قسم نيکي خپلوه.

څانته د ضرورت په اندازه خوراک پرېښودل پکار دي

"وعن أبي أمامة صُدَيّ بن عجلان رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: يَا ابْنَ آدَمَ، إِنَّكَ أَنْ تَبْذُلَ الفَضْلَ خَيْرٌ لَكَ، وَأَنْ تُمْسِكَهُ شَرٌّ لَكَ" د ابو امامه صدي بن عجلان رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې د آدم عليه السلام زويه! که تا خپل مال خرچ کړو، نو دا به ستا لپاره غوره وي او که شوموالی دې وکړو، نو دا به ستا په حق کې شر وي، "وَلاَ تُلاَمُ عَلَى كَفَافٍ" او د ضرورت مطابق جمع کولو او کېښودلو باندې هيڅ ملامتيا نشته، "وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ" او ته د خرچ کولو شروع د خپلې کورنۍ څخه وکړه! "وَاليَدُ العُلْيَا خَيْرٌ مِنَ اليَدِ السُّفْلَى" او پورتنی لاس د لاندينې لاس څخه غوره دی. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

الفضل: زياتې او اضافه شي.

تشريح: ددې حديث تشريح وړاندې ذکر ده، دا حديث په دې (باب إنفاق وجوه الخير) کې هم تېر شوی دی، دا حديث ددې باب سره د مناسبت په وجه دلته بيان شو، په دې حديث کې هم اشاره ده دې خبرې ته چې بايد په صحيح او جائزه طريقه مال وګټل شي او بيا په صحيح او جائز ځای کې خرچ کړی شي.

رسول الله ﷺ يو کس ته د ګډو ټوله رمه ورکړه

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: مَا سُئِلَ رسول الله ﷺ عَلَى الإسْلاَمِ شَيْئاً إِلاَّ أَعْطَاهُ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د اسلام نه پس د نبي کريم ﷺ نه څه غوښتل شوي دي، نو هغوی ورکړي دي. "وَلَقَدْ جَاءهُ رَجُلٌ، فَأَعْطَاهُ غَنَماً بَيْنَ جَبَلَيْنِ" نبي کريم ﷺ ته يو سړی راغلو، نبي کريم ﷺ هغه ته د وزو يوه رمه ورکړه چې د دوه غرونو ترمينځ وه. "فَرَجَعَ إِلَى قَوْمِهِ، فَقَالَ: يَا قَوْمِ، أَسْلِمُوا فَإِنَّ مُحَمَّداً يُعْطِي عَطَاءَ مَنْ لاَ يَخْشَى الفَقْرَ" هغه سړی خپلې قبيلې ته لاړو او وې ويل: اې خلکو! اسلام قبول کړئ! څکه چې نبي کريم ﷺ د هغه چا غوندې ورکړه کوي چې د غريبۍ او لوږې څخه نه ويرېږي، "وَإنْ كَانَ الرَّجُلُ لَيُسْلِمُ مَا يُرِيدُ إِلاَّ الدُّنْيَا، فَمَا يَلْبَثُ إِلاَّ يَسِيراً حَتَّى يَكُونَ الإسْلاَمُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا، رواه مسلم" که به يو کس د دنيا لپاره اسلام راوړو، څو ورځې به يې هغه

حالت وو، مګر لږ وخت وروسته به يې هغه حالت بدل شو. ويل به يې چې دنيا او په دنيا کې چې څه دي، هغه ته به پکې صرف اسلام زيات خوښ وو.

تشريح: "جاءه رجل فاعطاه غنما بين جبلين": رسول الله ﷺ ته يو کس راغلو، نبي کريم ﷺ هغه ته د دوه غرونو ترمينځ په اندازه د ګډو رمه ورکړه. علماء فرمايي: دا سړی نوی مسلمان شوی وو، د نوي مسلمان شويو کسانو په اسلام کې د پوخ کېدو په خاطر هغوی ته صدقه او زکات وغيره مال ورکول کېدو، دغو خلکو ته په قرآن کريم کې (مؤلفة القلوب) ويل شوي دي، په دې کې هم د دوی تاليف قلب مراد وو، دغه شان د هر نوي مسلمان شوي خلك په اسلام کې پاخه شو. ليکن وروسته بيا عمر ﷺ د صحابه کرامو ﷺ په مشوره دا حصه ختمه کړه، اوس که څوك يو کس ته په دې نيت زکات ورکوي چې په اسلام کې به مضبوط شي، نو هغه به دوباره زکات ورکوي، د هغه زکات نه دی شوی

رسول الله ﷺ به کله د اصرار له وجې غير مستحق ته هم څه ورکول

"وعن عمر ﷺ، قَالَ: قسم رسول الله ﷺ قَسْماً، فَقُلْتُ: يَا رسولَ الله، لَغَيْرُ هؤلاَءِ كَانُوا أحَقَّ بِهِ مِنْهُمْ؟" د عمر ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ يو ځل څه خلکو کې مال تقسيم کړو، ما عرض وکړو: يا رسول الله ﷺ! د دوی نه زيات نور خلك حقدار دي؟ "فَقَالَ: إنَّهُمْ خَيَّرُونِي أنْ يَسْألُونِي بِالفُحْشِ، أَوْ يُبَخِّلُونِي، وَلَسْتُ بِبَاخِلٍ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دې خلکو زه په دوه خبرو کې د يوې خبرو په منلو مجبور کړم. يا به دوی زما څخه په سختی سره سوال کولو، نو ما به دوی ته مجبوراً څه نا څه ورکول او يا به يې زه بخيل ليدلی وای چې موږ ته د بخيلی له وجې څه نه راکوي، حال دا چې زه بخيل نه يم. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

الفحش: "فحش" باب کرم يکرم دی، ددې معنی ده: بد، خراب، بخيل، بد اخلاقه.

تشريح "يسألوني بالفحش فاعطيهم": مانه په سختی سوال کوي، زه مجبور شم هغه ته څه ورکړم. علماء فرمايي: په دې حديث کې د هغه نوي مسلمانانو بيان دی چې تازه يې اسلام قبول کړی دی، خو تر اوسه دوی ته د رسالت پوره علم نشته، نو ددې لاعلمی په وجه دغو خلکو په رسول الله ﷺ باندې زور وکړو، هغه يې په دې باندې مجبور کړو چې دوی ته څه نا څه ورکړي، بل په دې حديث کې د رسول الله ﷺ ښکلي اخلاقو ته هم پکې اشاره ده چې ددې خلکو د سختی باوجود رسول الله ﷺ خفه نه شو، بلکې د دوی د تاليف قلب خيال يې وساتلو او هغوی ته يې مالونه ورکړل.

زه نه بخيل يم، نه دروغجن يم او نه هم بې زړه يم

"وعن جبير بن مطعم ﷺ، أنه قال: بينما هو يسير مع النبي ﷺ مقفلة من حنين" د جبير بن مطعم ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د غزوه حنين په واپسی کې زه د رسول الله ﷺ سره وم، "فعلقه الأعراب يسألونه، حتى اضطروه الى سمرة" يو څو کوچيان په رسول الله ﷺ پورې ونختل، د رسول الله ﷺ نه يې سوالونه شروع کړل، تردې چې دغو خلکو رسول الله ﷺ يوې ونې ته په سهار اخيستلو مجبور کړو، "فخطفت رداءه فوقف النبي ﷺ فقال:

أعطوني ردائي، فلو كان لي عدد هذه العضاة نعما، لقسمته بينكم" خلکو ترې څادر وشلولو، نبي کريم ﷺ ودريدو او وې فرمايل ماته زما څادر راکړئ بيا يې وفرمايل: که چېرته زما سره ددې ونو برابر اوښان واى، نو ما به په تاسو کې تقسيم کړي واى، "ثم لا تجدوني بخيلاً ولا كذاباً جباناً" بيا به زه تاسو نه بخيل ليدلې ى، نه دروغجن او نه هم بې زړه.

لغوي تحقيق: مقفلة: واپس راتلل.

د حنين جهاد مختصره واقعه:

"مقفلة من حنين": د حنين جهاد نه موږ بېرته واپس راروان وو، د حنين غزا په اتمه هجري شپږم شوال کې د دولس زره صحابه کرامو ﷺ لښکر د حنين په مقام کې د کفارو سره سخته معرکه وکړه، ددې جنګ په شروع کې مسلمانانو ته معمولي شکست وشو، ليکن رسول الله ﷺ په خپل ځاى ولاړ وو. د رسول الله ﷺ د بهادرۍ په وجه ځينې نور مسلمانان هم بېرته واپس راغلل، په لږ وخت کې د مسلمانانو لښکر راجمع شو او په کفارو يې حمله وکړه چې ټول کفار يې ريزه ريزه کړل، د کفارو نه اويا: ۷۰ کسان مردار شول، شپږ زره کسان قيديان شول، څلوريشت زره اوښان، څلوېښت زره چيلۍ، څلور زره اوقيه سره زر او داسې نور مال غنيمت مسلمانانو ته په لاس ورغلو، په دې جهاد کې څلور کسان شهيدان شو

"حتى اضطروه إلى السمرة": تردې چې رسول الله ﷺ يې د کيکر ونې ته پناه نيولو ته مجبور کړو، په دې کې د رسول الله ﷺ ښکلي اخلاقو ته اشاره ده چې رسول الله ﷺ څومره د صبر نه کار واخيستلو، د کوچيانو په سختيو يې هيڅ هم ونه ويل

مولاى صل وسلم دائما أبداً .... على حبيبك خير الخلق كلهم

"لقسمته بينكم": ما به په تاسو کې تقسيم کړي واى، ددې نه معلومه شوه چې د وخت حاکم او امير کې بې زړه توب، بخيلي او ويره وغيره مذموم عادتونه بايد نه وي، "لا تجدوني بخيلاً" بيا به تاسو ما بخيل ونه مومئ، ددې نه معلومه شوه چې کله کله د (تحديث بالنعمة) په طور خپل ښه عادتونه بيانول هم يکار دي، لکه څرنګه چې په دې حديث کې رسول الله ﷺ بيان کړل، زه بخيل هم نه يم، بې زړه هم نه يم، دا ټول د (تحديث بالنعمة) په طور سره وو.

معاف کولو سره عزت زياتيږي

"وعن أبي هريرة ﷺ أن رسول الله ﷺ قال: ما نقصت صدقةٌ من مال" د ابو هريرة ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: صدقې ورکولو سره مال نه کميږي، "وما زاد الله عبداً بعفوٍ إلا عزاً" معاف کولو سره الله ﷻ د انسان قدر او عزت زياتوي، "وما تواضع لله أحد إلا رفعه الله عزوجل" او کوم کس چې د الله ﷻ په خاطر خاکساري کوي، الله ﷻ يې درجې زياتوي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

تواضع: عاجزي کول، خاکساري کول

درې اهمې خبرې:

لومړۍ خبره: "مانقصت صدقة من مال" په صدقه کولو سره مال نه کميږي، مطلب دا چې صدقې سره اګرچې ظاهري طور سره مال کميږي ليکن په حقيقت کې صدقې سره مال زياتيږي کميږي نه، ددې په وجه په مال کې برکت راځي، مال د مختلفو آفتونو څخه بچ کيږي، لکه څرنګه چې په لومړي حديث کې ذکر شو چې صدقې ورکولو سره الله ﷻ په دنيا او آخرت کې بدله ورکوي.

دويمه خبره: "ومازادالله بعفوإلا عزاً" کوم کس چې د چا خطا معاف کړي، د الله ﷻ په نزد ددې کس عزت نور هم زياتيږي، مطلب دا چې کوم کس په بدله اخيستلو باندې قدرت ولري، ليکن بيا يې هم معاف کړي، نو ددې په وجه د الله ﷻ په نزد ددې انسان عزت نور هم زيات شي، لکه يو مشهور قول چې دی: انتقام اخيستل د معافي او بخښنې برابر نه دی.

دريمه خبره: "وما تواضع أحدٌ لله إلا رفعه الله" کوم کس چې خالص د الله ﷻ په خاطر په ځان کې عاجزي پيدا کړي، نو الله ﷻ د داسې کس مقام نور هم زياتوي، په خلکو کې مغرور انسان ځان اوچت حسابوي، ليکن د الله ﷻ په نزد داسې کس سپک وي، ددې برعکس څوک چې عاجزي کوي، اګرچې هغه په خپل نظر کې زيات سپک وي، ليکن داسې کس د الله ﷻ په نزد زيات اوچت مقام لري

په دنيا کې څلور قسمه خلک دي

"وعن أبي كبشة عمرو بن سعد الأنماري ﷺ: أنه سمع رسول الله ﷺ، يقول: ثَلاَثَةٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ، وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثاً فَاحْفَظُوهُ: مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ" د کبشة عمرو بن سعد انماري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل، فرمايل يې: درې خبرې داسې دي چې زه پرې قسم کوم، تاسو ته يې ښکاره بيانوم چې په خپلو دماغو کې يې وساتئ؛ هغه درې خبرې دا دي: صدقې ورکولو سره د چا مال نه کميږي. "وَلَا ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلَمَةً صَبَرَ عَلَيْهَا إلاَّ زَادَهُ اللهُ عِزّاً" که چېرته په کوم کس ظلم وکړی شي او هغه په دې ظلم صبر وکړي، نو يقيناً الله ﷻ به د هغه عزت زيات کړي، "وَلاَ فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ إلاَّ فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ - أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا" او چا چې د ځان لپاره د سوال دروازه خلاصه کړه، نو الله ﷻ به پرې د غريبۍ دروازه خلاصه کړي، "وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثاً فَاحْفَظُوهُ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه تاسو ته يوه بله خبره کوم هغه ياده وساتئ؛ "قَالَ: إنَّمَا الدُّنْيَا لأَرْبَعَةِ نَفَرٍ: عَبْدٍ رَزَقَهُ اللهُ مَالاً وَعِلْماً، فَهُوَ يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ، وَيَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ، وَيَعْلَمُ للهِ فِيهِ حَقّاً، فَهذَا بِأفْضَلِ المَنَازِلِ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دنيا کې څلور قسمه خلک دي: يو هغه دی چې الله ﷻ ورته مال او علم دواړه ورکړي وي، د علم په وجه د خپل رب نه ويريږي او د مال په وجه خپلوانو سره تعلق جوړوي او د الله ﷻ حق هم پکې پېژني، د مرتبې په لحاظ دا سړی ډېر زيات اوچت دی، "وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللهُ عِلْماً، وَلَمْ يَرْزُقْهُ مَالاً، فَهُوَ صَادِقُ النِّيَّةِ، يَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِي مَالاً لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ فُلاَنٍ، فَهُوَ بِنِيَّتِهِ، فَأجْرُهُمَا سَوَاءٌ" بل هغه سړی دی چې الله ﷻ ورته علم ورکړی وي ليکن مال يې نه وي ورکړی، که دده نيت رښتونی وي او دا وايي چې که زما سره مال وای، نو ما به هم هغسې کار کولی لکه فلانکي او فلانکي کس چې يې کوي، دا کس د رښتوني نيت په وجه د

لوړي كس سره په ثواب كي برابر دى، "وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللهُ مَالاً، وَلَمْ يَرْزُقْهُ عِلْماً، فَهُوَ يَخْبِطُ فِي مَالِهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ لاَ يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ، وَلاَ يَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ، وَلاَ يَعْلَمُ لِلّٰهِ فِيهِ حَقّاً، فَهٰذَا بِأَخْبَثِ الْمَنَازِلِ" بل هغه سړى چي الله ﷻ مال وركړى وي، ليكن علم يې نه وي وركړى، كه دغه كس خپل مال د جهالت له امله په ګډوډ ځايونو كي خرج كړي او خپلولي هم نه ورته او نه دا ګڼي چي په مال كي هم د الله ﷻ حق شته، نو دا سړى په مرتبه كي ډېر زيات خراب دى، "وَعَبْدٍ لَمْ يَرْزُقْهُ اللهُ مَالاً وَلاَ عِلْماً، فَهُوَ يَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِي مَالاً لَعَمِلْتُ فِيهِ بِعَمَلِ فُلاَنٍ، فَهُوَ بِنِيَّتِهِ، فَوِزْرُهُمَا سَواءٌ" څلورم كس هغه دى چي الله ﷻ نه مال وركړى وي او نه يې علم وركړى وي او هغه وايي: كه چېرته ماته الله ﷻ مال او علم نصيب كړى واى، نو ما به په خپل مال كي داسي تصرف كړى واى، لكه څنګه چي يې فلانكى سړي كوي، يعني په غلطو ځايونو كي به مي لګولى واى او نيت يې هم دغه وي، د ګناه په اعتبار سره دواړه برابر دي "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

لغوي تحقيق: يخبط: "خبطه" بغير سوچ او فكر كار كول.

د حديث نه استنباط شوي مسئلي:

محدثين فرمايي: ددې حديث څخه ګڼ شمېر مسئلي استنباط شوي: يو دا چي د ښه يا بد نيت نه مراد پوخ نيت دى، د صحيح عزم او نيت وروسته به ثواب ملاوېږي، د بد نيت او عزم وروسته به سزا ملاوېږي، بل دا چي ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چي مال جمع كول، د ځان سره ساتل او په دې كي د شرعي حدونو خيال ساتل ښه كار دى او بل د مال جمع كولو او ددې خطري كېدو بيان هم وشو ددې حديث نه دا هم معلومه شوه: په انسان باندي لازم دي چي تر ټولو اول د دين علم زده كړي بيا وربانديې د عمل كوشش وكړي.

د راوي ابو كبشه عمرو بن سعد انماري رضي الله عنه حالات:

په اصل نوم كي يې اختلاف دى، ځيني يې عمر ښيي، ځيني يې عمرو بن سعد ښيي او ځيني وايي مسلم دى، دا په اصل كي غلام وو، نبي كريم ﷺ واخيستلو او آزاد يې كړو، د بدر، احد او نورو جهادونو كي يې شركت كړى دى

وفات: په دوه ويشتمه جمادى الثاني كي په ديارلسمه هجري كي د عمر رضي الله عنه په دور خلافت كي وفات شو.

مرويات: يو څو حديثونه تري نقل دي چي د صحت باره كي يې اسماء الرجال والاعاجز دي

د نبي كريم ﷺ كوروالا يوه چېلۍ حلاله كړه

"وعن عائشة رضي الله عنها: أَنَّهُمْ ذَبَحُوا شَاةً، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: مَا بَقِيَ مِنْهَا؟ قالت: مَا بَقِيَ مِنْهَا إِلاَّ كَتِفُهَا" د عائشي رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي چي موږ يوه وزه حلاله كړي وه، د هغې په باره كي نبي كريم ﷺ وفرمايل: هغه مو څه كړه؟ موږ ورته وويل: هغه خو موږ وخوړه، صرف يو پتون: ورون پكي پاتي دى، "قَالَ: بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا" نبي كريم ﷺ وفرمايل: ټوله پاتي ده صرف پتون نه دى پاتي، "رواه الترمذي، وقال: حديث صحيح".

"ومعناه: تَصَدَّقُوا بِهَا إِلَّا كَتِفَهَا. فَقَالَ: بَقِيَتْ لَنَا فِي الآخِرَةِ إِلَّا كَتِفَهَا" ددې مطلب دا دی چې د یو لاس نه بغیر ټوله غوبنه چې کومه صدقه شوې ده، هغه په آخرت کې زموږ لپاره باقي ده.

تشريح "بقي كلها الاكتفها": ټوله باقي پاتې ده، سېوا له دې پټون نه، د حديث مطلب دا دی چې کوم څه د الله ﷻ په لار کې صدقه شي، هغه ټول په آخرت کې باقي دي، ددې پوره پوره اجر به ملاوېږي، ددې حديث مضمون په قرآن کريم کې هم شته: "ما عندكم ينفد وما عند الله باق" څه چې ستاسو سره دي، هغه به یوه ورځ ختمېږي او کوم څه چې د الله ﷻ سره دي هغه به همېش پاتې وي.

د سهل بن تستري رحمه الله واقعه:

فقيه ابو الليث رحمه الله نقل کړي دي چې سهل بن تستري رحمه الله به خپل مال ډېر زيات خرج کولو، ورونو او مور - پلار يې عبد الله بن مبارک رحمه الله ته شکايت وکړو چې سهل رحمه الله خو داسې مال خرج کوي، يوه ورځ به فقير کيني، د خلکو نه به سوالونه شروع کړي، عبد الله بن مبارک رحمه الله چې کله د سهل رحمه الله سره په دې اړه خبره وکړه، هغوی رحمه الله ورته وفرمايل ته راته ووايه چې که يو کس د مدينې منورې اوسېدونکی رستاق، (په ايران کې د يو ښار نوم دی) کې خاته ځمکه واخلي او هلته کډه وړي. ايا مدينه منوره به بالکل پرېږدي، د هغې ځمکې باغونه او فصلونه وغيره به هر څه په خپل ځای کې پرېږدي او بل چاته به يې ورکړي؟ عبد الله رحمه الله وويل نه؛ هغه ورته وويل: بس همدا خبره ده چې زه آخرت ته تلونکی يم، ځکه خاته هلته مال نقل کوم.

اې اسماء رضي الله عنها! مال مه شمېره!

"وعن أسماء بنت أبي بكر الصديق رضي الله عنهما، قالت: قَالَ لي رسول الله ﷺ: لَا تُوكِي فَيُوكَى عَلَيْكِ" اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل: ساتل مه کوه؛ کنه نو الله ﷻ به هم رزق يا د رزق اسباب په تا باندې بند کړي.

"وفي رواية: أَنْفِقِي أَوِ انْفَحِي، أَوِ انْضَحِي، وَلَا تُحْصِي فَيُحْصِيَ اللهُ عَلَيْكِ" په يو بل روايت کې دي چې: خرچ کوه يا يې يو شان معنی والا لفظونه وفرمايل: شمار مه کوه او مال مه جمع کوه؛ کنه نو الله ﷻ به يې هم په تا بند کړي، "وَلَا تُوعِي فَيُوعِيَ اللهُ عَلَيْكِ" پاتې شوې روپۍ مه غونډه کوه؛ کنه نو الله ﷻ به يې هم در باندې غونډه / بندې کړي. متفقٌ عَلَيْهِ

"وَ((انْفَحِي)) بالحاء المهملة، وَهُوَ بمعنى ((أنْفِقِي)) وكذلك انْضَحِي" لفظ د انفحي او انضحي دواړه الفاظ د نفقې په معنی سره دي.

تشريح: "انفقي ولا تحصي": خرچ کوه او شمار مه کوه؛ د حديث مطلب ظاهر دی چې د ښه خرچ کولو حکم صفا دی، ليکن ظاهره ده چې هغه خرچ به معتبر وي چې د شريعت موافق وي او کوم چې د شريعت مخالف وي، نو داسې خرچ هم معتبر نه دی، په دې کې د اجر اميد ساتلو په ځای وبال دی.

شمار مه کوه ! ددې دوه مطلبه دي:

"ولاتحصي": شمار مه کوه؛ محدثينو ددې جملې دوه مطلبه بيان کړي دي اول دا چې د شمار نه مراد دا دی چې مال مه جمع کوه، په دې صورت کې به مطلب دا شي چې که ته مال شمارې او د خان سره يې جمع کوې، نو د الله ﷻ له لورې به تاته په شمار سره ملاوېږي، لکه څرنګه چې يو مشهور متل دی چې څه کرې هغه به ريبې

دويم مطلب يې علماء کرامو دا بيان کړی دی چې فقيرانو ته د ورکړې په وخت کې شمار مه کوه؛ بلکې بې شماره يې ورکوه؛ ځکه چې که شمار دې وکړو، نو تاته به هم په شمار ملاو شي او که د پيسو شمار دې ونه کړو، نو اجر به هم بې شماره وي

د بخاري شريف په يو روايت کې راځي اسماء رضي الله عنها د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه يا رسول الله ﷺ! زما سره مال نشته، زما خاوند زبير رضي الله عنه چې ماته څه راکوي ايا زه يې په صدقه کې ورکولی شم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل صدقه ورکوه او په لوښي کې يې مه ساته، که تا محفوظ کړل، نو الله ﷻ به يې هم درباندې ودروي

د سخي او بخيل مثال

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أنه سمع رسول الله ﷺ يقول: مَثَلُ البَخِيلِ وَالمُنْفِقِ، كَمَثَلِ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا جُنَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ مِنْ ثُدِيِّهِمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه ما واورېدل، فرمايل يې: د بخيل او سخي سړي مثال داسې دی لکه دوه کسانو چې د خپلو سينو نه تر مرۍ پورې زغرې اغوستې وي، "فَأَمَّا المُنْفِقُ فَلاَ يُنْفِقُ إِلاَّ سَبَغَتْ - أَوْ وَفَرَتْ - عَلَى جِلْدِهِ حَتَّى تُخْفِيَ بَنَانَهُ، وَتَعْفُوَ أَثَرَهُ" خرچ کونکی چې خرچ کوي زغره يې فراخه شي، په ټول بدن يې خپره شي، تردې چې تر پنښو پورې يې راشي او د قدمونو نخښه يې هم ورانوي، "وَأَمَّا البَخِيلُ، فَلاَ يُرِيدُ أَنْ يُنْفِقَ شَيْئاً إِلاَّ لَزِقَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَكَانَهَا، فَهُوَ يُوسِعُهَا فَلاَ تَتَّسِعُ" او هر چې بخيل دی، نو د خرچ کولو هيڅ اراده نه لري، نو ځکه به يې زغره هم په خپل ځای نختې وي او هغه يې خلاصول غواړي، مګر هغه نه خلاصېږي. متفق عليه

"وَ((الجُنَّةُ)): الدِّرْعُ؛ وَمَعنَاهُ أنَّ المُنْفِقَ كُلَّمَا أنْفَقَ سَبغَتْ، وَطَالَتْ حَتَّى تَجُرَّ وَرَاءهُ، وَتُخْفِيَ رِجْلَيْهِ وَأثَرَ مَشْيِهِ وَخُطُوَاتِهِ" الجنة: زغره، مطلب يې دا دی چې خرچ کونکی کله خرچ کوي، نو هغه دومره خلاصېږي چې په ځمکه راښکل کېږي او د قدمونو نخښې ورانوي، يعنې زړه يې ازاد وي، هر وخت خوشحاله وي او بخيل هر وخت خفه وي

لغوي تحقيق:

وفرت: پوره کول، زياتول.

تشريح "كمثل رجلين عليهما جنتان من حديد": ددې مثال داسې دی لکه دوه کسانو چې د اوسپنې زغرې اچولې وي، د بخاري په يو روايت کې لفظ د (جبتان) راغلی دی، مراد هم هغه زغره ده، علماء

فرمايي: ددې تشبيه مطلب دا دى چې صدقه انسان داسې پټوي لكه څرنګه چې د ټول بدن نه زغره چاپېره وي، دده د بدن سره د پښو نخښې هم پټوي، بل دا چې په دې حديث كې د هغه انسان لپاره زيرى دى چې د خپل مال څخه صدقه وركوي، دده باقي مال به الله ﷻ ساتي. په صدقې سره مصيبتونه او تكليفونه ختمېږي، بل دا چې سخي انسان كله د صدقې وركولو اراده وكړي، نو د هغه سينه فراخه شي او په خوشحالۍ سره صدقه وركوي

"وأما البخيل فلا يريد أن ينفق شيئا إلا لزقت الخ" : او بخيل انسان چې كله صدقه وركول غواړي، هغه زغره په هغه پورې ونخلي، د حديث مطلب واضح دى چې بخيل انسان د مصيبتونو او تكليفونو لپاره بوه نخښه جوړه شوې وي، بل دا چې بخيل انسان كله د صدقې وركولو اراده وكړي، نو د هغه سينه تنګه شي، په پوره نيت سره يې د صدقې وركولو اراده نه وي، په دې حديث كې همداسې كس لپاره سخت وعيد دى.

د حلال مال صدقه قبلېږي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ، وَلاَ يَقْبَلُ اللهُ إلاَّ الطَّيِّبَ، فَإنَّ اللهَ يَقْبَلُهَا بِيَمِينِهِ"

د ابو هريره ﵁ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د خپل حلال مال نه د يوې خورما په اندازه صدقه وركړي، او الله ﷻ نه قبلوي مګر د پاك او حلال مال څخه، مګر دا چې الله ﷻ هغه صدقه په خپل ښي لاس سره قبوله كړي، "ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهَا كَمَا يُرَبِّي أحَدُكُمْ فَلُوَّهُ حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الجَبَلِ" بيا يې صدقې وركولو والا ته داسې پالنه كوي لكه څنګه چې تاسو د خپلو څاروېو د بچو پالنه كوئ، تردې چې دغه لږه صدقه د غر په اندازه صدقې سره برابره شي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

" الفَلُوُّ : بفتح الفاء وضم اللام وتشديد الواو، ويقال أيضاً : بكسر الفاء وإسكان اللام وتخفيف الواو : وَهُوَ المُهْرُ" د (الفلوا) د فاء زبر، زبر سره ، د لام پيش اوجزم او د واو شد او بغير د ش نه پېش ويل هم جائز دي. د څاروي بچی.

تشريح: "من كسب طيب" : يعنې هغه مال چې په حلاله طريقه يې جمع كړى وي، كله چې په جائزه طريقه جمع شوى مال د الله ﷻ په لار كې خرچ كړى شي، نو دغسې صدقه الله ﷻ قبلوي

"ولا يقبل الله إلا الطيب" : او الله ﷻ صرف د حلال مال څخه صدقه قبلوي، د حرام مال صدقه نه قبلوي، علماوو په دې حديث كې يوه عجيبه نكته بيان كړې ده: هغه دا چې حلال مال په نېك او په ښه كارونو كې مصرفېږي او عموماً صدقه وركوونكي حلال مال والا وي، د حرام مال ګټونكو ته ددې توفيق نه ملاوېږي، "فإن الله يقبلها بيمينه" الله ﷻ د حلال مال صدقه وركولو سره ډېر زيات خوشحالېږي، ښكلې او خوښ كړى شوى شى الله ﷻ په ښي لاس كې اخلي، "كما يربي أحدكم فلوه" لكه څرنګه چې تاسو د خپلو څاروېو د بچو ساتنه كوئ، دغه شان الله ﷻ د حلال مال څخه د وركړل شوې صدقې ثواب زياتوي، تردې چې د قيامت په ورځ ددې وړې صدقې نه د غره په شان لويه صدقه جوړه شي او اجر يې هم زيات وي

د زميندار په ځمكه باران او د هغې وجه

"وعنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِفَلَاةٍ مِنَ الأَرْضِ، فَسَمِعَ صَوْتاً فِي سَحَابَةٍ، اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ، فَتَنَحَّى ذَلِكَ السَّحَابُ فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِي حَرَّةٍ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل يو كس په داسې شاړه ځمكه كې تېرېدلو چې هلته اوبه نه وې، د ورېځې نه يې يو آواز واورېدلو چې د فلانكي باغ خړوب كړه؛ هغه ورېځ مخكې لاړه، په يوه ډبرينه/ كلكه ځمكه يې باران وكړو، اوبه يې په ورو ورو نالو كې رواني شوې، "فَإِذَا شَرْجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذَلِكَ المَاءَ كُلَّهُ، فَتَتَبَّعَ المَاءَ، فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِي حَدِيقَتِهِ يُحَوِّلُ المَاءَ بِمِسْحَاتِهِ، فَقَالَ لَهُ: يَا عَبْدَ اللهِ، مَا اسْمُكَ؟" مخكې ترې يو نهر جوړ شو او ټول باغ يې خړوب كړو، دا سړی د ورېځې پسې روان شو او باغ ته ورسېدو، هلته يې يو كس وليدو، پوښتنه يې ترې وكړه چې ستا نوم څه دی؟ "قَالَ: فُلَانٌ للاسم الذي سَمِعَ في السَّحَابَةِ، فقال له: يا عبدَ الله، لِمَ تَسْأَلُنِي عَنِ اسْمِي؟" هغه ورته هم هغه نوم وښودلو كوم چې دغه كس د ورېځې نه اورېدولی وو، د باغ مالك ورته ووېل: زما د نوم پوښتنه دې ولې وكړه؟ "فَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ صَوْتاً فِي السَّحَابِ الَّذِي هَذَا مَاؤُهُ، يقولُ: اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ لاسمِكَ، فَمَا تَصْنَعُ فِيهَا؟" هغه ورته ووېل: د كومې ورېځې نه چې دا اوبه راځي، ما د هغې ورېځې نه ستا نوم واورېدلو چې د فلانكي باغ خړوب كړه؛ ته په دې باغ كې څه عمل كوې؟ "فَقَالَ: أَمَا إِذْ قُلْتَ هَذَا، فَإِنِّي أَنْظُرُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا، فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ، وَآكُلُ أَنَا وَعِيَالِي ثُلُثاً، وَأَرُدُّ فِيهَا ثُلُثَهُ" هغه ورته ووېل: تا پوښتنه وكړه، اوس به يې زه درته ووايم، كله چې د ځمكې نه حاصل او پيداوار سنبال كړم، نو هغه درې ځايه تقسيم كړم: يوه حصه د الله ﷻ په نوم صدقه كړم، دويمه حصه په خپلې كورنۍ باندې وخورم او دريمه حصه بيا په باغ كې لګوم. رواه مسلم

"الحَرَّةُ: الأَرْضُ المُلَبَّسَةُ حِجَارَةً سَوْدَاءَ. وَ((الشَّرْجَةُ)) بفتح الشين المعجمة وإسكان الراءِ وبالجيم: هي مَسِيلُ المَاءِ" نهر او ولې ته ويل كيږي.

تشريح: علماء فرمايي: ددې حديث نه موږ ته دا سبق ملاوېږي چې بايد په خپله ګټه كې څه حصه د الله ﷻ په لار كې د خرج لپاره متعين كړو، لكه څرنګه چې په دې حديث كې زميندار حصه متعين كړې وه، ددې فايده به دا شي چې بيا به د فايدې په ځايونو كې خرج آسان شي، كنه نو نفس او شيطان به دواړه ورته په داسې ځايونو كې د خرج په وخت دا خبره په زړه كې واچوي چې اوس يې مه خرج كوه بيا به يې بل ځای خرج كړې، اوس خرج كول دومره ضروري نه دي

ددې حديث تائيد په بل حديث سره:

ددې حديث تائيد په يو بل حديث سره هم كيږي، په يو روايت كې ابو وائل رضي الله عنه فرمايي: زه عبد الله بن مسعود رضي الله عنه بنو قريظه ته ولېږلم، بيا يې راته وفرمايل: هلته هم هغه عمل كوه كوم عمل چې به د بني اسرائيلو ښه خلكو كولو، هغه دا چې هغوی به مال درې حصې كړو، دريمه حصه به يې د الله ﷻ په لار كې خرج كول.

باب النهي عن البخل والشح

د بخل نه منع

"قَالَ اللّٰـهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَىٰ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ" او كوم كس چې شومتوب وكړي او د دروغو نسبت په كلمه حسنى سره وكړي، نو الله ﷻ فرمايي چې زه به هغه ته سخته لار ونښيم، "وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّىٰ" كله چې په دوزخ كې واچول شي، نو دده مال به يې د جهنم نه بچ نه كړي. [الليل:۸-۱۰]

شان نزول او تشريح:

"وأما من بخل واستغنى": كله چې ابوبكر ﷺ بلال ﷺ د اميه بن خلف نه په لس اوقيه واخيست، نو په دې باندې دغه آيت نازل شو، اميه بن خلف ډېر زيات خوشحاله شو چې كه خير وي غلام دې په ډېر ګران قيمت خرځ كړو، محدثين فرمايي: په دې آيت كې د اميه بن خلف درې بد عملونه ذكر شوي دي "وأما من بخل واستغنى، وكذب بالحسنى".

بخل: د الله ﷻ په لار كې خرچ نه كول، برابره خبره ده چې فرضي زكات وي يا نفلي صدقې وغيره وي.

واستغنى: د الله ﷻ احكاماتو نه مخ اړول، خان بې پروا كول، پكار دا وه چې د الله ﷻ نه ويرېدلى واى او هغه ته مائل شوى واى.

وكذب بالحسنى: د كلمې او اسلام تكذيب كوي، پكار دا وه چې په الله ﷻ او د هغه په رسول ﷺ باندې يې ايمان راوړى واى، ليكن داسې يې ونه كړل.

"وما يغنى عنه ماله إذا تردى": كله چې هغه د هلاكت كندې ته غورځېږي، نو دده مال به ورته هيڅ فايده ورنه كړي، يعني كله چې هغه د قبر كندې ته يا د جهنم كندې ته غورځېږي، نو مال به يې بچ نه كړي، ابو قتاده ﷺ او ابو صالح رحمه الله فرمايي: دلته د كندې نه مراد د جهنم كنده ده.

څوك چې د بخل نه بچ شو، كامياب شو:

"وقال تعالى: وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ" الله ﷻ فرمايي: كوم كس چې د نفس د بخل نه بچ شي، بس همدغه كس كامياب دى. [التغابن:۱۶]

"وأما الأحاديث فتقدمت جملة منها في الباب السابق".

تشريح: شح معنى ده بخل، ليكن په شح كې د بخل نه زياته مبالغه ده، ډېر زيات بخيل، شح يعني په حقوق العباد كې بخل، لكه په خپلې كورنۍ باندې خرچه نه كول، په حاجتمند مور - پلار او خپلوانو باندې خرچه نه كول يا په حقوق الله كې بخيلي كول، لكه: زكات نه وركول، صدقه الفطر نه وركول، قرباني نه كول او داسې نور ...، په دې شيانو كې كمى كول حرام دي، هغه كارونه چې مستحب

دي یا د هغې فضیلت بیان شوی وي، په هغې کې بخیلي مکروه ده.

سعید بن جبیر رحمه الله فرمايي: شح دې ته وايي چې حلال مال حاصل کړي او بيا يې زکات نه ورکوي، ځینې علماء فرمايي: شح داسې سخت حرص او بخیلی ته وايي چې د ممنوعاتو د ارتکاب ذریعه جوړه شي.

ظلم به د قیامت په ورځ د تیارو په شکل کې وي

"وعن جابر رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: اتَّقُوا الظُّلْمَ، فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ القِيَامَةِ" د جابر رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د ظلم کولو نه ځان بچ کړئ! ځکه چې ظلم به د قیامت په ورځ د تیارو په شکل کې وي، "وَاتَّقُوا الشُّحَّ، فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ" د بخیلی څخه هم ځانونه وساتئ، ځکه چې د بخیلی له امله ستاسو نه مخکې قومونه هلاک شوي وو، "حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ" بلکې د يو بل وينې يې ويستلي دي او حرام شوي شيان يې حلال ګڼلي وو. رواه مسلم

لغوي تحقیق:

سفکوا: "سفك": باب ضرب یضرب دی، ددې معنی ده: وینه تویول.

تشریح: "اتقوا الظلم": د ظلم نه ځانونه وساتئ، په لغت کې ظلم دې ته وايي چې يو شی په (غیر ما هو له) کې کېښودل شي، یعنې يو شی بې ځایه استعمال شي، مثال خولۍ د سر په ځای پښو ته واچوي، ددې نوم ظلم دی، دغه ډول د انسان د تخلیق مقصد د الله ﷻ عبادت او طاعت دی، که د الله ﷻ اطاعت ختم شي او انسان په نافرماني شروع وکړي، نو دا به يو قسم ظلم وي، په دې مفهوم سره هره ګناه په ظلم کې شمارل شي.

"فإن الظلم ظلمات يوم القيامة": ظلم به د قیامت په ورځ د تیارو په شکل کې وي، علامه طیبي رحمه الله فرمايي: يو خو به د قیامت په ورځ هسې هم تیاره وي، بله دا چې ظلم به خپله هم يوه مستقله تیاره وي، په دې تیارو کې به ظالم انسان تندکونه خوري او غورځیږي به، هغه ته به د نجات لاره په لاس نه ورځي، ددې برعکس د مسلمان مخکې او شاته به د ایمان رڼا وي چې ددې په واسطه به جنت ته لاړ مومي.

ځینې علماء فرمايي: د ظلم نه سختي او تکلیفونه مراد دي، یعنې د قیامت په ورځ به د ظلم په وجه انسان ډېر سخت په تکلیف کې وي، "واتقوا الشح" د بخل نه ځان وساتئ، اګر چې بخل د ظلم يوه نوع ده، لیکن د اهمیت له وجې يې د بچ کېدو تاکید وفرمايلو "فان الشح أهلك من كان قبلكم" د حرص او بخل په وجه ستاسو نه وړاندې خلک هلاک شول، ځکه چې بخل د قتل قتال او د حرام حلال ګڼلو ذریعه جوړیږي، د همدې بخل په وجه انسان د تعلقاتو ختمولو ذریعه جوړیږي، دغه شان د يو بل سره دښمني جوړه شي، ددې بخل په وجه انسان د ډېرو ګناهونو مرتکب شي.

باب الإيثار والمواساة

د قرباني او غم خورۍ بيان

"قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ" هغوی نور خلك د ځان نه مخکې کېږي او په ځان باندې بل چاته ترجيح ورکوي، "وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ" اگر چې په خپله د لوږې په حالت کې وي او په سختۍ راخيستي وي [الحشر:۹]

تشريح: په دې آيت کې په ځانگړې توگه د مدينې منورې انصارو ﷺ ايثار او قرباني ته اشاره ده چې دوی به خپله په تنگسيا او لوږه، تنده باندې وخت تېرولو، ليکن بل مسلمان ورور به يې په ځان وړاندې کولو، بل ته به ترجيح ورکوي، علماء کرامو د دې آيت شان نزول داسې بيان کړی دی، ليکن دلته مونږ دوه شان نزول بيانوو.

(۱) عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي: په انصارو کې يو کس چيلۍ حلاله کړه، د دې چيلۍ سر يې يو کس ته د هديې په توگه ولېږلو، چا ته يې چې ولېږلو، هغه خيال وکړو چې زما فلانکی ورور او د هغه خاندان زمانه زيات محتاج دي، راشه هغه ته يې واستوه! د چيلۍ سر يې هغوی ته واستولو، هغه هم خيال وکړو چې زما هغه فلانکی ملگری زما څخه زيات ضرورتمند دی، راشه! هغه ته يې ولېږه! نو هغه دريم کس ته ولېږلو، غرض دا چې دا د يوې چيلۍ سر پوره په اويا کورونو باندې وگرځېدو او بېرته واپس هم هغه کس ته راغلو چا چې صدقه کړې وه او د ټولو نه اول کس ته يې ورکړی وو، په دې کې باره کې دغه آيت رانازل شو.

(۲) حذيفه عدي ﷺ فرمايي: د يرموك په جنگ کې زه د خپل تره زوی پسې روان شوم، ځان سره مې لږې اوبه راواخيستې، که ژوندی وي چې لږې اوبه ورکړم، کله چې ورغلم، نو ژوندی وو، ما ورباندې ست وکړو چې اوبه څښې؟ هغه ووېل: هو! چې اوبه مې ورکولې، نو په دې کې يو بل کس چې په خوا کې ورسره نژدې زخمي پروت وو، آه آه آواز يې کولو، ما ته زما د تره زوی ووېل: هغه ته ورشه، زه چې هغه ته ورغلم، په خواکې ورسره بل زخمي پروت وو، هغه آه کړل، دې دويم کس ماته ووېل: هغه ته يې يوسه، دغه شان پوره اويا کسانو سره داسې وشو، کله چې اوم کس ته روان شوم، نو هغه په حق رسېدلی وو، واپس چې په راتلو شوم، نو ټول په حق رسېدلي وو، کله چې د خپل تره زوی ته ورغلم، نو هغه هم په حق رسېدلی وو.

د مينې سره خوراك ورکوي:

"وقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا" او دوی نورو خلکو مسکينانو، يتيمانو او قيديانو ته ته به په مينه ډوډۍ ورکوي [الدهر:۸].

تشريح: په دې آيت کې د جنتيانو صفتونه بيانېږي، مفسرين رحمهم الله ليکي: دلته (علی) د (مع) په معنی سره دی، مطلب دا چې دا خلك سره له دې چې خپله هم ورته ضرورت لري، ليکن بيا يې هم بل

ورور ته ورکوي.

په دې آيت کې درې قسمه خلکو ته د خوراک ورکولو ذکر دی، مسکين، يتيم او بندي ته، لومړي دواړه خو هسې هم محتاجه دي، ځکه يې په دوی باندې د خوراک فضيلت بيان کړو، قيدي ته خوراک ورکول د حکومت ذمه داري ده، نو کوم کس چې قيديانو ته خوراک ورکوي، لکه هغه چې د حکومت بيت المال کې مرسته کوي، قيدي که کافر وي او که مسلمان وي هغه ته خوراک ورکول ثواب دی.

شان نزول:

مجاهد رحمه الله او عطاء رحمه الله د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه نقل کوي چې يوه ورځ علي رضي الله عنه د کوم يهودي سره مزدوري وکړه او څه پيسې په لاس ورغلې، په يوه نيمه روپۍ يې وربشې واخيستې، ميده يې کړې او ډوډۍ يې ترې پخه کړه، کله چې خوراک ته کښېنستلو، يو غريب سړی راغلو او سوال يې وکړو چې غريب يم، که څه درسره وي، د الله جل جلاله په نوم يې راکړئ، علي رضي الله عنه هغه ټوله ډوډۍ مسکين ته ورکړه، بيا يې ډوډۍ پخه کړه، دا ځل يتيم راغلو، علي رضي الله عنه چې څه پاخه کړي وو، ټول يې ورکړل، په دريم ځل چې کله ډوډۍ پخه شوه، دا ځل يو بندي راغلو، سوال يې وکړو، هغه ته يې هم هر څه ورکړل. غرض دا چې دوی خپله ټوله ورځ په لوږه تېره کړه، په دې باندې دغه آيت نازل شو.

صحابه کرامو رضي الله عنهم په بهانه ډېره مړه کړه

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: جاء رجل إلى النبي صلى الله عليه وسلم، فقال: إني مجهود، فأرسل إلى بعض نسائه" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې يو کس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلو او ورته يې وويل: زه ډېر زيات وږی يم، رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلې مېرمنې ته څوک ولېږلو چې خوراک راوړي. "فقالت: والذي بعثك بالحق ما عندي إلا ماء، ثم أرسل إلى أخرى، فقالت مثل ذلك، حتى قلن كلهن مثل ذلك لا والذي بعثك بالحق ما عندي إلا ماء" هغې ورته وويل: قسم په هغه ذات چې تاسو يې په حق سره رالېږلي يئ، زما سره د اوبو نه بغير بل څه نشته، بيا يې بلې مېرمنې ته ولېږلو، هغې هم ورته هغه شان ځواب ورکړو، ځکه ځواب چې اولنۍ مېرمنې ويلی وو، تردې چې دغه شان ځواب ټولو بيبيانو ورکړو، قسم په الله جل جلاله! چې تاسو يې په حقه رالېږلي يئ چې د اوبو نه سيوا بل څه زمونږ سره نشته، "فقال النبي صلى الله عليه وسلم: ((من يضيف هذا الليلة؟)) فقال رجل من الأنصار: أنا يا رسول الله، فانطلق به إلى رحله" بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک به نن شپه ددې سړي مېلمستيا وکړي. يو انصاري صحابي وويل: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! زه به يې مېلمستيا وکړم، بيا يې هغه خپل کور ته راوستلو. "فقال لامرأته: أكرمي ضيف رسول الله صلى الله عليه وسلم" هغه صحابي خپلې مېرمنې ته وفرمايل: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مېلمه عزت وکړه.

"وفي رواية قال لامرأته: هل عندك شيء؟ فقالت: لا، إلا قوت صبياني، قال: فعلليهم بشيء وإذا أرادوا العشاء فنوميهم" او په يو بل روايت کې داسې دي چې خپلې مېرمنې ته يې وفرمايل: ستاسو سره د خوراک څه شته؟ هغې ورته وويل: د ماشومانو د خوراک نه بغير نور څه نشته، هغه صحابي خپلې مېرمنې ته وفرمايل

ماشومان په څه شي باندې مشغول کړئ او کله چې د ماسخوتن ډوډۍ وغواړي، نو په څه چل يې ويده کړه! "وَإِذَا دَخَلَ ضَيْفُنَا فَأَطْفِئِي السِّرَاجَ، وَأَرِيهِ أَنَّا نَأْكُلُ" او کله چې ميلمه راداخل شي، نو ډيوه مړه کړه، موږ به هغه ته داسې ښکاره کوو چې موږهم ورسره په خوراك کې شريك يو. "فَقَعَدُوا وَأَكَلَ الضَّيْفُ وَبَاتَا طَاوِيَيْنِ" نو دوی ډوډۍ ته کېنستل، ميلمه ښه خوراك وکړو او دوی دواړو په لوږه شپه تېره کړه، "فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا عَلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: لَقَدْ عَجِبَ اللهُ مِنْ صَنِيعِكُمَا بِضَيْفِكُمَا اللَّيْلَةَ" کله چې سهار شو، نو سهار وختي هغه صحابي رسول الله ﷺ ته لاړو، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: الله ﷻ ډېر زيات خوشحاله شو، ستاسو په هغه ميلمستيا چې پرون شپه تاسو خپل ميلمه ته وركړه! متفق عليه

لغوي تحقيق:

مجهود: سخت ژوند تېرول.

تشريح: د صحابه کرامو ﷺ د ژوند داسې کيسې څه معمولي خبره نه ده او نه داسې واقعي يو ځل دوه ځله چېرته پېښې شوې دي، بلکې د دوی ټول ژوند د ايثار او قربانۍ څخه ډك وو، علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: "ويؤثرون على أنفسهم ولو كان بهم خصاصة" ددې آيت لاندې ګڼ شمېر واقعې نقل دي

سوال: په دې باندې يو مشهور اعتراض دی، هغه دا چې رسول الله ﷺ د ټول مال صدقه کولو نه منع فرمايلې ده، لکه څرنګه چې په يو حديث کې راځي: يو کس د يوې هګۍ برابر سره زر د الله ﷻ په نوم صدقه کړل او د رسول الله ﷺ په خدمت کې يې وړاندې کړل، رسول الله ﷺ هغه راواخيستل او وې غورځول، بيا يې وفرمايل: په تاسو کې ځينې کسان خپل ټول مال صدقه کړي، بيا محتاجه ګرځي او د خلکو څخه سوالونه کوي؟

جواب: ددې ځواب دا دی چې د خلکو مختلف حالات دي، د ټول مال صدقه کول منع د هغه چا لپاره ده چې بيا صبر نه شي کولی، د خلکو څخه سوالونه کوي، که مضبوط عزم او همت والاوي، نو بيا که ټول مال صدقه کړي هم پرواه نه کوي، لکه څرنګه چې ابوبکر صديق ﷺ خپل ټول مال د تبوك په غزا کې صدقه کړو او رسول الله ﷺ ترې قبول کړو، دغسې نورې ډېرې واقعې دي، رسول الله ﷺ چې منع فرمايلې ده، دا د هغو خلکو لپاره چې بيا صبر نه شي کولی او وروسته د خلکو نه سوالونه کوي

د حديث الفاظ او تحقيق:

"إني مجهود": د بخاري په يو بل روايت کې دي "يارسول الله ﷺ اصابني الجهد" يا رسول الله ﷺ ماته سخته لوږه رسېدلې ده.

"فأرسل الى بعض نسائه": د بخاري په بل روايت کې دي "فبعث إلى نسائه" رسول الله ﷺ خپل کور والا ته سړی ولېږلو

"فقال رجل من الأنصار": د مسلم په روايت کې ددې سړي نوم ابوطلحه ﷺ نقل شوی دی

د دوه کسانو خوراك درې کسانو ته کافي کيږي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: طَعَامُ الاثْنَيْنِ كَافِي الثَّلاثَةِ" د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوه کسانو خوراك د درې کسانو لپاره کافي دی، "وَطَعَامُ الثَّلاثَةِ كَافِي الأَرْبَعَةِ" او د درې کسانو خوراك څلورو کسانو ته کافي دی. متفقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية لمسلمٍ عن جابرٍ رضی الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: طَعَامُ الوَاحِدِ يَكْفِي الاثْنَيْنِ" او د مسلم په يو روايت کې د جابر رضی الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو کس خوراك دوه کسانو ته کافي دی، "وَطَعَامُ الاثْنَيْنِ يَكْفِي الأَرْبَعَةَ، وَطَعَامُ الأَرْبَعَةِ يَكْفِي الثَّمَانِيَةَ" د دوه کسانو خوراك څلورو کسانو ته کافي دی او د څلورو کسانو خوراك اته کسانو ته کافي دی.

تشريح: د دوه کسانو خوراك درې کسانو ته کافي دی، يعنې کومه ډوډی چې دوه کسان پرې مړېدی شي، نو دومره خوراك د قناعت په صورت کې درې کسانو ته کافي دی چې په دې سره د دوی لوږه ختمېدی شي، د دوی په عبادت کې طاقت حاصلېدی شي، دغه شان د درې کسانو خوراك څلورو کسانو ته کافي دی، ددې هم دغه مطلب دی چې که درې کسان په يو خوراك مړېدی شي، نو څلور کسان د قناعت په صورت کې او په عبادت کې د طاقت حاصلېدو په صورت کې ورباندې مړېدی شي.

ددې حديث نه سبق:

په دې حديث کې دې خبرې ته هم اشاره ده چې ستاسره څومره خوراك وي، نو د ضرورت په اندازه خپله ترې هم وخورئ او نور پاتې غريبانو او مسکينانو ته ورکړئ، عمر رضی الله عنه د قحط په زمانه کې وفرمايل: زما زړه غواړي چې هر کور ته نيمه نيمه ډوډی واستوم، ځکه چې په نيمه خېټه خوراك سره انسان نه مري، بل ددې حديث نه دا سبق هم موږ ته ملاو شو چې بايد انسان په ځان کې قناعت پيدا کړي، ځکه چې د انسان نفس اماره غواړي چې هر څه زه وخورم، ليکن د انساني همدردی تقاضا دا ده چې الله ﷻ تاته څه درکړي دي په دې کې د فقير او غريب حق مه هېروه.

د چا سره چې زيات شی وي، هغه دې بل ته ورکړي

"وعن أبي سعيد الخدري رضی الله عنه، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ فِي سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ إذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى رَاحِلَةٍ لَهُ، فَجَعَلَ يَصْرِفُ بَصَرَهُ يَمِيناً وَشِمَالاً" د ابو سعيد خدري رضی الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: موږ د رسول الله ﷺ سره په يو سفر روان وو چې ناڅاپه يو کس په سوارلۍ باندې سپور راغلو، اخوا دېخوا يې کتل، "فَقَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لا ظَهْرَ لَهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د کوم کس سره چې زياتې سوارلۍ وي، هغه دې داسې کس ته ورکړي چې د هغه ورته ضرورت وي، "وَمَنْ كَانَ لَهُ فَضْلٌ مِنْ زَادٍ، فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لا زَادَ لَهُ" او د کوم کس سره چې زياتې خوراك وي، هغه دې داسې کس ته ورکړي چې د هغه ورته ضرورت وي، "فَذَكَرَ مِنْ أَصْنَافِ المَالِ مَا ذَكَرَ حَتَّى رَأَيْنَا أنَّهُ لاَ حَقَّ لأحَدٍ مِنَّا فِي فَضْلٍ" بيا نبي کريم ﷺ مختلف شيان ذکر کړل تردې چې موږ گومان وکړو چې زموږ سره کوم شيان زياتې پاتې شي، په هغو زياتي شيانو کې زموږ څه حق نشته، رواه مسلم

تشريح: د پورتني حديث نه معلومه شوه چې بايد هر انسان په اجتماعي ژوند کې د يو بل بکار راشي، د يو بل سره مرسته وکړي، د ضرورت نه زيات خوراك جامه وغيره خپل مسلمان ورور ته ورکړي، "لاحق لأحدٍ منا في فضل" مونږ خيال کولو چې په زياتي شيانو کې زمونږ هيڅ حق نشته

دا حکم استحبابي دی:

دلته د امر صيغه راغلې ده، جمهور علماء دغه امر په استحباب باندې حمل کوي، وايي چې دلته امر د وجوب لپاره نه دی، علامه نووي رحمه الله فرمايي په دې حديث کې خلکو ته د صدقې ورکولو ترغيب دی، که د رسول الله ﷺ په سنتو باندې عمل وشي، نو زمونږ معاشره به د جنت نمونه جوړه شي، لکه څرنګه چې په قرون اولی کې جوړه شوې وه، نن سبا زمونږ په دې معاشره کې هغه اخلاق نشته، هغه عادات نشته چې په قرون اولی کې وو، ځکه خو ځای په ځای فسادونه او قتلونه کيږي

يو صحابي څادر وغوښتلو

"وعن سهل بن سعد رضي الله عنه: أَنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ إِلَى رسول الله ﷺ بِبُرْدَةٍ مَنْسُوجَةٍ، فَقَالَتْ: نَسَجْتُهَا بِيَدَيَّ لِأَكْسُوَكَهَا، فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ ﷺ مُحْتَاجاً إِلَيْهَا، فَخَرَجَ إِلَيْنَا وَإِنَّهَا إِزَارُهُ" د سهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې يوې ښځې ګلدار څادر واخيستو او رسول الله ﷺ ته يې راوړه، بيا يې وفرمايل: ما دا څادر خاص ستاسو د استعمال لپاره اخيستی دی، نبي کريم ﷺ هغه څادر د ضرورت له امله قبول کړو او د لنګ په طور يې وتړلو او بهر راووتلو، "فَقَالَ فُلَانٌ: اكْسُنِيهَا مَا أَحْسَنَهَا! فَقَالَ: ((نَعَمْ)) فَجَلَسَ النَّبِيُّ ﷺ فِي الْمَجْلِسِ، ثُمَّ رَجَعَ فَطَوَاهَا، ثُمَّ أَرْسَلَ بِهَا إِلَيْهِ" هلته يو کس ووېل: ډېر ښه څادر دی، چې ما ته يې راکړې وای! نبي کريم ﷺ په مجلس کې ناست وو، پاڅېدو او حجرې ته يې تشريف يوړو، کله چې دننه لاړو، نو څادر يې د ځان نه لرې کړو او هغه سړي ته يې ورکړو، "فَقَالَ لَهُ الْقَوْمُ: مَا أَحْسَنْتَ! لَبِسَهَا النَّبِيُّ ﷺ مُحْتَاجاً إِلَيْهَا، ثُمَّ سَأَلْتَهُ وَعَلِمْتَ أَنَّهُ لَا يَرُدُّ سَائِلاً" خلکو ورته ووېل: ښه دې ونه کړل د نبي کريم ﷺ هغه څادر ته ضرورت وو او هغه ترې تا په سوال واخيستلو، ته ښه پوهېږې چې نبي کريم ﷺ سوالګر نه واپس کوي، "فَقَالَ: إِنِّي وَاللَّهِ مَا سَأَلْتُهُ لِأَلْبَسَهَا، إِنَّمَا سَأَلْتُهُ لِتَكُونَ كَفَنِي. قَالَ سَهْلٌ: فَكَانَتْ كَفَنَهُ" هغه سړي ووېل: قسم په الله جل جلاله اچې ما د اغوستلو لپاره نه دی اخيستی، بلکې ددې لپاره مې ترې اخيستی چې کله مړ شم، نو زما کفن به ددې څادر څخه وي رواه البخاري

لغوي تحقيق:

منسوجة: "نسج ينسج نسجاً": باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده جامې ګنډل

تشريح: "امرأة جاءت": يوه ښځه راغله، ابن حجر رحمه الله فرمايي: ددې ښځې نامه معلومه نه دی.

"فأخذها النبي ﷺ" علماء فرمايي: ددې حديث نه معلومه شوه چې بايد انسان يو بل ته هديې او ډالۍ ورکړي، لکه څرنګه چې په يو بل روايت کې دي: يو بل ته تحفې ورکوئ، ځکه چې په دې سره خپلو کې مينه او محبت زياتيږي

"اكتنيها": ماته يې راواغونده! يعني ماته يې راکړه، کله چې دغه صحابي سوال وکړو، نو رسول الله ﷺ سمدستي ورته هغه څادر ورکړو، ځکه چې رسول الله ﷺ ته دا خبره خوښه نه وه چې سوالګر دې هسې ولېږي، "لتكون كفنى" ددې لپاره چې زما کفن شي، معلومه شوه چې انسان ته پکار ده چې خپل آخرت هم پښ ياد وساتي او تيارې دې ورته کوي، که يو کس خانته کفن وغيره د اول نه تيار وساتي، نو دا جائز دي

ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې د رسول الله ﷺ په اثارو باندې تبرک حاصلول جائز دي.

لکه څرنګه چې دغه صحابي وکړل چې دغه برکتي څادر يې خانته کفن کړو.

د اشعري قبيلې فضيلت

"وعن أبي موسى ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: إن الأشعريين إذا أرملوا في الغزو، أو قل طعام عيالهم بالمدينة" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې به د اشعريين قبيلې خلکو خوراک د جهاد پرمهال يا په ښار کې يا په خپله قبيله کې ختم شو، "جمعوا ما كان عندهم في ثوب واحد، ثم اقتسموه بينهم في إناء واحد بالسوية فهم مني وأنا منهم" نو کوم شي يا ټکړه به چې يې پاتې شوه، هغه به يې په يو څادر کې جمع کړل او بيا به يې يو لوښي کې واچول او برابر برابر به يې تقسيم کړل، دوى ټول زما څخه دي او زه د دوى څخه يم. متفق عليه

"أرملوا: فرغ زادهم أو قارب الفراغ" د (ارملوا) توښه ختمه شي يا ختمېدو ته نږدې شي

تشريح: اشعري يوه قبيله ده چې اشعر ته منسوب ده، ددې قبيلې باني شيش بن اود بن يشجب بن يعرب بن قحطان وو، ددې قبيلې سره تعلق ساتونکى مشهور صحابي ﷺ ابو موسى اشعري ﷺ دى.

"جمعوا ما كان عندهم": چې ټول سامان په يو ځاى کې جمع کړي، په دې کې د اشعري قبيلې يو ښکلې عادت ذکر دى، کله چې به د دوى سره خوراک په کمېدو شو، نو څه چې به ورسره وو، ټول به يې په يو کپړه کې جمع کړل، بيا به يې برابر تقسيم کړل. په دې کې د يو بل سره د خيرخواهي او همدردى ذکر دى، بيا خاصکر د مصيبتونو او تکليفونو په وخت کې د يو بل سره د تعاون او مرستې حکم شوى دى.

"فهم مني وأنا منهم": هغوى زما څخه دي او زه د دوى څخه يم، محدثين ددې جملې مطلب داسې بيانوي: اشعري قبيله په اخلاق، کردا او خيريه اعمالو کې د يو بل سره ډېر نږدې وه، علامه نووي رحمه الله فرمايي: په دې جمله کې مبالغة دا خبره ويل شوې چې د الله ﷻ د اطاعت په سلسله کې موږ دواړو سره اتفاق او اتحاد دى

باب التنافس في أمور الآخرة والاستكثار مما يتبرك به

د آخرت په کارونو کې تیزي کول

د دین په کارونو کې د یو بل څخه وړاندې کېدل

"قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي "وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ" او د جنت په نعمتونو کې دې منه کونکي منه وکړي. [المطففين:۲۶].

تشريح: مفسرين ليکي: تنافس دې ته وايي چې څو کسان د يو محبوب شي په حصول کې د يو بل نه وړاندېز وکړي، هر يو دا کوشش وکړي چې زه دغه شي حاصلوم، په دنيوي کارونو کې تنافس مذموم دی او په ديني کارونو کې ممدوح دی، دلته د جنت په حصول او د هغې د نعمتونو په حصول کې د يو بل نه وړاندې کېدو ته ترغيب ورکول شوی دی، غرض دا چې د دنيا ساز او سامان ددې قابل نه دی چې په دې کې دې خلك د يو بل نه وړاندې شي او همدغه دې د خپل ژوند هدف وګرځوي، ځکه چې دنيا فاني ده، ناقصه ده، تنافس په هغو شيانو کې پکار دی چې همېش پاتې کېدونکي دي او هغه صرف د جنت نعمتونه دي.

د ښي طرف نه تقسيم شروع کول مستحب دي

"وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ أُتِيَ بِشَرَابٍ، فَشَرِبَ مِنْهُ وَعَنْ يَمِينِهِ غُلَامٌ، وَعَنْ يَسَارِهِ الْأَشْيَاخُ، فَقَالَ لِلْغُلَامِ: أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أُعْطِيَ هٰؤُلَاءِ؟" د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته اوبه راوړل شوې، د هغې څخه يې اوبه وڅښلې، د نبي کريم ﷺ ښي طرفته يو ماشوم ناست وُ، چپ طرفته يې مشران صحابه ناست وو، نبي کريم ﷺ هغه ماشوم ته ووېل: ايا تاسو ماته اجازت راکوئ چې زه دغو مشرانو ته ستاسو نه وړاندې اوبه ورکړم؟ "فَقَالَ الْغُلَامُ: لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ، لَا أُوثِرُ بِنَصِيبِي مِنْكَ أَحَدًا. فَتَلَّهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ فِي يَدِهِ" هغه ماشوم ووېل: يارسول الله ﷺ! نه، هيڅکله زه خپل نصيب چې ستاسو د خولې مبارکې پاتې شونې ده، بل چاته نه شم ورکولی، نبي کريم ﷺ د اوبو هغه لوښی خپله د هغه ماشوم په لاس کې کېښودلو. متفقٌ عَلَيْهِ

"تَلَّهُ: بِالتَّاءِ الْمُثَنَّاةِ فَوْقُ: أَيْ وَضَعَهُ. وَهٰذَا الْغُلَامُ هُوَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما" د (تله) معنی ده: کېښودل، دا ماشوم عبد الله بن عباس ﷺ وو.

لغوي تحقيق:

فتله: (تله) باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: په لاس کې يو شی کېښودل.

تشريح: "عن يمينه غلام وعن يساره الأشياخ": ښي طرف ته يې يو ماشوم ناست وو او چپ طرفته يې ټول مشران ناست وو، ددې ماشوم نوم عبد الله بن عباس ﷺ دی، چپ طرف ته يې خالد بن وليد ﷺ وغيره کسان ناست وو، ددې حديث نه معلومه شوه چې که څه شی تقسيمول غواړئ او ښي طرف ته

ماشوم ناست وي او چپ طرف ته مشران خلک ناست وي، نو د ښي طرف ماشوم زيات حقدار دی چې هغه ته بايد ورکړل شي.

"أتـأذن لي أن أعطي: ايا تاسو ماته اجازه راکوئ چې زه يې دغو مشرانو ته اول ورکړم؟ په يو بل روايت کې دي: "فقال لي الشربة لك فان شئت اثرت بها خالداً" ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: رسول الله ﷺ ماته وفرمايل: اي ابن عباس رضي الله عنهما! نمبر ستا دی، خو که ته غواړې چې خالد رضي الله عنه ته په ځان ترجيح ورکړې او هغه وړاندې کړې.

مطلب دا چې هغه شی چپ طرف والا ته ورکول غواړي، نو د ښي طرف والا نه به پوښتنه کوي. ځکه چې زيات حق د ښي طرف والا دی، دا په استحبابي امورو کې راځي، ليکن رسول الله ﷺ به د استحبابي امورو اهتمام هم کولو. علماء کرام فرمايي چې دا حديث د رسول الله ﷺ په کمال عدل او انصاف باندې واضح ثبوت دی.

"أوثر بنصيبي": ستاسو له طرفه ماته په حصې ملاوېدو باندې بل کس ته په ځان هيڅله ترجيح نه شم ورکولی، مطلب دا چې د شربت هغه پياله چې د رسول الله ﷺ خولې مبارکې نه پاتې وي او تر کومه پورې چې د رسول الله ﷺ شونډې مبارکې پرې لګېدلې وي، ددې تبرک حاصلول ابن عباس رضي الله عنهما تر ټولو وړاندې غوښتل، په دې وجه هغه د مشرانو ادب په مقابله کې د نبي کريم ﷺ تبرک ته ترجيح ورکړه، ددې نه معلومه شوه چې صحابه کرام رضي الله عنهم د رسول الله ﷺ په تبرک باندې څومره حريص وو.

په ايوب عليه السلام باندې د غسل پرمهال د ملخانو باران

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قال: بَيْنَا أَيُّوبُ عليه السلام يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا، فَخَرَّ عَلَيْهِ جَرَادٌ مِنْ ذَهَبٍ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په داسې حال کې چې ايوب عليه السلام لامبل، نو د هغه دپاسه د سرو زرو پتنګان راپرېوتل، "فَجَعَلَ أَيُّوبُ يَحْثِي فِي ثَوْبِهِ" ايوب عليه السلام هغه په خپل څادر کې راغونډول شروع کړل، "فَنَادَاهُ رَبُّهُ عز وجل: يَا أَيُّوبُ، أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرَى؟" الله جل جلاله ورته آواز وکړو چې اې ايوب! ايا تاسو ما بې پروا کړي نه يئ، د هغه څه نه چې تاسو يې وينئ؟ "قَالَ: بَلَى وَعِزَّتِكَ وَلَكِنْ لَا غِنَى بِي عَنْ بَرَكَتِكَ" ايوب عليه السلام ووېل: ولې نه! ستاسو په عزت مې دې قسم وي! ليکن اصلي خبره دا ده چې زه ستاسو د برکت نه بې پروا نه يم (ستاسو برکت ته زما هر وخت محتاجي وي) رواه البخاري

لغوي تحقيق:

يحثي: "حثا حثواً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: راغونډول، جمع کول.

تشريح "يغتسل عرياناً": ايوب عليه السلام جامې ويستلې وې او غسل يې کولو. د (عرياناً) نه بالکل لوڅوالی مراد نه دی، بلکې د تهبند نه علاوه بله کپړه يې په بدن نه وه، دا ترې مراد دي، ددې خبرې تائيد په وړاندې عبارت کې راځي، په کوم کې چې دي: (يحثي في ثوبه) چې هغوی په خپلو جامو کې ملخان جمع کول، علماء فرمايي: که بالفرض بالکل بربنډ/ لوڅ غسل کول هم مراد شي، بيا هم يوازې

پټ لوڅ لمبېدل جائز دي، هو! خو غوره دا ده چې په داسې وخت کې هم بايد د الله ﷻ نه حياء او شرم وکړي او پرده جوړه کړي

"فجعل أيوب يحثي في ثوبه": ايوب عليه السلام شروع شو، هغه ملخان يې راجمع کول، محدثينو ددې جملې کښې تعبيرات کړي دي، مثلاً:

په همدې تهبند کې يې جمع کول، په کوم کې چې يې غسل کولو.

د غسل وروسته يې چې کومه جامه واغوسته، په هغې کې يې جمع کول

د غسل پرمهال چې کومه کپړه ورسره نژې وه په هغې يې جمع کول شروع کړل

"فناداه ربه": الله ﷻ ورته آواز وکړو: محدثين فرمايي: الله ﷻ ايوب عليه السلام ته آواز کول د عتاب او ناراضی په وجه نه ؤ، بلکې د شفقت او محبت په توګه ؤ، "ولكن لاغنى بي عن بركتك" په يو بل روايت کې دي: "من يشبع من رحمتك" چې ستاسو د رحمت نه څوك مړېږي، زه ستاسو د رحمت نه مستغني نه يم، مطلب دا چې ايوب عليه السلام دومره په انهماك سره ملخان جمع کول، دا دنيوي حرص او لالچ نه وو، بلکې د الله ﷻ د رحمت او نعمت نه فايده حاصلول مقصود وو، ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث نه استدلال کوي چې جائز مال او دولت جمع کول د داسې کس لپاره جائز دي چې په ځان يې پوره اعتماد وي، د هغه يقين وي چې په دې مال او دولت کې د الله ﷻ شکريه ادا کولی شم او په نافرمانۍ کې يې نه لګوم

باب فضل الغَنِيّ الشاكر وهو من أخذ المال من وجهه وصرفه في وجوهه المأمور بها

شکر ګزار مالداره انسان چې په جائزه طريقه مال حاصل کړي او بيا يې په جائزو امورو کې صرف کړي

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ": الله ﷻ فرمايي چې: "فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ" بس کوم کس چې د الله ﷻ د رضا لپاره خپل مال ورکړي، تقوا حاصله کړي او زمونږ د ښايسته کلمې تصديق وکړي، "فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ" نو مونږ به هغه ته د راحت سامان تيار کړو [الليل:۵-۷]

تشريح: "فأما من أعطى": ددې مطلب واضح دی: کوم کس چې د الله ﷻ په لار کې خپل مال خرچ کړي، نو داسې کس به الله ﷻ د جهنم له عذابه وساتي، په يو بل روايت کې دي رسول الله ﷺ وفرمايل د دوزخ نه ځان وساتئ، اګر چې د خورما په يوې ټوټې سره ولې نه وي، "وصدق بالحسنى" ابن عباس رضي الله عنه او ضحاك رحمه الله وايي: د حسنى نه مراد (لااله إلا الله) دی، د مجاهد رحمه الله په نزد جنت دی، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې دي: "للذين أحسنوا الحسنى" دلته هم د حسنى نه مراد جنت دی

"فسنيسره لليسرى": مونږ به دوی ته اساني پيدا کړو، مطلب دا چې هغه ته به د نېك عمل توفيق نصيب کړو، هغه چې د الله ﷻ د رضا مطابق به وي او د جنت حصول به ورسره آسان وي، په دې کې

اشاره ده دې خبرې ته چې موږ به ددې خلکو طبعیت داسې جوړ کړو چې د دوی نه به اعمال داسې صادريږي چې د شريعت سره سمون خوري او د شريعت مخالف عمل باندې به ورته ګران وي.

د ابوبکر صديق رضي الله عنه فضيلت:

"وقال تعالیٰ" الله جل جلاله فرمايي چې "وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى" زر ده چې متقيان به د جهنم نه بچ شي، متقيان هغه خلك دي چې خپل مال د الله جل جلاله د رضا لپاره او د مال د پاکوالي لپاره ورکوي.
"وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَى إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَى وَلَسَوْفَ يَرْضَى" او په هغه باندې د چا احسان او نيکي هم نه وي چې دی يې بدله ورکړي، بلکې صرف او صرف د الله جل جلاله د رضا لپاره خپل مال خرچ کوي او زر ده چې هغه به راضي شي. [الليل:۱۷-۲۱]

تشريح: "وسيجنبها الاتقى الذي يؤتي ماله يتزكى": داسې کس به د جهنم نه آزاد کړو چې خپل مال په دې نيت ورکوي چې هغه دې پاك شي، ددې آيت شان نزول دا دی چې ابوبکر رضي الله عنه اوه داسې غلامان چې مسلمانان وو خو کفارو به پرې ظلمونه کول واخيستل، هغوی يې آزاد کړل، په دې باندې دغه آيت نازل شو، ليکن نور مفسرين فرمايي چې د آيت مفهوم عام دی، کوم کس چې د الله جل جلاله په لار کې مال خرچ کوي، هغه ته دغه زيری دی.

ابوبکر رضي الله عنه صرف د الله جل جلاله د رضا په خاطر غلامان آزاد کړل:

"وما لأحد عنده من نعمة تجزى": او پرته له دې چې د الله جل جلاله رضا يې مقصد وي بل څه نشته او نه د چا پرې احسان او نيکي شته چې د هغې بدله ورته ورکړي، ابوبکر صديق رضي الله عنه خالص د الله جل جلاله د رضا په خاطر دغه غلامان واخيستل بيا يې آزاد کړل، ددې څخه بغير ددې غلامانو په هغه باندې هيڅ احسان نه وو چې ددې بدله ورکړي، بلکې يو خل يې ورته پلار ابو قحافه وويل اې ابوبکر رضي الله عنه! که ته خامخا غلامان آزادول غواړې، نو قوي او بهادر غلامان خو آزاد کړه چې بيا دې يو وخت په کار راشي. ابوبکر رضي الله عنه ورته په ځواب کې وويل: په دې کې د الله تعالى د رضا څخه بغير زما بل هيڅ مقصد نشته
"ولسوف يرضى": په دې کې ابوبکر رضي الله عنه ته زيا ته خوشخبري او زيری دی چې هغه ته يې په دنيا کې د خپلې رضا مطابق زيری اورولی دی، دغه شان خوشخبري رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اورول شوې ده

پټه صدقه ورکول غوره ده:

"وقال تعالیٰ" الله جل جلاله فرمايي چې: "إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ" که تاسو د خپلو صدقو اظهار کوئ، نو دا ښه خبره ده. "وَإِنْ تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ" او که تاسو هغه صدقې پټوئ او فقيرانو ته يې ورکوئ، نو دا به ستاسو لپاره ډېره غوره خبره وي، "وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِنْ سَيِّئَاتِكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ" او الله جل جلاله به ستاسو ګناهونه معاف کړي او الله جل جلاله خبردار دی په ټولو هغو عملونو چې تاسو يې کوئ. [البقرة:۲۷۱]

تشريح: "إن تبدوا الصدقات فنعما هي": په دې آيت کې دې خبرې ته اشاره ده چې صدقې که فرضي وي او که نفلي وي، که د کوم مصلحت په خاطر ښکاره شي نو خير دی، په دې سره به نورو خلکو ته هم

ترغيب حاصل شي، په هغه چې د بخيلي کوم داغ دی، هغه به تري ختم شي. ليکن په دې آيت کې دا هم بيان شو چې "وإن تخفوها" که تاسو صدقه پټه ورکړئ، نو دا به ډېره غوره وي، ځکه چې په دې کې به انسان د رياکارۍ څخه بچ شي او بل دا چې کوم کس ته يې ورکوي هغه ته به پکې شرم هم نه وي، ځکه چې د خلکو په وړاندې که هغه ته څه ورکړی شي، نو هغه به پرې شرميږي

صدقې سره ګناهونه معاف کيږي:

"يكفر عنكم من سيئاتكم": ستاسو ګناهونه به هم معاف شي، دا په ظاهر کې د يو سوال جواب دی کوم چې پټ دی. هغه دا چې که پټه صدقه ورکړی شي، نو ددې فايده به څه وي؟ جواب دا دی چې په دې سره د انسان ګناهونه معاف کيږي، دا ډېره لويه فايده شوه چې صغيره ګناهونه يې معاف شي او ستر ګناهونه به يې په توبې سره معاف شي

د الله ﷻ په لار کې د خرچ فضيلت:

"وقال تعالی" الله ﷻ فرمايي چې "لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ" هيڅکله به تاسو کاملې نيکۍ ته ونه رسيږئ تر څو چې تاسو ته خوښ شي مو د الله ﷻ په لار کې خرچ کړی نه وي. "وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ" او کوم څه چې تاسو د الله ﷻ په لار کې خرچ کوئ، الله ﷻ په هغې باندې ښه پوه دی آل عمران: ۹۲] "والآيات في فضل الإنفاق في الطاعات كثيرة معلومة" په دې باب کې ايتونه ډېر زيات دي.

تشريح: ددې آيت مطلب وړاندې ذکر شوی دی چې د الله ﷻ په لار کې خرچ کول ډېر ثواب لري

په دوه کسانو پسخېدل جائز دي

"وعن عبد الله بن مسعود ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: لا حسد إلا في اثنتين: رجل آتاه الله مالاً، فسلطه على هلكته في الحق" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ و فرمايل د دوه حالتونو څخه بغير په بل هيڅ حالت کې حسد او کينه جائز نه ده، اول دا چې الله ﷻ چاته مال ورکړی وي او د الله ﷻ په لاره کې يې د لګولو توفيق هم ورکړی وي، "ورجل آتاه الله حكمة فهو يقضي بها ويعلمها" او بل هغه سړی چې الله ﷻ علم ورکړی وي هغه ددې علم په ذريعه فيصلې هم کوي او نورو ته يې هم تدريس کوي متفق عليه، وتقدم شرحه قريباً.

تشريح: ددې حديث وضاحت په باب فضل الكرم والجود کې تېر شوی دی، دلته د يو خل بيا راوړلو مقصد دا دی چې که چاته الله ﷻ مال ورکړي، نو اوس ددې مال شکريه ادا کولو طريقه دا ده چې په نېکو ځايونو کې مال مصرف کړي، دغه شان چاته چې الله ﷻ علم او د فيصلې کمال ورکړی وي نو ددې شکر دې ادا کړي چې خپله هم پرې عمل وکړي او نورو ته يې ورسوي

حسد په دوه کسانو جائز دی

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ قال: لا حسد إلا في اثنتين: رجل آتاه الله القرآن، فهو يقوم به آناء الليل وآناء النهار" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ و فرمايل د دوه حالاتو نه سېوا

په هیڅ حالت کې حسد جائز نه دی، اول دا چې یو کس ته الله ﷻ د قرآن کریم د تلاوت توفیق ورکړی دی، نو هغه یې شپه او ورځ تلاوت کوي، "وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً، فَهُوَ يُنْفِقُهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ" او بل هغه سړی دی چې الله ﷻ مال ورکړی وي هغه یې د الله ﷻ په لار کې شپه او ورځ خرج کوي. متفق علیه

"الآناء الساعات" د ساعاتو څخه مراد وختونه دي.

تشريح: "لاحسد إلا في إثنين" حسد جائز نه دی مګر په دوه کسانو جائز دی، حسد ناجائز دی، په دې وجه علماء فرمایي: دلته د حسد نه غبطه مراد ده، په حسد کې زوال نعمت مراد وي. که تا ته حاصل شي او که نه، لیکن د بل څخه چې ختم شي او غبطه دې ته وایي چې د بل سره نعمت ووینې نو ارمان وکړې چې ارمان زما سره هم دغه نعمت وای. لیکن ددې بل سره دې هم وي. د هغه نعمت دې نه ختمیږي. داسې غبطه حلاله ده

د حسد نه مراد څه دي؟

ځینې علماء فرمایي: دلته مراد بالفرض والتقدیر دی، یعنې بالفرض او التقدیر که چیرته حسد جائز وای، نو دا دوه شیان به ددې قابل وو چې په دې کې دې حسد وکړی شي او حسد به جائز وو. لیکن په دې کې هم حسد جائز نه دی، نو په نورو ځایونو کې خو بطریق اولی جائز نه دی

په دوه صورتونو کې حسد جائز دی:

کوم نعمت چې د کافر سره وي او هغه یې په ګناهونو کې خرج کوي.

دویم صورت دا دی چې کوم فاسق سره نعمت وي او هغه یې په ګناهونو کې صرف کوي. نو په دې دوه صورتونو کې د نعمت د زوال ارمان کول او حسد کول جائز دي

ددې نه وړاندې حدیث کې د قرآن په ځای لفظ د حکمت راغلی دی، علماء فرمایي د حکمت نه مراد دلته قرآن دی، "فهو يقوم به آناء الليل والنهار" حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي د قیام مطلب دا دی چې په هغې عمل وکړي، په عمل کې د قرآن کریم تلاوت، لمونځ وغیره خلکو ته د قرآن کریم درس او په دې باندې فیصله کول ددې مطابق فتوی ورکول ټول شامل دي

د تسبیحات فاطمي فضیلت

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أن فقراء المهاجرين أتوا رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقالوا: ذهب أهل الدثور بالدرجات العلى، والنعيم المقيم".

"د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ځینې مهاجر فقیران صحابه راغلل. ورته یې وویل: یارسول الله صلى الله عليه وسلم مالدارانو خو د مالداری په وجه د جنتونو اوچتې درجې وګټلې. "فقال: ((وما ذاك؟)) قالوا: يصلون كما نصلي، ويصومون كما نصوم، ويتصدقون ولا نتصدق، ويعتقون ولا نعتق" نبي کریم صلى الله عليه وسلم ترې پوښتنه وکړه چې هغه څنګه؟ هغوی ورته وویل: هغه داسې چې دوی لمونځونه کوي. موږ یې هم کوو. دوی روژې نیسي، موږ یې هم نیسو. لیکن دوی په خپلو مالونو کې صدقې ورکوي او موږ صدقې نه شو ورکولی او دوی غلامان آزادوي، موږ یې نه شو آزادولی. "فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أفلا أعلمكم شيئاً

تُدْرِكُونَ بِهِ مَنْ سَبَقَكُمْ، وَتَسْبِقُونَ بِهِ مَنْ بَعْدَكُمْ، وَلَا يَكُونُ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِنْكُمْ إِلَّا مَنْ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُمْ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل ايا زه تاسو ته يو داسې عمل ونه ښيم چې تاسو هغه عمل شروع کړئ نو د دوی نه به تاسو وړاندې شئ او د هغو کسانو څخه به هم وړاندې شئ چې ستاسو نه وروسته راځي او ستاسو په شان به په عمل کې هيڅوک هم نه وي مګر هغه څوك چې ستاسو په څېر عمل کوي. "قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: تُسَبِّحُونَ وَتُكَبِّرُونَ وَتَحْمَدُونَ، دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثاً وَثَلَاثِينَ مَرَّةً" هغوی ووېل ولې نه؛ يارسول الله ﷺ! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل د هر لمانځه وروسته دري دېرش، دري دېرش ځله سبحان الله، الحمدلله او الله اکبر ويل. "فَرَجَعَ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ، فَقَالُوا: سَمِعَ إِخْوَانُنَا أَهْلُ الْأَمْوَالِ بِمَا فَعَلْنَا، فَفَعَلُوا مِثْلَهُ؟" څه وخت وروسته بيا فقيران مهاجرين صحابه کرام راغلل او ورته يې وفرمايل يا رسول الله ﷺ زموږ مالدارانو وروڼو هم دغه عمل شروع کړو کوم چې موږ کوو. "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ذَلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل دا بيا د الله ﷻ فضل او کرم دی چې په چا يې وکړو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَهَذَا لَفْظُ رِوَايَةِ مُسْلِم

"الدُّثُورُ: الْأَمْوَالُ الْكَثِيرَةُ" وَاللهُ أَعْلَم لفظ د الدثور نه مراد مالداران خلك مراد دي.

کله چې رسول الله ﷺ فقيرانو ته د هر لمانځه وروسته تسبيحات فاطمي ويلو امر وکړو. نو مالدارو هم دغه عمل شروع کړو، که مالدارو يو طرف ته د اسلام په ټولو احکاماتو عمل کولو. نو بل طرف يې ددې وظيفي پابندي هم شروع کړه، په دې باندې رسول الله ﷺ وفرمايل "ذلك فضل الله يؤتيه من يشاء" دا خو د الله ﷻ خصوصي فضل دی چې چاته يې ورکړي

سوال او ځواب:

"دبر كل صلاة ثلاث وثلاثين مرة": د هر لمانځه وروسته دري دېرش ځله سبحان الله، الحمدلله او الله اکبر وايئ، سوال دا دی چې د عبارت نه معلومېږي چې «سبحان الله، الحمدلله او الله اکبر» ټول يو ځای سره غونډ کړې، نو پوره دري دېرش ځله ويل پکار دي، يعني هره کلمه يوولس يوولس ځله ويل، حال دا چې مشهور قول دا دی چې هره کلمه دري دېرش ځله ويل پکار دي؟

جواب: علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي: په اصل کې عبارت داسې دی. "تسبحون خلف كل صلاة ثلاثا وثلاثين" مطلب دا چې د هر لمانځه وروسته دري دېرش ځله سبحان الله، دري دېرش ځله الحمدلله او دري دېرش ځله الله اکبر ويل دي

امام نووي رحمه الله فرمايي: په ځينو رواياتونو کې الله اکبر څلور دېرش ځله ويل پکار دي او بيا يو ځل په آخر کې: "لااله الا الله وحده لاشريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير" ويل پکار دي

ايا ددې شمېر څخه زيات ويل پکار نه دي؟

ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې ليکلي دي: هر مسنون عمل چې په خپله طريقه ادا نه شي، نو اثر يې ختمېږي، لکه څرنګه چې د يو ډاکټر تجويز شوې نسخه په سمه طريقه عملي نه شي، نو د هغې تاثير ختمېږي

باب ذكر الموت وقصر الأمل

د مرګ يادول او اميدونه لنډول

"قَالَ اللّٰــهُ تَعَالَى" الله جل جلاله فرمايي چي "كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ" هر متنفس چي ساه اخلي هغه به يوه ورځ د مرګ پياله څښي. "وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ" بيا به الله جل جلاله تاسو ته د قيامت په ورځ ستاسو د عملونو بدله درکوي. کوم سړی چي د دوزخ نه خلاص شو او جنت ته داخل شو، دا سړی کامياب شو. "وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ" او نه دی ژوند د دنيا مګر د دوکي سامان دی [آل عمران:۱۸۵]

تشريح: "كل نفس ذائقة الموت": هر ذي روح به يوه ورځ خامخا مړ کيږي، کوم کس چي دنيا ته راغلی دی، هغه به د مرګ پياله يو ځل څښي، علامه قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله د علامه بغوي رحمه الله په حواله روايت نقل کړی دی چي کله الله جل جلاله آدم عليه السلام د خاورې څخه پيدا کړو، نو د ځمکي خاورې شکايت وکړو چي زما يوه حصه را واخيستل شوه د کومي څخه چي آدم عليه السلام جوړ شو. نو الله جل جلاله وعده وکړه چي څومره خاوره مي له ځمکي څخه راخيستې ده، هغه به بېرته تاته واپس کوم، نو کوم انسان چي د کوم ځای خاورې نه پيدا شوی دی، هغه به په هغه خاوره کي دفن کيږي

"وإنما توفون أجوركم يوم القيامة": تاسو ته به د قيامت په ورځ د خپلو اعمالو بدله پوره پوره درکولی شي، که ښه دي کړي وي ښه بدله به درکولی شي، که بد دي کړي وي نو بده بدله به درکولی شي. "فمن زحزح عن النار" کوم کس چي د جهنم نه بچ شو او جنت ته داخل شو، داسي کس کامياب شو، برابره خبره ده چي جنت ته ابتداءً داخل شي او که د سزا نه پس داخل شي، لکه څرنګه چي ګناهګار مسلمانانو ته سزا ورکړل شي، ددې نه وروسته بيا د همېش لپاره جنت ته داخل شي، ددې برعکس کافران به د همېش لپاره په جهنم کي سوځي

"وما الحيوة الدنيا إلا متاع الغرور": او د دنيا ژوند خو يول د دوکي سامان دی، حسن بصري رحمه الله فرمايي شايد د ښځو وښو په څېر او د جينکو د نانځکو په څېر ده چي ددې هيڅ مقصد نه وي

د راتلونکي وخت حالات چا ته معلوم نه دي:

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمايي چي "وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا" يو متنفس چي ساه اخلي هغه په دې باندې نه پوهيږي چي هغه به سبا څه کوي، "وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ" نه به په دې پوهيږي چي د ځمکي په کومه حصه کي به يې مرګ وي [لقمان:۳۴]

تشريح: د راتلونکي وخت حالات چي څه به کيږي، څوک به مري، کله به مري، زه به څه کوم، راتلونکی وخت خو پريږده چي انسان ته ددې خبري علم هم نشته چي اوس يو منټ يا يو ساعت وروسته به څه کوم او دا ځکه چي دا د غيبو سره تعلق ساتي او د غيبو علم د الله جل جلاله نه پرته بل چا سره نشته

د مرګ وخت مقرر دی:

"وقال تعالیٰ" الله ﷻ فرمايي چې "فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ" کله چې د دوی د مرګ وخت راشي، نو نه به يو ساعت د مرګ نه وروسته شي او نه به وړاندې شي [النحل:۶۱]

تشريح: د آيت مطلب هم دا دی چې د هر انسان او هر ذي روح لپاره د مرګ وخت مقرر دی، کله چې مقرر وخت راشي، نو بيا نه يو ساعت وړاندې کيږي او نه وروسته کيږي

سوال د مرګ وخت چې وروسته شي، يعنې تاخير پکې وشي، دا خو د سړي په ذهن کې راځي ليکن که په يو سړي باندې بالفرض د مرګ وخت تېر شي، نو بېرته واپس راتلل دا په ذهن کې نه راځي مطلب دا چې تاخير په عقل کې راځي خو مخکې کېدل په عقل کې نه راځي؟

جواب دا د محاورې په شکل ويل شوي دي، لکه څنګه چې يو مشتري څه اخلي او بائع نه ووايي ايا په دې کې څه کمی بيشي کېدی شي او که نه؟ نو دلته په مقصود کې کمی وي، زياتی نه وي، خو زياتی هسې د محاورې له وجې ويل کيږي، دغه شان د آيت مطلب هم دی.

سوال په ځينو اعمالو وعده شوې ده چې په دې باندې به د سړي ژوند زياتيږي، مثلاً صدقه ورکولو سره د انسان مرګ مؤخر کيږي؟

جواب د مرګ مؤخر کېدو مطلب دا نه دی چې مرګ يې وروسته شي، بلکې مطلب يې دا دی چې دده په ژوند کې الله ﷻ دومره خير او برکت واچوي چې په لنډ وخت کې د ډېر عمر کسان دومره زيات کار نه شي کولی

د مرګ نه وړاندې نېک اعمال پکار دي:

"وقال تعالیٰ" الله ﷻ فرمايي چې: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ" خبردار هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، تاسو دي ستاسو مالونه او بچي د الله ﷻ د ذکر نه غافله نه کړي. "وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ" او کوم کس چې دا کار وکړي، پس هم دا د تاوان خلکو څخه دی. "وَأَنْفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ" او د الله ﷻ په لار کې د هغه مال نه خرچ کوئ کوم مال چې موږ درکړی دی، وړاندې له دې چې په تاسو کې يو کس ته مرګ راشي، نو هغه بيا وايي اې ربه! ولې دې زه د مرګ نه وروسته نه کړم، "فَأَصَّدَّقَ وَأَكُنْ مِنَ الصَّالِحِينَ" ما به ډېرې صدقې ورکړې وای او زه به د نېکو خلکو څخه وای، "وَلَنْ يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ" او هيڅکله الله ﷻ يو نفس نه وروسته کوي کله چې د دوی د مرګ وخت راشي او الله ﷻ خبردار دی په ټولو هغو عملونو چې تاسو يې کوئ! [المنافقون:۹-۱۱]

تشريح: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ" : اې مؤمنانو! تاسو دي ستاسو مالونه، ستاسو اولادونه د الله ﷻ د ذکر نه غافله نه کړي، د الله تعالی د ذکر نه مراد پنځه وخته لمونځ، حج،

زکات او فرضي حکمونه مراد دي، د حسن بصري رحمه الله په قول ټول عبادات او طاعات ترې مراد دي. مطلب دا چې انسان دي د خپل مال او اولاد سره مشغول شي، خو دومره دي نه مشغولیږي چې الله جل جلاله هم ترې هیر شي

"وانفقوا مما رزقناكم من قبل أن يأتي أحدكم الموت": او تاسو خپل مالونه د الله جل جلاله په لاره کې خرج کړئ. وړاندې له دې چې مرګ درته راشي، مفسرین لیکي د (أن ياتي أحدكم الموت، نه مراد د مرګ اثرات دي. مطلب دا چې د مرګ اثرات شروع کېدو نه وړاندې د صحت او قوت په حالت کې باید خپل مال د الله جل جلاله په لاره کې خرج کړي، کنه نو د مرګ نه وروسته به دغه مال هیڅ ستا په کار رانشي، په دې وجه په یو بل روایت کې دي د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چې کومه صدقه ډېره غوره ده او اجر یې زیات دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل په داسې وخت کې صدقه ورکړې چې انسان صحتمند وي او د بیا لپاره ددې ویره ورسره وي چې که صدقه مې وکړه، نو چیرته به غریب شم

"فيقول رب لولا أخرتني إلى أجل قريب": نو دی به بیا دا خبره کوي چې اې زما ربه! که ماته دې لږ مهلت راکړی وای؟ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ددې آیت په تفسیر کې فرمایي: د کوم سړي په ذمه چې فرضي حج وي او حج ادا نه کړي یا زکات پرې فرض وي، هغه یې ادا نه کړي، تردې چې د مرګ اثرات پرې شروع شي، نو په داسې وخت کې به ورته ارمان ورشي چې افسوس! زه بیرته واپس دنیا ته لاړ شم او څه چې راباندې پاتې وو، هغه به ټول پوره کړم

ته څومره موده په دنیا کې وې؟

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمایي چې "حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ" تردې چې په تاسو کې یو کس ته مرګ راشي نو هغه بیا وایي اې ربه! ما واپس کړې. "لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ" ددې لپاره چې زه نېک عملونه وکړم هغه عملونه چې ما پرېښي اینبي وو، "كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ" الله جل جلاله فرمایي چې نه! داسې نه ده، بلکې دا یو تکې دی چې دوی یې وایي او د دوی د وړاندې به ترهغه وخته یو برزخ وي چې ترڅو دوی د قبرونو نه راپورته کړی شي، "فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ" او کله چې په شپیلۍ کې پوك ووهل شي، نو په دې ورځ به بیا نسبونه کار نه ورکوي او نه به د یو بل پوښتنه کولی شي، "فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ" بس د کوم سړي تله چې درنه شي هم دغه کس کامیاب دی. "وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ" او د کوم کس تله چې سپکه شي، بس دا هم هغه کسان دي چې خانونه یې تاوانیان کړي دي، دوی به همیش په جهنم کې وي، "تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ" او د جهنم اور به د دوی مخونه وسوځوي او دوی به په دې جهنم کې بدمخي وي، "أَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ" دوی ته به وویل شي ایا تاسو ته زما ایتونه نه وو راغلي چې تاسو هغې ته د دروغو نسبت کولو، "إلى قوله تعالى" تردې قول د الله جل جلاله پورې "كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ" تاسو چې په ځمکه کې څومره وخت تیر کړی دی. "قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ"

دوی به وواييي يوه ورځ يا نيمه ورځ مو تيره کړې ده، د حساب والا څخه پوښتنه وکړه. "قَالَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا لَّوْ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ" الله ﷻ به ورته وواييي تاسو په ځمکه کې وخت نه دی تير کړی، مګر ډېر لږ، که چيرته تاسو پوهېږئ. "أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ" ايا تاسو دې خبرې ګومان کوئ چې مونږ تاسو عبث پيدا کړي يئ او تاسو به مونږ ته واپس نه راځئ؟ [المؤمنون: ٩٩-١١٥]

تشريح: "حتى إذا جـآء أحدهم الموت": مفسرين فرمايي ددې نه قبر يا د حشر ميدان مراد دی. هله به دوی ته وويل شي چې ګوره! که ايمان دې راوړی وي، نو اوس به جنت ته روان وای. ايمان دې رانه وړو، نو اوس ستا ځای جهنم دی، په دې وخت کې به ارمان وکړي چې اې الله! ما دنيا ته واپس ولېږه چې زه دغه نېک کارونه وکړم. "ومن ورائهم برزخ إلى يوم يبعثون" برزخ د مرګ نه تر قيامته پورې ژوند ته وايي، مطلب دا چې دنيا ته د واپس کېدو مانع به دغه شيان جوړېږي

دوه ځله به په شپېلۍ کې پوک ووهل شي:

"فإذا نفخ في الصور فلا أنساب بينهم يومئذ ولا يتساءلون": د قيامت په ورځ به دوه ځله په شپېلۍ کې پوک ووهل شي، په لومړي ځل به ټول آسمان، ځمکه او څه چې ددې په مينځ کې دي فناء به شي، په دويم پوک سره به ټول مړي بيرته بيا راژوندي شي، دلته کومه شپېلۍ مراد ده؟ د ابن عباس رضي الله عنهما په نزد اولنۍ شپېلۍ مراد ده او د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په نزد دويمه شپېلۍ مراد ده. د مفسرينو په نزد د ابن مسعود رضي الله عنه قول زيات راجح دی چې د دويمې شپېلۍ نه وروسته به د هر سړي سره خپل غم او فکر وي، قرابتونه او خپلوي وغيره به يې هر څه ختم شي، په کار به نه راځي

که نېک اعمال درانه شي، نو سړی به جنت ته داخل شي:

"فمن ثقلت موازينه": که د نېکو اعمالو تله يې درنه شوه، نو کامياب دی او که د بدو اعمالو تله يې درنه شوه، نو ناکام دی، که مسلمان وي، نو اول به جهنم ته داخل شي چې ګناهونو يې پاک شي بيا به جنت ته داخل کړی شي او که کافر وي، نو د هميش لپاره به په جهنم کې سوځي، ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د قيامت د ورځې تله به دومره د انصاف تله وي چې د ذرې برابر بوه دانه به هم پکې کمي او زياتي نه راځي، د کوم انسان نېک او بد چې برابر شي، نو اول به په اعراف کې واچول شي، بيا به جنت ته داخل کړی شي

"تلفح وجوههم النار وهم فيها كالحون": ابو درداء رضي الله عنه فرمايي: د نبي کريم ﷺ نه ددې په باره کې پوښتنه وشوه، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل کله چې يې جهنم راونيسي، نو د هغه غوښه به لاندې په ګېګونو باندې راپرېوځي، مطلب د شمعې په څېر به بهېږي، دغه شان ابو هريره رضي الله عنه فرمايي کله چې جهنمي انسان جهنم ته داخل شي، نو د اور د لمبو په وجه به د هغه غوښه لاندې راتوی شي

"قالوا ربنا غلبت علينا شقوتنا": جهنميان به وايي اې خدايه! بې شکه مونږ ګمراه وو، په مونږ باندې زمونږ ګمراهي زور کړی وو او د سمې لارې نه خطا شوي وو. "قال اخسئوا فيها ولا تكلمون" د "اخسئوا" معنی ده د ذلت سره غلی کېښتل، "ولا تكلمون" د حسن بصري رحمه الله په قول: د جهنميانو سره به د الله ﷻ دا

آخري خبري وي، ددې وروسته به الله ﷻ دوی سره هيڅ خبري ونه کړي، بيا به د خاورو په خېر جهنميان د يو بل پسې غاپي او خبرې به کوي

د خير خواهۍ په خاطر الله ﷻ حق دين نازل کړو:

"وقال تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي چې "أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ" ايا په مؤمنانو باندې هغه وخت نه دی راغلی چې د الله ﷻ د ياد او د هغه د رالېږل شوي قرآن ته په اورېدو بې زړونه نرم او عاجزه شي، "وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ" هغوی د اهل کتابو په شان نه شي چې د دوی څخه وړاندې وو، په هغوی باندې د غفلت ډېره لويه زمانه تېره شوې ده، "فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ" او د هغوی زړونه بيا سخت شول او په هغوی کې ډېر نه منونکي وو. [الحديد: ۱۶]

"والآيات في الباب كثيرة معلومة" او په دې باره کې ډېر زيات ايتونه دي

شان نزول:

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي الله ﷻ د ځينو مسلمانانو په زړونو کې لږه سستي محسوس کړه، په دې باندې دغه آيت نازل شو، امام اعمش رحمه الله فرمايي کله چې مدينې منورې ته صحابه کرام لاړل، نو دنيوي لحاظ سره لږ ښه شول، په دوی کې لږه سستي راغله، نو په دې باندې دغه آيت نازل شو، بهر حال په دې آيت کې ترغيب ورکول شوی چې خپل ځان هر وخت نېکو اعمالو ته چمتو کړي، علماء کرام فرمايي د "أن تخشع قلوبهم" نه مراد زړه نرمېدل، وعظ او نصيحت ته غوږ نيول، بيا عمل پرې کول دي او د "لذكر الله" نه مراد قرآن کريم دی، خلاصه دا چې د قرآن کريم اوامر او نواهي ته غاړه اېښودل او بيا په پرې عمل کول مراد دي، په دې کې سستي کول پکار نه دي، "وما نزل من الحق" ددې نه هم قرآن کريم مراد دی، "فطال عليهم الأمد" مسلمانانو ته ترغيب ورکولی شي چې تاسو د اهل کتابو په شان نه شئ چې په دوی باندې ډېر وخت تېر شو، نو زړونه يې سخت شول

په دنيا کې د مسافر په څېر ژوند کوه:

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: أخذ رسول الله ﷺ بمنكبي، فقال: كُنْ في الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ زما په دواړو اوږو باندې لاسونه کېښودل او وې فرمايل په دنيا کې داسې وخت تېروه، لکه يو نا اشناسړی چې وي، "أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ" او يا د يوې لارې مسافر وي

"وكان ابن عمر رضي الله عنهما، يقول: إذا أمسيت فلا تنتظر الصباح" او عبد الله بن عمر رضي الله عنهما به فرمايل کله چې په تا مانبام شي، نو بيا د سهار انتظار مه کوه، "وإذا أصبحت فلا تنتظر المساء" او کله چې سهار شي، نو بيا د مانبام انتظار مه کوه، "وخذ من صحتك لمرضك" او صحت غنيمت وګڼه مخکې له دې چې ناروغ شې، "ومن حياتك لموتك" او ژوند هم غنيمت وګڼه مخکې له دې چې مرګ در ته راشي رواه البخاري

لغوي تحقيق:

عابر: "عبر يعبر عبراً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده تېرېدونکی

تشريح په حديث کې د دنيا د بې ثباتي او فناء کېدو بيان دی، کله چې په انسان باندې سهار شي، نو د ماښام انتظار دې نه کوي، بلکې دا خيال دې وکړي چې ددې نه وړاندې به د نړۍ څخه رخصت شم، کله داسې فکر ورسره مل وي، نو بيا به يې د دنيا سره څه زړه ولګيږي؟ صحابه کرامو او د امت اکابرو همدغسې ژوند تېر کړی دی، په دې اړه يوه نه په لکونو واقعې دي

د يوې نېکې ښځې واقعه:

يوه نېکه ښځه تېره شوې ده چې په تاريخ کې د معاذه عدويه (رحمها الله) په نوم يادېږي، علامه ابن جوزي رحمه الله ددې په باره کې ليکي تو له شپه به يې تهجد کول، کله چې به خوب پرې غلبه وکړه نو ګرځېده به، خپل نفس به يې مخاطب کولو چې: اې نفسه! خوب خو ستا وړاندې دی او ستا ددې سره مسابقه راغلې ده، نو ويده شه! د هغې خادمه وايي: معاذه (رحمها الله) به دا خبرې کولې او د ستړې کېدو نه به يې اوښکې روانې شوې، په داسې حال کې به پرې سهار شو او د همېش لپاره به يې دا معمول وو

کله چې به سهار شو نو بيا به يې د ورځې دا جمله په خوله وه چې: همدغه ورځ ده چې ما يې انتظار کولو، په دې ورځ کې به زه له نړۍ څخه رخصتېږم، دا به يې ويل او ټوله ورځ به يې په ژړا او د الله ﷻ نه په وېره کې تېرول، کله چې به شپه شوه، نو بيا به يې د شپې دا خبرې کولې چې همدغه شپه ده چې ما يې انتظار کولو، په دې شپه کې به له نړۍ څخه فناء کېږم او بيا به يې الله ﷻ ته سر په سجده کېښودلو، په داسې حال کې به پرې سهار شو

د وصيت نامې ليکل:

"وعنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، لَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان ته جائز نه دي چې په ده باندې دوه شپې تېرې شي او دده سره داسې څه شيان وي چې په هغې کې وصيت کېدلی شي. "إِلاَّ وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ" مګر دا چې وصيت يې بايد ليکل شوی اېښی وي. متفقٌ عَلَيْهِ، هَذَا لفظ البخاري.

"وفي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: يَبِيتُ ثَلاَثَ لَيَالٍ، قَالَ ابن عمر: مَا مَرَّتْ عَلَيَّ لَيْلَةٌ مُنْذُ سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ قَالَ ذَلِكَ إِلاَّ وَعِنْدِي وَصِيَّتِي" او د مسلم په يو روايت کې دي چې درې شپې پرې تېرې شي او عبد الله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چې په ما باندې يوه شپه هم داسې نه ده تېره شوې چې ما پکې ليکل شوی وصيت د ځان سره نه وي اېښی، د کومې ورځې نه چې ما د رسول الله ﷺ دا فرمان اورېدلی دی

لغوي تحقيق:

يوصي: أوصى يوصي إيصاءً باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: وصيت کول

تشريح: له شيءٌ يوصي فيه يبيت ليلتين: په يو بل روايت کې دي "يريد أن يوصي فيه" دوه شپې په هغه

داسې تيرې نه شي چې ده پکې وصيت نه وي ليکلی، وصيت دې ته وايي چې يو کس مري او خپلوانو ته وصيت وکړي چې زما فلانی مال به د فلانکي وي

په وصيت کې مذهبونه:

د اهل ظواهرو په نزد وصيت واجب دی، د جمهورو په نزد د اسلام په شروع کې د ميراث آيت نازلېدو نه وړاندې واجب وو، خو کله چې د ميراث آيت نازل شو، نو اوس مستحب دی، هو' که قرض ورباندې وي يا ورسره چا امانت اېښی وي، نو بيا وصيت واجب دی

ليلتين: دوه شپې، علماء فرمايي حقيقتاً دوه شپې مراد نه دي، بلکې لږې مودې ته پکې اشاره ده چې د انسان د ژوند هيڅ اعتبار نشته، لهذا زر تر زره دې وصيت نامه وليکې، که وصيت نامه يې نه وي ليکلې او هغه مړ شي، نو بيا به د وارثانو د بې خبرۍ په وجه د نورو خلکو حق ضايع شي او ددې وبال به د مړي په سر وي، بل دا چې که په هغه باندې د چا قرض يا امانت وي، نو بايد په وصيت نامه باندې دوه شاهدان پېش کړي، دا به ډېره ښه وي

مرګ د اميدونو څخه وړاندې راځي

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: خَطَّ النَّبِيُّ ﷺ خُطُوطاً، فَقَالَ: هَذَا الإنْسَانُ، وَهَذَا أجَلُهُ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يو څو کرښې راښکلې، بيا يې وفرمايل: دا انسان دی او دا يې مرګ دی. "فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إذْ جَاءَ الْخَطُّ الأَقْرَبُ" او دی هم په دې حالت کې وي چې ناڅاپه ورته مرګ راشي رواه البخاري

لغوي تحقيق:

خط: "خط يخط خطاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: کرښې راښکل

تشريح د حديث مطلب دا دی چې انسان خپل اوږده پلانونه او منصوبې جوړوي او خيال کوي چې دده به ټول ارمانونه او پلانونه پوره شي، خو حقيقت دا دی چې هغه د ارمانونو څخه ډېر لرې پاتې دی. مرګ ورته په يو برق کې راشي او ټول اميدونه يې د خاورو سره خاورې شي، په همدغه ارمانونو باندې د پوهې په خاطر يو ځل رسول الله ﷺ کرښې راښکلې، ددې لپاره چې د خلکو په ذهن کې خبره ښه کېني

هوښيار انسان هغه دی چې په دې دنيا کې د آخرت تياری وکړي او د ارمانونو په تکميل کې خپل قيمتي ژوند صرف نه کړي، فارسي شعر دی:

کار دنيا که تمام نه کرد ... گرچه گير ومختصر گيرد

د اميدونو لنډولو فايدې:

فقيه ابوالليث رحمه الله فرمايي کوم کس چې خپل ارمانونه مختصر کړي، الله ﷻ يې په څلورو طريقو اکرام کوي په خپل اطاعت باندې ورته طاقت ورکوي


*غمونه او فکرونه يې کم کړي *په لږه باندې قناعت ورته نصيب کړي

*زړه يې روښانه کړي

له مرګه نه شي بچ کېدی

"وعن ابن مسعود ﷺ، قَالَ : خَطَّ النَّبِيُّ ﷺ خَطّاً مُرَبَّعاً ، وَخَطَّ خَطّاً في الوَسَطِ خَارِجاً مِنْهُ" عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي چې رسول الله ﷺ يو مربع شکل کې کرښې جوړې کړې، په مينځ کې يې يوه کرښه کش کړه چې هغه ددې مربع شکل نه خارجه وه، "وَخَطَّ خُطَطاً صِغَاراً إِلَى هَذَا الَّذِي فِي الوَسَطِ مِنْ جَانِبِهِ الَّذِي فِي الوَسَطِ" او کومه کرښه چې په مينځ کې وه او کومه چې ددې مربع شکل نه خارجه وه. دغې کرښې نه يې يو څو وړوکي شان کرښې راښکلې، "فَقَالَ : هَذَا الإِنْسَانُ، وَهذَا أَجَلُهُ مُحِيطاً بِهِ أَوْ قَدْ أَحَاطَ بِهِ" بيا نبي کرېم ﷺ وفرمايل : دا ګېرونکې کرښې د انسان مرګ دی، لکه مرګ چې انسان د څلورو طرفونو څخه راګېر کړی دی، "وَهذَا الَّذِي هُوَ خَارِجٌ أَمَلُهُ" اودا کومه کرښه چې ددې مربع شکل څخه خارج ده. دا د انسان اميدونه او ارزوګانې دي، "وَهذِهِ الخُطَطُ الصِّغَارُ الأَعْرَاضُ" او دا کومې چې وړې وړې کرښې دي. دا تکليفونه او مصيبتونه دي، "فَإنْ أَخْطَأَهُ هَذَا، نَهَشَهُ هَذَا، وَإنْ أَخْطَأَهُ هَذَا، نَهَشَهُ هَذَا" که يو مصيبت ورته رانشي، نو دا بل مصيبت ورته متوجه کيږي. که دا بل ورته رانشي، نو بل مصيبت ورته متوجه دی.

رواه البخاري. وَهذِهِ صُورَتُهُ: دا د هغې صورت دی



تشريح: محدثين د حديث مطلب بيانوي چې د انسان ټول ژوند د خوږو او ترخو څخه عبارت دی، د يو مصيبت څخه چې خلاص شي بل مصيبت ورته متوجه شي، په دې حال کې دده ټول ژوند تېر شي، دده سره د نه ختمېدونکو ارمانونو يوه سلسله وي، د خپلو ارمانونو په تکميل کې مشغول وي چې ناڅاپه ورته مرګ راشي

د اوږدو اميدونو نقصانونه:

په دې وجه علماء فرمايي : د چا اميدونه چې اوږده وي، هغه په څلورو طريقو سره په عذاب کې راګېر وي:

په عبادت کې سست وي

د دنيا هر غم دده په سر وي

هر وخت ورسره د مال جمع کولو غم او فکر وي

زړه يې سخت شي

د اوه شيانو نه وړاندې اعمال وکړه!

"وعن أبي هريرة ﷺ: أنّ رسول الله ﷺ، قال: بَادِرُوا بِالأَعْمَالِ سَبْعاً" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په نېکو عملونو کې د اوه خبرو واقع کېدو نه وړاندې تېزي کوئ. "هَلْ تَنْتَظِرُونَ إِلاَّ فَقْراً مُنْسِياً" ايا تاسو د غريبۍ انتظار کوئ په دې وجه چې د سړي نه هر څه هېروي. "أَوْ غِنًى مُطْغِياً" يا د داسې مالدارۍ انتظار کوئ چې سرکشه کونکې ده، "أَوْ مَرَضاً مُفْسِداً" يا د داسې بيمارۍ انتظار کوئ چې ټول اندامونه مو بېکاره کړي. "أَوْ هَرَماً مُفَنِّداً" يا د داسې بوډاوالي انتظار کوئ چې عقل مو کار پرېږدي، "أَوْ مَوْتاً مُجْهِزاً" او يا د ناڅاپي مرګ انتظار کوئ چې ناڅاپه درته راشي، "أَوِ الدَّجَّالَ، فَشَرُّ غَائِبٍ يُنْتَظَرُ" يا د دجال د راتلو انتظار کوئ چې هغه ډېر لوی شري دی او اوس پټ دی. "أَوِ السَّاعَةَ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ" او يا د قيامت د راتلو انتظار کوئ چې ډېر سخت او تريخ دی؟ رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق:

مطغياً: په سرکشۍ او نافرمانۍ کې تيزي کول

تشريح "بادروا بالأعمال سبعاً": د اوه شيانو نه وړاندې په نېکو اعمالو کې تيزي وکړئ. دا اوه شيان هغه دي چې انسان د نېکو اعمالو څخه لرې کوي، ددې وجې ترغيب ورکول کيږي چې ددې اوه شيانو راتلو نه وړاندې نېک اعمال وکړه، کنه بيا به د افسوس او ارمان نه بغير هيڅ شی درسره نه وي

أوغنی مطغياً: د داسې مالدارۍ انتظار کوې چې د انسان نه بيا خدای هم هېروي، يو غريب انسان ته بکار ده چې په فقيرۍ او غريبۍ باندې صبر او استقامت اختيار کړي او د مالدارۍ انتظار ونه کړي، ځکه چې مالداري عموماً انسان د خدای نه لرې کوي، په دې وجه به بيا په ګناهونو کې مبتلا وي

أوفقراً منسياً: نو بيا د غريبۍ انتظار کوې چې خدای هم درنه پکې هېر وي، په دې جمله کې مالداره سړي ته ترغيب دی چې ته په خپله مالدارۍ کې نېک اعمال کوه، کنې نو داسې فقيري به درباندې راشي چې بيا به صبر او استقامت نه شې کولی او د ژوند ضروريات نو پوره کولو کې به مصروف شې چې نتيجه به يې دا شي چې الله ﷻ هم درې هېر شي او په فرضي شيانو کې به کوتاهي کوې

أومرضاً مفسداً: يا د داسې بيمارۍ انتظار کوې چې انسان ورسره تباه کيږي، صحت غنيمت وګڼه او په عبادت کې يې خرچ کړه؛ کنه نو داسې بيماري به درباندې راشي چې بيا به د کټ څخه هم نه شې پورته کېدلی

أوهرماً مفنداً: يا د داسې بوډاتوب انتظار کوې چې عقل هم ورسره خرابيږي، په دې کې ځوانانو ته ترغيب دی چې په دې ځوانۍ کې عبادت وکړه، هم دا دې د عبادت وخت دی، هسې نه چې بيا درباندې داسې وخت راشي چې د ډېر بوډاتوب له وجې به د کټه هم نه شې پورته کېدلی، عقل به دې کار نه کوي، بلکې ټول بدن به دې له کاره وتلی وي

د حکیم الامت تهانوي رحمه الله نصیحت:

په دې وجه تهانوي رحمه الله فرمايي : د الله تعالى د ذکر او عبادت لپاره کله هم د سکون او اطمينان انتظار مه کوه، په کوم حالت کې چې يې، سمدستي د الله ﷻ په عبادت او اطاعت کې مشغول شه، الله ﷻ به خپله درته اطمنان نصيب کړي

گفت قطب شيخ گنگوهي رشيد ..... ذکر رايابي به هر حالت مفيد

رشيد احمد گنگوهي رحمه الله فرمايي ذکر که په سکون کې وشي او که په بې آرامۍ کې وي، هر حالت کې مفيد دی.

مرګ زیات یادوئ !

"وعنه، قَالَ : قَالَ رسول الله ﷺ : أَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د خوندونو ماتونکي شي ذکر زيات کوئ! "يعني: الْمَوْتَ" چې هغه مرګ دی. رواه الترمذي وقال: حديث حسن.

لغوي تحقیق:

هاذم: "هذم يهذم هذماً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده په تيزۍ سره يو شی پرې کول، ماتول.

د مرګ په باره کې حدیثونه:

د نبي کريم ﷺ ارشاد دی، مثلاً: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل . د خوندونو ماتوونکی شی يعنې مرګ زيات يادوئ، څوك يې چې په تنګۍ کې يادوي په هغه به الله ﷻ سهولت راولي او څوك يې چې د فراغ په حالت کې يادوي، هغه ته په خرچ کولو کې اعتدال پکار دی.

د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې: يو ځل رسول الله ﷺ په داسې حالت کې صحابه کرامو ته تشريف راوړو چې دوی خندل، نبي کريم ﷺ وفرمايل : خوندونو ماتولو لپاره زيات وخت مرګ يادوئ، څوك يې چې په فراخۍ کې يادوي د تنګۍ سبب ورته ګرځي او څوك يې چې په تنګۍ کې يادوي د فراخۍ سبب ورته ګرځي.

د مرګ یادولو فایدې:

په نورو روايتونو کې هم داسې مضمون وارد شوی دی، علماوو يې په اهتمام سره د يادولو وجه دا بيان کړې ده چې د مرګ په يادولو سره انسان د مرګ تياری شروع کړي، د دنيا څخه يې رغبتي پيدا شي، په دې وجه آخرت ته هر وخت تيار شئ او توبې وباسئ، بل دا چې د بل حق ضايع کولو څخه ځان وساتي، خلاصه دا چې مرګ يادولو سره انسان د ډېرو ګناهونو نه بچ کېدی شي.

اې خلکو ! الله ﷻ يادوئ !

"وعن أُبيّ بن كعب ﷺ: كَانَ رسول الله ﷺ إِذَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ قَامَ فَقَالَ: ((يَا أَيُّهَا النَّاسُ، اذكُرُوا اللهَ، جَاءَتِ الرَّاجِفَةُ، تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ" د ابي بن كعب ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې کله به د شپې دريمه حصه تېره شوه نو رسول الله ﷺ به پاڅېدو او دا به يې وفرمايل: اې خلکو! الله ﷻ ياد کړئ زړه لړځونکې راتلونکې دى، "جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيهِ، جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا هُوَ فِيهِ" مرګ په پوره تيارى سره راروان دى. مرګ په پوره تيارى سره راروان دى، "قُلْتُ: يَا رسول الله، إِنِّي أُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيْكَ، فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلَاتِي؟" ما ووېل: يا رسول الله ﷺ زه خو په تاسو باندې ډېر زيات درود وايم. نو څومره زيات درود په تاسو ووايم؟ "فَقَالَ: مَا شِئْتَ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: څومره چې دې خوښه وي. "قُلْتُ: الرُّبُعَ، قَالَ: مَا شِئْتَ، فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ" ما ووېل: څلورمه حصه؟ هغوى وفرمايل: څومره چې دې خوښه وي. که زيات يې ووايې نو ستا لپاره به ښکې خير وي. "قُلْتُ: فَالنِّصْفَ؟" ما ووېل: نيمايي حصه؟ "قَالَ: مَا شِئْتَ، فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: څومره چې ستا خوښ وي، که زيات وايې، نو ستا لپاره به ښکې خير وي. "قُلْتُ: فَالثُّلُثَيْنِ؟" ما ووېل: د درې نه په دوه حصې شاملې کړم؟ "قَالَ: مَا شِئْتَ، فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ" "قُلْتُ: أَجْعَلُ لَكَ صَلَاتِي كُلَّهَا؟" نبي كريم ﷺ وفرمايل: څومره چې ستا خوښ وي او که زياتې ووايې، نو ستا لپاره به ښکې خير وي، ما ووېل: زه به خپله ټوله دعاء کې درود وايم؟ "قَالَ: إِذاً تُكْفَى هَمَّكَ، وَيُغْفَرُ لَكَ ذَنْبُكَ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: بيا خو به ستا ټوله پريشاني او فکر لرې کړى شي او ستا ګناهونه به الله ﷻ معاف کړي رواه الترمذي وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق: الراجفة: د قيامت په ورځ به اولنى شپېلى ووهل شي، (الرادفة) بيا به په دويم ځل شپېلى ووهل شي

تشريح جاءت الراجفة: علامه طيبي رحمه الله فرمايي ددې نه مراد لومړى شپېلى ده، په کوم کې چې به ټول خلک مړه شي، او د (تتبعها الرادفة) نه مراد دويمه شپېلى ده. په دې سره به ټول خلک بيا ځل راژوندي شي، علامه سخاوي رحمه الله د مسند احمد د يو روايت نه دا مضمون نقل کړى دى چې يو کس عرض وکړو: يا رسول الله ﷺ که زه خپل ټول وخت درود ته وقف کړم، نو څنګه به وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: په داسې حالت کې به الله ﷻ تا د دنيا او اخرت د فکرونو څخه بې غمه کړي

علامه سخاوي رحمه الله فرمايي: ددې حديث مثال داسې دى، لکه څرنګه چې په يو بل روايت کې دي د الله ﷻ ارشاد دى: څوک چې زما ذکر د دعاګانو څخه منع کړي. نو زه هغه ته د دعاء کوونکو نه زيات ورکوم، دغه شان درود لوستونکو ته الله ﷻ هرڅه ورکوي

يارب صل وسلم دائماً أبداً ...... على حبيبك خير الخلق كلهم

سوال: په دې حديث کې تر ټولو غوره وظيفه درود شريف وښودل شو او په څېنو رواياتو کې افضل الدعاء الحمد لله ښودل شوى دى او په څېنو کې استغفار ښودل شوى دى؟

جواب: د خلکو د حالاتو او واقعاتو په اعتبار سره جوابونه هم مختلف دي

باب إستحباب زيارة القبور للرجال ومايقوله الزائر

د سړو لپاره هديرې ته تلل مستحب دي او زيارت کوونکي به څه وايي

"عن بُرَيْدَةَ ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عن زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا" د بريده ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ما به مخکې تاسو د قبرونو د زيارت کولو څخه منع کولی. اوس تاسو د قبرونو زيارت ته ورتلی شئ! رواه مسلم

"وفي رواية: فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يَزُورَ الْقُبُورَ فَلْيَزُرْ، فَإِنَّهَا تُذَكِّرُنَا الآخِرَةَ" په يو بل روايت کې داسې هم دي چې کوم کس په تاسو کې د قبرونو زيارت کول غواړي. هغوی دې زيارت وکړي. ځکه چې په دې سره سړي ته آخرت يادېږي

هديرې ته تلل:

"نهيتكم عن زيارة القبور": وړاندې مې تاسو د هديرې د زيارت څخه منع کړي وی، رسول الله ﷺ د اسلام په شروع کې خلك د قبرونو د زيارتونو نه منع کړي وو، ځکه چې اکثره خلك نوي نوي مسلمان شوي وو او د جاهليت زمانه نژدې وه، نو ځکه ددې خبرې کلکه وېره وه چې هسې نه خلك د کفر او شرك مرتکب نه شي، کله چې رسول الله ﷺ محسوسه کړه چې اوس د صحابه کرامو ﷺ په زړونو کې اسلام پوخ شو، د دوی په زړونو کې توحيد د غره په شان مستحکم شو، ددې نه وروسته بيا رسول الله ﷺ د قبرونو د زيارت کولو اجازه ورکړه.

اوس د ټولو علماوو په دې مسئله اتفاق دی چې قبرونو ته تلل او زيارت کول مستحب دي. په دې سره انسان ته مرگ رايادېږي، آخرت ورته رايادېږي، زړه يې نرمېږي، په زړه او دماغو کې يې دا خبره راسخه شي چې دنيا فاني ده، د مرگ وروسته د الله ﷻ سره ملاقات کول دي، الله ﷻ ته به څه جواب ورکوم.

د راوي بريده ﷺ حالات:

اصلي نوم يې بريده ﷺ دی، ابو عبد الله يې کنيت دی، د پلار نوم يې مصيب بن عبد الله دی، کله چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته راورسېدو، نو دی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، رسول الله ﷺ ورته د اسلام دعوت ورکړو، نو سمدستي يې اسلام قبول کړو، د هغه سره د بنو اسلم قبيلې پوره اتيا کسان نور مسلمانان شول

په صلحه حديبيه او بيعت الرضوان کې شريك شوی ؤ، د مکې د فتحې په ورځ هم شريك وو، تقريباً په شپاړس غزواتو کې يې شرکت کړی ؤ، تر ټولو آخري لښکر چې د اسامه ﷺ په قيادت کې تيار شوی وو، په دې کې يې هم شرکت کړی ؤ، د دوی په رگ رگ کې د جهاد جذبه وه، فرمايل به يې: ژوند خوند په دې کې دی چې انسان اسونو ته منډې ورکوي او جهاد و نه کوي

وفات: د يزيد په حکومت کې په درې شپېتمه هجري کې وفات شو

مرويات يو سل او شپږ څلوېښت ۱۴۶ حديثونه ترې نقل دي، په يو حديث کې يې امام بخاري او امام مسلم متفق عليه دي، په دوه حديثونه کې يې امام بخاري او په يوولسو ۱۱ کې امام مسلم منفرد دی.

نبي کريم ﷺ به د شپې په آخري حصه کې جنت البقيع ته تللو

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ رسول الله ﷺ - كلما كان ليلتها من رسول الله ﷺ - يَخْرُجُ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ إِلَى الْبَقِيعِ" د عائشه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ به کله هم د هغې سره شپه راتله نو جنت البقيع قبرستان ته به يې تشريف ورلو، "فَيَقُولُ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ، وَأَتَاكُمْ مَا تُوعَدُونَ" نو داسې دعا به يې کول چې (السلام عليكم الخ) سلام دې وي په تاسو باندې اې د مسلمانانو کوره؛ تاسو ته راغلل هغه څه د کوم شي چې ستاسو سره وعده شوې وه، "غَدًا مُؤَجَّلُونَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ" او تاسو ته به هغه څه ملاوېږي چې ستاسو سره يې وعده کيږي چې په قيامت کې به ملاوېږي. که الله ﷻ وغواړي. نو موږ به هم ستاسو پسې روان يو، "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأَهْلِ بَقِيعِ الْغَرْقَدِ" اې الله ﷻ! د بقيع الغرقد مسلمانان وبخښه! رواه مسلم

لغوي تحقيق:

مؤجلون: باب تفعيل دی، ددې معنی ده: وخت او موده ټاکل

تشريح يخرج من آخر الليل: د شپې په آخري حصه کې به جنت البقيع ته تللو، علماء کرامو ددې نه استدلال کړی دی چې د ورځې خو هسې هم قبرستان ته تلل جائز دي، خو د شپې تلل هم جائز شو، لکه څرنګه چې ددې حديث نه معلومېږي، بلکې دا چې کله قبرستان ته سړی لاړ شي نو مسنونې دعاګانې ويل پکار دي، ددې نه علاوه په حديثونو کې نورې دعاګانې هم ذکر دي، هغه دا دي چې "السلام عليكم يا أهل القبور يغفر الله لنا ولكم أنتم لنا سلفنا ونحن بالأثر".

تقريباً په جنت البقيع کې لس زره صحابه کرام مدفون دي:

لأهل البقيع الغرقد: دغه قبرستان چې د مدينې منورې سره دی، دې ته غرقد هم وايي، ځکه چې دلته اول د کيکر او ازغو ونې وې، بقيع هم ورته وايي، په دې کې بې شماره صحابه، اولياء او عام مسلمانان دفن دي، د امام مالك ﷫ په قول په دې قبرستان کې لس زره صحابه کرام ﷡ دفن دي

هديرې ته د داخلېدو پرمهال دعاء لوستل پکار دي

"وعن بريدة ﷺ، قال: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُعَلِّمُهُمْ إِذَا خَرَجُوا إِلَى الْمَقَابِرِ أَنْ يَقُولَ قَائِلُهُمْ" د بريده ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به خپلو ملګرو صحابه کرامو ته قبرستان ته د تلو او هلته د دعائيه کلماتو پوره تعليم ورکولو او داسې به يې ورته فرمايل: تاسو هلته داسې وايئ: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ" اې د مؤمنانو او مسلمانانو کورونو! سلام دې وي په تاسو باندې، "وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ

بِكُمْ لَلَاحِقُونَ" او كه الله ﷻ وغواړي موږ به په تاسو پسې نژدې روان يو. "أَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ" زه د خان لپاره او ستاسو لپاره د الله ﷻ نه د عافيت سوال كوم. رواه مسلم

تشريح: إذا خرجوا إلى المقابر: هديرې ته د داخلېدو پر مهال رسول الله ﷺ به خلكو ته دغسې دعاء ښودل: "السلام عليكم أهل الديار من المومنين والمسلمين وإنا إن شاء الله بكم لاحقون أسأل الله لنا ولكم العافية" عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په يو روايت كې وايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: كوم سړى چې د يو داسې مسلمان ورور قبر ته ورشي كوم چې هغه په دنيا كې پېژندلو او بيا هغه ورباندې سلام وكړي، نو قبر والا هغه پېژني او د هغه د سلام جواب هم ور كوي

قبرستان ته د داخلېدو په وخت دعاء ويل پكار دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: مَرَّ رسول الله ﷺ بِقُبُورٍ بِالْمَدِينَةِ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يو ځل د مديني منورې په يو قبرستان باندې تېرېدلو، هغوى ورته مخ كړو، "فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ، يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ" او داسې دعاء يې ورته وغوښتل: سلام دې وي په تاسو باندې اې د قبرونو خلكو! الله ﷻ دې تاسو ته هم بخښنه وكړي او موږ ته هم، "أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ" تاسو زموږ نه مخكې تللي يئ او موږ به ستاسو پسې يو. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن"

لغوي تحقيق:

سلف: اصل معنى يې ده: تېر شوي خلك. سلف وړاندې تېر شوي ښو خلكو ته ويل كيږي كوم چې په دين باندې قائم پاتې شوي وي او په دين كې يې ښه نوم ترلاسه كړى وي.

تشريح: فاقبل عليهم بوجهه: نبي كريم ﷺ به خپل مخ مبارك قبر طرفته كړو او دعاء به يې كول.

علماء فرمايي: كه د دعاء لوستلو په وخت د انسان مخ قبر ته وي، هيڅ پروا نه كوي، همدغه مسلك د جمهورو علماوو دى. ليكن ابن حجر رحمه الله فرمايي: مستحب دا دى چې قبر ته بايد مخ نه كړي، بلكې قبلې ته مخ كړي

د قبر سره د ناستې طريقه:

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د مړي زيارت بايد د هغه د ژوند په طرز وكړى شي، كه به دنيا كې د هغه سره د ملاقات طرز دا وي چې لرې به ترې كېښستلو، نو بايد د قبر د زيارت پر مهال هم لرې كيني او كه په ژوند كې ورسره نژدې كېښستلو، نو د قبر زيارت پرمهال به هم ورسره نژدې كيني با دې نژدې ودريږي، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د قبر د زيارت پرمهال بايد لږ تر لږه يو ځل سورة فاتحه د درې ځله سورة اخلاص وروايي او ددې ثواب بايد مړي ته وبخښي او هغه ته د مغفرت دعاء وكړي

باب كراهية تمني الموت بسبب ضر نزل به ولا بأس به لخوف الفتنة في الدين

د مصيبتونو په وجه د مرګ ارمان کول په داسې حال کې چې د مرګ ارمان منع دی

"عن أبي هريرة ﷺ، أن رسول الله ﷺ قال: لا يتمنّ أحدكم الموت" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل په تاسو کې دي يو کس هم د مرګ ارزو او ارمان نه کوي. "إما محسنا فلعله يزداد" ځکه چې که ښه سړی وي، نو زيات نيک عملونه به وکړي. "وإما مسيئا فلعله يستعتب" او که ګناهګار وي نو شايد چې الله ﷻ ورته د توبې توفيق نصيب کړي متفق عليه، وهذا لفظ البخاري

"وفي رواية لمسلم عن أبي هريرة ﷺ، عن رسول الله ﷺ، قال: ((لا يتمنّ أحدكم الموت، ولا يدع به من قبل أن يأتيه" او د مسلم په يو روايت کې د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل په تاسو کې دي يو کس هم د مرګ ارزو نه کوي او نه دي د مرګ راتلو دعاء غواړي. "إنه إذا مات انقطع عمله" ځکه چې دی ځنګه مړ شي، نو عملونه يې بنديږي، "وإنه لا يزيد المؤمن عمره إلا خيرا" او د مؤمن عمر چې څومره زياتيږي نېکۍ يې ورسره زياتيږي.

تشريح: لا يتمنى أحدكم الموت: په تاسو کې دي يو کس د مرګ ارمان نه کوي، وجه يې دا ده چې په کوم کس کې جسماني تکليف يا مالي، دنيوي تکليف وي، او دی په داسې حال کې د مرګ ارمان وکړي نو دا ددې خبرې دليل دی چې دغه انسان د الله ﷻ په تقدير باندې راضي نه دی.

په کوم صورت کې د مرګ ارمان جائز دی؟

ددې برعکس که چېرته يو کس په ديني فتنه کې مبتلا کيږي، نو داسې کس ته د مرګ ارمان جائز دی او دې ته امام نووي رحمه الله مستحب ويلي دي، امام نووي رحمه الله فرمايي: امام شافعي رحمه الله او عمر بن عبد العزيز رحمه الله هم په ديني فتنه کې د مبتلا کېدو له وېرې د مرګ ارمان کړی دی

إذا مات انقطع عمله: کله چې انسان مړ شي، د هغه عملنامه بنده شي، مطلب واضح دی، کله چې د انسان ژوند ختم شي، نو د نېکۍ او بدۍ لارې هم بندې شي، که ژوندی وي نو نېک او بد دواړه به کولی شي، په دې وجه که د يو مسلمان ژوند زيات شي، نو د هغه په نېکو اعمالو کې به زياتوالی راشي او که کوم مصيبت پرې راشي، نو دی پرې صبر کوي، هغه ته به ددې په بدل کې پوره اجر او ثواب ورکول شي

په دنيوي مصيبت باندې د مرګ ارمان جائز نه دی

"وعن أنس ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: لا يتمنين أحدكم الموت لضر أصابه" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې دي يو کس هم د تکليفونو له امله د مرګ ارزو نه کوي، "فإن كان لا بد فاعلا، فليقل: اللهم أحيني ما كانت الحياة خيرا لي" او که خامخا څه دعا کوي، نو بيا دي داسې ووايي: اې الله ﷻ ما ژوندی وساتې ترڅو چې ژوند زما په حق کې غوره وي، "وتوفني إذا كانت الوفاة خيرا لي" او مړ مې کړې چې کله مرګ زما په حق کې غوره وي متفق عليه

لغوي تحقيق:

لضر: د تکليف او مصيبت له امله.

تشريح "لايتمنين أحدكم الموت لضر أصابه": كه په تاسو كې چاته كوم تكليف رسېدلی وي، هغه د مرگ ارمان كوي، دا جائز نه دي، دنيوي تكليفونه، لكه په ناروغی يا غريبۍ كې يو كس مبتلا وي، نو ددې په وجه د مرگ ارمان كول حرام دي، ځكه چې په دې كې دده د بې صبرۍ او د الله ﷻ په تقدير باندې نه راضي كېدل واضحه دليل دی، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: كه يو كس په ديني فتنه او امتحان كې مبتلا وي يا يې وېره وي، نو هغه ته د مرگ ارمان جائز دی، د معاذ رضي الله عنه نه هم نقل دي چې هغه د طاعون عمواس په وخت د مرگ دعاء كړې وه، ددې نه معلومه شوه چې د شهادت سوال جائز دی، بلكې ځينو علماء يې مستحب بولي، لكه څرنګه چې عمر رضي الله عنه به دعا كول: "اللهم ارزقني شهادة في سبيلك واجعل موتي ببلد رسولك" اې الله! ستا په لار كې مې شهيد كړې او د خپل پېغمبر ﷺ په ښار كې راته مرگ راولې.

د كور جوړولو په بدله كې د الله ﷻ له طرفه ثواب نشته

"وعن قيس بن أبي حازم، قَالَ: دَخَلْنَا عَلَى خَبَّابِ بنِ الأَرَتِّ رضي الله عنه نَعُودُهُ وَقَدِ اكْتَوَى سَبْعَ كَيَّاتٍ" د قيس بن ابي حازم رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ د خباب بن ارت رضي الله عنه كور ته داخل شو، د هغه د مرض پوښتنه مو كول، هغه په دغه وخت كې د مرض لرې كولو لپاره په خپل بدن باندې اوه ځايه داغونه لګولي وو، "فَقَالَ: إنَّ أَصْحَابَنَا الَّذِينَ سَلَفُوا مَضَوْا، وَلَمْ تَنْقُصْهُمُ الدُّنْيَا" هغه وفرمايل: زموږ نه چې كوم كسان مړه شوي وو، نو دنيا هغوی ته هيڅ نقصان ونه رسولو او هغوی ته يې په دنيا كې د ځايونو جوړولو ښې موقعې وركړې وې، "وَإنَّا أَصَبْنَا مَا لاَ نَجِدُ لَهُ مَوْضِعاً إلاَّ التُّرَابَ" او موږ ته چې به كومه دنيا حاصله شي، موږ يې د خاورو كورونو په جوړولو كې مصرف كړو، "ولولا أنَّ النبي ﷺ نَهَانَا أنْ نَدْعُوَ بالمَوْتِ لَدَعَوْتُ بِهِ" او كه نبي كريم ﷺ موږ د مرگ د راتلو دعاء څخه منع كړي نه وای، نو ما به اوس د ځان لپاره د مرگ دعاء كړې وه، "ثُمَّ أتَيْنَاهُ مَرَّةً أُخْرَى وَهُوَ يَبْنِي حَائِطاً لَهُ" يو ځل بيا موږ د هغه پوښتنې ته ورغلو، موږ وليدو چې هغه د كور دېوال جوړولو، "فَقَالَ: إنَّ المُسْلِمَ لَيُؤْجَرُ فِي كُلِّ شَيْءٍ يُنْفِقُهُ إلاَّ فِي شَيْءٍ يَجْعَلُهُ فِي هَذَا التُّرَابِ" نو هغه وويل: مسلمان چې په كوم شي كې خرچ كوي، د آبادۍ څخه بغير هغه ته به پوره ثواب وركولی شي "متفقٌ عَلَيْهِ، وهذا لفظ رواية البخاري".

لغوي تحقيق:

اكتوی: "اكتوي يكتوي اكتواءً": خپل ځان ته داغ وركول.

د علاج په خاطر داغ لګول جائز دي:

وقد اكتوى سبع كيات: هغوی د علاج په توګه ښكر ولګولو.

باب الورع وترك الشبهات

پرهيزګاري او د شکي شيانو نه ځان ساتل

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ": الله ﷻ فرمايي چې: "وَتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمٌ" تاسو خو دا ډېره معمولي خبره ګڼئ، حال دا چې الله ﷻ ته ډېره ضروري او غټه خبره ده. [النور:١٥]

تشريح: د دې آيت تعلق د عائشې رضي الله عنها د حديث افك سره تعلق ساتي، (د دروغو تړل شوي تهمت والا حديث) د هغې برائت الله ﷻ خپله وفرمايلو. د آيت مطلب دا دی چې دا خبره خو تاسو وړه ګڼئ، ځکه چې مو واورېدل هغسې يې بيانوئ، تحقيق مو نه دی کړی چې حقيقت څه دی، بې تحقيقه او بې فکره خبره نقل کول سخته ګناه لري، ځکه چې په دې سره بل مسلمان ته سخت خفګان رسيږي

د عايشې رضي الله عنها خصوصيت:

علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: کله چې په يوسف عليه السلام باندې تهمت ولګېدو، نو الله ﷻ په يو وړوکي ماشوم سره د هغه د برائت اظهار وکړو او په مريم (رضي الله عنها) باندې چې تهمت ولګېدو، نو د هغې زوی عيسی عليه السلام يې برائت ظاهر کړو، ليکن کله چې په عايشې رضي الله عنها باندې تهمت ولګېدو، الله ﷻ خپله د هغې د برائت اظهار وکړو.

ستا رب په انتظارکې دی:

"وَقَالَ تَعَالَىٰ": الله ﷻ فرمايي چې: "إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ" بې شکه ستا رب په انتظار کې دی. [الفجر:١٤]

تشريح: مرصاد: انتظار ګاه، سنګر/ مورچه. څوک چې په يو اوچت ځای باندې کيني او د هغې نه لرې لرې ګوري، مطلب دا چې الله ﷻ د هر انسان نه خبر دی، د هغه هر عمل او حرکت ورته معلوم دی، خپله يې ګاري، تولو ته د هغوی د عمل مطابق بدله ورکوي. د الله ﷻ نه هيڅ شی پټ نه دی

حلال او حرام واضح دي

"وعن النعمان بن بشير رضي الله عنهما، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ، وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ" د نعمان بن بشير رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي: حلال هم واضح دي او حرام هم واضح دي، "وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ" د دې په مينځ کې شکي شيان دي، "فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ، اسْتَبْرَأَ لِدِيْنِهٖ وَعِرْضِهٖ" څوک چې د شکي شيانو نه بند شو، نو هغه خپل دين هم محفوظ کړو او عزت يې هم وساتلو، "وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ" او څوک چې په شکي شيانو کې ځان ګېر کړي، نو هغه به په ښکاره حرامو کې پرېوځي، "كَالرَّاعِيْ يَرْعَىٰ حَوْلَ الْحِمَىٰ يُوْشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيْهِ" د دې مثال د يو شپونکي په شان دی چې خپله رمه او څاروي د منع شوي ځای سره ګېر چاپېره څروي او هلته خطره دا وي چې چېرته منع شوي ځای کې ونه څريږي، "أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى" دا خبره دې واضحه وي چې د هر بادشاه يوه منع شوي

علاقه وي، "أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ" خبردار: د الله ﷻ منع شوې علاقه حرام شيان دي، "أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ" خبردار: دا خبره هم واورئ چې په بدن كې د غوښې يوه ټوټه ده كله چې هغه صحيح وي، نو ټول بدن به صحيح وي. "وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ" او كه چېرته هغه د غوښې ټوټه خرابه شي نو بيا به ټول بدن خراب شي. صحيح كار به نه كوي او د غوښې هغه ټوټه زړه دی. "متفقٌ عَلَيْهِ، وروياهُ مِنْ طرقٍ بألفاظٍ متقاربة" دا حديث هم ددې معنى سره نژدې نقل شوى دى

تشريح: ځينې علماء دې حديث ته ثلث الاسلام وايي، د دوى په نزد د اسلام خلاصه په درې حديثو كې جمع ده

يو دغه پورتنى حديث دى

دويم: إنما الأعمال بالنيات.

دريم: من حسن إسلام المرء تركه ما لا يعنيه.

امام ابوداود په پنځه لكه حديثونو كې څلور حديثونه منتخب كړل

امام ابوداود په پنځه لكه حديثونو كې څلور لكه حديثونه منتخب كړل، هغه خپله فرمايي چې د انسان لپاره څلور احاديث كافي دي

إنما الأعمال بالنيات.

من حسن إسلام المرء تركه ما لا يعنيه.

لا يكون المؤمن مومناً حتى يرضى لأخيه ما يرضى لنفسه.

"إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ".

محدثينو ددې حديث اهميت داسې بيان كړى دى چې يو خو په دې كې د حلال خوراك څښاك استعمالولو اهميت ته اشاره ده، د مشتبه شيانو نه د ځان ساتلو بيان هم دى، ددې ټولو خبرو اهميت واضحه كولو لپاره رسول الله ﷺ يو مثال وړاندې كړو او بيا يې په آخر كې د ټولو نه اهم شى يعنې د زړه احوالو او مراعاتو نگراني كولو په باره كې تاكيد وفرمايلو.

حلال او حرام معلوم دي:

إن الحلال بيّنٌ وإن الحرام بيّنٌ وبينهما مشتبهات لا يعلمهن كثيرٌ من الناس: حلال هم واضح دي او حرام هم واضح دي، ددې دواړو ترمينځ ځينې مشتبه شيان دي، ډېر خلك يې نه پېژني، علامه ابن حجر رحمه الله ددې جملې مطلب داسې بيان كړى دى چې ځينې شيان حلال دي، هغه واضح دي او ځينې حرام دي هغه هم واضح دي او ځينې مشتبهات دي، ددې نه بچ كېدل ضروري دي، ځكه چې كه هغه في نفسه حرام وي، نو ځان ترې بچ كړئ، په دې سره به انسان د حرامو څخه محفوظ شي او كه في نفسه مباح وي، نو بيا هم د ښه نيت په وجه چې هغه يې د حرامېدو له ډاره پرېږدي، په دې كې هم ورته اجر شته، امام نووي رحمه الله فرمايي: د مشتبهاتو څخه هغه شيان مراد دي چې د حلت او حرمت دلائل يې

متعارض وي، اوس دغه شيان پرهېښودل پکار دي

"كالرعي يرعى حول الحمى يوشك ان يرتع فيه": لکه څرنګه چې شپون خپله د ګډو رمه د چراګاه، مالچر سره نژدې څروي، نو نژدې ده چې پکې ورداخله به شي. د پخوا زماني خلکو رواج دا وو چې کوم خلک به مشران وو، يا به بادشاهان وو، نو هغوى به د خپل ځان لپاره د ځمکې څه حصه مقرر کړې وه. په دې کې به د دوى سبزياني، فصلونه او باغونه وغيره کړل، که د بل سړي څاروى به دې کې ورداخل شو، نو هغه ته به يې سزا ورکول، د شپون هوښيارتيا دا ده چې هغه خپلې ګډې ددې سره نژدې هم ونه څروي، هسې نه چېرته په غلطى کې ورداخلې نه شي، په دې مثال سره ددې خبرې وضاحت کول مقصود دي چې ګوره حرامو شيانو ته نژدې هم مه ورځه، د مشتبهاتو نه هم ځان وساتئ، ځکه چې بيا په صريحو حرامو کې د مبتلا کېدو امکان پيدا کيږي

ألاوان في الجسد مضغة: خبردار! په بدن کې يوه ټکره ده، په بل روايت کې دي چې "القلب ملك وله جنود واذاصلح الملك صلحت جنوده واذافسد الملك فسدت جنوده".

نبي کريم ﷺ به صدقه نه خوړل

"وعن أنس ﷺ: أنَّ النبيَّ ﷺ وَجَدَ تَمْرَةً فِي الطَّرِيقِ" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د خورما يوه ټکره په لاره کې وموندل، "فَقَالَ: لَوْلاَ أَنِّي أَخَافُ أَنْ تَكُونَ مِنَ الصَّدَقَةِ لأَكَلْتُهَا" نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: که چېرته ددې خبرې ويره راسره نه واى چې دا خورما به د صدقې وي، نو ما به خوړلې واى. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: "وجد تمرة في الطريق": په لاره کې يې يوه خورما وموندل. ددې حديث نه علماوو زياتې مسئلې راويستلي دي

لومړى مسئله دا ده چې په رسول الله ﷺ باندې د زکات مال خوړل حرام و، دغه شان نفلي صدقه او واجبه صدقه استعمالول هم ورته ناجائز وو

دويمه: په لاره کې موندل شوى شى راخيستل جائز دي او په استعمال کې يې راوستل هم جائز دي، په دې شرط چې ددې خبرې غالب ګومان يې وي چې د دومره وړوکي شي پسې يې مالک نه راځي

دريمه مسئله دا ده: په کوم شي کې چې معمولي د حراموالي شبه وي، د هغې څخه ځان ساتل پکار دي، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که ددې خبرې ويره نه واى چې دا مال به د صدقې وي، نو ما به خوړلې واى، د صدقې د شبهې له وجې يې هغه خورما ونه خوړل، بله دا چې که معمولي شان شى وي، نو د هغې اعلانول ضروري نه دى او دا هم ضروري نه ده چې ددې شي اصلي مالک ته يې ورسوي، دغه شان ددې خبرې ګومان هم وي چې د دومره وړوکي شي پوښتنه به څوک نه کوي

د ښه او بد علامه

"وعن النّواس بن سمعان ﷺ، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: البِرُّ حُسْنُ الخُلُق" د نواس بن سمعان ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ښکلي اخلاق کامله نيکي ده. "وَالإثْمُ مَا حَاكَ في نَفْسِكَ، وَكَرِهْتَ أنْ يَطَّلِعَ عَلَيهِ النَّاسُ" او ګناه هغه ده چې په زړه کې دې ځای ونيسي او په زړه کې وسوسه ورسره پيدا کيږي او ته دا خبره بده ګڼې چې هسې نه خلک رابانديې خبر شي. رواه مسلم

"حَاكَ: بِالحاءِ المهملةِ والكافِ: أيْ تَرَدَّدَ فِيهِ" د (حاك) لفظ معنی ده: چې په زړه کې يې وسوسه پيدا شي.

تشريح: "البر حسنُ الخلق": نيکي د ښکلي اخلاقو نوم دی، په اسلام کې د ښکلي اخلاقو زيات تاکيد راغلی دی، دې ته ښکلي اخلاق ويل شوي دي چې يو مسلمان ته تکليف نه رسوي، په روڼ تندي ورسره ملاقات کوي. د هغه سره همدردي کوي، مرسته يې کوي او داسې نور ښه کارونه ټول په ښکلي اخلاقو کې شامل دي.

ګناه هغه ده چې په هغې سره زړه کې شک پيدا شي:

"والإثم ماحاك في صدرك": ګناه دې ته وايي چې په زړه کې ورسره شک پيدا شي، مطلب دا چې داسې کوم کار وکړې چې په هغې سره د انسان په زړه کې دا ويره پيدا شي چې که زما دې عمل ته خلکو ته ولګيږي، نو زه به د دوی سره څنګه سترګې مخامخ کوم؟ په دې حديث کې د ګناه او شر ير کار دوه علامې ښودل شوي دي

اول دا چې: "ما حاك في نفسك" په زړه کې چې ورسره شک پيدا شي

دويم دا چې: "كرهت أن يطلع عليه الناس" او دا خبره بده ګڼې چې په ما باندې دې خلک خبر شي. يعنې دا مطلب چې کار هم کوي او په زړه کې يې دا وسوسه وي چې هسې نه خلک رابانديې خبر شي، د دې حديث نه يوه بله مسئله هم معلومه شوه: هغه دا چې که انسان خپل زړه خپله مسخه نه کړي، نو الله ﷻ په زړونو کې دا خوبي ايښې ده چې هغه حق او باطل څه نا څه پېژندلی شي، هو! که خپل زړه خپله مسخه کړو، نو بيا به حق ته باطل او باطل ته به حق وايي او دا خاته مسئله ده.

د راوي نواس بن سمعان ﷺ حالات:

اصل نوم يې نواس ﷺ دی، د پلار نوم يې سمعان بن خالد بن عمرو بن قرط دی، د بنو کلاب قبيلې سره يې تعلق درلود، په شام کې اوسېدلو، پلار يې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، پلاړ يې نبي کريم ﷺ ته څپلې په تحفه کې ورکړې، رسول الله ﷺ هغه تفحه قبوله کړه او دعا يې هم ورته وکړه.

مرويات: ټول اولس (۱۷) حديثونه ترې نقل دي، درې حديثونه يې په مسلم کې دي، باقي يې اصحاب السنن نقل کړي دي

د زړه نه فتوی واخله!

"وعن وَابِصَةَ بن مَعبدٍ ﷺ، قَالَ: أتيتُ رسُول الله ﷺ، فقَالَ: جئتَ تَسألُ عن البِرِّ؟" د وابصه بن معبد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې زه يوه روځ رسول الله ﷺ ته راغلم، رسول الله ﷺ را ته وفرمايل: د نيکۍ په باره کې پوښتنې ته راغلې؟ "قُلتُ: نعم، فقَالَ: اسْتَفْتِ قَلبَكَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل د زړه نه پوښتنه کوه. "البِرُّ مَا اطمَأنَّت إليهِ النفسُ، واطمَأنَّ إليهِ القَلبُ" ځکه چې نيکي هغه ده چې زړه او ضمير دې دواړه پرې مطمئن شي، "والإثمُ: ما حَاكَ في النَّفسِ، وتَرَدَّدَ في الصَّدرِ" او ګناه هغه ده چې په زړه او ضمير (نفس) کې دې پرې تردد او وسوسه پيدا شي، "وإن أفتاكَ النَّاسُ وأفتوكَ" اګر چې خلکو نه پوښتنه وکړئ او هغوی درته په دې باندې د عمل کولو فتوی هم درکړي. "حديث حسن، رواه أحمد والدَّارمِيُّ في مُسنَدَيهِمَا" دا حديث حسن دی. مسند احمد او دارمي په خپلو مسندونو کې روايت کړی دی.

تشريح: "ما اطمأنت اليه النفس، واطمأن اليه القلب": په کومه خبره يا کار چې زړه مطمئن شي. په دې حديث کې د نيکۍ او بدۍ يوه ستره علامه بيان شوې ده. دا يو داسې واضح دليل دی چې هر سړی پرې پوهيږي، هغه که عالم وي او که جاهل وي، خلاصه دا چې په کوم کار يا خبره چې دې په زړه کې تردد او شك پيدا شي، نو پوه شه چې دا خبره يا کار د شريعت خلاف دی او کوم چې داسې نه وي، هغه به جائز وي

وان افتاك الناس: اګر چې خلك يې د جواز فتوی درکړي، ددې مثال داسې دی، لکه د يو کس سره چې حلال او حرام مال وي، هغه تاته په زکات کې پيسې درکوي، ستا زړه په دې مطمئن دی چې هغه کس تاته کومې پيسې درکوي هغه حلالې دي، نو داسې پيسې اخيستل جائز دي او که ستا زړه تاته وايي چې دا پيسې حرامې دي، نو هغه کس که هر څومره تاته فتوې درکوي، کومې پيسې چې زه تاته درکوم دا حلالې دي، نو دې ته مه ګوره، ددې پيسو اخيستل جائز نه دي

ضروري يادونه:

علماوو په دې خبره تصريح کړې ده چې دا فتوی د زړه نه واخلئ؛ دا به هغه وخت وي کله چې ستا زړه سليم (روغ صحت والا) او د صحيح نيت زړه څښتن وي، په نفساني خواهشاتو او ګناهونو باندې دې تور کړی نه وي، زړه دې په ګناهونو مسخه کړی نه وي او که چيرته دې په ګناهونو باندې زړه مسخه کړی وي، نو بيا داسې زړه حق ته باطل او باطل ته حق وايي، د داسې زړه نه فتوی اخيستل پکار نه دي

د راوي وابصه بن معبد ﷺ حالات

اصلي نوم يې وابصه دی، د پلار نوم يې معبد بن مالك بن عبد الاسدي دی، کنيت يې ابو شداد او سې دی، اول خل يې په کوفه کې سکونت اختيار کړو بيا وروسته جزيرې ته لاړو. د نبي کريم ﷺ په خدمت کې د لسو کسانو سره حاضر شو او اسلام يې قبول کړو، ډېر زيات به يې ژړل

وفات: د (الرقه) په مقام کې وفات شو، هلته د يو جامع جومات سره نژدې ښخ کړی شو.

مرويات يو ولس حديثونه ترې نقل دي، د هر زيات احاديث ترې فرهاد بن ابي الجعد نقل کړي دي

رضاعي خور سره نکاح نه کيږي

"وعن أبي سِرْوَعَةَ -بكسر السين المهملة وفتحها- عُقْبَةَ بن الحارث رضي الله عنه: أَنَّهُ تَزَوَّجَ ابْنَةً لأَبِي إِهَابِ بن عَزِيزٍ، فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ: إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُ عُقْبَةَ وَالَّتِي قَدْ تَزَوَّجَ بِهَا" د ابو سروعة عقبة بن الحارث رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د ابو اهاب بن عزيز د لور سره واده وکړو، يوه ښځه ماته راغله او وې ويل: ما عقبة او د ابو اهاب لور ته شيدې ورکړې دي، "فَقَالَ لَهَا عُقْبَةُ: مَا أَعْلَمُ أَنَّكِ أَرْضَعْتِنِي وَلاَ أَخْبَرْتِنِي" عقبة رضي الله عنه وفرمايل: ماته پته نشته چې تاسو ماته شيدې راکړې وي او نه تاسو ماته ددې واقعې په باره کې څه خبر راکړی دی. "فَرَكِبَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ بِالْمَدِينَةِ، فَسَأَلَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: كَيْفَ؟ وَقَدْ قِيلَ، فَفَارَقَهَا عُقْبَةُ وَنَكَحَتْ زَوْجاً غَيْرَهُ" نو عقبة رضي الله عنه په اس باندې سپور شو، سيده مدينې منورې ته لاړو او د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، پوښتنه يې وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: څنګه به يې په نکاح کې ساتې، حال دا چې هغې درته حال بيان کړو، په دې باندې عقبه رضي الله عنه خپله ښځه پرېښوده او بله ښځه يې په نکاح واخيسته. رواه البخاري

"إِهَابٌ: بكسر الهمزة وَ(عَزِيزٌ) بفتح العين وبزاي مكررة" لفظ د اهاب د همزې په کسرې سره دی او لفظ د عزيز مکرر (ز) سره دی

تشريح أنه تزوج ابنة لأبي إهاب بن عزيز: د ابو اهاب بن عزيز لور يې په نکاح اخيستی، په يو روايت کې ددې ښځې نوم ام يحيى بنت ابي اهاب راغلی دی. ليکن ابن حجر رحمه الله ددې نوم غنية ښودلی دی. "كيف وقد قيل" دا نکاح به څرنګه وشي، حال دا چې هغه د رضاعت شاهدي ورکوي

سوال: ايا د رضاعت د ثبوت لپاره د يوې ښځې شاهدي کافي ده؟

جواب: په دې باره کې د مجتهدينو امامانو څخه د امام ابوحنيفه رحمه الله مسلك دا دی چې د شاهدی ورکولو لپاره دوه سړي يا يو سړی او دوه ښځې وي، ليکن د امام احمد رحمه الله مسلك دا دی چې د شاهدی کافي کېدو لپاره د يوې ښځې شاهدي هم کافي ده. د امام احمد رحمه الله استدلال ددې حديث نه دی چې رسول الله ﷺ ددې يوې ښځې په شاهدی سره ددې سړي او ښځې ترمينځ بېلتون وکړه، ليکن امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي: ددې حديث تعلق د احتياط او تقوی سره دی، يا دا چې رسول الله ﷺ ته د وحی په ذريعه معلومه شوې وه چې دا ښځه حق شاهدي ادا کوي، ځکه خو رسول الله ﷺ ددې سړي او ښځې ترمينځ جدايي راوستل، اوس لکه څرنګه چې د وحي سلسله ختمه ده، نو يا به دوه سړي شاهدي ادا کوي يا به يو سړی او دوه ښځې شاهدي ادا کوي.

شکي شيان پرېږده!

"وعن الحسن بن علي رضي الله عنهما، قَالَ: حَفِظتُ من رسول الله ﷺ: دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَالَا يَرِيبُكَ" د حسن بن علي ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه دا خبره ياده کړې ده چې فرمايل يې کوم شيان چې تا په شک کې اچوي، هغه پرېږده او کوم شيان چې تا په شک کې نه اچوي هغه کوه' رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

"معناه: اتْرُكْ مَا تَشُكُّ فِيهِ، وَخُذْ مَا لَا تَشُكُّ فِيهِ" ددې عبارت مطلب دا دی: هغه عمل پرېږده چې تا په شک کې غورځوي شک دا دی چې ته پکې فکر کوې: ايا دا کار به جائز وي او که نه؟ نو ته هغه کار اختيار کړه چې ستا پکې هيڅ شک نه وي او نه دې په شک کې اچوي.

تشريح: دع مايريبك إلى مالا يريبك: هغه شيان پرېږده چې تا په شک کې اچوي او هغه کار شروع کړه چې تا په شک کې نه اچوي، محدثين ددې مطلب داسې بيانوي: د کوم شي د حلت او حرمت په باره کې چې انسان شک کوي، نو داسې شي پرېښودل پکار دي، ځکه چې د جازره صحيح وي، نو هغه ته کله هم غلطه لار نه ښيي، په دې شيانو کې شک راتلل ددې خبرې واضح دليل دی چې دا شی صحيح نه دی او د کوم شي په باره کې چې د انسان زړه مطمئن شي، نو دا ددې خبرې واضح دليل دی چې دا شی صحيح دی، د ابوبکر ﷛ مقوله ده چې مونږ په حرام کې د مبتلا کېدو له وېرې اويا فيصده مباح شيان پرېښودل

له حراموقې کول

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ لِأَبِي بَكْرٍ الصديق ﷛ غُلَامٌ يُخْرِجُ لَهُ الخَرَاجَ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَأْكُلُ مِنْ خَرَاجِهِ" د عائشې ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې د ابوبکر ﷛ يو غلام وو چې د هغه نه به يې په مزدورۍ کې هره ورځ څه معلومه حصه اخيسته. "فَجَاءَ يَوْماً بِشَيْءٍ، فَأَكَلَ مِنْهُ أَبُو بَكْرٍ، فَقَالَ لَهُ الغُلَامُ: تَدْرِي مَا هَذَا؟" يوه ورځ ورته هغه غلام څه شيان راوړل، ابوبکر ﷛ د هغه نه خوراک وکړو، غلام ورته وويل: تاسو ته پته ده چې دا څه دي او د کوم ځای دي؟ "فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: وَمَا هُوَ؟ قَالَ: كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الجَاهِلِيَّةِ وَمَا أُحْسِنُ الكِهَانَةَ، إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ" هغه ورته وويل: د جاهليت په زمانه کې ما يو کس ته کهانت کړی وو او کهانت نه ؤ، خو د هغه دوکه کول ؤ. "فَلَقِيَنِي، فَأَعْطَانِي لِذَلِكَ، هَذَا الَّذِي أَكَلْتَ مِنْهُ" اوس مې د هغه سره ملاقات وشو، نو هغه ماته دا شی راکړو کوم چې اوس تاسو وخوړلو. "فَأَدْخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِي بَطْنِهِ" ابوبکر ﷛ خپله ګوته په خوله کې داخله کړه او هر هغه څه يې قې کړل چې خوړلي يې وو. رواه البخاري

"الخَرَاجُ: شَيْءٌ يَجْعَلُهُ السَّيِّدُ عَلَى عَبْدِهِ يُؤَدِّيهِ كُلَّ يَوْمٍ، وَبَاقِي كَسْبِهِ يَكُونُ لِلْعَبْدِ" خراج دې ته وېل کيږي چې مشر په غلام باندې څه اجرت مقرر کړي چې دومره به ماته په مزدورۍ کې راکوې او باقي نور به د هغه غلام وي.

تشريح: كنت تكهنت لانسان في الجاهلية: د جاهليت په زمانه کې چې ما يو کس ته د نجوميانو کار کړی وو، د نبي کريم ﷺ د بعثت نه وړاندې په عربو کې د علم نجوم سلسله ډېره عامه وه، اسلام چې

راغلو، نو دا يې حرام کړو او ددې مزدوري يې هم حرامه وګرځول.

فأدخل ابوبکر يده فقاء کل شئ مافي بطنه: ابوبکر رضي الله عنه خپل لاس حلق ته دننه کړو او څه يې چې په خېټه کې وو، هغه ټول يې قی (وولټي) کړل، مطلب دا چې ابوبکر رضي الله عنه پوه شو چې دا خو حرام دی، نو سمدستي يې قی کړو، ځکه چې د نجوميانو ټوله ګټه حرامه ده، نو هغه ټول هر څه قی کړل.

ايا خوړل شوی شی بېرته قی کول ضروري دي؟

علماء فرمايي چې کوم شی يو خل خېټې ته داخل شي دا بېرته واپس کول ضروري نه دي. ليکن دلته ابوبکر رضي الله عنه داسې وکړل دا تقوی او احتياط وو، امام غزالي رحمه الله فرمايي: دا کار د ابوبکر رضي الله عنه د کمال احتياط او تقوي په بناء وو، په دوی کې تقوی حد درجه زياته وه. امام شافعي رحمه الله ددې حديث نه دا مسئله مستنبط کړې ده چې يو کس حرام شی خوړلی وي، که پته ورته ولګيږي، په هغه باندې ضروري ده چې دا ټول راقی کړي.

عمر رضي الله عنه د خپل زوی وظيفه کول

"وعن نافع: أن عمر بن الخطاب رضي الله عنه كان فرض للمهاجرين الأولين أربعة آلاف وفرض لابنه ثلاثة آلاف وخمس مئة" د نافع رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي چې عمر رضي الله عنه مهاجرين صحابه کرامو رضي الله عنهم ته څلور زره درهم وظيفه مقرر کړه او د خپل زوی لپاره يې درې نيم زره درهم وظيفه مقرر کړه، "فقيل له: هو من المهاجرين فلم نقصته؟" چا ورته وويل: هغه هم په مهاجرينو صحابه کرامو کې شامل دی، ولې دې حصه کمه کړه؟ "فقال: إنما هاجر به أبوه. يقول: ليس هو كمن هاجر بنفسه" هغه ورته وويل: دده سره خپل پلار هجرت کړی دی، يعنې ده خپله هجرت نه دی کړی، بلکې د پلار په ذريعه يې هجرت کړی دی. رواه البخاري

تشريح: فقيل له هو من المهاجرين فلم نقصته؟ ابن عمر رضي الله عنهما خو هم په مهاجرينو کې دی، د هغه وظيفه مو ولې کمه کړه؟ په دې کې د عمر رضي الله عنه تقوی او پرهېزګاری ته اشاره ده چې دوی د بيت المال نه پنځه سوه درهمه وظيفه کمه کړه، صرف په دې بنياد چې عبد الله بن عمر رضي الله عنهما د خپل مور پلار سره هجرت کړی ؤ، د هغه مجاهده کمه شوه په نسبت نورو مهاجرينو ته چې ځانته ځانته هجرت يې کړی وو، هيڅوک ورسره نه وو، ددې وجې د مهاجرينو وظيفه پنځه سوه درهمه زياته شوه. "هاجره ابوه" د خپل پلار سره يې يو ځای هجرت کړی وو، د بخاري په يو بل روايت کې د "هاجر به ابواه" الفاظ راغلي دي چې د مور پلار دواړو سره يې هجرت کړی دی.

د راوي نافع رحمه الله حالات:

اصل نوم يې نافع رحمه الله دی، د پلار نوم يې کاوس يا هرمز دی، په عجميت يې اکثره عالمانو اتفاق دی، د خراسان، يا ويلم، يا طالقان يا کابل اوسېدونکی وو، په کوم جنګ کې يا هسې ابن عمر رضي الله عنهما اخيستی وو، دوی رحمه الله ته پوره دېرش کاله عبد الله بن عمر رضي الله عنهما تربيت ورکړی ؤ.

امام نووي رحمه الله فرمايي: نافع جليل القدر تابعي دی، په توثيق يې د ټولو محدثينو اتفاق

دی، ابن عمر رضي الله عنه به وربانديې فخر کولو او د فخر په توګه به يې فرمايل: الله ﷻ د نافع رحمه الله په ذريعه په ما باندې ډېر ستر احسان کړی دی، څرنګه چې نافع رحمه الله د ابن عمر رضي الله عنه خدمت کړی دی رغه ډول امام مالک رحمه الله د نافع رحمه الله خدمت کړی دی، تر څو چې هغه ژوندی وو.

وفات: ۱۱۷ هجري کې وفات شو.

بې مطلبه کارونه پرېښودل

"وعن عَطِيَّةَ بن عُروة السَّعْدِيّ الصحابيّ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: لاَيَبْلُغُ العَبْدُ أنْ يَكُونَ مِنَ المُتَّقِينَ" د عطيه بن عروة سعدي صحابي نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بنده تر هغه پورې په پرهېزګارانو کې نه شي حسابېدلی، "حَتَّى يَدَعَ مَا لاَ بَأسَ بِهِ، حَذَراً مِمَّا بِهِ بَأسٌ" تر څو چې يې د ګناه نه د بچ کېدو لپاره جائز او مباح شيان پرې اېښي نه وي. «رواه الترمذي، وقَالَ: حديث حسن» دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی.

لغوي تحقيق:

حذراً: (حذر يحذر حذراً) د دې معنی ده: ځان ساتل

تشريح "حتى يدع مالا بأس به حذراً مما به بأس": تر دې چې هغه شيان پرېږدي په کومو کې چې حرج نه وي، په دې حديث کې هم د شکي شيانو پرېښودلو ترغيب دی، علماوو ليکلي دي چې کوم کار يا خبره شرعاً ممنوع نه وي، دې ته مباح وايي، يعنې د هغې کول جائز وي، بيا مباح په دوه ډوله دی

چې په هغې کې د دين يا دنيا فايده وي

په کوم کې چې نه د دين فايده وي او نه د دنيا، داسې شيانو ته لايعنې او بې فايدې کارونه ويل کيږي، په دې حديث کې د داسې شيانو څخه هم د بچ کېدو ترغيب راغلی دی، د انسان ژوند ډېر قيمتي دی، بې مقصده نه دی، دومره قيمتي او مقصدي شی په لايعنې او بې کاره کارونو کې صرف کول د هوښيار سړي کار نه دی

خلاصه دا چې په سړي کې هغه وخت کمال پيدا کيږي چې کله هغه کارونه هم پرېږدي کوم چې په شريعت کې مباح وي

د راوي عطيه بن عروه سعدي رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عطيه رضي الله عنه دی. کنيت يې ابوعمر دی، د پلار نوم يې قيس سعدي دی، خېنې د دوی نسب نامه داسې بيانوي عطيه بن عروه بن خيشم بن سعد بن بکر بن هوازن الخ د يمن او شام اوسېدونکي اکثره د دوی څخه روايات نقل کوي

باب استحباب العزلة عند فساد الناس والزمان أو الخوف من فتنة في الدين ووقوع في حرام وشبهات ونحوها

د فتنې په وخت کې يوازيوالی يا په حرامو او شبهاتو کې د واقع کېدو نه ځان ساتلو بيان

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "فَفِرُّوا إِلَى اللّٰهِ إِنِّي لَكُمْ مِنْهُ نَذِيرٌ مُبِينٌ" بس تاسو الله طرفته منډې ووهئ، زه د هغه له طرفه درته ښکاره ويرونکی رالېږل شوی يم [الذاريات: ۵۰].

تشريح: علامه طيبي رحمه الله فرمايي چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د خپلو ګناهونو څخه منډه کړئ توبه وباسئ او الله ﷻ ته رجوع وکړئ، جنيد بغدادي رحمه الله فرمايي: نفس او شيطان چې کوم ګناهونو ته دعوت درکوي، ددې نه منډه کړئ او د الله ﷻ په پناه کې راشئ، الله ﷻ به مو ددې له شره وساتي. "إني لكم منه نذير مبين" زه تاسو ته د الله ﷻ له طرفه ښکاره وېرونکی راغلی يم، مطلب دا چې زه تاسو د الله ﷻ له عذابه وېروم، د الله ﷻ نافرماني او د هغه له حکم څخه مخ اړول په حقيقت کې بنده د الله ﷻ نه لرې کېږي، الله ﷻ په دې باندې غوسه کېږي او د هغه غوسه د عذاب په شکل کې نازلېږي.

الله ﷻ ته پرهېزګار مؤمن محبوب دی

"وعن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ، يقول: إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ" د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي، فرمايل يې: الله ﷻ پرهيزګار، "الْغَنِيَّ" او د بې پروا زړه "الْخَفِيَّ" او هغه چې بچيان يې کم وي، داسې بنده الله ﷻ ډېر زيات خوښوي. رواه مسلم.

"والمُرَادُ بـ الغَنِيّ: غَنِيُّ النَّفْسِ، كَمَا سَبَقَ في الحديث الصحيح" په غني سره مراد د نفس غني دی، لکه څنګه چې مخکې په صحيح حديثونو کې دا خبره تېره شوه.

تشريح: "إن الله يحب العبد التقي": الله ﷻ د هغه بنده سره مينه محبت کوي چې پرهېزګار (متقي) وي، همدغه خبره په قرآن کريم کې هم شته: "إن الله يحب المتقين" **ژباړه:** بې شکه الله ﷻ د تقوی دارو سره مينه کوي، علماء فرمايي: متقي هغه چاته وايي چې د محرمات سره د مکروهاتو بلکې د مشتبهاتو نه هم ځان ساتي، "الغنى" کوم چې بې پروا وي، دلته د غنی نه دنيوي مالداري مراد نه ده، بلکې د زړه غنا مراد ده، لکه څرنګه چې په يو بل روايت کې دي چې "الغنى غنى النفس" اصل غنی د زړه غنا ده.

"الخفي" چې پټ وي، دا هغه وخت چې د فساد په زمانه کې د خلکو سره د اختلاط په صورت کې دين ساتنه ورته مشکل شي، علماء فرمايي: تراوسه داسې وخت نه دی راغلی چې انسان هر څه پرېږدي او ځنګل ته لاړ شي او په عبادت کې مشغول شي

په خپل ځان او مال جهاد کوونکی تر ټولو غوره مؤمن دی

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ يَا رسولَ الله؟ قَالَ: ((مُؤْمِنٌ مُجَاهِدٌ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبيلِ الله" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ کوم کس د ډېر زيات غوره دی؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه مؤمن چې په خپل نفس او مال سره د الله ﷻ په لار کې جهاد کوي، "قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: ثُمَّ رَجُلٌ مُعْتَزِلٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَعْبُدُ رَبَّهُ" بيا هغه کس وويل: بيا بل کوم کس دی؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: بيا هغه کس دی چې يوازې د غره په يوه دره کې ناست وي او د خپل رب عبادت کوي

"وفي رواية: يَتَّقِي اللهَ، وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ" او په يو بل روايت کې داسې دي: د الله ﷻ نه ويرېږي او خلک ددهٔ له شره محفوظ وي. **متفقٌ عَلَيهِ**

لغوي تحقيق:

معتزل: "إعتزل يعتزل إعتزالاً": ددې معنی ده: جدا کېدل

تشريح: "أي الناس أفضل؟" په ټولو کې غوره انسان څوک دی؟ په ځينو رواياتو کې: "خير الناس منزلاً" کوم سړی چې د قدر او منزلت په اعتبار سره زيات غوره وي، "أي الناس اكمل ايماناً" الفاظ هم راغلي دي "رجل يجاهد في سبيل الله بماله ونفسه" هغه مؤمن چې د الله ﷻ په لار کې په خپل مال او نفس سره جهاد کوي او په ځينو کې: "رجل يجاهد في سبيل الله بنفسه وماله" داسې الفاظ هم راغلي

سوال: په احاديثو کې داسې سوال ډېر راغلی دی چې کوم عمل تر ټولو غوره دی، لیکن ټولو ته جدا جدا جواب ويل شوی دی، غوره عمل خو يو پکار وو؟

جواب: د کوم شي ضرورت چې به هغه وخت وو يا به سائل ته د هغه شي ضرورت وو، په دې اعتبار سره به رسول الله ﷺ مختلف جوابونه ورکول

"ورجل معتزل في شعب من الشعاب يعبد ربه" او بل داسې کس کوم چې د غره په لمن کې يوازې ناست وي او د خپل رب عبادت کوي، "شعب" د غره لمن يا د دوه غرونو ترمينځ چې کومه لاره وي هغې ته وايي، په يو بل روايت کې د: "يعبد ربه" په ځای (يتقي الله ربه) الفاظ نقل شوي دي چې هغه د الله ﷻ نه ويرېږي، مطلب دا چې کوم کس په خپل ايمان ويرېږي نو داسې کس دې خلک پرېږدي او ځېرته غره ته دې لاړ شي او هلته دې د خپل رب عبادت کوي، خلک به دده له شر څخه محفوظ شي او دی به د خلکو د شر نه محفوظ شي

تنبيه: دا د رهبانيت تعليم نه دی، ځکه چې په داسې حال کې انسان مستقل ځانله شي او خلک پرېږدي، بلکې مقصود وقتي طور سره او في الحال د حالاتو له وجې داسې کول جائز دي، کله چې حالات بېرته سم شي، نو بيا به راښکته کېږي

د فتنې په زمانه کې بايد انسان د خلکو څخه جدا شي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نږدې ده دا خبره چې د مسلمان غوره مال به ګډې او وزې وي، "يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ، وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ" چې هغه به يې د غرونو سرونو او د ډېر زيات باران ورېدو ځايونو د ځان سره بوځي، "يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ" په دې سره به يې غرض دا وي چې خپل دين د فتنو څخه وساتي. رواه البخاري

"وشَعَفُ الجِبَالِ: أَعْلاَهَا" د شعف الجبال نه مراد د غره څوکه ده.

تشريح: "خيرمال المسلم غنم" د مسلمان غوره مال به ګډې وزې وي، علماء فرمايي ګډې او وزې يې ځکه وفرمايل چې په دې کې تواضع ده، انسان يې په اسانی سره د خلکو څخه راخيستی شي او خلکو نه لرې د غره په څوکه کې اوسېدی شي، ځينو علماوو ددې توجه داسې بيان کړې ده چې د ګډو، مېږو او وزو ګټه زياته وي او مشقت يې کم وي، که څه ورته وانچوې نو خپله هم دومره څه کوي چې وڅرېږي، د خوراك انتظام خپله ځانته کوي او شيدې يې په غذا او مشروب دواړو کې فايده ورکوي او ددې نسل هم ژر زياتيږي

مواقع القطر: د باران ورېدو ځای، مطلب دا چې کوم ځای باران زيات ورېږي، لکه ځنګلي ځايونه، غرونه وغيره... "يفر بدينه من الفتن" په دې منډه کې يې مقصد دا وي چې خپل دين او ايمان د فتنو نه وساتي، علامه شبير احمد عثماني رحمه الله فرمايي: د فتنو نه مراد دا دی چې د شريعت خلاف کارونه زيات شي او د هغې په وړاندې خنډ جوړېدل او دغه فتنې ختمول مشکل شي، نو په داسې وخت کې کمزورو خلکو ته اجازت دی چې د دين په خاطر دغه کلي پرېږدي

جداوالی کله جائز دی؟

علماء فرمايي: که د فتنو زمانه نه وي، نو بيا اختلاط غوره دی، ځکه چې په دې کې بيا ډېرې فائدې دي، کومې چې په جداوالي سره نه حاصليږي، امام نووي رحمه الله فرمايي: "والمختار تفضيل الخلطة لمن لا يغلب على ظنه الوقوع في المعاصي" اختلاط د هغه کس لپاره غوره دی چې په خپل دين او ايمان نه ويرېږي او نه ورته په آسانی سره نقصان رسيږي، هو، که د فتنې زمانه وي او د فتنې په ختمولو باندې طاقت نه لري، نو اوس داسې کس ته غوره دا ده چې جدا شي، ځکه چې په اختلاط کې د دين او ايمان نقصان هم ورته رسيږي او حفاظت يې هم نه شي کولی

نبي کريم ﷺ هم وزې څرولي دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: مَا بَعَثَ اللهُ نَبِيّاً إِلاَّ رَعَى الْغَنَمَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ يو پېغمبر عليه السلام نه دی رالېږلی، مګر دا چې هغه به ضرور ګډې څرولې وي، "فَقَالَ أَصْحَابُهُ: وَأَنْتَ؟ قَالَ: نَعَمْ، كُنْتُ أَرْعَاهَا عَلَى قَرَارِيطَ لأَهْلِ مَكَّةَ" صحابه کرامو رضي الله عنهم تری

پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ! تاسو هم څرولې دي؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل هو، ما هم څرولې دي او ما به د مكې خلكو ته په يو څو قيراطه باندې څرولې رواه البخاري

لغوي تحقيق:

رعى: "رعي يرعي رعياً": څاروي څرول

قراريط: قيراط نيم دانق ته وايي، د ځينو په قول د دينار شپږمه حصه او د ځينو په قول د دينار څلورمه حصه او د ځينې په وينا لسمې حصې ته وايي.

هر پيغمبر چېلــى څرولي دي:

"ما بعث الله نبياً إلا رعى الغنم": الله ﷻ يو داسې پيغمبر نه دى رالېږلى چې هغوى چېلى نه وي څرولي، د دې ظاهري وجه دا ده چې د انسانانو له طرفه کوم تکليفونه دې پيغمبرانو ته رسيږي، دوى ورته د وراندې ښه تربيت شوي وي، د صبر ماده پکې پراته وي، هر قسم تکليف چې ورته ورسيږي، صبر به پرې کوي، بل په دې کې مشق دى چې د امت تربيه به ښه کوي، د دوى سره به ښه مينه، محبت، صبر او برداشت کوئ او بل دا چې د وخت پيغمبر يو قسم بادشاه وي، نو بادشاه به د خپل رعيت سره ښه معامله کوي، داسې نورې زياتې د فائدې خبرې پکې شته

د الله ﷻ لارې ته تيارېدل

"وعنه، عن رسول الله ﷺ، أنه قال: مِنْ خَيْرِ مَعَاشِ النَّاسِ لَهُمْ رَجُلٌ مُمْسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره ژوند د هغه سړي دى چې د الله ﷻ په لار کې يې د خپل اس واګې نيولې وي، "يَطِيرُ عَلَى مَتْنِهِ كُلَّمَا سَمِعَ هَيْعَةً أَوْ فَزْعَةً، طَارَ عَلَيْهِ يَبْتَغِي القَتْلَ، أَوِ المَوْتَ مَظَانَّهُ" هر کله چې څه غوغا يا وېره يا د دښمن له طرفه څه خطر ورته محسوس شي، نو سمدستي په خپل اس باندې په منډه ورځي او هر وخت په خپل ځاى کې د مرګ يا د شهادت ارمان لري، "أَوْ رَجُلٌ فِي غُنَيْمَةٍ فِي رَأْسِ شَعَفَةٍ مِنْ هَذِهِ الشَّعَفِ، أَوْ بَطْنِ وَادٍ مِنْ هَذِهِ الأَوْدِيَةِ، يُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَيَعْبُدُ رَبَّهُ حَتَّى يَأْتِيَهُ اليَقِينُ" يا د هغه کس ژوند ښه دى چې د يو څو ګډو سره د غره په سر کې يا په کومه دره (ناله) کې وي، هلته لمونځ کوي او زکات ورکوي او د خپل رب عبادت کوي، تردې چې مرګ ورته راشي، "لَيْسَ مِنَ النَّاسِ إِلَّا فِي خَيْرٍ" او بغير د خير ښېګڼې نه سېوا په بل کار کې د خلکو سره کار نه لري، "رواه مسلم" د دې آخري جملې نه معلوميږي چې د خلکو سره به بالکل تعلق نه پرېږدي او نه به د خلکو نه لرې او سيږي، بلکې د هغوى سره به په خير او ښېګڼه کې هلې ځلې کوي

"يَطِيرُ: أَيْ يُسْرِعُ" د يطير معنى ده په تيزى سره، "وَمَتْنُهُ: ظَهْرُهُ" د متن معنى ده د اس شا، "وَالهَيْعَةُ: الصَّوْتُ لِلْحَرْبِ" د (الهيعة) معنى ده د جنګ آواز، "وَالفَزْعَةُ: نَحْوُهُ" د فزع هم دغه معنى ده، "وَمَظَانُّ الشَّيْءِ: المَوَاضِعُ الَّتِي يُظَنُّ وُجُودُهُ فِيهَا" د مظن الشئ معنى ده هغه ځاى چې د هغه شي د وجود ګومان پکې کيږي.

"وَالْغُنَيْمَةُ: بضم الغين: تصغير الغنم" غنيمة معنی ده ګڼي. "وَالشَّعَفَةُ: بفتح الشين والعين: هي أعلى الجبل" الشعفة معنی ده : د غره سر

تشريح: محدثين فرمايي : ددې حديث نه يو څو مسئلې معلوميږي. يو دا چې هر مسلمان ته پکار دي چې هر وخت د دين د ښمنانو ته تيار وي، کله هم غافل نه شي

دويم دا چې د خپل نفس او شيطان سره بايد هر وخت مبارزه وکړي. دريم دا چې د دنيوي فاني خوندونو او د نفس باطلو خواهشاتو نه ځان وساتي او خپل ځان ترې په څنګ کړي

څلورم دا چې د دين تائيد او د شريعت د تقويت لپاره د خلکو سره اختلاط وکړي. لکه څرنګه چې دا معمول د انبياوو، اکثره صحابه وو، تابعينو، مشرانو عالمانو او زاهدانو وو، ددې په ذريعه انسان د جمعې لمونځ، د جماعت لمونځ، د جنازې لمونځ، د ناروغ پوښتنه وغيره ډېرې نېکيانې کولی شي، دا ټول عبادات د اختلاط په صورت کې راځي، نه دا چې يو انسان جدا والی اختيار کړي، په دې کې انسان د ډېرو نېکو اعمالو څخه بې برخې شي

باب فضل الإختلاط بالناس وحضور جُمَعِهم وجماعاتهم، ومشاهد الخير، ومجالس الذكر معهم، وعيادة مريضهم، وحضور جنائزهم، ومواساة محتاجهم، وإرشاد جاهلهم، وغير ذلك من مصالحهم لمن قدر على الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر، وقمع نفسه عن الإيذاء وصبر على الأذى

د خلکو سره تعلق ساتل، د ذکر سره په مجلسونو کې شريکېدل، د نېکۍ په کارونو کې حاضري، د وعظ په مجلسونو کې شاملېدل، د بيمار پوښتنه کول، جنازو کې شريکېدل، د حاجتمندو ضرورتونه پوره کول، ددې نه علاوه خپله ذمه واري پېژندل، د نېکو حکم کول، د ګناه له کارونو څخه منع کول، د علمي، عملي او عقيدوي ناپاکيو او ګندګيو څخه ځان ساتل، جدا اوسېدل، په مصيبتونو او سختيو باندې د صبر او د هغې د فضيلتونو بيان

"اعلم أنّ الاختلاط بالنَّاسِ عَلَى الوجه الَّذِي ذَكَرْتُهُ هُوَ المختارُ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ رسول الله ﷺ وسائر الأنبياء صلوات الله وسلامه عَلَيْهِمْ" په دې خبره ځان ښه پوه کړه چې د خلکو سره داسې ګډون او ناسته پاسته چې مورد باب تر عنوان لاندې بيان کړل، نبي کريم ﷺ او نورو پېغمبرانو هم دا طريقه خوښه کړې وه. "وكذلك الخلفاءُ الرَّاشدون، ومن بعدَهُم مِنَ الصَّحابَةِ والتَّابِعينَ، ومن بَعدَهُم من عُلَماءِ المُسلمينَ وأخيارِهم، وَهُوَ مَذْهَبُ أكثرِ التَّابِعينَ وَمَنْ بَعدَهُمْ" د څلورو وارو خلفاوو او د دوی نه وروسته صحابه کرامو او تابعينو او د دوی نه وروسته علماو وغيره د دوی ټولو هم دغه طريقه وه او د اکثره تابعينو او کوم چې د دوی نه وروسته وو، د دوی ټولو هم دغه طريقه وه. "وبه قَالَ الشافعيُّ وأحمدُ وأكثرُ الفقهاءِ رضي اللهُ عنهم أجمعين".

جدا والي غوره دى او که اختلاط؟

په دې کې دوه مذهبه دي:

لومړى مذهب: علامه نووي رحمه الله فيصله وکړه چې اختلاط غوره دى، همدغه مسلك د امام شافعي رحمه الله د جمهورو علماوو دى.

دويم مذهب د پيرانو دى، د دوى مسلك دا دى چې جدا والي غوره دى، علامه کرماني رحمه الله هم دغه خبره کړې ده، زموږ په زمانه کې هم جدا والي غوره دى، ځکه چې عام مجلسونه د ګناه ځخه ډک دي، ډېر کم وخت وخت يو نيم سم نېک مجلس پيدا شي، خو جمهور علماء فرمايي: د خلکو نه لرې والى هغه وخت غوره دى چې ټوله زمانه د فتنې نه ډکه وي، داسې کس د خلکو له طرفه تکليفونه نه شي زغملی، يا يو سړى خپله سخت شرير دى چې خلك ورنه په تنګ دي، نو په دې دواړو صورتونو کې جدا والي غوره دى، ددې په تائيد کې د ابن عمر رضي الله عنه روايت دى: "المؤمن الذي يخالط الناس ويصبر على آذاهم اعظم اجرا من المؤمن الذي لا يخالط الناس ولا يصبر على آذاهم" هغه مؤمن چې په خلکو کې او سيږي او د دوى له طرفه چې کوم تکليف ورته رسيږي، په هغې باندې صبر کوي، داسې مؤمن ډېر اجر لري په نسبت سره هغه مؤمن ته چې د خلکو سره روابط نه ساتي او نه د دوى په تکليفونو صبر کوي.

په نېکۍ او تقوى کې د يو بل سره مرسته کوئ!

"قَالَ اللّٰـــهُ تَعَالَى: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى﴾ [المائدة: ۲] والآيات في معنى ما ذكرته كثيرة معلومة" همدا خبره امام شافعي رحمه الله، امام احمد رحمه الله او اکثره فقهاوو کړې ده. الله جل جلاله فرمايي: د يو بل سره په نېکو کارونو کې مرسته وکړئ او په دې باره کې ايتونه ډېر زيات دي

تشريح مفسرين رحمه الله فرمايي: په دې آيت کې يوه داسې بنيادي مسئله بيان شوې ده چې تقريباً د ټول عالم ارواح شريکه ده، څرنګه چې د يو انسان اصلاح ضروري ده، دغه شان د بل مسلمان مرسته هم ضروري ده. دې ته په يو حديث کې داسې اشاره شوې ده: "الدال على الخير كفاعله" څوك چې بل ته د يو نېك عمل لاره وښيي، نو لکه دغه عمل چې هغه خپله کړى وي، په يو بل روايت کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دى: کوم کس چې نورو ته د سيده لارې تبليغ کوي، نو څومره خلك چې دده په دعوت په سمه لار روان شي، د دوى سره برابر به هغه ته هم اجر ملاويږي او د هغو خلکو په نېك عمل کې به هيڅ کمى نه راځي.

مفتي محمد شفيع رحمه الله فرمايي: دا د قرآن او سنت هغه تعليم دى چې په دنيا کې يې د نېکۍ، انصاف، همدردۍ او خوش اخلاقۍ ځړېدو لپاره يو يو انسان داسې جوړ کړو چې سم ولي الله وي، ددې نېکلي تعليم نتيجه چې په صحابه کرامو رضي الله عنهم کې، تابعينو کې او په قرون اولى کې وليده، اوس هم امت دغسې منظر ليدلی شي، ليکن شرط دا دى چې صرف په دې آيت عمل وشي، نو بيا تاسو ګورئ!

باب التواضع وخفض الجناح للمؤمنين

د مؤمنانو سره د عاجزۍ او نرمۍ بيان

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي چې: "وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ" او د نرمۍ او مهربانۍ وزرې ښکته کړه د هغو خلکو لپاره چې ستاسو سره دي يعنې مؤمنان دي [الشعراء:٢١٥]

تشريح: په آيت کې عامو مسلمانانو ته خطاب دی چې دوی بايد خپله رويه او لهجه نرمه وساتي، "اخفض" ددې معنی ده: ښکته کول، کله چې يو مارغه د پورته طرف څخه لاندې طرفته راځي نو خپلې وزرې ښکته کوي، نو دلته هم د کنايې په توګه وويل شو چې تاسو د صحابه کرامو سره نرمه لهجه وکاروئ، ددې خوښ اخلاقي اثر به داسې وي چې کوم خلک ستاسو خبره نه اوري هغوی به هم تاسو ته غوږ ږدي او الله ﷻ به هغوی ته هدايت ورپه برخه کړي.

د غوره مسلمان علامه:

"وقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي چې: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ" اې هغو کسانو چې تاسو ايمان راوړی دی، په تاسو کې چې کوم کس مرتد شي يعنې اسلام پرېږدي، نو زر ده چې الله ﷻ به يو داسې قوم پيدا کړي چې دوی به د الله ﷻ سره مينه کوي او الله ﷻ به د دوی سره مينه کوي، "أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ" په مسلمانانو باندې به نرمي کوي او په کافرو به سختي کوي [المائدة:٥٤]

تشريح: د قرآن کريم په دې آيت کې اشاره ده دې خبرې ته چې ځينې خلک به مرتد شي، د رسول الله ﷺ د وفات وروسته عام عرب مرتد شول، ځينو د مسيلمه کذاب، ځينو د اسود عنسي نبوت ومنلو او ځينو د زکات ورکولو څخه انکار وکړو، "فسوف يأتي الله بقوم" د علي رضي الله عنه، حسن بصري رحمه الله، ضحاک رحمه الله، او قتادة رحمه الله وغيره رايه دا ده چې ددې نه ابوبکر صديق رضي الله عنه او د هغه ملګري مراد دي، ځينې مفسرين فرمايي: ددې نه تر قيامته پورې هر هغه مسلمان مراد دی چې د قرآن کريم د هداياتو سره سم د کفر او ارتداد لاره لاره بندوي، هغه ټول ددې آيت مصداق ګرځي.

يحبوهم ويحبونه: دلته هغه صفتونه بيانيږي چې ددې قوم به وي، الله ﷻ به د دوی سره مينه کوي او دوی به د الله ﷻ سره مينه کوي، "اذلة على المؤمنين" د مؤمنانو سره به نرمي کوي، مطلب دا چې خلک به د مسلمانانو سره په نرمه لهجه معاملات حل کوي، که کوم اختلاف راشي، نو په آسانه طريقه به يې حل کړي، جنګ جګړه به پرېږدي، اګر چې حق دده په برخه وي، د داسې خلکو په باره کې ارشاد دی: "أنا زعيم ببيت في الجنة لمن ترك المراء وهو محق" زه داسې کسانو ته د جنت په مينځ کې د کور ذمه وار يم کوم چې جګړه پرېږدي، اګر چې هغه په حقه وي.

أعزة على الكافرين: د کفارو په معامله کې به سخت وي، مطلب دا چې د دين د مخالفينو په مقابله

کې به سخت وي، کفار به په دوی باندې کله هم غلبه ونه مومي، هم دغه مضمون د قرآن کريم په يو بل آيت کې هم دی "أشداء على الكفار رحماء بينهم" د کفارو په مقابله کې به سخت وي او په خپل مينځ کې به نرمي کوونکي وي

د قومونو او قبيلو جوړيدو وجه:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي چې: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا" اې خلکو خبردار! هغه کسانو چې ايمان راوړی دی، موږ تاسو د يو مذکر (آدم عليه السلام) او يو مؤنث (حواء ﷺ) نه پيدا کړي يئ او بيا موږ ستاسو نه پوره قومونه او قبيلې جوړې کړې، "إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ" بې شکه په تاسو کې د الله ﷻ په نزد زيات عزتمند هغه کس دی چې تقوی دار وي [الحجرات: ۲]

تشريح: د مکې په فتحه کې چې کله رسول الله ﷺ بلال ﷺ ته د آذان حکم وکړو، نو د مکې په قريشو کې يو کس دا خبره وکړه چې: د الله ﷻ شکر دی چې زما پلار ددې ورځې نه وړاندې مړ شو، که نو نن به يې دا ورځ ليدل، حارث بن هشام ﷺ وويل: ددې تور شخه بغير بل څوک نه وو چې آذان يې کړی وای؟ نبي کريم ﷺ ته ددې خبرې علم الله ﷻ د جبرائيل عليه السلام په واسطه بيان کړو، نبي کريم ﷺ هغه راوغوښتلو او ددې خبرو اقرار يې ترې وکړو، په دې باندې دغه آيت نازل شو چې د فخر او عزت شی خو ايمان دی، تقوی او ايمان خو په بلال ﷺ کې دی، نه د مکې په مشرکانو کې.

"وجعلناكم شعوبا وقبائل": شعوب جمع د شعب ده، ډيره غټه ډله، په کوم کې چې مختلف قبائل او خاندان آباد وي، قبيله د شعوب نه کمه وي

لتعارفوا: خاندان او قبيله ددې لپاره نه ده چې انسان پرې فخر او غرور وکړي، چې زما خاندان داسې دی او داسې دی، بلکې ددې لپاره ده چې ددې په ذريعه ستاسو په خپل منځ کې تعارف وشي، چې پلار، ورور، تره، ماما، کاکا، وغيره مې څوک دي؟ خلاصه دا چې نسبي تفاوت به خالص د تعارف لپاره استعماليږي، نه د فخر او غرور لپاره.

إن أكرمكم عند الله أتقاكم: ابن عباس ﷺ فرمايي: د دنيا د خلکو په وړاندې مال او دولت د عزت شی دی، ليکن د الله ﷻ په نزد تقوی او ايمان د فخر او عزت شی دی

له ځانه شيخ مه جوړوه!

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ" بس ځانونه مه پاکوئ بلکې په حقيقت کې پاکي خود الله ﷻ له طرفه ده [النجم: ۳۲].

فلا تزكوا أنفسكم: الله ﷻ فرمايي: تاسو خپل ځانونه مه پاک پاک کوئ، زه داسې يم او زه داسې يم. ځکه چې الله ﷻ ښه پوهيږي چې څوک څومره د تقوي په اوبو کې دی، ځکه چې د فضيلت بنسټ په تقوی او اعمال صالحه وو باندې دی، په ظاهري اعمالو وغيره باندې نه دی، دا الله ﷻ ته ښه معلومه ده چې څوک څومره تقوی دار دی او څوک په څومره تقوي ولاړ دی او د چا مرګ به په تقوی راځي

ابن کثير رحمه الله نقل کړي دي چې د زينب بنت ابي سلمه رضي الله عنها نوم بره و، (نېک عمله مېرمن) نبي کريم ﷺ ددې آيت تلاوت وکړو چې (فلاتزكوا أنفسكم) نوم يې ورته بدل کړو او زينب يې ورته کېښودلو، دغه شان يو بل کس د رسول الله ﷺ په وړاندې د يو کس تعريف وکړو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: که ته خامخا د چا تعريف کوې نو داسې وايه چې زما په علم کې دغه کس متقي او پرهېزګار دی، "ولا أزكي على الله أحداً" زه داسې نه شم ويلی چې هغه به د الله ﷻ په نزد هم داسې پاک وي لکه څرنګه چې زه يې ګومان کوم.

جهنميانو ته د اعراف والا خطاب:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَنَادَى أَصْحَابُ الأَعْرَافِ رِجَالاً يَعْرِفُونَهُمْ بِسِيمَاهُمْ" اعراف والا به هغو کسانو آواز وکړي کوم چې به په خپلو علامو سره وپېژندل شي، "قَالُوا مَا أَغْنَى عَنكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ" دوی به ورته ووايي: ستاسو نه ستاسو مالونو او ستاسو تکبر ستاسو نه عذابونه لرې نه کړل. "أَهَؤُلاءِ الَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لاَ يَنَالُهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَةٍ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ لاَ خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلاَ أَنتُمْ تَحْزَنُونَ" ايا دا هغه کسان دي چې تاسو به قسمونه کول چې دوی ته به الله ﷻ خپل رحمت ورنه کړي، جنت ته داخل شئ، په تاسو باندې به نه څه خوف وي او نه به وېره وي او نه به دوی غمجن وي. [الأعراف:۴۸-۴۹].

تشريح: د اعراف والا نه مراد څوک دي؟ دې باره کې مختلف اقوال دي: يو څو مونږ دلته ذکر کوو: ځينې خلك به داسې وي چې هغوی به د جهنم نه خلاص شوي وي، ليکن تر اوسه به جنت ته د داخلېدو اجازت نه وي ورکړی شوی، اميد به لري، داسې خلکو ته د اعراف اوسېدونکي ويل کېږي، د ځينو مفسرينو رايه دا ده چې اعراف والا خلك هغه دي چې نېکي او بدي يې برابره شي، بالاخره به دوی د الله ﷻ په خاص فضل سره جنت ته داخل شي، د آيت مطلب دا دی چې اعراف والا به جهنميانو ته خطاب وکړي او دوی به ملامته کوي چې په دنيا کې په کوم مال، دولت او ډله بازۍ باندې تاسو فخر او غرور کولو، ايا نن هغه شيان ستاسو په کار راغلل؟

أهؤلاء الذين لا ينالهم الله برحمة: علامه ابن کثير رحمه الله فرمايي: د ابن عباس رضي الله عنهما قول دی چې د اعراف والا خلکو خبرې کله د جهنميانو سره ختمې شي، نو په دې وخت کې به الله ﷻ جهنميانو ته خطاب وکړي او وايي به: اې جهنميانو! تاسو به ويل او قسمونه به مو کول چې دغه اعراف والا به کله هم ونه بخښل شي، په دوی باندې به هيڅ فضل نه کېږي، اوس ګورئ! ددې نه وروسته به بيا اعراف والا ته اعلان وشي چې: "أدخلوا الجنة" جنت ته داخل شئ، په تاسو باندې به نه څه وېره وي او نه به څه غم وي

عاجزي اختيار کړئ!

"وعن عياض بن حمار رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِنَّ اللهَ أَوْحَى إِلَيَّ أَنْ تَوَاضَعُوا حَتَّى لاَ يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ
عياض بن حمار رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ما ته وحی کړې

چې ټول خلك به د يو بل سره په عاجزۍ ملاويږي او په يو بل به فخر او غرور نه کوي. "وَلَا يَبْغِي أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ" او نه به يو کس په بل کس باندې تجاوز او سرکشي کوي. رواه مسلم

تشريح: د تواضع مطلب دا دی چې د يو بل سره په مينه، محبت او نرمو خبرو سره مخامخ شي، د مال، دولت، حسب او نسب جمال وغيره په وجه د يو بل سپکاوی ونه کړي، نه په چا ظلم وکړي، که چاته الله ﷻ څه ورکړي دي، نو بايد په دې د الله ﷻ شکر ادا کړي، په دې باندې به غرور او تکبر نه کوي

د راوي عياض بن حمار رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عياض رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې حمار يا حماد دی. د جاهليت زمانې راهيسې يې د رسول الله ﷺ سره ملګرتيا وه، کله چې رسول الله ﷺ ته پېغمبري ملاو شوه نو رسول الله ﷺ ته يې څه تحفه ورکول غوښتل چې قبوله يې کړي، خو رسول الله ﷺ هغه تحفه قبوله نه کړه، غالباً د مکې د فتحې نه وړاندې مسلمان شوی وو، په بصره کې يې سکونت اختيار کړو، علامه ابن عبد البر رحمه الله فرمايي د عياض رضي الله عنه سره د رسول الله ﷺ جامه وه، په دې جامه کې به يې طواف کولو.

مرويات درې حديثونه ترې نقل دي.

په معافۍ سره الله ﷻ د انسان عزت زياتوي:

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أنّ رسول الله ﷺ قال: مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په صدقې ورکولو سره مال نه کميږي، "وَمَا زَادَ اللَّهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا" او الله ﷻ د معاف کوونکي سړي عزت زياتوي، "وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللَّهُ" او يو کس عاجزي نه کوي مګر دا چې الله ﷻ ورته اوچت مقام نصيب کوي. رواه مسلم

تشريح: ما نقصت صدقة من مال: په صدقې سره مال نه کميږي، محدثين فرمايي چې صدقې ورکولو سره الله ﷻ په باقي مال کې دومره خير او برکت نازل کړي چې ددې په وجه په مال کې کوم ظاهري کمی راغلی وي، هغه پرې پوره شي او ورسره زياتې دا چې په دې صدقې سره د الله ﷻ له لورې ډېر شکلي انعام به آخرت کې ملاويږي

وما زاد الله عبداً بعفو إلا عزاً: او په معاف کولو سره د انسان په عزت کې الله ﷻ نور زياتوالی راولي، مطلب دا چې په ظاهري توګه خو په معاف کولو سره انسان کمزوري ښکاري، ليکن په دې حديث کې رسول الله ﷺ فرمايي ددې معافۍ نتيجه به بالاخره دا وي چې ددې سړي په عزت کې به نوره اضافه هم وشي او په آخرت کې به ورته عزتمند مقام نصيب شي

وما تواضع أحد لله إلا رفعه الله: څوک چې خالص د الله ﷻ د رضا په خاطر عاجزي اختيار کړي، نو الله ﷻ دغسې کس ته نور عزت هم ورکوي او پياوړی مقام يې ورپه برخه کوي، مطلب دا چې په

تواضع سره انسان په ظاهري شکل کې کمزوری ښکاري. ليکن په داسې تواضع چې خالص د الله ﷻ لپاره وشي الله ﷻ يې نور هم د خلکو په نظر کې اوچت کړي

په ماشوم باندې سلام اچول

"وعن أنس ﷺ: أَنَّهُ مَرَّ عَلَى صِبيَانٍ، فَسَلَّمَ عَلَيهِمْ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه يو ځل په يو څو ماشومانو تېر شو، هغه پرې سلام واچولو. "وقال: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يفعله" او دا يې وفرمايل رسول الله ﷺ به داسې کول متفقٌ عَلَيهِ.

تشريح: د رسول الله ﷺ دغه مبارک عمل يعني په ماشوم باندې هم سلام اچول، دا د رسول الله ﷺ تواضع او خاکسارۍ کمال مظاهره ده. ددې نه معلومه شوه چې انسان ته پکار ده چې په خپلو ماتحتو غلامانو، مزدورانو او شاګردانو باندې سلام واچوي. کوم خلک چې په دې انتظار کې وي چې زما شاګرد به په ما باندې سلام اچوي يا زما مزدوران به په ما باندې سلام اچوي، نو دا د غرور او تکبر علامه ده او بل د رسول الله ﷺ د سنت طريقې بغاوت هم دی

په سلام باندې د ابتداء کولو فضيلت:

ددې حديث نه يوه بله خبره هم ثابته شوه، هغه دا چې رسول الله ﷺ به په سلام باندې ابتداء کول، په يو بل روايت کې راځي چې "إن أولى الناس بالله من بدء بالسلام" په خلکو کې الله ﷻ ته نږدې هغه کس دی چې په سلام باندې پيل کوي، په يو بل روايت کې دي چې "البادیءُ بالسلام بریءٌ من الكبر" په سلام باندې شروع کوونکی د کبر او غرور څخه خالي دی

د رسول الله ﷺ د تواضع مثال

"وعنه، قَالَ: إن كَانَتِ الأَمَةُ مِنْ إمَاءِ المَدينَةِ لَتَأخُذُ بِيَدِ النَّبِيِّ ﷺ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د مدينې منورې کومه ماشومه به راغله، نو د نبي کريم ﷺ لاس به يې ونيولو. "فَتَنْطَلِقُ بِهِ حَيْثُ شَاءتْ" او چېرته چې به يې زړه غوښتل نبي کريم ﷺ به يې بوتلو. رواه البخاري

تشريح: إن كانت الأَمَة من آماء المدينة لتأخذ بيد النبي ﷺ: د مدينې منورې ځينې وينزې به رسول الله ﷺ د لاس نه ونيولو، علماء فرمايي: په دې حديث کې د رسول الله ﷺ د حسن اخلاق او تواضع نمونه بيان شوې ده، "لتأخذ بيد النبي ﷺ" د لاس نه نيولو نه حقيقةً لاس نيول مراد نه دي، بلکې په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې کوم کس به د رسول الله ﷺ سره خبره کول غوښتل نو د هغه خبره به يې پوره اورېده او بيا به يې د هغې د پوره کولو پوره اهتمام کولو، "فتنطلق به حيث شاءت" خپل ضرورت ته چې به يې چېرته بوتلو، هغه به ورسره روان ؤ، په بل روايت کې "فتنطلق به في حاجتها" الفاظ هم راغلي دي. علماء فرمايي په دې جمله کې د رسول الله ﷺ په زړه مبارک کې چې کومه جذبه د خلکو د ضرورتونو پوره کولو باره کې وه د هغې بيان دی

رسول الله ﷺ به د کور کار کولو

"وعن الأَسْوَدِ بن يَزِيدَ، قَالَ: سُئِلَتْ عائشةُ رضي الله عنها مَا كَانَ النَّبيُّ ﷺ يَصْنَعُ فِي بَيْتِهِ؟ قالت: كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ" يعني: خِدمَةَ أَهلِهِ – فَإِذا حَضَرَتِ الصَّلاةُ، خَرَجَ إِلَى الصَّلاةِ"

د اسود بن يزيد رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي چې د عائشه رضي الله عنها نه چا پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ به څه کول کله چې په کور کې به وو؟ هغې وفرمايل د خپل کور والا سره به په محنت کې مصروف وو، يعني: خِدمَةَ أَهلِهِ – فَإِذا الصَّلاةُ، خَرَجَ إِلَى الصَّلاةِ" يعني د خپل کور والا سره به يې د کور په کار کې لاس پورته کولو او کله چې به د لمونځ وخت راغلو، نو جومات ته به يې لاړو. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

مهنة أهله: په کور کې محنت او خواري کول.

تشريح كان يكون في مهنة أهله: نبي کريم ﷺ به د خپل کور کارونه په خپل لاس کول. د دې حديث مفهوم په نورو ګڼو حديثونو کې راغلی دی، ام المومنين عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ به په کور کې په خپله خپلې جامې ګنډلې او په خپله به يې خپلې څپلې هم ګنډلې په يو بل روايت کې دي چې خپله به يې ګډې او وزې لوشلې او په خپله به يې خپل خدمت کولو. بهر حال په دې ټولو روايتونو سره دا خبره ثابته شوه چې په رسول الله ﷺ کې کمال عاجزي او خاکساري وه او بل دا چې د کور کار خپله کول د رسول الله ﷺ سنت طريقه ده، په دې کې هيڅ عار او شرم پکار نه دی. (اللهم ارزقنا اتباعه ﷺ)

فإذا الصلوة خرج إلى الصلوة: کله چې به د لمانځه وخت راغلو، نو جمعې ته به روان شو. په دې کې دې خبرې ته هم اشاره ده چې بايد انسان دومره د کور په کارونو کې مشغول نه شي چې بس دې ته يې کار ويلی وي او د خدای دين ترې پاتې شي، کله چې د الله ﷻ د عبادت وخت راشي، نو بايد هر څه پريښودل شي او د الله ﷻ په عبادت کې مشغول شي

د راوي اسود بن يزيد رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې اسود رحمه الله دی، د پلار نوم يې يزيد دی، کنيت يې ابو عمر دی، په زهد، تقوی او په کمال عبادت کې اسود رحمه الله د کوفې په مشهورو بزرګانو کې شمارل کېدو، علامه ذهبي رحمه الله د دوی رحمه الله په اره فرمايي چې د کوفې په فقهاوو، زاهدانو او عابدانو کې شمارو امام نووي رحمه الله فرمايي د دوی په توثيق باندې د ټولو محدثينو اتفاق دی، دغه ډول هره ورځ به يې تقريباً روژه وه، که هر څومره ګرمي به هم وه، د ماښام او ماسخوتن تر مينځ به يې آرام کولو، بيا به ټوله شپه د قرآن کريم په تلاوت کې مشغول وو، په دوه شپو کې به يې د قرآن کريم ختم کولو

وفات: په ۷۵ هجري کې وفات شو، د مرګ نه وړاندې يې خپل ورور ابراهيم نخعي رحمه الله ته وفرمايل ماته په آخري وخت کې د کلمې تلقين کوئ.

د خطبې ترمينځ د دين خبرې ښودل

"وعن أبي رفاعة تميم بن أسيد ﷺ قال: انتهيت إلى رسول الله ﷺ وهو يخطب، فقلت: يارسول الله رجل غريب جاء يسأل عن دينه لايدري ما دينه؟ فأقبل علي رسول الله ﷺ، وترك خطبته حتى انتهى إلي" د ابو رفاعة تميم بن اسيد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې زه رسول الله ﷺ ته په داسې حالت کې راغلم چې هغه خطبه لوستل، ما ورته وويل يارسول الله ﷺ! زه څو يو نابلده انسان يم، راغلی يم چې د خپل دين باره کې يو څو پوښتنې وکړم، زما دين ماته څه ښيي؟ نبي کريم ﷺ خطبه پرېښوده او ماته متوجه شو، تردې چې ماته يې تشريف راوړلو! "فأتي بكرسي، فقعد عليه، وجعل يعلمني مما علمه الله، ثم أتى خطبته فأتم آخرها" نبي کريم ﷺ ته يوه چوکۍ راوړل شوه، په هغې باندې کېښستلو او ماته يې هغه څه وښودل چې هغه ﷺ ته الله ﷻ ښودلي وو، بيا واپس د خطبې ځای ته لاړو، د کوم ځای نه يې چې خطبه پرېښودلې وه، هغه يې پوره کړه. رواه مسلم

تشريح: رجل غريب جاء يسأل عن دينه: يو مسافر سړی د دين په باره کې پوښتنې کولې، ددې نه معلومه شوه چې هر راتلونکي سړي به د رسول الله ﷺ سره بې تکلفه خبرې کولې، د دين په باره کې به يې پوښتنې کولې، په دې کې هم د رسول الله ﷺ کمال تواضع او عاجزۍ ته اشاره ده

وترك خطبته: نبي کريم ﷺ خطبه پرېښوده، علماء فرمايي: دا عامه خطبه وه چې رسول الله ﷺ پرېښوده، د جمعې د ورځې خطبه مراد نه ده، ليکن ځينې نور علماء فرمايي: که د جمعې د ورځې خطبه شي، بيا هم که د دواړو خطبو ترمينځ زياته فاصله نه راځي، په دې کې هيڅ باك نشته، دلته هم مختصره خبره شوې ده

ولې نبي کريم ﷺ په کرسۍ باندې کيناستو؟

فأتي بكرسي: نبي کريم ﷺ ته کرسۍ راوړل شوه، علماء ددې وجه دا فرمايي چې د اول نه هم مجمع زياته وه، نو نبي کريم ﷺ په کرسۍ ځکه کېښستلو چې نور خلك هم خبره واوري، "ثم أتى خطبته" نبي کريم ﷺ بيا خپله خطبه ولوستل، علماء فرمايي: کله چې څوك د دين په باره کې د کومې خبرې متعلق ځان پوهول غواړي يا ايمان راوړل غواړي، نو پکار ده چې سمدستي ورته خبره بيان شي

د راوي ابورفاعه بن اسيد ﷺ حالات:

اصلي نوم يې تميم ﷺ دی، د پلار نوم يې اسيد دی، نسب نامه يې داسې ده: تميم بن اسيد بن عبد العزى بن جعونه بن عمرو بن قيس بن رزاح بن عمرو بن سعد بن کعب دی، د فتح مکې نه وړاندې مسلمان شوی وو، د مکې د فتحې په ورځ د رسول الله ﷺ سره وو، د دوی نه د مکې د فتحې روايت نقل شوی دی، په بيت الله شريف کې د درې سوه/ ۳۰۰ نه زيات بوتان وو، نبي کريم ﷺ به دغه آيت: "قل جاء الحق وزهق الباطل" به يې ولوستلو او بوتان به يې مات کړل

مرويات: اتلس/ ۱۸ روايات ترې نقل دي، په بخاري کې يو هم نشته، په مسلم کې همدا يو روايت نقل دی، د ددې نه علاوه د احاديثو په نورو کتابونو کې يې روايات نقل شوي دي

مړۍ/(ډوډۍ) چې پرېوځي، راخيستل او خوړل يې پکار دي

"وعن أنس ﷺ: أن رسول الله ﷺ كان إذا أكل طعاماً، لعق أصابعه الثلاث" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله ډوډۍ وخوړل، نو خپلې درې واړه ګوتې به يې څټلې. "قَالَ: وقال: إذا سقطت لقمة أحدكم فليمط عنها الأذى" انس ﷺ فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې د يو کس نه کومه مړۍ پرېوځي، نو بايد د هغې مړۍ نه ګند لرې کړي. "وليأكلها ولا يدعها للشيطان" هغه مړۍ وخوري او شيطان ته يې پرېنږدي. "وأمر أن تُسلت القصعة، قال: فإنكم لا تدرون في أي طعامكم البركة" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: بايد هغه کاسه صفا کړئ، نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو نه پوهېږئ چې په کومه مړۍ کې به ستاسو لپاره پکې برکت وي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: لعق: "لعق يلعق لعقاً": شهد په ژبه يا په ګوتې څټل

تشريح "لعق أصابعه الثلاث": خپلې درې واړه ګوتې به يې څټلې. علامه نووي رحمه الله فرمايي: په درې ګوتو باندې خوراک کول سنت طريقه ده، که څلورمه يا پنځمه ګوته يو ځای کول ورسره ضروري وي، بيا دې خپلې ټولې ګوتې وڅټي.

د ګوتو په څټلو کې ترتيب:

ترټولو اول د مينځنۍ ګوتې څټل پکار دي، بيا ورسره نږدې د شهادت ګوته، او په آخر کې غټه ګوته. "إذا سقطت لقمة أحدكم" کله چې ستاسو نه کومه لقمه، مړۍ پرېوځي، مطلب دا چې که په مړۍ پورې ګندګي/ نجاست نښتې وي، هغه لرې کړه او که نه صفا کېده، نو بيا يې سپي يا پيشو ته واچوه.

ولا يدعها للشيطان: شيطان ته به يې نه پرېږدي، ځينې علماء فرمايي: دا په حقيقت باندې محمول دی چې شيطان يې خوري. ليکن ځينې نور علماء فرمايي: مطلب دا دی چې مړۍ ضايع نه کړي ځکه چې په دې کې د تکبر علامه ده او د متکبرينو اعمال شيطاني دي.

تسلت القصعة: بايد کاسه وڅټي، معلومه نه ده چې د ښالن په کومه برخه کې به برکت وي، هغه به ددې برکت څخه محروم پاتې شي، بلکه دا چې دا د الله ﷻ يو نعمت دی، هغه که هر څومره وړوکی ولې نه وي او د الله ﷻ د نعمتونو قدر پکار دی

هر پېغمبر ګډې او وزې څرولي دي

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ، قال: ما بعث الله نبياً إلا رعى الغنم" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: داسې پېغمبر نه دی تېر شوی چې هغه ګډې نه وي څرولي. "قال أصحابه: وأنت؟ فقال: نعم، كنت أرعاها على قراريط لأهل مكة" صحابه کرامو ﷺ وفرمايل: يا رسول الله ﷺ تاسو هم څرولي دي؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل هو! ما هم څرولي دي او ما به د مکې خلکو ته په يو څو قيراطو باندې څرولې. رواه البخاري

تشريح: دا حديث هم په (باب استحباب العزلة عند فساد الناس والزمان والخوف من فتنة في الدين الخ) کې تېر شوی دی، مصنف رحمه الله دلته يو ځل بيا ذکر کړو. په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې په رسول الله ﷺ کې کمال عاجزي او خاکساري وه، هغه دا چې ګډې وزې څرول عاجزي غواړي.

نبي کريم ﷺ به د معمولي شي مېلمستيا قبلول:

"وعنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: لَوْ دُعِيتُ إِلَى كُرَاعٍ أَوْ ذِرَاعٍ لَأَجَبْتُ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که چېرته ماته د يو لاس يا پښې لپاره دعوت وشي، نو هم به يې قبلوم، "ولو أُهْدِيَ إِلَيَّ ذِرَاعٌ أَوْ كُرَاعٌ لَقَبِلْتُ" يا که ماته يو لاس يا يوه پښه هديه او ډالۍ شي، نو هم به يې قبلوم. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

کراع: د غوا او چېلۍ پښې او پونډۍ ته ويل کېږي (په پښتو کې ورته پانچې وايي)

تشريح "لودعيت إلى کراع أو ذراع لأجبت": که ما څوك پښو يا پانچو ته راوبولي او دعوت راته راکړي، نو زه به يې ضرور قبلوم، په دې کې هم د رسول الله ﷺ تواضع، سادګۍ او انکسارۍ ته اشاره ده. ځکه چې پانچې (پښې او پونډۍ وغيره) مطلب دا چې که څوك ماته د معمولي شي دعوت هم راکړي، نو زه به يې قبول کړم او انکار به ونه کړم، علماء فرمايي: په دې حديث کې دې خبرې ته اشاره ده چې انسان ته پکار دي چې د يو بل د زړه خيال وساتي، که يو انسان غريب وي، نور څه نه شي کولی نو څه چې ورسره دي او څه چې يې تيار کړي وي، بس هغه قبلول پکار دي. ددې لپاره چې د هغه تاليف قلب هم وشي، (يعني زړه يې خفه نه شي).

د رسول الله ﷺ داوښې نوم

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: كَانَتْ نَاقَةُ رسول الله ﷺ العَضْبَاءُ لاَ تُسْبَقُ، أَوْ لاَ تَكَادُ تُسْبَقُ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ سره يوه اوښه وه د هغې نوم عضبا وو، ددې څخه به بل اوښ نه شو وړاندې کېدلی، يا نژدې وه چې چېرته ترې کوم اوښ وړاندې شوی وای، "فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ عَلَى قَعُودٍ لَهُ، فَسَبَقَهَا، فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَى المُسْلِمِينَ حَتَّى عَرَفَهُ" يو کوچی په اوښه سپور راغلو، د هغه کوچي اوښه د نبي کريم ﷺ د عضبا اوښې څخه مخکې شوې وه، دا خبره په صحابه کرامو باندې سخته ولګېده چې د رسول الله ﷺ اوښه ځکه وروسته پاتې شوه، نبي کريم ﷺ په صحابه کرامو رضي الله عنهم باندې پوه شو چې دوی خفه دي، "فَقَالَ: حَقٌّ عَلَى اللهِ أَنْ لاَ يَرْتَفِعَ شَيْءٌ مِنَ الدُّنْيَا إِلاَّ وَضَعَهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا خبره په الله جل جلاله باندې ثابته ده چې کوم شی په دنيا کې اوچت کړي هغه بيا رالاندې کوي. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

العضباء: د رسول الله ﷺ د اوښې نوم دی، هغه اوښه چې د هغې نر وررور نه وي، خو انه اوښه

وجه تسميه:

تشريح تسمى العضباء: د اوښې نوم عضباء وو، اصل عضباء هغې اوښې ته وايي چې غوږونه يې پرې شوي وي، يا ورته سورې پکې ويستل شوي وي، ليکن د رسول الله ﷺ په عضباء کې دا عيب نه وو، بلکې اصلاً ددې نوم داسې وو، ځينو علماوو وجه تسميه دا ښودلې ده چې ددې اوښې غوږونه پيدايشي کم وو، د رسول الله ﷺ يوه بله اوښه وه چې د هغې نوم قصواء وه، ځينې وايي عضباء او قصواء دواړه د يوې اوښې نومونه دي او ځينې وايي چې نه جدا جدا اوښې وې

على قعود له: په خپله اوښه سپور راغلو، قعود هغې اوښې ته وايي چې تازه تازه قابل د سورالى شوې وي، ددې عمر د دوه کالو نه تر شپږو کالو پورې کېدلى شي او هغه اوښ چې عمر يې د شپږو کالو نه زيات وي، هغه ته جمل ويل کيږي

هر عروج زوال لري:

سبقها: ددې کوچې اوښه وړاندې لاړه، په دې کې يوې قاعدې ته اشاره ده: هغه دا چې هر عروج زوال لري، داسې نه چې يو شى به همېش په عروج کې وي، يو نه يوه ورځ به خامخا لاندې راځي، د زوال سره به مخامخ کيږي، وجه يې دا ده چې په هغه شي کې تکبر پيدا نه شي، بل دا چې صرف واحد لاشريك له ذات، چې الله ﷻ دى، بس هغه صرف همېش پاتې کېدونکى دى، د هغه نه علاوه به هر څه ختميږي او زوال به پرې راځي، د الله ﷻ ذات کريم د همېش لپاره دى او همېش به وي، کله هم د هغه په ذات او صفاتو باندې زوال نه راځي او نه به پرې راشي

فشق ذالك على المسلمين: په صحابه کرامو ﷡ باندې دا خبره ګرانه تمامه شوه چې ولې د کوچې اوښه د رسول الله ﷺ عضباء نه وړاندې شوه، رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ﷡ لپاره يو اصل او ضابطه بيان کړه چې يو کريم ذات الله ﷻ همېش دى او د همېش لپاره به وي، کله هم پرې زوال نه راځي، په دې کې چې څه دي دا ټول به ختميږي، يوه ورځ به خامخا پرې زوال راځي، په دې حديث کې هم عاجزى او خاکسارى ته اشاره ده.

باب تحريم الكبر والإعجاب

د تكبر او عجب د حرمت بيان

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى" الله ﷻ فرمايي چې: "تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ" دغه د آخرت کور (يعني جنت) موږ هغه چا ته ورکوو څوک چې، "لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ" په ځمکه کې تکبر نه کوي او نه فساد کوي او د آخرت غوره انجام د متقيانو لپاره دى. [القصص:۸۳]

تشريح: "تلك الدارالاخرة" ددې نه جنت مراد دى، "نجعلها للذين لا يريدون علوافي الارض ولا فسادا" څوک چې په ځمکه کې نه تکبر کوي او نه فساد جوړوي

علواً: د علواً نه مراد تکبر دی، يعنې خپل ځان په بل اوچت ګڼي، بل کس سپک ګڼي، او د "فساداً" نه مراد په خلکو ظلم او زياتی کول دي. يا ددې نه هره ګناه او معصيت مراد دی، ځکه چې د ګناه او معصيت په وجه په دنيا کې بې برکتي راځي، خلاصه دا شوه چې څوک په دنيا کې تکبر کوي، فساد جوړوي، د داسې خلکو لپاره په آخرت کې هيڅ حصه نشته

علامه کلبي رحمه الله فرمايي: د فساد نه مراد غير الله ته د عبادت دعوت ورکول دي، عکرمه رحمه الله فرمايي: د فساد نه مراد خلك قتلول دي، د دوی نه مالونه اخيستل وغيره مراد دي، ددې نورو ګناهونو په وجه انسان د جنت نه محروميږي. "والعاقبة للمتقين" غوره انجام د ښو خلکو لپاره دی. علامه قتاده رحمه الله فرمايي: د انجام په لحاظ سره د نېکو خلکو اعمالو ته د عاقبة لفظ استعماليږي او بد عمله خلکو ته د انجام په لحاظ سره لفظ د عقاب ذکر کيږي

په ځمکه باندې تکبر سره مه ګرځه!

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمايي چې: "وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا" او په ځمکه تکبر سره مه ګرځه [الإسراء: ٣٧]

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمايي چې: "وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ" او خپل مخ د خلکو څخه مه اړوه، "وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا" او په ځمکه کې په غرور او تکبر سره مه ګرځه، "إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ" بې شکه الله جل جلاله د هغو کسانو سره مينه نه کوي څوک چې غرور او تکبر کوي [لقمان: ١٨]

"ومعنى ((تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ)): أَيْ تُمِيلُهُ وَتُعْرِضُ بِهِ عَنِ النَّاسِ تَكَبُّرًا عَلَيْهِمْ" د (ولا تصعر خدك للناس) معنى دا ده: خپل مخ د خلکو څخه مه اړوه چې بل طرفته مخ کړې او هغوی ته التفات هم نه کوې او د هر تکبر نه هغوی ته نه ګورې، "وَ((الْمَرَحُ)): التَّبَخْتُرُ" د (مرح) معنى ده: غرور او تکبر کول يعنې په بل چا باندې ځان اوچت ګڼل. "وقال تعالى: إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوسَى فَبَغَى عَلَيْهِمْ" بې شکه قارون د موسى عليه السلام له قومه وو، هغه پرې سرکشي وکړه، "وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ" د هغه د خزانو چابيانې دومره زياتې وې چې پوره يوې ډلې په آسانه نه شوی اوچتولی، "إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ لَا تَفْرَحْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ" کله چې هغه ته يې خپل قوم وويل چې فخر او تکبر مه کوه؛ بې شکه الله جل جلاله د تکبر کونکو سره مينه نه کوي. [القصص: ٧٦] "إِلَى قَوْلِهِ تَعَالَى" د الله تعالى تر دې قول پورې چې: "فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ" نو موږ هغه او د هغه کور په ځمکه کې دې ډوب کړو. الآيات

د تکبر مذمت:

د ګڼ شمېر ايتونو او حديثونو څخه د تکبر مذمت بيان شوی دی. په يو روايت کې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله جل جلاله ماته وحي نازله کړې ده چې: عاجزي اختيار کړم. يو انسان دې په بل باندې غرور نه کوي او نه دې په بل باندې ځان اوچت ګڼي، نه دې د يو بل سره ظلم نه کوي. دغه شان د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: جنت ته به هغه انسان کله هم داخل نه شي چې په زړه کې يې ذره برابر غرور وي. په يو حديث قدسي کې راځي چې: تکبر زما څادر دی.

غواړي چې زما سره په دې کې ځان سموي نو زه به يې جهنم ته داخل کړم.

وروستي آيت کې لقمان عليه‌السلام خپل بچي ته نصيحت کوي، فرمايي "ولا تصعر خدك للناس" (صعر) په اصل کې د اوښ هغې بيمارۍ ته وايي چې ددې په وجه د اوښ څټ راکوږ شي او مات شي. لکه څرنګه چې په انسانانو کې (لقوه) بيماري وي، په دې سره دده مخ کوږ او رامات شي. مطلب دا چې د خلکو سره خبرې کوې، نو په داسې طريقه يې مه کوه چې مخ دې ترې اړولی وي. چې د هغه سره کوې او مخ دې بل طرفته وي، داسې عمل د متکبرانو خلکو وي. "ولا تمش في الأرض مرحاً" او په ځمکه کې په تکبر سره مه ګرځه، په دې سره الله ﷻ ناراضه کيږي، الله ﷻ فرمايي: "إن الله لا يحب كل مختال فخور" الله تعالی متکبر او غرور کوونکی انسان نه خوښوي، په يو بل روايت کې دي نبي کريم ﷺ وفرمايل: يو کس هميش متکبر وي، تردې پورې تکبر کوي چې په جبارينو کې وليکل شي. يعنې حد درجه ظالم او مغرور انسان وي، په هغه باندې به هغه عذاب نازليږي چې په متکبرو خلکو نازليږي.

وروستي آيت کې د قارون واقعه ذکر ده، په قرآن کريم کې د الله ﷻ ارشاد دی ژباړه: څه چې الله ﷻ تاته درکړي دي په دې باندې ځان ته د آخرت کور وګټه، په دنيا کې خپله حصه مه هېروه او نيکي کوه لکه څرنګه چې الله ﷻ ستا سره نيکي کړې ده، په ځمکه کې فساد مه جوړوه، بې شکه الله ﷻ د فساد کوونکو سره مينه نه کوي، هغه ووېل: دا مال ماته زما په هنر او کسب سره حاصل دی. الله ﷻ فرمايي: آيا هغه ته پته نشته چې الله ﷻ ددې نه وړاندې ډېر خلک هلاک کړي دي کوم چې دده نه زيات په قوت کې سخت وو، زيات مال ورسره وو، د مجرمانو څخه د دوی د جرمونو په باره کې پوښتنه نه کيږي، قارون خپل قوم ته په ډېر ډول او زينت کې راووتلو. هغو خلکو چې د دنيا د ارمان اراده يې درلوده ويل يې: کاش زموږ سره هم دومره څه وی. لکه څرنګه چې د قارون سره دي، دده سره ډېره دنيا وه، کومو خلکو ته چې الله ﷻ علم ورکړی وو، هغوی ووېل: هلاک شئ! د الله ﷻ له لوري ثواب ډېر غوره دی د هغه چا لپاره چې ايمان راوړي او نېک عمل کوي او ددې خصلت سره نه مخامخ کيږي مګر هغه خلک چې صبرناک دي.

قارون د موسی عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ قومي وو، د موسی عليه‌السلام د تره زوی وو، د موسی عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ د پلار نوم عمران وو، د قارون د پلار نوم بصيره وو، ويل کيږي چې قارون د تورات حافظ هم وو. هغه ته په دې خبره غوسه ورغله چې کله هارون عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ الله ﷻ پيغمبر جوړ کړو، نو ده ووېل: ولې ماته دا پيغمبري او سعادت نه نصيب کيږي، موسی عليه‌السلام ورته وفرمايل: دا هر څه د الله ﷻ له لوري دي، په دې کې زما هيڅ کار نشته، "فبغى عليهم" د مال او دولت په نشه کې يې په خلکو ظلمونه شروع کړل. فرعون ورته مشري هم ورکړې وه، د مشرۍ په عهده کې يې په بني اسرائيلو سخت ظلمونه وکړل. "وآتيناه من الكنوز ما" کنوز جمع د کنز ده، دفن کړی شوي خزانې ته ويل کيږي. عطاء بن أبي رباح رحمه‌الله فرمايي: قارون ته د يوسف عليه‌السلام يوه لويه پټه شوې خزانه الله ﷻ په لاس ورکړه. "إن مفاتحه لتنوء بالعصبة أولي القوة" عصبة: جماعت او ډلې ته وايي، مطلب دا دی چې دده د خزانو چابيانې دومره زياتې

وې چې يو ه لويه ډله ددې بوج نه پاتې راتله، ځينې اويا کسان او ځينې څلوېښت طاقتور کسان ښيي "إذ قال لقومه لاتفرح" کله چې هغه ته خپل قوم وويل چې ډېر مه خوشحالېږه.

سوال په بل ځای کې راځي چې: "فبذالك فليفرحوا" په دې باندې بايد خوشحاله شي او په دې آيت کې د خوشحالی نه منع راغلې ده. دا ولې؟

جواب په حد کې دننه خوشحالي جائز ده، داسې خوشحالي چې تکبر، فخر يا رياکاري وي او د حد نه تجاوز وي، نو داسې خوشحالي منع ده، په هغې زمانه کې په موسی عليه السلام باندې ايمان راوړنکو خلکو قارون ته نصيحت وکړو چې کوم مال دولت الله ﷻ تاته درکړی دی، په دې کې د الله ﷻ حق مه هېروه! د الله ﷻ په لار کې يې خرچ کوه! ځان ته پرې آخرت جوړ کړه، په دنيا کې چې ستا کومه حصه ده، په دې کې د آخرت لپاره سامان تيار کړه، د الله ﷻ عبادت ښه په ښکلي شان سره کوه! لکه څرنګه چې الله ﷻ ستا سره ښه کړي دي، بې شماره نعمتونه يې درکړي دي، "قال إنما أوتيته على علم عندي" د علم نه مراد د تورات علم او حفظ دی، هغه د تورات حافظ وو، يا د علم نه مراد کسب د علم دی چې څه ماته حاصل دي، هغه ماته زما د پوهې او کار کسب په وجه حاصل دي.

"أولم يعلم أن الله قد أهلك من قبله": الله ﷻ ددې خبرې په ځواب کې (چې قارون وويل: دا ماته زما د هنر، کار او کسب په وجه حاصل دي) که چېرته هغه ته دغه مال دولت دده د کار او کسب په وجه حاصل وي، نو اوس که په هغه باندې عذاب راشي، نو هغه دې ددې مال او دولت په وجه ځان خلاص کړي، دغه مال او دولت به يې کله هم پکار رانشي، لکه څرنګه چې دده نه وړاندې خلکو هم دغسې خبرې کړي دي، خو کله چې په دوی باندې عذاب نازل شو، مال او دولت بيا ورته هيڅ ګټه ونه رسول، نه يې هغوی د عذابه بچ کړل.

فخرج على قومه في زينته: مقاتل رحمه الله فرمايي: قارون په سپين اس چې د سرو زرو واګې يې وې، څلور زره نور کسان په اسونو سپاره وو او درې سوه وينزې وې چې سرې جوړې يې اغوستې وې او ټولو د سرو زرو کالي اغوستي وو، په داسې حال کې قارون خپل قوم ته راښکاره شو، "وقال الذين أوتوا العلم ويلكم" په دې آيت کې د (أوتوا العلم) نه مراد علماء دي، ددې بالمقابل په (الذين يريدون الحيوة الدنيا) کې ددې نه مراد د علم نه محرومه خلک دي، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې دنيا اراده کول او همدا دنيا مقصود ګرځول د اهل علم شعار نه دی، اهل علم د همېش لپاره آخرت يادوي او بس.

متکبر انسان جنت ته نه شي تللی:

"وعن عبدالله بن مسعود ﷛، عن النبي ﷺ، قَالَ: لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ" د عبد الله بن مسعود ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه کس به جنت ته داخل نه شي چې په زړه کې يې ذره برابر غرور او تکبر وي! "فَقَالَ رَجُلٌ: إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَناً، وَنَعْلُهُ حَسَنَةً؟" په دې کې يو کس وويل: يا رسول الله ﷺ! په موږ کې خو هر يو کس دا خبره خوښه ګڼي چې د هغه کپړې دې

صفا وي او د هغه څپلی دي ښکلي وي؟ "قَالَ: إِنَّ اللّٰهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل
الله ﷻ ښکلی دی او ښکلي شيان خوښوي، "اَلْكِبْرُ: بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ" کبر او غرور دې ته وايي چې حق
پټ کړي او خلک سپک وګڼي! رواه مسلم

((بَطَرُ الْحَقِّ)): دَفْعُهُ وَرَدُّهُ عَلَى قَائِلِهِ: دا معنی چې حق تر پښو لاندې کړي او حقدار ته حق ورنه کړي،

وَ((غَمْطُ النَّاسِ)): اِحْتِقَارُهُمْ" دا معنی چې خلک سپک وګڼي.

تشريح: "لايدخل الجنة من كان في قلبه مثقال ذرة من كبر": هغه کس به جنت ته داخل نه شي چې په زړه کې يې ذره برابر کبر او غرور وي، د ذرې نه مراد وړوکی مېږی دی، چې دده مېږو په باره کې راځي: سل داسې مېږي چې سره يو ځای شي نو ايله يوه سپږه ترې جوړيږي، ځينې نور علماء فرمايي: د ذرې نه مراد هغه نرۍ او باريکې ذرې دي چې د لمر په رڼا کې په نظر راځي، خيال کوئ چې دومره ذره برابر کبر او غرور چې د سړي په زړه کې وي، جنت ته به داخل نه شي او دومره ذره برابر کبر او غرور هم الله ﷻ ته خوښ نه دی.

"فقال رجل ان الرجل يحب ان يكون ثوبه حسناً": يو کس ووېل: يارسول الله ﷺ په موږ کې خو هر سړی دا خوښوي چې د هغه جامې دې ښکلي وي، پوښتنه کوونکی څوک وو، په دې کې ځينې علماء فرمايي چې دا ربيعه بن عامر ﷺ وو، ځينې عبد الله بن عمر ﷺ ښيي او ځينې معاذ بن جبل ﷺ ښيي. دغه صحابي ته شبه پيدا شوه چې يو انسان ښکلي او صفا جامې واغوندي، ښکلې څپلی په پښو کړي، ليکن د هغه په زړه کې دا خيال نه وي چې زه په دې باندې په خلکو رعب اچوم او په خلکو مشر او تکړه سړی ښکاره شم، يا بل کوم غريب او کمزوری سپک نه ګڼم، نو ايا په داسې سړي باندې هم د متکبر اطلاق کېدلی شي؟ د حديث مطلب دا دی چې ښکلې جامې اغوستل يا ښکلې څپلی په پښو کول چې شريعت منع کړي نه وي دا جائز دي، دا دده يو ذاتي ذوق او مزاج دی، په دې کې څه عيب نشته، دې ته کبر نه ويل کېږي.

الله ﷻ ښکلی دی او ښکلا خوښوي:

إن الله جميل يحب الجمال: الله ﷻ ښکلی دی او ښکلا خوښوي، الله ﷻ ښکلی دی، يعني الله ﷻ په ذات او صفاتو کې ښکلی دی، دده صفات ټول د کمال صفات دي يا دا مطلب دی چې الله ﷻ جميل دی يعنې جمال ورکوونکی دی او د ځينو په نزد مطلب دا دی چې الله ﷻ د بندګانو ښه کارساز دی

د تکبر تعريف:

الكبر بطر الحق وغمط الناس: حق خبره نه منل، حق خبره غوړځول او خلک سپک ګڼل دې ته کبر وايي، مطلب دا چې کبر دې ته وايي چې انسان د حق خبرې نه لرې شي او د حق او صداقت نه سرکشه شي، بيا داسې کس نور خلک سپک ګڼي

په ښي لاس خوراک کوه !

"وعن سلمة بن الأكوع ﷺ: أنّ رجُلاً أكل عِندَ رسول الله ﷺ بشماله، فقال: كُل بيمينك" د سلمه بن اکوع ﷺ روایت دی هغه فرمایي چې یو کس د رسول الله ﷺ سره ډوډی ته ناست ؤ، په چپ لاس یې خوراک کولو، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: په ښي لاس باندې خوراك کوه؛ "قَالَ: لاَ أستَطِيعُ! قَالَ: لا استَطَعتَ!" هغه کس ووېل: زما وس نه کېږي، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: تاسو ته دې هم په رښتیا وس درنه کړل شي، "مَا مَنَعَهُ إلاّ الكِبْرُ. قَالَ: فما رفعها إلَى فِيهِ" نبي کریم ﷺ وفرمایل: هغه د تکبر له امله په ښي لاس خوراک ونه کړو، راوي وایي: بیا هغه سړي تر مرګه پورې ښی لاس خولې ته پورته ونه کړو. رواه مسلم

تشریح: أن رجلاً أكل عند رسول الله ﷺ: یو کس د رسول الله ﷺ سره ناست ؤ، په چپ لاس یې خوراک کولو، علماوو ددې سړي نوم بشر بن راعي اشجعي ښودلی دی، دا مشهور صحابي دی، تردې وخته پورې مسلمان شوی نه وو، "كل بيمينك" په ښي لاس خوراك کوه، د ځینو علماوو په نزد په ښي لاس خوراك کول واجب دي، لیکن جمهور علماء فرمایي په ښي لاس خوراك کول سنت طریقه ده او په کومو روایاتو کې چې د امر صیغه راغلې ده، هغه د زجر او تنبیه په توګه راغلې ده.

إلا الكبر: دغه کس د غرور او تکبر له امله دغه خبره کړې وه، ځکه خو رسول الله ﷺ ورته بد دعا وکړه، هغه بیا تر مرګه پورې ښی لاس خپلې خولې ته پورته نه کړو، په دې کې د تکبر انجام بیان شوی دی

جهنم ته به کوم قسم خلک ځي

"وعن حارثة بن وهب ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ، يقول: ألا أُخبِرُكُمْ بأهْلِ النَّار: كُلُّ عُتُلٍّ" د حارثه بن وهب ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمایل یې: ایا زه تاسو ته خبر درکړم د هغه کسانو په باره کې چې دوزخیان دي؟ هر سرکشه به جهنم ته داخلیږي، "جَوّاظٍ" شومان "مُسْتَكْبِرٍ" او کبرجن خلك دي، "متفقٌ عَلَيهِ، وتقدم شرحه في بَابِ ضعفةِ المسلمين".

لغوي تحقيق:

عتل: "عتل يعتل عتلاً": بد عمل ته په تېزی سره راتلل

تشریح دا حدیث اګر چې مخکې په (باب فضل ضعفة المسلمين) کې تېر شوی دی، لیکن مصنف رحمه الله دلته یو ځل بیا ذکر کړو، تکبر یو داسې مذموم صفت دی چې په دې سره انسان د جهنم مستحق ګرځي.

د جنت او جهنم مکالمه

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ، عن النبي ﷺ، قَالَ: احْتَجّتِ الجَنَّةُ وَالنَّارُ" د أبو سعید خدري ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: جنت او جهنم په خپل مینځ کې تنازعه وکړه، "فَقَالَتِ النَّارُ: فيَّ

الجَبَّارُونَ والمُتَكَبِّرُونَ، وقَالَتِ الجَنَّةُ: فِي ضُعَفَاءُ النَّاسِ ومَسَاكِينُهُم" جهنم وويل: ماته به ظالمان او متكبرين داخليږي او جنت وويل: ماته به كمزوري او مسكينان داخليږي، "فقضى اللّٰهُ بَيْنَهُمَا: إِنَّكِ الجَنَّةُ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ" الله ﷻ د دوی په مينځ كې فيصله وكړه جنت ته يې وويل: اې جنته! ته زما رحمت يې ستا په ذريعه به په هغه چا رحم كوم چې زما خوښ شي، "وَإِنَّكِ النَّارُ عَذَابِي أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ" او اې جهنم! ته زما عذاب يې، چا ته چې عذاب وركول غواړم، ستا په ذريعه به يې معذب كړم، "وَلِكِلَيْكُمَا عَلَيَّ مِلْؤُهَا" او زه به تاسو د واړه ډكوم. رواه مسلم.

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (باب فضل ضعفة المسلمين كې ذكر شوى دى. ليكن دلته مصنف رحمه الله يو ځل بيا د باب سره د مناسبت له وجې راوړو. "ارحم بك من اشاء" په چا چې زه وغواړم رحم وكړم، هيڅكله ددې مطلب دا نه دى چې همداسې چاته وغواړي جنت ته به يې داخل كړي او چاته چې وغواړي جهنم ته به يې داخل كړي، بلكې الله ﷻ څه اصول وضع كړي دي چې څوك نيك اعمال كوي، جنت ته به ځي او څوك چې بد اعمال كوي جهنم ته به ځي.

د بجلكو / كټيتو نه لاندې پينځې راوستل حرام دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ يَوْمَ القِيَامَةِ إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَراً" د أبو هريرة رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ به د قيامت په ورځ هغه كس ته د رحمت په نظر نه ګوري چې خپل څادر د تكبر له امله په ځان پسې راكاږي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ددې حديث په مضمون كې نور ګڼ شمېر حديثونه راغلي دي، مثلاً "وعن ابن عمر رضي الله عنهما ان النبي ﷺ قال: من جر ثوبه خيلاء لم ينظر الله اليه يوم القيامة" د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې د تكبر او غرور له امله خپله جامه او كپړه په ځان پسې په ځمكه راكاږي، نو د قيامت په ورځ به الله ﷻ داسې كس ته د رحمت په نظر ونه ګوري، "وعن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: بينما رجل يجر ازاره من الخيلاء خسف به فهو يتجلجل في الارض الى يوم القيامة" د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو كس په داسې حال كې چې د تكبر او غرور له امله يې خپل څادر په ځان پسې رانښكلو، نو الله ﷻ په ځمكه كې دننه كړو، هغه به اوس تر قيامته په ځمكه كې دننه روان وي.

د بجلكو / كټيتو نه لاندې زوړندې ساتل حرام دي، كه د غرور او تكبر له امله پايجامه يا پينځې د بجلكو / كټيتو نه لاندې زوړندې ساتل حرام دي، كه د غرور او تكبر نيت يې نه وي، نو بيا مكروه تحريمي دي او كه د عذر په وجه وي، بيا اجازت ورته حاصل دى.

د درې كسانو سره به الله ﷻ خبرې نه كوي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ القِيَامَةِ، وَلَا يُزَكِّيهِمْ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ، وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: درې كسان دي چې به ورسره خبرې نه كوي، نه به يې د ګناهونو نه پاك كړي او نه به ورته د رحمت په نظر وګوري او دوى ته به دردناك عذاب

ورکړي، "شَيْخٌ زَانٍ" بوډا زنا کار سړی، "وَمَلِكٌ كَذَّابٌ" دروغجن مشر، "وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ" او غريب سړی چې تکبر کوي رواه مسلم

"العَائِلُ: الفَقِيرُ" د عائل نه مراد غريب او فقير سړی دی

تشريح: لايکلمهم الله: الله ﷻ د دوی سره خبرې نه کوي، يعنې داسې خبرې به ورسره ونه کړي چې دوی پرې خوشحاله شي بلکې سختې خبرې به ورسره کوي، يا به بالکل خبرې ورسره ونه کړي

ولايزکيهم: دوی به پاك هم نه کړي، يعنې الله ﷻ به د داسې خلکو هيڅ تعريف ونه کړي يا دا مطلب دی چې الله ﷻ به داسې خلك د گناهونو د پليتی او نجاست نه پاك نه کړي.

شيخ زان: بوډا سړی چې زنا کوي، زنا خو هسې هم بد کار دی، که ځوان يې وکړي او که بوډا، ليکن که بوډا سړی په بوډاتوب کې زنا وکړي، دا بيا ډېره د بې حيايی او شرم خبره ده، ځکه چې عموماً په بوډا توب کې جنسي شهوت او طاقت کمزوری شي، نو دا ددې بوډا سړي د بې شرمی او بې حيايی علامه او دليل شو چې طاقت دې نه وي او بيا هم زنا کوي.

وملك كذاب: دروغ ويل خو هسې هم سخته گناه ده، په هر سړی بد لگيږي، ليکن بادشاه چې: هغه دروغو اثر په يو کس دوه کسانو باندې نه وي، بلکې په پوره هېواد يې اثر پرېوځي يا دا مطلب دی چې يو انسان دروغ وايي، خو په دې کې دده څه فايده يا مطلب وي، يا د نقصان نه ځان بچ کوي، خو بادشاه ته د داسې ډول دروغو ويلو څه فايده ده، ددې نه علاوه هم بادشاه فايده حاصلولی شي او ماتحت الاسباب د نقصان نه ځان بچ کولی شي

وعائل مستکبر: تکبر خو هسې هم بد کار دی او په هر سړي باندې تکبر بد لگيږي، ليکن که فقير او غريب سړی تکبر شروع کړي، بيا دده تکبر نور هم زياتيږي

تکبر لويه گناه ده

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: قَالَ اللهُ ﷻ: العِزُّ إزَارِي، والكبرياءُ رِدَائي" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: عزت زما لنگ دی اولويي زما څادر دی، "فَمَنْ يُنَازِعُنِي في وَاحِدٍ منهما فَقَدْ عَذَّبْتُهُ" بس څوك چې په دې کې زما سره جگړه کوي، نو زه به هغه کس په عذاب کې اخته کړم رواه مسلم

تشريح: العزُّ إزاري: عزت زما تهبند دی، د الله ﷻ د ازار وغيره الفاظو سره په دې خبره پوهول مقصود دي چې عزت او عظمت صرف زما د ذات سره خاص دی، په دې کې زما سره بل څوك سيالي کونکی نشته

الکبرياء ردائي: تکبر زما څادر دی، په دې دواړو جملو سره مقصد دا دی چې لکه څرنگه په يوه جامه کې دوه کسه نه ځايېږي، دغه شان د الله ﷻ ځانته خاص صفتونه دي چې په دې صفاتو کې د الله ﷻ سره بل څوك نه شي شريك کېدلی، په دې کې يو صفت (عز) او بل صفت د (تکبر) دی، بنده نه مناسب نه دي چې هغه دغه صفات ځانله منسوب کړي

د تکبر له وجې په ځمکه کې د ننه شو:

"وعنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي فِي حُلَّةٍ تُعْجِبُهُ نَفْسُهُ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په داسې حال کې چې يو کس په فخري جامو کې ځان ترې ورک شوی وو، "مُرَجِّلٌ رَأْسَهُ" د سر وېښتان يې رمنځ کړي وو، "يَخْتَالُ فِي مِشْيَتِهِ" په غرور او تکبر کې روان وو، "إِذْ خَسَفَ اللهُ بِهِ" چې ناڅاپه الله ﷻ هغه کس په ځمکه د ننه کړو، "فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الأَرْضِ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ" دا کس به تر قيامته پورې په ځمکه کې ننوځي متفقٌ عَلَيهِ.

"مُرَجِّلٌ رَأْسَهُ: أَيْ مُمَشِّطُهُ" د (مرجل) معنی ده: سر رمنځ کول. "يَتَجَلْجَلُ: بالجيمين: أَيْ يَغُوصُ وَيَنْزِلُ" د يتجلجل معنی ده: داخلېدل.

تشريح: په دې حديث کې دوه احتماله دي: لومړی احتمال دا دی چې دا واقعه په بني اسرائيلو کې پېښه شوې وه، په دوی کې يو کس وو. (ان رجلاً ممن کان قبلکم) په دې حديث کې رسول الله ﷺ د وړاندېنی امت د يو سړي حال بيانوي چې هغه د تکبر له امله په ځمکه کې داخل کړی شو دويم احتمال دا دی چې: دا خبره رسول الله ﷺ د پېشنګويي په توګه کړې وه چې په راتلونکي وخت کې داسې وشي، ځکه چې داسې کېدل يقيني دي، د ماضي په صيغې سره د دې بيان وشو، ليکن د دې نه مو دا خبره هېره نه شي چې دا واقعه د قارون واقعه نه ده، ځکه چې هغه د مال په وجه په ځمکه کې د ننه شوی وو او د قيامت تر ورځې پورې به روان وي.

متکبر غرق دی

"وعن سَلَمَةَ بنِ الأَكْوَعِ ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَذْهَبُ بِنَفْسِهِ حَتَّى يُكْتَبَ فِي الجَبَّارِينَ" د سلمة بن اکوع ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سړی ځان لوی ګڼي، تردې چې هغه کس په سرکشانو کې وليکل شي، "فَيُصِيبَهُ مَا أَصَابَهُمْ" بس هغه ته هم هغه عذاب ورسېږي کوم عذاب چې دغو سرکشانو ته ورسېدو رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

"يَذْهَبُ بِنَفْسِهِ: أَيْ يَرْتَفِعُ وَيَتَكَبَّرُ" د (يذهب) معنی ده: ځان اوچت ګڼل او کبر کول

تشريح: "لايزال الرجل يذهب بنفسه": يو انسان چې د تکبر اظهار کوي. د (بنفسه) (ب) کې دوه احتماله دي: اول دا چې دلته (ب) د تعديت لپاره ده، په دې صورت کې به ترجمه داسې شي هغه کس به ځان اوچت ګڼلو چې د دې په وجه به يې ځان د خلکو نه لرې ساتلو او خپل ځان به يې د نورو نه ښه ګڼلو دويم احتمال دا دی چې (ب) د مصاحبت لپاره شي، په دې صورت کې به ترجمه داسې شي چې د خپل نفس په دوکه کې پرېوځي، د هغه سره د کبر او غرور طرفته روان وي، هغه د خپل نفس عزت کوي، تردې چې هغه متکبر او مغرور شي، خلاصه دا چې انسان څنګه عادات اختيار کړي، هغسې په مزه مزه جوړيږي، که ښه عادتونه اختيار کړي، نو په مزه مزه ښه انسان ترې جوړيږي او که بد عادتونه اختيار کړي، نو يوه ورځ به ترې پوره شيطان جوړ شي

باب حسن الخلق
د ښکلي اخلاقو بیان

"قَالَ اللّٰـــه تعالیٰ" الله جل جلاله فرمايي: "وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ" او اې پېغمبره ﷺ! تاسو د ډېر ښکلي اخلاق لرئ. [ن:۴]

تشریح: ددې آیت د تفسیر باره کې مفسر قرآن عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د خلق عظیم نه مراد لوی دین دی چې د الله جل جلاله په نزد د اسلام نه علاوه بل دین غوره نشته، عائشه رضي الله عنها فرمايي: د نبي کریم ﷺ اخلاق ټول قرآن کریم وو، یعني د کومو شیانو تعلیم چې قرآن کریم ورکړی دی نبي کریم ﷺ هغه ټول په عملي شکل امت ته وړاندې کړل، علي رضي الله عنه فرمايي: د خلق عظیم نه مراد آداب القرآن دي، نبي کریم ﷺ وفرمایل: "بعثت لأتمم مكارم الأخلاق" یعنې الله جل جلاله زه د ښکلي اخلاقو د تکمیل او پوره کولو لپاره رالېږلی یم.

معاف کونکي د الله جل جلاله ملګري دي:

"وقال تعالیٰ" الله جل جلاله فرمايي چې: "وَالْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ" او هغه خلك چې غوسه تېروي. "وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ" او خلکو ته بخښنه کوي. [آل عمران:۱۳۴] الآية.

تشریح: کاظمین الغیظ: ددې معنی ده: انسان چې ښه غوسه وي، لیکن بیا هم ځان سنبال کړي او غوسه تېره کړي، په یو حدیث کې راځي چې کوم کس سره له دې چې طاقت یې وي او غوسه بنده کړي، نو الله جل جلاله به دده زړه د امن او ایمان څخه ډك کړي، په یو بل روایت کې دي چې: کوم کس غوسه تېره کړي، الله جل جلاله به یې عیبونه پټ کړي، "والعافین عن الناس" خلکو ته معافي کوي څوك چې دده سره بد سلوك وکړي، نو دی ورته معافي کوي.

د علي بن حسین رضي الله عنهما عجیبه واقعه:

ځیني مفسرین رحمهم الله دلته د علي بن حسین رضي الله عنه یوه واقعه نقل کوي چې یو ځل یې د وینځې څخه د اودس لوټه په علي بن حسین رضي الله عنه باندې پرېوته، نو وینځې سمدستي دغه آیت تلاوت کړو "والکاظمین الغیظ" غوسه ځښونکي خلك. د علي بن حسین رضي الله عنه غوسه یخه شوه، بیا وینځې وروستی آیت تلاوت کړو.

"وعن أنس رضي الله عنه، قال: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا" د انس رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د ټولو خلکو نه د اخلاقو په اعتبار سره ښکلی وو. **متفقٌ عَلَيْهِ**

تشریح: په دنیا کې د ټولو اسماني دینونو بنیاد په اخلاقو باندې دی، الله جل جلاله چې څومره پېغمبران رالېږلي دي، د هغوی ټولو تعلیم همدغه اخلاق وو، لیکن د اسلامي کلتور او تهذیب د نورو بابونو په څېر په دې باب کې هم محمد رسول الله ﷺ تر ټولو وړاندې دی او کومه د اخلاقو کومه

نمونه چې رسول الله ﷺ وړاندې کړه، ټول دې ته عاجز پاتې دي، بلکې يو ځل رسول الله ﷺ خپله وفرمايل "بعثت لأتمم مكارم الأخلاق" زه د ښکلي اخلاقو د تکميل لپاره رالېږل شوی يم. ابوذر ﷺ خپل ورور د حال د تحقيق لپاره د رسول الله ﷺ په خدمت کې واستولو چې وګوري نبي کريم ﷺ څنګه نبي دی، کله چې بې ورور بېرته واپس راغلو، نو ابوذر ﷺ ته يې وويل: "رأيته يأمر بمكارم الأخلاق" ما وليدل چې هغوی ﷺ خلکو ته د ښکلي اخلاقو تعليم ورکولو، د نبي کريم ﷺ د پاك سيرت نه معلومېږي چې د رسول الله ﷺ اخلاق دوست او دښمن دواړو ته يو شی وو.

د نبي کريم ﷺ لاسونه د وربښمو نه زيات نرم وو:

"وعنه، قَالَ: مَا مَسِسْتُ دِيبَاجاً وَلَا حَرِيراً أَلْيَنَ مِنْ كَفِّ رسولِ اللهِ ﷺ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ د لاس د تلي نه نرم بل کوم وربښم نه دي کتلي، "وَلَا شَمِمْتُ رَائِحَةً قَطُّ أَطْيَبَ مِنْ رَائِحَةِ رسولِ اللهِ ﷺ" ما د رسول الله ﷺ د بدن د خوشبويي نه زياته بله کومه خوشبويي نه ده بوی کړې، "وَلَقَدْ خَدَمْتُ رسولَ اللهِ ﷺ عَشْرَ سِنِينَ، فَمَا قَالَ لِي قَطُّ: أُفٍّ" په تحقيق سره ما د رسول الله ﷺ خدمت لس کاله کړی دی خو تر اوسه پورې يې ماته د خولې مبارکې نه (اف قدرې تکی نه دی وتلی، "وَلَا قَالَ لِشَيءٍ فَعَلْتُهُ: لِمَ فَعَلْتَهُ؟" او نه هم کوم کار چې ما کړی دی، د هغې په باره کې يې داسې ويلي دي چې ولې دې دا کار وکړو؟ "وَلَا لِشَيءٍ لَمْ أَفْعَله: أَلَا فَعَلْتَ كَذَا؟" او نه داسې شوي چې که کوم کار د کولو وو او ما نه وي کړی، نو هغوی راته نه دي ويلي چې ولې دې دا کار ونه کړو؟ متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ولا حريراً ألين من كف رسول الله ﷺ: د رسول الله ﷺ د لاسونو څخه زيات بل نرم شی ما نه دی ليدلی، د رسول الله ﷺ لاسونه د وربښمو څخه زيات نرم وو، دې باره کې يو رښتونی عاشق رسول قاري عبدالسلام مضطر رحمه الله فرمايي چې

د رسول الله ﷺ د لاس تلي ښه نرم او فراخه ؤ، د حد نه زياتي نرمي او مزيداره وي، علامه ابن بطال رحمه الله فرمايي: د رسول الله ﷺ لاسونه مبارك او تلي يې د غوښې څخه ډك وو، غټ پلن تلي او لاسونه يې وو.

ولا شممت رائحة قط اطيب من رائحة رسول الله ﷺ: د رسول الله ﷺ د پاك جسم نه چې کومه خوشبو راوتل، داسې خوشبو ما کله هم نه ده محسوس کړې، قاضي عياض رحمه الله ليکي: کوم کس چې به د رسول الله ﷺ سره لاس ملاو کړو، نو ټوله ورځ به د دې سړي نه خوشبو تله، علامه طيبي رحمه الله ليکي د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ لاسونه به د عطار د لاسونو په شان وو، برابره خبره ده چې خوشبو به يې لګولې وه او که نه، خو که چېرته د کوم ماشوم په سر به يې لاس کېښود، نو ددې ماشوم سر به د خوشبو له امله د بل ماشوم د سر نه ممتاز وو.

ولقد خدمت رسول الله ﷺ عشر سنين: انس ﷺ فرمايي: ما لس کاله د رسول الله ﷺ خدمت کړی دی، په دې جمله کې د رسول الله ﷺ د عالي اخلاقو بيان دی، لس کاله څه کم وخت نه دی، بل طرف ته

ماشوم چې د يو مشر انسان خدمت كوي، د ماشوم نه خو خامخا غلطي كيږي، ليكن ددې ټولو سره باوجود انس ﷺ خپله فرمايي: ما ته په دومره زياته زمانه كې رسول الله ﷺ كومه سخته خبره نه ده كړې، نه يې بې عزته كړى يم، نه يې راته رد بد ويلي دي، دا د ښكلي اخلاقو يوه اعلى نمونه ده چې تاريخ يې د مثال راوړلو څخه عاجز دى

احرام تړونكي ته هديه اخيستل جائز نه دي

"وعن صعب بن جثامة ﷺ قال: أهديتُ رسولَ الله ﷺ حماراً وحشياً، فردّهُ عليّ" د صعب بن جثامه ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته ما يو ځل يو ځنګلي خر په تحفه كې وركړو، هغه يې بيا بېرته ماته واپس كړو، "فلما رأى ما في وجهي" كله چې نبي كريم ﷺ زما مخ ته وكتل نو پوه شو چې دى په دې عمل خفه شو، "قال: إنا لم نردّهُ عليك إلا أنا حُرُمٌ" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: ما دا ځنګلي خر په دې وجه تاته واپس كړو چې زه د احرام په حالت كې وم، يعنې داسې نه چې زما زړه نه غواړي او تاته مې واپس كړو. متفقٌ عليه

لغوي تحقيق:

حماراً وحشياً: ځنګلي خر، نن سبا ورته (زيبره) وايي.

تشريح اهديت رسول الله ﷺ حماراً وحشياً: ما رسول الله ﷺ ته په هديه كې يو ځنګلي حيوان راوستلو.

محرم ښكار خوړى شي او كه نه؟

دې باره كې جمهور عالمان ائمه ثلاثه (امام مالك رحمه الله، امام احمد بن حنبل رحمه الله او امام شافعي رحمه الله) وايي چې كه غير محرم يو محرم سړي ته د ښكار غوښه راوړي، نو ددې نه به محرم سړى خوراك نه كوي، ليكن امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي: كه غير محرم سړي ښكار وكړو، نو كه محرم نه ورته اشارةً ښودلې وي، نه يې دلالةً ښودنه كړې وي، اوس به محرم سړي ته جائز وي چې خوراك ترې وكړي، د امام صاحب رحمه الله دليل دا دى چې يو ځل ابو قتاده ﷺ ښكار وكړو، د ښكار غوښه يې خپلو محرمو ورونو ته راوړه، په دوى كې ځينو وخوړل او ځينو پرېښوده، وروسته چې كله د رسول الله ﷺ سره ملاقات وشو، نو پوښتنه يې وكړه چې يارسول الله ﷺ! داسې مسئله پېښه شوه، رسول الله ﷺ وفرمايل: محرمو كسانو خو به چرته اشاره يا حكم ورته نه وي كړى؟ ابو قتاده ﷺ ورته وويل: نه! رسول الله ﷺ بيا هغو كسانو ته هيڅ ونه ويل كومو چې د غوښې نه خوراك كړى وو، كه ژوندى ځاروى محرم ته وركړى شي نو اخيستل يې جائز نه دي، ددې حديث په بناء امام بخاري رحمه الله هم دغه حديث ته عنوان وركړى دى چې كله محرم سړي ته ژوندى وحشي حيوان په هديه كې وركړى شي، نو اخيستل يې جائز نه دي

د راوي صعب بن جثامه ﷺ حالات:

اصل نوم يې صعب ﷺ دی، د پلار نوم يې جثامه بن يزيد بن قيس بن عبد الله دی، د ليثي قبيلې سره يې تعلق درلود، په ابوا کې اوسېدلو، په دې وجه د حجاز اوسېدونکو د دوی څخه زيات روايات نقل کړي دي

وفات: د ابوبکر ﷺ د خلافت په زمانه کې وفات شو

مرويات: د دوی نه ۱۲ حديثونه نقل دي. په دې کې دوه حديثونه په بخاري او مسلم کې دي

گناه هغه ده چې په زړه کې شک پيدا شي

"وعن النَّوَاس بن سمعان ﷺ، قَالَ: سألتُ رسولَ الله ﷺ عن البِرِّ والإثم، فقَالَ: البِرُّ: حُسْنُ الخُلقِ، والإثمُ: مَا حَاكَ في صدرِك" د نواس بن سمعان ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه د نېکۍ او بدۍ په باره کې پوښتنه وکړه، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: ښکلي اخلاق نېکي ده او گناه هغه ده چې ستا په زړه کې ورسره شک او وسوسه پيدا شي، "وكَرِهْتَ أنْ يَطَّلِعَ عَلَيهِ النَّاسُ" او ته بد گڼې چې خلک دې ستا په دې عمل خبر نه شي. رواه مسلم

تشريح: په دې حديث کې يو اهم اصل بيانيږي چې هر عام او خاص يې بې پېژندلی شي، هغه دا چې نېکي د ښکلي اخلاقو نوم دی او گناه هغه ده چې له امله يې په زړه کې وسوسه پيدا کيږي. د گناه په کولو سره د انسان په زړه کې بې اطميناني پيدا شي، د هغه په زړه او دماغو کې پريشاني پيدا شي. ليکن دا هغه وخت چې کله د دې گناه په اړه کوم صريحي نص نه وي راغلی، که د يوې گناه منع په واضح نص سره شوې وي، نو بهر حال هغه کول گناه ده

تنبيه: عالمانو د دې خبرې وضاحت کړی دی چې دا خبره د قلب سليم سره تعلق لري، کوم زړه چې د تقوی په نور او رڼا باندې ښايسته وي، نو داسې زړه ته اعتبار دی. که قلب سليم نه وي نو بيا داسې زړه ته هيڅ اعتبار نشته، داسې زړه خو په گناه سره ارام شي او د نېکۍ پر مهال بې آرامه وي

نبي کريم ﷺ به فحش خبرې نه کولې

"عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قَالَ: لَمْ يَكُنْ رسولُ الله ﷺ فَاحِشاً وَلاَ مُتَفَحِّشاً" د عبد الله بن عمرو بن عاص ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ څخه نه په قصده او نه په خطاء د خپلې خولې مبارکې نه بده خبره نه وېستل، "وكَانَ يَقُولُ: إنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ أحْسَنَكُمْ أخْلاَقاً" او دا به يې فرمايل په تاسو کې غوره خلک هغه دي چې اخلاق يې ښکلي وي. متفق عَلَيهِ

تشريح: په دې حديث کې د حسن اخلاق سره دا خبره هم بيان شوې ده چې د کوم انسان اخلاق ښکلي وي هغه به په خلکو کې تر ټولو غوره انسان وي، د دې اخلاقو په وجه انسان د الله ﷺ او د هغه د رسول ﷺ او دنياوالو په نزد زيات محبوب انسان جوړ شي، د عمرو بن شعيب ﷺ نه روايت

دی هغه فرمايي چې يو ځل رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته په ټولو خلکو کې کامل انسان ونه ښيم؟ ټول خلك چوپ شول، رسول الله ﷺ دوه درې ځله داسې وفرمايل، په دريم ځل صحابه کرامو ﷺ وويل: هو اصيب تاسو يې بيان کړئ! رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې چې کوم کس ښکلي اخلاق ولري هغه کامل انسان دی، په يو بل روايت کې دي چې: رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه سړي ايمان کامل دی چې اخلاق يې ښکلي وي او کوم چې د خپلو ښځو په حق کې ښه وي.

په ټولو اعمالو کې وزني عمل

"وعن أبي الدرداء ﷺ: أن النبي ﷺ، قَالَ: مَا مِنْ شَيْءٍ أَثْقَلُ فِي مِيزَانِ العبدِ المُؤْمِنِ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ حُسْنِ الخُلُقِ" د ابو الدرداء ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ د مومن سړي په ښکو عملونو کې د ښکلي اخلاقو نه زيات بل عمل دروند نشته، "وَإِنَّ اللّٰهَ يُبْغِضُ الفَاحِشَ البَذِيَّ" او الله ﷻ هغه سړی ډېر بدې راځي چې بېهوده او بې حياء خبرې کوي، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

"البَذِيُّ: هُوَ الَّذِي يَتَكَلَّمُ بِالفُحْشِ وردِيءِ الكلامِ" د (بذي) معنی ده: بې حياء او بې کاره خبرې کول.

تشريح: د حديث نه د ښکلي اخلاقو قدر او قيمت معلوميږي، ښکلي اخلاق به څومره زيات وزن لري، دا هم معلومه شوه چې د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات دروند عمل ښکلي اخلاق وي، ليکن دلته دا خبره واضحه کول دي چې ښکلي اخلاق به مؤمن ته د قيامت په ورځ پکار راشي، کافر که هر څومره اخلاقي شي، ليکن د هغه کفر هم جهنم ته د داخلېدو لپاره بس دی، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې الله ﷻ فرمايي: "فلا نقيم لهم يوم القيامة وزناً" مونږ به دوی ته د قيامت په ورځ تله د ميزان قائمه نه کړو.

إن اللّٰــه يبغض الفاحش البذي: کوم کس چې بې حياء خبرې کوي، د داسې کس سره الله ﷻ بغض کوي، علامه نووي ﷫ د (البذي) ترجمه په بې شرمه خبرو سره کړې ده، شيخ عبدالحق محدث دهلوي ﷫ ددې ترجمه په بې هوده خبرو سره کړې ده او ملا علي قاري ﷫ د (البذي) ترجمه په بدو اخلاقو او بد زباني سره کړې ده، همدغه معنی بې مناسب ده، ځکه چې اول د ښکلي اخلاقو ذکر وو، اوس ددې په مقابله کې د بدو اخلاقو بيان کېږي، نو لکه څرنګه چې د ښو اخلاقو وزن د قيامت په ورځ دروند وي، نو ددې په مقابل کې د بدو اخلاقو وزن د قيامت په ورځ سپك وي

متقي او پرهېزګار به جنت ته ځي

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: سُئِلَ رسولُ الله ﷺ عَنْ أكثرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الجَنَّةَ؟ قَالَ: تَقْوَى اللهِ وَحُسْنُ الخُلُقِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې کوم خلك به ډېر زيات جنت ته ځي؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه خلك به ډېر زيات جنت ته داخلېږي چې اخلاق يې ښکلي وي او د الله ﷻ نه يې په زړه کې ويره وي، "وَسُئِلَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ، فَقَالَ: الفَمُ وَالفَرْجُ" او بيا

ترې وشوه چې د کوم عمل په ذريعه به خلک جهنم ته داخليږي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د خولې او فرج (عورت) له امله به ډېر زيات خلک جهنم ته داخليږي "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: دا ډېر زيات جامع حديث دى، (تقوى الله) د الله ﷻ نه وېره، په دا کې چې څومره وېره وي هغومره به دده تعلق د الله ﷻ سره زيات وي، ښکلي اخلاق، کله چې دا دواړه خبرې په يو انسان کې جمع شي، نو هغه به نه په حقوق الله کې کمى کوي او نه به په حقوق العباد کې، ددې دواړو مجموعي نوم اسلام دى، په دې وجه به ددې صفاتو والا خلک په جنت کې زيات وي

"وسئل عن اكثر ما يدخل الناس فقال الفم والفرج": پوښتنه وشوه چې په کوم عمل سره به انسان زيات جهنم ته ځي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د خولې او عورت په وجه، د خولې په وجه خو ځکه چې ددې په ذريعه غيبتونه، دروغ، قسمونه، بې هوده خبرې او خداى مه کړه د کفر کلمې ويل کيږي او د عورت په وجه بيا ځکه چې زنا حرامه ده او خداى مه کړه يو انسان زنا وکړي، په دې سره به د جهنم مستحق کرځي

د حديث نه سبق:

هر انسان ته پکار ده چې په ځان کې دغه دوه ښکلي صفتونه پيدا کړي، يو د الله ﷻ نه وېره ده، دويم ښکلي اخلاق دي او بل په دوه شيانو باندې ضبط راولي، يو خوله بې ځايه نه استعمالول، دويم د عورت ساتل

تر ټولو غوره انسان

"وعنه قال: قال رسول الله ﷺ: أَكْمَلُ الْمُؤمِنِينَ إِيمَاناً أَحْسَنُهُمْ خُلُقاً" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کامل مؤمنان هغه خلک دي چې اخلاق يې ښکلي وي. "وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ" او په تاسو کې غوره خلک هغه دي چې د خپلو ښځو سره ښه وي. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: حسن بصري رحمه الله او عبد الله بن مبارک رحمه الله فرمايي چې ښکلي اخلاق دي ته وايي چې ته د خلکو سره په روڼ تندي ملاو شې، تکليف ورکونکي شيانو ته يې ماتحت الاسباب بچ کړې. په کنز العمال کې د ابن عمر ﷺ نه نقل دي چې مکارم اخلاق دې ته وايي چې د الله ﷻ د رضا په خاطر د يو بل سره ملاقات وشي، د راتلونکي سړي اکرام وکړې، الله ﷻ چې څه درکړي وي، اګر چې هغه يو غرپ اوبه ولې نه وي، په دې باندې قناعت کول. دا ټول په ښکلي اخلاقو کې شامل دي او ابو العباس ابن احمد رحمه الله فرمايي: کوم کس ته چې الله ﷻ اوچت مقام ورکړى وي، هغه يې صرف او صرف په ښکلي اخلاقو سره ورکړى دى

خيارکم لنسائهم: علماء فرمايي: د خپلو ښځو سره ښه سلوک او د هغوى غلطۍ معاف کول د انبياء عليهم السلام او اولياء الله شان دى

د توليٰ شپې عبادت او د ورځې روژه برابر ثواب

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقول: ((إنَّ المُؤمنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الصَّائِمِ القَائِمِ))
د عائشې ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چې فرمايل يې: مؤمن سړی د ښکلي اخلاقو په وجه داسې درجه او مقام خپلوي څومره درجه او مقام چې د روژه دار او د تهجد کوونکي وي. رواه أبوداود

تشريح: مسلمان سړی د ښکلي اخلاقو په وجه هغه درجه مونډلی شي کومه درجه چې يو روژه دار او د شپې عبادت کونکي سړي ته ملاويږي، د روژه دار نه مراد هغه سړی دی چې نفلي روژې نيسي او د شپې عبادت کوونکي نه مراد تهجد کوونکی انسان دی، ليکن د دې بالمقابل که يو کس نفلي روژې هم کمې نيسي، دغه شان د شپې عبادت هم لږ کوي، ليکن اخلاق يې ښکلي دي، د دې اخلاقو په برکت به هغه ته الله ﷻ هغه مقام او درجه ورپه برخه کړي چې يو نفلي روژه نيوونکي يا نفلي عبادت کونکي ته حاصليږي.

د ښکلي اخلاق والا لپاره ضمانت

"وعن أبي أمامة الباهلي ؓ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: أنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ في رَبَضِ الجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ المِرَاءَ، وَإنْ كَانَ مُحِقّاً" د ابو امامة باهلي ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د هغه سړي لپاره د جنت په غاړه کې د کور ذمه وار يم چې جګړه پريږدي، اګر چې په حقه وي، "وَبِبَيْتٍ في وَسَطِ الجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الكَذِبَ" او په جنت کې د کور ذمه وار يم د هغه کس لپاره چې دروغ پريږدي، "وَإنْ كَانَ مَازِحاً" اګر چې دا دروغ په ټوقه سره هم وي، "وَبِبَيْتٍ في أعْلَى الجَنَّةِ لِمَنْ حَسُنَ خُلُقُهُ" او په جنت کې په اوچته درجه کې ورته د کور ذمه وار يم چې خپل اخلاق ښکلي کړي، "حديث صحيح، رواه أَبُو داود بإسناد صحيح" دا حديث صحيح دی. امام ابوداود رحمه الله په صحيح سند سره روايت کړی دی.

"الزَّعِيمُ: الضَّامِنُ" د الزعيم او ضامن معنی ده: ذمه وار.

تشريح: په دې حديث کې درې قسمه خلکو ته د جنت ضمانت ورکړل شوی دی، اول هغه کس چې جګړه پريږدي، اګر چې هغه په حق باندې ولې نه وي، ليکن په دې شرط چې د جګړې پرېښودو په وجه دين ته نقصان نه رسيږي، که په چوپ پاتې کېدو کې دين ته نقصان رسيږي، نو بيا ورته چوپ کېښستل حرام دي، امام شافعي رحمه الله فرمايي: زه په کومه ديني معامله کې بحث او مباحثه د دې مقصد نه پرته په بله وجه نه کوم چې بس صرف حق ثابت شي، جګړه کول مې کله هم مقصد نه وي. خلاصه دا چې جګړه ختمېدو لپاره بايد انسان د خپل حق نه هم تېر شي.

لمن ترك الكذب: دويم هغه کس چې دروغ پريږدي، اګرچې په ټوقو کې ولې نه وي، ليکن د دې نه يو څو ځايونه مستثنی دي، اول د خلکو ترمنځ صلحه کول، د جنګ په ميدان کې د مسلمانانو مال بچ کول

حسن خلقه: ښکلي اخلاق بيې وي، په دې توګه کې به د ښکلي اخلاقو اهميت زيات وي. ځکه چې جګړه، ختمول او دروغ نه ويل په ښکلي اخلاقو کې داخل دي، بل دا عملونه بې له ښکلي اخلاقو کېدی نشي، نو ځکه ښکلي اخلاق د نيکو اعمالو لپاره بنياد دی، همدا وجه ده چې ښکلي اخلاق انسان ته په جنت کې لوړ مقام ورکوي

ښکلي اخلاق به د قيامت په ورځ هم محبوب وي

"وعن جابر ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ، وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِساً يَوْمَ الْقِيَامَةِ، أَحَاسِنَكُمْ أَخْلَاقاً" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي په تاسو کې ما ته خوښ کس او په قيامت کې به زما سره په مجلس کې نزدې هغه کس وي چې اخلاق يې ښکلي وي، "وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي يَوْمَ الْقِيَامَةِ" او په تاسو کې چې زما ډېر زيات بدې راځي او د قيامت په ورځ به هم زما څخه د مجلس په حيثيت سره ډېر زيات لرې وي دا هغه کس دی چې "الثَّرْثَارُونَ" ډېر زيات خبر لوڅ يعنې ډېرې زياتې خبرې کوي، "وَالْمُتَشَدِّقُونَ" په تکلف سره خبرې کونکی وي، "وَالْمُتَفَيْهِقُونَ" او متفيقهون مغرور دي، "قَالُوا: يَا رسول الله، قَدْ عَلِمْنَا ((الثَّرْثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ))، فَمَا الْمُتَفَيْهِقُونَ؟" صحابه کرامو وفرمايل يا رسول الله ﷺ موږ خو (الثرثارون) او (المتشدقون) پېژنو، ليکن (متفيقهون) څوک دي؟ "قَالَ: الْمُتَكَبِّرُونَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا متکبرين دي "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

"الثَّرْثَارُ: هُوَ كَثِيرُ الْكَلَامِ تَكَلُّفاً" د (الثرثار) معنی ده: په تکلف سره زياتې خبرې کول، "وَالْمُتَشَدِّقُ: الْمُتَطَاوِلُ عَلَى النَّاسِ بِكَلَامِهِ، وَيَتَكَلَّمُ بِمِلْءِ فِيهِ تَفَاصُحاً وَتَعْظِيماً لِكَلَامِهِ" په ډېر فخر او کبر سره خلکو ته دا ونښيي چې ښه ژوره بنيادي او د مقصد نه ډکه خبره کوي، "وَالْمُتَفَيْهِقُ: أَصْلُهُ مِنَ الْفَهْقِ وَهُوَ الامْتِلَاءُ، وَهُوَ الَّذِي يَمْلأُ فَمَهُ بِالْكَلَامِ وَيَتَوَسَّعُ فِيهِ، وَيُغْرِبُ بِهِ تَكَبُّراً وَارْتِفَاعاً، وَإِظْهَاراً لِلْفَضِيلَةِ عَلَى غَيْرِهِ" يعنې په ډکه خوله غټه خبره کوي، په مزه مزه خپله لويي او مرتبه ښکاره کولو لپاره خپل صفتونه بيانوي او رعب اچولو لپاره خبره کوي

"وروى الترمذي عن عبد الله بن المبارك رحمه الله في تفسير حُسْنِ الْخُلُقِ، قَالَ: ((هُوَ طَلَاقَةُ الْوَجْهِ، وَبَذْلُ الْمَعْرُوفِ، وَكَفُّ الأَذَى" امام ترمذي رحمه الله د عبد الله بن المبارك رحمه الله نه روايت کړی دی د حسن اخلاق په تفسير کې وايي چې حسن اخلاق دې ته ويل کيږي چې ته د خپل مسلمان ورور سره په روڼ تندي مخامخ شې او نېکو کارونو کې خپل طاقت خرچ کړې او د ضرر او تکليف رسولو نه ځان بچ کړې

د ښکلي اخلاقو لس علامې:

علامه سيوطي رحمه الله د ښکلي اخلاقو لس علامې ښودلي دي، لکه څرنګه چې (باب حسن الخلق ختميږي، نو پکار ده چې هر انسان د خپل ځان جائزه واخلي چې ايا په ما کې ښکلي اخلاق شته او که نه؟

(۱) جګړې کمې کوي، (۲) په انصاف سره خبرې کوي، (۳) د خلکو غلطيو ته به نظر نه کوي، (۴) هغه به په بدی کې د ښه والي نظر کوي، (۵) هغه به د معذرت طلب کوي، (۶) هغه به د خلکو په تکليفونو

او اذيتونو باندې صبر كوي، (۷) هغه به خپل نفس ملامتوي، (۸) د بل عيب به پټوي او په خپل عيب به يې نظر وي، (۹) د هر وروكي او مشر سره به په خندا او روڼ تندي ملاقات كوي، (۱۰) د هر چا سره به په نرمۍ خبرې كوي، كه مشر وي او كه كشر وي.

باب الحلم والأناة والرفق

بردباري، ښه عادت او د هوښياري بيان

"قَالَ اللّٰـــه تعالى" الله ﷻ فرمايي "وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ" او غوسه ښېونكي خلك او خلكو ته درګزر او عفوه كونكي، "وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ" او الله ﷻ د نيكو خلكو سره مينه كوي [آل عمران:۱۳۴]

د معافۍ فضيلتونه:

د آيت مطلب دا دى چې څوك خلكو ته معافي كوي، د دوى له غلطيو څخه تيرېږي، د معاف كولو ډېر زيات فضيلتونه وارد شوي دي، مثلاً په دې حديث كې: "من سره أن يشرف له البنيان وترفع له الدرجات فليعف عن من ظلمه ويعط من حرمه ويصل من قطعه" څوك چې غواړي چې هغه ته دې په جنت كې لوړې لوړې بنګلې وي نو هغه ته پكار دي چې چا ورباندې ظلم كړى وي، معاف يې كړي او چا چې څه نه دي وركړي هغه ته يې وركړي او چا چې ورسره تعلق قطع كړى وي، خپلوي او صله رحمي ورسره وكړي

په يو بل روايت كې دي چې: د قيامت په ورځ به اعلان وشي: څوك چې په الله ﷻ باندې حق لري، هغه دې پورته شي، په دې وخت كې به هغه خلك پورته شي چې د خلكو په ظلمونو يې صبر كړى دى او هغوى يې معاف كړي دي.

معافي او د نېك عمل حكم:

"وقال تعالى": الله ﷻ فرمايي: "خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ" خلكو ته عفوه كوه او خلكو ته په نېك كار سره امر كوه او د جاهلو خلكو څخه اعراض وكړه! [الأعراف:۱۹۹]

تشريح په دې آيت كې د ښكلي اخلاقو خپلولو هدايت شوى دى، "خذ العفو" تاسو هغه شيان قبول كړئ چې خلك يې په اسانۍ سره كولى شي، علامه ابن كثير رحمه الله فرمايي: د دې آيت نازلېدو وروسته نبي كريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ د خلكو په اعمالو او اخلاقو كې د سرسري اطاعت په وجه د قبلېدو حكم وركړى دى، ما عزم كړى دى چې تر څو زه په دې خلكو كې يم، زه به د دوى سره هم دغسې عمل كوم، ځينې خلك وايي: د عفو معنى ده: معافي كول، بخښنه كول او ځينې مفسرين فرمايي: كله چې دا ايت نازل شو، نو رسول الله ﷺ د دې آيت مطلب پوښتنه د جبرائيل عليه السلام نه وكړه، جبرائيل عليه السلام د الله ﷻ نه پوښتنه وكړه، الله ﷻ ورته وفرمايل: كوم كس چې درسره ظلم وكړي، هغه معاف كړه! او څوك چې ستا سره تعلق قطع كوي، يعنې خپلوي درسره څوك چې څه نه دركوي، هغه ته څه وركړه!

ختموي، نه د هغوی سره تعلق مه ختموه!

وأمر بالعرف: مطلب دا چې کوم خلك ستاسو سره سختي کوي، ظلم درسره کوي، تاسو د هغوی نه بدله مه اخلئ: "واعرض عن الجاهلين" مطلب دا چې د جاهلانو نه ځان په څنګ کړه، د ظلم انتقام مه اخله، بلکې خيرخواهي ورسره وکړه، علامه ابن کثير رحمه الله فرمايي د اعراض مطلب دا دی چې تاسو هغوی ته د بدی بدله په بدی سره مه ورکوئ؛ ليکن ددې دا مطلب هم نه دی چې تاسوهغوی ته هدايت هم مه بيانوئ؛ نه؛ بلکې دوی ته هدايت بيان کړئ؛ ځکه چې دا د نبوت په فرائضو کې داخل حکم دی

بدي په ښه والي سره ختمه کړه!

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ" نېك او بد اعمال برابر نه دي. "ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ" ته په هغه طريقه دفاع وکړه کومه چې ښايسته وي، نو ناڅاپه هغه کس چې ستا دښمن وي، هغه به دې سخت خوږ ملګری جوړ شي، "وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ" او ددې لوی خصلت سره نه مخامخ کيږي، مګر صبر کونکي خلك او ددې خصلت سره نه مخامخ کيږي مګر هغه خلك چې د لويې حصې خاوندان دي [فصلت:۳۴-۳۵]

تشريح: ولا تستوي الحسنة ولا السيئة: په دې آيت کې د دين کار کونکو لپاره يو ځانګړی هدايت بيان شوی دی، هغه دا چې د بدی بدله په بدی سره کله هم مه ورکوئ، د همېش لپاره د بدی بدله په صبر او احسان سره ورکوئ، "ادفع بالتي هي احسن" د بدی بدله بايد په نېکی سره ورکړی شي، دا يو نېك عمل دی، ددې سره سره بايد د احسان معامله وشي چې دا عمل احسن دی او په آيت کې هم د احسن عمل ترغيب ورکول شوی دی.

مفسر قرآن ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: په دې آيت کې اشاره ده دې خبرې ته چې: څوك درباندې غوسه وکړي، ته درباندې صبر وکړه او کوم کس چې درسره جهالت او د ناپوهی په شکل مخامخ کيږي، نو ته ورسره په نرمه چليږه او څوك چې درسره سختي کوي، هغه معاف کړه؛ "فاذا الذی بينك وبينه عداوة کانه ولی حميم" که معاف دې کړو، نو هغه به ستا ډېر ګران ملګری جوړ شي، هغه به خيله وشرميږي او بيا به د همېش لپاره ستا تابعدار جوړ شي

معافي د لوړهمته خلکو کار دی:

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ" او څوك چې صبر وکړي او بخښش وکړي، بې شکه دا کارونه د ډېر لوی همت والا دي [الشورى:۴۳].

تشريح: په دې آيت کې دې خبرې ته ترغيب ورکولی شي چې څوك درباندې ظلم وکړي، ته په هغوی باندې ظلم مه کوه؛ بلکې صبر کوه، د بدلې اخيستلو په ځای يې معاف کړه، د صبر کولو ډېر زيات ترغيبونه راغلي دي، "إن ذالك لمن عزم الأمور" د عزم معنی ده: مطلوب، مطلوب دا دی چې د الله

ﷻ په نزد يو داسې كس په افضل الناس كې حسابيږي، مقاتل رحمه الله فرمايي: مطلب دا دى چې صبر كول په هغو كارونو كې راځي چې الله ﷻ يې حكم وركړى وي، معافي د لوى همت ښښتنا كوي، هر سړى معافي نه شي كولى.

الله ﷻ ته دوه خصلتونه ډېر خوښ دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ لأَشَجِّ عَبْدِ القَيْسِ: إنَّ فِيكَ خَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللهُ: الْحِلْمُ وَالأَنَاةُ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ عبد القيس قبيلې ته وفرمايل په تاسو كې داسې دوه صفتونه او خصلتونه دي چې الله ﷻ دواړه ډېر زيات خوښوي، يو بردبارى او بل صبر دى. رواه مسلم

تشريح: اشج عبد القيس: مشر يې اشج عبد القيس وو، دده خپل نوم منذر بن عائذ يا منقذ بن عائذ ؤ

د مسلما نېدو واقعه:

محدثين ليكي چې منذر بن عائذ د خپل (زوم) منقذ بن حيان په لاس مسلمان شو، د مسلمانېدو واقعه يې دا ده چې: د دوى زوم بحرين په غټو تاجرانو كې شمار ؤ، يو ځل د تجارت په غرض مدينې منورې ته راغلو، رسول الله ﷺ د دوى سره ډېر زيات شفقت وكړو، د منقذ بن حيان د قبيلې د مشرانو نومونه يې په تفصيل سره وښودل، نو هغه ډېر حيران شو چې رسول الله ﷺ بحرين ته كله راغلى هم نه دى، نو بيا څنګه زما د قوم مشرانو نومونه ورته ياد دي، رسول الله ﷺ ته څنګه د حالاتو پته ولګېده. په دې وجه منذر مسلمان شو، د دوى د سردار اشج په نوم يې خط وليكلو، په شروع كې هغوى اسلام پټ ساتلو، پټ اودس به يې وكړو او لمونځ به يې كولو، يو ځل يې خپلې مېرمنې په لمونځ باندې وليدو، نو خپل پلار اشج ته يې ووېل هغه تحقيق وكړو، نو زوم يې منقذ بن عائذ رضي الله عنه ورته ټوله خبره وكړه، په دې باندې د دوى رضي الله عنه خسر اشج بن عبد القيس هم مسلمان شو، بيا اشج پوره قافله د ځان سره كړه او د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شول او اسلام يې راوړو، دا قافله په وفد عبد القيس باندې په حديثونو كې مشهوره ده.

په اشج رضي الله عنه كې دوه خصلتونه وو:

زرقاني رحمه الله ليكلي كله چې دا وفد د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شو، نو د ټولې قافلې خلك په ډېر شوق او په منډه د رسول الله ﷺ ملاقات ته راغلل، د هغه لاسونه مبارك يې ښكلول شروع كړه، ليكن اشج رضي الله عنه چې ځوان هم ؤ، مشر هم ؤ، هغه د ټولو خلكو اوښان وتړل، غسل يې وكړو، تازه جوړه يې واغوسته، بيا د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شو، كله چې رسول الله ﷺ وليدلو، نو اشج رضي الله عنه ووېل: يارسول الله ﷺ! د انسان قدر صرف د بدن په ساخت نه دى، بلكې په دوه وړوكي شيانو باندې دى چې يو زړه دى او بل ژبه ده، ددې نه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل په تا كې دوه خصلتونه دي چې الله ﷻ او رسول الله ﷺ ته خوښ دي، يوه هوښيارى او بل نرمي، بيا اشج رضي الله عنه

پوښتنه وکړه چې يا رسول اللهﷺ په ما کې دا خصلتونه پيدايشي دي او که زما په خپل کوشش سره راغلي دي؟ نبي کريمﷺ وفرمايل: نه! پيدايشي دي

الله ﷻ خپله نرم دی او نرمي خوښوي

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قَالَ رسول الله ﷺ: إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: الله ﷻ نرمي کوونکی ذات دی او په هر کار کې الله ﷻ نرمي خوښوي. متفقٌ عليه

تشريح ان الله رفيق يحب الرفق: الله ﷻ خپله هم نرمي کونکی دی او نرمي خوښوي، علماء فرمايي رفق د عنف ضد دی، د رفق معنی ده: نرمي کول، يو انسان چې د خپلو ملګرو سره نرم خوی او ښه رويه کوي، هر کار په پوره اطمينان او ښکلي طريقې سره کوي، ددې ټولو مجموعې نوم نرمي ده، محدثين فرمايي: د پورتني حديث مطلب هم دا دی چې الله ﷻ نرمي او مهرباني خوښوي، دا هر څه د بنده په حق کې ښه دي، هغوی دې په خپلو کې مهرباني او شفقت سره ژوند تېر کړي، که داسې ژوند شي، نو معاشره به ډېره خوندوره شي، بيا په داسې معاشره باندې د الله ﷻ له لورې خير او برکتونه نازليږي او د الله ﷻ د نعمتونو نزول به پرې کيږي

الله ﷻ چې په نرمی څه ورکوي، په سختی يې نه ورکوي

"وعنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: الله ﷻ نرمي کوونکی ذات دی او نرمي خوښوي. "وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ، مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ" او الله ﷻ په نرمي کولو سره چې څه ورکوي (يعنې اجر او ثواب) په تيزی سره يې نه ورکوي، "وَمَا لَا يُعْطِي عَلَى مَا سِوَاهُ" او دغسې په نورو شيانو باندې هم الله ﷻ دومره اجر نه ورکوي رواه مسلم

تشريح ان الله رفيق يحب الرفق: د نرمی ضد سختي ده، الله ﷻ د انسانانو ترمينځ هم سختي نه خوښوي، بلکې نرمي خوښوي، ليکن که معامله د دين راشي او کله چې د الله ﷻ حدود ماتيږي، نو بيا په داسې حالت کې د نرمی په ځای سختي پکار ده، په داسې حال کې الله ﷻ ته نرمي خوښه نه ده.

ويعطي على الرفق مالا يعطي العنف: په نرمی سره چې الله ﷻ خلکو ته څه ورکوي په سختی سره يې کله هم نه ورکوي، دا جمله هم د وړاندې جملې لپاره تاکيد او وضاحت دی، ددې خبرې تاکيد کوي چې انسانانو ته پکار ده چې په خپلو دنيوي مقاصدو کې نرم خوی او د مهربانی لحاظ وساتي، ځکه چې انسان ته په حقيقت کې ورکوونکی ذات الله ﷻ دی او الله ﷻ ته نرمي او مهرباني خوښه ده. نو ځکه الله ﷻ په نرمی او مهربانی سره انسانانو ته هغه څه ورکوي چې په سختی او په بد خوی يې نه ورکوي

په کوم شي کې چې نرمي وي، هغه ښايسته شي

"وعنها: أَنَّ النبيَّ ﷺ، قَالَ: إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ" د عايشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل نرمي په يو شي کې نه راځي، مګر دا چې هغه شی ښايسته کوي. "وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ" او د کوم شي څخه چې نرمي ورکه شي، هغه شی عيب دار شي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

زانه: زان يزين زيناً مزين کېدل، ښايسته کېدل

تشريح ان الرفق لا يکون فی شئ الا زانه: په کوم کار کې چې نرمي راشي هغه ورسره ښايسته شي. علماء فرمايي: نرمي داسې زېور دی چې په کوم شي کې راشي هغه د ټولو خلکو په نظر کې ګران قيمته او مقبول شي، داسې کس چې په هغه کې نرمي وي هغه د الله ﷻ په نزد هم عزيز او مقبول شي. کوم کس چې په نرمی سره ښايسته نه وي، نو داسې کس د خلکو په نظر کې هم عيب دار وي او عند الله هم ناخوښ وي، نو ځکه نرمي په مکارم الاخلاق کې حسابيږي

په جومات کې يو کوچي متيازې وکړې

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: بَالَ أَعْرَابِيٌّ فِي المسجدِ، فَقَامَ النَّاسُ إِلَيْهِ لِيَقَعُوا فِيهِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کوچي نبوي جومات ته راغلو، په هغې کې يې تش اودس مات کړو. صحابه کرامو اراده وکړه چې هغه کس ووهي؛ "فَقَالَ النبيُّ ﷺ دَعُوهُ وَأَرِيقُوا عَلَى بَوْلِهِ سَجْلاً مِنْ مَاءٍ، أَوْ ذَنُوباً مِنْ مَاءٍ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا کس پرېږدئ او د هغه په متيازو باندې يوه بوقه؛ سلواغه اوبه واچوئ او يا يې داسې وفرمايل: يوه بوقه؛ سلواغه اوبه پرې واچوئ! "فَإِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِينَ وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِينَ" نبي کريم ﷺ بيا وفرمايل: بې شکه تاسو الله ﷻ اسانې کونکي رالېږلي يئ او سختي کونکي يې نه ياست رالېږلي رواه البخاري.

"السَّجْلُ: بفتح السين المهملة وإسكان الجيم: وَهِيَ الدَّلْوُ الْمُمْتَلِئَةُ مَاءً، وَكَذلِكَ الذَّنُوبُ" د (السجل) معنی ده بوقه؛ سلواغه، کومه چې د اوبو نه ډکه وي او دا رنګه د (الذنوب) معنی هم ده.

تشريح بال اعرابی فی المسجد: يو کوچي په جومات کې متيازې وکړې. ددې صحابي رضي الله عنه نوم څه وو؟ دې باره کې د محدثينو اختلاف دی، ځينې اقرع بن حابس تميمي يادوي، ځينې عيينه بن حصين يادوي او ځينو ذو الخويصرة يماني ښودلی دی. "وأريقوا علی بوله سجلا من ماء" د هغه په متيازو باندې يوه بوقه اوبه واچوئ!

د ځمکې پاکولو طريقه:

که ځمکه ناپاکه شي، نو د پاکۍ طريقه يې څه ده؟ په دې حديث کې په ځمکه باندې اوبو توېولو سره د پاکېدو حکم شوی دی، په دې اړه د فقهاوو دوه مذهبه دي

لومړی مذهب د امام مالك رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله دی. دوی
وايي کله چې يو ځل ځمکه مرداره شي، نو د اوبو څخه بغير په بل شي باندې نه پاکېږي. خامخا به
يې په اوبو باندې پاکوي.

دويم مذهب د امام ابوحنيفه رحمه الله دی، امام صاحب رحمه الله فرمايي د ځمکې د پاکوالي
طريقې مختلفې دي: بايد په اوبو ووينځل شي، ناپاکه خاوره دې وغورځوي او په دغه ځای دې پاکه
خاوره واچول شي، د ګرمۍ په موسم کې چې ځمکه وچه شي، بيا هم پاکېږي.

د لومړي مذهب والاوو استدلال:

د اولني مذهب استدلال دغه پورتنۍ حديث دی چې رسول الله ﷺ په متيازو باندې د اوبو
اچولو حکم وکړو.

د دويم مذهب والاوو استدلال:

د دويم مذهب والاوو استدلال د بخاري شريف په حديث دی، فرمايي "كانت الكلاب تقبل وتدبر في
المسجد في زمان رسول الله ﷺ فلم يكونوا يرشون شيئا من ذالك" د نبي کريم ﷺ په زمانه کې به سپي په جومات کې
تلل راتلل، ليکن ددې باوجود به په جومات کې اوبه نه شوی تويولی. په ځينو رواياتو کې راځي چې
"كانت الكلاب تبول" سپيو به متيازې هم کولې، ددې هر څه باوجود په ځمکه باندې اوبه نه شوی
تويولې. شوافعو او حنابله وو ته جواب دا دی چې په دې حديث کې د ځمکې يوه طريقه بيان شوی
ده، دا خو موږ هم منو. ليکن په دې حديث کې د نورو طريقو څخه نفي نه ده راغلې. بس په کومه
طريقه چې ځمکه پاکه شي، بايد پاکه يې کړي، ځينې علماء فرمايي د لمانځه وخت وو، نو ځکه
رسول الله ﷺ په تيزۍ سره د پاکوالي حکم ورکړو.

الله جل جلاله تاسو اساني کوونکي پيدا کړي يئ !

فانما بعثتم ميسرين ولم تبعثوا معسرين: ځکه چې الله جل جلاله تاسو اساني کونکي پيدا کړي يئ او سختي
کونکي يې نه يئ پيدا کړي، په دې جمله کې د رسول الله ﷺ امت ته خاص خطاب دی چې د هغوی
شعار به دا وي چې دوی به د چا سره سختي نه کوي، نرمي به کوي، الله جل جلاله به خاص د همدې لپاره
پيدا کړي وي چې دوی به د چا سره سختي نه کوي، علماء فرمايي په دې جمله کې د دين داعيانو ته
يو لوی سبق پروت دی

زيرې ورکوئ ! کرکې مه خپروئ !

"وعن أنس رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قال: يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول
الله ﷺ وفرمايل اساني کوئ او سختي مه کوئ "وَبَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا" او خلکو ته زيرې ورکوئ، نفرتونه مه
خپروئ. متفق عليه

تشريح يسروا ولا تعسروا: اساني کوئ سختي مه کوئ، په دې حديث کې هم د دين کار کونکو ته يو

اصول ښودل شوی چې د دعوت کار کوونکي به نرمي کوي، د چا سره به سختي نه کوي، په نرمي او اسانی سره انسانان په خپلو کې يو ځای کېدی شي، که سختي دي وکړه، نو په ځای ددې چې هدايت ورته وشي نور هم د هدايت نه لرې کيږي، بل دا چې داعي به بيا د دين کار ونه کړی شي، بلکه دا چې تبليغ طريقه بايد داسې وي چې ټول بشارتونه پکې وي، زيري وي، نفرتونه او کرکې پکې نه وي

څوک چې د نرمی څخه محروم شول، د ټول خير څخه محروم شول

"وعن جرير بن عبد الله رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ اللهِ ﷺ، يقولُ: مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ، يُحْرَمِ الخَيْرَ كُلَّهُ" د جرير بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل. فرمايل يې: کوم کس چې د نرمی نه محرومه شي دا داسې ده لکه د ټول خير نه چې محرومه شي. رواه مسلم

تشريح: د حديث مطلب هم دا دی چې څوك د نرمی، مهربانی او خوبی څخه محرومه شو، نو هغه د ټولو ښېګڼو څخه محرومه شو، په دې حديث کې هم د نرمی او ښکلي اخلاقو فضيلت بيان شوی دی.

نبي کريم ﷺ نصيحت وکړو چې غوسه مه کوئ!

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رَجُلاً قَالَ للنَّبيِّ ﷺ: أَوْصِنِي، قَالَ: ((لاَ تَغْضَبْ))، فَرَدَّدَ مِرَاراً، قَالَ: لاَ تَغْضَبْ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه يو کس پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ ماته وصيت وکړئ! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل. غوسه مه کوئ! دا خبره يې څو ځله تکرار کړه چې غوسه مه کوئ! رواه البخاري

تشريح: دا حديث وړاندې ذکر شوی دی، علامه نووي رحمه الله دلته يو ځل بيا ذکر کړو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې انسان ته پکار دي چې دعوت او تبليغ وکړي، خو وخت او حالات به ګوري، کله چې رسول الله ﷺ محسوسه کړه چې په دې سړي کې ډېره غوسه ده، په دې وجه رسول الله ﷺ ورته بار بار وفرمايل: غوسه مه کوه!

په هر شي کې الله ﷻ ښه سلوك خوښوي

"وعن أبي يعلى شَدَّاد بن أوس رضي الله عنه، عن رسول الله ﷺ، قَالَ: ((إنَّ اللهَ كَتَبَ الإحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيءٍ، فَإذَا قَتَلْتُمْ فَأحْسِنُوا القِتْلَةَ" د ابو يعلى شداد بن اوس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې الله ﷻ په هر کار کې احسان او ښه طريقه ضروري ګرځولې ده، بس کله چې تاسو قتل کوئ (يعنې که په جهاد سره وي او که په قصاص سره وي) نو په ښه طريقه قتل کوئ! "وَإذَا ذَبَحْتُمْ فَأحْسِنُوا الذِّبْحَة" او کله چې تاسو ذبح يا قرباني کوئ، نو په ښه طريقه يې ذبح کوئ "وَلْيُحِدَّ أحَدُكُمْ شَفْرَتَه، وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ" او تاسو چاړه ښه تيره کوئ څکه چې بيا ځاروي ته پکې ډېر تکليف نه وي. رواه مسلم

تشريح: فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة: کله چې تاسو قتل کوئ، نو په ښه طريقه يې قتل کوئ، ددې مطلب دا دی چې تاسو کله هم د قاتل نه قصاص اخلئ او هغه قتل کوئ يا د جنګ په ميدان کې دښمن قتل

کوي، نو په داسې وخت کې هم اسلام د عدل او انصاف حکم کوي، مجرم او دښمن داسې قتل کړه چې ځړه د حد نه زياته نه وي، لکه په اسلام کې چې د مړي مثله حرامه ده يا چې کله قصاص اخلئ نو هم په په طريقه قصاص اخلئ، که سر بې په توره غوڅوئ، نو بايد تېره توره وي چې په يو وار سره ترې سر پرې شي

واذا ذبحتم فاحسنوا الذبحة: کله چې کوم ځاروی ذبح کوئ، نو په ښه طريقه يې ذبحه کړئ، ددې ځلي مطلب دا هم دی چې کله تاسو ځاروی حلالوئ نو چاقو او چاړه بايد ښه تېره وي، ددې لپاره چې بحه زر وشي او په ذبحه کې ورته زيات تکليف نه وي او د ځاروي نه روح زر ووځي. که چاړه او چاقو پڅ وي، نو د ذبح په دوران کې به ځاروي ته پوره تکليف وي.

نبي کريم ﷺ به آسان کار اختيارولو

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: مَا خُيِّرَ رسول الله ﷺ بَيْنَ أَمْرَيْنِ قَطُّ إِلاَّ أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا، مَا لَمْ يَكُنْ إِثْماً" د عائشه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته په دوه کارونو کې اختيار نه دی ورکړی شوی، مګر دا چې آسان کار يې ورته اختيار کړی دی ترکومه چې هغه کار ګناه والا نه وي، "فَإِنْ كَانَ إِثْماً، كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ" او که چېرته به هغه کار د ګناه وو، نو بيا به د هغه کار څخه ډېر زيات لرې کېدونکی وو، "وَمَا انْتَقَمَ رسول الله ﷺ لِنَفْسِهِ فِي شَيْءٍ قَطُّ" او رسول الله ﷺ چېرته هم د ځان لپاره د چانه بدله نه ده اخيستې، "إِلاَّ أَنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ الله" مګر دا چې کله به د الله ﷻ يو حکم ماتېدو، "فَيَنْتَقِمَ لِلَّهِ تَعَالَى" نو بيا به يې د الله ﷻ لپاره انتقام اخيستلو **مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ**

تشريح: ما خير رسول الله ﷺ بين أمرين قط إلا أخذ أيسرهما: کله چې هم رسول الله ﷺ ته په دوه کارونو کې اختيار ورکړی شوی دی نو په دې کې چې به کوم زيات آسان ؤ، هغه به يې اختيار کړو، مطلب دا چې کله هم رسول الله ﷺ ته په دوه کارونو کې اختيار ورکړی شوی وي چې په دې کې يو کار خوښ کړه؛ کوم چې ستا خوښ وي؟ مثلاً: د صلح او جنګ ترمينځ به اختيار ورکړی شو، نو صلحه به يې کول. ليکن په دې شرط چې په دې کې به د مسلمانانو او اسلام خير ؤ، د الله ﷻ نافرماني به پکې نه وه، همدا درس رسول الله ﷺ خپل امت ته هم ښودلی دی چې کله هم دوه خبرې يا کارونه درته مخې ته راشي، نو په دې کې چې کوم آسان وي، هغه اختيار کړئ، خو په دې شرط چې کوم شرعي قباحت پکې نه وي

رسول الله ﷺ خپل ځان ته کله هم بدله نه ده اخيستې:

وما انتقم رسول الله ﷺ لنفسه في شئ قط: رسول الله ﷺ کله هم د ځان لپاره د چا څخه بدله نه ده اخيستې. هر قسم معامله چې به هم وه، ددې مطلب دا دی چې د رسول الله ﷺ دومره اوچت او لوړ اخلاق وو چې کله بې هم د خپل ځان لپاره د چا څخه بدله نه ده اخيستې، هر که چېرته به د الله ﷻ حرام شوي شيانو ارتکاب وکړو، نو بيا به يې ترې خامخا بدله اخيستل، پيغمبر عليه السلام دې موجود وي

او خلك دي حرام كوي او پيغمبر عليه السلام دي پرې خبر هم وي، داسې به هيڅكله ونه شي. علماء فرمايي خلك دي د حرامو ارتكاب كوي او هغه ته دي سزا نه شي وركولى، دې ته ښكلي اخلاق نه وايي، بلكې په حرامو باندې سزا وركولو ته عين اخلاق ويل كيږي، البته په دنيوي نقصانونو كې معاف كولو ته ښكلي اخلاق وايي

د جهنم اور په چا باندې حرام دى

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ؟ أَوْ بِمَنْ تَحْرُمُ عَلَيْهِ النَّارُ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته يو داسې كس ونه ښيم چې د جهنم په اور باندې حرام دى يا د جهنم اور په هغه باندې حرام دى؟ "تَحْرُمُ عَلَى كُلِّ قَرِيبٍ هَيِّنٍ لَيِّنٍ سَهْلٍ" رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

لغوي تحقيق:

هين: هان يهون هونا: كار اسانه كېدل، نرمېدل

تشريح په دې حديث كې د نرم خوى او نرم مزاج تعريف شوى دى، نرم مزاج د الله ﷻ له لورې لويه تحفه ده، الله ﷻ يې چې چاته وركړي د هغه خوښه ده، كوم سړى چې نرمي كوي خلك د هغه سره ناسته ولاړه خوښوي، ددې برعكس كوم كس چې سختي كوي، هر وخت يې په تندي دولس بجې وي، نو د داسې سړي نه خلك لرې منډې وهي، د اولني كس تعريف كېدلى شي او د دويم كس مذمت بيان شوى دى، دا صفتونه اګرچې خلقي او پيدايشي دي، ليكن ددې استعمال اختياري دى

باب العفو والإعراض عن الجاهلين

د عفوې بيان او د ناپوهه خلكو څخه مخ اړول

"قَالَ اللهُ تعالى" الله ﷻ فرمايي: "خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ" د عفوې څخه كار واخله او په ښكو كارونو باندې امر كوه! "وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ" او د ناپوهه خلكو څخه مخ واړوه! [الأعراف:۱۹۹]

تشريح ددې آيت پوره تشريح وړاندې ذكر شوې ده.

خلكو ته معافي كوه:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيلَ" ته د دوى نه مخ واړوه په ښايسته مخ اړولو سره [الحجر:۸۵]

تشريح د آيت مطلب هم دا دى چې خلكو ته معافي كوه، د دوى له لاسه چې كوم تكليف درته رسيږي، په دې باندې صبر كوه، په حديث كې راځي چې څوك چا ته رد بد وايي او هغه پرې چوپ پاتې شي، نو تر څو چې هغه چوپ وي، تر هغې بد رد ويونكي ته پرښتې دده له طرفه جوابونه وركوي، كله چې هغه ورته جوابونه شروع كړي، پرښتې ترې پورته اسمان ته وخيږي، خلاصه دا چې تاسو د

خلکو نه بدله مه اخلئ؛ معافي ورته کوئ؛ الله ﷻ به ستا له طرفه د هغه نه بدله واخلي

خلک معاف کوه ! الله ﷻ به تا معاف کړي:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا" بايد دوی د عفوې نه کار واخلي او مخ ترې واړوي، "اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ" ايا تاسو دا نه خوښوئ چې الله ﷻ ستاسو بخښنه وکړي [النور:۲۲]

دا آيت د ابوبکر صديق رضي الله عنه په باره کې نازل شوی دی. کله چې په عائشه صديقه رضي الله عنها باندې تهمت ولګېدو، په دې مسئله کې مسطح رضي الله عنه هم مبتلا وو، کوم چې بدري صحابي رضي الله عنه وو. ابوبکر رضي الله عنه به دده مالي مرسته کول. کله چې الله ﷻ د عايشې رضي الله عنها برائت نازل کړو، نو ابوبکر رضي الله عنه د مسطح رضي الله عنه مالي مرسته بنده کړه، په دې باندې دغه آيت نازل شو

کله چې دغه آيت "ألا تحبون ان يغفرالله لكم؟" نازل شو، نو په حديث کې راځي چې سمدستي ابوبکر رضي الله عنه ووېل: "والله إني أحب أن يغفرالله لي" قسم په الله ﷻ زه دا خبره خوښوم چې الله ﷻ ماته بخښنه وکړي، دا خبره يې وکړه او سمدستي يې د مسطح رضي الله عنه مالي مرسته شروع کړه، بيا يې وفرمايل: دا مرسته به ان شاءالله کله هم بنده نه شي، اګرچې ددې آيت نزول خاص دی، ليکن حکم يې عام دی، څوک چې هم خلکو ته معافي کوي، د الله ﷻ د مرستې وعده د هغه سره ده.

الله ﷻ د نېکو خلکو سره مينه کوي:

"وقال تعالى: وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ" او خلکو ته عفوه کونکي او الله ﷻ د نېکو خلکو سره مينه کوي [آل عمران:۱۳۴]

تشريح: ددې آيت مکمل تشريح او وضاحت په وړاندې ايتونو کې تېر شوی دی.

صبر او معافي ښه کار دی:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ" او کوم کس چې صبر وکړي او بخښنه وکړي، نو بې شکه چې دا سې کارونه د ډېرو زياتو محکمو ارادو والا دي [الشورى:۴۳] "والآيات في الباب كثيرة معلومة" په دې باب کې ډېر زيات ايتونه دي او معلوم هم دي

تشريح: ددې آيت تشريح او وضاحت هم وړاندې تېر شوی دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په طائف کې سخت تکليف ورکول

"وعن عائشة رضي الله عنها: أنها قالت للنبي صلى الله عليه وسلم: هَلْ أَتَى عَلَيْكَ يَوْمٌ كَانَ أَشَدَّ مِنْ يَوْمِ أُحُدٍ؟" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې ما يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وفرمايل يارسول الله صلى الله عليه وسلم! په تاسو باندې د أحد نه علاوه بله کومه ورځ سخته تېره شوې ده؟ "قَالَ: لَقَدْ لَقِيتُ مِنْ قَوْمِكِ، وَكَانَ أَشَدُّ مَا لَقِيتُ مِنْهُمْ يَوْمَ الْعَقَبَةِ" نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ستا د قوم له طرفه ماته سخت تکليف رارسېدلی دی او هغه د يوم العقبة ورځ وه، "إِذْ عَرَضْتُ نَفْسِي عَلَى ابْنِ عَبْدِ يَالِيلَ بْنِ عَبْدِ كُلَالٍ، فَلَمْ يُجِبْنِي إِلَى مَا أَرَدْتُ، فَانْطَلَقْتُ وَأَنَا مَهْمُومٌ عَلَى وَجْهِي" کله چې زه ستاسو د

قوم سره ملاقي شوم، هغوی ته مي دعوت ورکړو او ومي ويل: اې ابن عبد ياليل بن عبد کلال تاسو زما دعوت قبول کړئ، هغوی زما دعوت قبول نه کړو، د کوم څه چې ما اراده درلوده، زه په خپل مخ روان شوم او زيات غمجن وم، "فَلَمْ أَسْتَفِقْ إِلَّا وَأَنَا بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ،فَرَفَعْتُ رَأْسِي، وَإِذَا أَنَا بِسَحَابَةٍ قَدْ أَظَلَّتْنِي، فَنَظَرْتُ فَإِذَا فِيهَا جِبْرِيلُ عليه السلام، فَنَادَانِي، فَقَالَ: إِنَّ اللهَ تعالى قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ لَكَ، وَمَا رَدُّوا عَلَيْكَ" قرن الثعالب ته چې ورسيدم نو لږ شان دمه شوم، ما خپل سر پورته کړو، نو پورته مې چې وکتل، وريځو راباندې سايه جوړه کړې وه، په هغه وريځو کې جبرائيل عليه السلام هم وو، هغه ماته آواز وکړو، وې ويل: الله ﷻ ستا قوم ستا دعوت ورکول او د هغوی ځواب تا ته واوريدلو، "وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيهِمْ" او الله ﷻ تاته د غرو پرښته رااولېږلې ده، ستاسو خوښه ده چې هغوی ته تاسو څنګه امر کوئ، هغوی به هم هغسې کوي، "فَنَادَانِي مَلَكُ الْجِبَالِ، فَسَلَّمَ عَلَيَّ، ثُمَّ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ لَكَ، وَأَنَا مَلَكُ الْجِبَالِ، وَقَدْ بَعَثَنِي رَبِّي إِلَيْكَ لِتَأْمُرَنِي بِأَمْرِكَ، فَمَا شِئْتَ" د غرونو پرښتې ماته آواز وکړو او په ما باندې يې سوال واچولو، بيا يې وويل: اې محمد ﷺ الله ﷻ ستا د قوم خبرې واوريدلې، زه د غرونو پرښته يم، الله ﷻ رالېږلې يم چې تاسو ماته څنګه امر کوئ ستاسو خوښه ده، هغسې کار به ترسره کيږي، "إِنْ شِئْتَ أَطْبَقْتُ عَلَيْهِمُ الْأَخْشَبَيْنِ" که ستاسو خوښه وي نو زه به يې ددې دواړو غرونو په مينځ کې چکنې کړم، "فَقَالَ النبي ﷺ: بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللهُ مِنْ أَصْلَابِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللهَ وَحْدَهُ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئاً" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: نه! بلکې زه اميد لرم چې الله ﷻ به د دوی په بچو کې داسې څوک پيدا کړي چې د الله ﷻ عبادت به کوي او د هغه سره به هيڅ څوک نه شريک کوي. متفقٌ عَلَيهِ

"الأَخْشَبَانِ: الجَبَلَانِ المُحِيطَانِ بِمَكَّةَ، وَالأَخشَبُ: هُوَ الجبل الغليظ" د (اخشبان) معنی ده: هغه غرونه چې د مکې نه شاوخوا دي، اخشب مضبوط او غټ غر ته ويل کيږي.

تشريح كان أشد من يوم أحد: په دې غزا کې د رسول الله ﷺ مخ مبارك زخمي شوی ؤ او په همدې جهاد کې د رسول الله ﷺ غاښونه مبارك شهيدان شوي وو، په همدې جهاد کې رسول الله ﷺ په يوه کنده کې پرېتولی وو او په همدې جهاد کې د رسول الله ﷺ حقيقي تره حمزه رضي الله عنه شهيد شوی ؤ او ورسره نور اويا صحابه کرام رضي الله عنهم شهيدان شوي وو.

يوم العقبة: د عقبه په ورځ تکليف هم زيات وو، عقبه د طائف په لاره کې د يو ځای نوم دی، "وأنه بقرن الثعالب" زه چې قرن ثعلب ځای ته ورسيدم نو لږ څه ښه شوم، قرن ثعالب هم د يو ځای نوم دی چې د اهل نجد لپاره د ميقات ځای دی، دې ته قرن المنازل وايي.

په حديث کې د دين دعوت کوونکو ته يوه ښکلې طريقه پرته ده، هغه دا چې کله هم يو داعي ته خلک تکليف ورکوي، نو پکار ده چې صبر درباندې وکړي، بلکې د بد دعاء په ځای بايد د هدايت دعاګانې ورته وکړي.

رسول الله ﷺ کله هم څوک نه دی وهلی

"وعنها، قالت: مَا ضَرَبَ رسولُ اللّٰه ﷺ شَيْئاً قَطُّ بِيَدِهِ، وَلاَ امْرَأَةً وَلاَ خَادِماً" د عائشه رضی الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ تراوسه په خپل لاس مبارك سره چېرته هم نه خادم وهلی دی او نه يې ښځه وهلې ده، "إِلاَّ أَنْ يُجَاهِدَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ" البته که د جهاد په دوران کې وي، نو بيا به وي. "وَمَا نِيلَ مِنْهُ شَيْءٌ قَطُّ فَيَنْتَقِمَ مِنْ صَاحِبِهِ" او که رسول الله ﷺ ته د چا د لاسه څه تکليف رسېدلی وي، نو هغوی ﷺ د خان لپاره بدله نه ده اخيستې. "إِلاَّ أَنْ يُنْتَهَكَ شَيْءٌ مِنْ مَحَارِمِ اللّٰهِ تعالى فَيَنْتَقِمُ لِلّٰهِ تعالى" او دا خبره ده چې که د الله ﷻ کوم حکم ماتيږي نو بيا يې د الله ﷻ د رضاء لپاره بدله هم اخيستلې ده رواه مسلم

لغوي تحقيق:

نيل منه: نال ينال نيلاً د دې معنی ده: رسېدل، موندل، حاصلول، تر لاسه کول، کامیابه کېدل

تشريح: ما ضرب رسول الله ﷺ شيئاً قط بيده ولا امراة ولا خادماً: رسول الله ﷺ کله هم څوك په لاس نه دی وهلی، نه يې کومه ښځه وهلې ده، نه يې کوم خادم وهلی دی، ددې حديث وضاحت د انس رضی الله عنه ددې حديث نه هم کيږي چې فرمايي: ما لس کاله د رسول الله ﷺ خدمت کړی دی، کله هم رسول الله ﷺ ماته دا نه دي فرمايلي چې دا کار دې ولې کړی دی او دا کار دې ولې نه دی کړی؟

رسول الله ﷺ صرف يو کس وهلی دی:

إلا أن يجاهد في سبيل الله: ليکن رسول الله ﷺ که د الله ﷻ په لار کې جهاد کولی، نو په دې لار کې بې (کفار) قتل کړي دي، په دې کې هم علامه ابن قيم رحمه الله فرمايي: رسول الله ﷺ په ټول ژوند کې د جهاد په ميدان کې صرف يو کس وژلی دی چې د هغه نوم أبی بن خلف دی، دده څخه بغيرېې بل څوك نه دی وژلی.

وما نيل منه شئ قط فينتقم من صاحبه: داسې نه دي شوي چې د چا د لاسه رسول الله ﷺ ته تکليف رسېدلی وي او رسول الله ﷺ د هغه نه بدله اخيستې وي، رسول الله ﷺ کله هم د خپل ذات لپاره د چا څخه بدله نه ده اخيستې، البته که د الله ﷻ حدود پائمال کېدل، نو بيا يې د ديني غيرت له وجې مجرم ته پوره سزا ورکړې ده.

د رسول الله ﷺ د لوړو اخلاقو مثال

"وعن أنس رضی الله عنه، قَالَ: كُنْتُ أَمْشِي مَعَ رسولِ اللّٰه ﷺ وَعَلَيْهِ بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيظُ الحَاشِيَةِ، فَأَدْرَكَهُ أعْرَابِيٌّ فَجَبَذَهُ بِرِدَائِهِ جَبْذَةً شَدِيدَةً" د انس رضی الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې زه د رسول الله ﷺ سره يو ځل روان وم، نبي کريم ﷺ په دې وخت کې د نجران علاقې يو څادر په سر کړی وو، د کوم چې پیڅي ډېر زيات سخت ؤ، په لاره کې ورسره يو کوچي ملاقات وکړو، هغه کوچي څادر ډېر په زور خان ته راښکلو. "فَنَظَرْتُ إِلَى صَفْحَةِ عَاتِقِ النَّبيِّ ﷺ، وَقَدْ أَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ الرِّدَاءِ مِنْ شِدَّةِ جَبْذَتِهِ" د نبي کريم ﷺ څټ مبارك ته ما وکتل، نو ددې څادر د پيڅو

زيات راښکلو په وجه يې په څټ باندې اثر پاتې شو، "ثُمَّ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ، مُرْلِي مِنْ مَالِ اللهِ الَّذِي عِنْدَكَ، فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ فَضَحِكَ ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ" بيا هغه کوچي وويل: يا محمد ﷺ! ماته د هغه مال نه څه راکړه چې الله ﷻ تاسو ته درکړی دی، نبي کريم ﷺ هغه کوچي ته وکتل، بيا نبي کريم ﷺ په خندا شو او د ورکړې حکم يې وکړو. متفق عليه

تشريح: برد نجراني: د نجران ځای جوړ شوی څادر، نجران د حجاز او يمن ترمنځ يو ځای دی، ددې ځای څادر ډېر زيات مشهور وو، "غليظ الحاشيه" ددې څادر دواړه پيڅې ډبلې وې، عمومي طور يې د کنارې پيڅې ډبلې وې، ددې څادر پيڅې هم ډبلې وې

"فالتفت إليه رسول الله ﷺ فضحك": رسول الله ﷺ هغې ته متوجه شو او وې خندل، په دې کې هم: رسول الله ﷺ ښکلي اخلاقو او صبر او ضبط ته پکې اشاره ده، رسول الله ﷺ ددې کوچي په نازيبا او غير اخلاقي حرکت باندې خپله غوسه پټه کړه، هغه ته متوجه شو او وې خندل، همدغه شان د قرآن کريم حکم دی، "إدفع بالتي هي أحسن" په ښکلې طريقه بدله اخله

قوم خپل نبي په وهلو وهلو په وينو کې پټ کړو

"وعن ابن مسعود ﷺ، قَالَ: كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ يَحْكِي نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ، صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِمْ، ضَرَبَهُ قَوْمُهُ فَأَدْمَوْهُ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي: هغه منظر اوس هم زما د سترګو په وړاندې دی چې رسول الله ﷺ د يو پېغمبر حکايت کولو چې خپل قوم يې دومره ووهلو چې وينې ترې راماتې شوې، "وَهُوَ يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهِ، وَيَقُولُ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي، فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ" هغه پېغمبر به د خپل بدن مبارک نه وينې صفا کولې او دا دعاء به يې کول چې: اې الله ﷻ! زما قوم وبخښې! ځکه چې دوی نه پوهيږي. متفق عليه

تشريح: ضربوه قومه فادموه: خپل قوم يې دغه نبي ووهلو، په وهلو وهلو سره يې په وينو کې پټ کړو، علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي: ددې نبي وضاحت په حديث کې نشته چې دا څوک وو، ليکن ځينې نور علماء فرمايي چې په دې کې دوه احتماله دي: لومړی احتمال دا دی چې دغه نبي نوح عليه السلام وو، هغه ته هم د قوم له لاسه ډېر تکليفونه رسېدلي وو، هغه به هم دغه دعاء کول "اللهم اغفر لقومي فانهم لا يعلمون" اې الله ﷻ! زما قوم معاف کړه! ځکه چې دوی نه پوهيږي، ليکن د اکثرو علماوو رايه دا ده چې ددې نه خپله رسول الله ﷺ مراد دی او دا طريقه هم د رسول الله ﷺ په پياوړي اخلاقو باندې دلالت کوي، د رسول الله ﷺ تکليفونه خپله رسول الله ﷺ په مبهم او ښکلي انداز کې بيان کړي، په دې کې د دوی ﷺ د قوم مذمت هم نه دی بيان شوی

اصلي پهلواني دا ده چې غوسه بنده کړي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پهلوان هغه نه دی چې په چالاکۍ سره بل کس راالاندې کوي، "إِنَّمَا الشَّدِيدُ

الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ" بلکې پهلوان سړی هغه دی چې د غوسې په دوران کې په خپل ځان باندې قابو راولي متفق عَلَيْهِ

تشريح: علماء فرمايي: که غوسه په ناحقه وي، نو ښه شی نه ده او که د حق لپاره وي، نو ښه شی ده، خلك بدني لحاظ سره مضبوط سړي ته پهلوان وايي، ليکن اصل پهلوان هغه دی چې خپل نفس په قابو کې راولي، هغه چې تر ټولو زيات دده لوی دښمن دی، لکه څرنګه چې په يو حديث کې ارشاد دی "اعدی عدوك التی بين جنبيك" ستا تر ټولو لوی دښمن هغه دی چې ستا سره په څنګ کې دی. (يعني نفس) اوس دلته دا سوال پيدا کيږي چې غوسه په قابو کې راوستونکي ته بې ولې پهلوان وويلو؟ جواب دا دی چې: جسم فناء کېدونکی دی او روح پاتې کېدونکی دی، نو روح د جسم په مقابله کې اصل شی دی، اوس چې څوك هم نفس اماره قابو کړي، نو د داسې کس حيثيت هم د شريعت په نظر کې اوچت دی، بهر حال انسان ته پکار ده چې د غوسې پرمهال خپل ځان په قابو کې راولي، کنه نو څينې وخت کې د سړي له لاسه داسې عمل وشي چې بيا وروسته پښېمانه وي، يا بې د خولې نه څه داسې الفاظ ووځي چې وروسته پرې پښېمانه وي، ليکن پښېمانتيا ورته هيڅ ګټه نه ورکوي

باب احتمال الأذى

د ضررونو او تکليفونو برداشت پورته کول

"قَالَ اللّٰـــه تعالى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ" او غوسه تېرونکي او خلکو ته عفوه کوونکي او الله ﷻ د نېکو خلکو سره مينه کوي [آل عمران:۱۳۴]

تشريح: د دې آيت وضاحت هم وړاندې تېر شوی دی.

"وقَالَ تعالى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ" او څوك چې صبر وکړي او بخښنه بې وکړه، نو دا کار د مضبوطو امورو څخه دی. [الشورى:۴۳] "وفي الباب: الأحاديث السابقة في الباب قبله" په دې باب کې هم هغه مخکې حديثونه دي کوم چې په مخکيني باب کې تېر شول

په صله رحمي بانندې د الله ﷻ له لوري يو مددګار متعين کيږي

"وعن أبي هريرة رضي اللّٰـــه تعالى عنه: أَنَّ رَجُلاً، قَالَ: يَا رسول الله، إِنَّ لِي قَرَابَةً أَصِلُهم وَيَقْطَعُونِي" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته يو کس وويل: يارسول الله ﷺ زما څه خپلوان دي، د هغوی سره زه صله رحمي کوم او هغوی زما سره قطع رحمي کوي، "وَأُحْسِنُ إِلَيْهِمْ وَيُسِيئُونَ إِلَيَّ" او زه ورسره ښه کوم او هغوی زما سره بد کوي، "وَأَحْلُمُ عنهم وَيَجْهَلُونَ عَلَيَّ؟" او زه د هغوی سره په ښه سنجيدګۍ ژوند تېروم او هغوی زما سره د جهالت معامله کوي، "فَقَالَ: لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ، فَكَأَنَّمَا تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ، وَلاَ يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللّٰهِ تعالى ظَهِيرٌ عَلَيْهِمْ مَا دُمْتَ عَلَى ذَلِكَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو چې څنګه وايئ که حقيقت هم داسې وي، نو دا به

داسې وي لکه تاسو چې د هغوی خولې ته ګرمې ايرې اچوئ او د همېش لپاره به د الله ﷻ له طرفه يوه پرښته مقرره وي چې هغه به ستاسو سره مرسته کوي. رواه مسلم

"وقد سبق شرحه في باب صلة الأرحام" ددې حديث تشريح مخکې تېره شوې ده.

تشريح: ان لي قرابة: دا حديث هم وړاندې په (باب صلة الارحام) کې ذکر شوی دی، دلته يې يو ځل بيا راوړو، ځکه چې ددې باب سره يې تعلق شته، هغه دا چې د خلکو له لورې کوم تکليفونه درته رسيږي، بايد په هغې باندې صبر وکړی شي او د معافی نه کار واخيستل شي، ځکه چې د حسن خلق تقاضا هم دغه ده.

باب الغضب إذا انتهكت حرمات الشرع والإنتصار لدين الله تعالى

کله چې د الله ﷻ يو حکم مات شي، په هغې باندې غوسه ښکاره کول او د الله ﷻ د دين مرسته

"قَالَ اللهُ تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَمَنْ يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِنْدَ رَبِّهِ" او کوم کس چې د الله ﷻ د محرماتو احترام ولري، دا به د الله ﷻ په نزد د هغه لپاره ډېر غوره وي [الحج:۳۰]

تشريح: حرمات الله: ددې نه مراد هغه کارونه دي چې د شريعت په رڼا کې د هغې کول فرض دي، نو دې کې ټول اوامر او نواهي شامل شو، علامه زجاج رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد هغه امور دي چې د هغې پوره کول واجب دي، په دې کوم کمی کول حرام دي، خلاصه دا چې د شرعي احکاماتو تعظيم (ددې علم حاصلول او بيا په دې باندې عمل کول) د هغه په حق کې غوره دی او په آخرت کې د کاميابۍ ضمانت دی.

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "إِنْ تَنْصُرُوا اللهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ" که چېرته تاسو د الله ﷻ د دين مرسته کوئ، نو الله ﷻ به ستاسو مرسته وکړي [محمد:۷].

تشريح: په دې ايت کې عامو مسلمانانو ته خطاب دی چې: اې مؤمنانو! تاسو د الله ﷻ مرسته وکړئ الله ﷻ به ستاسو مرسته وکړي، د الله ﷻ مرسته دا ده چې د الله ﷻ د دين مرسته وکړي، دغه مرسته الله ﷻ خانته د شرافت او عزت په توګه منسوب کړه، يعنې د دين مرسته کوونکي الله ﷻ نه دومره خوښ دي لکه هغه چې د الله ﷻ مرسته کوي، په دې مرسته باندې د الله ﷻ له لورې د دوه انعامونو وعده شوې ده، اول دا چې الله ﷻ به ستاسو مدد وکړي، بل ځای ارشاد دی: "إن ينصركم الله فلا غالب لكم" که الله ﷻ ستاسو مرسته وکړي، نو بيا په تاسو باندې څوک غلبه نه شي کولی، دويم انعام دا دی چې: د دښمن په مقابله کې به ستاسو قدمونه مضبوط کړي، يعنې فتحه به مو نصيب شي.

"وفي الباب حديث عائشة السابق في باب العفو" په دې باب کې حديث د عائشې رضي الله عنها په باب د عفوه کې تېر شوی دی.

امام ته پکار ده چې د جمعې لمونځ لنډ ادا کړي

"وعن أبي مسعود عقبة بن عمرو البدري ﷺ، قال: جاء رجل إلى النبي ﷺ، فقال: إني لأتأخر عن صلاة الصبح من أجل فلان مما يطيل بنا!" د أبو مسعود عقبة بن عمرو البدري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې يو كس رسول الله ﷺ ته راغلو او ورته يې وفرمايل: زه د فلانكي كس په وجه د سهار د لمانځه نه ورسته كېږم. ځكه چې هغه د سهار لمونځ ډېر اوږد كوي، "فما رأيت النبي ﷺ غضب في موعظة قط أشد مما غضب يومئذ" راوي وايي نبي كريم ﷺ مې د نصيحت په دې ورځ ډېر زيات غوسه كې وليدو چې بله ورځ مې داسې نه ؤ ليدلى. "فقال: يا أيها الناس، إن منكم منفرين، فأيكم أم الناس فليوجز" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل اې خلكو! په تاسو كې ځينې كسان داسې هم دي چې د خپل رواج له مخې خلكو ته نفرت اچوي. بس كوم كس چې په تاسو كې امامت كوي نو بايد چې لنډه جمع وركړي. "فإن من ورائه الكبير والصغير وذا الحاجة" او دا ځكه چې په تاسو پسې داسې كسان هم ولاړ وي چې بوډاګان، ماشومان ضرورتمند خلك دي متفق عليه

تشريح: جاء رجل: ددې نه مراد حزم بن أبي بن كعب دى، ځينو حرام بن ملحان ښودلى دى او ځينو نورو زيات نومونه ښودلي دي، ددې حديث نه معلومه شوه چې هر ځوك جمعې ته وراندې شي، پكار ده چې لنډه جمعه وركړي، امام ته مكروه دي چې دومره زيات تسبيحات په ركوع يا سجده يا په قيام كې ووايي چې خلك ورته په تنګ شي، كه د ټولو مقتديانو رايه دا وي چې لمونځ دې اوږد ادا شي، نو بيا پكې هيڅ كراهت نشته.

د حديث نه مستنبط شوي مسئلې

محدثين فرمايي: ددې حديث نه يو څو مسئلې ظاهري شوې، مثلاً: د دين په معامله كې غوسه كول جائز ده، لكه څرنګه چې رسول الله ﷺ په دې صحابي ﷺ باندې د غوسې اظهار وكړو

دويم: امام ته پكار ده چې د مقتديانو خيال وساتي. دومره اوږد لمونځ دې نه كوي چې خلك ورسره تنګ شي.

دريم: دا چې د شرعي عذر په بناء د جمعې نه تاخير جائز دى

څلورم دا چې په كوم تكليف كې عمومي ډول ټول خلك مبتلاء وي، ددې شكايت جائز دى، لكه څرنګه چې دلته ټول خلك په تكليف كې مبتلاء وو.

تر ټولو سخت عذاب به د چا وي؟

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قدم رسول الله ﷺ من سفر، وقد سترت سهوة لي بقرام فيه تماثيل" د عائشې ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې يو ځل رسول الله ﷺ د سفر نه په داسې حالت كې راغلو چې ما د كور حويلۍ لپاره د دروازې په درشل كې يوه كپړه خورنده كړې وه، په دې كپړه باندې څه تصويرونه وو. "فلما رآه رسول الله ﷺ هتكه وتلون وجهه" كله چې رسول الله ﷺ دا تصويرونه وليدل، نو هغه پرده يې شكته كړه او څيرې يې كړه او د رسول الله ﷺ مخ مبارك رنګ متغير شو. "وقال: يا عائشة، أشد الناس عذابا عند الله يوم

القيامة الذين يضاهون بخلق الله" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل : اې عائشې ﵂ د قيامت په ورځ به سخت عذاب د هغو خلك وي چې د الله ﷻ د مخلوق سره مشابهت اختياروي. متفقٌ عليه.

"السهوة: كالصُّفَّة تكون بين يدى البيت" السهوة : روشن دان، طاقچه، "و((القرام)) بكسر القاف: ستر رقيق" القرام : باريکې او نرۍ پردې ته وايي، "و((هتكه)) : أفسد الصورة التي فيه" د (هتکه) مطلب دا دی چې هغه تصويرونه چې په پرده باندې لګېدلي وو، هغه يې وران کړل.

تشريح: قدم رسول الله ﷺ: په يو روايت کې دي چې دا سفر د تبوك غزا وو، د نسائي په روايت کې راوي شکي دی چې دا سفر د تبوك د غزا څخه په واپسی کې وو او که د خيبر د جهاد نه په واپسی کې وو.

بقرام فيه تماثيل: يوه پرده وه چې په هغې باندې تصويرونه وو، ځينې محدثين فرمايي په دې پرده باندې د اس تصويران وو، نو څکه رسول الله ﷺ هغه څيرې کړه

تلون وجهه: د رسول الله ﷺ مخ مبارك رنګ متغير شو، معلومه شوه چې کله کوم غلط کار په سترګو ووينې، نو پکار ده چې اول يې په لاس منع کړه او ورسره د غم او غوسې اظهار هم وکړه

أشد الناس عذاباً يوم القيامة: د قيامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب د هغو خلکو وي چې د الله ﷻ په تخليق کې د هغه سره مشابهت کوي، يعنې تصويرونه او شکلونه جوړوي. دوی چې کوم کارونه کوي، لکه د الله ﷻ د فعل سره مشابهت کوي، ابن ملك ﵀ فرمايي که تصوير جوړوونکی دا خيال کوي چې په دې سره به د الله ﷻ سره مشابهت اختيار کړم، نو په دې عقيده باندې دا سړی کافر دی، ظاهره خبره ده چې هغه ته به سخت عذاب وي او که داسې عقيده يې نه وي، نو بيا دا حديث په تهديد باندې حمل دی.

په حدودو کې سفارش کول

"وعنها: أن قريشاً أهمهم شأن المرأة المخزومية التي سرقت، فقالوا: من يكلم فيها رسول الله ﷺ؟ فقالوا: من يجترء عليه إلا أسامة بن زيد حِبُّ رسول الله ﷺ؟ فكلمه أسامة، فقال رسول الله ﷺ: أتشفع في حد من حدود الله تعالى؟" د عايشه ﵂ نه روايت دی هغه فرمايي چې قريش د يوې ښځې په شان کې زيات پريشانه وو، کله چې هغې غلا کړې وه، هغوی وويل : داسې څوك شته چې د رسول الله ﷺ په وړاندې ددې ښځې سفارش وکړي؟ هغوی وويل : په رسول الله ﷺ باندې د اسامه بن زيد ﵄ نه بغير بل څوك زړور نه دی، اسامه ﵁ د هغې ښځې لپاره سفارش وکړو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا ته ما ته د الله ﷻ په حد کې سفارش کوې؟ "ثم قام فاختطب، ثم قال: إنما أهلك من قبلكم أنهم كانوا إذا سرق فيهم الشريف تركوه، وإذا سرق فيهم الضعيف أقاموا عليه الحد" بيا نبي کريم ﷺ پاڅېدو او خطبه يې ولوستله او وې فرمايل: ستاسو نه وړاندې چې کوم خلك هلاك شوي وو، هغه په دې وجه چې په دوی کې به کوم مالداره سړي غلا وکړه، نو هغه به يې پرېښودلو او که غريب سړي غلا وکړه، نو حد به يې ورباندې جاري کړو. "وايم الله لو أن فاطمة بنت محمد سرقت لقطعت يدها" او قسم

په الله ﷻ، که فاطمه ﷞ چې د محمد ﷺ لور ده. غلا وکړي، نو بيا به هم ترې لاس پرې کوم متفق عليه

تشريح: شأن المرأة المخزومية: د يوې مخزومي ښځې په باره کې فکرمند وو، محدثين فرمايي دا ښځه د ابوسلمه د ورور لور وه. د دې نوم فاطمه بنت اسود بن عبد الاسود وه. "اتشفع في حد من حدود الله؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل ايا ته د الله ﷻ په حدودو کې سفارش نه کوې؟ د علماء کرامو په دې خبره اتفاق دی چې کله قاضي يا حاکم ته يو ځل مقدمه ورسيږي، نو بيا سفارش حرام دی. هو که مقدمه د قاضي يا حاکم عدالت ته نه وي رسېدلې، نو د اکثره علماوو رايه دا ده چې سفارش جائز دی. ليکن په دې کې شرط دا دی چې د کوم کس سفارش کيږي، هغه به داسې کس نه وي چې خلک ورنه په تنګ وي، خلکو ته به تکليف نه رسوي او که معامله د تعزير وي، نو بيا په دواړو صورتونو کې سفارش جائز دی، برابره خبره ده چې قاضي ته مقدمه رسېدلې وي او که نه

سوال: په دې حديث کې راغلي چې هغې ښځې به عارية په سوال د چا نه څه واخيستل او بيا به منکره شوه، په دې صورت کې د جمهورو رايه دا ده چې لاس به يې نه کټ کيږي، صرف د امام احمد ﷫ او اسحاق ﷫ مذهب دی چې لاس به ترې کټ کيږي؟

ځواب: په يو بل روايت کې لفظ د (سرقة) هم راغلی دی، دغې ښځې به عارية شيان اخيستل او غلا به يې هم کول، رسول الله ﷺ چې د لاس کټ کولو حکم ورکړو، هغه د غلا په وجه وو. د عاريت په وجه نه وو

قبلې طرف ته توکاڼي / لاڼې توکول حرام دي:

"وعن أنس ﷜: أَنَّ النبيَّ ﷺ رَأَى نُخَامَةً في القِبلَةِ، فَشَقَّ ذلِكَ عَلَيهِ حَتَّى رُئِيَ في وَجْهِهِ" د انس ﷜ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ توکاڼي وليدلې چې قبلې طرفته توکړل شوي وې. په رسول الله ﷺ باندې دا کار سخت ولګېدو، تردې چې د رسول الله ﷺ په مخ مبارک کې د غم اثرات وليدل شول. "فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهِ، فَقَالَ: إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ في صَلاَتِهِ فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ" بيا نبي کريم ﷺ هغه توکاڼي په خپل لاس پاکې کړې او بيا يې وفرمايل کله چې په تاسو کې يو کس لمانځه ته دريږي، نو تاسو د خپل رب سره مناجات او خبرې کوئ! "وَإنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وبَيْنَ القِبلَةِ، فَلا يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ القِبْلَةِ، وَلكِنْ عَنْ يَسَارِهِ، أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ" الله ﷻ د ده او د قبلې په مينځ کې دی، په تاسو کې دې يو کس هم قبلې طرفته توکاڼي نه توکوي، بلکې چپ طرفته يا دې د قدم لاندې توکړي، "ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ فَبَصَقَ فِيهِ، ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ فَقَالَ: أَوْ يَفْعَلُ هكَذَا" بيا نبي کريم ﷺ خپل څادر راواخيستلو او خپلې توکاڼي يې پکې توکړې، بيا يې چې په کوم ځای کې توکاڼي کړي وې هغه ځای يې په بله حصه پټه کړه او وې فرمايل يا دې داسې وکړي متفق عليه

"وَالأَمْرُ بالبُصَاقِ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ هُوَ فِيمَا إِذَا كَانَ في غَيْرِ المَسْجِدِ" توکاڼي توکول د ښي لاندې يا چپ طرفته دا هغه وخت دی کله چې په جوماتونو کې ناست نه وي، "فَأَمَّا في المَسْجِدِ فَلا يَبْصُقُ إِلاَّ في ثَوْبِهِ" او کله چې په جومات کې وي، نو بيا به يې په خپلو کپړو / څادر کې توکوي

لغوي تحقيق:

نخامة: بلغم ته وايي.

تشريح: امام نووي رحمه الله په شرح مسلم کې فرمايي: "وصححه النووي في تحقيق تحريم البصاق في المسجد قال سواء فيه داخله وخارجة" د امام نووي رحمه الله په نزد تحقيقي خبره دا ده چې په جومات کې لاړې توکول حرام دي، برابره خبره ده چې لاړې توکونکې په جومات کې دننه وي او که د جومات څخه بهر وي، قبلې طرفته لاړې توکول نورې هم حرامې دي، احناف فرمايي: په جومات کې لاړې توکول مکروه تحريمي دي، جومات د ګندګی او توکانو څخه پاکول واجب دي، برابره خبره ده چې لاړې په ديوال باندې وي يا په فرش باندې وي.

په حديث کې د لاړو توکولو طريقه بيان شوې ده، علماوو دغسې حالت په لمونځ باندې حمل کړی دی يعنې انسان چې د لمانځه په حالت کې وي، نو دغسې طريقه دې وکړي، که لمونځ نه کوي، نو بايد بهر ته لاړ شي او بهر لاړې توکړي، بل دا چې که په جومات کې ګندګي ولېدل شي، نو سمدستي دې پاکه کړي، په دې حديث کې دي چې هغه (نخامة) بلغم رسول الله ﷺ په خپلو لاسونو مبارکو پاک کړل، په دې خاکساری او عاجزی کې امت ته پوره تعليم پروت دی.

باب أمر ولاة الأمور بالرفق برعاياهم ونصيحتهم والشفقة عليهم والنهي عن غشهم والتشديد عليهم وإهمال مصالحهم والغفلة عنهم وعن حوائجهم

د رعيت سره نرمي او د هغوی ښېګڼه لټول

"قَالَ اللّٰـه تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ" او د خپل رحمت وزرې هغو مؤمنانو ته ښکته کړه چې ستا تابع دي. [الشعراء:۲۱۵]

تشريح: (واخفض جناحك) معنی ده: نرمه رويه اختيارول، دغه شان مارغه چې د پورته څخه لاندې راښکته کېږي، نو خپلې وزرې لاندې راښکته کړي، دلته هم د استعارې په توګه د نرمی او خوش اخلاقی لپاره دا لفظ استعمال شوی دی. "من المؤمنين" علماء کرام فرمايي: (من) بيانيه دی، يعنې ټول اتباع کونکي ترې مراد دي، بيا برابره خبره ده چې کامله اتباع کوي، لکه پاخه مسلمانان يا نيمګړې اتباع کوي، لکه ګناهګاره مسلمانان، ځينې علماء فرمايي: دلته (من) تبعضيه هم مراد کېدلی شي او د مؤمنين لفظ عام دی، که کامل مسلمان وي او يا ناقص مسلمان وي، ټول ترې مراد دي، خلاصه دا چې رسول الله ﷺ ته په دې آيت کې حکم شوی دی چې د مسلمانانو سره نرمه رويه اختيار کړه، هغوی به دين ته رانژدې کېږي او بيا به د دين زده کړه ورته اسانه شي.

د قرآن کريم جامع آيت:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي : "إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ" بې شکه الله ﷻ تاسو ته په انصاف سره د فيصلې کولو امر کوي، په نېکۍ امر کوي او خپلوانو ته په ورکړه باندې حکم کوي. "وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ" او تاسو د بې حيايي کارونو او ناروا کارونو څخه منع کړي او د زيادت څخه مو منع کوي، الله ﷻ تاسو ته نصيحت کوي، ددې لپاره چې تاسو به نصيحت قبول کړئ! [النحل:۹۰].

تشريح: علامه ابن کثير رحمه الله فرمايي : دغه آيت د قرآن کريم جامع ايت دی، په دې آيت کې ټول تعليمات په يو څو الفاظو کې راجمع شوي دي، په دې وجه عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: د قرآن کريم جامع آيت هم دغه دی، د اسلافو د زمانې راهيسې تر اوسه پورې د جمعې او اخترونو په خطبو کې دغه آيت لوستل کيږي

وليد بن جعفر چې کله دغه آيت واورېدو، نو خپل قوم ته لاړو او داسې يې ورته وويل: "والله ان له لحلاوة وان عليه لطلاوة وان اصله لمورق واعلاه لمثمر، وماهو بقول بشر". ژباړه په الله ﷻ قسم: په دې کې يو خاص خوند دی، په دې کې يوه ځانګړې رڼا ده، ددې د بنسټ څخه شاخونه او پاڼې راخيژي، په څانګو يې ميوې لګيږي او دا د کوم انسان خبرې نه دي

په دې آيت کې د درې کارونو حکم شوی دی : (۱) عدل، (۲) احسان (۳) او د خپلوانو غلطۍ معاف کول. د درې شيانو څخه منع راغلې ده : (۱) د بې حيا کارونو څخه منع، (۲) د هر قسم بدو کارونو څخه منع، (۳) د ظلم څخه منع. يعنې د بل انسان پوره پوره حق ادا کړه او خپل حق ترې وصول کړه، بيا د احسان ذکر دی چې د بل حق پوره پوره ادا کړه او د خپل حق په اخيستلو کې سترګې پټې کړه، که کوم څه درته ملاو شي، نو ډېره ښه ده، کنه نو خپله مخه به ونيسي او د خپلوانو غلطۍ معاف کول، د بيمار پوښتنه کول وغيره داسې نورې همدردۍ چې په معاشره کې يې انسان کولی شي

د درې شيانو نه منع راغلې ده، لومړی (الفحشاء) فحش هر هغه کار ته وايي چې د هغې بدي بالکل واضحه وي او (منکر) هغې ګناه ته وايي چې د شريعت منودلې وي چې دا کار جائز نه دی او (بغي) هغې ګناه ته وايي چې څوک د حد نه تجاوز وکړي، د هغې اثر بل کس ته هم متعدي شي. په دې آيت کې د انسان د انفرادي او اجتماعي ژوند د اصلاح يوه نسخه بيان شوې ده.

تاسو ټول ذمه داريئ!

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل هر کس په تاسو کې شپونکی دی او د هر يو کس نه به د هغه د ماتحتو کسانو پوښتنه کيږي، "الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" امام (يعنې بادشاه شپونکی دی او دده څخه به هم د ماتحتو په اړه پوښتنه کيږي، "وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَمَسْؤُولٌ عَنْ

رَعِيَّتِهِ" او سړی په خپل خاندان کې مشر دی او د هغه څخه به هم د ماتحتو پوښتنه کيږي، "وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِيْ بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْؤُوْلَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا" او ښځه هم د خپل خاوند په کور کې مشره ده او د هغې څخه به هم د خپل ماتحتو باره کې پوښتنه کيږي. "وَالْخَادِمُ رَاعٍ فِيْ مَالِ سَيِّدِهِ وَمَسْؤُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" او خادم د خپل بادار او سيد په مال کې مشر وي او د هغه څخه به هم د خپل مشر د مال په باره کې پوښتنه کيږي، "وَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْؤُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" غرض دا چې په تاسو کې هر کس مشر دی او د هر مشر نه به د هغه د ماتحتو په باره کې پوښتنه کيږي متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

راع: "رعي يرعي رعياً و رعايةً الامير": اصل کې شپونکي ته وايي، دلته ترې مشر او ذمه وار کس مراد دی.

تشريح: دا حديث ددې نه وړاندې په (باب حقوق الزوج على إمرأته) کې ذکر دی، دلته امام نووي رحمه الله يو ځل بيا راوړو، په دې کې مقصد دا دی چې مشرانو او زعيمانو ته کوم مسئوليتونه ورپه غاړه دي، ددې پوره لحاظ او خيال به ساتي. کنه د قيامت په ورځ به ددې پوره پوره حساب ورکوي، کوم کس چې په دې مسئوليتونو کې کوتاهي کوي. داسې خلک د الله جل جلاله په نزد مجرمان دي، پوښتنه به ورنه کيږي، دې باره کې امام نووي رحمه الله دغه حديث يو ځل بيا دلته ذکر کړو

په دوکه باز حاکم باندې جنت حرام دی

"وعن أبي يعلى مَعْقِل بن يَسَارٍ رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم، يقول: مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللهُ رَعِيَّةً، يَمُوتُ يَوْمَ يَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِهِ" د أبو يعلى معقل بن يسار رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا خبره واورېده چې فرمايل يې: داسې يو بنده نشته چې الله جل جلاله ورته مشري ورکړې وي او هغه په داسې حال کې مړ شي چې د خپل رعيت ښېګڼه او د هغوی د فايدې لپاره يې کوشش نه وي کړی، "إِلَّا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ" مګر دا چې په هغه به الله جل جلاله جنت حرام کړي متفقٌ عليه

"وفي رواية: فَلَمْ يَحُطْهَا بِنُصْحِهِ لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ" په يو بل روايت کې داسې هم شته چې د هغوی د فايدې لپاره يې چې کوشش نه وي کړی، نو داسې کس به د جنت خوشبو هم محسوسه نه کړي

"وفي رواية لمسلم: مَا مِنْ أَمِيرٍ يَلِي أُمُورَ الْمُسْلِمِينَ، ثُمَّ لَا يَجْهَدُ لَهُمْ وَيَنْصَحُ لَهُمْ، إِلَّا لَمْ يَدْخُلْ مَعَهُمُ الْجَنَّةَ" او په يو بل روايت کې داسې هم شته چې يو حاکم او بادشاه داسې نشته چې د مسلمانانو د کارونو مشر شي او هغه نه د هغوی د فايدې لپاره کوشش کوي او نه د هغوی خير خواهي غواړي. مګر هغه به د مسلمانانو سره جنت ته نه داخليږي

لغوي تحقيق:

يسترعيه: استرعی يسترعي استرعاءً: د امانت په توګه يو شی کېښودل، د سامان حفاظت کولو حکم ورکول

يحط: حاط يحوط حوطاً حفاظت كول

تشريح په دې حديث كې مشران د هغوى ذمه واريو ته متوجه كول مقصود دي، د دوى ذمه د مولويانو په غاړه ده، كه هغوى د خپل ولس معاملات په خيرخواهي سره حل نه كړي، نو داسې مشران د الله ﷻ په نزد هم او د خلكو په نزد هم مجرمان دي، د دوى رعايا به د خپلو اعمالو په وجه جنت ته لاړشي، مگر مشران به بې د خپلو جرمونو په بدله كې جهنم ته ځي.

د جنت حرامېدو مطلب:

إلاحرم الله عليه الجنة: په ده به جنت حرام شي، علماء دې باره كې فرمايي: دغه مشران به د هغو خلكو نه ځان جدا كړي، جنت ته به ابتداءً بې له سزا گاللو نه داخلېږي، بلكې يو ځل سزا به خوري، بيا به د سزا وروسته جنت ته داخل شي، يا دا معنى چې دا وعيد او عذاب هغو مشرانو ته دى چې ظلم او خيانت د ځان لپاره جائز بولي، نو اوس به دوى همېش په جهنم كې سوځي، په دوى به جنت حرام وي او خينو علماوو دا جمله په زجر او تنبيه باندې حمل كړې ده.

لم يجد رائحة الجنة: د جنت خوشبو هم په دوى باندې حرامه ده، ددې مطلب دا دى چې كه داسې ظالم او فرعون صفته بادشاه بالفرض جنت ته داخل هم شي بيا به هم د جنت د خوشبو څخه محرومه وي، يا دا مطلب چې ابتداءً به د خوشبو څخه محروم شي، خو وروسته به ورته وركړى شي.

د راوي معقل بن يسار رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې معقل رضي الله عنه دى، كنيت يې ابو عبد الله دى، د پلار نوم يې يسار دى، د صلحه حديبيه نه وړاندې مسلمان شوى وو، بيا په صلحه حديبيه كې هم د رسول الله ﷺ سره يو ځاى وو، كله چې رسول الله ﷺ په بيعت رضوان كې د صحابه كرامو رضي الله عنهم نه په مرگ بيعت واخيستلو، نو دوى په دې وخت كې يوه د ونې څانگه راخيستې وه او په رسول الله ﷺ يې سورى جوړ كړى وو.

رسول الله ﷺ دوى د مزينه قبيلې قاضي او حاكم جوړول غوښتل، هغوى ترې معذرت وكړو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ مرسته د قاضي سره وي؛ خو كله چې هغه ظلم نه كوي

عمر فاروق رضي الله عنه به د دوى زيات قدر او احترام كولو، په اهم كار كې به يې د دوى سره مشوره كول، يو ځل عمر رضي الله عنه ابوموسى اشعري رضي الله عنه ته حكم جاري كړو چې په بصره كې يو نهر وباسه، كله چې يې نهر وكيندلو، نو اوبه يې د معقل رضي الله عنه په لاس جاري كړې، يو ځل بيا د امير معاويه رضي الله عنه په دوره كې څه خرابي پكې راغلې وه، نو هغه يې صحيح كړو، بيا امير معاويه رضي الله عنه د معقل رضي الله عنه په لاس اوبه جاري كړې

وفات: د امير معاويه رضي الله عنه په دور خلافت كې وفات شو، په دې وخت كې يې عمر د شپېته يا اويا كالو ترمينځ وو.

مرويات: ۳۴ حديثونه ترې نقل دي، په يو حديث باندې يې بخاري او مسلم متفق عليه دي او په يو حديث كې يې بخاري رحمه الله منفرد دى او په دوه حديثونو كې مسلم رحمه الله منفرد دى.

د رعايا سره ښه نه کولو انجام

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ، يقول في بيتي هٰذا: اَللّٰهُمَّ مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِيْ شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ" د عائشه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي، فرمايل يې: يا الله ﷺ! کوم کس چې زما په امت باندې مشر جوړ شو او هغه بيا زما په امت سختي کوي، په هغه باندې سختي وکړې، "وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِيْ شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ، فَارْفُقْ بِهِ" او اې الله ﷺ! کوم کس چې زما په امت باندې مشر جوړ شو او هغه بيا زما په امت باندې نرمي کوي، نو اې الله ﷺ! په هغه باندې نرمي وکړې! رواه مسلم

تشريح: په حديث کې دې خبرې ته ترغيب دی چې څوک په قوم کې مشر وي يا حاکم وي، نو هغه ته پکار ده چې د قوم سره نرمي وکړي، سختي ورسره ونه کړي، د رسول الله ﷺ په باره کې هم راځي چې کله به دوی ته په دوه کارونو کې د يو کار کولو رايه ورکړل شوه، نو رسول الله ﷺ به هغه کار اختيار کړو چې هغه به آسان وو، دغه شان په مشکوة شريف کې يو روايت دی، کله چې به هم رسول الله ﷺ کوم صحابي ﷺ د کومې علاقې مشر يا والي ټاکلو، نو رسول الله ﷺ به ورته نصيحت کولو. په دې نصيحت کې به يې يوه خبره دا هم ورته کول چې د خلکو سره نرمي کوئ! سختي ورباندې مه کوئ!

ختم نبوت

"وعن أبي هريرة ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: كَانَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د بني اسرائيلو سياست به انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ کولو او هر کله چې به يو پېغمبر ترې وفات شو، نو بل پېغمبر به يې خليفه جوړ شو او مهمه خبره دا ده چې زما څخه وروسته بل پېغمبر نشته او نه به راځي، "وَسَيَكُوْنُ بَعْدِيْ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُوْنَ" زما څخه وروسته به زما خليفه ګان وي او ډېر زيات به وي، "قالوا: يا رسول الله، فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قال: أَوْفُوْا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ، ثُمَّ أَعْطُوْهُمْ حَقَّهُمْ، وَاسْأَلُوا اللهَ الَّذِيْ لَكُمْ، فَإِنَّ اللهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ" صحابه کرامو پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! په داسې حال کې تاسو موږ ته څه حکم کوئ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: وار په وار د يو بل نه پس ورسره بيعت کوئ! بيا د هغه حقونه پوره کوئ او خپل حقونه الله ﷺ ته سپارئ او د هغه نه يې غوارئ ځکه چې الله ﷺ چا ته ذمه واري حواله کړې ده، د هغې پوښتنه به د هغوی نه خپله کوي. متفق عليه

لغوي تحقيق:

تسوسهم: "ساس يسوس سياسة" سياست معنی ده - د رعايا د امورو انتظام کول

تشريح "بيعة الاول فالاول" د لومړي امير بيعت پوره کړئ، محدثين ددې مطلب داسې بيانوي کوم کس چې تر ټولو لومړی امير جوړ شي، دده اطاعت کوئ، ددې نه وروسته که بل امير جوړ شي نو بيا د هغه اطاعت کوئ، يعنې لکه څرنګه چې على الترتيب د يو نه وروسته بل خليفه جوړيږي.

دغه شان تاسو هم په دې ترتيب د يو خليفه نه وروسته د بل خليفه بيعت کوئ او د هغه اطاعت کوئ، ليکن د دې مطلب دا نه دى چې يو خليفه دې موجود وي او بل دې راشي، هغه لومړى خليفه پرېږدئ، نه بلکې که اولنى خليفه مړ شي يا معزول کړى شي، نو بيا د دويم خليفه حق دى چې بيعت ورسره وکړى شي.

اعطوهم حقهم: د هغه حقونه پوره کوئ، يعنې د دې مشرانو حقونه پوره کوئ، اګر چې دوى ستاسو حقونه خوري د دوى معامله د خداى سره پرېږدئ، الله ﷻ به يې خپله د قيامت په ورځ د دوى سره حساب کوي او د دې کوتاهي له امله به په سخت عذاب کې مبتلاء وي.

ترټولو بدترين انسان ظالم حاکم دى

"وعن عائذ بن عمرو رضي الله عنه: أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى عُبَيْدِ اللهِ بن زِيَادٍ، فَقَالَ لَهُ: أَيْ بُنَيَّ، إِنِّي سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ، فَإِيَّاكَ أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ" د عائذ بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې زه يوه ورځ عبيد الله بن زياد ته لاړم او هغه ته مې وويل: اې بچيه! ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: بدترين بادشاه هغه دى چې د خپلو ماتحتو سره سختي کوي، احتياط کوئ هسې نه چې په داسې خلقو کې شمار کړى شې. متفق عليه

لغوي تحقيق:

الحطمة: تېز اور، دوزخ، زيات اوښان او ګډې، (الحطيم) د کعبې څنګ سره يو ديوال دى.

تشريح: دا حديث هم په (باب في الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر) کې ذکر شوى دى، امام نووي رحمه الله دلته د باب د مناسبت له وجې دوباره ذکر کړو، په دې کې هم ظالمو مشرانو ته وعيد بيان شوى دى، اصل کې حطمه داسې شپونکي ته وايي چې خپله رمه په سختۍ سره شړي او دومره په تېزۍ سره يې شړي چې ګډې او چېلۍ! وزې په يوې او بلې باندې خېژي، دغه شان ځينې مشران هم وي، د خپلو ولسونو سره همداسې معامله کوي، د دې نه وراندې هم په حديث کې مشرانو ته حکم شوى دى چې دوى به د خپل ولس سره نرمي کوي.

د خلکو ضرورتونو پوره کولو لپاره څوک ټاکل

"وعن أبي مريم الأزدي رضي الله عنه: أنه قال لمعاوية رضي الله عنه: سمعت رسول الله ﷺ يقول: مَنْ وَلَّاهُ اللهُ شَيْئًا مِنْ أُمُورِ الْمُسْلِمِينَ، فَاحْتَجَبَ دُونَ حَاجَتِهِمْ وَخَلَّتِهِمْ وَفَقْرِهِمْ، احْتَجَبَ اللهُ دُونَ حَاجَتِهِ وَخَلَّتِهِ وَفَقْرِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فجعل معاوية رجلًا على حوائج الناس" د ابو مريم ازدي رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ما امير معاويه رضي الله عنه ته وويل: ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: الله ﷻ چې څوک د مسلمانانو په معاملاتو کې د يوې خبرې ذمه وار جوړ کړي او هغه د هغوى د ضرورتونو څخه ناخبره شي يا په مخ پټولو سره ترې اعراض وکړي، نو د قيامت په ورځ به الله ﷻ د همدې حاکم د ضرورتونو څخه مخ وګرځوي. دا چې امير معاويه رضي الله عنه واورېدل، نو يو کس يې وټاکلو چې د خلکو د ضرورتونو خيال وساتي او هغه به يې پوره کول. رواه أبوداود والترمذي

لغوي تحقيق:

فاحتجب: إحتجب يحتجب إحتجاباً ددې معنى ده پټېدل.

تشريح په ځينو رواياتو کې ولس ته حکم شوی دی چې دوی دې په هر حال کې د حاکمانو اطاعت کوي، د دوی مخالفت به نه کوي، اوس دلته حاکمانو ته خطاب دی چې دوی به د خپل ولس سره ښېګڼه کوي، ماتحت الاسباب د دوی ضرورتونه به پوره کوي. داسې نه چې يو ځل چوکۍ ورته حاصله شي، بيا يې څوک په دوربين کې هم نه ويني. ځکه چې که داسې رويه يې د خپل ولس سره اختيار کړه، نو د قيامت په ورځ به الله ﷻ هم دده د ضرورتونو نه اعراض وکړي. دده ضرورتونه به ورته پوره نه کړي

د راوي ابو مريم ازدي رحمه الله حالات:

په ابو مريم ازدي او په ابو مريم غساني کې د اسماء الرجال عالمانو اختلاف دی، وايي معلومه نه ده چې دا دوه کسان وو او که يو کس دی، خو نومونه يې دوه دي، دواړه طرفته اقوال موجود دي، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: د ابو مريم اصلي نوم (عمرو بن مرة الجهني) دی. بهرحال دده په باره کې اختلاف شته.

مرويات: صرف يو روايت ترې نقل دی. هغه هم په سنن ابوداود کې دی او بس.

باب الوالی العادل

"قَالَ اللّٰـــه تعالٰی" الله ﷻ فرمايي: "إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ" الله ﷻ تاسو ته په انصاف کولو او په نېکۍ کولو سره حکم کوي. [النحل:۹۰] الآية

تشريح: په وړاندې (باب الأمر ولاة الأمور بالرفق برعاياهم ونصيحتهم) کې ذکر شوي دي

وقال تعالٰی: الله ﷻ فرمايي: "وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ" او انصاف کوئ بې شکه الله ﷻ انصاف کوونکي خوښوي. [الحجرات:۹].

تشريح: په دې آيت کې ترغيب ورکول شوی چې بايد په ټولو کارونو کې د انصاف څخه کار واخيستل شي، اګر چې ستا خپلوان ولې نه وي. الله ﷻ انصاف خوښوي، په قرآن کريم کې يو بل ځای راغلي دي "أن تحكموا بالعدل" په عدل او انصاف سره فيصله کوئ

اوه/۷ کسان به د عرش تر سيورې لاندې وي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. اوه کسان دي چې الله ﷻ به يې په داسې ورځ سيورې کې داخل کړي چې ددې سيورې نه سيوا بل سورې به نه وي، "إِمَامٌ عَادِلٌ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللهِ تعالٰی" اول هغه

کښې چې عادل بادشاه وي، بل هغه ځوان چې د الله ﷻ په عبادت کې را لوی شي. "وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ" بل هغه سړی چې زړه يې په جوماتو پورې نښتی وي. "وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ" او بل هغه دوه کسان چې د دوی مينه او محبت په خپل مابين کې صرف او صرف د الله ﷻ د رضا لپاره وي، په همدې باندې سره جمع کيږي او په همدې سره جدا کيږي. "وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ: إِنِّي أَخَافُ اللهَ" او بل هغه سړی چې يوه ښکلې ښځه چې منصب او جمال ولري د زنا دعوت ورکړي او دی ورته ووايي زه د الله ﷻ نه ويريږم. "وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ" بل هغه سړی چې په داسې پټه طريقه صدقه ورکړي چې چپ لاس يې په دې باندې خبر نه شي چې په ښي لاس يې څه صدقه کړل. "وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِياً فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ" او بل هغه سړی چې خپل جدا، يوازې کښيني او د الله ﷻ ذکر وکړي او د هغه د سترګو څخه اوښکې وبهيږي. متفق عليه

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب فضل الحب في الله تعالى) کې تېر شوی دی، امام نووي رحمه الله دلته ددې باب په مناسبت سره ذکر کړو، په دې حديث کې هم د عادل امام فضيلت بيان شوي: کوم امام چې عدل او انصاف کوي، هغه به د الله ﷻ د عرش تر سيورې لاندې وي

عادل بادشاه به د نور په منبر وي

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ" د "الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا" رواه مسلم

عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل انصاف کونکي به د قيامت په ورځ د نور په منبرونو ناست وي. "الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا" رواه مسلم

تشريح: إن المقسطين: انصاف والا مشران. مطلب دا چې کوم خلک مشران دي، هغوی به انصاف کوي، د دوی په غاړه چې کوم کارونه دي، دوی به په دې کارونو کې پوره پوره انصاف کوي، او کوم حقونه چې د ولس په غاړه دي، په دې کې به هيڅ کوتاهي نه کوي. په قرآن کريم کې يو ځای ارشاد دی: "وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ" او انصاف کوئ، بې شکه الله ﷻ انصاف کونکي خلک خوښوي. "على منابر من نور" د نور په منبرونو به ناست وي، ددې منبر صورت او کيفيت به څه وي، موږ صرف په دې ايمان ساتو، ددې حقيقت صرف يو الله ﷻ ته معلوم دی

د ښه او بد حاکم نخښه

"وعن عوف بن مالك رضي الله عنه، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: خِيَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ، وَتُصَلُّونَ عَلَيْهِمْ وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ" د عوف بن مالك رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل فرمايل بې: په تاسو کې غوره مشران او امامان هغه دي چې تاسو د هغوی سره مينه کوئ او هغوی ستاسو سره مينه کوي او تاسو هغوی ته دعاګانې کوئ او هغوی تاسو ته دعاګانې کوي. "وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُبْغِضُونَهُمْ وَيُبْغِضُونَكُمْ، وَتَلْعَنُونَهُمْ وَيَلْعَنُونَكُمْ" او په تاسو کې بد ترين مشران او امامان هغه خلک دي چې هغوی ستاسو بدې شي او تاسو د هغوی بدې شي او هغوی په تاسو لعنت وايي او تاسو په هغوی لعنت

وايي: "قَالَ: قُلْنَا: يَارسولَ اللهِ، أَفَلاَ نُنَابِذُهُم؟" راوي وايي: موږ ووېل: يارسول الله ﷺ! ايا موږ د هغوی سره جهاد ونه کړو؟ "قَالَ: لاَ، مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلاَةَ. لاَ، مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلاَةَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: نه، تر څو چې هغوی ستاسو سره لمونځ کوي، جهاد به ورسره نه کوئ، تر څو چې هغوی ستاسو سره لمونځ کوي تر جهاد به ورسره نه کوئ! رواه مسلم.

"قوله: ((تصلون عليهم)): تدعون لهم" دا قول چې (تصلون عليهم) معنی يې ده: دعاء کول

تشريح: په دې حديث کې د ښه او بد مشر نخښه ښودل شوې ده، ښه حاکم هغه دی چې د ولس په ښېګڼه کې مندې وهي، په عدل او انصاف سره يې فيصلې کوي، بل دا چې د خپل ولس لپاره دعاګانې کوي، عوام هم دوی ته دعاګانې کوي، بد مشر هغه دی چې صرف د خپلې چوکۍ او منصب خيال ساتي، د هغه غرض دا وي چې څرنګه به وي خو چې پيسې وګټم، د ولس د ښېګڼې سره يې هيڅ کار نه وي، نه په دې فکر کې وي چې زه ددې خلکو په واسطه مشر شوی يم، آخر د دوی په ما باندې څه نا څه حق شته او که نه

کله به حاکم معزول کولی شي؟

اقاموا الصلوة: محدثين فرمايي: کله چې په کوم امير کې د امارت او مشرۍ شرطونه موجود وي، د هغه امارت متحقق شي، نو بيا د داسې حاکم او امير په خلافت بغاوت کول يا جګړه ورسره کول جائز نه دي، خو که د هغه نه بواح کفر يعنې ښکاره کفر څرګند شي او د هغه د حکومت نه اسلام ته خطر وي، بيا داسې حاکم معزول کول جائز نه، بلکې واجب دي، په حديث کې په لمونځ قائمولو سره ترې تعبير وشو

درې قسمه خلک جنتيان دي

"وعن عياض بن حمار ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقول: أَهلُ الجَنَّةِ ثَلاثَةٌ: ذُو سُلطَانٍ مُقْسِطٌ مُوَفَّقٌ" د عياض بن حمار ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل فرمايل يې: درې قسمه خلک جنتيان دي: يو بادشاه چې انصاف کوي، د انصاف توفيق هم ورکړی شوی وي، "وَرَجُلٌ رَحِيمٌ رَقِيقُ القَلْبِ لِكُلِّ ذِي قُرْبَى وَمُسْلِمٍ" بل هغه سړی چې د مسلمانانو په حق کې ډېره نرمي کوي، شفقت کوي او مهربانه وي، "وعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذو عِيالٍ" او بل هغه کس چې عيال (بچي) يې زيات وي، خو چاته د سوال لپاره لاس نه نيسي. رواه مسلم.

تشريح: په حديث کې ددې درې صفتونو حامل خلکو لپاره د جنت زيری دی، لومړی عادل حاکم شو، دويم د خپلوانو سره ښه سلوک کوونکی او دريم هغه کس چې د سوال نه ځان وساتي.

علماء فرمايي: ددې درې قسمه صفتونو والا خلکو لپاره ترغيب ورکول شوی چې دوی بايد په دې ښکلي صفتونو باندې ځانونه کلک وساتي، ددې لپاره چې جنت ته داخلېدل ورته آسان شي، بهر حال په حديث کې عادل امام او امير ته زيری ورکول شوی چې دوی به ددې ښکلي صفتونو په وجه

جنت ته داخليږي، علماء ليکي: دا زيری عادل بادشاه ته څکه دی چې هغه بادشاه وي، هغه ماتحت الاسباب مختلف فسق، فجور او بې انصافی کولی شي، ليکن بيا هم ددې سره سره عدل کوي. الله ﷻ په دې باندې ډېر زيات خوشحاليږي، ددې خوشحالی په بدله کې ورته جنت ورکوي.

باب وجوب طاعة ولاة الأمر في غير معصية وتحريم طاعتهم في المعصية

د حاکم تابعداري واجب ده، خو د شريعت په مخالف حکم کې يې تابعداري نشته

"قَالَ اللّٰـهُ تعالیٰ" الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ" خبردار! اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، د الله ﷻ تابعداري وکړئ او د هغه د رسول ﷺ تابعداري وکړئ! "وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ" او کوم کسان چې په تاسو کې اميران يا علماء کرام دي، د هغوی تابعداري وکړئ [النساء:۵۹].

تشريح په دې آيت کې د الله ﷻ اطاعت او د رسول الله ﷺ اطاعت حکم شوی دی، د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ اطاعت مقصود بالذات دي، نو څکه د دواړو سره لفظ د (اطيعوا) ذکر شو. خو د (اولي الامر) نه مراد يا حاکمان دي او يا عالمان دي، که حاکمان مراد شي، نو بيا هم د دوی اطاعت مستقل بالذات نه دی، بلکې که دوی د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ تابع وي او د دوی حکمونه که د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ د تعليماتو موافق وي، نو بيا به ددې حاکمانو اطاعت کولی شي. کنې نه، د دغې نکتې له وجې په قرآن کريم کې د (أولي الأمر) سره لفظ د (أطيعوا) ذکر نه شو.

د (أولي الأمر) نه مراد څوک دي؟

ددې په تفسير کې مفسرينو يوولس (۱۱) اقوال نقل کړي دي، په دې کې پنځه اقوال زيات مشهور دي: علامه مجاهد رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد صحابه کرام رضي الله عنهم دي، ابن کيسان رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد عقل مند اصحاب الرائ دي، د مقاتل رحمه الله، کلبي رحمه الله او مهران رحمه الله ارشاد دی: ددې نه مراد مشران او اميران دي، د ابو العاليه رحمه الله او جابر بن عبد الله رضي الله عنه په قول ددې نه مراد علماء او فقهاء دي، امام مالک رحمه الله دې قول ته ترجيح ورکړې ده، امام شافعي رحمه الله فرمايي چې ددې نه مراد امراء دي، د امام نووي رحمه الله ميلان هم دې طرفته دی، امام قرطبي رحمه الله هم دا خبره اصح ګڼلې ده.

په نافرمانۍ کې به د حاکم اطاعت نه کيږي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قال: عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په مسلمان باندې اورېدل لازم دي او په هر قسم حکم کې اطاعت کول، که ورته ښه لګيږي او که نه. "إِلَّا أَنْ يُؤْمَرَ بِمَعْصِيَةٍ، فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ"

مګر کله چې د شريعت خلاف حکم وکړي، نو بيا په دې حالت کې نه اورېدل لازم دي او نه يې تابعداري لازمه ده. متفقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق: عفيف: د حرام يا غير مستحسن کارونو څخه ځان ساتل

تشريح علامه نووي رحمه الله فرمايي: په دې خبره د علماوو اتفاق دی چې کله کوم امير يا حاکم شرعي طور سره مشر جوړ کړی شي، نو دده اطاعت به په جائزو کارونو کې کولی شي، ليکن که هغه ناجائزه کارونو امر درته کوي، نو بيا به د هغه خبره نه شي منلی.

د حاکم اطاعت به د طاقت مناسب وي:

"وعنه، قَالَ: كُنَّا إِذَا بَايَعْنَا رسولَ الله ﷺ عَلَى السَّمعِ وَالطَّاعَةِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ د رسول الله ﷺ سره په دې خبره بيعت وکړو چې ستاسو حکم به اورو او تابعداري به کوو، "يَقُولُ لَنَا: فِيمَا اسْتَطَعْتُمْ" بيا به يې موږ ته وفرمايل: د اورېدلو او د منلو دا بيعت د هغه کارونو لپاره دی چې په تاسو کې يې طاقت وي. متفقٌ عَلَيْهِ.

تشريح: علماء فرمايي: که يو طرفته په دې حديث کې عام ولس ته حکم دی چې تاسو به د مسلمانانو مشرانو اطاعت کوئ، په دې شرط چې دوی به د شرع مخالف امر نه کوي، نو بل طرف حاکمانو ته هم حکم دی چې تاسو به هم عوام دومره په تکليف کې نه اخته کوئ چې دوی يې بوج نه شي پورته کولی، د رسول الله ﷺ ارشادات جوامع الکلم دي، ځکه چې دواړه طرف ته يې ډېر زيات خيال ساتلی دی.

څوک چې د شرعي حاکم اطاعت نه کوي هغه د جاهليت په مرګ مړ کيږي

"وعنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ، يقول: مَنْ خَلَعَ يَداً مِنْ طَاعَةٍ لَقِيَ اللهَ يَوْمَ القِيَامَةِ وَلاَ حُجَّةَ لَهُ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: چاچې د بيعت نه پس د فرمانبرداری نه لاس راښکلو، نو په قيامت کې به د الله جل جلاله سره داسې حال کې ملاو شي چې د هغه سره به هيڅ دليل او بهانه نه وي، "وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً" او کوم کس چې په داسې حال کې مړ شي چې د بيعت هار يې په غاړه نه وي، نو هغه د جاهليت په مرګ باندې مړ شو. رواه مسلم.

"وفي رواية لَهُ: وَمَنْ مَاتَ وَهُوَ مُفَارِقٌ لِلجَمَاعَةِ" او په يو بل روايت کې دي: کوم کس چې پداسې حال کې مړ شي چې د عامو مسلمانانو د ډلې څخه بېل شو، "فَإنَّهُ يَمُوتُ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً" نو داسې کس به د جاهليت په مرګ مړ شي.

((المِيتَةُ)) بكسر الميم.

تشريح: من خلع يداً من طاعة: چا چې د امير د اطاعت نه لاس واخيستلو، مطلب دا چې کله يو شرعي حاکم امير او مشر شي، نو اوس د هغه اطاعت او تابعداري تر شريعت لاندې ضروري ده او د هغه مخالفت ګمراهي ده.

د جاهليت په مرګ څه معنی؟

فانه يموت ميتة جاهلية: داسې کس د جاهليت په مرګ مړ کيږي. مطلب دا چې لکه څرنګه د اسلام نه وړاندې د کوم امير او مشر تصور نه کېدو. په دې کې به دوی خپل ذلت او عار محسوسولو. اسلام چې راغلو نو ټولو ته يې د نظم او ضبط سبق وښودلو. ټول يې د يو امير پابند جوړ کړل او د اطاعت تاکيد يې ورته وفرمايلو، اوس چې څوک د امير جوړېدو نه وروسته د امير اطاعت نه کوي، خپل ځان د امير له اطاعت نه وباسي، نو داسې کس د جاهليت د زمانې يو عمل کوي. نو څکه هغه ته تنبيه ورکول شوه چې که دې مړ شو، نو د جاهليت په مرګ مړ شو.

د غلام اطاعت هم ضروري دی

"**وعن أنس** ﷺ **قَالَ: قَالَ رسولُ اللــه** ﷺ: **اسْمَعُوا وأَطِيعُوا، وإنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشيٌّ**" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. په تاسو باندې اورېدل او منل لازم دي اګرچې په تاسو باندې يو حبشي غلام حاکم جوړ شي، "**كَأنَّ رَأْسَهُ زَبِيبةٌ**" اګر چې د هغه سر د انګورو د دانې په مثل وي، (مطلب دا چې ظاهري طور سره ډېر سپک، بد رنګه او بد شکله وي، که هغه ستاسو امير او بادشاه شي، نو د هغه خبره اورئ، اطاعت يې کوئ او کوم حکم چې درته کوي. په هغې عمل کوئ) رواه البخاري.

لغوي تحقيق:

استعمل: استعمل يستعمل استعمالاً عامل جوړېدل، د امير او بادشاه له لورې عامل جوړېدل.

زبيب: يو قسم زخم وي چې په لاس کې راوخي، د خولې ژګ ته هم ويل کيږي، په اصل کې د انګورو وچې دانې ته ويل کيږي چې وچکه ورته ويل کيږي

تشريح وان استعمل عليكم عبد حبشي: اګر چې په تاسو باندې يو حبشي غلام حاکم جوړ شي، نو بيا به هم د هغه اطاعت ضروري وي.

محدثين فرمايي: په حديث کې مبالغه ده، که چيرته په تاسو باندې يو حبشي غلام هم حاکم جوړ شي، نو د هغه اطاعت ضروري دی، د هغه خلاف بغاوت جائز نه دی، ددې مثال داسې دی، لکه په يو روايت کې راځي چې څوک د چرچنې خالې برابر جومات جوړ کړي، نو هغه ته هم په جنت کې کور جوړيږي، نو د چرچنې خالې برابر جومات جوړولو نه مقصد د جومات اهميت واضحه کول وي. په حديث کې هم د غلام حبشي بيانول، د هغه د تابعداری اهميت واضحه کول مقصود دي.

سوال: په شريعت کې خو غلام امير او مشر جوړول جائز نه دي، نو د هغه د اطاعت نه مراد څه دی؟

لومړی ځواب: دلته د غلام مثال ورکولو څخه مراد په اطاعت کې مبالغه ده، يعنې بالفرض که غلام هم امير شي، بيا به هم د هغه خلاف بغاوت نه کوئ!

دويم ځواب: د حاکم نه مراد خليفه نه دی، بلکې د علاقې عامل او والي مراد دی، د نول هېواد غلام خليفه جوړول جائز نه دي، ليکن د يوې علاقې والي جوړل جائز دي.

په هر حال کې اطاعت ضروري دی

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: عَلَيْكَ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِي عُسْرِكَ وَيُسْرِكَ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تا باندې اورېدل او منل لازم دي، که د تنګی حالت وي او که د اسانی، "وَمَنْشَطِكَ وَمَكْرَهِكَ، وَأَثَرَةٍ عَلَيْكَ" او که د فراخی حالت وي، په تنکسيا کې وي او که ستاسو د مزاج خلاف حکم وي او يا په تاسو باندې بل کس ته ترجيح ورکړی شي، بس په تاسو د امير حکم منل او اورېدل لازم دي. رواه مسلم.

تشريح: عليك السمع والطاعة في عسرك: په تا باندې اورېدل او اطاعت لازم دی په تنګی کې هم، د امير او مشر خبره منل چې د شريعت په حدودو کې وي او د شريعت موافقه وي ضروري ده، برابره خبره ده چې هغه امير او حاکم د طبعيت موافق حکم کوي او کنه، که حاکم داسې امر جاري کړي چې د شريعت خلاف نه وي، نو بيا به دده خبره نه شي منلی.

واثرة عليك: په تا باندې نورو ته ترجيح ورکړي، نو بيا هم اطاعت کوه، مطلب دا چې کوم کس د اميري يا د مشری لائق وي، ليکن د وخت حاکم هغه چوکی بل کس ته ورکړي کوم چې ددې حقدار نه وي، نو بيا هم فرمايي چې: اطاعت يې ضروري دی، ددې ترجيحي سلوك باوجود سړی بايد د صبر او برداشت څخه کار واخلي

ددې امت په آخري حصه کې ازموينت دی

"وعن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما، قَالَ: كنا مَعَ رسول الله ﷺ في سَفَرٍ، فَنَزَلْنَا مَنْزِلاً، فَمِنَّا مَنْ يُصْلِحُ خِبَاءهُ، وَمِنَّا مَنْ يَنْتَضِلُ" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ په سفر کې روان وو، يو ځای موږ دېره واچول، ځينې خلکو خيمې لګول شروع کړې او ځينو غشي ويشتونکو غشي په نخښه کړل، "وَمِنَّا مَنْ هُوَ فِي جَشَرِهِ" او ځينې د څارويو په حفاظت کې مشغول شو، "إِذْ نَادَى مُنَادِي رسولِ الله ﷺ: الصَّلاَةَ جَامِعَةً. فَاجْتَمَعْنَا إِلَى رسولِ الله ﷺ" په داسې حال کې د رسول الله ﷺ آواز کونکي آواز وکړو چې د لمانځه وخت دی، نو موږ ټول رسول الله ﷺ ته راجمع شو، "فَقَالَ: إنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ قَبْلِي إِلاَّ كَانَ حَقّاً عَلَيْهِ أَنْ يَدُلَّ أُمَّتَهُ عَلَى خَيْرِ مَا يَعْلَمُهُ لَهُمْ، وَيُنْذِرَهُمْ شَرَّ مَا يَعْلَمُهُ لَهُمْ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: زما څخه مخکې هر نبي عليه السلام باندې دا لازم وه چې خپل امت د خپل علم مطابق د هغو غوره خبرو څخه خبر کړي چې د هغوی لپاره خير وي او د هغو خبرو څخه يې وويروي چې د هغوی لپاره بدې وي، "وَإنَّ أُمَّتَكُمْ هذِهِ جُعِلَ عَافِيَتُهَا في أَوَّلِهَا، وَسَيُصِيبُ آخِرَهَا بَلاَءٌ وَأُمُورٌ تُنْكِرُونَهَا" او ددې امت په اولنی حصه کې الله ﷺ خير او عافيت ايښی دی او په آخره زمانه کې به داسې مصيبتونه مخې ته راشي چې تاسو به يې بد ګڼئ: "وَتَجِيءُ فِتْنَةٌ يُرَقِّقُ بَعْضُهَا بَعْضاً" د يوې فتنې نه پس به بله فتنه راشي او اوله فتنه به ورته سپکه ښکاره کړي، د هرې فتنې نه به بله فتنه پيدا کړي، "وَتَجِيءُ الفِتْنَةُ

فَيَقُولُ الْمُؤْمِنُ: هٰذِهِ مُهْلِكَتِي، ثُمَّ تَنْكَشِفُ، وَتَجِيءُ الْفِتْنَةُ فَيَقُولُ الْمُؤْمِنُ: هٰذِهِ هٰذِهِ" دې فتنې ته چې مسلمان وګوري نو خيال به کوي چې دا فتنه خو ما هلاکوي، مګر هغه فتنه او امتحان به لرې کړی شي، نو ددې نه پس به بله نوې فتنه رابښکاره شي، مسلمان به ووايي: هو بس همدا فتنه خو غټه ده او همدا ده همدا ده. "فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُزَحْزَحَ عَنِ النَّارِ، وَيُدْخَلَ الْجَنَّةَ، فَلْتَأْتِهِ مَنِيَّتُهُ وَهُوَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ" بس کوم کس چې دا خبره خوښه ګڼي چې د جهنم نه خلاص شي او جنت ته داخل شي، نو بايد چې هغه ته مرګ په داسې حال کې راشي چې هغه په الله ﷻ ايمان او په آخرت يقين لري، "وَلْيَأْتِ إِلَى النَّاسِ الَّذِي يُحِبُّ أَنْ يُؤْتَى إِلَيْهِ" او د خلکو سره دې هغسې معامله کوي لکه څرنګه چې هغه د خلکو نه مطالبه کوي، "وَمَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ، وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ، فَلْيُطِعْهُ إِنِ اسْتَطَاعَ" او کوم کس چې د وخت امام سره بيعت وکړي او خپل لاس د هغه په لاس کې ورکړي او د زړه نه يې تابعداري وکړي، نو څومره وس يې چې کېږي د هغه تابعداري دې وکړي، "فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَ الْآخَرِ" او که دويم کس راشي د هغه امام سره جګړه کوي (وايي: زه هم امام يم) نو بايد ددغه دويم امام څټ په توره ووهي. رواه مسلم.

"قَوْلُه: ((يَنْتَضِلُ)) أَيْ: يُسَابِقُ بِالرَّمْيِ بِالنَّبْلِ وَالنُّشَّابِ" دا قول چې ينتضل معنى يې ده: په غشو ويشتلو کې د يو بل نه مسابقه او وړاندې والى کول، "قوله خباءه" د اوړې يا وينښتانو نه جوړه شوې خيمه، "وَ((الْجَشَرُ)): بِفَتْحِ الْجِيمِ وَالشِّينِ الْمُعْجَمَةِ وَبِالرَّاءِ، وَهِيَ: الدَّوَابُّ الَّتِي تَرْعَى وَتَبِيتُ مَكَانَهَا" د (الجشر) معنى ده: هغه ځاى چې څاروي او ځناور پکې څرولى شي، "وَقَوْلُهُ: ((يُرَقِّقُ بَعْضُهَا بَعْضًا)) أَيْ: يُصَيِّرُ بَعْضُهَا بَعْضًا رَقِيقًا: أَيْ خَفِيفًا لِعِظَمِ مَا بَعْدَهُ، فَالثَّانِي يُرَقِّقُ الْأَوَّلَ" دا قول چې (يرقق بعضها الخ ....) ددې معنى ده: يوه فتنه به بله فتنه نرمه او کمزورې ونښيي، ځکه چې آخرنى فتنه به د اولنى فتنې څخه ډېره زياته سخته وي، اولنى به کمزورې وګڼل شي، "وقيل مَعْنَاهُ يُشَوِّقُ بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ بِتَحْسِينِهَا وَتَسْوِيلِهَا، وقيل: يُشْبِهُ بَعْضُهَا بَعْضًا" او چا دا خبره کړې ده چې يوه فتنه به بلې فتنې ته د تلو د حسن او ښکلا له وجې شوق پيدا کړي، چا دا معنى کړې ده چې يوه به د بلې سره مشابه وي.

تشريح: تجيء الفتنة فيقول المومن هذه مهلكتي: فتنې به راشي نو مومن به وايي چې په دې فتنې سره به زه هلاك شم، قيامت ته نږدې به مختلفې فتنې ظاهرې شي چې ددې فتنو پيشنګويي رسول الله ﷺ د نن څخه څوارلس سوه کاله وړاندې (باذن الله) کړې ده، ددې ذکر په مختلفو احاديثو کې راغلى دى، ددې فتنو د پيشنګويي څخه مقصد دا دى چې امت دې ددې څخه ځان وساتي، په دې کې ځان مبتلا نه کړي، دا فتنې به زياتې سختې وي، ددې نه ځان ساتل يوازې په ايمان بالله او ايمان بالاخرة سره کېدلى شي، مطلب دا چې خپله هم په شريعت عمل وکړي او نورو ته هم په شريعت باندې د عمل کولو تاکيد وکړي.

ومن بايع اماماً فاعطاه صفقة يده: کوم کس چې د يو حاکم سره بيعت وکړي، هغه ته خپل لاس او د زړه ميوه ورکړي، (نو اوس د هغه اطاعت ضروري دى) مطلب دا چې کله ټول مسلمانان په يو حاکم باندې

متفق شي. د هغه په لاس بيعت وکړي، ددې وروسته چې هر کس په دې کې خنډ جوړېږي او شر جوړوي، نو هغه دې قتل کړی شي. په يو بل روايت کې دي چې "فاضربوه بالسيف كائنامن كان" هغه په توره ووهئ هرڅوك چې وي. کله چې د ټولو خلکو اتفاق وشو، نو اوس چې هرڅوك وي هغه په دې اتفاق کې اختلاف پيدا کول غواړي، دا که هر څوك وي. اګرچې د مشرې حقدار ولې نه وي، نو بيا هم هغه قتل کړئ؛ ځکه چې دده په وجه په امت کې لويه فتنه جوړه شوې ده. ددې نتيجه قتل او قتال ده. ددې نه معلومه شوه چې په شريعت کې د اتفاق څومره اهميت ورکول شوی دی. د انتشار او فتنې نه د بچ کېدو څومره تاکيد شوی دی، که ددې فتنې د دفع کولو لپاره يو کس ووژل شي. نو هم صبر ورته نه کوئ؛ هغه مړ کړئ، خو چې فتنه ختمه شي او اتفاق قائم شي.

خپله ذمه واري سر ته رسوه!

"وعن أبي هُنَيْدَةَ وَائِلِ بن حُجرٍ ﷺ، قَالَ: سَأَلَ سَلَمَةُ بن يَزِيدَ الجُعْفِيُّ رسولَ الله ﷺ، فَقَالَ: يَانَبِيَّ الله، أرأيتَ إن قامت عَلَيْنَا أُمَرَاءُ يَسألونَا حَقَّهم، وَيَمنَعُونَا حَقَّنَا، فَمَا تَأمُرُنَا؟" د ابو هنيدة وائل بن حجر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې سلمة بن يزيد جعفي ﷺ د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ! خبر راکړه به دې باره کې چې که په موږ باندې ځينې داسې مشران مقرر شي چې دوی خپل حقونه زموږ څخه غواړي، لېکن زموږ حقونه موږ ته نه راکوي، نو په داسې حالت کې تاسو موږ ته حکم څه حکم راکوئ؟ "فَأعْرَضَ عنه ثُمّ سَأَلَهُ، فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: اسْمَعُوا وَأطِيعُوا، فَإِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوا، وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ" نبي کريم ﷺ ترې مخ واړولو، بيا هغه صحابي ﷺ پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: تاسو يې خبره واورئ او وې منئ؛ ځکه چې د هغوی نه به د هغه څه باره کې پوښتنه کيږي د کوم څه ذمه واري چې د هغه په ذمه ده او ستاسو نه به د هغه څه باره کې پوښتنه کيږي د کومو کارونو ذمه واري چې په تاسو ده. رواه مسلم.

تشريح: که يو طرف په دولت باندې څه ذمه واري دي. نو بل طرف په ولس هم څه نا څه ذمه داري شته. دولتي نظام به هغه وخت صحيح وچليږي چې دواړه طرف ته خلك خپلې ذمه واري وپيژني. رسول الله ﷺ ډېر په حکيمانه انداز سره مشران هم د هغوی ذمه واريو ته متوجه کړل او ولس ته يې هم تاکيد وفرمايلو چې د حکومت او مشرانو حقونه وپيژني، کله چې دواړه طرف د يو بل حقونو خيال وساتي. نو بيا به نظام صحيح شي او کله چې د يو بل په حقونو ادا کولو کې لږ کمی راشي نو بايد د صبر نه کار واخيستل شي.

د راوي ابو وائل بن حجر ﷺ حالات:

اصل نوم يې وائل ﷺ دی، ابو هنيده يې کنيت دی، د پلار نوم يې حجر دی چې د حضرموت بادشاه وو. خپله وائل ﷺ هم مشر تېر شوی دی. د مکې د فتحې وروسته د اسلام قبلولو لپاره مدينې منورې ته راغلو او د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو. رسول الله ﷺ ورسره ملاقات وکړو، په هغه يې کېنولو. د هغوی د بچيانو لپاره يې د برکت دعا، هم او خپل څادر يې ورته خپور کړو.

وكړه، اسلام يې چې قبول كړو، بېرته خپل ځاى ته واپس تلو. نو رسول الله ﷺ ورته د حضرموت ځمكې يوه قطعه وركړه او كله چې رخصتېدو، نو تر ډېره ورسره رسول الله ﷺ پېدل روان شو. كله چې كوفه آباده شوه، نو په كوفه كې يې سكونت اختيار كړو، په جنګ صفين كې د علي ﷺ طرفدار وو. د حضرموت قبيلې بيرغ د دوى په لاس كې وو.

وفات د امير معاويه ﷺ په دور خلافت كې وفات شو.

مرويات يوسل يو اويا (۱۷۱) حديثونه ترې نقل دي، په بخاري كې يو هم نشته او په مسلم كې يې شپږ حديثونه نقل دي.

خپل حق اداكوه!

"وعن عبد الله بن مسعود ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إِنَّهَا سَتَكُونُ بَعْدِي أَثَرَةٌ وَأُمُورٌ تُنْكِرُونَهَا!" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د ېر زر به زما څخه وروسته داسې كارونه وي چې يو كس ته به په بل باندې ترجيح وركول كيږي او داسې كارونه به شروع شي چې تاسو به يې نا اشنا ګڼئ! "قالوا: يَا رسولَ الله، كَيْفَ تَأْمُرُ مَنْ أَدْرَكَ مِنَّا ذَلِكَ؟" صحابه كرامو ﷺ وفرمايل. په داسې حال كې به تاسو موږ ته د څه شي حكم كوئ؟ "قَالَ: تُؤَدُّونَ الحَقَّ الَّذِي عَلَيْكُمْ، وَتَسْأَلُونَ اللهَ الَّذِي لَكُمْ" نبي كريم ﷺ وفرمايل. تاسو خپله ذمه واري او حق پوره ادا كوئ كوم چې ستاسو په ذمه دى. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح تودون الحق الذي عليكم: تاسو خپل حقونه ادا كوئ كوم چې ستاسو په ذمه دي، د حديث مطلب دا دى. حاكم چې كله ترجيحي كارونه شروع كړي، يعني د چا چې كوم حق كيږي هغه حق نه ادا كوي، په داسې صورت كې به تاسو د دوى سره د مقابلې پر ځاى كوم حقونه چې د دوى ستاسو په ذمه دي، هغه پوره كړئ او كوم حقونه چې ستاسو د دوى په ذمه دي ددې حقونو ترلاسه كولو لپاره د الله ﷻ نه سوال كوئ، په دې طريقه به الله ﷻ تاسو ته ددې نه غوره بدله دركړي.

چا چې د حاكم اطاعت وكړو، هغه د نبي كريم ﷺ اطاعت وكړو

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: ((مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ، د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل كوم كس چې زما تابعداري وكړه هغه د الله ﷻ تابعداري وكړه او كوم كس چې زما نافرماني وكړه هغه د الله ﷻ نافرماني وكړه، "وَمَنْ يُطِعِ الأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي، وَمَنْ يَعصِ الأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي" او كوم كس چې د امير (مشر) تابعداري وكړه هغه زما تابعداري وكړه او كوم كس چې د امير (مشر) نافرماني وكړه، هغه زما نافرماني وكړه. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح من أطاعني فقد أطاع الله: چا چې زما اطاعت وكړو، په حقيقت كې هغه د الله ﷻ تابعداري وكړه. همدغه مضمون په قرآن كريم كې هم دى. "من يطع الرسول فقد اطاع الله" چا چې د رسول الله ﷺ تابعداري وكړه په حقيقت كې هغه د الله ﷻ تابعداري وكړه.

ځينې علماء فرمايي: په دې حديث كې ددې خبرې احتمال هم شته چې الله ﷻ د خپل اطاعت

حکم ورکړی دی او د الله ﷻ د اطاعت صورت دا دی چې د رسول الله ﷺ اطاعت وکړی شي

ومن عصاني فقد عصى الله: او چا چې زما نافرماني وکړه، په حقيقت کې هغه د الله ﷻ نافرماني وکړه، همدغـــې مضمون په قرآن کريم کې هم شته. **"ومن يعص الله ورسوله فإن له نار جهنم"** چا چې د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ نافرماني وکړه، هغه ته د جهنم اور دی.

ومن يطع الأمير فقد أطاعني: د بخاري شريف په يو روايت کې دي چې: **"ومن يطع أميري"** چا چې زما د امير اطاعت وکړو، ددې مطلب دا شو چې د امير اطاعت کول د رسول الله ﷺ حکم منل دي، نو موږ به د رسول الله ﷺ حکم ومنو او د امير اطاعت به کوو، دا داسې شوه لکه موږ چې د رسول الله ﷺ اطاعت کړی وي

ومن يعص الأمير فقد عصاني: او چا چې د امير نافرماني وکړه، په حقيقت کې هغه زما نافرماني وکړه، ځکه چې د امير اطاعت کولو حکم رسول الله ﷺ خپله کړی دی، نو اوس چې څوک د امير اطاعت نه کوي، په حقيقت کې هغه (نعوذ بالله) د رسول الله ﷺ خبره نه مني

د حاکم په ناخوښه کارونو صبر کوئ!

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما : أن رسول الله ﷺ ، قَالَ : مَنْ كَرِهَ مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئاً فَلْيَصْبِرْ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په امير (مشر) کې داسې خبره ويني چې هغه يې بده ګڼي، نو بايد چې صبر وکړي، **"فَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ السُّلْطَانِ شِبْراً مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً"** دا ځکه چې څوک د امير (مشر) د تابعداری څخه يوه لوېشت هم خارج شي، هغه د جاهليت په مرګ مړ شو. **متفقٌ عَلَيهِ.**

تشريح: په ګڼ شمېر حديثونو کې د اميرانو او مشرانو حکم منل ذکر شوي دي، ليکن ياد ساتل پکار دي چې د امير خبره منل به د شريعت په حدودو کې وي، که امير يا حاکم داسې يو عمل ترسره کړي چې هغه د شريعت نه بهر وي، نو انسان ته پکار ده چې په زړه کې ورسره نفرت وکړي او صبر وکړي، که په زړه کې يې هم بد نه ګڼي، نو بيا به ورسره په ګناه کې برابر شريک وي، په داسې صورت کې به د امير خبره نه شي منلی چې د شريعت نه خارج فعل يا عمل وي، ليکن عدم اطاعت په بغاوت کې داخل نه دی، ځکه چې د بغاوت کونکي لپاره سخت وعيدات راغلي دي

فإنه من خرج من السلطان: هر څوک چې د روغې ډلې څخه يوه لوېشت بهر شي او مرګ ورته راشي نو هغه د جاهليت په مرګ مړ شو، مطلب دا چې کله د ټولو مسلمانانو اتفاق په يو امير او حاکم باندې وشي، نو اوس دده خلاف بغاوت په حقيقت کې د امت مسلمه دوه ځايه کول دي، حالانکه په دين کې د اجتماعيت او اتحاد حکم شوی دی، په اتفاق او اتحاد کې د اسلام او مسلمانانو خير دی.

د حاکم بې عزتي کول حرامه ده

"وعن أبي بكرة ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ، يقول: مَنْ أَهَانَ السُّلْطَانَ أَهَانَهُ اللهُ" د ابو بکره رضي الله عنه نه روايت

دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي، فرمايل يې: کوم کس چې د بادشاه سپکوالى کوي يې شکه الله ﷻ به هغه سپک کړي، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

"وفي الباب أحاديث كثيرة في الصحيح. وقد سبق بعضها في أبواب" په دې باب کې ډېر زيات حديثونه دي چې صحيح دي او په مخکې بابونو کې تېر شوي دي.

تشريح چا چې د حاکم بې عزتي وکړه، الله ﷻ به يې سپک کړي، مطلب دا چې کوم کس امير يا حاکم جوړ شي، نو د هغه اطاعت به په جائزو کارونو کې کيږي، که د هغه نافرماني وشي، دا په حقيقت کې د هغه سپکاوى دى، بيا به خلک د حاکم هيڅ خبرې ته غاړه نه ږدي، ځکه چې د حاکم رعب به د خلکو په زړه کې نه وي، په داسې حال کې به مجرمان ددې موقعې ځخه فايده واخلي او په خپلو غلطو کارونو کې به نور هم زړه ور شي، ددې برعکس تر څو چې د حاکم نه په ځرګنده کفر ليدل شوى نه وي، هغه د دين اسلام ټول احکامات په ځاى ادا کوي، نو د داسې حاکم خيره منل واجب ده، ځکه چې په داسې شان سره به د حاکم رعب د خلکو په زړه کې وي او مجرمان به په خپلو جرمونو کې نه جراتمند کيږي

"من أكرم سلطان الله في الدنيا أكرمه الله يوم القيامة ومن أهان سلطان الله في الدنيا أهانه الله يوم القيامة" څوک چې د حاکم عزت کوي الله ﷻ به د قيامت په ورځ دده عزت محفوظ کړي او څوک چې د حاکم عزت نه کوي نو الله ﷻ به هم دده عزت محفوظ نه کړي، د قيامت په ورځ به يې ذليله کړي

باب النهي عن سؤال الإمارة واختيار ترك الولايا تإذا لم يتعين عليه أو تدع حاجة إليه

په خوله د مشرى غوښتلو ځخه منع شوې ده

"قَالَ اللّٰـه تعالى" الله ﷻ فرمايي: "تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا" موږ د آخرت دغه کور د هغه چا لپاره ګرځوو چې په ځمکه کې نه تکبر کوي او نه هم فساد کوي، "وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ" او ښه انجام د نېکو بندګانو لپاره دى. [القصص:۸۳]

تشريح په آيت کې د (علو) نه مراد تکبر دى، يعنې خپل ځان د بل نه ښه ګڼل، بل سپک ګڼل، د فساد نه مراد په خلکو ظلمونه کول، مطلب دا چې د آخرت کور (جنت) به د هغه چا لپاره وي چې نه چا ظلم کوي او نه تکبر کوي، ځينې مفسرين ليکي: هر قسم ګناه په فساد کې داخله ده، مطلب دا چې هر څوک په ځمکه کې ګناه کوي، په حقيقت کې هغه فساد کوي او څوک چې فساد کوي، د داسې کس لپاره په آخرت کې هيڅ حصه نشته، که فساد پرېږدي او توبه وباسي، نو بيا د داسې کس لپاره هم په آخرت کې د نجات وعده شته.

والعاقبة للمتقين: غوره انجام د نېکو خلکو لپاره دى، مطلب دا چې که په آخرت کې کاميابي

ترلاسه کول غواړئ، نو فساد او تکبر پرېږدئ، د تقوی ژوند اختيار کړئ. خلاصه دا چې د الله ﷻ په حکمونو عمل وکړئ او د رسول الله ﷺ طريقې د خپل ژوند معمول وګرځوئ، جنت به ستاسو شي

مشري غوښتل:

"وعن أبي سعيد عبد الرحمان بن سَمُرَةَ رضي الله عنه، قال: قال لي رسول الله ﷺ: يَا عَبْدَ الرَّحمانِ بن سَمُرَةَ، لاَ تَسْأَلِ الإمَارَةَ فَإنَّكَ إنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا" د ابو سعيد عبد الرحمان بن سمرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عبدالرحمان بن سمرة رضي الله عنه! مشري په سوال سره مه غواړه؛ ځکه چې که تاته بغير سوال مشري درکړی شي، نو ستا مرسته به وشي، "وَإنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إلَيْهَا" او که مشري په سوال درکړی شي، نو ستا مرسته به نه شي کولی. "وَإذَا حَلَفْتَ عَلَى يَمِينٍ، فَرَأيْتَ غَيْرَهَا خَيْراً مِنْهَا، فَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ وَكَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ" او کله چې په يو کار باندې قسم وخورې او ددې کار نه کوم بل کار غوره او ښه وي، نو هغه کار ته راشه د کوم کار څخه چې دې قسم خوړلی دی او بيا د خپل قسم کفاره ورکړه؛ متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح لا تسأل الإمارة: مشوري مه غواړه؛ د حديث نه صفا معلومه شوه چې مشري يا چوکۍ په سوال مه غواړئ، ځکه چې مشري کول د ماشومانو لوبې نه دي، که په سوال مشري وغوښتل شوه، نو بيا د الله ﷻ له لورې مرسته هم ختمه شي، نو خبره به نوره هم مشکله شي او که خلکو په زوره درته مشري درکړه، ستا خوښه نه وه، نو بيا به د الله ﷻ له لورې هم دده سره مرسته کيږي

د خلافت وروسته د ابوبکر رضي الله عنه عمل:

ابوبکر رضي الله عنه چې څرنګه خليفه جوړ شو، نو هر درې ورځې پس به يې پنځه وخته لمانځه کې داسې اعلان کولو: اې خلکو! زمانه علاوه بل څوک امير وټاکئ، ليکن خلك به دې ته تيار نه وو چې دوی معزول کړي او بل څوك يې پر ځای مشر کړي، کله چې د دوی په دور خلافت کې د ارتداد مسئله شروع شوه، نو الله ﷻ د دوی مرسته وکړه او په مرتدينو يې ورته فتحه نصيب کړه.

وإذا حلفت على يمين: کله چې ته په کوم کار قسم وخورې، مطلب دا چې که يو کس د يو کار متعلق قسم وکړي چې دا کار به نه کوم، بيا ورته هغه کار کول ښه معلوم شي، نو پکار ده چې هغه کار وکړي او د قسم کفاره ورکړي

د قسم کفاره:

د قسم کفاره يا يو غلام ازادول دي يا لسو مسکينانو ته دوه وخته خوراك ورکول دي، يا لسو مسکينانو ته لس جوړې کپړې ورکول دي، که ددې طاقت يې نه درلود، نو بيا دې درې ورځې روژې ونيسي

د راوي عبدالرحمن بن سمره رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عبد الرحمن رضي الله عنه دی. کنيت يې ابو سعيد دی، د پلار نوم يې سمره دی، د فتحې مکې په ورځ مسلمان شوی دی، د جاهليت په زمانه کې د دوی نوم عبد الکعبه و، نبي کريم ﷺ

د دوی نوم بدل کړو او عبد الرحمن نوم يې ورباندې کېښودلو، د اسلام راوړلو وروسته يې د تبوک په غزا کې شرکت وکړو.

د عثمان رضي الله عنه د شهادت وروسته يې په جنګ جمل او جنګ صفين کې هم شرکت کړی دی.

زيانه عاجزي به يې کول، د سجستان نه تر غرناطې پورې سيمو فتحه د دوی په لاس وشول. ددې باوجود چې به کله زيات باران وشو، نو په کلي او کوڅو کې به يې ختې پاکولې او جارو يې په خپل لاس کې وُ.

وفات: د عمر په پای کې په سجستان کې مقيم شو، دلته په پنځوسمه (۵۰ هـ) کې وفات شو.

مرويات: ټول څوارلس حديثونه ترې نقل دي، په دوه حديثونو يې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله متفق عليه دي او په يو حديث کې امام مسلم رحمه الله منفرد دی.

اې ابوذر رضي الله عنه! ته کمزوری يې!

"وعن أبي ذر رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: يَا أَبَا ذَرٍّ، إِنِّي أَرَاكَ ضَعِيفاً، وَإِنِّي أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِي" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي يوه ورځ رسول الله ﷺ ماته وفرمايل اې ابوذر رضي الله عنه! زه تا کمزوری وينم او تا ته هغه څه خوښوم کوم څه چې زه د ځان لپاره خوښوم، "لَا تَأَمَّرَنَّ عَلَى اثْنَيْنِ، وَلَا تَوَلَّيَنَّ مَالَ يَتِيمٍ" او په دوه کسانو باندې هم چېرته مشر نه شې او نه چېرته د يتيم د مال متولي او سربراه جوړ شې رواه مسلم

تشريح: يا أباذر رضي الله عنه! إني أراك ضعيفاً: اې ابوذر رضي الله عنه زه تا کمزوری وينم، ابوذر رضي الله عنه ډېر زيات زاهد او قانع صحابي وو، د دنيوي معاملاتو سره يې هيڅ تعلق نه وو، دنيا يې پرې ايښې وه، په دې وجه رسول الله ﷺ ورته نصيحت وکړو چې د حکومت ذمه واري هغه څوک ادا کولی شي چې ددې سره تعلق ساتي، ليکن کوم کس چې د دنيوي امورو څخه نفرت کوي، د دنيا سره هيڅ تعلق نه ساتي، نو هغه به څرنګه ددې ذمه واري ادا کړي، ددې نه معلومه شوه چې کوم کس په دنيوي معاملاتو کې او ددې په ذمه وارۍ کې د نقصان او خرابۍ اراده اګرچې نه ساتي، ليکن که ذمه واري په ځای نه شي ادا کولی، نو بيا به هم داسې کس نه شي مشر کولی او نه هم د داسې کس لپاره مناسب دي چې هغه دې څوکۍ يا منصب ته غاړه کېږدي.

مشري به د قيامت په ورځ د پښېمانتيا ذريعه وي

"وعنه، قال: قلت: يا رسول الله، ألا تستعملني؟" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ مې رسول الله ﷺ ته ووېل يارسول الله ﷺ! تاسو ماته په څه کار باندې مشري راکړئ "فَضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى مَنْكِبِي، ثُمَّ قَالَ: يَا أَبَا ذَرٍّ، إِنَّكَ ضَعِيفٌ، وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ، وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ" نو رسول الله ﷺ زه د دوه ولو په منځ کې ووهلم بيا يې راته ووېل اې ابوذر رضي الله عنه تاسو کمزوري يئ او دا مشري امانت دی او ددې په ذريعه سړی د قيامت په ورځ شرمېږي او پښېمانه کېږي، "إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا، وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا" مګر دا چې څوک يې حق

ادا کولو سره په سر واخلي او بيا ددې پوره پوره حق ادا کړي. رواه مسلم

تشريح يا أبا ذر! إنك ضعيف: اې ابوذر رضي الله عنه! ته کمزوري يې، ددې مطلب وړاندې تشريح شو چې د ابوذر رضي الله عنه دنيوي معاملاتو کې هيڅ زړه نه لګېدو، هغه زاهد عن الدنيا انسان وو، "الا من أخذها بحقها وأدى الذي عليه فيها" څوک چې دا شی په حق سره حاصل کړي او ددې ذمه داري پوره کوي.

دامير لپاره دوه شرطونه دي:

محدثين ددې حديث په رڼا کې د امير د امارت لپاره دوه شرطونه بيانوي

لومړی شرط دا چې د منصب او چوکۍ اهليت به په هغه کې وي

دويم دا چې ددې منصب او چوکۍ ذمه واريو پوره کولو استعداد به هغه کې وي

مطلب دا شو چې انسان په هره چوکۍ او منصب کښيني، پکار ده چې په هغه کې دا دوه صفتونه خامخا وي، يو دا چې په کوم منصب او چوکۍ هغه ناست دی، بايد په دې باندې پوهه ولري، دويم دا چې ددې منصب او چوکۍ کومې ذمه واري دي، هغه په ښه شان ادا کولو استعداد هم ولري، په قرآن کريم کې دې ته اشاره شوې ده: "إنه لقوى أمين" د شعيب عليه السلام لور دا خبره د موسى عليه السلام په باره کې کړې وه چې يو خو دا چې هغه (موسى عليه السلام) مضبوط او طاقتور دی او بل دا چې ايمانداره دی، يعنې کار هم کولی شي او خيانت هم پکې نشته، علماء فرمايي: په چا کې چې دا دوه شرطونه نه وي، هغه دې منصب او چوکۍ ته غاړه نه ږدي، ځکه چې دا يو قسم خيانت دی او خيانت حرام دی. ددې سزا ډېره سخته ده. علامه نووي رحمه الله فرمايي: د حکومت او مشرۍ څخه په لرې اوسېدلو او ددې څخه د پرهېز باره کې دا حديثونه راغلي دي.

د رسول الله ﷺ پيشنګويي:

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: إِنَّكُمْ سَتَحْرِصُونَ عَلَى الْإِمَارَةِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو به ډېر زر په دې مشرۍ باندې حرص شروع کړئ؛ "وَسَتَكُونُ نَدَامَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ" ليکن دا مشري به بيا د قيامت په ورځ د پښېمانتيا ذريعه جوړيږي. رواه البخاري

تشريح: د رسول الله ﷺ دا پيشنګويي چې زما د وفات سره سم به خلك د امارت او چوکۍ ترلاسه کولو هڅې شروع کړي، د مشرۍ په چل به نه پوهيږي، په دې کې به ډېرې زياتې غلطياني شروع کړي، ددې له امله به عند الله مجرمان شي او د قيامت په ورځ به داسې کسانو ته سخت عذاب ورکول شي، ځکه رسول الله ﷺ نا اهله خلك په دنيا کې خبر کړل، د يو څو ورځو په خوندونو پسې کېدل پکار نه دي، ددې له وجې به ځان ته د آخرت ابدي ژوند تباه کړي، په اخرت کې به د ارمان پرته بل هيڅ ونه کړي.

باب حث السلطان والقاضي وغيرهما من ولاة الأمور على إتخاذ وزير صالح وتحذيرهم من قرناء السوء والقبول منهم

بادشاه او قاضي ته حکم شوی چې نېک مشاورين ونيسي او له بدو څخه ځان وساتي

"قَالَ اللهُ تعالیٰ" الله ﷻ فرمايي: "الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ" په دې ورځ به ملګري د يو بل دښمنان وي، مګر متقيان خلك به داسې نه وي. [الزخرف:۶۷].

تشريح: په دې ايت کې د الله ﷻ د رضاء په خاطر د يو بل سره د دوستۍ ترغيب ورکول شوی، په يو روايت کې دي چې د حشر په ميدان کې به هغه خلك د عرش تر سيورې لاندې وي چې څوك د الله ﷻ د رضاء په خاطر خپلو کې سره مينه او دوستي کوي.

عجيبه واقعه:

علامه ابن کثير رحمه الله دلته يوه عجيبه واقعه نقل کړې ده، هغه دا چې: دوه مسلمان ملګري وو او دوه کافر ملګري وو، په مسلمانانو ملګرو کې يې يو ملګری وفات شو، هغه ته د جنت زېری واورل شو، دغه جنتي ملګري خپل ژوندي ملګري ته دعاګانې شروع کړې، اې الله ﷻ! فلانکی زما ملګری وو، ماته به يې ستا او ستا د رسول ﷺ اطاعت تاکيد کولو او د نېك عمل دعوت به راکولو او د بدو کارونو څخه به يې منع کولم، اې الله! هغه زما څخه وروسته مه ګمراه کوې، ددې لپاره چې هغه هم د جنت خوندونه وڅکي، کوم خوندونه چې تا ماته وښودل، تاسو د هغوی څخه هم دغسې راضي شئ لکه څرنګه چې زما څخه راضي شوئ، کله چې هغه دويم ملګری هم وفات شو، نو الله ﷻ به يې روحونه سره جمع کړل، الله ﷻ دوی ته وفرمايل: تاسو د يو بل تعريف شروع کړئ، په دې کې هر يو کس د بل تعريف شروع کړي، يو پکې وويل: تر ټولو غوره وررور مې دی، غوره او خوږ ملګری مې دی او ددې برعکس کله چې په دې دوه کافرانو کې يو کافر مړ شو، هغه ته پته ولګېده چې اوس به مې په جهنم کې اچوي، نو اوس هغه ته هغه خپل ملګری ياد شو، هغه ته يې دعاګانې شروع کړې، اې الله! زما فلانکي ملګري به ماته ستا او ستا د رسول الله ﷺ د نافرمانۍ حکم کولو، د ايمان او نېك عمل څخه به يې منع کولم، ماته به يې ويل: آخرت نشته، حساب او کتاب نشته، دا هسې مسلمانانو له ځانه جوړې کړې خبرې دي، اې الله! هغه ته هدايت نصيب نه کړې، ددې لپاره چې هغه هم د جهنم سزا ووينې، او اې الله! تاسو د هغه نه هم دغسې ناراضه شئ، لکه څرنګه چې اوس تاسو زما څخه ناراضه يئ، بيا چې کله هغه دويم کافر وفات شو او د دوی روحونه يو ځای سره جمع کړل شو، دوی ته وويل شو چې اوس د يو بل تعريف وکړئ، نو په دوی کې هر کس د بل په باره کې داسې وويل: تر ټولو بد وررور مې دی او بد ملګری مې دی.

د حاکم دوه ملګري وي

"وعن أبي سعيد وأبي هريرة رضي الله عنهما: أن رسول الله ﷺ قال: مَا بَعَثَ اللَّهُ مِنْ نَبِيٍّ، وَلَا اسْتَخْلَفَ مِنْ خَلِيفَةٍ إِلَّا كَانَتْ لَهُ بِطَانَتَانِ" د أبو سعيد او ابو هريره رضي الله عنهما نه روايت دی هغوی فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي الله ﷻ يو پيغمبر عليه السلام نه دی رالېږلی او نه ترې چېرته وروسته کوم خليفه پاتې شوی، مګر دا چې هغوی دوه قسمه ملګرو (مشيرانو او وزيرانو) سره تعلق راځي: "بِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالْمَعْرُوفِ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ" يو ملګری داسې وي چې هغه په نېکو کارونو ورته امر کوي او په هغې يې تېزوي. "وَبِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالشَّرِّ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ" او بل ملګری يې په بدو کارونو باندې ورته امر کوي او په هغې باندې يې تېزوي. "وَالْمَعْصُومُ مَنْ عَصَمَ اللَّهُ" او په حقيقت کې خوندي پاتې شوی سړی هغه دی چې الله ﷻ يې بچ کړي. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

بطانة: خاص ملګری، ځانګړی مشاور او وزير.

تشريح بطانتان: دوه پټ ملګري، ددې نه مراد يوه پرښته ده او بل شيطان ملعون دی. دا دواړه پټ دي، پرښته په نېک عمل ترغيب ورکوي، ددې برعکس شيطان په بد عمل ترغيب ورکوي. يا دوه رفيقانو څخه مراد دوه وزيران دي چې زيات وخت د حاکم سره وي، په دې وزيرانو کې ځينې نېک وي او ځينې بد وي، ښه يې نېک عمل ته رغبت ورکوي او بد يې ګمراهۍ ته راکاږي، په دې حديث کې يوې بلې خبرې ته هم اشاره ده چې حاکم ته پکار دي چې نېک وزير ځان ته منتخب کړي، هغه وزير چې نېک عمل ته يې ترغيب کړي

والمعصوم من عصم الله: معصوم هغه دی چې الله ﷻ يې وساتي، د معصوم نه مراد انبياء عليهم السلام دي، خلفاء راشدين رضي الله عنهم او ځينې نور خلفاء او اميران چې الله ﷻ د شيطان له شره ساتلي دي، که دوی نه کومه ګناه وشي، بيا هم الله ﷻ ته توبه وباسي، نو الله ﷻ به يې معاف کړي. په دې حديث کې دې خبرې ته هم اشاره ده چې حاکم ته پکار دي چې د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ د حکم او طريقو پابند شي، ځکه چې په دې کې دده عصمت دی او په همدې وجه به هغه د بدو خلکو او د دوی له شرارتونو څخه خوندي وي.

د ښه او بد حاکم نخښې

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قال رسول الله ﷺ: إِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِالْأَمِيرِ خَيْرًا جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ صِدْقٍ، إِنْ نَسِيَ ذَكَّرَهُ، وَإِنْ ذَكَرَ أَعَانَهُ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې د يو مشر سره الله ﷻ د خير اراده وکړي، نو الله ﷻ هغه ته د هغه وزير رښتونی (ملګری) ورکړي، که چېرته څه ترې هېر شي، نو هغه ته يې وريادکړي او که ورته ياد شي، نو د هغه مرسته کوي. "وَإِذَا أَرَادَ بِهِ غَيْرَ ذَلِكَ جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ سُوءٍ، إِنْ نَسِيَ لَمْ يُذَكِّرْهُ، وَإِنْ ذَكَرَ لَمْ يُعِنْهُ" او کله چې د د غه مشر په اړه د شر اراده ولري، نو الله ﷻ هغه ته وزير (ملګری) بد سړی ورکړي، که چېرته څه ترې هېر شي، نو هغه ته يې نه وريه يادوي او که چېرته

څه ور په ياد شي، نو د هغه مرسته نه کوي. رواه أبوداود بإسنادٍ جيدٍ على شرط مسلم.

تشريح په دې حديث کې الله ﷻ ته د خوښ او ناخوښ حاکم علامې بيان شوي دي، خوښ حاکم هغه دی چې د هغه وزيران ښه وي. هغه ته د نيک عمل ترغيب ورکوي او کومه خبره چې ترې هېره وي، نو وزيران يې ورته په ياد کړي او ناخوښه حاکم هغه دی چې وزير يې ورته د نيک عمل ترغيب نه ورکوي، نه صحيح مشورې ورکوي، دې خبرې ته اشاره وشوه چې حاکم او امير ته پکار دي چې خپل وزيران تقوي لرونکي او ايماندار خلک منتخب کړي، ددې لپاره چې هغوی ورته صحيح مشورې ورکوي، د بدو کارونو څخه يې منع کوي، که ځان ته ښه وزيران منتخب نه کړي، نو خامخا بد وزيران به يې ملګري شي کوم چې هغه ته غلطه مشوره ورکوي او خلاف شريعت مشورې ورکوي، نو ځانونه به هم غرق کړي او حاکم به هم د ځان سره غرق کړي.

باب النهي عن تولية الإمارة والقضاء وغيرهما من الولايات لمن سألها أوحرص عليها فعرّض بها

دري اتيايم باب: په خوله باندې مشري غوښتل منع دي

"عن أبي موسى الأشعري ﷺ، قال: دخلت على النبي ﷺ أنا ورجلان من بني عمي، فقال أحدهما: يارسول الله، أمِّرنا على بعض ما ولاك الله ﷻ، وقال الآخر مثل ذلك" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې زه او زما دوه د تره زامن د رسول الله ﷺ په خدمت کې يوه ورځ حاضر شول، په دې دوه کسانو کې يو کس ووېل: يا رسول الله ﷺ! موږ په کومه وظيفه (چوکۍ) باندې مقرر کړه، په هغه باندې چې الله ﷻ تاسو پرې مامور جوړ کړي يئ، دويم کس هم دغه شان مطالبه وکړه، "فقال: إنا والله لانولي هذا العمل أحدا سأله، أو أحدا حرص عليه" نبي کريم ﷺ وفرمايل قسم په الله ﷻ! موږ يو کس هم په سوال سره په دې وظيفه او چوکۍ باندې نه مقرر کوو او نه هغه کس چې ددې چوکۍ حاصلولو حرص يې په زړه کې وي. متفق عليه

تشريح أنا ورجلان من بني عمي: زه او زما د تره زوی، په يو بل روايت کې دي چې "ومعي رجلان من الاشعرين" زما سره دوه ملګري نور د اشعري قبيلې وو، د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو مطلب دا چې څوک په لالچ او حرص باندې منصب او چوکۍ ترلاسه کړي، نو دغه منصب به يې د خپلو مفادونو لپاره وي، په نتيجه کې به يې عامو خلکو ته نقصان ورسيږي، د چوکۍ او منصب مقصد دا دی چې انسان د عامو خلکو په ښېګڼه کې کوشش وکړي

كتاب الأدب

باب الحياء وفضله والحث علي التخلق به

حياء او په ځان کې د حياء صفت پيدا کولو فضيلت

"عن ابن عمر رضى الله عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يو ځل په يو انصاري صحابي رضي الله عنه باندې تېر شو، دغه انصاري صحابي رضي الله عنه خپل ورور ته د حياء په باره کې نصيحت کولو. "فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: دَعْهُ، فَإِنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الْإِيمَانِ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: دغه کس په خپل حال باندې پرېږده؛ ځکه چې حياء د ايمان جزء دی، يعنې د ايمان حصه ده. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: رسول الله ﷺ په يو انصاري صحابي باندې تېر شو، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: ما ډېر کوشش وکړو، ليکن ددې نصيحت کونکي او اورېدونکي دواړو نومونه راته معلوم نه شو، "دعه فان الحياء من الايمان" نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا کس پرېږده، ځکه چې حياء د ايمان يوه څانګه ده، اګرچې حياء يو فطري صفت دی، ډېر خلك پيدا ايشي حياناك وي، خو بيا هم كه په دې باندې خواري وشي او روح يې نېكو عملونو ته راوګرځول شي، نو د شرم او حياء جذبه به پکې نوره هم اضافه شي او همدغه په اسلام کې مطلوب شی دی، ددې خبرې ځواب هم وشو چې حياء يو فطري شی دی او فطري شيان غير اختياري وي، په دې باندې به څرنګه اجر حاصل شي؟ جواب دا دی چې دا منم چې حياء فطري شی دی، ليکن که ددې فطري شی روح اسلام ته واړول شي او په دې باندې نور محنت هم وشي، نو اختياري شی به ترې جوړ شي او حياء ته د ايمان جزء ويل شوی دی

حياء ټوله خير ده

"وعن عمران بن حصين رضي الله عنهما، قَالَ" د عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي "قَالَ رسولُ الله ﷺ: الْحَيَاءُ لَا يَأْتِي إِلَّا بِخَيْرٍ" رسول الله ﷺ فرمايلي: حياء نه راوړي مګر ټول خير راوړي. متفقٌ عَلَيْهِ.

"وفي رواية لمسلمٍ: الحياءُ خَيْرٌ كُلُّهُ" په يو بل روايت کې دي چې حياء ټول خير دی "أَوْ قَالَ: الْحَيَاءُ كُلُّهُ خَيْرٌ" او يا يې داسې وفرمايل: حياء ټول خير دی.

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې په حياء سره انسان د ډېرې نافرمانۍ او بې حياء كارونو څخه منع کېدلی شي، په دې بنياد حياء د ايمان جزء ګرځېدلی دی، يو شاعر به دې حقله يوه ډېره ښکلې شاعري کړې ده:

إذا لم تخش عاقبة الليالي .... ولم تستحي فاصنع ما تشاء

فلا والله ما في العيش خير .... ولا الدنيا إذا ذهب الحياء

يعيش المرء ما استحيى بخير .... ويبقى العود ما بقي اللحاء

ژباړه: که ته د شپو د انجام نه وېرېږې او حياء نه کوې، نو بيا دې چې څه خوښه وې کوه يې،
(۲) نه قسم په الله ﷻ! په ژوند کې هيڅ خير نشته او نه په دنيا کې څه خوند شته چې کله ددې نه حياء ختمه شي، (۳) تر څو چې په انسان کې شرم او حياء وي، نو په خيريت سره به ژوند تيرېږي او ځانګه تر هغه پورې ژوندی وي تر څو چې د هغې نه پوستکی ويستل شوی نه وي.

سوال: په دې حديث کې حياء ته خير ويل شوي، ليکن ډېر وخت داسې هم کيږي چې د شرم او حياء له امله انسان د ديني کار څخه پاتې شي، مثلاً: امر بالمعروف او نهي عن المنکر کې شرم او حياء مخل وي، د شرم او حياء په وجه پکې خلل پيدا کيږي؟

ځواب: کومه حياء چې د دين په کارونو کې مخل وي او خلل پکې پيدا کيږي، نو هغه حياء په اصل کې حياء نه ده، بلکې دې ته عجز او بد زړه والی ويل کيږي.

د ايمان اويا/ ۷۰ شاخونه دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً: فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د ايمان څه دپاسه اويا/ ۷۰ شاخونه دي او يا څه دپاسه شپېته شاخونه دي، په ټولو کې غوره شاخ د (لا إله إلا الله) کلمه ده، "وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ" او تر ټولو لاندې شاخ د لارې څخه د تکليف شی لرې کول دي، "وَالحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ" او حياء هم د ايمان ځانګه ده. متفقٌ عَلَيْهِ

"البِضْعُ: بكسر الباءِ ويجوز فتحها: وَهُوَ مِنَ الثَّلَاثَةِ إِلَى العَشَرَةِ" د بضع اطلاق د درې نه واخله تر لسو پورې کيږي، "وَ((الشُّعْبَةُ)): القِطْعَةُ وَالخَصْلَةُ" د شعبة معنی ده: حصه، شاخ، توته، "وَ((الإِمَاطَةُ)): الإِزَالَةُ" د (الاماطة) معنی ده: لرې کول، "وَ((الأَذَى)): مَا يُؤْذِي كَحَجَرٍ وشوك وَطِينٍ ورماد وَقَذَرٍ وَنَحْوِ ذَلِكَ" د (الاذي) نه مراد هر هغه شی دی چې سړي ته پرې تکليف رسيږي، لکه لرګی، ازغی، خټه، شګې او داسې نور شيان.

تشريح: بضع: د ځينو په نزد د بضع اطلاق د درې نه تر لسو پورې کيږي، په ځينو رواياتو کې (بضع وسبعون) راغلی دی او په ځينو کې (بضع وستون) راغلی دی او په ځينو کې صرف (سبعون) راغلی دی او په ځينو کې صرف (ستون) هم راغلی دی، علماء فرمايي ددې نه مراد کثرت دی، يا په شروع کې رسول الله ﷺ شپېته بيان کړل، بيا يې مسلسل اضافه کول، "شعبة" د ايمان يوه ځانګه ده.

د حديث جامعيت:

علماوو ددې حديث مختلف توجيهات کړي دي، په دې حديث کې د دين پوره نقشه پرته ده، مثلاً: "أفضلها قول لااله الا الله" په دې کې د ايمان ذکر وشو، "أدناها إماطة الأذى" په دې کې اسلام او په "الحياء شعبةٌ من الإيمان" کې احسان راغلو، دا حديث د پوره دين لپاره جامع دی او ځينو داسې توجيه کړې ده چې "أفضلها" نه مراد فعلي عبادات او د إماطة الاذي نه مراد ترکي عبادات دي او يا د

(افضلها) نه مراد حقوق الله دي او د (اماطة الاذى) نه مراد حقوق العباد دي

يو سوال او دوه جوابونه:

الحياءُ شعبة من الايمان: حياء د ايمان يوه څانګه ده، سوال دا دى چې كله حياء په ايمان كې داخله ده نو بيا يې ولې جدا ذكر كړه؟

لومړى جواب: اګر چې حياء په ايمان كې داخله ده، ليكن لكه څرنګه چې د حياء اهميت او مقام لوړ دى، په دې وجه يې څانله مستقل ذكر كړه، بله وجه يې دا ده چې د حياء په وجه انسان د ګناهونو نه بچ كېدى شي

دويم جواب دا دى چې: د ايمان په وجه هم انسان د ګناهونو نه بچ كېدى شي. دغه ډول د حياء په وجه هم انسان د ګناهونو نه بچ كېدى شي، نو ځكه يې حياء څانله مستقله ذكر كړه

رسول الله ﷺ ډېر زيات حياء ناك وو

"**وعن أبي سعيدٍ الخدري ﷺ، قَالَ: كَانَ رسول الله ﷺ أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ العَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا**" د أبو سعيد خدري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د پېغلې ښځې نه زيات حياء دار وو، "**فَإِذَا رَأَى شَيْئاً يَكْرَهُهُ عَرَفْنَاهُ فِي وَجْهِهِ**" كله چې به يې په زړه باندې كوم كار ښه ونه لګېدو، نو موږ به د هغوى په مخ مبارك باندې ددې اثرات پېژندل. **متفقٌ عَلَيْهِ**

"**قَالَ العلماءُ: حَقِيقَةُ الحَيَاءِ خُلُقٌ يَبْعَثُ عَلَى تَرْكِ القَبِيحِ، وَيَمْنَعُ مِنَ التَّقْصِيرِ فِي حَقِّ ذِي الحَقِّ**" علماء فرمايي: د حياء حقيقت دا دى چې په سړي باندې ددې خبرې باعث شي چې دغه بد كار پرېږدي او د حقدار په حق كې كوتاهي ونه كړي، "**وَرَوَيْنَا عَنْ أَبِي القَاسِمِ الجُنَيْدِ رَحِمَهُ اللهُ، قَالَ: الحَيَاءُ: رُؤْيَةُ الآلاءِ -أيْ النِّعَمِ- وَرُؤْيَةُ التَّقْصِيرِ، فَيَتَوَلَّدُ بَيْنَهُمَا حَالَةٌ تُسَمَّى حَيَاءً**" د جنيد بغدادي رحمه الله نه روايت دى هغه فرمايي چې د حياء حقيقت دا دى چې اول سړى د الله ﷻ د نعمتونو په باره كې سوچ وكړي او بيا په خپلو ګناهونو باندې سوچ وكړي بيا چې ددې نه كوم كيفيت پيدا شي، دغه كيفيت ته حياء ويل كيږي. **والله أعلم**

لغوي تحقيق:

العذراء: باكره ښځه، ځوانه او پيغله جينۍ.

تشريح: كان رسول الله ﷺ أشد حياءً من العذراء: رسول الله ﷺ د پيغلې ښځې نه زيات حياء ناك وو، دا د رسول الله ﷺ كمال حياء وه، په ښځو كې ډېره زياته حياء وي او بيا په ځانګړې توګه كومه ښځه چې ناواده وي، كوروالى ورسره نه وي شوى، په عرف كې ورته باكره او پيغله ويل كيږي، ليكن رسول الله ﷺ د داسې ښځې نه هم زيات حياء ناك وو، هغه به حياء كول

بابُ حفظ السِّر

راز ساتل

"قَالَ اللّٰــــه تعالیٰ" الله ﷻ فرمايلي "وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولًا" خپله وعده پوره کړئ. ځکه چې د وعدې په باره کې به ستاسو ځخه پوښتنه کيږي [الإسراء:۳۴].

تشريح په دې آيت کې د عهد او وعدې پوره کولو ترغيب ورکول کيږي. مفسرين ليکي عهد په دوه قسمه دی. يو هغه عهد او وعده ده چې د بنده او الله ﷻ ترمينځ وي. هغه چې په الله ﷻ د ټولو مخلوقاتو نه ازل کې اخيستې وه. فرمايي "الست بربكم قالوابلىٰ!" دغه شان د شهادت کلمې "لا اله الا الله" په ذريعه چې کومه وعده اخيستل شوې ده. يعنې د الله ﷻ احکامات منل او د رسول الله ﷺ د سنتو مطابق خپل ژوند تېرول هم وعده ده. دا عهد او وعده پوره کول فرض دي. دويمه وعده هغه ده چې يو انسان يې د بل انسان سره کوي. په دې کې ټول معاملات او تجارتونه وغيره شامل دي. دا که د شريعت مطابق وي. نو پوره کول يې ضروري دي او که د شريعت خلاف وي. نو دويم کس ته صفا ويل پکار دي چې کوم عهد او وعده زما او ستا ترمينځ وه. هغه د شريعت خلاف دی. موږ يې نه شو پوره کولی. "إن العهد كان مسؤولا" د قيامت په ورځ چې لکه څرنګه د فرضو، واجباتو او سنتو باره کې پوښتنه کيږي، دغه شان پوښتنه به د عهد او وعدې په باره کې هم کيږي. بيا برابره خبره ده چې دغه عهد د الله ﷻ او د بنده ترمينځ وي او که د انسانانو په خپلو منځو کې وي. ددې ټولو عهدونو او وعدو باره کې به درنه پوښتنه کيږي.

د شپې خبرې د ورځې بيا نول حرام دي

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د الله ﷻ په نزد به د قيامت په ورځ بد ترين خلك هغه څوک وي چې: "الرَّجُلَ يُفْضِي إِلَى الْمَرْأَةِ وَتُفْضِي إِلَيْهِ، ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا" د شپې خپلې ښځې ته ورنژدې شي او ښځه هغه ته ورنژدې شي، بيا د سهار په وخت کې چې هغه د شپې څه کړي وي خپل رازونه خلاص کړي رواه مسلم

تشريح يفضي إلى المرأة: خاوند د ښځې سره کوروالی وکړي. مطلب دا چې يو کس د شپې خپلې ښځې سره کوروالی وکړي بيا سهار ښځه يا خاوند ملګرو ته ددې خبرو بيان وکړي چې د شپې ما داسې کړي وو او داسې مې وکړه. په حديث کې ددې حرمت راغلی دی. ددې نه اجتناب ضروري دی. په يوازيوالي کې داسې کارونه يا دغه شان د خاوند او ښځې ترمنځ د مينې او محبت خبرې يو راز دی چې د ښځې او خاوند ترمنځ خوند کوي. دريم کس په دې باندې خبرول حرام دي. دا کار د ادابو او مروت خلاف کار دی

يوه عبرتناکه واقعه:

يو بزرګ خپلې ميرمنې ته د طلاق ورکولو اراده وکړه، کله چې يې ترې پوښتنه وکړه چې ولې طلاق ورکوې؟ هغه فرمايل: زما ښځه ده، زه د خپلې ښځې عيب چاته نه ښيم، کله چې هغه طلاق ورکړو، نو بيا يې ترې پوښتنه وکړه چې تا ولې ښځې ته طلاق ورکړو؟ هغه ورته وفرمايل: اوس زما لپاره هغه ښځه بېګانه پردۍ ده، د پردۍ ښځې غيبت نه شم بيانولی.

ابوبکر او عثمان رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ راز بيان نه کړو

"وعن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ عُمَرَ رضي الله عنه حِينَ تَأَيَّمَتْ بِنْتُهُ حَفْصَةُ، قَالَ: لَقِيتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رضي الله عنه، فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَفْصَةَ، فَقُلْتُ: إِنْ شِئْتَ أَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَ؟" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې کله حفصه رضي الله عنها کونډه شوه، نو عمر رضي الله عنه د عثمان سره ملاقات وکړو او ورته يې وويل: که چېرته تاسو غواړئ نو زه به ستاسو سره د حفصې رضي الله عنها نکاح وکړم؟ "قَالَ: سَأَنْظُرُ فِي أَمْرِي. فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ ثُمَّ لَقِيَنِي، فَقَالَ: قَدْ بَدَا لِي أَنْ لَا أَتَزَوَّجَ يَوْمِي هَذَا" عثمان رضي الله عنه ورته وفرمايل: زه به په دې خبره باندې سوچ وکړم، بيا يې څه موده پس زما سره ملاقات وکړو، راته يې وفرمايل: ماته دا خبره معلومه شوه چې نن سبا زه ورسره نکاح نه شم کولی، "فَلَقِيتُ أَبَا بَكْرٍ رضي الله عنه، فَقُلْتُ: إِنْ شِئْتَ أَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَ، فَصَمَتَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه، فَلَمْ يَرْجِعْ إِلَيَّ شَيْئاً!" بيا زه ابوبکر رضي الله عنه ته راغلم، ما ورته وويل: که ستاسو خوښه وي، نو زه به د حفصې رضي الله عنها نکاح ستاسو سره وکړم کومه چې د عمر رضي الله عنه لور ده، ابوبکر رضي الله عنه چوپ شو او ماته يې هيڅ ځواب ونه ويلو، "فَكُنْتُ عَلَيْهِ أَوْجَدَ مِنِّي عَلَى عُثْمَانَ" ماته د عثمان رضي الله عنه په مقابله کې د ابوبکر رضي الله عنه دا طرز ډېر تکليف راکونکی شو، "فَلَبِثَ لَيَالِيَ ثُمَّ خَطَبَهَا النَّبِيُّ ﷺ فَأَنْكَحْتُهَا إِيَّاهُ" يو څو شپې تيرې شوې نبي کريم ﷺ بيا د نکاح خطبه ماته راوړاندې کړه، ما هغوی ته په نکاح کې ورکړه، "فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرٍ، فَقَالَ: لَعَلَّكَ وَجَدْتَ عَلَيَّ حِينَ عَرَضْتَ عَلَيَّ حَفْصَةَ فَلَمْ أَرْجِعْ إِلَيْكَ شَيْئاً؟ فَقُلْتُ: نَعَمْ" بيا څه موده پس ابوبکر رضي الله عنه راسره ملاقات وکړو، هغه راته وويل: کېدی شي چې تاسو زما څخه خفه شوي يئ، کله چې تاسو ماته وويل چې حفصه رضي الله عنها تاسو ته په نکاح کې درکول غواړم او ما انکار وکړو، ما وويل: هو! داسې ده! "قَالَ: فَإِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَرْجِعَ إِلَيْكَ فِيمَا عَرَضْتَ عَلَيَّ إِلَّا أَنِّي كُنْتُ عَلِمْتُ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ ذَكَرَهَا" ابوبکر رضي الله عنه ورته وويل: کله چې تاسو ماته د نکاح خبره وکړه، زما د رد کولو بل هيڅ خبره نه وه مګر دا چې يوه ورځ نبي کريم ﷺ د هغې په باره کې ماته يادګېرنه کړې وه، "فَلَمْ أَكُنْ لِأُفْشِيَ سِرَّ رَسُولِ اللهِ ﷺ، وَلَوْ تَرَكَهَا النَّبِيُّ ﷺ لَقَبِلْتُهَا" نو ماته مناسبه نه وه چې ما د رسول الله ﷺ راز افشاء کړی وای، که چيرې نبي کريم ﷺ هغه پرېښې وای، نو ما به په نکاح کې اخيستې وای. رواه البخاري

"تَأَيَّمَتْ، أَيْ: صَارَتْ بِلَا زَوْجٍ، وَكَانَ زَوْجُهَا تُوُفِّيَ رضي الله عنه" د (تايمت) معنی ده: کونډه، د هغې خاوند وفات شوی وو، "وَجَدْتَ: غَضِبْتَ" د (وجدت) معنی ده: غوسه کېدل.

تشريح: "فعرضت عليه حفصة": زه د عثمان بن عفان رضي الله عنه سره ملاو شوم، هغه ته مې د حفصې رضي الله عنها د نکاح پيغام ورکړو، ددې نه معلومه شوه چې کوم نېک سړي ته د خپلې خور يا لور د نکاح پيغام

ورکول جائز دي، صرف په دې انتظار کښېنستل چې د هلك کورنۍ به د نکاح پيغام راکړي، نو دا ښه خبره نه ده، لکه څرنګه چې زمونږ په ولسونو کې رواج دی.

إني كنت علمت أن النبي ﷺ ذكرها: رسول الله ﷺ د حفصې رضي الله عنها سره د نکاح ذکر يو ځل فرمايلی ؤ. ددې نه معلومه شوه چې کله درته پته ولګېږي چې فلانی جينۍ ته د فلانکي سړي نکاح خبره چلېږي نو ترڅو چې ددې سړي سره د هو يا نه خبره ترسره شوې نه وي، تر هغې پورې دغې جينۍ ته د نکاح پيغام لېږل جائز نه دي، "ولو تركها النبي ﷺ لقبلتها" که رسول الله ﷺ ددې نکاح اراده پرېښودلې وای، نو ما به حفصه رضي الله عنها قبوله کړې وای، معلومه شوه چې که رسول الله ﷺ د يوې ښځې سره د نکاح اراده پرېښودلې وای او خپله اراده يې بدله کړې وي، نو اوس دويم مسلمان کولی شي چې ددې ښځې سره نکاح وکړي، ليکن که رسول الله ﷺ د يوې ښځې سره يو ځل نکاح وکړي، نو بيا په امت باندې دا حرامه ده، د رسول الله ﷺ تر وفات وروسته هم چا سره نکاح نه شي کولی، ځکه چې دا د امت مور شوه او د مور سره نکاح حرامه ده.

فاطمې رضي الله عنها هم د رسول الله ﷺ راز ښکاره نه کړو

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كُنَّ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ ﷺ عِنْدَهُ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې يو ځل نبي کريم ﷺ د خپلو مېرمنو سره ناست وو، "فَأَقْبَلَتْ فَاطِمَةُ رضي الله عنها تَمْشِي، مَا تُخْطِئُ مِشْيَتُهَا مِنْ مِشْيَةِ رسول الله ﷺ شَيْئاً" فاطمه رضي الله عنها هم په مزه مزه راروانه وه د هغې رضي الله عنها د مزل تو له طريقه د نبي کريم ﷺ په شان وه، "فَلَمَّا رَآهَا رَحَّبَ بِهَا، وقال: ((مَرْحَباً بِابْنَتِي))، ثُمَّ أَجْلَسَهَا عَنْ يَمِينِهِ أَوْ عَنْ شِمَالِهِ" کله چې نبي کريم ﷺ وليده، نو هغې ته يې هر کلی ووېلو او ورته يې ووېل: مرحباً (هر کله راشې) زما لورې! "ثُمَّ سَارَّهَا فَبَكَتْ بُكَاءً شَدِيداً، فَلَمَّا رَأَى جَزَعَهَا، سَارَّهَا الثَّانِيَةَ فَضَحِكَتْ" بيا نبي کريم ﷺ د هغې سره په مزه شان څه خبرې وکړې چې مونږ وانه اورېدلې، هغه په ژړا شوه او سخته ژړا يې وکړه، نبي کريم ﷺ ورسره په مزه شان خبرې وکړې، دا ځل په خندا شوه، "فقلتُ لها: خَصَّكِ رسولُ الله ﷺ مِنْ بَيْنِ نِسَائِهِ بِالسِّرَارِ، ثُمَّ أَنْتِ تَبْكِينَ!" نو ما ورته ووېل: رسول الله ﷺ تاسو په يو خصوصي راز سره د خپلو مېرمنو ترمنځ خاص کړې، خو تاسو وژړل! "فَلَمَّا قَامَ رسولُ الله ﷺ سَأَلْتُهَا: مَا قَالَ لَكِ رسولُ الله ﷺ؟" کله چې رسول الله ﷺ پاڅېدو، نو ما ترې پوښتنه وکړه چې تاسو ته رسول الله ﷺ څه ووېل؟ "قالت: مَا كُنْتُ لأُفْشِيَ عَلَى رسولِ الله ﷺ سِرَّهُ" هغې ووېل: ما ته مناسب نه دي چې زه د رسول الله ﷺ راز افشاء کړم، "فَلَمَّا تُوُفِّيَ رسولُ الله ﷺ قُلْتُ: عَزَمْتُ عَلَيْكِ بِمَا لِي عَلَيْكِ مِنَ الحَقِّ، لَمَا حَدَّثْتِنِي مَا قَالَ لَكِ رسولُ الله ﷺ؟" کله چې رسول الله ﷺ وفات شو، نو ما ورته ووېل: ګوره زما په تاسو باندې څه حق شته، تاسو به خامخا ما ته هغه خبره بيانوئ کومه چې رسول الله ﷺ تاسو ته ويلې وه؟ "فقالت: أَمَّا الآنَ فَنَعَمْ، أَمَّا حِينَ سَارَّنِي فِي المَرَّةِ الأُولَى فَأَخْبَرَنِي أَنَّ جِبْرِيلَ كَانَ يُعَارِضُهُ القُرْآنَ فِي كُلِّ سَنَةٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ، وَأَنَّهُ عَارَضَهُ الآنَ مَرَّتَيْنِ" هغې ووېل اوس به درته حال ووايم، هغه دا چې اول ځل يې کومه پټه خبره وکړه نو نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: جبرائيل عليه السلام به قرآن کريم په پوره کال کې يو ځل دور او ګردان کولو، ليکن په دې وخت کې يې راته

پوره دوه ځله دور د قرآن کريم وکړو، "وَإِنِّي لَا أُرَى الأَجَلَ إِلَّا قَدِ اقْتَرَبَ" او س زه پوهېږم چې زما د مرګ وخت رانژدې دی، "فَاتَّقِي اللَّهَ وَاصْبِرِي" بس اې لورې! د الله ﷻ نه ووېرېږه او صبر کوه! "فَإِنَّهُ نِعْمَ السَّلَفُ أَنَا لَكِ" زه ستاسو لپاره مخکې ډېر غوره تلونکی يم، "فَبَكَيْتُ بُكَائِي الَّذِي رَأَيْتِ، فَلَمَّا رَأَى جَزَعِي سَارَّنِي الثَّانِيَةَ" نو زه به ژړا شوم کومه ژړا چې تاسو وليده، کله چې رسول الله ﷺ زما ژړا وليده، نو بيا يې دويم ځل را ته پټه خبره وکړه، "فَقَالَ: يَا فَاطِمَةُ، أَمَا تَرْضَيْنَ أَنْ تَكُونِي سَيِّدَةَ نِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ، أَوْسَيِّدَةَ نِسَاءِ هَذِهِ الْأُمَّةِ؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل اې فاطمې ﷞! ايا ته په دې خوښه نه يې چې ته به د مؤمنانو د ښځو مشره شې او يا يې داسې وفرمايل چې ددې امت د ښځو مشره به جوړه شې؟ "فَضَحِكْتُ ضَحِكِي الَّذِي رَأَيْتِ" نو ما وخندل کومه خندا چې تاسو وليدل. متفقٌ عَلَيْهِ، وهذا لفظ مسلم

تشريح: ماكنت لأفشي على رسول الله ﷺ: زه د رسول الله ﷺ راز افشا، کول نه غواړم. که رسول الله ﷺ دغه خبره واضحه کول غوښتلی او هر چاته يې بيانول غوښتلی، نو ښه واضحه به يې فرمايلې وای. په څنګ کې ورسره عايشه ﷞ او نورې مېرمنې هم ناستې وې، ليکن دوی ته هم پته ونه لګېده چې رسول الله ﷺ څه وفرمايل، معلومه شوه چې خامخا يوه داسې خبره وه چې رسول الله ﷺ يې پټول غوښتل.

إني عارضة العام مرتين: په دې کال يې دوه ځله د قرآن کريم دور وکړو. د جبرئيل عليه السلام عادت دا وو چې څومره قرآن کريم به نازل شوی وو، هغومره به يې په روژه کې رسول الله ﷺ ته دور کولو. په کوم کال چې رسول الله ﷺ وفات کېدو، نو په دې کال يې دوه ځله دور وکړو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې څومره قرآن کريم نازلېدل مقدر وو، هغه پوره شو، اوس د رسول الله ﷺ د وفات وخت نژدې شوی دی، نو تاسو ﷺ د الله ﷻ سره د ملاقات لپاره ځانونه تيار کړئ.

فأخبرني أني أول أهل بيتي: ماته يې وفرمايل: تر ټولو اول به په اهل بيتو کې زه د رسول الله ﷺ سره ملاقات کوم، يعنې د رسول الله ﷺ د وفات غم به په ټولو کې فاطمې ﷞ ته کم وي. څکه چې دا به اول هغه صحابيه ﷞ وي چې مخکې به وفات شي، علماء ليکي: د رسول الله ﷺ د وفات نه شپږ مياشتې يا درې مياشتې وروسته په مدينه منوره کې وفات شوه.

فاطمه ﷞ غوره ده او که عايشه ﷞؟

يا فاطمة ألا ترضين أن تكوني سيدة نساء المومنين؟ اې فاطمه ﷞! ايا ته په دې باندې راضي نه يې چې ته به په جنت کې ددې ټولو مسلمانانو ښځو سرداره يې؟ ددې حديث نه علماء استدلال کوي چې په ټولو کې غوره صحابيه فاطمه ﷞ ده، علامه سيوطي رحمه الله عايشه ﷞ غوره ښودلې ده. په دې کې درې مذهبه دي

اصح مذهب دا دی چې فاطمه ﷞ د عايشې ﷞ څخه غوره ده، د ځينو په نزد عايشه ﷞ غوره ده او ځينې پکې چوپ پاتې دي، د امام مالك رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه چې فاطمه ﷞ غوره ده

او که عايشه رضي الله عنها؟ امام مالك رحمه الله ورته وفرمايل: فاطمه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د بدن ټوټه ده او زه د رسول الله ﷺ د بدن په ټوټه باندې بل ته فضيلت نه شم ورکولی. علامه سبکي رحمه الله فرمايي: تر ټولو غوره فاطمه رضي الله عنها ده بيا خديجه رضي الله عنها ده او بيا ورپسې عايشه رضي الله عنها ده.

خديجه رضي الله عنها غوره ده او که عايشه رضي الله عنها؟

ځينې فرمايي چې خديجه رضي الله عنها غوره ده، ځينې وايي عايشه رضي الله عنها غوره ده، بهرحال دوی ټول په مجموعي توګه غوره خلك دي. هر يو ته خپل حيثيت او خصوصيت حاصل دی

انس رضي الله عنه هم د رسول الله ﷺ راز پټ ساتلی دی

"وعن ثابت، عن أنس رضي الله عنه، قَالَ: أتى عَلَيّ رسول الله ﷺ وَأنَا ألعَبُ مَعَ الغِلْمَانِ" د ثابت رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي چې انس رضي الله عنه فرمايلي: ما د ماشومانو سره لوبې کولې چې په دې حال کې رسول الله ﷺ په ما باندې راغلو، "فَسَلَّمَ عَلَيْنَا، فَبَعَثَنِي إلى حَاجَةٍ" نو نبي کريم ﷺ په ما باندې سلام واچولو. بيا يې زه د څه کار لپاره روان کړم. "فَأَبْطَأْتُ عَلَى أُمِّي، فَلَمَّا جِئْتُ، قالت: مَا حَبَسَكَ" نو زه خپلې مور ته ناوخته راغلم، کله چې ورغلم نو مور راته وويل: ولې دې ناوخته کړو؟ "فقلتُ: بَعَثَنِي رسولُ الله ﷺ لِحَاجَةٍ، قالت: مَا حَاجَتُهُ؟" نو ما ورته وويل رسول الله ﷺ يو ضروري کار ته ليږلی وم، هغې راته وويل: کوم ضرورت وو؟ "قُلْتُ: إنَّهَا سرٌّ. قالت: لاَ تُخْبِرَنَّ بِسِرِّ رسول الله ﷺ أحَداً" ما ورته وويل دا خو يو راز دی، هغې راته وويل: د رسول الله ﷺ په راز باندې چې هيڅوك خبر نه کړې. "قَالَ أنسٌ: وَاللهِ لَوْ حَدَّثْتُ بِهِ أحَداً لَحَدَّثْتُكَ بِهِ يَا ثَابِتُ" انس رضي الله عنه فرمايي: اې ثابت رحمه الله، که چېرته ما څوك په دې راز باندې خبرولی، نو ما به تاته بيان کړی وو. رواه مسلم وروى البخاري بعضه مختصراً

تشريح قلت إنها سر: هغه يو راز دی، په دې حديث کې هم د راز پټ ساتلو تاکيد شوی دی، انس رضي الله عنه خپلې مور (ام سليم رضي الله عنها) ته وويل: دا يو راز دی چې تاسو ته يې نه شم بيانولی، هغې هم اصرار ونه کړو چې شايد ماته به يې خامخا وايې. خلاصه دا شوه چې د راز حفاظت پکار دی، بل ته دې اطلاع ورکول پکار نه دي، مګر دا چې هغه کس خپله درته ووايي چې دا خبره تا وکړه، نو بيا هغه خبره بيانولی شي

د راوي ثابت رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې ثابت رحمه الله دی، کنيت يې ابو حميد دی، په تابعينو کې شمار دی، علامه ذهبي رحمه الله ورته امام او حجت وايي، په عمل، زهد او تقوی کې په خپله زمانه کې منل شوی عالم وو. انس رضي الله عنه فرمايي: د هر يو شي خپله چابي وي او ثابت رحمه الله د خير چابي ده. بکر بن عبد الله رحمه الله فرمايي: که څوك په خپله زمانه کې ستر عالم او عابد ليدل غواړي، نو هغه دې ثابت رحمه الله وګوري، صائم الدهر وو، تل به يې روژه نيول، په شپه او ورځ کې به يې ختم کولو. د انس رضي الله عنه په خصوصي شاګردانو کې شمار وو. ابن مدائني رحمه الله فرمايي: تقريبا يو نيم سل/ ۱۵۰ مرويات ترې نقل دي

وفات ۱۲۳ هجري کې د اتيا کالو په عمر کې وفات شو

باب الوفاء بالعهد وإنجاز الوعد

په وعدو باندې وفا کول او وعده سر ته رسول

"قَالَ اللهُ تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا" خپلې کړې وعدې پوره کړئ، ځکه چې د وعدو په باره کې به ستاسو نه پوښتنې کيږي. [الإسراء:۳۴]

تشريح: د دې وضاحت وړاندې په (باب حفظ السر) کې تېر شوی دی

وعده پوره کوه!

"وقال تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ إِذَا عَاهَدتُّمْ" د الله ﷻ وعدې پوره کړئ، کله چې تاسو د الله ﷻ سره وعدې وکړئ! [النحل:۹۱]

تشريح: د ايت مطلب هم دا دی چې: کله په خپلو کې سره وعده کوئ، نو بايد چې پوره يې کړئ، ليکن مفسرين رحمهم الله ليکي چې په دې کې هغه وعدې داخلې نه دي چې په شريعت کې حرامې وي، (مثلاً يو کس درسره د زناکارۍ، بدکارۍ، قتل، غلا او ډاکې وغيره وعده کړې وي، نو داسې وعدې پوره کول حرام دي، په دې عهد کې هره نېکه وعده شامله ده، هغه که په حقوق الله پورې تعلق ساتي او که په حقوق العباد پورې تعلق لري، که يو کس عهد مات کړي، وعده پوره نه کړي شي، نو ګناهګار شو، ليکن کومه کفاره پرې نشته، د رسول الله ﷺ ارشاد دی: وعده ماتونکی ته به د قيامت په ورځ يو بيرغ شا طرف ته لګېدلی وي چې د حشر په ميدان کې به د رسوايي او ذلت لويه ذريعه وي

اې مؤمنانو! وعده پوره کوئ!

"وقال تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ" خبردار! اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، خپلې وعدې پوره کړئ! [المائدة:۱]

أوفوا بالعقود: عقود د عقد جمع ده، د دې معنى ده: بندول، غوټه اچول، يعني د دوه کسانو يا د پوره جماعت ترمنځ وعده کول دواړو ته شامل دی، د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په نزد د دې وعدې نه مراد د الله ﷻ او د بنده ترمينځ د ايمان او اطاعت وعده ده، د ابن زيد بن اسلم وغيره مفسرينو په نزد د دې نه خلکو په خپل منځ کې وعده مراد ده، مثلاً: نکاح، بيع او شراء ....، وغيره معاهدې پکې شاملې دي، ليکن د محققينو مفسرينو په نزد په دې کې هر قسم معاهدې په لفظ د (أوفوا بالعقود) سره شامله ده

عهد په درې قسمه دی:

امام راغب اصفهاني رحمه الله فرمايي: وعده په درې قسمه ده: يوه وعده هغه ده چې د انسان او د رب العالمين ترمينځ ده، مثلاً: ايمان راوړل، نېک اعمال کول، هر مامور به اطاعات چې په هغې باندې د شريعت له طرفه امر راغلی وي، يو دا عهد شو، بل د انسان خپل ځان سره وعده ده، لکه د الله ﷻ په نوم نذر منل، قسم کول وغيره...، دريم هغه وعده ده چې د دوه کسانو يا زياتو کسانو ترمنځ وشي.

چې عمل نه کوې خوشې خبرې مه کوه!

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي چې "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ" خبردار! اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، ولې تاسو داسې خبرې کوئ چې نه يې پوره کوئ. "كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ" د الله ﷻ په نزد دا ډېره د غوسې خبره ده چې تاسو داسې خبرې کوئ کومې چې عملي کوئ نه! [الصف: ۲-۳].

شان نزول:

يو ځل صحابه کرامو ﷺ خپل مينځ کې مشوره وکړه چې که موږ ته پته ولګيږي چې الله ﷻ په کوم عمل باندې زيات خوشحاليږي، نو موږ به هغه عمل شروع کړی وای. ځينو پکې وويل که موږ ته پته ولګيږي چې الله ﷻ په کوم عمل باندې زيات خوشحاله کيږي، نو موږ به يې ډېر په شوق سره شروع کړو.

که د عمل کولو نيت وي نو بيا داسې خبرې کول جائز دي:

"يا أيها الذين آمنوا لم تقولون ما لا تفعلون": د ايت مطلب دا دی. د کوم کار اراده چې دې په زړه کې نه وي خالص يوه دوکه وي، دروغ ويل او ځان ښودنه وي، نو د داسې خبرو څخه الله ﷻ منع فرمايلې ده، البته که د يو کس په زړه کې اراده وي چې دا کار به کوم. ليکن بيا په څه وجه پاتې شي، نو داسې کس په دې وعيد کې داخل نه دی، بل ددې نه دا هم معلومه شوه چې که يو کس يو کار نه کوي، ليکن د کولو نيت يې وي، نو بل چاته يې هم ويلی شي، داسې کس هم په دې وعيد کې داخل نه دی، مفسرين ﷫ فرمايي: د کار کولو دعوه مه کوئ چې زه داسې کولی شم يا به داسې وکړم، داسې دعوې الله ﷻ ته زياتې ناخوښې دي، ځکه چې په دې سره انسان کې په خپل نفس باندې اعتماد پيدا کيږي او دا خبره د عبديت د شان سره مناسبه نه ده، البته که چېرته داسې خبره خامخا وشي، نو بيا ان شاء الله ورسره ويل پکار دي، نو بيا به دعوه ختمه شي.

کوم کار چې خپله نه کوئ، بل ته يې وعظ کول جائز دي:

مفتي محمد شفيع ﷫ فرمايي: ددې آيت دا مطلب هيڅکله نه شي کېدی چې يو سړی دې خپله يو کار نه کوي، نو بل ته دې هم د هغې وصيت نه کوي، بلکې بل ته دې د هغې وصيت خامخا کوي، ددې نصيحت په برکت به يوه نه يوه ورځ هغه ته د عمل کولو توفيق نصيب شي. ددې په کثرت سره مشاهده شوې ده. ددې باره کې ما د شيخ الحديث والقرآن مولانا حسن جان شهيد ﷫ نه اوريدلي دي چې هغه وفرمايل: ددې مثال داسې دی لکه يو کس چې په ډېوال باندې بال، توپ وولي، نو دغه بال چې په ډېوال ولګيږي، نو بېرته واپس ده ته راځي، دغه شان مثال د هغه داعي دی چې په خپل علم او دعوت باندې عمل نه کوي، نو يوه ورځ نه يوه ورځ به خامخا هغه ته د عمل کولو احساس پيدا شي.

د منافق سړي درې علامې دي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أنّ رسول الله ﷺ، قَالَ: آيَةُ المُنَافِقِ ثَلَاثٌ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د منافق سړي درې علامې دي: "إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ" كله چې خبرې كوي دروغ وايي، "وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ" او كله چې وعده وكړي مخالفت كوي، "وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ" او كله چې ورسره امانت كېښودل شي خيانت كوي. متفقٌ عَلَيْهِ

"زَادَ في رواية لمسلم: وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ" او امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح مسلم كې نور څه زيات كړي دي هغه دا چې: اگرچې روژه نيسي او لمونځ كوي او گومان كوي چې دى مسلمان دى.

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب الأمر بأداء الامانة) كې ذكر شوى دى. دلته يې بيا ذكر كړو، په دې كې اشاره ده دې خبرې ته چې د وعدې مخالفت د منافق علامه ده، مؤمن سړى خو به په هر حال كې وعده سر ته رسوي.

په چا كې چې څلور صفتونه وي، هغه خالص منافق دى

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما: أنّ رسول الله ﷺ، قَالَ: أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقاً خَالِصاً" د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څلور خصلتونه داسې دي چې په كوم سړي كې دا څلور واړه صفتونه وي، نو هغه خالص منافق دى: "وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا" او په كوم كس چې ددې خصلتونو څخه يو خصلت وي، نو په داسې كس كې د منافقت يوه حصه شته تردې چې هغه خصلت پرېږدي: "إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ" هغه خصلتونه دا دي: كله چې ورسره امانت كېښودل شي، نو خيانت كوي، "وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ" او كله چې خبرې كوي دروغ وايي، "وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ" او كله چې وعده وكړي، نو دوكه كوي، "وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ" او كله چې جگړه كوي نو د فسق او فجور خبرې او خيرې كوي. متفقٌ عَلَيْهِ

د منافقت لغوي او اصطلاحي معنى

منافق د مفاعله له باب څخه د اسم فاعل صيغه ده، يعنې باطن يې د ظاهر نه مخالف وي، په اصطلاح كې منافق هغه سړي ته وايي چې په ظاهر كې د اسلام چغې وهي، ليكن په باطن كې كفر پټ ساتي.

يو سوال او درې جوابونه:

سوال: ددې روايت نه وړاندې روايت كې دي: د منافق سړي درې علامې دي او دلته يې څلور ښودلي؟

جواب لومړى جواب دا دى چې ددې مطلب دا نه دى چې صرف درې صفتونه به پكې وي نور به نه وي، د درې څخه زيات هم كېدلى شي، په وړاندې روايت كې درې او دلته څلور بيان شوي دي.

دويم جواب دا دی چې: رسول الله ﷺ نه په اول ځل د دري علامو بيان وشو، بيا د څلورو علامو بيان وشو، څومره علم چې رسول الله ﷺ ته ورکړی شو، هغومره يې بيان کړو، دريم جواب دا دی چې د موقع په مناسبت چې رسول الله ﷺ څومره ضرورت محسوس کړو، نو دري علامې يې بيان کړې بيا يې د بلې موقع په مناسبت څلور علامې بيان کړې، ليکن دلته يو بل سوال پيدا کيږي: هغه دا چې که چېرته خدای مه کړه په کوم مسلمان کې دا علامې موجودې شي نو بيا به هغه منافق وي؟ ددې څلور جوابونه دي: اول جواب دا دی چې: امام نووي رحمه الله فرمايي: که په کوم مسلمان کې دا علامې موجودې شي، نو داسې مسلمان هم د منافق سره مشابهت لري، حديث کې دي چې: "كان منافقاً خالصاً" مطلب هم دا دی چې (كان شديد الشبه بالمنافقين) دا سړی د منافقينو سره سخت مشابهت لري. دويم جواب دا دی چې: که په کوم مسلمان کې دا علامې وموندل شي. نو هغه ته به منافق عملي ويل کيږي، علامه خطابي رحمه الله فرمايي: په حديث کې د منافق نه مراد اعتقادي منافق دی. بل جواب دا دی چې اصل مقصود مسلمانان وېرول دي، هسې نه چې چېرته په تاسو کې دغه علامې موجودې شي که نو منافقان به شئ؛ او علامه انور شاه کشميري رحمه الله فرمايي: په حديث کې د منافقت علامې ښودل شوي دي، دا لازمه نه ده چې چېرته علامې وي هغه دي منافق وي، لکه د تبې علامه دا ده چې بدن ورسره ګرم وي. ليکن دا ضروري نه ده چې چېرته دي بدن ګرم وي، نو بس تبه به وي، بلکې کله کله انسان لمر ته يا اور ته کېني، نو بدن يې بيا هم ګرم شي

ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ وعده پوره کړه

"وعن جابر رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ لِي النَّبيُّ ﷺ: لَوْ قَدْ جَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ أَعْطَيْتُكَ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ راته وفرمايل که چېرته د بحرين نه ماته مال راشي، نو زه به تاته دومره دومره او دومره درکړم، "فَلَمْ يَجِئْ مَالُ الْبَحْرَيْنِ حَتَّى قُبِضَ النَّبيُّ ﷺ فَلَمَّا جَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ أَمَرَ أَبُوبَكْرٍ رضي الله عنه فَنَادَى: مَنْ كَانَ لَهُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ عِدَةٌ أَوْدَيْنٌ فَلْيَأْتِنَا" نو د بحرين نه مال رانغلو تردې چې رسول الله ﷺ وفات شو. کله چې د بحرين نه مال راغلو، نو ابوبکر رضي الله عنه آواز ولګولو چې کوم سړي سره رسول الله ﷺ د مال ورکولو او يا يې د رسول الله ﷺ سره کوم قسم قرض وي، نو هغه دې راشي خپل حق دې وصول کړي، "فَأَتَيْتُهُ وَقُلْتُ لَهُ: إِنَّ النَّبيَّ ﷺ قَالَ لِي كَذَا وَكَذَا، فَحَثَى لِي حَثْيَةً فَعَدَدْتُهَا، فَإِذَا هِيَ خَمْسُمِئَةٍ، فَقَالَ لِي: خُذْ مِثْلَيْهَا" نو زه ابوبکر رضي الله عنه ته راغلم او ورته مې ووېل: نبي کريم ﷺ راته داسې ويلي وو. ابوبکر رضي الله عنه د هغه مال نه يوه لپه راواخيسته کله چې ما هغه لپه وشمارل، نو پوره پنځه سوه درهمه وو. هغوی راته وويل ددې په مثل نور هم راواخله؛ متفقٌ عليه.

لغوي تحقيق:

فحثي: حثي حثوا باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: اچول، غورځول

تشريح لو قد جاء مال البحرين: که د بحرين مال راشي، د جزيه مال راتلو اميد وو، د بحرين عامل

په دې وخت کې علاء بن حضرمي وو، "اعطيتك هكذا هكذا وهكذا" زه به تاته دومره دومره او دومره درکړم.
په يو بل روايت کې دي چې: "وعدني رسول الله ﷺ ان يعطيني هكذا هكذا وهكذا افبسط يديه ثلاث مرات" ژباړه: رسول الله ﷺ زما سره وعده وکړه چې زه به تاته دومره دومره او دومره مال درکوم، رسول الله ﷺ خپل لاسونه مبارك درې ځله وښوځول، ابوبکر ؓ دا وعده په خپل دور خلافت کې پوره کړه. دلته امام نووي رحمه الله فرمايي: وعده او عهد پوره کول دومره اهم او ضروري دي چې د مرګه ځخه وروسته هم باقي وي، د وارثانو په ذمه واري کې دا خبره داخله ده چې هغوی دې پس له مرګه د هغه کړې وعده پوره کړي، حکومتي سطح باندې که يو حکومت وعدې پوره نه کړی شي، نو د هغه پسې چې کوم حکومت راشي، هغه به دغه وعده پوره کوي، لکه څرنګه چې په دې حديث کې ذکر شو چې د رسول الله ﷺ د وفات نه وروسته ابوبکر ؓ د رسول الله ﷺ وعده پوره کړه.

فاذاهي خمسمائة فقال لي خذ مثليها: د مسلم په يو روايت کې دي چې: جابر ؓ فرمايي: ابوبکر ؓ ماته وفرمايل دا وشماره! ما چې هغه وشمارلې، نو پوره پنځه سوه درهم وو، ابوبکر ؓ وفرمايل: ددې په دوه مثله نور هم ورکړه!

باب المحافظة على ما اعتاده من الخير

په ښه عادتونو باندې پابند او سېدل پکار دي

قَالَ اللّٰـهُ تعالیٰ: الله ﷻ فرمايي چې: "إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ" الله ﷻ تر هغه پورې د يو قوم ځخه خپل نعمت نه اخلي چې الله ﷻ په دوی باندې کړی وي، تردې چې دوی په خپلې ناشکری سره هغه نعمت ته تغير ورنه کړي. [الرعد: ۱۱]

تشريح: الله ﷻ د قوم ښه حالت تر هغه نه بدلوي تر څو چې هغوی خپله خپل حالت بدل نه کړي، د حالاتو د تبديلی نه مراد دا دی: کله چې کوم قوم اطاعت او شکر ګزاري پرېږدي او خپل حالات په ناشکری او نافرمانی سره بدل کړي، نو الله ﷻ هم د داسې قوم نه خپل رحمت منقطع کړي، د معارف القرآن ليکوال (علامه مفتي محمد شفيع رحمه الله) فرمايي: د آيت مطلب دا دی چې الله ﷻ د قوم حالات (امن او عافيت) په مصيبت او تکليف سره تر هغه نه بدلوي چې قوم خپله خپل اعمال په بدی او بد عملی او فساد سره بدل نه کړي، کله چې قوم خپله خپل اعمال په بد عملی او نافرمانی سره بدل کړي، نو الله ﷻ هم خپل طرز او طريقه بدله کړي او دا ظاهره ده چې الله ﷻ چاته عذاب ورکول غواړي، نو بيا څوك دی چې هغه عذاب بند کړي او بيا به څوك ددې قوم مدد وکړي، کله چې يو انسان د خپلې اصلاح په فکر کې وي، نو الله ﷻ هم د هغه مرسته فرمايي، لکه څرنګه چې د الله ﷻ ارشاد دی: "والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا" د الله ﷻ له لورې د هدايت لارې هغه وخت خلاصيږي، کله چې په انسان کې خپله هم څه نا څه طلب وي.

وعده پوره کول ضروري دي:

"وقال تعالی" الله ﷻ فرمايي: "وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنْكَاثًا" او د هغې ښځې په شان مه کيږئ چې خپلې وړې، ټوټې ټوټې کړي وروسته له دې چې هغه يې ښه مضبوط جوړ کړې وي [النحل: ۹۲]

"وَ((الْأَنْكَاثُ)): جَمْعُ نِكْثٍ، وَهُوَ الْغَزْلُ الْمَنْقُوضُ" د الانکاث معنی ده: وړيو ټوټې ټوټې کول

وعده پوره کول:

تشريح په مکه مکرمه کې يوه لېونۍ ښځه وه، د هغې نوم (خرقاء يا ريطه بنت عمرو) وه. هغې به د سهار نه تر ماښامه پورې د وړې نه تارونه جوړول. کله چې به پوره پرې تړې جوړ شو، نو بيا به يې هغه ټکړې ټکړې کړو. دلته داسې ويل شوي چې تاسو ددې کم عقلې ښځې په شان جوړ شئ مه خرابوئ مطلب دا چې وعده وکړئ نو بيا يې مه ماتوئ

د وعده ماتونکي مثال د ليونۍ ښځې په شان دی:

علامه شبير احمد عثماني رحمه الله فرمايي: يو ځل چې وعده وشي او بيا ماته شي، دا دومره ستر حماقت دی، لکه يوه کم عقله ښځه چې توله ورځ د وړې نه تارونه جوړ کړي، بيا يې ماښام ټکړې ټکړې کړي، لکه څرنګه چې په مکې کې يوې ليونۍ ښځې داسې کول، د آيت مطلب دا دی چې: وعدې فضول شی مه ګڼئ، زړه چې دې وغواړي وعده کوه چې بيا دې زړه وغواړي، نو ماته يې کړه، په کوم قوم کې چې قانون، عدل او انصاف ختم شي، د نفساني خواهشاتو پسې شي، نو د داسې قوم په نزد وعدې صرف ماتېدو ته پاتې شي، يعنې د دوی په نزد وعده دې ته ويل کيږي چې ماته يې کړي

مهلت زياتېدو سره زړونه سخت شول:

"وقال تعالی" الله ﷻ فرمايي: "وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ" او تاسو د هغو کسانو په شان مه کيږئ کومو ته چې ستاسو نه وړاندې کتاب ورکړی شوی وو، "فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ" بس په هغوی باندې ډېر وخت تېر شو، نو د هغوی زړونه سخت شول. [الحديد: ۱۶] "وقال تعالی" الله ﷻ فرمايي "فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا" بس دوی د هغې خيال په حق رعايت سره ونه ساتلو [الحديد: ۲۷].

تشريح "ولا يکونوا کالذين أوتوا الکتاب" د آيت مطلب دا دی چې تاسو د يهوديانو او عيسايانو په شان مه کيږئ دوی ته زيات مهلت ورکړی شو، نو د دنيا په خوندونو کې داسې مست شول چې آخرت يې هېر شو او د الله ﷻ حکمونه يې شاته وغورځول، ددې نتيجه دا شوه چې د دوی زړونه سخت شول، بيا په دوی کې اکثره نافرمانه شول. نو اې مؤمنانو! که تاسو هم داسې وکړل، نو ستاسو سره به هم دغسې معامله کيږي. ستاسو زړونه هم به سخت شي

عيسايانو خپله وعده پوره نه کړه:

تشريح: د آيت مطلب دا دی چې (رهبانيت: ترك لذات) د خوندونو پرېښودل عيسايانو خپله په ځان باندې لازم کړی دی، په دوی باندې چې کوم شرعي حکم نه وو، دا کار د دوی لپاره کوم بد نه وو، ليکن کله چې يې خپله په ځانونو باندې لازم کړو، نو بيا يې ددې لحاظ ونه شو ساتلی، که څنو کسانو ددې لحاظ وکړو، خو اکثر لره حکم د کُل وي، ځکه يې ټولو ته نسبت د کُل وکړو او ويې فرمايل: "فمارعوها" هغوی چې ددې رعايت ونه شو ساتلی، په دې وجه الله ﷻ د دوی نه ناراضه شو

يو ځل چې تهجد شروع کړې، بيا يې پرېښودل ښه کار نه دی

"وعن عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما، قَالَ: قَالَ لي رسول الله ﷺ: يَاعَبْدَ الله، لاتَكُنْ مِثْلَ فُلانٍ" د عبد الله بن عمرو بن عاص رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته يوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عبد الله! فلانکي سړي په شان مه کېږه! "كَانَ يَقُومُ اللَّيْلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ" کوم چې د شپې تهجد شروع کړل بيا يې پرېښودل. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: که په دې حديث کې يو طرفته د تهجدو فضيلت بيان شوی دی، بل طرفته دې خبرې ته هم اشاره ده چې د شپې لمونځ اګر چې فرض نه دی، ليکن که يو ځل يې شروع کړې، نو بيا يې پرېښودل پکار نه دي، علماء فرمايي: ددې حديث نه معلومه شوه چې انسان يو ځل هر نيك کار شروع کړي، نو بيا يې په استقامت سره ادا کول پکار دي، په مينځ کې يې پرېښودل پکار نه دي، کنه نو بيا به په غير شعوري توګه په مزه مزه بدی طرفته روان شي او هغه ته به پته هم نه لګيږي

باب استحباب طيب الكلام وطلاقة الوجه عند اللقاء

د ملاقات په وخت کې خوږې خبرې کول او په روڼ تندي با ندې ملاقات کول

"قَالَ الله تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ" او مؤمنانو ته د خپل رحمت وزرې ښکته کړه! [الحجر:۸۸]

تشريح: په آيت کې رسول الله ﷺ ته خطاب دی چې تاسو د مسلمانانو سره نرمي کوئ؛ کافرانو ته دا حکم نه دی شوی، البته کوم تبليغ چې د رسول الله ﷺ په نبوي فرائضو کې شامل دی؛ دا به دوی کوي، کافرو ته هم او مسلمانانو ته هم

که نبي کريم ﷺ سخت زړه والا وای، نو خلک به ترې تښتېدلی

"وقال تعالى" الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: "وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ" اې پېغمبره ﷺ! که چېرته تاسو پېچ ګويه (يعني بد زبانه) وای او زړه مو سخت وای، "لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ" نو دا خلک (صحابه کرام) به ستاسو څخه تښتېدلی ﴿آل عمران: ۱۵۹﴾.

تشريح: مفسرين فرمايي: د آيت مطلب دا دی چې: د رسول الله ﷺ اخلاق، خوش بياني او مهرباني نه وای، نو خلک به ترې تښتېدلی، د خلکو اصلاح به مشکل وه، ځکه چې خلک به د نژدې راتلو په ځای وتښتيږي، ځکه خو علماء فرمايي: داعي او تبليغ ته پکار ده چې لهجه او اخلاق يې ښکلي او نرم وي، خلک چې ستا سختي نه شي برداشت کولی، نو بيا به څنګه د دوی اصلاح وکړې

د جهنم نه ځان وساته! اګرچې د خورما په يوه ټکړې ولې نه وي

"وعن عدي بن حاتم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ" د عدي بن حاتم رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د جهنم له عذاب څخه ځان بچ کړئ، اګرچې د خورما په يوه ټکړه ولې نه وي، "فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ" او کوم کس چې د خورما ټکړه ونه مومي، نو بايد چې په ښکلې خبره ځان د جهنم له اوره وساتئ: متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: په حديث کې اشاره ده دې خبرې ته چې د جهنم د خلاصون يوه ذريعه صدقه ورکول هم دي، صدقه ورکول پکار دي، فرمايي چې صدقه ورکوه که نور هيڅ نه وي بايد د خورما يوه ټوټه ورکړئ، دا هم معمولي ګڼل پکار نه دي، که دا هم نه شي ورکولی، نو بيا خوږه او نرمه خبره کوئ او ښکلي اخلاق اختيار کړئ چې دا هم د جهنم نه د آزادی ذريعه جوړېدی شي

ښه خبره هم صدقه ده

"وعن أبي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ښائسته او ښکلي خبره هم صدقه ده، "متفقٌ عَلَيْهِ، وَهُوَ بَعْضُ حديث تقدم بطوله" دا حديث د مخکيني حديث يوه ټوټه ده چې مخکې تېر شوی دی

تشريح: په دې حديث کې دې خبرې ته اشاره ده چې صدقه صرف په مال پورې خاص نه دی، بلکې صدقه خودومره يو آسان عمل دې چې هر انسان يې کولی شي، چاسره په ښکلي اخلاقو خبرې کول هم صدقه ده، علماء لدې نه اندازه ولګوئ چې په دين اسلام کې د ښکلي اخلاقو څومره اهميت او مقام دې

يوه نيکي هم معمولي مه ګڼه !

"وعن أبي ذر ﷺ، قال: قال لي رسول الله ﷺ: لاتحقرن من المعروف شيئاً" د أبو ذر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل نېک عمل لږ او کم مه ګڼه: "ولو أن تلقى أخاك بوجهٍ طلقٍ" اګر چې هغه د خپل مسلمان ورور سره په روڼ تندي ملاقات کول وي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

طليق: (طلق طلاقة طلوقة) باب کرم يکرم دی، ددې معنى ده په روڼ تندي خبرې کول

تشريح: لا تحقرن من المعروف شيئاً: ښه کار معمولي مه ګڼئ. معروف هر هغه کار ته وايي چې په شريعت کې جائز وي، په ظاهري نظر سره اګرچې هغه هر څومره کمزوری وي. څو معمولي ګڼل يې پکار نه دي، په حديث کې په خندا او روڼ تندي سره خبرې کول او ملاقات کول بيان شوي دي. دا اګرچې خاص عمل نه دی، ليکن اخلاقي لحاظ سره يو ښکلې عادت دی او د باطني محبت علامه ښودل شوې ده. نو ځکه په شريعت کې ددې ډېر قدر کېږي

باب استحباب بيان الكلام وإيضاحه للمخاطب وتكريره ليفهم إذا لم يفهم إلا بذلك

د مخاطب لپاره د خپلې خبرې وضاحت کول او د هغې تکرار کول کله چې هغه په اول ځل پوه نه شي. دا مستحب دي

"عن أنس ﷺ: أن النبي ﷺ كان إذا تكلم بكلمة أعادها ثلاثاً حتى تفهم عنه" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله هم خبره کول، نو هغه خبره به يې درې ځله تکرار کړه، ترڅو چې خلک به پرې پوه شول، "وإذا أتى على قوم فسلم عليهم سلم عليهم ثلاثاً" او کله چې به کوم قوم ته راغلو، نو سلام به يې پرې واچولو او درې ځله به يې پرې سلام اچولو رواه البخاري

تشريح: محدثين فرمايي: درې درې ځله يوه خبره تکرارول مستحب دي، بيا په ځانګړې توګه چې کله د تکرار ضرورت هم وي، ځينې علماء فرمايي: دا به هغه وخت کېدل چې کله به مجمع ګڼه وه، خلک به زيات وو، يو ځل به يې ښي طرف، بل ځل به يې چپ طرف او په دريم ځل به يې مخامخ خبره تکرار کړه، په دې باندې بايد قياس کړی شي چې نبي کريم ﷺ به درې ځله سلام کولو. ددې لپاره چې ټول خلک يې واوري، يا دا چې يو ځل ښي طرف، بل ځل چپ طرف او په دريم ځل به يې مخامخ سلام اچولو

د رسول الله ﷺ خبرې به صفا او واضحه وې:

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ كَلاَمُ رسول الله ﷺ كَلاماً فَصْلاً" د عائشه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې: د رسول الله ﷺ خبرې به واضحه او په تفصيل سره وې، "يَفْهَمُهُ كُلُّ مَنْ يَسْمَعُهُ" هر هغه سړی به پرې پوهېدلو چې چا به واورېدلې. رواه أبوداود

تشريح: كلاماً فصلاً: صفا او واضحه خبرې كول. د حديث مطلب دا دی چې د رسول الله ﷺ خبرې مباركې به واضحه او صفا وې، هر سړی به د هغه په خبرو پوهېدلو. "فصلاً" ځينې علماء فرمايي: د فصلاً معنی ده: په مزه مزه واضحه خبرې كول. مطلب دا چې د رسول الله ﷺ خولې مباركې نه به چې كوم الفاظ راوتل هغه به جدا جدا واضح الفاظ وو. ګډوډ الفاظ به نه وو. په دې كې به د سامعينو رعايت او خيال ساتلو. ددې لپاره چې اورېدونكي پرې ښه پوه شي

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د حديث مطلب دا دی چې: د رسول الله ﷺ د خبرو طريقه داسې نه وه لكه څرنګه چې موږ خبرې كوو، يوه خبره مو ختمه نه وي چې بله ورپسې شروع كړو او په مېنځ كې رانه مقصودي خبره پاتې شي، زموږ خبرې صفا او واضحه نه وي، ددې برعكس د رسول الله ﷺ خبرې مباركې به صفا او واضحه جدا جدا وې. يوه خبره به چې پوره شوه، نو ورپسې به يې بله خبره كول. په دې وجه علامه مناوي رحمه الله فرمايي: د حديث مطلب دا دی چې د رسول الله ﷺ د خبرو كلمې به سره جدا جدا وې، هم دغه خبره په يو بل روايت كې هم شته، د عايشه ﷺ نه روايت دی. هغه فرمايي چې كله به رسول الله ﷺ خبرې كولې، نو په مزه مزه صفا الفاظو سره به يې خبرې كولې: په تېزۍ سره به يې خبرې نه كولې

باب إصغاء الجليس لحديث جليسه الذى ليس بحرام واستنصات العالم والواعظ

جائز خبرې اورېدل، عالم يا واعظ به اورېدونكي چوپ كوي

"عن جرير بن عبد الله ﷺ، قَالَ: قَالَ لِي رسول الله ﷺ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ" د جرير بن عبد الله ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته رسول الله ﷺ د حجة الوداع په ورځ وفرمايل "اسْتَنْصِتِ النَّاسَ" خلك غلي او خاموش كړه، "ثُمَّ قَالَ: لاَ تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّاراً يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ" بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: اې خلكو! تاسو زما څخه وروسته كافران نه شئ چې د يو بل سره څټونه وهئ! متفق عليه

لغوي تحقيق:

استنصت: باب استفعال نه ده، ددې معنی ده، خلك خاموش او چپ كول.

تشريح: استنصت الناس: خلك چوپ كړه! ددې نه معلومه شوه چې كله قرآن يا حديث بيانيږي. نو بايد په خاموشی سره يې واوري، بل دا هم جائز دي چې كله قرآن يا حديث بيانيږي نو بل كس ته ويلی شي چې خلك خاموش كړه، بل ددې نه علماء كرامو استدلال كړی دی چې په عوامو او په زده كوونكو باندې لازم دي چې د علماوو خبرې په خاموشی سره واوري، ځكه چې علماء هم د انبياء عليهم السلام وارثان دي، سفيان ثوري رحمه الله فرمايي: د علم پنځه درجې د: (۱) تر ټولو وړاندې استماع، يعنې غوږ نيول، دويم دا چې غلی او خاموش كېنستل، دريم دا چې كوم څه يې چې ويلي وي هغه به ياد كړي، څلورم دا چې عمل كول او پنځم دا چې ددې خبرو نشر او خپرول دي.

زما نه وروسته كافران نه شئ! ددې څلور مطلبه دي:

لا ترجعوا بعدي كفاراً: زما نه وروسته تاسو كافران نه شئ! محدثينو ددې جملې ډېر مطلبونه بيان كړي دي يو څو يې دا دي: مثلاً ستا په ذمه چې د مسلمانانو كوم حقونه دي، ددې حقونو ادا كولو په ځای يې مړه كول غواړې، دا سرتاسره ناشكري ده، ددې ناشكری نه يې په كفر سره تعبير وكړو، خلاصه دا چې حقيقتاً كافر كېدل مراد نه دي، بلكې دلته د كفر نه لغوي كفر مراد دی، يعنې ناشكري مراد ده.

دويم مطلب دا دی چې د يو بل قتل حلال وګڼل شي او قتل وكړي، نو په داسې حال كې به د كفر نه اصطلاحي كفر مراد شي، ځكه چې دلته تحليل د ما حرم الله راغلی دی، يعنې كوم څه چې الله جل جلاله حرام كړي دي هغه يې حلال وګڼل او حرامو ته يې حلال ويل كفر دي، دريم مطلب يې دا دی چې په قتل سره انسان كفر او سوء خاتمې ته رسيږي او څلورم مطلب يې دا دی چې قتل كول د كافرانو عمل دی، يعنې تاسو به د قتل په سبب د كافرانو په څېر شئ.

بَابُ الوَعظ والاقتصادِ فِيهِ

وعظ او نصيحت كول او په هغې كې ميانه روي كول

"قَالَ اللَّــه تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ" ته د خپل رب لور ته په حكمت او په ښكلي بيان او وعظ سره بلنه وركړه! [النحل:۱۲۵].

تشريح: نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته په دې آيت كې خطاب دی چې تاسو خلك په ښكلي وعظ سره اسلام ته راوبولئ، خلك الله جل جلاله ته رابلل د انبياء عليهم السلام د بعثت اولنی منصب وو، په قرآن كريم كې هم د

رسول الله ﷺ خاص صفت يعني دعوت الى الله بيان شوى دى، مثلاً "ولتكن منكم امة يدعون الى الخير ويأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر" ژباړه: په تاسو کې يوه ډله داسې پکار ده چې هغوى خلکو ته د نيکۍ دعوت ورکوي او د بدو کارونو څخه يې منع کوي، يو بل ځاى ارشاد دى: "ومن أحسن قولاً ممن دعا إلى الله" د خبرو په لحاظ ددې نه بل کس ښه نشته چې خلك الله ﷻ طرفته رابولي، د (الحكمة) معنى: په داسې ښکلي کلام سره کولى شي چې د انسان په زړه کې ځاى ونيسي

الموعظة الحسنة: وعظ يوې داسې خبرې ته ويل کيږي چې د مخاطب په خير خواهى کې د درد نه ډکه خبره وکړى شي چې د مخاطب په زړه کې ځاى ونيسي، د خبرې قبلولو لپاره د هغه زړه نرم شي. مثلاً د يو کار کولو په وجه هغه ته د جنت ملاوېدو او په نه کولو سره جهنم ته د داخلېدو وجه بيان کړى شي، ځينې ښې خبرې هم د انسان په زړه باندې اثر نه کوي، وجه يې دا وي چې د خبرو طريقه به يې غلطه وي، د هغو خبرو له وجې مخاطب خپل اهانت ګڼي، نو ځکه يې لفظ د حسنه زيات کړو

دومره او ږد بيان به نه کوي چې خلک پرې تنګ شي

"وعن أبي وائل شقيق بن سلمة، قال: كان ابن مسعود ﷺ يذكرنا في كل خميس، فقال له رجل: يا أبا عبد الرحمن، لوددت أنك ذكرتنا كل يوم" د أبو وائل شقيق بن سلمة رحمه الله نه روايت دى هغه فرمايي چې عبد الله بن مسعود ﷺ به مونږ ته د هرې پنجشنبې په ورځ وعظ او نصيحت کولو، يو کس ورته وويل: اې د عبد الرحمن پلاره! مونږ خو دا خبره خوښه ګڼو چې تاسو هره ورځ مونږ ته نصيحت کوئ "فقال: أما إنه يمنعني من ذلك أني أكره أن أملكم" عبد الله بن مسعود ﷺ وفرمايل: زه په دې وجه منع شوى يم چې زه دا خبره بده ګڼم چې تاسو باندې زما په وجه بوج او تکليف جوړ شي، "وإني أتخولكم بالموعظة" او زه ستاسو د وعظ او نصيحت په دوران د بر خيال ساتم، "كما كان رسول الله ﷺ يتخولنا بها مخافة السآمة علينا" لکه څنګه چې به رسول الله ﷺ زمونږ خيال د بوج او تکليف جوړېدو له امله ساتلو. متفق عليه

"يتخولنا: يتعهدنا" د يتخولنا معنى ده: خيال ساتل

تشريح: ذكرتنا كل يوم: هره ورځ تاسو مونږ ته وعظ او نصيحت بيانوئ! محدثين فرمايي: ددې نه معلومه شوه چې په هر شي کې د اعتدال نه کار اخيستل پکار دي، تردې چې په وعظ کې هم د اعتدال نه کار اخيستل پکار دي، هر وخت انسان په زړه سره نصيحت نه اوري چې بيا د هغې ښه اثر هم نه وي، په دې وجه چې کوم وعظ په مناسب وخت کې په صحيح طريقه د زړه څخه وشي، نو داسې نصيحت اثر کوي او ددې ښه ثمره راوځي

د راوي ابو وائل شقيق بن سلمه رحمه الله حالات:

اصل نوم يې شقيق رحمه الله دی، کنيت يې ابو وائل دی، د اسد قبيلې سره يې تعلق دی، د کوفې اوسېدونکی وو، په تابعينو کې شمار دی.

وفات ابن حجر رحمه الله فرمايي په ۶۴ هجري کې وفات شوی دی.

خطبه مختصره او لمونځ اوږد پکار دی

"وعن أبي اليقظان عمار بن ياسر رضي الله عنهما، قال: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: إنَّ طُولَ صَلاةِ الرَّجُلِ، وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِهِ" د أبو اليقظان عمار بن ياسر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: اوږد لمونځ کول او خطبه لنډه ويل د سړي د فقاهت دليل دی. "فَأَطِيلُوا الصَّلاةَ وَأَقْصِرُوا الْخُطْبَةَ" بس لمونځ اوږد کوئ او خطبه لنډه وايئ! رواه مسلم

"مَئِنَّةٌ: بميم مفتوحة ثُمَّ همزة مكسورة ثُمَّ نون مشددة، أيْ: عَلامَةٌ دَالَّةٌ عَلَى فِقْهِهِ" د (مئنة) معنی ده: دليل او د فقاهت علامه.

تشريح: طول الصلاة الرجل وقصر خطبته: يو انسان چې اوږد لمونځ کوي او مختصره خطبه وايي دا دده د فقاهت دليل دی، ځکه چې اصل مقصود لمونځ دی، خطبه ددې فرعه ده، په جمعه کې به د مقتديانو خيال ساتي، ځکه چې په مقتديانو کې ځينې ناروغ وي، ځينې بوډاګان وي او ځينې ضرورتمند وي، په يو روايت کې دي چې لمونځ مختصر پکار دی، علماء فرمايي: دلته يې د اوږد لمونځ بيان کړو، يعنې لمونځ به اوږد کوي، وجه يې دا ده چې د خطبې ذکر به هم ورسره کوي، يعنې لمونځ يې ځکه اوږد بيان کړو چې د خطبې په مقابل کې راشي، خطبه به لنډه وي او لمونځ به اوږد وي، که لمونځ يوازې مراد شي، لکه څرنګه چې په عامو حالاتو کې انسان جمع ورکوي، نو په داسې وخت کې به لمونځ مختصر کوي، ليکن د مختصر کېدو مطلب دا هم نه دی چې په لمانځه کې بېخي سکون او اطيمنان نه وي، بلکې د ټولو لحاظ به ساتلی شي او جمع به ورکولی شي

د راوي عمار بن ياسر رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عمار رضي الله عنه دی، ابو اليقظان يې کنيت دی، د پلار نوم يې ياسر دی، د مور نوم يې سميه رضي الله عنها ده، عمار رضي الله عنه او صهيب بن سنان رضي الله عنه يو ځای د أرقم بن أبي أرقم په کور کې يو ځای مسلمانان شول، دغه مهال دېرشو کسانو ايمان قبول کړو، د عمار رضي الله عنه کورنی د دين په خاطر سختې وزغمل، د دوی والده د اسلام په تاريخ کې تر ټولو وړاندې شهيده ښځه ده، د عمار رضي الله عنه والد ياسر رضي الله عنه او ورور عبد الله رضي الله عنه هم شهيد شوی دی، يو ځل رسول الله ﷺ ورته وفرمايل اې آل عمار رضي الله عنهم!

تاسو ته زيرى دى چې جنت ستاسو په انتظار دى، حبشې ته يې په هجرت کې اختلاف دى. البته مدينې منورې ته يې هجرت کړى دى، رسول الله ﷺ د دوى ورورى د حذيفة بن يمان رضي الله عنه سره وکړه په ټولو جهادونو کې يې د رسول الله ﷺ سره شرکت کړى دى، د يمامه په جنګ کې د دوى يو غوږ هم شهيد شوى ؤ، عمر رضي الله عنه په شلمه هجرى کې دوى د کوفې والي جوړ کړو، تر يو کال او نهه مياشتو پورې په دې منصب برقرار وو.

شهادت: په جنګ صفين کې شهيد شو، دوى ته په آخرى وخت کې شيدې ورکړى شوې، نو دوى وفرمايل: ماته رسول الله ﷺ فرمايلي وو چې ستا د ژوند آخرى خوراک به شيدې وي. ابن الغابه په نيزه ووهلو او زخمي يې کړو، بيا يو بل شامي سرى وو. هغه راغلو او د دوى سر يې له تنې جدا کړو. علي رضي الله عنه ورباندې د جنازې لمونځ وکړو، په دې وخت کې د عمار رضي الله عنه عمر ۹۱ کاله ؤ.

مرويات: يو سل دوه شپېته حديثونه ترې نقل دي، په دوه حديثونو کې يې امام بخاري او امام مسلم متفق عليه دي، بخاري رحمه الله په درې حديثونو کې او مسلم رحمه الله په دوه حديثونو کې منفرد دى.

په لمانځه کې اول خبرې جائزې وې بيا وروسته منسوخ شوې

"وعن معاوية بن الحكم السلمي رضي الله عنه قال: بَيْنَا أَنَا أُصَلِّي مَعَ رسول الله ﷺ إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَقُلْتُ: يَرْحَمُكَ اللهُ، فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ! فَقُلْتُ: وَاثُكْلَ أُمِّيَاهُ، مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُونَ إِلَيَّ؟" د معاويه بن حکم سلمي رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې يوه ورځ ما د رسول الله ﷺ سره لمونځ کولو، په دې دوران کې يو کس پرنجى وکړو، ما ورته (يرحمك الله) ووېلو، خلکو ماته په بد بد نظر وکتل، ما ورته ووېل: په تاسو دې مېندې پورې شي، ولې ماته تاسو داسې په بد نظر ګورئ؟! "فَجَعَلُوا يَضْرِبُونَ بِأَيْدِيهِمْ عَلَى أَفْخَاذِهِمْ!" نو هغوى خپل پتونونه په لاسونو باندې وهل شروع کړل. "فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُصَمِّتُونَنِي لَكِنِّي سَكَتُّ" نو زه پوه شوم چې ما چوپ کول غواړي. زه چوپ پاتې شوم، "فَلَمَّا صَلَّى رسول الله ﷺ، فَبِأَبِي هُوَ وَأُمِّي، مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ أَحْسَنَ تَعْلِيمًا مِنْهُ" کله چې رسول الله ﷺ لمونځ پوره کړو، نو په هغوى باندې دې زما مور پلار قربان شي، ما چېرته داسې معلم (استاذ) نه مخکې ليدلى دى او نه به وروسته چېرته داسې ښکلى معلم پيدا شي. "فَوَاللهِ مَا كَهَرَنِي، وَلَا ضَرَبَنِي، وَلَا شَتَمَنِي" قسم په الله جل جلاله چې نه يې په ما باندې د غوسې اظهار وکړو، نه يې زه ووهلم او نه يې ماته خېرې وکړې، "قَالَ: إِنَّ هَذِهِ الصَّلَاةَ لَا يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ" نبي کريم ﷺ ماته وفرمايل: دا لمونځ داسې عمل دى چې په دې کې د دنيا د خلکو په شان خبرې کول جائز نه دي، "إِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيحُ وَالتَّكْبِيرُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ" په لمونځ کې خو صرف تسبيح او تکبير او د قرآن کريم تلاوت جائز دى، "أَوْ كَمَا قَالَ رسول الله ﷺ" او يا دا

چې رسول الله ﷺ همداسې وفرمايل: "قلتُ: يَارسول الله، إني حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ، وَقَدْ جَاءَ اللهُ بِالإِسْلَامِ" ما ورته وويل: يا رسول الله ﷺ زه خو د جاهليت زمانې ته نزدې يم او ما باندې الله ﷻ د اسلام راوړولو احسان وکړو، "وَإِنَّ مِنَّا رِجَالاً يَأْتُونَ الْكُهَّانَ؟" په موږ کې ځينې داسې کسان هم شته چې هغوی کاهنانو ته راځي، ددې حکم څه دی؟ "قَالَ: فَلَا تَأْتِهِمْ" نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: ته مه ورځه! "قُلْتُ: وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُونَ؟" ما وويل: په موږ کې خو ځينې داسې کسان شته چې هغوی بدفالي نيسي، ددې حکم به څه وي؟ "قَالَ: ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُونَهُ فِي صُدُورِهِمْ فَلَا يَصُدَّنَّهُمْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا د هغوی د سينې خبره ده، هغوی دې ددې په وجه د څه کار کولو يا نه کولو څخه نه منع کوي. رواه مسلم

"الثُّكْلُ: بضم الثاءِ المُثلثة: المُصيبةُ وَالفَجِيعَةُ" د (الثکل) معنی ده: مصيبت او تکليف، "مَاكَهَرَنِي: أَيْ: مَا نَهَرَنِي" د (ماکهرني) معنی ده: زورنه ورکول.

تشريح: ددې حديث نه علماوو ګڼ شمېر مسئلې مستنبط کړې دي: اول دا چې په لمانځه کې هر قسم خبرې حرام دي، د پرنجي جواب ورکول هم اوس صحيح نه دي، په دې کې د رسول الله ﷺ ډېر ښکلی موثرانه بيان وشو، رسول الله ﷺ به ډېر په ښکلي شان سره د دين نه بې خبره خلکو ته د دين خبرې ښودلې او د هغه لاعلمي به يې ختمه کړه.

رجال يأتون الكهان قال فلا تأتهم: مستقبل حالاتو معلومولو نجوميانو او کاهنانو ته تلل او د هغه خبرې صحيح ګڼل شرك او حرام دي، "منا رجال يتطيرون" د بد فال نه رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده، نېک فال اخيستل په شريعت کې جائز دي، ليکن بدفال نيول جائز نه دي، دا د جاهليت د زمانې خلکو کارونه دي چې دين اسلام يې په سختو ټکو سره رد کوي.

د راوي معاويه بن حکم رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې معاويه رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې حکم دی، د بنو سليم په قبيله کې اوسېدلو، د هجرت نه وروسته مسلمان شو، په کوم کال يې چې ايمان راوړو، په دې کې اختلاف دی: د خپل تعليم او تربيت تفصيلي واقعه يې په دې حديث کې ذکر کړې ده، ديارلس حديثونه ترې نقل دي.

د نبي کريم ﷺ يوه مؤثره خطبه:

"وعن العِرْبَاضِ بن سارِيَةَ رضي الله عنه، قَالَ: وَعَظَنَا رسول الله ﷺ مَوْعِظَةً وَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ، وَذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ" د عرباض بن ساريه رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ موږ ته وعظ وکړو، داسې تاثيري وعظ يې وکړو چې په دې سره زموږ زړونه وېرېدل او نرم شول، د سترګې څخه مو دوه اوښکې ډکې شوې ... "وَذَكَرَ الحَدِيثَ وَقَدْ سَبَقَ بِكَمَالِهِ فِي بَابِ الأَمْرِ بِالمُحَافَظَةِ عَلَى السُّنَّةِ، وَذَكَرْنَا أَنَّ التِّرْمِذِيَّ، قَالَ: إنه حديث حسن صحيح"

بيا يې تول حديث ذکر کړو او دا حديث تول مخکې په باب المحافظة على السنة کې تېر شوی دی او دا هم مونږ ذکر کړی دی چې امام ترمذي رحمه الله فرمايلي: دا حديث حسن صحيح دی

تشريح موعظة: وعظ دې ته وايي چې ډېر په ښکلي انداز او درنه لهجه باندې د مخاطب په زړه کې ځای ونيسي، "وجلت منها القلوب" زړونه مو ودرځېدل، دا د مؤمنانو کيفيت وي چې قرآن يا حديث واوري، نود دوی د سترګو نه اوښکې روانې شي، ددې نه معلومه شوه چې قرآن يا حديث واوري او د سترګو نه يې اوښکې روانې شي، نو دا د ايمان نخښه ده، دا حديث وړاندې ذکر شوی دی، ليکن دلته بې بيو ځل بيا راوړو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې په وعظ او نصيحت کې بايد د اعتدال نه کار واخيستل شي.

باب الوقار والسكينة

وقار او سکينه

"قَالَ اللّٰـه تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا" او د رحمان ذات بندګان هغه دي چې په ځمکه کې په عاجزی سره ګرځي، "وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا" او کله چې د جاهلانو خلکو سره د دوی ملاقات وشي، نو دوی ورته وايي "سلام عليکم" (يعني دغه مجلس پرېږدي او ترې لاړ شي) [الفرقان: ۶۳].

تشريح: عباد الرحمن: عباد جمع د عبد ده، ددې معنی ده: بنده، د رحمن بنده په حقيقت کې هغه چاته ويل کيږي چې په خپله عقيده، خيالاتو او هر قسم حرکاتو او سکناتو کې د الله ﷻ د مرضی مطابق چليږي.

په ځمکه په نرمۍ سره ګرځي!

يمشون على الارض هوناً: حسن بصري رحمه الله فرمايي د مؤمن سري تول اندامونه، پښې، لاسونه، غوږونه او سترګې هرڅه د الله ﷻ په وړاندې ذليل او تابع وي، ناواقف انسان يې چې ووينې، نو وايي چې چېرته معذوره يا لوښی دي، حالانکې هغه نه بيمار وي، نه لوښی وي نه بل څه پرې شوي وي، ليکن حقيقت دا وي چې په دوی باندې د الله ﷻ وېره غالبه وي، کومه چې په نورو کې نه وي.

له ناپوهه خلکو څخه مخ اړوي!

واذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاماً: د ناپوهه خلکو سره يې چې واسطه راشي، نو دوی ورته وايي: سلام عليکم، د جاهلو نه مراد د جهالت کارونه کول دي، اګرچې هغه په واقع کې ستر عالم ولې نه وي، د

سلام نه مراد سلامتي والا سلام دی، يعنې هغه چې د جاهلو او ناپوهه خلکو په جواب کې د سلامتيا خبرې کوي، داسې خبرې چې نورو ته پکې تکليف نه رسيږي، خلاصه دا شوه چې د بې وقوفو او کم عقلو خلکو په خبرو باندې دوی انتقامي بدلې نه اخلي، بلکې دوی د معافی نه کار اخلي.

د رسول الله ﷺ د خندا کيفيت:

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: مَا رَأَيْتُ رسول الله ﷺ مُسْتَجْمِعاً قَطُّ ضَاحِكاً حَتَّى تُرَى مِنهُ لَهَوَاتُهُ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ چېرته هم په پرق پرق خندا نه دی ليدلی چې په هغې د خولې مبارکې آخريني حصه ليدل شوې وي، "إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ" بلکې هغوی ﷺ به صرف تبسم (يعنې مسکا) کول. متفقٌ عَلَيْهِ

"اللَّهَوَاتُ: جَمْعُ لَهَاةٍ: وَهِيَ اللَّحْمَةُ الَّتِي فِي أَقْصَى سَقْفِ الفَمِ" د (الهوات) معنی ده: هغه غوښه چې د خولې په آخريني حصه کې د تالو سره زوړنده وي.

تشريح په دې حديث کې د رسول الله ﷺ د خندا کيفيت او طريقه بيانيږي، چې رسول الله ﷺ به خامخا خندا کول. ليکن داسې به يې نه خندل چې بيخې په کټ کټ يې خندلي وای. علامه مناوي رحمه الله د شمائل په شرحه کې ليکلي دي چې د انبياء عليهم السلام د خندا عادت صرف مسکا کېدل وو، کله يې په کټ کټ خندا نه ده کړې، په يو روايت کې راځي چې کله به رسول الله ﷺ ته خندا راغله، نو خپل لاس مبارك به يې په خوله کېښودلو، ددې نه معلومه شوه چې رسول الله ﷺ به اکثره مسکا کېدو، ليکن کله کله يې خندا هم کړې ده، خندا دې ته ويل کيږي چې خوله خلاصه شي او غاښونه ښکاره شي، څه آواز هم ورسره وي، په داسې موقع به رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك په خوله مبارکه باندې کېښودلو، په دې وجه ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: کله چې به رسول الله ﷺ خندا کول، نو د خولې مبارکې نه به يې يو قسم رڼا راوتل چې ددې اثر به په دېوال هم پرېوتلو او هغه به هم روښانه شو.

تمت بالخير